# سلطان محمد خان فاتح

لیکوال :

ادریس ازاد

تاریخي داستان

Ketabton.com

ژباړن :

قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلمانانو پر خلاف د صليبي سازش دزنځيري کړيوبربندونکې په زړه پورې ناول

# سلطان محمد خانِ فاتح

ليکوال:
ادريس ازاد

ژباړن:
قريب الرحمن سعيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | سلطان محمد خان فاتح |
| لیکوال: | ادریس ازاد |
| ژباړن: | قریب الرحمن سعید |
| کمپوز: | ژباړن |
| د پښتې طرحه او انلاین چاري: | مختار احمد احسان - د لراوبر برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


ددې تاریخی پیښو په اړه ........ ۵
-دلیکوال د زړه خواله ........ ۷
-۱. سکندربیګ ........ ۱۰
-۲ .د پنځه زره کیسز فوځ سالار ........ ۲۷
-۳ .شاهي ځارګر ........ ۵۷
-۴ .د قیصر جاسوس ........ ۹۴
-۵ .د زیجیډین تړون ........ ۱۳۲
-۶ .د بوسنیا شهزادګۍ ........ ۱۷۴
سلطان محمد فاتح : دویمه برخه « تیرې شوې پاڼې» ........ ۲۱۳
سلطان محمد خان ........ ۲۲۷
طلایي ښکر ........ ۲۵۵
ایا صوفیاء ........ ۲۹۱
د ډوډۍ په سر اختلاف ........ ۳۳۳
د روم قیصر ........ ۳۶۹
مقدسه نقشه ........ ۳۹۹
د فاتح یلغار ........ ۴۲۴
د پای ځو ټکي ........ ۴۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# ددې تاريخی پيښنو په اړه

که څه هم دا کتاب په څرګنده توګه د يوه داستان په شکل ليکل شوی ، اوليکوال يې هڅه کړې چې تاريخي پيښې په کې داسې را ونغاړي چې لوستونکی يې هم د لوست څخه او هم د تايخي پيښنو څخه پوره پوره ګټه پورته کړای شي ، خو په حقيقت کې دا همغه تاريخ دی چې اوس هم د شکل او بڼې په بدلون سره په اسلامی هيوادونو کې تکراريږی.

سلطان محمدخان فاتح دهغو مسلمانو ، وياړلو حکمرانانو څخه دی چې عيسويانو ته يې په خپل مرکز قسطنطنيه کې ماتې ورکړه او قسطنطنيه يې په استنبول (اسلام بول ) باندی بدله او د اسلامی خلافت برخه يې وګرځوله.

دسلطان محمدخان سوبه ټول اسلامی امت ته يو درس دی. دعزم ،ميړانی ، استقلال او هوډ درس. دزرګونو کالو تاريخ لرونکی قسطنطنيه په استنبو له باندی بدلول دا ډاګيزه کوی چې که چيری په اسلامی امت کې يووالی ، عزم او استقلال وی نوکولی شي صليبيان که هرڅومره په وسلو سنبال هم وی دماتی سره مخ کړی .

دسلطان محمد خان فاتح عزم د اسلامی ډلو ټپلو مشرانو ته هم يو درس دی ، او هغه داچې دصليبيانو دمترکو لاندی د راتلو په ځای که دعزم او هوډ خاوندان شئ نو صليبيان به په خپله ستاسو ترمتروکی لاندی راځي.

دا بايد په ډاګه وی چې سلطان محمدخان فاتح د عثماني امپراطورۍ اتم ځوان سلطان دی ، اودغه کورنۍ په اصل کی افغان ترکان وو چې هغه وخت يې دافغانستان (خراسان ) څخه د چنګيزيانو د وحشت له ويری د خپلو کورنيو سره يو ځای سوريې ته اوبيا ترکيې ته ليږد کړی و او هلته يې دخپل اتحاد او يووالی په واسطه ستره امپراطوري جوړه کړه چې نژدی شپږسوه کاله يې د نړۍ په يوی ستری برخی حکومت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپا ته اسلام دهمدی عثمانی حکمرانانو (افغانی ترکانو) له خوا راوړل شوی خو نن افغانانا د خپلمنځی اختلافاتو په لومه کی داسی را نغښتی چی هر غلام پری حکمرانی کوی.

دا داستان د افغان ولس له پاره ځانګړی درس لری. ځکه زمونږ دولس تاریخ دا ډاګیزه کوی چی افغانانو هم د هند په ستره وچه او هم په اورپایی هیوادونو په مختلفو شکلونو سره حکمرانی کړی ده ، او شونی ده چی دخپل اتحاد او یووالی په اساس به که خدای کول یو ځل بیا د نړی د یوه غښتلی اسلامی هیواد په څیر راڅرګند یږی.

دهغی ورځی په هیله،

قریب الرحمن سعید

۲۰۱۱کال داګست میاشت ، ناروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# دليکوال د زړه خواله

بالاخره د قسطنطنيې د سوبې وياړ اووم عثماني سلطان «سلطان محمد فاتح» ته ور په برخه شوه.

دا په حقيقت کې د اسلام د ستر پيغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم له اړخه بشارت او زيرې و چې ويلي يې وو: تاسې به هرومرو قسطنطنيه فتحه کوئ ،... نو بيا به ډير ښه امير دهغې امير وي او ډير ښه لښکر به همغه لښکر وي .» (مسند امام احمد ، څلرم ټوک ، ۳۳۵ م مخ).

د رسالت همدغه فرمان وو..... چې د هر دور او وخت مسلمان فاتحين يې د قسطنطنيې د نيولو له پاره هڅول. خو د پرلپسې حملو او بيا بيا هلو ځلو سره سره بياهم ددې پخواني ښار دروازې دمسلمانو فاتحينو تر مخه نه پرانستل کيدې.

هغه وخت چې سيدنا معاويه رضی الله عنه خليفه شو نو هغه د لمړي ځل له پاره د خپل زوی يزيد په مشرۍ د قسطنطنيې د سوبې له پاره دمسلمانانو لښکر ور وليږه. په دې حمله کې ډيره ستر ستر جليل القدره صحابه رضی الله عنهم اجمعين په شهادت ورسيدل. چې په دې ډله کې سيدنا ابو ايوب انصاري رضی الله عنه هم شامل و. ددې ښار دکلابندۍ په وخت کې سيدنا ايوب انصاري رضی الله عنه سخت ناروغه او بيا شهيد کړل شو او هملته د قسطنطنيې د ديوال لاندې خاورو ته وسپارل شو.

د سيدنا عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه ، هشام بن عبدالملک ، مهدي عباسي او هارون الرشيد په څير ستر ستر خلفاؤ هم ددې ښار د نيولو له پاره زبردستې حملې وکړې خو د قسطنطنيې په نيولو بريالي نه شول.

قسطنطنيه يو نه تسخيريدونکې ښار و ، ددې ښار درې واړو خواو ته سمندر بهيږي ، يواځې يو اړخ يې د وچې سره نښلي ، دښار چارچاپير نژدې ۱۴ ميله دايروی شکله ستر ديوال و ، په دې ديوال يوسل اويا فټه لرې ستر او مستحکم برجونه جوړ کړل شوي وو ، ددې ديوال په داخل کې يو بل ديوال جوړ کړل شوې و او بيا ددې دواړو ديوالونو ترمنځ يو ستر خندق کيندل شوې و چې شپيته فټه پراخوالې يې درلود او سل فټه يې ژوروالې و. دهغې اخوا يو بل ديوال هم موجود و چې ددې ښار سل زره خلک يې په خپله لمن کې خوندي ساتلي وو. په دې توګه د دې ښار سوبه کول نژدې بلکل ناشوني ګرزيدلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسطنطنیه د عیسایي روحاني نړۍ ستر مرکز و . همدا علت و چې د مسلمانانو ستري ستري لښکرې به د خپلو ټولو شتو وسایلو سره یو ځای ددې ښار د سوبې کولو له پاره را تللې..... خو هر ځل به ناکامه بیرته ستنیدلې. خو بلاخره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بشارت وړ د عثماني دولت اووم حاکم « سلطان محمد فاتح » و ګرزید.

«عثماني ترکان » .... چې مونږ یې د «عثماني خلافت » په نامه پیژنو ،.... د خراساني کوچیانو (طغرال) د زوې « عثمان» د زوزاک څخه وو. کله چې دوې کوچنۍ اسیا ته را ننوتل نو د خپلو ځانو له پاره یې د یوه سلطنت بنسټ کیښود. خو د درې سوه کالو په جریان کې ددوې څخه د نړۍ ډیر ستر ځواک جوړ شو، په شرق کې ددوې عروج په «سلطان سلیم» او په غرب کې یې په « سلطان اعظم» باندې پای ته ورسید. خو دعثماني دولت تر ټولو مشهور حاکم « سلطان محمد فاتح » وو ، چې په لاسو یې د عالمیانو دسردار (صلی الله علیه وسلم ) بشارت تکمیل ته ورسید.

ددولسم « قسطنطین» او د «سلطان محمدفاتح» تر منځ دا جنګ په ډیرو حیرانونکو پیښو او تاریخ باندې مشتمل دې. په ځانګړې توګه هغه وخت چې عثماني سلطان خپلې بحریې ته په وچې باندې د بیړیو د چلولو حکم وکړ اوبحري لښکرو یې نژدې لس میله غرنۍ تیږلوړه واټن د کشتیو په راښکودو سره وواهه.

دا ستره او نه زوال موندونکې معرکه په حقیقت کې د تاریخ یوه ډیره ستره نه هیریدونکې پیښه ده چې ما د یوه مکمل ناول په بڼه کې بیان کړې ده. غربي تاریخپوهان د قسطنطنیې فتحه ، د منځنیو پیړیو او اوسنی عصر تر منځ یو حد ګڼي ،.... او دا هم یو حقیقت دې چې د پخوانۍ بازنطینی سلطنت پایتخت او د ټولې عیسایی نړۍ روحاني مرکز تسخیرول ... د جهالت په تیارو کې د را نغښتو غربي نسلونو اخري ماتې او د مسلمانانو اخري فتحه وه.

هغه وخت چې رومي پادشاه « قسطنطین» په دریمې عیسوي پیړۍ کې عیسوي مذهب قبول کړ نوهمدا ښاریې خپل پایتخت وګرځاوه ، نو دهمغه وخته یې نوم قسطنطنیه پاته شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې ښار باندې جهاد کونکو ته د مغفرت زیرې ورکړې دې. د قسطنطنیې پادشاه ته یې د روم قیصر وایه ، د سلطان محمد فاتح په وخت کې هلته د قسطنطین په نوم دولسم قیصر حکمراني کوله. په دې جنګ کې اخري قیصر هلاک شو او قسطنطنیه د تل له پاره ...« اسلامبول ، یا استنبول» وګرزیده ، او په دې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه بله وړاند وینه ، لکه د نورو په څیر ، ریښتونې ثابته شوه . لکه چې ویلې یې وو: ( اذا هلک قیصرا فلاقیصر بعده ) « کله چې قیصر هلاک کړل شي نوبیا به بل کوم قیصر را پیدا نه شي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هڅه کړې چې ددې ناول تاريخ د افسانې په بڼه وړاندې نه کړم او نه ددې افسانې څخه د تاريخ د جوړولو هڅه وکړم. ما هڅه کړې چې د دې ناول ټول تاريخي کرچار په حقيقت باندې ولاړ وي. اوزه په دې کار کې تر ډيره پورې برياليې شوې هم يم. خو ما ددې کار له پاره خپل ډېر وخت مصرف کړې دې او په دې وختو کې مې د ( ايډورډ ګين ، کريسي ، عثماني دولت ، د اسلام تاريخ، او جهان ديده ، ) څخه علاوه دجغرافيې او صليبي جنګونو دتاريخ زيات کتابونه تر سترګو تير کړي دي.

ددې ناول له مخې د پنځلسمې پيړۍ منځنې وخت و، دا پيړۍ په دې اساس ډيره مهمه ده چې دهمدې پيړۍ په منځنۍ برخه کې دعيسايانو مقدس ښار قسطنطنيه فتحه شوه .... او دهمدې پيړۍ په اخري لسو کلونو کې د اندلس مسلمانان د تل له پاره له منځه ولاړل.... ما غوښتل چې ...که نور نه وي نو لږ تر لږه د ال عثمان تاريخ خو په لنډه توګه په دې ناول کې را ونغاړم. خو د ناول په ډيره په زړه پورې برخه کې دې ليکنې ته ځاې پيدا نه شو . همدا علت و چې ما د بلې برخې پيل « د تيروشو پاڼو» تر عنوان لاندې يو لنډ فصل وليکه ، په دې کې د طغرال څخه ان تر سلطان محمد فاتح پورې دعثماني حکمرانانو تاريخ په لنډه توګه وړاندې کړل شوې دې ، په دې اساس دا ناول يوائې ناول نه بلکه يو مکمل تاريخي سند ګرزيدلې دې. لنډه دا چې زه دخوښۍ احساس کوم چې دا تاريخي ناول د خپلو لوستونکو تر مخ وړاندې کوم او په دې وياړم چې ما په خپله خوښه عثماني تاريخ په ډيره ښه بڼه بيان کړې دې ، خو دا پريکړه به ددې ناول لوستونکې کوي.

په اخر کې زه .... د منيراياز، رياض امين ، عبدالرحمن طاهر ، محمدسليم سني ، او د قاسم يادڅخه ممنون يم ، ځکه چې ددې دوستانو د علمي همکاريو نه پرته ددې ستر ناول سرته رسول اسانه کار نه و .

ستاسې د آندونو منتظر

ادريس آزاد

P.O.Box No:1064

اسلام اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱

# سکندر بیگ

دعربي نسل يو ځواکمن آسپ ، په داسې حال کې چې يو نقاب پوښه پرې سپور و ، په ډير طمطراق سره ميدان ته را ننوت. دا ميدان «اورنه» يا ( اينډريانويل ) نوميده. دميدان په څلورو خواو کې ګڼ شمير تماشاچيان ناست و. ددې آسپ سپور نقاب پوښه درا ننوتلو سره سم په ټولو خلکو کې چپه چپتيا خپره شوه. نن د ترکانو کلنۍ ميله وه . او په دې لوبغالي کې د تورې وهلو ، نيزې ويشتلو او نورو لوبو مقابلې روانې وې. دغه نقاب پوښه اس سپور په داسې حال کې چې خپله الباني دوه سرې توره يې په هوا کې خوځوله دميدان منځته را غې ، او دلږ څه ځنډ وروسته يې خپل نقاب لرې واچاوه. دا آس سپور پخپله « سکندربيګ » وو. سکندر بيګ د سلطان مراد خان منل شوې زوې و. دهغه د آس تر شا په يوه نرۍ شانته لښته د « سلطان بايزيد يلدرم» بيرغ رپيده ، په دې وخت کې سکندر بيګ په ميدان کې ولاړو، او د (ينې چري ) سالارانو ته يې ور غږ کړ. دا سالاران په دې لوبغالي کې د مقابلو منصفين وو. سکندر بيګ ورته وويل چې:

« د ال عثمان په جاه و جلال مې سوګند: چې په ټول عثماني سلطنت کې داسې ځوان نه ميندل کيږي چې په لاسو يې سکندر بيګ مات شي.... که چيرې داسې کوم ځوان دلته په دې ميدان کې شتون ولري نوزه ورته د زور د ازميښت له پاره بلنه ورکوم.»

د عثماني سلطنت د ستر پادشاه « سلطان مراد خان ثاني» ناست ځاې بلکل د سکندر بيګ مخامخ وو. کله چې سلطان د سکندربيګ دا چلنج واوريد نو په ډير وياړ سره يې و خندل ، خو د سلطان څخه څو ناست ځايه لرې دناستې «مارسي» په وچ تندي باندې دا خبره ښه و نه لېګيده ، مارسي د سکندر بيګ په دې چلنج باندې ډيره تاوه راتاوه شوه. دغه الباڼوي حسينه ، مارسي ، د سکندر بيګ ښه نه راتله. دسکندر د چلنج په اوريدو سره د ينې چري د فوځ يو ځوان سالار « اغاحسن» را مخته شو ، د اغاحسن دکتلو سره سم د سکندربيګ په مخ ډيره تحقيرونکي خندا خپره شوه. اغا حسن په يوه ستر قوي ذاته ايراني نسله آس باندې سپور و ، او په لاس کې يې ديمن جوړه شوې درنه توره وه. کله چې د مقابلې دواړه ګډونکونکي يو دبل مخې ته راغلل نو په ټول ميدان کې حيرانونکې چپتيا خپره شوه. د تماشاچيانو تر منځ جوش و جذبه راپيدا شوه ، مارسي هم په خپل ناست ځاې کې پورته پورته غورزيده. يوه منصف د تکبير د غږ په پورته کولو سره دمقابلې د پيليدو اعلان وکړ. په دې وخت کې دواړه سپاره په داسې حال کې چې خپلې تورې يې بربنډې نيولې دې يو بل ته را نژدې شول. سکندر بيګ ورته په هيبت ناکه توګه وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ډیر ښه ځوانه.... ! زه ستا د جرءت په کتلو باندې ډیره زیات حیران شوې یم. زه تاته د لمړۍ حملې اجازه درکوم.»

اغا حسن د سکندربیګ څخه د څه ویرې پرته ورمخته شو او په پوره ځواک سره یې په هغه وار وکړ. سکندر د برق په څیر خپل ځان تاو راتاو کړاو د اغا حسن د ګذار څخه یې ځان خوندي وساته. بیا یې وخندل، خو اغا حسن یو ځل بیا په ډیره بیړه مخته راغې اویو ځل بیا یې په سکندر باندې په پوره ځواک سره حمله وکړه، خو د سکندر اس د خپل مالک د مزاج څخه پوره پوره خبر و، آسپ په یوه درنګ سره خپل ځاې بدل کړ او په دې توګه د اغاحسن دویم وار هم خطا ولاړ. اغا حسن دریم ځل بیا خپل آس پونده کړ، خو اوس نو سکندر هم خپله اراده بدله کړې وه. هغه د ځان دتاوولو په ځاې د اغاحسن د تورې ګذار په خپله توره تم کړ اوبیا یې په ډیره حیرانونکې توګه دبرق په څیر په اغا حسن باندې دخپلې تورې وارونه پیل کړل. په میدان کې د تورو شرنګار تر ډیره لرې پورې اوریدل کیده. د اغاحسن په شاته تلو باندې د مراسي ګلرنګه څیره تکه سپینه شوه. ځکه هغې چې کومه هیله درلوده هغه له منځه ولاړه. هغې غوښتل سکندر له ماتې سره مخ شی، په داسې حال کې چې سلطان مراد خان د فخر او ویاړ نه خپله غړۍ تاووله او خندونی و. هغه به دسکندر په هر وار باندې عش عش کاوه او پورته پورته به لګیده.

د لږ ځنډ وروسته د مقابلې پریکړه وشوه، د اغاحسن توره د سکندر د درنې تورې په یوه ګذار دوه ټوټې شوه. په ټول لوبغالي کې دخوشحالۍ څخه لاسونه و پړکیدل، سکندر دپخوا په څیر مقابله وګټله، دسلطان مراد خان تر څنګ ناست دهغه نوې ځوان زوې، دخوشحالۍ څخه دخپله ځایه را پورته شو او په دواړو لاسو یې لوښې ډبول. خو مارسي په ډیر خراب حالت کې ناسته وه. هغې نه غوښتل چې سکندر بیګ یو ځل بیا ووینې. ځکه سکندر پر هغې باندې خپل رعب حاکمول غوښتل خو مارسي ته د سکندر ټول کړچار ناخوښه و..... او د خپلې مور یې هم.

د پوخ عمر «مارتها» د مارسي مور وه. دا ښځه د البانوي شهزادګانو سره یوځاې د «اورنه» شار ته ته راغلې وه. سکندربیګ هم البانوي شهزاده و، دهغه البانوي نوم «جارج کسټریاټ» و، سلطان مرادثاني ډیره موده مخته دالبانیا فرمانروا «جان کسټریاټ» د تورې په زور دخپل ځان تابع ګرځولې و. جان کسټریاټ بیا سلطان ته عذر و زاري وکړې او خپل ریاست یې ترې بیرته وغوښت، سلطان هم دهغه غوښتنه و منله خو دهغه د څلورو زامنو په ضمانت کې داخستو وروسته یې هغه ته خپل ریاست بیرته ورکړ. ددې شهزادګانو سره یو ځاې البانوي کنیزه «مارتها» هم د سلطان قصر ته روغله. کله چې مارتها د عثماني سلطنت دارالخلافې، اورنه، ته ورغله نو ډیر ژر یې هلته په اشرافي طبقې کې اثر و رسوخ پیدا کړ. مارسي دهمدې مارتها لور وه او جارج کسټریاټ یعنې سکندربیګ هم دهمدې مارتها په کور کې خاپوړې کړې وې او را ځوان شوې و. سکندربیګ د ینې چرې د طبیعت په مطابق عیسایی مذهب پریښود او اسلام یې قبول کړ. خو مارتها تر اوسه هم په خپل عیسایی مذهب باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکه ولاړه وه. که څه هم د مارسي په زړه کې د اسلام له پاره ډیره مینه وه خو د مور له ویرې هغه تر اوسه پورې همغسې عیسایی پاته شوې وه. مارتها ډیره کلکه مذهبي ښځه وه او د اسلام پر خلاف یې ډیره سخته کینه او حسد درلود. خو مارسي هغه وخت ډیره حیرانه شوه چې د هغې مور مارتها د سکندر په مسلمانیدو باندې هیڅ هم و نه ویل. مارسي خپلې مورته د شک په سترګو کتل. هغې دا شک کاوه چې دهغې مور به پخپله سکندر بیګ د اسلام په منلو باندې مجبور کړې وې. هغې دخپلې مور او په خپل کور کې د رالوې کړل شوې ځوان جارج کستریټ په کرچار باندې شک کاوه او داسې یې انګیرله چې ددوې دواړو دکرچار څخه د عثماني سلطنت پر خلاف د سازش بوې رازي.

مارسي ته ددې شک په پیدا کولو کې «ابوجعفر» ډیر رول درلود، ابوجعفر یو عمر رسیدلې وګړې و. چې هملته په «اورنه» کې د یوه مذهبې مشر او د جومات د امام په څیر اوسیده ،خو په حقیقت کې د (قسطنطنیی د قیصر ) جاسوس و. هغه دلته «اورنه» ته د یوه مذهبي مشر په څیر راننوتې و او دمارتها د راتلو تر مخه یې د سازش جال خپور کړې و. هغه وخت چې مذهب پاله وینځه مارتها د سلطان محل ته را ننوته نو د ابوجعفر سازش نور هم په زیاتیدو شو، هغه تر هر څه لمړی مارتها ته د صلیب اعظم سوګند ورکړ او په خپل سازش یې کې را ګډه کړه. پخپله ابوجعفر په قسطنطنیه کې د « ایاصوفیاء » د چرچ سره تړلې و او ښه پوخ راهب و. کله چې قیصر سلطان مراد ثاني د عثمانیه سلطنت په تخت باندې کیناستې وکوت نو دیوه نوې چال په لوبیدو یې پیل وکړ. ابوجعفر چې اصل نوم یې « ډیمونان» و دستر عیسایی سلطنت د پادشاه یعنې د قسطنطنیی د قیصر جاسوس و . هغه د قسطنطنیی قیصر ( مینومیل ) ته دعثماني سلطنت د دارالخلافی « اورنه» څخه هره میاشت د هر کوچنې او غټ خبر په اړه معلومات ور کاوه. ځکه په اورنه کې د قیصر د ټولو جالونو د غوړولو مشري پخپله همدې ابوجعفر په غاړه درلوده. لمړی ابوجعفر دمارسي دمور کورته په پرلپسې توګه دولس کاله تګ راتګ کاوه. مارسی دهغه څخه ان د کوچنیوالي په وخت کې هم سخته کرکه کوله. هغې به دهغه دمکار شکل دلیدلو څخه بد راتلل خو د ابوجعفر د دې سازشونو په اړه یې هیڅ ډول معلومات نه درلود خو دهغه دعاداتو او کرچار څخه یې دا انګیرله چې دا مکار شخص هغسې نه دې لکه څنګه یې چې د شکل اوصورت څخه معلومیږي. کله به چې ابوجعفر دمارتها کورته را ته ، نو دواړه به بیا په یوې بندې خونې کې کیناستل او تر ډیره به یې خبرې کولې. دوې به کله کله سکندربیګ هم راباله. خو مارسي ته د خپلې مور سره د مسلمانانو ددې مذهبي مشر ځانته ناسته ښه نه ښکاریده او په دې اړه ډیره شکمنه وه.

سکندر بیګ چې دکومه وخته مسلمان شوې و نو دهغې وروسته یې کرچار نور هم کرکجن او دبداخلاقیو نه ډک ګرزیدلې و. هغه به چې څومره ډیره دلته د مارتها په کور کې تم کیده نو همغومره وخت به یې مارسي ته په ډیرو بداخلاقه سترګو کتل. مارسي دکوچني والي څخه د سکندر بیګ دغه کرچارنه خوښاوه. ځکه سکندربیګ لا د همغه وړکتوب څخه بداخلاقه او بدمزاجه انسان و. کیدې شې چې دهغه ددې بدمزاجی لامل دا وي چې دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر مخه دهغه پلار ... جان کستریاټ ته سلطان مراد خان ثاني ډېره د ذلت نه ډکه ماتې ورکړې وه . اوبيا يې هغه د خپلو نورو دري کوچنيو ورونو سره يو ځاې يرغمل کړ او تر «اورنه» پورې يې راوست. اوبيا دا چې دهغه دغه درې واړه ورونه د همدې ليږد په وخت کې ناروغه اوبيا ددې د سترګو تر مخه ددې دنياګۍ څخه ولاړل. نو دا ټول هر څه د سکندربيګ د سترګو تر مخه وو . ددې ترڅنګ د مارتها غوږه ژبه او سازشي کړچار هم و چې سکندربيګ يې دومره بدله اخستونکې او مغرور ګرځولې و .

نن يو ځل بيا مارسي و کتل چې سکندر بيګ د مقابلې ميدان وګاټه. دسکندربيګ په سوبه د مارسي په وجود کې د قهر او غصې څپې راپيدا شوې وې. او نن خو دهغې د غم او غصې يو علت دا هم و چې سکندر بيګ سهار وختې دکوره د وتلو سره سم مارسي ته ويلي وو چې:

« نن د تورې د وهلو د مقابلو ورځ ده. او زه به نن يوځل بيا د «اورنه» د جنګجويانو اتل و ګرځم .... دا سپک ترکان زما دمقابلې توان نه لري ، نو نن که چيرې زه بريالى شم او د بريالیتوب مډال و ګټم نو د مارتها کاني څخه به ستا د لاس غوښتنه کوم.»

سکندر بيګ ، مارتها ته د کاني په نامه غږ کاوه. کله چې مارسي دهغه دا خبره واوريده نو دغصې څخه تکه سره شوه او ورته يې وويل:« دومره کبر مه کوه .... په حقيقت کې سلطان په تا باندې ډېر باوري دې. به دې خاطر د شاهي درنښت په اساس ستا مخې ته هيڅوک نه راځي. زه ډاډمنه يم چې د «ينى چرې» کوم سالار به په ډېره اسانۍ سره تاته ماتې درکړي. »

سکندر بيګ دمارسي ددغې د زهرو نه ډکې جملې باندې ډېر و قهريد او په غصه دکوره ووت. او اوس مارسي کتل چې د يني چري يو سالار د سنکدر بيګ په لاسو په ډېره بده توګه ماتې وخوړه. دمارسي سترګې د ميدان څخه را واوښتې او په خپلو پښو باندې و نښتې. هغې د نن سهار خبرې را يادولې ، هغه وخت چې سکندر بيګ ورته ويلي و چې: «زه به نن ستا دمور څخه ستا لاس غواړم»

مارسي ډېره نا ارامه وه ، او د راتلونکې وخت څخه په ويره کې. د مارسي سترګې ښکته وې ، په همدې وخت کې په لوبغاړې کې شور و غوغا شوه ..... د لاسونو د پړکار شور ،کله چې مارسى ميدان ته وکتل نو دحيرانتيا څخه يې خوله خلاصه پاته شوه. يو اجنبي ځوان چې په عربي کاليو کې پټ و د لوبغاړې په يوې غاړې کې په يوه سپين آس سپور را ښکاره شو ، ددې ځوان خدوخال هم حجازي و ، هغه په ترکي نسله بهترين آس باندې سپور و او په ښي لاس کې يې درنه ځليدونکې توره نيولې وه. د هغه په وجود باندې نه زره وه اونه بل څه. دهغه په سر هم د اوسپنيزې خولۍ په ځاې خالصه حجازى پګړۍ تړلې وه. ددې ځوان ټول عمر د اولس کالو په شاوخوا کې و . تماشا چيانو ورته په پوره زور سره لاسونه و پړکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اجنبي ځوان په کتلو او راتللو سره سم د سکندر بیګ په تندي باندې لیکې را پیدا شوې. هغه ته ددې عرب ځوان را تلل ډېر حیرانونکې وو. په همدې وخت کې د لوبغالي اعلان کونکي په لوړ اواز اعلان وکړ او خلکو ته یې ډاګیزه کړه چې دا اجنبي ځوان « قاسم بن هشام» نومیږي ، او د حجاز د مکې دښار اوسیدونکی دی ، د مکې ددې ښاره د اسلام دلمر وړانګې را خپرې شوې دي. ډنډورچي اعلان وکړ چې قاسم د عثماني روزن ځاې د تورې وهونکو د استاد (طاهر بن هشام ) کوچنې ورور دی. خو په دې وخت کې د مارسي حالت هم د کتلو وړ و. هغې بیا بیا په خپل ناست ځآې کې ځنګ بدلاوه او خپلې لاسونه به یې موټې کول اودخپلو احساساتو څرګندونه به یې کوله.

کله چې دغه عرب آس سپور د سکندر بیګ مخې ته راغې نو سکندر د خندا کولو هڅه وکړه ، هغه د پخوا په څیر دغه عرب آس سپور ته په کرکجنه توګه وکتل او ورته یې وویل: «ځوانه ! زه ستا په مخ کې د جرءت او میړانې نښې وینم. خو په افسوس سره باید ووایم چې ستا دا ټولې هیلې به د سکندر د لمړي وار سره سمې له منځه ولاړې شي. دا مکه نه ده ، بلکه د عثماني خلافت مرکز «اورنه» ده او زه د سلطان مرادخان ثاني تر ټولو تکړه او غښتلې توره وهونکې یم.»

قاسم ، دسکندر بیګ فرعونیت په پوره توګه احساس کړ او په عارفانه توګه یې وخندل اوبیا یې په ډېره سوکه توګه هغه ته مخ کړ او ورته یې وویل:

« زه د وخته مخته لویې لویې دعوی نه کوم ، خو زه همدومره درته وایم چې زما په وجود کې د خالد بن ولید وینه بهیږي ، زما ډیره کلکه هیله داده چې زه یوه ترک شهزاده ته د حجازي تورې اوسپنه وروښایم.»

قاسم همدومره وویل اوخپل آس ته یې پونده ورکړه. سکندر هم په پوره توګه دهغه دحملې له پاره تیار و. قاسم خپله توره په هوا کې پورته کړه او په خالصه عربي ژبه یې دالله اکبر غږ پورته کړاوپه سکندر بیګ یې ورحمله کړه. په دې وخت د لمر وړانګې د قاسم په عربي توره باندې ولګیدې اوبیرته یې د تماشاچیانو سترګو ته ور منعکس کړې. دا یوائې د تورې شعلې نه وې بلکه د اسماني تندر په څیر شعاعې وې.... د قاسم دغه درنه حمله د سکندر له پاره د هزیمت او ناکامۍ پیغام و. ځکه دهغه ټول چالونه خوشې ولاړل ، هغه به پرلپسې توګه هڅه کوله چې د قاسم هر ګذار په خپله توره باندې تم کړي ، داسې څرګندیده چې قاسم به ډېر ژر ستومانه شي ، مارسي به د قاسم په هر وار باندې د ځایه پورته پورته کیده ، خو په اخر کې دخپل ناست ځاې څخه پورته شوه او ودریده. ټولو تماشاچیانو قاسم ته لاسونه پړکول، سلطان هم د مرحبا ، مرحبا چغې وهلې ، ترځنګ یې شهزاده «محمد» خپله شاهي مرتبه تر پښو لاندې کړه او دکوچنیانو په څیر یې لاسونه پړکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې یو ناڅاپه قاسم د یوې نوې حربې څخه کار واخست. هغه یې وکړه چې خپل ځان ستومانه وښیی ، سکندر هم د قاسم په وارونو کې کمزورتیا احساس کړه ، سمدستی یې خپل ډوب شوي زړه ته تکیه ورکړه او په قاسم باندې یې حمله راوسته. اوس نو قاسم د سکندر د هر وار څخه خپل ځآن ځنګ کاوه. دهغه آس به لږ لږ شاته ته. اودهغه توره به هر ځل د سکندر د تورې سره په ټکر کې وه او د هغه د تورې وارونه به یې تمبول. سکندر هم نور ډیر ستومانه شوې و ، غوښتل یې په یوه ډول نه یوه ډول دا مقابله پای ته ورسوي. په دې وخت کې یو ناڅاپه قاسم د خپل آس د زین څخه خپله پښه شاته کړه او دزین د پاسه کیناست. په دې بلې لمحې کې ، هغه وخت چې تماشاچیانو د قاسم چال وکوت نو ټول حیران پاته شول ، ځکه قاسم دخپل وجود بار په خپلو پښو باندې واچاوه اوپه یوه ټکان سره و درید ، په دې وخت کې د لوبغالي ټولو ناستوخلکو د لاسو د پړکولو ترځنګ د قاسم ددې چال په وړاندې و دریدل. اوس نو د اوږود قد خاوند قاسم د سکندر نه په لوړه وه ، هغه ته په سکندر باندې دحملې کولو له پاره هم لاره پرانستې وه. هغه د آس په زین ددریدو سره په سکندر باندې داسې سخت ګذار وکړ چې د سکندر وار پار یې وارخطا کړ. مارسې هم د خوشحالۍ نه چغې کړې ، سکندر بیګ د اوږود قاسم دغه ګذار و نه شو زغملې ځکه د قاسم توره د سکندر په اوسپنیز خول باند ې لکه د اوسپنې د ګرز په څیر راپریوتې وه ، سکندر هڅه وکړه چې په خپله توره د قاسم ګذار تم کړي خو قاسم دومره سخت ګذار کړې و چې سکندر د آس په زین باندې ټینګ نه شو او لاندې را پریوت. قاسم هم د یوه لوبغاړي په څیر د آس د زین څخه ښکته را ټوپ کړ او د سکندر د راپورته کیدو د مخه یې دهغه په سر پښه کیښوده. د سکندر په تندې باندې د خولو د څاڅکو په کتلو سره مارسې د خوشحالۍ نه چغې کړې ، سلطان هم د خوشحالۍ په جذبو کې ډوب و او لاسونه یې پړکول.

په زمکې باندې د پښو د ایښودو سره سم قاسم سکندربیګ تر خپلو لاسو لاندې کړ. که څه هم سکندر بیګ هڅه کوله چې خپل ځان کنترول کړي خو قاسم پرې ناڅاپی سخته حمله وکړه او بیرته یې څملاوه. اوس نو سکندر ته خپله ماتې تر سترګو شوه. قاسم په یوه ټکان سره خپل اړخ بدل کړ او د سکندر په اړخ یې ځواکمن ګذار وکړ سکندر هڅه وکړه چې د خپلې تورې په واسطه د قاسم دغه ګذار تم کړي خو هغه د قاسم په چال و نه پوهیده ، قاسم د ښې اړخ په ځای خپله اراده بدله کړه او د سکندر په چپ اړخ یې قوي حمله وکړه ، دسکندر په اړخونو او بازو ګانو باندې اوسپنیز خولونه تړلي وو. خو د قاسم تورې د هغه دغه اوسپنیز بندونه له منځه یوړل بلکه د سکندر بازو یې هم زخمي کړ، اودهغه د ویني څاڅکې په زمکه را پریوتل. په دې وخت کې په لوبغالي کې ناست تماشاچیان غلي شول، قاسم د حالاتو نزاکت احساساوه نو په دې خاطر یې دخپلو حملو لړۍ بنده کړه او سکندر یې په خپلو زخمونو کې تاورا تاو پریښود او په شا ترې ولاړ. دلته د مقابلې منصفین په یوه لیکه کې ولاړ وو. د ټولو خلکو په مخونو کې یو ډول حیرانتیا ، یو ډول احساس او یو ډول جذبه ډاګیزه کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم په پوره بې خبرۍ سره د لوبغالي د تماشاچيانو په لور کتل چې په دې وخت کې سکندر د پوره بې اصولۍ څرګندونه وکړه او په ډېره بېړه د قاسم په لور و ور وخوزيد. که چيرې په همدې وخت کې ماسی د خپله ځايه په قاسم باندې غږ نه وې کړې نو په ډاډمنه توګه به سکندر د قاسم ورميږ ور پرې کړې و. قاسم د مارسي غږ وا وريد او سمدستي د حالاتو په لور متوجه شو ، هغه نه يواځې د سکندر د ګذار څخه ځان خوندي وساته بلکه پر هغه يې يو ځل بيا ځان وړونکې حمله وکړه. په دې وخت کې د تورو د شرنګار اواز تر لرې لرې پورې اوريدل کيده. اوبيا تماشاچيانو وکتل چې د قاسم په ګذارونو سره د سکندر توره ټو ټې ټوټې شوه او په هوا کې د ښځا وروسته لاندې زمکې ته را پريوته. اوس نود سکندر لاس خالی شوی و ، قاسم هم خپله توره خطا کړه او د سلطان مراد ثاني په لور دکتلو پرته يې د عراقي پهلوانۍ په څير داسې يو داو وکړ چې سکندر يې د زمکې څخه څو فټه پورته کړ او بيرته يې زمکې ته راخلاص کړ ، سلطان د قاسم په دې ميړانې باندې د خپله ځايه پورته شو او حکم يې وکړ چې مقابله پای ته ورسوئ.

مقابله خو هسې هم پای ته رسيدلې وه. ځکه سکندر د قاسم په لاسو مات شوی و او په زمکه باندې پړمخ پروت و او دزمکې خاورې يې څټلې.مارسي چې سکندر په داسې حال کې وکوت نو دخوشحالۍ څخه دليونتوب مرحلې ته رسيدلې وه. دلوبو په پای ته رسيدلو سره سلطان مراد ثاني د لوبو د ګډونکو تر منځ انعامونه وويشل. او ټولو ته يې په خپل خپل وار شاباسې ووايه. خو کله چې د قاسم نوبت راغې نو سلطان ، قاسم د اوږو څخه و نيوه ، په ډېر غور سره يې ورته وکتل او بيا يې ورته وويل: « قاسم بن هشامه ! ستا د تورې د وهلو فن د ستاينې وړ دې. عثماني سلطنت ستا په څير ځوانانو ته سخته اړتيا لري.د عيسايانو تر ټولو ستر جرنيل « هونياډې» دخپل يونيم لک فوځ سره همدا اوس زمونږ په پولو باندې پروت دې ، د «هونياډی» د تورې مقابله ، يواځې ستا توره کولې شي. زه غواړم چې ته زمونږ په روزل شوي فوځ يني چري کې شامل شې ، زه به تا د يني چري د «زرکسيزې ډلې سالار» و ټاکم.»

د سلطان دا پريکړه د قاسم له پاره د هيلو نه پورته وه.هغه ولړزيد ځکه هغه خو يواځې د يو څو ورځو د تيرولو له پاره دلته «اورنه » ته دخپل ورور طاهر بن هشام کور ته راغلې و . او که نه هغه د مکې په ښار کې پوره مصروفيات درلودل ، دخپل مور او پلار د خدمت ، دکښت او زراعت ، مال او حيواناتو ساتنه ....ددې هر څه ښه سبنالول او ساتل د هغه په دندو اومسؤليتونو کې شامل وو. دهغه مشر ورور طاهر لا دمخه د سلطان مراد ثاني ملازم و. طاهر په عثماني روز ځاې کې د تورې وهلو د فن استاد و. توره وهل او پهلواني د قاسم ميراثې کورنۍ لوبه وه. دهغه پلار هشام د حجاز يو نوموړې او ستر پهلوان تير شوی و ، اوس قاسم يواځې دخپل ورور دکتلو له پاره راغلې و . هغه يواځې يوه ورځ مخته « اورنه » ته را غلې و ، دلته د راتلو وروسته ورته دکلنۍ ميلې په اړه معلومات ور په برخه شول ، هغه ډېر خوشحاله شو او سهار وختې دخپل ورور طاهر هشام سره يو ځاې لوبغالې ته ورغلې و. اوس نو دا يو ناڅاپې کار و چې دهغه په سر راپريوتې و. هغه د سکندر کبر اوغرور و نه شو زغملې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دخپل مشر وررسره د سلا کولو وروسته یی دې مقابلې ته را و دنګل.تر څو سکندر ته دهغه ددې لویی کولو سزا ورکړي. خو دمقابلې وروسته هغه ته د سلطان له اړخه همدلته په « اورنه » کې داوسیدو حکم شوې و ، دسلطان دحکم په اوریدو سره قاسم په سکته کې راغې او چپ چاپ و درید. سلطان د قاسم ددغه چوپیا په کتلو سره وویل چې:

« اې ځوانه ! ته زما په دې خبره خوشحاله نه شوې ؟ تر اوسه ستا عمر کم دې نو په دې خاطر مې د زرو کسو سالار و ټاکلې. خو که ته په دې دنده خوشحاله نه اوسې نو زه به تا د پنځه زرو غوره او ښه عسکر و سالار و ټاکم.»

داسې بریښیده چې قاسم اوس د کوم ژور خوب څخه را ویښ شوې وي ، هغه یو ناڅاپه دسلطان په لور وکتل اوبیا یی لږ څه په ټیټ اواز سره وویل چې:« نه ! درونده سلطانه ! زه دکوم لالچ په خاطر خاموشه شوې نه وم. بلکه زما د چوپتیا علت زما مور او پلار دي ، ځکه زما مور اوپلار هلته په کور کې دخپل کرکیلې او مالدارۍ په خاطر یوازې دی. په داسې حال کې چې زما مشر ورور طاهر بن هشام دلته ستا په عسکر ځاې کې دتورې وهلو د فن استاد دې.»

سلطان په ډیره ښه توګه د قاسم خبرې واوریدې. اوبیا یی په ډیره نرمه لهجه قاسم ته وویل چې:« مال او مالدارې یا کور ددنیاوي ژوندانه له پاره تکیه ده. د یوه ریښتونې مسلمان او مومن عسکر له پاره د دنیاوي ژوند څخه د راتلونکې اخروي ژوند ارزښت ډیر وي.... ته په داسې حال کې چې یو ډیره ښه عسکر او د تورې د وهلو دفن ماهر یی ولې خپل وخت په مال او مالدارۍ باندې ضایع کوې ؟... تر هغو چې ستا د مور اوپلار پورې اړه لري نو زه به هغوې همدلته را وبلم...زه به په دې اړه ستا د ورور طاهر هشام سره خبرې وکړم.»

اوس نو دقاسم سره بله کومه لاره نه وه. په پټه خوله یی د تسلیمۍ سره ټیټ کړ ، سلطان دهغه دخوښې څخه خوشحاله شو او سمدستي یی د خپل «یني چري» فوځ سپه سالار را و باله اوهغه ته یی حکم وکړ چې د قاسم بن هشام په مشرۍ دې هغه ته پنځه زره فوځونه ورکړي. په دې توګه یی قاسم هشام د پنځه زریز فوځ ستر سالار و ټاکه. پخپله قاسم حیران و چې سلطان یواځې د یوې تورې د وهلو د مقابلې په کتلو هغه ته دومره ستر فوځ ورحواله کړ خو تر څنګ یی هغه د سلطان د پریکړې څخه ډیر خوشحاله هم و ځکه هغه کولې شو چې په دې توګه د خپلې خوښې جنګجویانه ژوند څخه خوند واخلي.

مارسي هلته د ښځو په ناست ځاې کې ناسته وه او دسلطان او قاسم تر منځ خبرو ته یی غوږ ایښې و. اوس نو د هغې په زړه کې د قاسم په نوم غوټه پرانستل شوې وه. ځکه دا دښه قد و قامت خاوند عربې ځوان د سکندر د تکبر او غرور بت ورمات کړې و اودهغه د فرعونیت له پاره د اجل پیغام ګرزیدلې و. په دې اساس دا اړینه وه چې مارسی پرې ځان قربان کړي..... هغې په خوږو خوږو سترګو سره د قاسم بن هشام غنمرنګه مخ ته کتل. ترهغو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم د سلطان تر څنګ ولاړ و نو مارسي د هغې لورې ته متوجه وه. خو کله چې قاسم د سلطان څخه جدا شو نو د مارسي سترګو د هغه قدمونه څارل. هغه هلته لرې د معزيزنو په ليکو کې د خپل ورور طاهر هشام څنګ ته ولاړ او کيناست. اوس نو د مارسي له پاره په لوبغالي کې بل کوم کار نه و پاته. دخپله ځايه پورته شوه او بيرون ولاړه.

.

کور ته په رسيدو سره مارتها په مارسي باندې خوله و لګوله. او ورته يې وويل چې: «نجلۍ! ستا کړچار ډير خرابيږي، نن سهار يو ځل بيا تا د سکندر سره د بد اخلاقۍ څرګندونه کړې ده!»

د خپلې مور مارتها په دې خبره مارسي سر ټيټ کړ، بيا يې په لړه ترخه ژبه وويل چې: «درنې مورې! ته دې دا زړه څخه و کاږه چې زه به د سکندر بيګ ناوې کيږم...زه ستا د غه نازولې يوه لحظه هم نه شم زغملې»

مارتها ورته په قهر سره وويل:

خبردار! چې کومه غلطه خبره د خولې نه و نه کاږې.بدبختې نجلۍ! ته ولې خپل ځانه هيروې؟ سکندر بيګ د البانيه شهزاده دې. او ډير ژر به د سيمې پادشاه شی. په داسې حال کې چې مونږ د هغې غلامان يو. د سکندر بيګ نه علاوه به بل هيڅوک هم تا دومره خوشحاله و نه شي ساتلای.»

« واه! دا څه خبره دې وکړه؟ شهزاده صاحب خو پخپله د سلطان مراد ثاني په لاسو کې يرغمالی دی. او د هغه پلار « جان کستریاټ » د سلطان مراد خان ثاني باج ورکونکې ..... ته د يوه يرغمالي په اړه څنګه وايې چې هغه به په راتلونکې کې د البانيه پادشاه وي؟» مارسي په طنزيه توګه خپلې مور مارتها ته ځواب ورکړ. خو مارتها يو ناڅاپه خاموشه شوه. ځکه هغې نه غوښتل يو ځل بيا ووايي چې سکندر بيګ د البانيه راتلونکې پادشاه دې. هغه په دې پوهيده چې د هغې او جعفر ترمنځ د دولس کلنې جوړکړل شوي سازش پوره کيدو ته لا څو ورځې پاته دي. او هغې دداسې نازکې خبرې دکولو په اړه د ډيره احتياطه کار اخست. کله چې مارسی خپله مور مارتها خاموشه و کتله نو د موقع نه يې په ګټه اخستو سره په ډيره بيړه د انګړ په لور ور منډه کړه. او دلته يې مارتها د خپل سازش په فکرونو کې ډوبه پريښوده.

مارتها او ابوجعفر دواړه سکندر په مکمله توګه په خپل جال کې را نغاړلې و. سکندر د مارتها تر سترګو لاندې وړکتوب تير کړې و. هغې ته هغه وخت ډير ښه په ياد و کله چې د البانيه پادشاه « جان کستریاټ » د عثماني سلطنت دسلطان مراد خان ثاني په لاسو ډيره بده او ذلت ناکه ماتې خوړلې وه .... په هغه وخت کې مارتها په البانوي محل کې د يوې وينځې په توګه شپې تيرولې. مارتها د ځوانۍ اوښايست تر څنګ يو ذهينه او چالاکه پيغله وه. په محل کې د وينځيتوب نه مخته هغې د يوه البانوي امير څخه د محبت دوکه هم خوړلې وه. دهغې په غيږه کې دخپل همغې محبوب يو کلنه نجلۍ هم پرته وه. البانوي امير په لمړيو کې د مارتها سره ډيره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله. خو کله چې د مارتها غیبړه ډکه شوه ، نو هغې مارتها په ډېره بې عزتۍ سره دکوره وویسته. اوس نو د مارتها سره ددې پرته بله لاره نه وه چې تر پادشاه پورې خپله شکایت و رسوي. هماغه و چې هغه د البانیا دپادشاه جان کسټریاټ دربار ته ورسیده اوپادشاه ته یې خپله ټوله قصه واوروله. خو کله چې پادشاه د البانوي امیر نوم واورید نو په هغه ولایت کې یې د بغاوت دخپریدونه د مخنوي په خاطر هغه امیر ته هیڅ هم و نه ویل. خو مارتها ته یې په خپل محل کې ځاي ورکړ. او هملته یې دخپل ځان سره د وینځې په توګه و ساتله.

مارتها ډېره ذهینه او چالاکه ښځه وه ، همدا علت و چې ډېره ژر د پادشاه تر سترګو شوه. هغه ټول څلور شهزادګان چې سلطان مراد خان ثاني له ځانه سره یرغمل راوستې وو ، د پخوا څخه د مارتها سره اشنا وو. همدا علت و چې جان کسټریت سلطان مراد خان ثاني ته دخپل زوې سکندر بیګ د ورسپارلو په وخت کې مارتها هم دهغوې سره یو ځاې ور کړه. مارتها اودغه څلور واړه شهزادګان هملته د سلطان په محل کې اوسیدل. مارتها د خپلې لور اودهغو څلور شهزادګانو سره یوځاې د محل په اخري شاتنۍ برخه کې په ازادۍ سره ژیست کاوه. سلطان هغه څلور واړه شهزادګان په مکتب کې داخل کړل او د پادشاه په مصارفو باندې تر روزنې لاندې و نیول شول.

« اورنه » ته د مارتها د راتلو ډیر کمې ورځې شوې وې ، خو هغې ډیر ژر دمحل دننه خپل اړیکې و غځول.هغه ډېره مذهبي ښځه وه. د بله اړخه ابوجعفر هم هملته په اورنه کې موجود و. ابو جعفر یو روزل شوې هوښیار جاسوس و. هغه هلته په « اورنه » کې د سلطان په خلاف د جاسوسۍ جال خپور کړې و ، د کوټوال نه نیولې د ینې جرې فوځ د یو شمیر سالارانو پورې یې د خپل پټ کار تارونه غځولي و. ان تر دې چې دسلطان په دربار کې یې هم کارندې موجودې وې. داسې بریښیده چې په اورنه کې ابوجعفر بې تخته پادشاه و. هغه به په څرګنده توګه د یوه مذهبي لارښود په څیر را ښکاره کیده ، خلکو به ورته د غرب خطیب وایه. خو په حقیقت کې هغه د قسطنطنیې د ارتوډکس دچرچ «ایا صوفیا» یو روزل شوې پادری و. هغه هلته په اورنه کې دڅو کالو څخه اوسیده او جاسوسانو به یې ورته د عثماني سلطنت د ټولو کړو وړو په اړه خبرونه ور رسول.

د البانیه دماتې وروسته مارتها او البانوي شهزاده «اورنه»ته راغلل ، دهغوې راتګ ابوجعفر ته د هغه د سازش د جال د خپرولو له پاره نورې اسانتیاوې هم راپیدا کړې. هغه د ټولو دمخه د مارتها کمزورتیاوې راپیدا کړې اوبیا یې دغه ښایسته ښځه په خپل جال کې د راښکیلولو له پاره منډې ترړې پیل کړې. دیوه مذهبي مشر اولارښود په څیر ،خلکو ته د سلطان د محل شاتنۍ برخې ته د هغه تګ راتګ دومره عیبجن نه ښکاریده. لمړۍ ځل چې هغه دمارتها کورته راغې نو مارتها هغه د مسلمانانو مذهبي لارښود وګڼه او څه ځانګړې پاملرنه یې ورته و نه کړه. خو دغه مکار ابوجعفر په خپلې همغې لمړنۍ کتنه کې مارتها په خپل بوتل کې بنده کړه. په لمړیو کې مارتها د عیسویانو د دې سازش څخه په ویره کې وه. خو د ابوجعفر غوړه مالۍ هغه ډېره ژر په خپله ولکه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوسته ، اوس هغه د يوې البانوی وينځې په ځای د «قيصر» يوه ډيره مهمه جاسوسه وه. مارتها به د ابوجعفر له پاره سلطانی محل ته ورتله او دهغه ځايه به يی مکمل را پور ابوجعفر ته ورکاوه او په دې توګه يی د يسوع مسيح د دين له پاره خپل ځان وقف کړې و.

په دې وخت کې يوه ډيره مهمه پيښه رامنځته شوه. د سربيه پادشاه (لارډ ستيفن) خپله شهزاګۍ لور «سروين» د سلطان مرادخان ثاني په نکاح کې ورکړه. دسربيه پادشاه لارډ ستيفن که څه هم په مذهبی توګه عيسايی و خو د مرادخان ثاني د نيکه (سلطان بايزيد يلدرم) د وخته راهيسې دعثماني سلطنت خيرغوښتونکې او وفاداره پاته شوې و. دبايزيد يلدرم د وخته راهيسې ستيفن دمسلمانانو سره يو ځای په ډيرو جنګونو کې ګډون کړې او په هر محاذ به د سلطان تر څنګ ولاړ و. د انګورې په جنګ کې هغه وخت چې د تاتاريانو حاکم (امير تيمور) سلطان بايزيلدرم ته سخته ماته ورکړه ، نو ستيفن هم د سلطان سره يو ځای ولاړ و. په هغو وختو کې ستيفن نوې ځوان شوې و ، ستيفن سلطان بايزيد يلدرم ته د وفادارۍ د نښې په توګه خپله خور هغه ته په نکاح ورکړه. او اوس يی سلطان مرادخان ثاني ته ، چې دبايزيد يلدرم لمسې او د سلطان محمدخان اول زوې و ، د وفادارۍ د نښې په توګه خپله لور شهزادګۍ «سروين» واده کړه. کله چې شهزداګۍ سروين د سلطان محل ته را غله نو د مارتها او ابوجعفر غوږونه را پورته شول. په دې وخت کې ابوجعفر مارتها ته وويل چې:

« مارتها ! دا شهزادګۍ ستا دمنګلو څخه لرې نه د ه. هغې ته د سترصليب سوګند ورکړه او د خپل ځان سره يی په جهاد کې شريکه کړه.»

مارتها هم شهزادګۍ سروين سره خپل اړيکې و غځول او دهغې محل ته يی تګ را تګ پيل کړ. خو هغې ته ډيره ژر څرګنده شوه چې د لارډ ستيفن لور د خپل پلار په څير په پاک زړه د عثماني سلطنت ملاتړې ده. مارتها ډيره ژر ناهيلې شوه او ابوجعفر ته يی وويل چې شهزادګۍ سروين دومره غوړه مړۍ نه ده چې په اسانه د ستونې تيره شي. خو ابوجعفر نا هيلې شوې نه و. په دې خاطر يی په خپل جال کې د شهزادګۍ سروين د راښکيلولو له پاره هلې ځلې جاري و ساتلې.

په حقيقت کې ابو حعفر يو ډير سفاک او ظالم انسان و. هغه د البانيی پادشاه جان کسټرياټ ، دسلطان پر خلاف بدګمانه کاوه او هغه يی د بغاوت په لور را کشاوه ، ددې کار له پاره هغه يو ستر پلان جوړ کړې و. خو کله يی چې دخپل دغه پلان څخه مارتها خبروله نو هغه ډيره په ويره کې شوه ، ځکه چې د ابوجعفر سازش ډير ظالمانه اوسفاکانه و. دسلطان پر خلاف د البانيی د پادشاه جان کسټرياټ دبدګمانه کولو له پاره ابوجعفر ، دسلطان په محل کې د اوسيدونکو البانوي معصومو شهزادګانو د وژلو پلان جوړ کړ. مارتها چې په يوه ډول ددې کوچنيانو مور ګڼل کيده ، نه غوښتل چې د ابوجعفر په دې سفاکانه سازش کې راګېر شي ، خو ابوجعفر څو ورځې په پرلپسې توګه مارتها ته ددې کوچنيانو د وژلو له پاره حکم کاوه. خو کله چې مارتها دهغه خبره و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منله نو ابوجعفر پیغله مارسي د مارتها څخه په زوره جدا کړه ، مارتها ډیره سخته په جال کې را ګیره شوې وه. اوس نو هغه د ابوجعفر سره دهغه د زمکې لاندې جاسوسي پروګرامونو کې داسې ورننوتې وه چې د بیرته راتګ ټولې لارې یې په خپل مخ تړلې وې.

بلاخره مارتها په لړزان توګه د ابوجعفر حکم منلو ته غاړه کیښوده او د البانوي پادشاه جان کیستریاټ درې واړو معصومو کوچنیانو ته یې په ډوډۍ کې زهر ورکړل. سکندر په خپلو ورونو کې تر ټولو مشر ، او تر یوه ځایه چالاکه او هوښیار هم و. مارتها د ابوجعفر په سلا سکندر ژوندې پریښود خو پاته درې واړه شهزادګان یې د سفاکې ښځې په څیر په زهرو ووژل. په حقیقت کې دغه کوچنیان د خپل مور او پلار نه لرې په یو ډیر لرې هیواد کې دهمدې مارتها درحم او کرم پورې تړلي وو. نو کله چې دغه درې واړه کوچنیان د لوبو نه وروسته دسترخوان ته را غلل نو د غذا خوړلو په لوبو کې هغوې ته مرګ انتظار کاوه. دا زهر ابوجعفر راوستي و چې کرار کرار یې اغیز شینده.

کوچنیان د غذا د خوړلو وروسته بیرته په لوبو کې مشغول شول. خو یو ساعت وروسته تر ټولو کوچني شهزاده ته د قې کولو تکلیف پیدا شو اوبیا د لږ ځنډ وروسته د هغه روح دهغه دتني څخه ووت، هغه نور کوچنیان تر یوه وخته پورې پاته شول او دځو ورځو سختې ناروغتیا وروسته یو په بل پسې له دې نړۍ و کوچیدل.

د دې درې واړو شهزادګانو په مړینې سلطاني ماڼۍ په لړزیدو راغله. سلطان مراد خان ثاني سمدستي دربار را وغوښت او ددربار حاضرینو ته یې دغه ټول حالات تر مخ کیښودل. سلطان پخپله هم ډیرزیات غمژن او پریشانه و. ځکه چې دهغه تر پالنې لاندې د البانیه درې کسه معصوم شهزاداګان په ډیره پټه توګه یو په بل پسې وفات شوي وو ، دهغوې د ډلې څخه یوازې یو شهزاده «جارج کستریاټ» ژوندې پاته شوې و. په حقیقت کې دا دیوه مسلمان پادشاه له پاره د ډیر شرم او خجالت ځاې و. دسلطان خپل زوې «شهزاده محمد» ددې البانوي شهزادګانو همصنفې او همځولې و. دسلطان له پاره د ډیرې زیاتې اندیښنې خبره دا وه چې د البانیې پادشاه به اوس دهغه پر خلاف راپاڅیږي او د عثماني سلطنت په شمالي ولایتونو کې به په بغاوت لاس پورې کړي. ددربار حاضرین ټول په فکرونو کې ډوب ناست وو. ځکه د دې شهزاداګانو دغسې پټه مړینه د ټولو له پاره معمه وه ، او د مجرم په اړه هیڅ ډول معلومات نه ترلاسه کیدل. په اخر کې سلطان د خپلې ځارګرۍ د محکمې مشر ددې مړینو د پټو رازونو درا برسیره کولو له پاره مامؤر کړ. تر څنګ یې د البانیه د پادشاه په لور یې د تعزیت له پاره یو دروند هیئت و استاوه. خو هغه ته یې دا پیغام و لیږه چې دا معصوم شهزادګان د کومې نه پیژندل شوې ناروغتیا له امله وفات شوي دي. ددې ترڅنګ سلطان مراد خان ثاني دا یو قدم بل هم واخست چې جارج کستریاټ یې نیغ په نیغه د خپلې ځارنې لاندې واخست اودهغه د روزنې له پاره یې پوه او وفاداره وګړي و ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو ابوجعفر او مارتها ته د البانيا د پادشاه له لورې د بغاوت هيله پيدا شوې وه اودهمدې له پاره په انتظار کې ناست وو. ابوجعفر د دې معصومو شهزادګانو د مړينې په اړه د قسطنطنيې قيصر ته په خپل راپور کې و ليکل چې:

«معظم شهينشهاه او د مسيحيت ستر محافظ ، د قسطنطنيې درونډ قيصر !

ما ددرې کسو معصومو عيسايي کوچنيانو په پاکو وينو باندې د سلطان مراد خان له پاره پرلپسې عذاب وليکه. او د عثماني سلطنت البانوي پولې مې د بغاوت دبارودو څخه ډکې کړې دي. سلطان زمونږ د هيلو سره سم څلورم شهزاده نيغ په نيغه دخپلې ځارنې لاندې نيولې دې او اوس زه دمسيح د دين په مطابق ددې څلورم شهزاده فکري اوذهني روزنه کوم ، زه به ډير ژر هغه دسلطان په کور کې دننه د يوه ستر دښمن په څير تيار کړم.»

دقيصر خير غوښتونکې

ډيمونان.

اوس نو ابوجعفر مارتها ته دا دنده ورکړې وه تر څو شهزاده چارج د سلطان پر خلاف ښه و پړسوي. ددرې ګونې قتل وروسته ، اوس مارتها په مکمله توګه د ابوجعفر په لاسو کې نښيده. دهغې له پاره د ابوجعفر دخبرو دمنلو پرته بله لاره هم نه وه. په دې اساس مارتها همغه څه کول چې ورته به د قيصر د جاسوس ابوجعفر «ډيمونان» له اړخه ويل کيده. مارتها شهزاده جارج ته د انتقام اوبدلې د اخستلو په خاطر دا ويل چې دهغه درې واړه ورونه د سلطان مرادخان ثاني له خوا په زهرو وژل شوي دي. جارج لا تراوسه پورې د لس يولس کالو هلک و. هغه دخپلو بې اسرې ورونو په مړينه باندې سخت غمژن شوې و. هغه به د مارتها له خوا دسلطان پر خلاف را پړسول کيده ، په دې خاطر دهغه د وجود دهر رګ په وينه کې د انتقام اوبدلې اخستلو وينې ګرميدې. هغه ته به د سلطان هر قدم او هر کار دظلم يوه نمونه څرګنديده. دهغه تر مخه به د خپل مفتوح هيواد او خپل مغلوب پلار مخ تر سترګو کيده ، هغه ته د خپلې بدحالۍ هغه وخت هم را په ياديده چې پلار او مور يې ورڅخه بيليدل ، او پخپله د کوچنيوالې په عمر د خپلو درې نورو ورونو سره يو ځاې يو بيګانه هيواد ته د بنديانو په څير بوتلل کيده. بيا يې خپل کمرعمره ورونه په داسې حال کې کتل چې دمرګ په خاطر د زهرو په نشه کې لاس و پښې وهلې او کانګې يې کولې. مارتها دغه نوې ځوان شهزاده د خپلې غوږې ژبې په جال کې را نغاړلې و.

که څه هم البانوي شهزاده جارج کستيرياټ نيغ په نيغه د سلطان تر ځارنې لاندې راغلې و خو دهغه په سينه کې د غم او غصې جهنم را خوټيده. مارتها به په دې لمبو نور هم تيل ور شيندل. خو تر څنګ به يې هغه د سمدستې بدلې اخستلو څخه منه کاوه. مارتها به هغه ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« جارج ! کوم داسې کار در څخه په بیړه کې تر سره نه شي چې دهغې په واسطه دا پټ راز ټول را څرګند شی او بیا ته دخپلې بدلې د اخستلو څخه بې برخې شي.»

اوس نو جارج په مستقیمه توګه په شاهي مکتب کې ښوونه او روزنه تر لاسه کوله. دلته هغه د شهزاده محمد سره هم ملګرې شو. خو شهزاده محمد د جارج څخه په عمر کې پوره کوچنې و. جارج هوډ وکړ چې د بلوغ د مرحلې وروسته به د سلطان مرادخان ثاني دا زوې شهزاده محمد وژني او د خپلو ورونو د بدلې دا خستلو تنده به پرې ماتوي. د جارج خام ذهن ددې خیالاتو او فکرونو سره ورځ په ورځ پخیده. کرکې، غم او غصې هغه بدمزاجه او بدکرچاره کړ. شاهي ښوونې او روزنې د جارج پټې وړتیاوې هم را بربنډې کړې، کله چې هغه ځوان شو نو د یوه ضدي بلکه تجربه کار شهزاده په توګه ځوان و ځلید.د شاهي مکتب څخه د فارغیدو وروسته هغه د ینی چرې په عسکری روزن ځاې کې د عسکری فن د ښوولو او زده کولو جوګه شو. هغه ډیر ژر د تورې وهلو او نیزې ویشتلو فن زده کړ. چې ددې روزنې استاد یې« طاهر هشام» و.

د ینې چرنې روزن ځاې په حقیقت کې د عیسایی بندیانو له پاره د اسلام د ښوولو او د مسلمان په څیر دهغوې د روزلو له پاره جوړه کړل شوې وه ، خو دجارج ذهن په دې روزن ځاې کې هم بدل نه شو ، جارج که څه هم د سلطان دغوښتنې په اساس خپل مذهب په ښکاره توګه تبدیل کړ خو په زړه کې همغسې عیسایی پاته شو . مارتها او ابوجعفر هم هغه ته په ښکاره توګه د مذهب د بدلیدو مشوره ورکړې وه. جارج هم دهغوې دمشورې په اساس مذهب بدل کړ او اسلام یې و مانه. سلطان د جارج اسلامی نوم «سکندر بیګ» کیښود. او جارج ته یې دخپل زوې حیثیت ورکړ. خو سلطان ته دا ډاګیزه نه وه چې هغه یو مار په خپل لستونې کې پالي. داسې یو مار چې شاته یې د ابوجعفر په څیر یو زهري ښامار او دمارتها په څیر یوه خطرناکه ښاماره ولاړه ده.

۱۴۴۳زیږدیز کال پیلیدونکې و ، دپسرلې ښایسته موسم پیل شوې و او د تخت کیناستې کلنۍ میله په خپل اوج کې وه. نن سکندر بیګ ته غابښ ماتونکې ماتې ورکړل شوې وه. او دهمدې ماتې په خاطر د مارتها لور مارسي دخوشحالۍ څخه پورته پورته غورځیده. خو مارتها او ابوجعفر دسکندر د ماتې په خاطر ډیر غمژن ښکاریدل. خو سلطان ددې میلې دغه مقابله یوه لوبه وګڼله او شاته یې ورغورځوله

سلطان د لوبې او میلې د پاې ته د رسیدول وروسته سکندربیګ خپل محل ته را وباله اودهغې په چپ بازو باندې د راپیدا شوي زخم په اړه یې و پوښتل. سکندر لا تر اوسه پورې دخپلې ماتې د اغیز څخه نه و راوتلې. کله چې سلطان ، سکندر په خپل حال کې وکوت نو ترې ویې وپوښتل:

«سکندربیګه ! مونږ ستا په میړانې او ځواک باندې قایل یو ، تاته په دې اړه د اندیښنې کولو اړتیا نه شته. مونږ پریکړه کړې ده چې تا د غربي پولو د جاګیر او زمکو والي و ټاکو. اوس وخت را رسیدلې دې چې تاته دحکمرانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو دنده در وسپارل شي. مونږ ستا د ښووني او روزنې څخه ډاډمن یو ،اوتا خپل زوی ګڼو. ستا دماتې خوړلو د اغيز د له منځه وړلو له پاره همدا لاره مونږ ته غوره ښکاري.»

دسلطان دپریکړې په اوریدو سره د سکندر بیګ احساسات را ژوندي شول. هغه سمدستي دخپلې ماتې ټول غم له یاده وویست. او یوناڅاپه یې ورته دخپلې بدلې منزل را لنډ و ښود. سکندر خپله ملا ټیټه کړه او د سلطان د پریکړې څخه یې خوښې و ښوده او دخندا کولو هڅه یې وکړه او ویې ویل:

درونده سلطان ! تا یو یرغمالي شهزاده ته دخپل زویوالي لقب ورکړ. اودا چې تا ماته تر ټولو ستره او ښه روزنه را کړه ، زه به ستا دا ښیګڼه هیڅکله هم له یاده و نه کاږم او نه به یې د بدلې د پوره کولو وړتیا ولرم. زه ستا ددې ټولو ښګیڼو په بدله کې یواځې دا ژمنه کولې شم چې د سلطان هر خدمت به د زړه له کومې په پوره خوشحالۍ سره تر سره کوم.»

سلطان د سکندربیګ د خبرو په اوریدو سره ډیر خوشحاله شو او بیا یې وویل چې:

« سکندره ! مونږ په تا پوره پوره باور لرو !....ته همدا سبا سهار وختي د غربي پولو په لور د تللو له پاره ځان تیار کړه. هلته د سرحداتو د جاګیر والي ته زمونږ دغه شاهي فرمان له ځانه سره یو سه ، دنن نه اخوا ته زمونږ دسلطنت یو ستر جاګیردار یې. او زه هیلمن یم چې ته به خپله دغه دنده په ډیره ښه توګه تر سره کړې.»

اوبیا د میلې په دریمه ورځ سکندر د خپلو ساتونکو سره یو ځای دغربي پولو په لور روانیدونکې و. د تللو تر مخه سکندر مارتها ته په کلکه وویل چې د تللو د مخه مارسی مجبوره کړی چې له ماسره واده وکړی او بیا یې له ځانه سره یوسي. مارتها هم همداسې هیله درلوده. خو مارسي په سپینه پانړه ترې ددې کار کولو په اړه ښنه و غوښته، خو کله چې سکندر نور هم زیات فشار راوست نو مارسي دیوه بل چال په لوبولو باندې پیل وکړ اوپه علنې توګه یې وویل چې هغه نه غواړی د یوه مسلمان سره واده وکړي. هغې اعلان وکړ چې که چیرې سکندر بیرته عیسایي مذهب ته را وګرځي نوبیا دهغه سره واده کولو ته تیاره ده. دمارسي ددې اعلان سره سم سکندر ، مارتها او ابوجعفر ټول حیران دریان پاته شول. اوس نو د مارتها سره ددې پرته بله چاره نه وه چې مارسي د اصل حقیقت څخه خبره کړي ، مارسي هم د وخت پیژندونکې مارتها لور وه. هغې یو چال ولوباوه اودخپلې مور څخه یې حقیقت را وسپړوده. مارتها خپله لور مارسی یوې بلې ځانته خونې ته یوړه او دا حقیقت یې ورته ډاګیزه کړ چې سکندر بیګ په اصل کې مسلمان نه دي بلکه هغه د خپل ځان اودخپلو ورونو د بدلې داخستلو په خاطر د اسلام د منلو ډرامه جوړه کړې ده. د مارتها د خبرو په اوریدو سره د مارسي سترګې د حیرانتیا څخه بوتې را ووتې. دهغې دزړه درزار نور هم زیات شو او هغه یو ناڅاپه دې ته متوجه شوه چې هغه د یوې سترې پټې څخه خبره شوې ده. هغې دخپلو زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره خپله مور نوره هم و ګړوله او ترې ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مورې ! نن ماته رېښتيا رېښتيا ووايه چې ددغه ابوجعفر حقيقت څه دې او دا څه ډول انسان دې ؟ ځکه دغه کس لکه څنګه چې په ښکاره توګه تر سترګو کيږي په حقيقت کې هغسې نه برېښي ؟»

دمارسي دخبرو په اوريدو سره مارتها و لړزيده . هغې خو نه غوښتل چې د سکندر راز هم را بربنډ کړي خو مجبوره شوه داسې قدم واخلي. خو د ابوجعفر په څير د يوه خطرناک جاسوس د مخ څخه يې د نقاب دلرې کولو په اړه رنګ تک ژيړ شو خو د خپل ځان د سنبالولو هڅه يې وکړه او مارسي ته يې وويل:

« لورې ! دا وخت ددې خبرو نه دې. تا شرط ايښې و چې ته به د يوه عيسايي سره واده کوې ، په دې خاطر ماتاته د سکندر بيګ په اړه حقيقت ډاګيزه کړ . اوس نو ته نور وخت له لاسه مه ورکوه او ژر دخپل واده له پاره ځان تيار کړه .»

دمارسي په ذهن کې توپان را پورته شوې و . هغې ته په لومړي ځل دا احساس راپيدا شوې و چې دهغې مور په څومره لوې سازش کې را ښکيل شوې ده . هغې د خپلې مور په سترګو کې سترګې ور ننويستې اوپه پوره زړه ورتيا يې ورته وويل چې:« سهي ده ، کومه ورځ چې ته ما ته دا ډاګيزه کړې چې دا مکار ابوجعفر څوک دې ؟نو زه به په همغې ورځ د سکندر سره د واده کولو له پاره ځان تيار کړم.»

د مارسي دخبرو په اوريدو سره مارتها په خولو کې ډوبه شوه . اوس نو ورته د خپلې لور قانع کول ستونزمن شوي و . هغې دا هم نه غوښتل چې دهغې د ضدي لور کرچار د سکندر بيګ او ابوجعفر تر مخه را برسيره شي . ځکه هغه په دې پوهيده چې سکندر څومره خطرناک وګړي دې . که چيرې هغه يو ځل دهغې د لور څخه يو ځل مخ واړوي نو په ډاډمنه توګه له منځه به يې يوسي . د مارتها له پاره هر ډول پريکړه ستونزمنه شوې وه . سريې ټيټ کړې و او په فکرونوکې ډوبه ناسته وه . بلاخره د سکتې نه را بيرون شوه ، د خونې نه باهر ورته سکندر بيګ او ابوجعفر دواړه منتظر ناست و . مارتها په درندو قدمونوسره مخته راغله او په داسې حال کې چې خپل ځان يې نورمال ښوده ويې ويل:

« سکندره زويه ! مارسي د واده کولو له پاره تياره ده . خو د دومره ژر واده کولو څخه ويريږي ، ته په اطمينان سره ولاړ شه ، زه به پخپله مارسي هلته ستا جاګير ته د له ځانه سره دروړم. بيا مونږ ټول هملته له تاسره واوسو .

ابوجعفر په ډيره عجيبه توګه د مارتها په مخ باندې خپلې سترګې ور ننبلولې وې. هغه دمارتها خبرى په ډير غور اودقت سره واوريدې اوبيا يې په تفهيمى او طنزيه توګه دهغې سره دهوکړې سر و خوځاوه . مارتها د ابوجعفر په نيت پوه شوې وه او دننه وجود يې ټول د ويرې په لړزه کې و . هغې ته دا معلومه شوې وه چې دې خطرناک شخص ته به د ټولو کړو وړو اندازه معلومه شوي وي ، په هر صورت سکندر دمارتها خبرې په ډيره حوصله سره واوريدې او د هغې په اړه يې دکوم قهر او غصې څرګندونه و نه کړه بلکه مارتها ته يې وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« توروې سهې ده !زه به دهغه ځاې د چاپيريال د کتلو وروسته ، ډير په تاسې پسې هلته د راتلو له پاره څوک را و ليږم.»

د سکندر د خبرو څخه د مارتها ويره لږ څه کمه شوه خو ابو جعفر ورته وويل چې:

هو هو ! په دې کې د انديښنې کولو څه خبره ده. مارسي او سکندر دواړه د يوه کور کوچنيان دي. مونږ چې کله هم وغواړو دهغوې تر منځ واده کولې شو .... اخر مارسي به دسکندر پرته بل چيرې ځى ؟ د ابو جعفر اخري خبرې دوه معناوې درلودې. دا چې سکندر به پرې پوه شوې او که نه ، خو مارتها پرې رسيدلې و ه.

خداې خداې يې کول او سکندر دهغه ځايه ولاړ . دهغه دتلو سره سم دمارسي په وجود کې ساه راپيدا شوه . د شپې مارسى وکتل چې دهغې مور په خپله بستره باندې اوړې را اوړي ، بيا نژدې نيمه شپه وه چې مارتها دخپلې بسترې څخه را پورته شوه، دلور خواته راغله ، هغه ډيره زياته نا ارامه وه. کله چې مارسي دخپلې مور دا حالت وکوت نو پرته له ځنډه يې ترې وپوښتل: « درنې مورې !ولې دومره انديښمنه يې ؟ مارسي دخپلې مور دکيناستو سره سم دا خبره وکړه . مارتها اوږده ساه واخسته او په ډيره مړژواندې ژبه يې وويل :« مارسي ! زه ستا په اړه انديښمنه يم . ته پوهيږې چې سکندر يو ضدى او جګړه کونکې انسان دې . هغه به ستا دانکار کولو څخه په غضب شي. دا غنيمت دې چې تر اوسه پورې هغه تا دخپلې وينځې لور ګڼي ، او په دې هم پوهيږې چې ته د هغې پرته دبل چا کيدې نه شې. خداې دې نه کوې ، که هغه ته دا ډاګيزه شي چې ته دهغه سره واده کول نه غواړې نو حالات به ډير کړکيچن شي.»

د مارتها دخبرو په اوريدو سره مارسي راپورته شوه ، کيناسته ، او دمور د اوږې سره خپل سر يو ځاې کړ او ورته يې وويل: « مورجانې !ته انديښنه مه کوه !هيڅ ستونزه به نه راپيدا کيږي.»

مارتها او مارسي تر ډيره وختّه پورې په همدې خبرو کې مشغولې وې ، خو دسهار نه لږ څه مخته د مور اولور سترګې ورغلې او بيدې شوې.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

# دپنځه زره کسیز فوځ سالار

دخپل ورور کور ته د قاسم د راتلو نن پنځمه ورځ وه ، درې ورځې مخته یې د تورې وهلو په فن کې چې کومه کارنامه تر سره کړې وه په هغې دهغه ورور طاهر هشام اووراندار یې «سکینه» دواړه ډیر خوشحاله شوي وو. دهغوې دواړه کمر عمره زامن هر یو «عمر» او «علي» له ده سره دهمغه دریمې ورځې څخه وروسته را بلد شوي و. هغوي نن ټوله ورځ د خپل مکتب د همعمره کوچنیانو سره د خپل کاکا د تورې د وهلو دمقابلې د ګټلو قصې کولې .

سبا سهار وختې قاسم خپلې دندې ته حاضریده. دهغه ورندار ورته سهار وختی د زیتونو په غوړیو کې حلوه تیاره کړې وه ، کله چې مابنام طاهر کورته راستون شو نو هغه یې په لاسو کې د سمندرې ماهیانو څو ټوټې و کتلې. داسې څرګندیده چې نن د قاسم له پاره ځانګړې میلمستیا تیاره کړل شوي وې. مابنام یې ورندار د زورلو په خاطر ، دسترخوان په سر ورته وویل چې:

« بس ، اوس نو وخت ستا د واده کولو له پاره هم مناسب دې ، زه به کومه ښه ښایسته ترکي پیغله پیدا کړم او ستا د رشتې خبره ورسره و چیړم.»

ددې خبرې په اوریدو سره کوچنیانو دخوشحالۍ نه ټوپونه پیل کړل ( دکاکا واده دې....دکاکا واده دې) ، طاهر هم د سترګو لاندې خندل ، خو قاسم احتجاجا پورته شو او ویې ویل چې:« نه ورندار نه ، د اوس نه دا تیرې را سره مه کوئ ، زه خو اوس باید نړۍ ووینم غواړم سلطان «قیصر» ته د درس ورکولو له پاره قسطنطنیه کلابنده کړم. دبله اړخه د غربې اروپا خطرناکه سپه سالار « هونیاډې » دصلیبې ځواکونو د قومندې د اخستو له پاره راستون شوې دې ، عثماني سلطنت د څلورو خواو څخه په ګواښونوکې ډوب دې. نو په داسې وخت کې به د ینی چرې د فوځ د پنځه زرو عسکرو سالار څه ډول د واده جنجالونه وپالې» قاسم د واده د نه کولو له پاره ډیره معقوله لاره خپله کړې وه. سکینه د قاسم دځواب څخه ډیره حیرانه پاته شوه.

«او هو ... ! تا خو داخبره ډیره جدي واخسته. سهې ده ، وروره سهې ده ، ته لمړۍ قسطنطنیه فتحه کړه اوبیا واده وکړه. بلکه دهمغه ځایه له ځانه سره کومه اروپاې میم راوړه.» سکینې ورته په خندا کې وویل اوخبره یې واړوله.

طاهر دخپل ورور او خپلې ښځې د بحث څخه خوند اخست ، بیا یې په خندانه خوله وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«سکینه بیګم ! سلطان د قاسم څخه ډیر اغیزمن شوې دې ، نو لرې نه ده چې هغه به پخپله د قاسم له پاره کومه ښه رشته را پیدا کړي.»

د طاهر په دې خبره درې واړو وخندل. په همدې وخت کې د کور دړه چا و ټکوله. دوې ټول چپ چاپ شول ، د طاهر په تندې ګونجې راپیدا شوې او په لوړ غږ سره یې وویل چې:

« په دې وخت کې به څوک وي ؟... خیر زه به یې ووینم ...» هغه د دروازې په لور د ورتلو له پاره پورته کیده چې قاسم پرې ور مخته شو ، « ته کینه وروره ! زه به یې وینم چې څوک دې ؟» قاسم چې دروازه پرانسته نو مخې ته یې یو د پوخ عمر اجنبې ولاړ وموند. دا ابوجعفر و. قاسم هغه د لمړي ځل له پاره کوت. د ابوجعفر په سترګو کې د مار په څیر ځلاوه. ابوجعفر د قاسم دکتلو سره سم هغه ته په خندانه خوله سلام وکړ او بیا یې ورته وویل:

« ته ما نه پیژنې خو ستا ورور زما دوست دې. په هر صورت ، نن خو زه یوائې ستا د زیارت کولو له پاره راغلې یم ».

دابوجعفر دخبرو داوریدو وروسته ، قاسم هغه ته د میلمستون دروازه پرانسته. اودغه پوخ عمري ابوجعفر ته یې هلته د کیناستو له پاره اشاره وکړه .« ته دلته کینه ، زه مې ورور خبروم اوبیرته را ستنیږم. خو که مهرباني وکړې اوخپل نوم دې را ته و ښایې ترڅو یې زه خپل ورور ته ووایم.» « بلې ، زما نوم ابوجعفر دې .» کله چې قاسم خپل ورور طاهر ته د ابوجعفر د راتلو په اړه وویل نو دهغه د تندې ګونجې نورې هم ژورې شوې.

«ابوجعفر !...د غرب خطیب ، دا سړې دلته څنګه راغلې دې ؟ ترڅو چې ماته معلومه ده دا سړې خو د ښار په هغه سر کې د «بغدادی دروازې » د جومات خطیب دې.» طاهر دفکر په نړۍ کې ډوب ، دخپل تندې خولې په لاس وچې کړې اوویې ویل :« هغه وایې چې له ماسره د کتلو له پاره راغلې دې ، هغه ستا دوست دې ....هغه همداسې ویلې دې که نه...»

« زما دوست.....؟ نه ، ماخو هغه یو ځل نیم چیرې کتلې دې. خیر ورځه ، وربه شو چې خبره څه ده.»

دواړه ورونه د ابوجعفر دکتلو له پاره میلمستون ته راغلل ،او هلته دمیلمه سره کیناستل ، ابوجعفر په خپلې چاپلوسانه لهجې سره وویل:

« شیخ طاهر !...ستاورور خو ډیر جنګجویه دې. د میلې په ورځ د هغه دکړچار څخه سلطان ډیر اغیزمن شوې دې په دې خاطر یې هغه د ینی چرې دپنځه زرو کسانو سالار و ټاکه. زه دهغه دهمدې بریاو د مبارکۍ په خاطر دلته راغلې یم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر په ډېره حیرانتیاسره دابوجعفر خبرې اوریدې اوبیا یې په پوره ادب سره ورته وویل: « ستا څخه ډیره ډیره مننه ، تا زحمت وګاله ... ریښتیا هم په ینې چرې کې زما د وروړ مقرریدل زماا او زما دکورنۍ له پاره د سعادت خبره ده .»

قاسم او طاهر دواړو ته تر اوسه دا ډاګیزه نه وه چې ابوجعفر څومره خطرناک انسان دې. خو ابوجعفر د طاهر په اړه دهر څه نه خبر و. خو اوس د هغه توجه د قاسم په لورې وه. ځکه چې د ینې چرې سالار دهغه د سازش ځانګړې نښه وه. تر اوسه هغه د ینې چرې د فوځ درې کسه سالاران په خپل خپور کړې جال کې را نښلولي وو.... دهغه کار داو چې هغه به ناواده شوي او کمعمره سالاران د عیسایې تنکیو پیغلو په لومو کې راګیرول.... اویو ځل به چې څوک دهغه د راز ملګرې شو او په جرم کې به ورسره شریک شو نو بیا به دهغه بیرته را ستنیدل شوني نه ښکاریدل. هغه به د ینې چرې مهم سالاران د بغاوت په لور رابلل. ینې چرې د سلطنت تر ټولو مهم او جنګجو فوځ و.

دا فوځ د عثمانیه سلطنت د بنسټ ایښودونکې « عثمان خان» زوې « اورخان» دخپل وروړ «علاؤالدین » او « قراء خلیل» په سلا باندې منځته راوست. د « اورخان » په وخت کې ، کله چې کوچنۍ اسیا د عیسایې حکومتونو څخه پاکه شوه نو د عثماني سلطنت خاص مامورین د ټول هیواد په جاګیرونو کې خپاره کړل شول ، په پخوا وختونو کې ګڼ شمیر عیسایان بندیان کړل شوي و او نور ګڼ شمیر یې دسلطنت رعایا ګرزیدلې و او دذمیانو په څیر یې په دې کوچنۍ اسیا کې خپل ارام ژوند کاوه. صدراعظم علاؤالدین خپل وروړ «اورخان» ته سلا ورکړه چې ستر ستر جاګیرداران چې د سترو سترو فوځونو خاوندان هم دې ، ځینې وختونه د سلطنت له پاره دګواښ سبب ګرځي.

په دې وخت کې ترکانو کوم منظم فوځ نه درلود. او صدراعظم علاؤالدین ددې خبرې څخه په ویره کې و چې یو وخت به دهغه جاګیرداره عیسایې رعیت د ګاونډیو عیسایې سلطنتونو سره پټ تارونه و ځغلوي او دمخالفت او بغاوت کولو وړتیاوې به پیدا کړي. په دې خاطر هغه دا اړینه وګڼله چې د عیسوي بندیانو او عیسوي رعایاو څخه ځوان او دنوي عمر خاوندان د سلطنت د ځارنې لاندې وروزي او په دې توګه هغوې ته اسلامي ښوونه او روزنه ورکړي ،مسلمانان یې کړي او یو ځواکمن فوځ ترې جوړ کړي.

دې فوځ ته به ځانګړې شاهي فوځ ویل کیږي. ددې خلکو څخه به د بغاوت او سرکشۍ هیله نه کیږې. او تر څنګ به یې ددې نوو ځوانو مسلمانانو خپلوان هم د سلطنت مخالفت نه کوي. ددې برعکس به هغوې ته هم په اسلام کې د راننوتلو ترغیب ورکول کیږي. همدا علت و چې دا وړاندیز سمدستي ومنل شو.

ددې کار دپلي کولو له پاره په لمړي کال کې زر کسه عیسایې ځوانان ددې کار له پاره را وړل شول اوهغوې ته فوځي روزنه ورکړل شوه ، په پیل پیل کې چې کله دوه زره کسان د فوځې روزنې څخه فارغ شول نو دوې ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان د خوندي ساتلو د ګارډ په څېر وګمارل شول ، سلطان دهغوې دروزنې له پاره یوه ستر صوفي « حاجي بکطاش» ته ددعا له پاره ورغې ، دغه خداې پاله بزرګ دیوه ځوان په اوږه باندې لاس کېښود او دې فوځ ته یې دعاینه وینا وکړه او د «یني چري فوځ » نوم یې پرې کېښود.

په دې ډله کې قاسم بن هشام لمړی کس و چې عیسایي نه و . خو بیا هم په یني چري کې شامل شوې و ، عیسایي ځوانانو به داسلام د قبلولو وروسته دسلطان تر ځارنې لاندې د حرب د فن په اړه اعلې روزنه تر لاسه کوله .دهغوې په فوځې روزنه کې به ډېره سختې کیده ، همدا علت و چې هغوې به هر ډول ستونزې په اسانۍ سره زغملې. دخپل مورو پلار ، وطن او مذهب د پرېښولو وروسته به دهغوې ټولې هیلې دسلطان سره تړلې وې نو په دې خاطر د اسلام ملاتړ دهغوې د ژوندانه مقصد او نصب العین ګرزیده. سلطان به هم په هغوې ډېر باور کاوه ، دا فوځ به په ډېر شان وشوکت سره اوسیده او څنګه به چې د سلطان آند و په همدې توګه به عیسایانو ته په خپله په دې فوځ کې د ورننوتلو هیلې په زړه کې را ټوکیدې. همدا علت و چې هر کال به د بلې دورې له پاره د خلکو شمیره په خپله پوره کیده بلکه کله به دخلکو شمیره دومره زیاته شوه چې خلک به بیرته تللو ته مجبوریدل.

خو دا ځل سلطان د هیلو پر خلاف یو مسلمان ځوان په یني چري فوځ کې راننویستې و. خو د سلطان ددې پریکړې حقیقي حکمت دا و چې هغه غوښتل چې په دې نوې مسلمانو فوځونو کې یو پوخ مسلمان هم ورګډ کړي تر څو د راتلونکې وختو د سازشونو څخه اګاه و اوسي. ابوجعفر د یني چري یو شمیر سالاران بیرته مرتد کړې و او عیسایت ته یې را ګرځولې وو. په یني چري فوځ کې د ابوجعفر فعالیتونه ورځ په ورځ پراخیدل.

د بله اړخه دسلطان اګاه غوږونه ددې حالاتو څخه پوره خبر وو . همدا علت و چې سلطان د پوره بصیرت څخه کار واخست او قاسم یې په دې نوې مسلمان فوځ کې شامل کړ. خو دا خبره د ابوجعفر له پاره ښه و نه بریښیده. هغه د سلطان د پریکړې څخه سخت په ویره کې پریوتې و . ځکه چې اوس نو د یوه پوخ عرب مسلمان په شتون کې د ابوجعفر له پاره په یني چري کې دبغاوت کولو پلان جوړول ستونزمن شوې و . دابوجعفر په ګیډه کې همدا درد و چې هغه یې دعثماني فوځې روزن ځاې د استاد طاهر هشام کورته په راتلو مجبور کړې و . او س نو ابوجعفر د قاسم دایمان داندازې داخستلو هڅه کوله.

خو قاسم بن هشام د څو پښتو نه مسلمان ، مجاهد او جنګجو و . ابوجعفر ته د طاهر او قاسم دخبرو د اوریدو څخه پوره ناهیلې را پیدا شوې وه ، ځکه چې دهغې مکارو او تجربه لرونکو سترګو دا احساس کړې وه چې په خپل جال کې ددې دواړو عربو ورونو را تاوول اسانه کار نه دې.

هغه د اخوا دیخوا خبرو کولو نه وروسته نیغ په نیغه د قاسم څخه وپوښتل چې:« ددې علت به څه وي چې سلطان دلمړي ځل له پاره په یني چري فوځ کې یو مسلمان سالار و ټاکه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم د پخوا څخه د ابوجعفر مارشکله سترګې کتلې وې اودهغه کړو وړو ته سخت متوجه شوې و . اوس چې هغه دا پوښتنه وکړه نو قاسم ته هم حیرانونکې وه. خو پخوا له دې چې قاسم په دې اړه څه ووایې ، طاهر په خبرو پیل وکړ : « اوریدلې مې دې چې په ینې چري کې کوم بغاوت را ټوکیدونکې دې. غالبا چې سلطان به دهمدې حقیقت د را بربنډولو په خاطر زما په ورور باور کړې وي»

دطاهر په دې خبره د ابوجعفر زړه نور هم غمژن شو ، ځکه په ینې چري فوځ کې د بغاوت مشري پخپله دهمدې په غاړه وه . دطاهر هشام خبرو په میلمستون کې یو انقلاب راوست ، ابوجعفر ډیر وارخطا شو ځکه چې قاسم په پرلپسې توګه د ابوجعفر سترګو ته کتل. ابوجعفر ددې عربو ورونو سره نور پاته کیدل نه غوښتل په دې خاطر یې ډیره ژر اجازه واخسته او دهغه ځایه ووت.

بله ورځ قاسم خپل نوي کالي واغوستل او دخپلې خوښې په آس سپور شو او د ینې چري مرکزی قرارګاه ته ورغې. دلته هغه تر ټولو لمړی د اغا حسن سره وکتل ، دا همغه ځوان و چې دمیلې په ورځ یې د سکندربیګ څخه ماتې خوړلې وه. قاسم ته ددې ځوان په مخ کې عجیبه شانته سادګې او خلوص تر سترګو شو. قاسم ته ډیره ژر دا څرګنده شوه چې ددې ځوان سره دهغه دوستې کیدونکې ده . اغاحسن د قاسم څخه په عمر کې زیات و ، ترځنګ یې د ینې چري د فوځ یو تجربه لورنکې سالار هم و . هغه د خپلو بریاو او کړچار له کبله ډیره ترقي کړې وه او د لس زره کسیز فوځ مشری ور په غاړه وه . کله چې اغاحسن قاسم وکوت چې د ینې چري د فوځ مرکزي چاپیریال ته را ننوځې نو پېښه یې و نیوله ، ځکه هغه ته د همغې میلې په ورځ د قاسم میړانه خوښه شوې وه . د قاسم په کتلو سره هغه یو ناڅاپه دهغه مخې ته روغې. قاسم هم سمدستي دخپله آسه را ښکته شو ، په دې توګه د ینې چري دواړه سالاران یو بل ته ورغاړی وتل. اوبیا یې په خبرو خبرو کې ددفتر په لور مخه کړه .اغاحسن ورته د تللو په وخت کې وویل چې :« زه ستا مشر ورور طاهرهشام پیژنم. هغه هلته په روزن ځاې کې د تورې د وهلو درس ورکوي اوزه هم کله کله د خپل شوق په خاطر دهغه درسونو ته ورځم.»

« ډیرښه !.... ددې مطلب دا شو چې زما ورور به هم تاسې پیژني...... زه ډیر خوشحاله یم چې د ټولو تر مخه مې له تاسره لیده کاته وشول. په هغه ورځ تا ډیر ماهرانه ګذارونه وکړل. که چیرې ستا توره نه وې ماته شوې نو په ډاډمنه توګه به تا سکندر بیګ ته ماتې ورکړې وه »

اغا حسن د قاسم دغه ماهرانه آند ته حیران پاته شو ، دا حقیقت و چې دهغې توره په دوکه کې ماته شوه او که نه هغه نور هم دڅو ساعتو له پاره د جنګ کولو توان درلود .

قاسم ټوله ورځ د اغاحسن سره پاته شو ، هغه د اغاحسن دکمانډ لاندې د زر کسیزو ، پنځه سوه کسیزو ، سل کسیزو ، لس کسیزو عسکرو د سالارانو سره لیده کاته وکړل. دینې چري ټول فوځ په یوه ځاې کې سرا راټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي و. ددې فوځ ټولو وګړو خپل وطنونه ، کورنۍ ، او مذهبونه پريښې و او په دې وخت کې د اسلام دسرلوړۍ په خاطر دخپلو ځانو د ځارولو له پاره تيار ناست و .

کله چې ماښام کورته د راتلو له پاره قاسم د اغا حسن څخه اجازه واخسته نو هغه ته يو ناڅاپه ابوجعفر په ياد راغې.اوبيا ورته په ينې چري کې د بغاوت خبره رايادة شوه. هغه د ټولې ورځې دملګرتيا څخه په دې پوه شوې و چې اغا حسن يو باوري سالار دې ، همدا علت و چې هغه په ډير راز سره د اغاحسن څخه په دې اړه وپوښتل: « دا خبره به څومره سهي وي چې په ينې چري کې يو شمير خلک دسلطان پر خلاف په فعاليتونو کې مصروف دي ؟ ايا ته په دې اړه څه معلومات لرې ؟»

اغاحسن ټکان وخوړ او دقاسم په لور يې و کتل اوبيا يې په ډيره محتاطه توګه وويل چې: «نه زه په دې اړه ډير معلومات نه لرم. ماته همدومره ډاګيزه شوې ده چې يو شمير خلک د تنخواګانو د لوړلو او نورو اسانتياو د تر لاسه کولو له پاره هلې ځلې کوي»

قاسم ورته په تفهيمي توګه سر و خوځاوه او د اغا حسن څخه يې اجازه واخسته او ولاړ.

د ينې چري په فوځ کې قاسم ډير ژر د يوه وړ او مقبول سالار په څير را څرګند شو ، اوس يې « مور و پلار» هم همدلته «اورنه» ته دهغه دمشر ورورطاهر هشام کورته راغلې وو. اوس نو هره ورځ په خپل آس سپور د ينې چري د فوځ مرکز ته تګ او بيرته راستنيدل د قاسم معمول ګرزيدلې و . کله کله به هغه د داغاحسن سره د ډوډۍ د خوراک له پاره هم تم کيده او کور ته به ناوخته راته.

يوه ورځ قاسم د خپل عسکری مرکز څخه دکور په لور روان شو ، په لاره کې د زيتون ځو باغونه مخې ته راتلل، دلسمې شپې سپوږمۍ د زيتون په ونو باندې خپله رڼا غوړولې وه ، ددې باغونو سره نژدې دغره په څنډه کې د اوبو يو ستر ډنډ و چې څلور خواو ته يې شين والې خپله قالينه خپره کړې وه. قاسم چې د اوبو ددې ډنډ غاړې ته ورسيد نو لږ څه تم شو ، ځکه چې کوم کس د کومه ځايه دتالاب په لورې کانړې وويشت. دا کانړې په اوبو کې پريوت او د اوبو څپې يې راپيدا کړې. قاسم سمدستي خپل آس و دراوه او د برق په څير يې په ډيره بيړه خپله توره را وويستله« دلته څوک دي ؟ مخته راشئ ! او که نه ، که ما پخپله پيدا کړئ نوبيا به مو د ځټ د وهلو پرته پرې نږدم.»

ژمنۍ هوا هره پاڼه په نڅا مجبوروله ، دسپوږمۍ په دغه رڼا کې د ونو سيورې لکه د جادو وزمه ښار په څير تورې په ديو شکله توګه خاموشه ولاړې وي.هرې لورې ته خاموشي خپره وه. د آس د سومانو لاندې د زيتون د ونووچې پاڼې په ټول چاپيريال کې يونوې رنګ راپيدا کړې و . دقاسم غوږونه پورته و او خپل ټول حسونه يې بيداره کړې و او د چا د شتون د محسوسولو هڅه يې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ناڅاپه هغه د آس د هنړیدو اواز واورید. دا اواز د انار دکوچنیو ونو د شا څخه راته. قاسم د خپلې تورې لاستې نور هم ټینګ کړ اوآس یې همغې لورې ته ور وګرځاوه. هلته په ور نژدې کیدو سره یې و کتل چې هلته یو آس نه بلکه دوه آسونه وو چې دیوې بګۍ مخې ته تړل شوي و. دلته په دې ورانې ویجاړې کې د بګۍ په کتلو سره قاسم نور هم حیران شو ځکه داسې بګۍ دلته په «اورنه» کې ډیر وخت د خانانو ښځې استعمالوي، دقاسم تندې ګونج شو او فکر یې وکړ چې حتما دلته کومه خبره شته. هغه همدې بګۍ ته نزدې ورغې او په لوړ اواز یې وویل چې « دلته څوک دي ؟.... زه پوښتنه کوم چې دلته څوک دي ؟» هغه تر لږه وخته پورې همداسې څو اوازونه وکړل، کله چې هغه ته ځواب ورنه کړل شو نو هغه ددې بګۍ شاته پرده دتورې په څوکه پرانسته، خو دلته هم څوک نه وو. اوس نو قاسم نور هم محتاط ګرزیدلې و. تر اوسه هغه د دې حالاتو په نزاکت باندې فکر کاوه چې د انار د ونې د شا څخه ورته یوه غټه بلا شانته را ښکاره شوه، قاسم سمدستې توره په تیکې کې کیښوده او د آس د زین څخه یې کمان را پرانست، په دې کمان کې یو غشې لا دمخه ایښودل شوې و، هغه سمدستې دغې غټې شانته بلاته حکم وکړ او ورغږ یې کړ چې: « خبردار ! ته څوک یې ؟ هملته تم شه، یوقدم هم مخته را نه شې، او که قدم دې واخست نو په غشي دې ولم.»

دغه هیولا هم په خپل ځای و دریده، اوبیا لږه شیبه وروسته یوه ډیره ښکلې نقره یې قهقهه دزیتونو په دې باغونو کې واوریدل شوه. ددې خندا په اوریدو سره قاسم حیران شو چې دا خندا خو د کومې ښځې خندا ده. قاسم داسې و انګیرله چې هغه دکومې جادوګرې ناولې ښځې سره مخ شوې دې. خو هغه په انتظار کې اړود پاته نه شو. ځکه هغه دښځې په څیر هیولا په خپله په خبرو پیل وکړ.

« وویریدې !...... د ینې چرې د پنځه زره کسیز فوځ سالاره، وویریدې.»

دا دمارسې اواز و. هغه سمدستې د ونو د سیورې څخه را ووتله او مخې ته راغله. قاسم ته دمارسې په اړه هیڅ ډول معلومات نه و. مارسې په نرمو قدمونو باندې په کراره کراره راغله اود قاسم تر څنګ و دریده. اوس نو هغه په څرګنده توګه په سترګو کیده، د لسمې شپې د سپوږمۍ درڼا وړانګو دهغه روڼ اوښایسته مخ نور هم ښایسته کړې و. دهغې غټې سترګې دنیل رنګه ډنډ په څیر ځلیدې. هغه په خندا خندا د قاسم خوا ته راغله او په ډیره ښه لهجه یې ورته وویل:

« درونده سالاره ! زه له تاسره په دې توګه د کتلو په اړه ښښنه غواړم، خو ماسره ددې نه پرته بله لاره نه وه. که چیرې ددې نه مې زیات ځنډ کړې وې نو شونې وه چې ډیره زیاته تباهي به خپره شوې وې. په دې اساس ما دا غوره و ګڼله چې ستا لاره و نیسم او له تاسره خبرې وکړم..... زه د ډیره وخته راهیسې ستا انتظار کوم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي دخبرو څخه قاسم ټکان وخوړ. خو هغه تر اوسه پورې په لاره کې ددې ولاړې پيغلې په خبرو باندې باور نه شو کولې. هغه د مارسي څخه داسې پوښتل چې هغسې پوښتل يې حق هم و.

« ته چې ماته څه ويل غواړې هغه به را ته وروسته ووايې ، خو لمړۍ راته دا ووايه چې ته يې څوک؟»

مارسي خپلې زلفې او سترګې را پورته کړې او د شونډو څخه يې خندا لرې کړه او په پوره دقت سره يې وويل چې :« درونده سالاره ! ته زما په اړه د پوهيدو څخه مخته دغه مهم راز په غور سره واوره چې زه يې درته را بربنډوم.» مارسي ددې خبرې سره سم ورته وويل:« درونده سالاره ! ته يقين وکړه چې د سلطان له اړخه منل شوې زوې سکندربيګ د زړه نه مسلمان شوې نه دې. بلکه هغه د عيسويانو د يوه ژور چال اوسازش له مخې د جان کسټرياټ څخه په سکندر بيګ باندې بدل شوې دې. سلطان هغه ته په ناپوهۍ کې دغربې پولو جاګير ور وسپاره. تا ته به دا ډاګيزه وی چې هغه دالبانيه د مړشوې پادشاه جان کسټرياټ مشر زوې دې ، هغه غواړې چې د يو شمير عيسوي جاګيردارانو او د فوځ د يو شمير سالارانو په کومک بغاوت وکړي ، هغه غواړي د البانيه د سلطان د باج ورکولو څخه ځان ازاد کړي او دسلطان څخه بدله واخلي ،ځکه دهغه په آند دهغه درې کوچني ورونه د سلطان لخوا په زهرو وژل شوی دي.

درونده سالاره ! ته زما په خبرو باندې يقين وکړه ، په دې ژور پلان اوسازش کې ابوجعفر نومې يو شخص هم شريک دې....زه تاته ددې نه زيات نور څه ويل نه غواړم.»

مارسي همدومره خبره وکړه اوبيا په ډيره بيړه دخپلې بګۍ په لور ور روانه شوه. قاسم تر اوسه پورې دحيرانتيا څخه هملته په خپل ځاې د وچ لرګې په څير ولاړ و. هغه وکتل چې د ونو د بوټو څخه يو ځوان راووت چې د ګاډيوان په څير کالي يې اغوستې وو. هغه هلک په تيزۍ سره په بګۍ کې کيناست او آسونو ته يې لښته ورکړه ، قاسم د حيرانتيا ددې ډنډ څخه هغه وخت را ببنر شو چې د مارسي بګۍ دهغه ځايه تللې وه.

هغه ته دهغه ځايه په ناڅاپي توګه ددې اجنبي پيغلې تلل د خفګان وړ و ګرزيدل ، له ځانه سره يې پريکړه وکړه په آس سپور شو او د آس واګې يې سستې کړې ، اوس نو هغه مارسي تعقيبوله ، هغه غوښتل چې ددې پيغلې په اړه معلومات ترلاسه کړی چې هغه څوک وه ؟او هغه څه يې چې ده ته ويلې تر کومه ځايه پورې حقيقت لري ؟دهغوې بګۍ هم په لمړيو کې ډيره ګړندۍ ځغليدله. خو ښاری ابادۍ ته په رونژدې کيدو سره هغې خپل ګړنديتوب پريښود او کرار کرار روانه و ه. د ينې چرې عسکري کالوني د « اورنه» څخه بيرون اروپاېې لورې ته پرته وه. دهغه ځايه د ښاره پور ې د راتللو له پاره څو کوسه واټن وهل کيده. دښار ديوالو ته د ورسيدو سره سم دمارسی بګۍ په ناڅاپي توګه تم کړل شوه. دلته هم سپوږمې ټوله سيمه په خپله رڼا باندې ښايسته کړې وه. دقاسم آسپ چې د بګۍ څنګ ته ورسيد نومارسي د بګۍ شاته پرده پورته کړه ، قاسم هم د بګۍ شاته برخې ته ور ورسيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهلته ودريد. اوس نو مارسي اوقاسم يودبل سره مخ په مخ و. دواړو يو دبل په سترګو کې سترګې ور ننويستې. خو بيا معلومه نه شوه چې ولې مارسي خپلې سترګې ښکته کړې ، قاسم داسې و انګيرله چې هغه پخوا هم مارسي چيرې کتلې وه. هغه په خپل ذهن باندې زور راوست ، خو هيڅ ورته په ياد را نه غلل. بلاخره قاسم په ډيره باورې توګه د مارسي څخه وپوښتل:

« ګوره محترمې ! هغه څه چې تا ماته وويل هغه نامکمله او نا قابل باور دي. زه په همدې خاطر ستا تر شا راغلم تر څو له تا څخه نور معلومات هم تر لاسه کړم. ددې نه علاوه زه هم غواړم له تا وپوښتم چې تا ددې خبرې د ويلو له پاره زه ولې انتخاب کړې يم ؟» که تا غوښتلې نوپخپله تر سلطانه پورې ور تللې شوې ، د سلطان نه اخوا د سلطنت نور مهم مشران هم دلته شته ، خو ددې ټولو په شتون کې زه ، بلکه يو نوې او اجنبي شخص ولې غوره کړ ؟ قاسم ددې خبرو کولو په وخت کې دآسه را کيوتې و.

مارسي قاسم ته ځواب ورکړ ،« درونده سالاره ! ته به د «اورنه» له پاره اجنبي اوسې خو زما له پاره بلکل اجنبي نه يې. ما وکتلې چې ته زما تر شا را روان يې نو پخپله مې بګی و دروله تر څو ښار ته د ورننوتلو دمخه تاته خپله مجبوری ووايم. په دې وخت کې دلته په اورنه کې ستا نه اخوا بل داسې کس ماته نه تر سترګو کيږي چې زه ورسره په اسانی سره ووينم او باور پرې وکړم. ما ته ددې له پاره هم انتخاب کړې چې تا دميلې په ورځ سکندر بيګ ته ماتې ورکړې ده او په همغې يوې مقابلې کې دې دهغه د شيطانی فطرت په اړه اګاهي تر لاسه کړه .... زه له تانه دا غواړم چې دخداې له پاره ، چې زما په اړه اوس د پوهيدو هڅه مه کوه ، ځکه چې زه مجبوره يم. کله چې کومه مناسبه خبره مخته راغله نو زه به پخپله ستا مخې ته راځم او خبروم به دې. بيا به زه تاته دا هم ډاګيزه کړم چې زه څوک يم.»

اوس نو د اوږد قد قاسم د مارسي سره ډير نژدې ولاړ و ،هغه دمارسي په سترګو کې دسهار د ستوري په څير ځلا هم کتله او د شفق په څير سوروالې هم. دا پيغله د قاسم د آند څخه هم ډيره ښايسته او حسينه وه. دمارسي پراخه تندې د هغې د ذهانت ثبوت وړاندې کاوه. دهغې وجود نازکه هم واو سخت هم ، داسې ځرګنديده لکه د ياقوتو کانړې ته چې لباس ور اغوستل شوې وي. دقاسم ذهن دمارسی دښايست په کتلو سره راپاريدلې و . هغه خپل ځان سنبال کړ او تر شونډو لاندې مسکا کې يې وويل:

« تا چې ماته څه وويل ، زه هغه سلطان ته نه شم ويلې ، ځکه د کوم ثبوت پرته سلطان ته د سکندر په څير د نژدې وګړي په اړه داسې ګوته پورته کول دعقل خلاف کار دې.....هو ، زه به دخپله اړخه د سکندربيګ په اړه ځانته د معلوماتو د تر لاسه کولو هڅې وکړم....اوس که ته چيرې ماته دخپل ځان په اړه څه نه وايې نو مه يې وايه.... خو زه غواړم چې په دې لړ کې يو ځل بيا له تا سره ووينم. کيدې شي چې تا زما خبره درک کړې وي.» قاسم د مارسي نيل رنګه سترګو کې د غوټې خوړلو په وخت کې وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارسي د قاسم په حالاتو پوه شوې وه او په زړه کې يې ډيره خوشحالي احساسوله ، مارسي ته پخپله هم د قاسم په څير د يوه توانمنده انسان اړتيا وه . نو هغې که دقاسم سره د زړه سودا کولې او قاسم هم دهغې دمحبت ځواب په محبت ورکړې وې نو دا دمارسي له پاره دراتلونکو ګواښونو او خطرونو څخه د خوندی پاته کيدو يواځنی لار وه . مارسي د قاسم خبرې واوريدې او د څه فکر کولو وروسته يې په ټيټ اواز سره وويل:

« سهی ده !...... زه به پخپله له تاسره ووينم..... خو ته زحمت مه باسه .»

«نو تاته به څه ډول ډاګيزه شي چې زه له تاسره کتل غواړم ؟» قاسم دمارسي خبره ور غوڅه کړه او ترې وپی وپوښتل. مارسي ورته د مسئلې حل و ښود او ورته يې وويل: « ددې حل دادې چې کله کله به زما باوري ملازم «اکبر» ستا په خدمت کې حاضريږي»

قاسم ورته يو ځل بيا وويل چې « ايا ستا ملازم خو به همدا کوچوان نه وی چې همدا اوس ستا بګۍ ځغلوي ؟»

« هو !...... همدا دې ،.....زه به هغه ښه وپوهوم چې هغه به څه کوی !»

ښه ، ډير ښه ، يوه اخري خبره راته وکړه ، تا ديوه شخص نوم واخست....ابوجعفر ... ايا ته ددې وګړي په اړه لږ نور څه هم ماته ويلې شې ؟ قاسم ته په همدې وخت کې د ابوجعفر نوم به ذهن کې راغې نو سمدستې يې دمارسي څخه دهغه په اړه وپوښتل ، مارسی ورته وويل:

فې الحال زه ددې نه زيات څه نه شم ويلې ، چې دا شخص د عثماني سلطنت پر خلاف په هر سازش کې شريک دې. خو اوس ددې نه زيات ځکه زه نه شم ويلې چې ددې وګړې پر خلاف له ماسره هيڅ ډول ثبوت نه شته. خو دا سړې ډير مکار او سازشي شخص دې اوزه په دې ډاډمنه يم چې همدې سړې د «يني چرني» سپه سالار انو او د سلطان يو شمير خپلوانو ته هم لاره پيدا کړې ده.»

دابوجعفر په اړه دداسې خبرې په اوريدو سره قاسم نور هم په حيرت کې پريوت ، ځکه چې هغه د ابوجعفر سره کتلې وو. ابوجعفر دهغه د ورور کور ته راغلې و او په همغې ورځ قاسم دهغه دمارصفنته سترګو دکتلو وروسته ډير محتاط شوې و . قاسم غوښتل خبره اوږده کړي او لږ څه نور معلومات هم تر لاسه کړي چې مارسي ترې سمدستي اجازه و غوښته ، مارسي مسکی مسکی کيده او د شاتو په څير په خوږه ژبه يې وويل :

« اوس ماته اجازه راکړه چې پر ما ناوخته کيږي.»

قاسم ورته زړه نازړه سر و خوځاوه . مارسي کوچوان ځوان ته اشاره وکړه ، بګۍ روانه شوه او لږه شيبه وروسته هوايی شوه . قاسم په درنو پوندو بيرته راستون شو او په اس سپور شو او دخپل کور په لور روان شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه وخته راهیسې چې سکندر بیګ « اورنه» پرېښوده او ددې ځایه ولاړ نو د ابوجعفر فعالیتونو دپخوا څخه نور هم ډېر ګړندي شوي و. ځکه چې دهغه تر ټولو غوره او مهمه مهره اوس د خپل مقصد په لور روان شوې و. سکندر بیګ د غربي سیمو په لور د تللو په وخت کې ډېر مذموم مقاصد له ځانه سره وړي و. اوس نو ابوجعفر همدلته په «اورنه» کې ناست او دوه ستر پلانونه یې مخته بوتلل. لمړی یې په البانیه کې دسکندربیګ بغاوت او هلته د خپلې خپلواکۍ پلان و. اوبلی یې د ینې چري فوځ د یوه ستر بغاوت له پاره تیارول و. هغه څه چې اوبوجعفر د سکندربیګ په اړه غوښتل هغه ټکې په ټکې پوره شوي و او سکندر هم د ابوجعفر څخه اخري هدایت اخستې و اود خپل مقصد په لور روان شوې و. او په یو څو ورځو کې سلطان مرادخان ثاني ته دالبانیه له لورې د یو ستر زیان خبر رارسیدونکې و. دبله اړخه ابوجعفر په ینې چري فوځ کې د خپل بغاوت د پلان د پلې کولو په اخرې لیکو کې و. په ینې چري کې یو شمیر داسې نوي مسلمانان هم وو چې د زړه له کومې یې د اسلام په منلو کې لا تر اوسه ډېر وخت پاته و. ابوجعفر به همداسې ځوانان ښکارول. هغه په همدې توګه ډېر شمیر ځوانان د مختلفو لارو څخه دخپل پلان اوسازش په دې جال کې را ښکیل کړي و.

ابوجعفر ډېر خوشحاله و ځکه دهغه پلان په پوره بریالیتوب سره مخته روان و. هغه د تیرو څو کالو راهیسې همدلته په «اورنه» کې پروت و. خو هیڅکله د چا سترګو ته رانغې. او اوس خو دهغه ټول کارونه په اورنه کې پاې ته رسیدونکې وو. هغه اوس د سکندربیګ له اړخه د بغاوت انتظار کاوه. هغه ته د البانیه دخپلواکې د اعلان په اړه بیړه وه، ځکه دهغې اعلان سره سم دلته په اورنه کې د ینې چري د فوځ یو شمیر سالاران راپورته کیدل او ددې ځاې اوسیدونکې یې یرغمالول. همدا راز د ینې چري یو شمیر سالاران او د سلطان یو شمیر خپلوان د سلطان د محل د نیولو له پاره لاس بډوهلې ناست وو. په دې توګه ابوجعفر د قسطنطنیی دقیصر په حکم د عثماني سلطنت د تباه کولو له پاره هر څه تیار کړي و. د بله اړخه د څو ورځو راهیسی دا خبر هم خوله په خوله کیده چې دسلطان یو شمیر اروپایی باجورکونکې ریاستونه د بغاوت په لور روان دي اویوشمیر خو یې لا تر مخه دا اعلان کړې دې.

په داسې حال کې چې د بوسنیا، سربیه او هنګري فوځونه د «هونیاډې» تر بیرغ لاندې سره را ټول شوي و. په حقیقت کې دسربیه دپادشاه « ستیفن» چې د سلطان مرادخان ثاني خسر هم و، دمړینې وروسته سربیه د عثماني سلطنت څخه د بیلتون او دخپلې خپلواکۍ اعلان کړې و. د لاړ ستیفن ځاې ناستې یوبل عیسوي « جارج برنیک وچ » نومیده. دا وګړې دخپل سلف په څیر عاقل او سنجیده انسان نه و. په دې اساس د قسطنطنیی قیصر دهغه په خلکو کې د تارونو د ځغلولو له پاره ښه کار و کړ. قیصر دهغه په ولس کې د عثماني سلطنت پرخلاف دکرکې د راپارولو له پاره ډېر ګړندې کار وکړ او په دې لاره کې یې جارج برنیک هم دخپل ځان ملګرې کړ. د هنګري خلکو هم، چې په دې وخت کې یې د «نکوپولس» د ترخې ماتې تجربې له یاده ویستلې وې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوې هم د عثماني سلطنت پر خلاف دبغاوت له پاره خپل ځانونه تيارول پيل کړل. هغوې په دې تياريو کې څو کاله وخت مصرف کړ.

په همدې وختو کې سلطان مرادخان ثاني په (۱۴۳۰) کال کې « د زانتي جزيره » او د «يونان» د جنوبې برخو تر څنګ د «سالونيکا» پورې ټوله سيمه فتح کړې وه او دلته يې وينسيانوته ماتې ورکړې وه. تر څنګ يې د وينس رياست په ډيرو خرابو شرايطو سره دسلطان سره سوله وکړه ، څرنګه چې وينس دقسطنطنيې د قيصر ملاتړې و نو په دې اساس د قسطنطنيې قيصر دهغوې په ماتې اوذلت باندې ډير خوابدې شو. همدا علت و چې قيصر په خپلو سازشي پلانونو کې د پخوا څخه زيات ځآن مصروف کړ. د يوه اړخه دلته په اورنه کې دهغه جاسوسان خپلو مقاصدو ته ور نژدې شوې و اود بله اړخه سربيه ، رومانيه ، هنګري ، کروټيا عيسايي سلطنتونو هم د بغاوت بيرغ را پورته کړې و. که څه ددې بغاوتونو د ټکولو له پاره يو ځل سلطان په ۱۴۳۸ کال کې يو لښکر واخست او دجنګ په ډګر کې يې نژدې اويازره عيسايان بنديان له ځانه سره راوړل. خو کله چې سلطان دهغو ميدانو څخه بيرته راستون شو نو په هغوې سيمو کې يو ځل بغاوتونو سر را پورته کړ.

په همدې ورځو کې د غربي اروپا د جنګونو تجربه لرونکې سپه سالار « جان هني ډيز» يعنې « هونياډې» هم د هنګرې څخه راستون شو. هونياډې د سجمنډ پادشاه نا جايزه بچې و. دهغه مور «ايلزبت مارسي» يوه ښکلې حسينه اوبدکاره ښځه وه. هونياډې هنګرې ته د رارسيدو سره سم د فوځ سالارې په خپله ولکه کې واخسته او دراتلو سره سم يې د ترکانو پر خلاف د جنګ اعلان وکړ. هغه د « ټرانسلونيا» د ولايت څخه ترکان وويستل. د ترکانو جرنيل « فريدبيګ» چې دسلطان له اړخه هلته د چارواکې په څير ټاکل شوې و د هونياډې په لاسو په شهادت ورسيد. په د ې جنګ کې د فريدبيګ ځوان زوې او شل زره نور عثماني عسکر د هونياډې له لاسه په تورو و ريبل شول. او هغوې چې د هونياډې لاسو ته ژوندې ورغلې و دهغوې سره يې هم ډير ناروا سلوک وکړ. هغه د دې سوبې په خوشحاليو کې په هنګرې کې جشنونه اوميلمستياوې جوړې کړې او په دې جشنونو کې به يې کله کله مسلمان بنديان په ډيره بې دردۍ سره وژل. په دې توګه د خوشحاليو په غونډو کې د دې ترکي فوځيانو وژل يوه په زړه پورې لوبه ګرزيدلې وه.

کله چې سلطان مرادخان ثاني ته د فريدبيګ او نورو شلو زرو فوځيانو د وژلو او د بنديانو د بې رحمانه وژلو خبر را ورسيد نو هغه د هونياډې پر خلاف او د بدلې اخستلو له پاره د يوه ستر لښکر د ورليږلو پريکړه وکړه ، خو هغه ته دا ډاګيزه شوې نه وه چې عيسايي دنيا يو ځل بيا متحده شوې او د اروپا د براعظم څخه يې د ترکانو د ويستلو پرکړه کړې ده.

دا ځل ترکانو ته د ماتې ورکولو او د اروپا د لويې وچې څخه دهغوې د ويستلو له پاره په اروپايي ولسونو کې ډيره زياته جوش او جذبه را خوټيدلې وه چې مثال يې ددې نه مخته نه و ليدل شوې. د هنګرې پادشاه « لارډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلاس» اود هنګري سپه سالار «هوینادي» په دې اړه د هر چا څخه مخته وو. او اوس خو د فریدبیک د وژلو وروسته دهغه دمیړاني اوبهادۍ قصې په ځای ځای کې کیدې. په دې خاطر د ټولې اروپا هر ځوان غوښتل د عثماني سلطنت پر خلاف په دې جنګ کې شریک شي. ددې ترڅنګ د رومن کتولیک دکلیسا پوپ دې جنګ ته د مقدس جنګ نوم ورکړ او خپل کارډینل «جولین» یې ددې صلیبي جنګ په خاطر دخپل نماینده په ځیر روم ته و استاوه.

کارډینل جولین د شرقي اوغربي اروپا بیړنۍ دوره وکړه اوپه هر ښار کې یې د مسلمانانو پر خلاف دخلکو د راپارولو له پاره تبلیغ پیل کړ. هغه به هر چیرې چې ورته، نو هلته به یې د مسلمانانو په اړه د درواغو قصې جوړولې اوخلکو ته به یې اورولې او د اروپا عیسویان ته به یې د غفلت د خوبه د راببداریدو تلقین کاوه. کارډینل جولین د یولسمې پیړۍ د «پطروس هرکولیس» د ژوند تاریخ پوره لوستې و. هرکولیس لمړنۍ کس و چې دصلیبي جنګونو بنسټ یې کیښود. هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي پرخلاف د ټولې اروپا فوځ را یو ځاې کړې و اودهغه دمقابلې له پاره یې راوستې و. هرکولیس هم پخپله پادري و اودمسلمانانو سره سخته دښمن پاته شوې و. هغه ددې مقصد له پاره خپله ځوانه لور لوڅې پښې او شکیدلې کالي په کوڅو او سرکونو ګرځوله.... خو تر شا به یې دعیسوي راهبانو یو لښکر هم را روان و. هغوې ټولو به په غاړو کې دصلیب سترې سترې نښې را ځړولې وې. اوستر صلیب به یې د ټولو تر مخه وو. هغوې به خلکو ته ویل چې مسلمانانو ستر صلیب په کوړو وهلې دې اود مقدس صلیب سپکاوې یې کړې دې.

د پطروس هرکولیس په قدمونو د تلو له پاره جولین هم همدا کار وکړ. هغه د اروپا اوسیدونکو ته وویل چې ټوله عیسوي نړۍ د ترکانو په لاسو تباه کیدونکې اوډوبیدونکې ده نو که اوس هم عیسوي ځوانان د جنګ ډګر ته را ونه دانګي نو بیا به دمسیح نوم اخستونکې په نړۍ کې پاته نشي. همدا علت و چې ډیر ژر د هنګرۍ ،سربیا ، والیشیا ، پولینډ ، جرمني ، ایټالیې ، فرانسې ، استریا او بوسنیا فوځونه د هونیاډې تر قومندې لاندې سره راټول شول.

دابوجعفر ځانګړې لاس پوڅې سکندر بیګ په همدې حساسو وختو کې دالبانیې په لور روان شوې و. سکندربیګ د ډیر لږ وخت له پاره هلته په خپل جاګیر کې تم شو ، هغه هم د ترکانو پر خلاف د هونیاډې د راتلو انتظار کاوه ، څنګه چې د هونیاډې لښکر مکمل شو نو سکندر هم د خاصې البانیې په لور ورغې اوبیا همغه ځه وشول چې......

د سلطان مرادخان ثاني منل شوې زوې ، دهغه په محل کې د اولاد په ځیر پالل شوې سکندر..... دچاسره چې سلطان ډیره زیاته مینه کوله او څوک چې سلطان یوائې د اتلس کلنۍ په عمر کې د یوه «سنجق» حاکم ټاکلې و او بیا ورته دسکندر بیګ لقب ور کړې و .... غدار وخوت. سکندر د خپل کړچار څخه دا ثابته کړه چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې مار په ځير دې سلطان ورته شيدې ورکړل او را ځوان يې کړ . سکندر دسلطان ټولې ښيګڼې له ياده وويستلې او دخپل سازش په اخري مرحله کې يې په پوره بريااليتوب سره قدم واخست.

داسې وشول چې ..... هغه وخت چې سکندر د اورنه ځخه تلو ته تيار و نو غوښتل يې چې مارسی هم له ځانه سره يوسي خو ابوجعفر وته سلا ورکړه چې « مارسي اوس له ځانه سره مه وړه ....» هلته په البانيه کې د خپل کورني پادشاهې د جوړولو وروسته به بيا ستا له پاره د محل دکنيزې مارتها او دهغې دلور مارسي درغوښتل اسانه وي ، ځکه چې دا مور اولور دواړه په خپل عيسوي مذهب باندې ولاړې دي»

سکندر ته هم د ابوجعفر خبره معقوله ښکاره شوه. نو هغه وخت چې مارتها هلته په خونه کې دننه دخپلې لور مارسي سره خبرې کولې اوبيا بيرون را ووتله نوهمغه وخت ابوجعفر او سکندر په خپلو منځو کې دا پريکړه کړې وه. همدا علت و چې دمارتها په دې خبرې چې مارسي له تاسره اوس تلل نه غواړي ، سکندر خفګان و نه ښود .

سکندر دهغه ځآيه د غربي پولو په لور ولاړ او څو مياشتې يې هلته د هونياډې د فوځونو د تياريدو له پاره انتظار و کيښن. خو کله چې په ۱۳۴۳ کال ترکي فوځونو د هونياډې په مقابل کې ماتې وخوړه ، فريدبيګ د شل زره نورو کسانو سره په کې شهيد کړل شو نو سکندر هم په خپل آس سپور شو د غربي پولو په لور ولاړ ، په دې وخت کې دهغه سره يواځې يوه ساتونکې ډله وه. سکندر په ډيره ګړندۍ توګه سفر کاوه. هڅه يې کوله چې په پټو لارو باندې ولاړشي ، هغه د سلطاني لښکر د قرارګاه پورې راغې خو دې قرارګاه ته د رارسيدو دمخه يې څو کوسه لرې دمه وکړه او د شپې د راتلو انتظار يې وکړ.

نيمايي شپه سکندر دخپلو ملګرو سره يو ځاې دسلطاني لښکر خيمو ته را ورسيد. سکندر خپل ساتونکې دخپله ځانه د يوې کلا په ځير راتاو کړل اوپه خپله د سلطان رئس الافندي « ميرمنشي » خيمې ته ورننوت. ميرمنشي په خواږه خوب ويده و چې سکندر توره يې د ورميږ سره و ښته ، سکندر د خپلې تورې په څوکه باندې ميرمنشي و ټومبه ، ميرمنشي سمدستي راپورته شو ، خو کله يې چې سترګې پرانستې نومرګ يې په سر سپور و . کله چې هغه حالات وکتل نو سکندر ورته تر سترګو شو . په دې وخت کې ورته سکندر وويل:

« رئيس الافندي ! زه تاته حکم کوم چې همدا اوس او همدا ګړۍ د البانيا صوبيدار ته شاهي مکتوب وليکه.... هغه ته وليکه چې سکندر بيګ چې دسلطان له اړخه د وائيسراې په ځير هلته در رسيدلې دې ، ورته د البانيه د دارالسلطنت په ګډون د ټولو سيمو واکمني وروسپاره .»

درئيس الافندي د پښو لاندې زمکه و تښتيده ،هغه دا فکر هم نه شو کولې چې دسلطان روزل شوې غلام به تر دې حده پورې مخته ولاړ شی . هغه ته په خپلو غوږونو يقين نه راته ، په دې خاطر هغه د لږ څه ځنډ نه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخست ، سکندر سمدستي دخپلي توري سر ته لږ څه نور زور هم ورکړ ، په دې وخت کې د رئیس الافندې ساه بنده شوه ، اوسمدستې یې دحکم د تعمیل کولو اشاره وکړه. سکندر یې د غاړې څخه توره لرې کړه.

افندي په لړزان ځان پورته شو او په ډیره بیړه یې سلطاني حکم نامه ولیکله. ددې مکتوب د لیکلو وروسته یې پرې د سلطان مرادخان ثاني مهر ثبت کړ او هغه یې سکندر بیګ ته ورکړ ، سکندر بیګ په یوه لاس مکتوب واخست او په بل لاس یې توره پورته کړه او کمزورې ریس الافندی یې پرې داسې وواهه چې دهغه سر له تنې څخه پرې کړل شو. اوس نو هغه د البانیې د ښار « کروټیه » دترکي صوبیدار په نامه حکم نامه تر لاسه کړې وه. هغه غوښتل دهمدې فرمان په واسطه په البانیه باندې ولکه وکړي.

سکندر خپل کار په پوره بریالیتوب سره تر سره کړ اودخیمې څخه ووت ، دهغه ملګرو په پوره احتیاط سره پهره کوله ، سکندر خپل ساتونکي له ځانه سره واخستل او په پوره بیړه د البانیې په لور ولاړ. هغه د خپل سفر په دریمه ورځ دکروټیه « آق حصار» ته ورسید. سکندر د شاهي فرمان له مخې د ترک صوبیدار څخه د خپل پلار تخت بیرته واخست او ترکي فوځونو ته یې د البانیې څخه د سمدستي وتلو حکم وکړ. په البانیه باندې ولکې کولو وروسته ، بله ورځ هغه په ښار کې اعلان وکړ چې هغه د اسلام دین پرې اینبي اوبیرته عیسوي شوې دې. البانوي خلکو چې دخپل پخواني پادشاه زوي په دومره میړانې سره د سلطنت په ولکه کولو وکوت نو پرې زیات خوشحاله شول. هغوې د سکندر بیګ لاس نور هم ورکلک کړ او دهغه په فوځ کې ډلې ډلې را شامل شول.

سلطان مرادخان ثاني ته دترکي فوځې سالار فریدبیګ د وژلو اوماتې وروسته د خبر هم سخت ټکان ورکړ ، هغه په څو ورځو کې مات رامات شو ، ځکه چې هغه سکندر بیګ په ډیر نازو نعمت کې پاللې و. دسکندربیګ بې وفایی سلطان ته داسې ټکان ورکړ چې هغه یې دناروغتیا له امله د کټ کړ. نن سبا د ابوجعفر په مخ خوشحالۍ هم وې او حیرانتیاوې هم. ځکه دهغه له اړخه تیار کړل شوې سازش بریالیتوب ته رسیدلې و ، سلطان لا تر اوسه پورې ددې ټکانونو څخه را وتلې نه و چې یوبل بد خبر ورته را ورسید. دهغه دسلطنت په اسیایی برخه کې د کوچنۍ اسیا په ښار « قونیا» کې قیصر یو لوې سازش بریا ته رسولې و. د قونیا سردارانو هم دبغاوت بیرغ پورته کړ ، دې کار سلطان دخواږه خوبه را ویښ کړ. دغې دریم بد خبر سلطان د ناروغتیا اومړینې څخه را وویست او نوې ژوند یې ورپه برخه کړ. هغه د یوه سیلۍ اوتوپان په څیر را پورته شو ،خپله توره یې د تیکې څخه را وویسته او نیغ دسلطنت دربار ته ورغې.

اوس نودهغه ذهن پرانستل شوې و ، په شاهي مسند کیناست او دربار یې را وباله..... خاصدارانو منډې ترړې ووهلې او په څو لمحو کې یې د عثماني دربار ټول ستر ستر وزیران ، امران ، رئیسان اوسالاران را ټول کړل. نن د ټولو وګړو په مخونو کې یو ډول تجسس اوپلټنه وه. په دربار کې داسې چپه چپتیا وه چې د ستنې د لویدو اواز

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کې اوريدل کيدې شو . په دې وخت کې سلطان خپله توره په زمکه کې و ټومبله او را پورته شو . او دزمري په ځير و غوريد.

«د سلطنت مشرانو ، وزيرانو ، امرانو او سپاهيانو ..... !

مونږ ته په پرلپسې توګه خراب خبرونه را رسيږي ، لمړی د سربيا پادشاه بغاوت وکړ ، چې مونږ ورته سزا ورکړه .دهغه سره د جنګ په ميدان کې مونږ اويا زره عيسويان بنديان و نيول او هغوې ته مو د نافرمانۍ کولو سزا هم ورکړه . تاسې ټول په دې ښه پوهيږئ چې اوس يوازې په دې درې کالو کې د اروپا ټول عيسويان د هونياډې تر بيرغ او قومندې لاندې سره راټول شوي دي ، هغوې زمونږ يو ولايت ( ټرانسلونيا ) زمونږ څخه تر لاسه کړې دې او زمونږ يو ډير ميړنې اوبهادر جرنيل « فريدبيګ » اودهغه زوې يې د شل زره نورو عسکرو سره يو ځاې شهيدان کړې دي ، عيسايانو يوازې په دې باندې صبر و نه کړ او اوس په هرې ميلمستيا اوميلې کې ترک بندي فوځيان راوړي اوپه ډيره بې دردۍ سره يې وژني . او بيا تاسو ټول په دې پوهيږئ چې د سکندربې وفايي هم يو لړزونکې خبر و . خو دا ياد ساتئ چې سلطان ددې معمولې خبرونو په اوريدو باندې زړه بدې نه دي ، په دې اساس ما پريکړه کړې ده چې ددې بغاوتونو سر په پوره ځواک سره و ځپوم.

پخوا مو په خپلو پريکړو کې لږ څه ځنډ کاوه خو همدا اوس مونږ ته خبر را رسيدلې دې چې په کوچنۍ اسيا کې زمونږ د ښار د « قونيا» سردارانو هم دعثماني سلطنت په مقابل کې د بغاوت بيرغ پورته کړې دې په دې اساس مونږ سمدستي .... په يوه وخت کې ددوو لښکرو د تلوپريکړه کړې ده . لمړی به په اتيا زرو کسو مشتمل فوځ د « شهاب الدين پاشا » تر مشرۍ لاندې داروپا په لور ورځي اودويم لښکر به زما د قومندې لاندې د قونيا په لور حرکت کوي تر څو دهغه ځاې بغاوت و ځپوي اوبيا دهغه ځآيه د کوچنۍ اسيا په لور حرکت وکړي ، په دې اساس ټولو سالارانو ، سپاهيانو او دحکومت نورو مسؤلينو ته حکم کيږي چې همدا اوس ددې دواړو لښکرو د تيارولو له پاره هلې ځلې پيل کړي.»

سلطان ډير په قهر و او دا ټوله وينا يې په پوره جذباتو سره واوروله . هغه خپلې خبرې خلاصې کړې اوبيرته په شاهي مسند باندې کيناست . په دربار کې په مکمله توګه خاموشي خپره و ه . ټول خلک د سلطان ددې ناڅاپي پريکړې څخه حيران شوي و ، ځکه چې دا ډيره ستره پريکړه وه . په يوه وخت د لرې لرې محاذونو له پاره ددوو لښکرو ورليږل څه داسې وړه خبره نه وه .

تر لږه وخته پورې په دربار کې خاموشي خپره وه . بيا د سلطنت يو وزير را پورته شو او په پوره ادب سره يې وويل: « د معظم سلطان پريکړه په يقيني توګه په پوره درائيت باندې ولاړه ده .خو که چيرې معظم سلطان لمړی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هونیاږي دبغاوت د ځپلو او بیا د کوچنۍ اسیا د بغاوت د ځپلو له پاره توجه وکړي نو شونې ده چې په دې توګه به دواړه محاذونه په اسانۍ سره فتحه شی.»

وزیر په داسې حال کې دا سلا ورکوله چې ټول وجود یې لړزیده. سلطان دهغه د سلا په اوریدو باندې وخندل او په نرمه لهجه یې وویل: « مونږ به همداسې کوو. د شهاب الدین پاشا لښکر به لا تر هغه وخته پورې خپلې لیکې نه وې جوړې کړې چې مونږ به د قونیا د بغاوت دځپلو څخه فارغه شو او دهغوې سره به یو ځای شو.»

د سلطنت وزیر د سلطان د ځواب په اوریدو سره ډاډمن شو ، اوس نو د سلطان دځیرې څخه سختې لرې شوې وه. او په دربار کې ناستو خلکو د اوسنیو تازه حالاتو په اړه یو دبل سره په خبرو لګیا شول. په همدې وخت کې د سلطان دځانګړي فوځ ینې چري سپه سالار را مخته شو او په ډیر آدب سره یې سلطان ته وویل: « معظم سلطانه !.... ما ته څه حکم دې ؟»

سلطان ورته ځواب ورکړ چې:

« ته به هم د شهاب الدین پاشا تر بیرغ لاندې دهغه سره د اروپا په لور خوزیږې ، له ماسره به د ینې چري پنځه زره کسان هغه لورې ته ځي. او پاته به ددې نور فوځ څخه وي.»

کله چې سلطان خپله خبره پوره کړه نو سپه سالار بیا وویل :

دمعظم سلطان سره د ینی چري کوم پنځه زره کسان هغه لورې ته ځي ؟

سلطان تر لږه وخته پورې فکر وکړ او بیا یې یو نا څاپه ټکان وخوړ او حکم یې وکړ « هغه عرب ځوان چیرې دې چې د میلې په ورځ یې سکندربیګ ته ماتې ورکړې وه ،هغه سمدستې را وغواړئ او زما سره دتللو له پاره یې تیار کړئ.»

د ینې چري سالار دحکم دتعمیل له پاره سر ټیټ کړ او شاته ولاړ. ددې وروسته تر څو ساعتو پورې د فوځونو د لیږلو په اړه خبرې کیدې ،په همدې وخت کې قاسم بن هشام هم را و غوښتل شو. کله چې قاسم دسلطان مخې ته راغې نو دسلطان توجه دهمغه لورې ته شوه ، سلطان قاسم خپل ځان ته راوباله او ورته یې وویل چې:

قاسم بن هشام ! ته به زمونږ سره بله ورځ سهار وختې د قونیا په لور سفر کوې ،که چیرې ته په دې لړ کې څه ویل غواړې او یا دکوم شي له پاره اړتیا ولرې نو پرته له ځنډه یې ویلې شې»

قاسم په ډیر ادب سره دسلطان خبره واوریده او بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درونده سلطانه ! ستا تر سیورې لاندې ماته د هیڅ شي اړتیا نه شته. ستا په رکاب کې ماته جهاد کول به زما د ژوندانه تر ټولو ستره نیک بختي وي. ته به بله ورځ سهار وختي د ټول لښکر څخه مخکې ماهلته بیا مومې.... البته...»

قاسم غوښتل څه ووايي خو يوناڅاپه يې خوله و نيوله. هغه د لمړي ځل له پاره د کوم سلطان دربار ته راغلې و ، همدا علت و چې د هغه الفاظ په ژبه باندې نه راتلل. خو سلطان ورته سمدستي وويل:

هو ، هو ! ووايه ، تا څه ويل غوښتل ؟

قاسم په غټه ژبه ورته وويل:

درونده سلطانه ! زه غواړم يوه ډيره عاجزانه مشوره درکړم. معظم سلطان غواړي خپل يو لښکر د شهاب الدين په مشرۍ د اروپا په لور وليږي اوپخپله غواړي چې د کوچنۍ اسيا په لور وخوزيږي ، خو زه انديښمن يم چې د «اورنه» داسې پريښوول به په دې سيمه کې د قسطنطنيې د قيصر له پاره د خپلو جاسوسيو د تارونو د غزولو له پاره فرصت برابر کړي ، زه دا احساسوم چې په اورنه کې يو شمير پټ لاسونه د معظم سلطان د سلطنت په خلاف په سازشونو کې ککړ دي. اودا همغه لاسونه دي چې سکندريې بغاوت ته اړ کړې دي.»

سلطان د قاسم په خبرو باندې ټکان وخوړ دهغه په سترګو کې د خونړي زمري دسترګو په څير نښې راپيدا شوې ، په خپلې ګدۍ کيناست او سترګې يې په قاسم کې ور ښخې کړې. او دکومې مهمې خبرې د کولو په فکر کې شو ، د لږ څه ځنډ وروسته سلطان وويل:

« قاسم بن هشامه ! زه ستا ددې آند ډير درنښت کوم دلته زمونږ پخوانې ډير پوه او تجربه لرونکې ملګري هم شتون لري خو تا دهغوي ټولو څخه خپلې سترګې ډيرې پرانستې دې. مونږ همدا اوس اوس پريکړه کړې ده چې مونږ به تا د خپله ځانه سره قونياته نه بوځو. بلکه مونږه ته دلته په اورنه کې د شاهي سلطنت د څارګرې اداري مشر و ټاکلې....مونږ پخپله هم په دې شک کې وو چې دسکندر بيګ تر شا د قسطنطنيې د قيصر لاس دې ،خو مونږ دې لورې ته توجه نه وه کړې چې په اورنه کې په کوم سازش باندې هم څارنه وکړو. مونږ له تا څخه ډيره زيات خوشحاله يو او دحکومت ټولو مسؤلينو ته حکم کوو چې د اړتياو په وخت کې له تاسره پوره پوره مرسته وکړي.»

د قاسم له پاره دسلطان دا پريکړه د هيلو پر خلاف وه. په همغه لمړۍ ورځ پنځه زره کسيز فوځ دسالار په څير د قاسم ټاکل هم هغه ته دحيرانتيا وړ وو. قاسم لږ څه فکر وکړ..... پادشاهان همداسې وي ، چې په هر وخت کې د توقع اوهيلو پر خلاف پريکړې کوي. اوس نو دقاسم سره سلطان ته د ويلو له پاره نور څه نه و. قاسم د حکم سره سم خپل سر ټيټ کړ نو سلطان ورته يو ځل بيا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته به له ماسره ددربار دخلکو د تللو وروسته ځانته ويني..... مونږ غواړو چې له تا سره څه ډيرې اړينې خبرې وکړو .» قاسم يوځل بيا خپل سر د تعظيم له پاره ښکته کړاو شاته ولاړ.

کله چې درباريان ولاړل نو ددربار خاص دربان قاسم د سلطان د قصر تر دروازې پورې وروست. دلته خاص خادمې قاسم له ځانه سره يو ړ او دسلطان د اوسيدو د ځاې په لور ورسره ولاړه. دا د « يلدرم قصر » وو. ددې ځاې ټوله لاره د شيشيي تيږو په واسطه ښايسته کړل شوې وه. په شاهي ګلستان کې رنګ رنګ فوارې نصب کړل شوې وې، قاسم خاص ديوان ته ورننوت. مخامخ ورته په شاهي کاليوکې ملبوس يو ښايسته شکله ځوان ولاړو. دا ځوان شهزاده محمد نوميده. دمعظم سلطان دويم زوې. د سلطان د ستر زوې نوم شهزاده «علاؤالدين » و. شهزاده محمد په خندانه توګه د قاسم استقبال وکړ. په دې وخت کې خاص خادمه يوې لورې ته ودريده. شهزاده محمد د قاسم سره په ډيره مينه ورغاړيوت. اوبيا يې په خندا خندا کې وويل:

« د ميلې په ورځ مې ستا د تورې وهلو فن ډير زيات خوښ شو. اودهمغې ورځې راهيسى مې غوښتل چې له تاسره ووينم. خو کله مې چې نن ستا د راتلو په اړه واوريدل نو ستا د ليدلو له پاره راغلم.... خو د معظم سلطان سره دکتلو وروسته يوځل هرومرو له ماسره هم ووينه. زه به په همغه ځانګړې خونه کې ستا سر د ليدلو منتظر اوسم.»

قاسم ته شهزاده محمد ډير ښه انسان ښکاره شو. ژمنه يې ورسره وکړه چې دبيرته راستنيدو په وخت کې به ورسره هرو مرو ويني. بيا قاسم د همغې خادمې په لار ښوونه د سلطان مرادخان ثاني تر مخه حاضر شو. سلطان قاسم دمينې اوشفقت له مخې د خپله ځانه سره کيناوه. او خپلې خاص خادمې ته يې د قاسم د خدمت کولو له پاره حکم وکړ. دا د سلطان دليدلو کتلو ځانګړې خونه وه. په خونه کې څلورو خواو ته تکيه لرونکې ګدۍ ايښول شوې وې. په ديوالونو يې د عثماني سلطنت د خطاطانو او انځورګرانو ډير ښه انځورنه او ليکنې موجودې وې. په چت کې يو قرمزي فانوس را ځړول شوې دې، دکمرې په فرش باندې ديونان څخه راوړل شوې سره تيږه يا « سنګ احمر» څليده، او دکړکيو رنګينه پردې را ځوړندې شوې وې. سلطان د قاسم څخه خپله لمړۍ پوښتنه وکړه :

« تاته څه ډول معلومه شوه چې د اورنه په قصر کې جاسوسان فعاله دي ؟»

درونده سلطانه ! زه کالونې د تلو په لاره کې ديوې اجنبى پيغلې په واسطه تم کړل شوم. هغې خپل نوم او ادرس د ښوولو نه ډډه وکړه خو دا يې راته وويل چې سکندر بيګ د معظم سلطان پر خلاف د بغاوت کولو اراده لري.ما ددې پيغلې څخه په دې اړه د نورو معلوماتو اوهم دهغې دنوم او ادرس په اړه وپوښتل خو پيغله د سترګو په رپ کې په خپله بګۍ کې کيناسته او ترى تم شوه....څرنګه چې سکندر ستا ډير نژدې زوې ګڼل کيده ، نو په دې خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دهغې پیغلې خبره درواغ و ګڼله او هسې مې پرېښوده» قاسم پخپل دغه ناوړه عمل باندې د شرم احساس وکړ او دا خبرې یې وکړې.

دسلطان سترګې د حیرانتیا څخه وازې پاته شوې وې ، په ډېره بې صبرۍ سره یې د قاسم څخه وپوښتل «دا د څه وخت خبره ده ؟دسکندر د تلو څخه د مخه او یا دهغې وروست ؟»

« دسکندر د تلو وروسته خبره ده»

هو !....سلطان د قاسم دخبرې د اورېدو وروسته په تفهیمي توګه وویل چې:« ددې نه ډاګیزه شوه چې سکندر بیګ د پخوا څخه غدار و . اودا هم ډاډمنه شوه چې دلته په اورنه کې هم دقیصر جاسوسان شتون لري..... ډېر ښه ددې نه علاوه تاته په دې اړه نور څه معلوم هم شته ؟»

قاسم ورته په نازړه توګه ځواب ورکړ: « ددې نه علاوه زه د یني چرې په څو کسو سالارانو باندې هم شکمن یم. زه یې څارم او وینم چې هغوې د باغیانه فکر خاوندان دي. او څو نور شخصیتونه هم زما له آنده مشکوک دي.... خو تر اوسه پورې مې دهغوې په اړه شواهد نه دې تر لاسه کړی، اوس چې تاسې ماته دا مسؤلیت را سپارلې دې نوزه به انشاء الله د سر په قیمت باندې ددې ټولو سازشونو جرړې راسپړم»

« ډېر ښه ! مونږ له تاڅخه همداسې هیله لرو . زه غواړم چې دقونیا څخه زما دراستنیدو وروسته به ته مونږ ته دلته په اورنه کې د جاسوسانو د نیولو زیرې راکړې. پخوا خو ما د قونیې څخه د اروپا په لور د تللو اراده درلوده خو اوس مې پرېکړه کړې ده چې مونږ به یو ځل دقونیه څخه بیرته دلته اورنه ته راستنیږو او غدارانو ته به عبرتناکه سزا ورکوو . مونږ ستا سره د بسپنې له پاره دخپلې څارګرې ادارې مشر بهران هم ټاکو او د ښار کوتوال ته هم په دې اړه ضروری هدایات ورکوو .»

قاسم د لږ څه فکر کولو وروسته سلطان ته وویل:

« دروندده سلطانه !.... تا خو زه د ټول دربار تر مخه د شاهي څارګرې ادارې مشر و ټاکلم، ددې کار څخه خو به دلته په اورنه کې مشغول جاسوسان ټول خبر شی او په خپلو فعالیتونو کې به محتاط شي. زه غواړم چې تاسې بهرام خان او دښار کوتوال ته زما په اړه هدایات ور نه کړئ، ځکه زه غواړم چې خپل دښمنان په بې خبرۍ کې را ګیر کړم ».

سلطان مراد خان ثانی یو فقیر مزاجه انسان او یو ډېر غښتلې او میړې عسکر و . هغه ته د قیصر په څیر ددغسې سازشونو چل نه ورته. خو دسلطنت علماء اوپوهان د سلطانې بصیرت اوتدبیر څخه خبرو. غالبان سلطان دخپل دور اندیشۍ له مخې غوښتل چې بهرام او ښار کوتوال په دې کار باندې خبر کړي خو قاسم هغه ددې کاره منه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د قاسم مشوره و منله. د دې وروسته قاسم او سلطان دواړه تر ډېره وخته پورې د غدارانو او جاسوسانو په اړه په خبرو اترو کې مشغول پاته شول ، د ډېره وخته وروسته کله چې قاسم د سلطان د دربار ه راووت نو شهزاده محمد ورته هلته په خپله خونه کې منتظر ناست و . هغه د قاسم د کتلو سره سم د هغه د ښه راغلاست له پاره راپورته شو او قاسم يې له لاسه و نيو او د خپل ځان سره په نږدې ګدۍ يې کيناوه.

درونده قاسم بن هشامه ! دهغې ورځې دمقابلې په جريان کې که چيرې زمونږ د وينځې لور په وخت په تاباندې غږ نه و کړې نو سکندربه ستا سر له تنې پرې کړې و .»

د شهزاده محمد د خبرې په اوريدو سره قاسم دحيرانتيا څخه ټوپ شانته کړ.

« وينځه ، کومه وينځه ، او دهغې کومه لور ؟... زه خو ، درونده شهزاده ، ستا په خبره و نه ورسيدم»

شهزاده د قاسم دخبرو په اوريدو مسکې شو او بيا يې وويل.« ايا تاته در په ياد نه دي چې دمقابلې په وخت کې کله چې ته د مصنفينو تر څنګ ولاړ وې او د تماشاچيانو په لور دې کتل نوستا تر شا سکندر پر تا باندې ډير خطرناکه ګذار وکړ ، په همغه وخت کې ستا د خبرولو له پاره چې کوم چا غږ پورته کړ هغه دسکندر دالبانوي وينځې لور «مارسي» وه.»

قاسم د حيرانتيا په سمندر کې غوټې وهلې ، بيا يې لږ څه په سادګۍ سره وويل

« اواز خو نه و ،البته ما يوه چيغه واوريده ، خو زه پوه نه شوم چې دا چيغه د کومه ځايه راغله»

« اوس نو شهزاده محمد مسکې و اويو ځل بيا يې وويل: « هو ! ښاغليه. هغه د مارسی چيغه وه..... خير دا خبره به پريږدو ، ... مونږ دڅه له پاره دلته ناست يو او څه خبرې مو را وسپړلې ....اوريدلې مې دې چې ته يې دشاهي څارګرې ادارې مشر و ټاکلې. درونده وروره ! دخداې له پاره ، زما له پاره هم يودوه رازونه هم را بربنډ کړه .» شهزاده ذومعنې جمله استعمال کړې وه. دواړه پرې دزړه داخلاصه وخندل. خو د قاسم ذهن په پرلپسې توګه په همغې چيغې کې راګير و . او تر اوسه يې فکر کاوه چې دې پيغلې په ډېر نازکه وخت کې دهغه ژوند خوندي ساتلې دې اوپر دې يې ډير احسان کړې دې. په دې سوچ اوفکرکې شو چې څه ډول دهغې کنيزې لور ته ځان ورسوي او دهغې ددې احسان په اړه ترې خپل ممنونيت څرګند کړي.

په کوم خيال کې ډوب قاسم دشهزاده محمد څخه وپوښتل « محترم شهزاده !.... حق خو دادې چې زه ددې پيغلې شکريه ادا کړم. خو نه پوهيږم چې هغه به چيرې پيدا کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم په ذهن کې څه نور خیالات هم را څرخیدل ، داسې معلومیده چې دهغې په وجود کې ځارګرې را نغاړل شوې وه. او که نه په دې توګه ، په خپلې لمړنۍ لیدنه کې به یې د یوه شهزاده سره ددومره بې تکلفه خبرو کولو هڅه نه وې کړې. شهزاده محمد د قاسم خبرې واوریدې او په زوره یې وخندل.

« ډیر ښه !..... په دې څو لمحو کې خبره تر دې ځایه راورسیده. هسې نه چې زمونږ دځارګرۍ مشر په غیب کې عاشق شوی وي.» نوې ځوان شهزاده ! خپله خبره کلکه کړه ، خو قاسم ورته وویل چې:

« نه درونده شهزاده ! داسې کومه خبره نه شته..... ما هسې په اخلاقي توګه دا خبره کوله ،ځکه چې هغې پیغلې زما ژوند خوندي کړې دې.»

شهزاده محمد یو ځل بیا مسکې شو « درونده وروره !.... ستا اخلاق په خپل ځای د قدر وړ دي. خو یاد ساته چې ته یو مسلمان یې او هغه د یوې عیسایې مور عیسوي لورده.»

د قاسم له پاره دا خبره حیرانونکې وه ،هغه په خپل تقدیر باندې رشک کاوه چې د ځارګرۍ دپیل سره سم ورته تر ټولو لمړۍ اطلاع ورکړل شوه. دهغه ذهن دیوې عیسوي پیغلې په پیدا کیدو کې مشغول شو ، چې د میلې په ورځ یې دقاسم ژوند خوندي کړې و . اودا پیغله د البانوي سکندر د کنیزې لور وه . داخوریښتیا ډیره عجیبه پیښه وه. ددې په خبریدو سره د قاسم ویښتان زیږه شول ، هغه په بې صبرۍ سره خبره وکړه او ویې ویل:

« خو درونده شهزاده ! ماته خو ددې پیغلې دځای په اړه معلومات هم راکړه. تر څو زه دهغې د ممنونیت د ادا کولو له پاره هغې لورې ته ورشم.»

« ډیره ښه ! ....سبحان الله....... داسې معلومیږي چې زمونږ د پنځه زره کسیز فوځ سالار او د ځارګرې ادارې مشر قاسم بن هشام د یوې عیسوي پیغلې د مینې او محبت په زلفو کې را ګیر کړل شو.»

شهزاده محمد په کړس کړس خندل او قاسم بن هشام هم ورسره دخنداکولو ټوکیزه ډرامه کوله . شهزاده محمد ورته بیا وویل.

« سهي ده ، زه به تاته د مارسي ځای ځیږې وښایم. خو په یوه شرط. لمړۍ هغه شرط پوره کړه.»

قاسم ورته سمدستي وویل « بې شکه...... امر وکړئ ، څه ډول شرط ؟»

شهزاده محمد ورته په خندا کې وویل :« زما شرط دادې چې ته به له ماسره ددوستۍ کولو ژمنه کوې ....ته به له ماسره ژمنه کوې چې ته به زما سره ښکار ته هم وځې. او زما سره دکتلو له پاره به دلته سلطاني قصر ته هم تشریف راوړې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم ددې خبرو په اوريدو سره د ډاډ ساه واخسته. « ستا سره دوستي ؟... دومره د ښه نصيب خاوند ! ماته ستا ټول شرطونه منظور دي.»

دقاسم دخبرو سره سم دواړو په زوره زوره و خندل ، قاسم ددې نوې ځوان شهزاده سره لاس ورکړ او ورته يې وويل: « سهي ده ! درونده شهزاده . اوس راته ووايه چې د سکندربيگ د البانوي کنيزي لور مارسي چيرې اوسيږي ؟ »

شهزاده محمد قاسم ته دهغې درک ورکړ او ورته يې وويل چې د شاهي محل شاته کالونۍ کې د البانوي کنيزې مارتها کور دې. اوس نو د قاسم له پاره د شهزاده سره نور پاته کيدل شوني نه و. هغه ته دخپل مشن لمړۍ سراغ په لاس ورغلې و. همغه و چې دلږڅه ځنډ وروسته يې د اجازې د اخستلو غوښتنه وکړه ، نوې ځوان شهزاده هغه ته اجازه ورکړه او ورسره د خاص ديوان تر دروازې پورې راغې اوهلته يې پريښود ، او کله چې قاسم دهغه ځايه ولاړ نوشهزاده يوه ډيره عجيبه خبره وکړه:

دوسته ! مونږ په دې ښه پوهيږو چې ته د البانوي کنيزې کور ته د شکريه د ادا کولو په ځاې دسکندربيگ د سازش جرړې راسپړې ، خو مونږ به تا و نه ځنډوو .»

قاسم په ساده توگه د شهزاده په لور وکتل او په زړه کې يې دهغه بصيرت ته افرين ووايه. قاسم په دې وپوهيده چې د سلطان مراد خان ثانې په نسبت دهغه زوې « محمد» دډير ښه ذهن اوبصيرت خاوند دې... بيا قاسم شهزاده ته سلام وکړ اومحل څخه راووت.

اوس نو دهغه په ذهن کې دجذبو او احساساتو آسونو ځغاسته کوله. هغه غوښتل چې څومره ژر چې کيدې شی دمارسي سره ووينې ، د وخت په تيريدو سره دهغه يقين پخلنې ته رسيدلې و اوپه دې پوه شوې و چې مارسي همغه پيغله ده چې د زيتون په باغونو کې يې دده سره ليده کاته کړي و. تر اوسه پورې دماښام تيارغونې ته لا وخت و ، ځکه هغه غوښتل چې دشپې په تياره کې د مارتها کور ته ورشي. هماغه و چې دهغه ځاې په لور د تللو په ځاې خپل آس د خپل کور په لور را وگرځاوه. هلته په کور کې يې وورور طاهر هشام موجود و. کورته د راتلو سره سم بې وريرونو مخې ته ور و ځغاستل او په پښو پورې يې ور ونښتل ، اوس نو دهغه وريرونه دهغه سره پوره پوره اشنا شوي و. کله به چې قاسم کور ته راغې نو دهغه سره به يې لوبې کولې ، دهغه مور وپلار هم په اورنه کې د ژوند څخه خوشحاله و. ځکه چې هغوې دلته دخپلو دواړو زامنو ،نگور ، او لمسو سره يو ځاې اوسيدل. دقاسم مور تر اوسه دومره زړه شوې نه وه. هغه يوه نيکه او ديندار ه ښځه وه. همدا علت و چې دهغې دواړه زامن ددينې عقايدو خاوندان و. قاسم هلته په خپله کمره کې دکوچنيانو سره په لوبو کې مشغول و چې طاهر پرې را ننوت.

« اوريدلې مې دي چې ته نن سلطان ور غوښتې وې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته څنګه وپوهیدې ؟ ما خو هیڅ چاته هم نه دي ویلي ؟» قاسم ترې په لږ څه حیرانتیا سره و پوښتل.

« ماته ستادوست دلس زریز فوځ سالار اغا حسن دا خبره وکړه. طاهر ورته په خندا کې وویل ،او بیا د قاسم سره یو ځای په فرش باندې کیناست.

« هو ! سلطان غواړي په یوه وخت کې دوه لښکرې ولیږي ، یو د « هونیاډې» د مقابلې له پاره اروپا ته ، اوبل د « قونیا» په لور د بغاوت دځپلو له پاره . قاسم ورته وویل. « ته یې په کوم لښکر کې شامل کړې یې ؟» « ماته سلطان حکم کړې دې چې همدلته پاته شم او دقیصر د جاسوسانو جرړې را وسپړم. هغه زه د شاهي څارګرې اداري مشر ټاکلې یم.» قاسم ورته لږ څه ټیټ اواز سره وویل. « دا څه خبره ده ، شاهي څارګر، ایا ته اوس د پنځه زریز فوځ سالار نه یې ؟ طاهر ترې په حیرانتیا سره و پوښتل.

قاسم ورته وویل چې « نه ، داسې کومه خبره نه شته ، په حقیقت کې ما پخپله سلطان ته ویلي و چې دلته په اورنه کې د قیصر جاسوسان شتون لري.»

په دې وخت کې قاسم ته یو فکر را پیدا شو او سمدستي یې دخپل ورور څخه وپوښتل: « وروره ! ته د ابوجعفر په اړه څومره معلومات لرې ؟همغه ابوجعفر چې یو ځل دلته زمونږ کور ته راغلې و.»

طاهر په حیرانتیا سره د قاسم په لور وکتل ، او د لږ څه فکر کولو وروسته یې په ټیټ اواز سره وویل چې « زه خو دهغې په اړه همدومره پوهیږم چې هغه د « بغدادي دروازې » د جومات اما م اوخطیب دې. خو ماته دهغه ځآیه دومره معلومات هم تر لاسه شوې چې دهغه اړیکې ان د شاهي دربار پورې غځیدلې دي. دطاهر د خبرو په اوریدو سره قاسم په دې منځ کې را ټوپ کړ.

« نه ، ایا ته په دې پوهیږې چې هغه «اورنه» ته له کومه ځایه راغلې دې ؟دهغه څلور خواوې څه دي ؟ اودا چې ایا په اورنه کې دهغه کوم خپلوان هم شته او که نه ؟»

طاهر لږ څه فکر کې پریوت. اوس نو دهغه په تندې د فکرونو ګونجې را پیدا شوې وې ، د څو ثانیو د خاموشۍ وروسته یې وویل: « تر هغې چې ماته معلومه ده ، په اورنه کې ابوجعفر هیڅ خپلوان نه لري. دا سړې دعربو اوسیدونکې دې او دڅو کالو راهیسې دلته په اورنه کې مقیم شوې دې.»

ددې ډاګیزه کیدو نه وروسته چې ابوجعفر دلته په اورنه کې کوم خپل خپلوان نه لري د قاسم سترګې را وځلیدې. هغه نیغ کیناست. اوطاهر ته یې وویل: « ورور جانه ! تا کله هم ابوجعفر ته په غورسره کتلي دي ،... ته یې په یاد راوړه ، هغه به هرو مرو د عربو په څیر سور ښښن اودښه روغتیا خاوند وي ، خو دهغه سترګې دعربو سره هیڅ مشابهت نه لري ، دهغه د سترګو شینوالي د لاطینې ولسونو په څیر دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم دخبرو په اوريدو سره طاهر مسکې شو « او هو وروره ! ته خوربښتيا هم جاسوس شوې يې.... دومره لرې لرې تارونه سره را يوځاې کوې.... تاته به هسې وهم وګمان را پيدا شوې وي ، ابوجعفر د تيرو شلو کالو راهيسې دلته اوسيږي ، تر نن ورځې پورې پرې هيڅ شک نه دې کړې ، ...او اوس ته يې چې هغه د عرب په څير هم نه منې ..... حال دا چې هغه ډيره ښه عربي وايي.»

قاسم دخپل ورور خبره واوريده خو خاموشه پاته شو . ځکه دهغه دماغ بل کوم ځاې کې و . کله چې طاهر قاسم په خلا کې په فکرونو کې ډوب وکوت ورته يې وويل:

« راځه ، اوس دې دا سراغ رساني او څارګري پريږده ، را ځه چې ډوډۍ تياره ده !»

قاسم په دسترخوان باندې دکيناستو نه وروسته هم همغسې خاموشه پاته شو . د هغه وخته چې سلطان ورته څارګري سپارلې وه ، نو دهغه دماغ ډير فعاله شوې و . اوس هم هغه د قسطنطنيې دقيصر او ابوجعفر په فکر کې ډوب و . هغه ته دا محسوسيده چې هغه مسؤليتونه چې ورسپارل شوي دي دهغه د ترسره کولو له پاره اړينه ده چې هغه ته د قسطنطنيې د قيصر په اړه پوره معلومات تر لاسه شي. هغه دهمدې فکرونو په ژورتيا کې دخپل ورور څخه يو ځل بيا وپوښتل.

« ورور جانه ! د قسطنطين په اړه دا مشهوره ده چې هغه د جنګ په ځاې دښمن د سازشونو له لارې له منځه وړي ، .... ايا دا خبره ريښتيا ده ؟»

طاهر د قاسم خبره په پوره دلچسپۍ سره واوريدله . او ويې ويل « دا ريښتيا دي ..... قيصر د زمکې لاندې سازشونو کې يو نوم لري..... زمونږ دسلطان نيکه « سلطان بايزيد يلدرم» او د اسياد مشهور فاتحَ«امير تيمور» تر منځ د اسلامي تاريخ تر ټولو رسوا کونکې جنګونه په حقيقت کې دهمدې قيصر د پټوسازشونو پايلې وې. ما د تربيت ځآې په کتابتون کې دهغې مکتوب نقل وکوت چې قيصر دبايزيد يلدرم پر خلاف امير تيمور ته ليکلې و . هغه په کې ليکلې و چې.....

«زما سلطنت تر ټولو زوړ دې ، دسيدنا محمد صلی الله عليه وسلم او د اصحابو کرامو په وخت کې هم زمونږ سلطنت په قسطنطنيه کې موجود و . دهغې وروسته د بنواميه او بنو عباس په وختو کې هم دخلفاو سره مونږ بيا بيا سولې کړې دي ، ددوې څخه يې هيڅ يو هم د قسطنطنيې د نيولو هڅې نه دی کړې.

خو اوس عثماني سلطان زمونږ په ډيرو سيمو باندې ولکه کړې ده ،او غواړي زمونږ دارالسلطنت قسطنطنيه هم تر غاښو لاندې کړي . دهمدې حالاتو په اساس مونږ مجبور شو چې له تاڅخه بسپنه وغواړو ، او دا څرګنده ده چې ستا نه پرته مونږ دبل چا څخه دا سې غوښتنه هم نه کوو . که چيرې ته د بايزيد يلدرم دمسلمانيدو او زمونږ د عيسايت په اړه فکر کوې نو تا ته دې دا ډاګيزه وي چې بايزيد يلدرم دلته په اروپا کې په پرلپسې توګه فتوحات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او په ځواکمنې کی یې ورځ په ورځ ډیرښت راځي ، داسې معلومیږی چې هغه به ددې لورې څخه ډیر ژر ځان بیغمه کړي اوستا په ولکه شوو سیموباندې به یرغل دروړي اوبیا به تاته دا ستونزمنه وي چې دهغه مقابله وکړای شئ. بایزید خان «سلطان احمد جلائر» او «قراء یوسف ترکمان» چې له تا څخه را تښتیدلي و دخپل ځان سره د عزتمندو میلمنو په توګه ساتلي دي. او دا دواړه باغیان ستا پر خلاف د جنګ کولو له پاره هڅوي ، تا ته به داخبره د بې عزتۍ نه کمه نه وي چې ستا باغیان د سلطان بایزید یلدرم سره دمیلمنو په څیر واوسیږي او ته یې دهغه څخه بیرته و نه غوښتې شې. نو اوس خو ډیره مناسبه داده چې ته په کوچنۍ اسیا باندې حمله وکړې ، ځکه دا هیواد باید په طبیعې توګه ستا تر ولکې لاندې اوسي......

او قاسمه ! امیر تیمور دومره ستر پادشاه و خو بیا هم دقیصر د چال لاندې راغې. دقیصر دې لیک په اسلامي نړۍ کې د باروتو کار و کړ ، او ددوو مسلمانو پادشاهانو تر منځ د «انګورې» په سیمه کې داسې خونړۍ جګړه و شوه چې دجنګ په ډګر کې دمسلمانان خپل منځې عامې وژنې باندې اسمان هم و ژړل. په هغه جنګ کې تیمور بایزید ته سخته ماتې ورکړه...... او سلطان بایزید یې د اوسپنو په بنجره کې بند کړ او کوڅه په کوڅه یې و ګرځاوه او رسوا یې کړ.

قیصر دتل له پاره دهمداسې لویدلو لارو کار اخلي ، کله چې کمزورې شي نوبیا د مسلمانانو لاندې خپلې ریښې ځغلوي ، خو کله چې لږ څه فرصت هم تر لاسه کوي نو بیا د هیڅ لویدلي حرکت څخه هم ځان نه سمپوی. تاته به ډاګیزه شوي نه وي چې د «سلطان مراد خان اول» څخه د ویریدو په خاطر ، قیصر درې ډیرې ښایسته او حسینې پیغلې لمرې مراد خان ته ورکړې ، یوه پخپله دهغه له پاره اودوه دهغه د زامنو له پاره. خو دهغې سره سره بیا هم قیصر د سلطان اول په خلاف په سازشونو کې را ننښتې و. په ۷۸۲ هجري کال کې د قسطنطنیې قیصر «پلیولوګس» لمرۍ د سلطان پر خلاف ډیر ناوړه سازش جوړ کړ او بیا چې کله د سلطان د غضب څخه وویرید نو دخپل زوې «تهیوډورس» یې د سلطان دربار ته راولیږه اودهغه څخه یې وغوښتل چې هغه ته هم دینې چرې په فوځ کې د ورداخلیدو عزت ورو ښبې.

قیصر دمسلمانانو پادشاهانو محلونو ته دخپلو لوڼو او خویندو د ورلیږلو څخه هم کار اخست. دعثماني سلاطینو په محلونو کې به هم دقیصر شهزادګانې هرو خت په خطرناکو سازشونو کې ککړې وې.»

طاهر ، قاسم ته د قیصر په اړه په پوره تفصیل سره خپله خبره وکړه. او دا دهغه کار و چې داسې پیښې په همداسې تفصیل سره ولولي او بیا یې بیان کړي. ځکه هغه یو تجربه لرونکې معلم و. قاسم د خپل ورور په خبرو کې داسې ډوب شوې و چې د وخت دتیریدو احساس یې هم نه و کړې. هغه یو ناڅاپه متوجه شو چې هغه خو دمارسي سره کتل غواړی په دې اساس یې دندې ته په دلچسپې باندې غوره والې ورکړ او دمارسي د کور په لور یې د تللو پریکړه وکړه. د ډوډۍ خوړلو وروسته یې لاس پریمنځه او بیا را پورته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر چې قاسم را پورته کيدونکې وکوت نوترې ويې پوښتل:« څه خبره ده ؟ ايا ته چيرې ځې ؟»

« هو ! زما تګ ډير ضروري دې. تا چې د معلوماتو لړۍ په کوم ځاې کې پرې ايښې ده ، دهمغه ځآيه وروسته به يې زه د اوريدو تمنا لرم. ستا خبرې ډيرې په زړه پورې او هر اړخيزه دي. اوس زه ستاسې څخه اجازه اخستل غواړم»

دډوډۍ دخوراک وروسته کوچنيان دخوبه ډک و ، هغوې دخوب خونو ته ولاړل. قاسم خپل آس را پرانيست او د کوره بيرون ووت. شپه شوې وه. هوا هم لږ څه يخيدو ته روانه وه ، په اسمان کې ستورې ځليدل ، دقاسم آسپ هم د «اورنه» په کوڅو کې په ګرزيدو باندې مصروف و. هغه بيړه نه کوله. هغه غوښتل چې ډير وخت داسې تير کړي ، ديخنۍ د راتلو وخت و او خزان په پوره عروج کې و. د «اورنه» بازار بند شوې و خو په کوڅو کې يو يو کس خوزيده ، دقاسم آسپ هم د ګرزيدو وروسته دمحل شاتنۍ برخې ته ولاړ. دلته دوه دوه او درې درې منزله عمارتونه و ، دلته دښار اشراف ، امران ، رئيسان او وزيران اوسيدل ، تر څنګ يې د سالارانو او بيروني هيوادو د سفيرانو کورونه هم و. قاسم د شهزاده محمد له اړخه د ورښوول شوي کور په لټه کې و ، هغه په يوه کوڅه کې ور ګرزيد او خپله ښبه يې و موندله. په څو لمحو کې دمارسي دکور تر مخه ودريد. لاس يې ور مخته کړ او د دروازې زنځير يې و ټنګاوه. او بيا يې د کوم کس د راتلو انتظار پيل کړ. څو لمحې وروسته د دننه څخه د دروازې دپرانستلو اواز راغې ددې سره دقاسم تجسس نور هم زيات شو ، دروازه پرانستل شوه او يوه عمر تيرې ښځه ترې را بيرون شوه. قاسم سمدستي يو دوه قدمه ورمخته شو او دهغې زړې خادمې تر مخه ودريد او ورته يې وويل:

«درنې ! زه غواړم د محترمې مارسي سره ووينم.»

قاسم په نازړه توګه دمارسي نوم واخست. خادمې هم ورته په حيرانتيا سره وکتل ، اوس نو هغه په مکمله توګه د دروازې څخه بيرون راوتلې وه.

مارسي ؟؟..... درونده ! تا ماته څه وويل ؟ زه خو پوه نه شوم ؟

« زه غواړم دمارسي سره ووينم. قاسم ورته خپله خبره راغبرګه کړه ، اوس نودغې ښځې په پوره دقت سره قاسم ته کتل.

« ستا نوم ؟..... تر څو زه يې مارسي ته ووايم» خادمې ترې په استفهاميه توګه و پوښتل.

« بس ته هغې ته همدومره ووايه چې د شهزاده محمد يو دوست راغلې دې» قاسم خپله پيژنه همداسې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د زاړه عمر خادمې د يو څو لمحو له پاره فکر وکړ ، بيا کورته ورننوته او دروازه يې په ځان پسې بنده کړه ، قاسم د حيرانتيا په نړۍ کې ولاړو. تر اوسه هغه نه و پوهيدلې چې څه پيښيږي ، چې په دې وخت کې دغه عمر خوړلې خادمې يو ځل بيا دروازه پرانسته ، په دې وخت کې د دې خادمې سره يوه بله معززه ښځه هم مل وه. دا پخپله مارتها وه. مارتها د قاسم د سلام د ځواب د ويلو وروسته هغه ته د را ننوتلو وويل. او پخپله دهغې نه مخته مخته روانه شوه. کورته د ورننوتلو په وخت کې قاسم وکتل چې دمارتها تر څنګ يو حبشي غلام هم په پوره ورتيا سره روان دې او ورسره دوه سرې توره يې هم له تيکې راويستلې ده.

قاسم په پوره بې پروايي سره د مارتها ميلمستون ته ورننوت. په ميلمستون کې ډيره ښه سامانونه ځاې په ځاې شوې و. په دې سالون کې دمسلمانانو د رواياتو پر خلاف د لرګي چوکۍ پرتې وې ، په مخامخ ديوال باندې د عيسې عليه السلام مجسمه (صليب) را ځوړنده شوې وه. مارتها د قاسم سره دکيناستو په ځاې ولاړه پاته شوه اودقاسم څخه يې و پوښتل « درونده ځوانه ! ايا ته ماته ويلې شې چې ته ولې زما دلور مارسي سره کتل غواړې ؟» دهغې په لهجې کې لږ څه درونده والې و.

قاسم دشرم نه سر ټيټ کړ اوويې ويل « زه دمحترمې مارسي څخه ممنونيت کول غواړم..... ځکه چې هغې زما ژوند خوندي کړ او پر مايي ډير احسان وکړ.»

دقاسم دځواب سره د مارتها په تندی ګونجې را پيدا شوې او ويې ويل:

« ځان ؟....مارسي ستا ژوند خوندي ساتلې ؟.... کله ؟ څه ډول ؟ په کوم ځاې کې ؟» دمارتها په لهجې کې حيرانتيا وه.

قاسم ورته په خندانه توګه ځواب ورکړ « په اصل کې ما د سکندربيګ سره دتورې وهلو مقابله درلوده ، په همدې وخت کې ، کله چې سکندر پرما د تورې ناځاپي وار کاوه نو مارسي ماته په لوړ اواز غږ وکړ او.....»

لا تراوسه قاسم خپله خبره نه وه خلاصه کړې چې يو ناځاپه مارسی هلته کمرې ته را ننوتله.دهغې په سترګو کې دحيرانتيا سپينوالې و. او په سخت عصبي کشمکش کې ډوبه وه. کمرې ته د را ننوتلو په وخت کې دهغې سترګې دغضب نه خلاصې پاته شوې وې ،کله چې دننه را ننوتله نو مارسي دقاسم تر مخ ودريدله ، قاسم هم دمارسي د درنښت له ځايه پورته شو او و دريد. مارسي په سترګو کې قاسم و پوهاوه او ورته يې وويل:«آآآ، ته..... غالبا چې ته به همغه ځوان يې چې دميلې په ورځ يې سکندر بيګ ته ماتې ورکړه.....ما ته هملته کتلې وې.»

مارسي دخپلې مور اوغلام په شتون کې د قاسم د نه پيژندګلوي ادا کاري وکړه. قاسم هم دمارسی په دې کارپوه شوې و نو ځکه يې په خندا کې په ډيره ټيټه لهجه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هو ! زه دهمغې ورځې د احسان د ممنونیت په خاطر دلته حاضر شوې یم. تا زه په همغه ورځ په ښه وخت کې خبر کړم او زما دژوند په خوندي کولو کې دې راسره مرسته وکړه ، نوې ژوند دې را وبانبه ، چې دهغې له پاره زه ستا د احسان ممنون یم. او ستا له پاره خدمت کول خپله نیک بختي گڼم .»

د قاسم دخبرو په اوریدو سره مارسی وخوزیده او مسکۍ شوه ، « واه ،....دا څنګه خبره ده. ته ددومره اوږدې مودې وروسته زما د احسان د ممنونیت له پاره دلته راغلې یې...... ډیره ښه» کله چې مارسی دا خبره وکړه نو قاسم غلې شانته شو اوبیا یې په مړاوي اواز سره وویل « په اصل کې ما ته ستا نوم او ستا دځاې درک خرک همدا نن معلوم شو ،همدا علت دې چې زه دومره ناوخته ستاسې په دربار کې حاضر شوی یم .»

په دې وخت کې مارتها هملته ولاړه وه او دقاسم د خبرو څارنه یې کوله. خو اوس دهغې وهم او بدګماني له منځه تللې وه. داسې معلومیده چې قاسم او مارسي په خپلو اداکاریو کې بریالي راوتلې و. کله چې مارسی وکتل چې قاسم رینښتیا هم یو ساده سپاهی دې نو مسکۍ شوه او ویې ویل:

« سهی ده ، هیڅ خبره نه شته ، مونږ دومره ناوخته هم ستا شکریه او ممنونیت منو. تاسې کینۍ ، زه به ستا د درنښت له پاره څه مشروبات راولیږم.» مارتها په ډاډمنې لهجې سره قاسم ته دا خبره وکړه. اوبیا یې خپل حبشي غلام له ځانه سره واخست او دکمرې څخه بیرون ووتله. مارتها خو ولاړه خو قاسم ته ډاډ نه و ورپه برخه شوې. هماغه و چې خپله اداکاري یې په ځاې وساتله او مارسی ته یې وویل:

« ګوره ! تاسې ما خپل خادم وګڼئ ، که چیرې زه په خپل ژوند کې ستاسې کوم خدمت وکړاې شم نو زما له پاره به ویاړ وي.»

مارسي د شونډو لاندې خندل او د قاسم خبرې یې اوریدې. اوبیا یې په ډیر ټیټ اواز قاسم ته وویل:

« تا خو وعده خلافي وکړه. ځکه چې تا زما د منه کولو سره سره بیا هم زما درک پیدا کړ ، خو زه حیرانه یم چې تاته زما درک او ادرس چا در وښود ؟»

« ما ستا مور ته ویلي دی چې زه د شهزاده محمد دوست یم. او د شهزاده څخه مې ستا درک ترلاسه کړ. په اصل کې ما غوښتل چې ستا کور ته یو ځل راشم. ما غوښتل ستا د مور سره ووینم او ورسره لیدنه وکړم»

قاسم د مارسي سر خپل ځانته رانژدې کړې او په غوږ کی یې ورته څه خبره وکړه ، د قاسم خبره د مارسي په غوږونو کې انګازې کولې او د هغې ذهن کې ورکیوته. قاسم ته د مارسي دومره را نژدې کیدل دتعجب خبره وه. مارسی هم په خپل وجود کې دیخوالې احساس وکړ ، دهغې دمخ غومبرې سره شوې و اوسترګې یې ښکته وې. قاسم ورته یو ځل بیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« او له تاسره لیدنه هم اړینه وه ، ته که سبا ورځ ماته لږ وخت راکړې.... څه ډیرې ضروري خبرې دي چې له تاسره یې کول ډیر اړین ګڼم. »« وخت ؟...... دورځې ؟ ......لیکن چیرې؟» مارسي دموم په څیر ویلې شوه او ویې ویل.

اوس نو هغوې دواړو یو بل سره په پټه خبرې کولې ، قاسم ورته په ځواب کې وویل: « زما په فکر چې که ته د لاله شاهین یادګار ته راشې.... هلته زړه هدیره هم ده ، زه به تاته د لاله شاهین د یادګار سره نژدې د شاه توتو د ونې لاندې انتظار کوم.»

په دې وخت کې د بیرون څخه د کوم کس د راتلو پښبار تر غوږو شو ، اوقاسم خپله خبره بدله کړه ، اوس یې نو په لوړ اواز وویل « ستا مور خو ډیره درنه اوسلیقمنده ښځه ښکاري ، زه ستا دمور ددې کار څخه ډیر اغیزمن شوې یم.»

دقاسم دخبرې دکولو سره سم خادمه میلمستون ته را ننوتله. دهغې په لاس کې د مشروباتو څخه ډک پتنوس و. دخادمې نه لږه شیبه وروسته مارتها هم هغې خونې ته را ننوتله. اوس نو دلته دقاسم کار سر ته رسیدلې و. او د نور زیات تم کیدو اړتیا یې نه لیدله. ځکه چې هغه دمارسی مور له نژدې څخه کتلې وه. اوهغه یواځې دهمدې ښځې دکتلو له پاره دمارسې کورته راغلې و. هغه شاهي څارګر و نو په دې اساس یې دسکندربیګ په لاس روزل شوې البانوي کینزه مارتها د سترګو نه شوه غورځولې. اوس نو هغه د مارتها دکور اودهغې د ټول کړچار په اړه پوره معلومات تر لاسه کړې و. او دهغې په اړه یې خپله رایه جوړولې شوه.

ددې نه وروسته ، قاسم تر لږ وخته پورې ددې خلکو سره اخوا دیخوا خبرې کولې اوبیا یې ترې اجازه واخسته او ولاړ.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

# شاهي ځارګر

د لاله شاهين يادګار دښار د جنوبي دروازې څخه بيرون دښار دديوال تر څنګ جوړ کړل شوې و . دا په يوه وخت کې شاهي پارک و خو نن سبا په قبرستان بدل شوې و . دلته د شاهي کورنۍ او نورو امراو خپلوان او مړي ښخول کيده . په ونو به ګونګيان کيناستل او په خپله ژبه به يې خبرې کولې . ددې ځاې د شاهي باغ ټولې ښښې ښښانې له منځه تللې وې ، دلته به د ورځې هم د انسان غونې زيږيده ، کله ناکله به کوم کس ددې ځاېه تيريده .

دمارسي بګۍ د دې باغ دننه ورننوتله . دبګۍ نوې کوچوان ځوان د خپل عمر نه زيات زيرکه او هوښيار ښکاريده . هغه د مارسي بګۍ د ابنوس د ونو سيورې ته يوړه ، او ګټو بوټو شاته يې و دروله .مارسي د بګۍ نه راښکته شوه او د ياردګار تر څنګ د باره دوري د مانۍ لورې ته ورغله . هغې په خپل لوې پړونې کې خراسانۍ توره را نغاړلې وه . مارسي ..... دمارتها لوروه او دخپلې مور مارتها په څير هوښياره .....او ميړنۍ وه . هغې دومره ويران ځاې ته د راتلو څخه هيڅ ويره نه احساسوله . مارسي د باره درې زړو پاتخو ته ورسيده او بيا هلته باره درې ته ورننوتله . خو د ننوتلو مخته يې د احتياط نه کار واخست او په ډيره محتاطه توګه يې غږ وکړ : « سالاره ! ..... محترمه سالاره ! ..... ايا ته همدلته يې ؟ »

ددې سره سره چې مارسي د قاسم د نوم سره پوره بلده وه خو هغې به قاسم ته سالار وايه . دمارسي غږ ته چا ځواب ورنه کړ . نو هغه دا و انګيرله چې قاسم تر اوسه لاندې راغلې په داسې حال کې چې هغه بايد دمارسي څخه مخته دلته راغلې وې . مارسي ته انديښنه پيدا شوه او خنجرېې په لاس کې کلک و نيوه ، خو د لږ ځنډ نه وروسته دمارسي تر شا د ونو د ځنګله څخه يو اوږود ښايسته ځوان را ووت . دا پخپله قاسم و . قاسم د راتلو سره مارسي ته وويل چې:

« زه ښښه غواړم ، په حقيقت کې ما تر ډيره پورې هڅه کوله چې ستا د تعقيبونکو شک له منځه يوسم . ما غوښتل و پوهيږم چې که چيرې څوک ستا په تعقيب پسې راغلې وي نو بايد مخته راشي .»

مارسي اوريده او يخه ساه واخسته . خو هغه ته د قاسم ددې کار څخه دا ډاډ ور په برخه شو چې قاسم يو محتاط وګړې دې ، اوس نو قاسم او مارسي د باره درې په زينو ور وختل اوهلته د نيم تياره او وراسته چت لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيناستل. د باره دري په زمکه باندې په ځاې ځاې کې ګياه را شنه شوې وه. دا وخت خزان په عروج کې و او وچې پاڼې هرې لور ي ته پرتې وې ، دوې دواړو دخپلو کيناستو له پاره ځاې پيدا کړ اوبيا دواړه يو بل ته نژدې کيناستل. دا د مارسي او قاسم لمړنې ليدنه کتنه وه. دواړه تر يوه وخته پورې خاموشه ناست و.

تر ډيره پورې يوبل ته نژدې ناست و ، او سترګې يې د مخامخ يادګار په کنډرو نښتې وې. ددواړو د زړونو کيفيت څه بله ډول و. هغوې يو بل ته څه ويل غوښتل خو دهغې و ديلو له پاره يې الفاظ نه شو پيدا کولې. بالاخره مارسي دا سکوت مات کړاو وويې ويل:

«غالبا چې تا زه دکوم کار له پاره دلته را بللې وم.» دمارسي په لهجه کې نرې شانته طنز هم شامل و. قاسم ورته متوجه شو:

«هووووو !.... کار ! ...... هو ! ريښتيا هم ما تاته د يوه کار په خاطر دلته د راتلو تکليف درکړې دې» قاسم ورته په تتره ژبه وويل. هغه په فکرونو کې ډوب و چې ايا ريښتيا هم هغه مارسی دکومې خاصې خبرې له پاره دلته رابللې ده؟ اوکار به څه شې وي؟ دهغه تر مخه ټول حالات را بربنډ شوي و. دنمونې په توګه ، هغه په ابوجعفر باندې شک کاوه ، ابوجعفر دمارسی د مور مارتها کور ته تګ راتګ کاوه ،مارتها پښخه عيسايښه وه ، سکندر بيګ د مارتها په غيږه کې ځوان شوي و. هرومرو دسکندر او ابوجعفر تر منځ هم ژور اړيکې موجود و. مارسی دخپلې مور ، ابوجعفر ، اوسکندربيګ دحالاتو څخه ښه خبره وه. خوپخپله يې دڅه وجوهاتو په اساس سکندر بيګ ښه نه ايسيده. شونې ده چې دا به سکندر بيګ خپل مزاج و. په هر حال دا ثابته وه چې مارسی د سکندر بيګ پر خلاف وه.

قاسم په همدې خبرو کې ډوب و. اوس به نو قاسم دمارسي څخه نور څه پوښتل ؟ يواځې همدا چې هغه د ابوجعفر په اړه نور څومره معلومات لري ؟که چيرې همدومره خبره وايې نوبيا خو دمارسي په ځاې د ابوجعفر معلومات په خپله پلټلې شول. قاسم په خپل فکر کې را نښتې و .... اخرولې يې مارسي دلته رابللې ده. بالاخره د شونډو لاندې مسکې شو او د اتمام حجت په خاطر يې همغه پوښتنه وکړه.

« ما غوښتل له تا څخه د ابوجعفر په اړه و پوښتم.»

څرګنده نه ده چې د قاسم په لهجه کې به څه وو چې مارسي پرې په زوره زوره و خندل..... قاسم فکر وکړ چې دا به قهقه خندا نه وی ، داسې بريښيدل چې د هندوانو په کوم مندر کې طلاېې ګنګرې و شرنګول شو. مارسي يواځې ښايسته او ښکلې نه وه بلکه د ډير ستر او عالي شخصيت خاونده هم وه. دهغې تجربه کاري مور ، مارتها ، هغې ته دميراڼې او په پوره جرءت سره دنيغ په نيغه د تنقيد کولو فن هم وروښولې و. مارسی دا و انګيرله چې قاسم په زړه کې غل دې ، څه لري خو نه يې وايی. غالبا چې د محبت او مينی غل ، خو دهغه دقاسم په څير د يوه جرير

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په حیا کولو باندې حیرانه وه. هغې په شریرو سترګو قاسم ته وکتل او ورته یې وویل:« زه خو د ابو جعفر په اړه همدومره پوهېږم چې هغه د مسلمانانو مذهبی مشر دی ، د بغدادي دروازې د جومات خطیب او امام دی او تیرو شلو کالو راهیسې دلته په «اورنه» کې میشت دی. ددې نه اخوا دهغې وخته چې زه په ښه اوبد پوه شوې یم نومورې وینم چې زمونږ کور ته تګ راتګ کوي ، هغه په ساعتو ساعتو زما د مور سره په ځانته کمره کې کیني او کومې ځانګړې مسئلې په اړه پټې خبرې ورسره کوي. زما مور ډیره سخته عیسایڼه ده او د مسلمانانو پر خلاف دهر ډول عمل څخه دریغ نه کوي. ترهغې چې زه معلومات لرم نو سکندر زما مور او همدې ابو جعفر د سلطان پر خلاف را پارولې او بې وفایی ته یې اړ کړې دی. پخپله سکندر زما ډیر بد ایسي ، هغه په وړکتوب کې زما سره یو ځای را ستر شوې دی خو په طبیعې توګه کمینه ، بدذاته او بد مزاجه دی...... بس همدا څو خبرې وې چې زه پرې پوهیدم او تاته مې وکړې...»

دمارسي په خبرو قاسم په زړه کې مسکې شو ، څه فکر یې وکړ ، مارسي ورته ټکې په ټکې هر څه وویل. اوس نو هغه ډاډ من شوې چې مارسي یې یو اځې ددې له پاره دلته نه وه رابللې بلکه ددې لیدنو وروسته بله کومه جذبه هم شته چې په پایلو کې تر ډیرو ورځو پورې بې نومه پاته کیږي اوکله چې ورته نوم ورکول کیږي نو بیا یې دمحبت په نامه یاد وي. قاسم یو ناڅاپه په خپل ځان په غصه شو اودخپله ځانه سره یې وویل:.....قاسم جانه ! په هوش کې راشه...... ته یو سپاهي یې او ستا ژوند ستا ددین له پاره وقف شوې دی. ته به څنګه د یوه چا سره د خپل ټول ژوند کولو پیمان او ژمنه وکړې ...... اوبیا خو مارسي مسلمانه هم نه ده ، یوه عیسایی پیغله ده.

په همدې وخت کې هغه ته یو فکر راپیدا شو اود مارسي څخه یې یوه حیرانونکې پوښتنه وکړه .« ډیره ښه ! مارسي جانې ! ...... ستا د قصې څخه خو داسې انګیرل کیږي چې ته عثماني سلطنت سره د خپلې ګروهې او عقیدې په نسبت ډیره همدردي لرې. ایا ستا په زړه کې د اسلام په اړه کله هم کوم فکر راغلې دی؟»

د قاسم پوښتنه ډیره حیرانونکې وه ، مارسي یو ټکان وخوړ او قاسم ته یې په کلکو سترګو وکتل او ورته یې وویل:

« قاسم صیب !......ما د اسلامي ارزښتونو په مطابق ښوونه او روزنه تر لاسه کړې ده او په همغې کې را ستره شوې یم ، زما په ناسته پاسته ، اوعادتونو او رواجونو په رګ رګ کې اسلام جاري دي خو ما تر اوسه پورې د اسلام د منلو اعلان په رسمي توګه نه دی کړې.»

« مګر ولې ؟ کله چې ته د اسلام څخه دومره اغیزمنه شوې یې ، نو ویلې شې چې هغه کوم خنډونه دي چې تا د اسلام په رڼا کې د را ننوتلو څخه منه کوي ؟» قاسم ته د مارسي د ځواب نه نور هم تجسس راپیدا شو ، دهغې دبلې پوښتنې په مقابل کې مارسي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ایا په دې اړه اعلان کول اړین دي ؟ زه خو چې تر اوسه پورې په ځه پوه شوې یم هغه دادې چې هره ښه خبره او متوازن عمل کول پخپله اسلام دي . او هر هغه څه چې متوازن نه دي هغه غیر اسلامي دي ...... زه غیر متوازن کارونه نه کوم ، او هره ښه خبره خوښوم...... ایا زه جومات ته ولاړه شم او د ابوجعفر په څیر د وګړو په لاسو اسلام اعلان کړم او د مارسي په ځاې په خپل ځان د سکندر نوم کېږدم .؟»

د مارسي په دې خبره قاسم مات مات شو . هغه فکر هم نه کاوه چې دیوې غدارې مور لور به دومره د علم ، پوهې ، تدبر او عقل خاونده وي. هغه د مارسی د دې معقولو خبرو په اړه بې ځوابه پاته شو . او د څه ډیره وخته خاموشه پاته کیدو وروسته یې وویل:

« ستا خبره بلکل سهي ده . خو ایا دا به سهی نه وي چې په ښکاره توګه هم اسلام خپل کړې ، ځکه ستا له پاره په ټولنیزه توګه ډیر ښه ژوند میسر دې . » مارسي ورته په پوره تدبر سره ځواب ورکړ : « هو ! که ما همداسې کړې واې نو یقینا چې ښه فرصتونه به راته پیدا شوې وې . او تر ټولو لمړی به دا کیده چې د سلطان د ویل شوي زوې سکندر سره به راته نکاح کول را پیښیدل . په داسې حال کې چې هغه زما بد ایسي . او پاته شوه دا خبره چې دخلکو په سترګو کې به زما د اسلام دمنلو سره زما عزت او درنښت نور هم ډیر شوې واې ، نو دا کار خو د اسلام له اړخه هم غیر معقول دي. عزت باید زیات کړل شي خو دالله تعالې په دربار کې ، زه په دې آند یم چې دا کار د نیت په خلوص سره شوني دي.

مارسي یو اځې ښایسته او ښکلې نه وه بلکه د ډیر ستر او عالي شخصیت خاونده هم وه . د هغې تجربه کاري مور ، مارتها ، هغې ته د میړانې او په پوره جرءت سره دنیغ په نیغه د تنقید کولو فن هم وروښولې و . مارسی دا و انګیرله چې قاسم په زړه کې غل دي ، څه لري خو نه یې وایی . غالبا چې د محبت او مینی غل ، خو د هغه د قاسم په څیر د یوه جریر انسان په حیا کولو باندې حیرانه وه . هغې په شریرو سترګو قاسم ته وکتل او ورته یې وویل:« زه خو د ابوجعفر په اړه همدومره پوهیږم چې هغه د مسلمانانو مذهبی مشر دې ، د بغدادي دروازې د جومات خطیب او امام دې او تیرو شلو کالو راهیسې دلته په «اورنه» کې میشت دي. د دې نه اخوا د هغې وخته چې زه په ښه او بد پوه شوې یم نو موړی وینم چې زمونږ کور ته تګ راتګ کوي ، هغه په ساعتو ساعتو زما د مور سره په ځانته کمره کې کیني او کومی ځانګړې مسئلې په اړه پټې خبرې ورسره کوي. زما مور ډیره سخته عیسا ینه ده او د مسلمانانو پر خلاف د هر ډول عمل څخه دریغ نه کوي. ترهغې چې زه معلومات لرم نو سکندر زما مور او همدې ابوجعفر د سلطان پر خلاف را پارولې او بې وفایی ته یې اړ کړې دي. پخپله سکندر زما ډیر بد ایسي ، هغه په وړکتوب کې زما سره یو ځاې را ستر شوې دي خو په طبیعې توګه کمینه ، بدذاته او بد مزاجه دې ...... بس همدا څو خبرې وې چې زه پرې پوهیدم او تاته مې وکړې...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي په خبرو قاسم په زړه کې مسکې شو ، څه فکر يې وکړ ، مارسي ورته ټکې په ټکې هر څه وويل. اوس نو هغه داږ من شوې چې مارسي يې يواځې ددې له پاره دلته نه وه رابللې بلکه ددې ليدنو وروسته بله کومه جذبه هم شته چې په پايلو کې تر ډيرو ورځو پورې بې نومه پاته کيږي اوکله چې ورته نوم ورکول کيږي نو بيا يې دمحبت په نامه ياد وي. قاسم يو ناڅاپه په خپل ځان په غصه شو اودخپله ځانه سره يې وويل:.....قاسم جانه ! په هوش کې راشه...... ته يو سپاهې يې او ستا ژوند ستا ددين له پاره وقف شوې دې. ته به څنګه د يوه چا سره د خپل ټول ژوند کولو پيمان او ژمنه وکړې ...... او بيا خو مارسي مسلمانه هم نه ده ، يوه عيسايي پيغله ده.

په همدې وخت کې هغه ته يو فکر راپيدا شو اود مارسي څخه يې يوه حيرانونکې پوښتنه وکړه.« ډيره ښه ! مارسي جانې ! ...... ستا د قصې څخه خو داسې انګيرل کيږي چې ته عثماني سلطنت سره د خپلې ګروهې او عقيدې په نسبت ډيره همدردي لرې. ايا ستا په زړه کې د اسلام په اړه کله هم کوم فکر راغلې دې.؟»

د قاسم پوښتنه ډيره حيرانونکې وه ، مارسي يو ټکان وخوړ او قاسم ته يې په کلکو سترګو وکتل او ورته يې وويل:

« قاسم صيب !......ما د اسلامي ارزښتونو په مطابق ښوونه او روزنه ترلاسه کړې ده او په همغې کې را ستره شوې يم ، زما په ناسته پاسته ، اوعادتونو او رواجونو په رګ رګ کې اسلام جاري دي خو ما تر اوسه پورې د اسلام د منلو اعلان په رسمي توګه نه دې کړې.»

« مګر ولې ؟ کله چې ته د اسلام څخه دومره اغيزمنه شوې يې ، نو ويلې شې چې هغه کوم خنډونه دي چې تا د اسلام په رڼا کې د را ننوتلو څخه منه کوي ؟» قاسم ته د مارسي د ځواب نه نور هم تجسس راپيدا شو ، دهغې دبلې پوښتنې په مقابل کې مارسي وويل:

«ايا په دې اړه اعلان کول اړين دي ؟زه خو چې تر اوسه پورې په څه پوه شوې يم هغه دادې چې هره ښه خبره او متوازن عمل کول پخپله اسلام دې. اوهر هغه څه چې متوازن نه دي هغه غير اسلامي دي....... زه غير متوازن کارونه نه کوم ، اوهره ښه خبره خوښوم...... ايا زه جومات ته ولاړه شم او د ابوجعفر په څير د وګړو په لاسو اسلام اعلان کړم او دمارسي په ځاې په خپل ځان د سکندر نوم کيږدم.؟»

د مارسي په دې خبره قاسم مات مات شو. هغه فکر هم نه کاوه چې ديوې غدارې مور لور به دومره د علم ، پوهې ، تدبر او عقل خاونده وي. هغه دمارسي ددې معقولو خبرو په اړه بې ځوابه پاته شو. او د څه ډيره وخته خاموشه پاته کيدو وروسته يې وويل:

« ستا خبره بلکل سهي ده. خو ايا دا به سهی نه وي چې په ښکاره توګه هم اسلام خپل کړې ، ځکه ستا له پاره په ټولنيزه توګه ډير ښه ژوند ميسر دې.» مارسي ورته په پوره تدبر سره ځواب ورکړ : « هو ! که ما همداسې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واې نو يقينا چې ښه فرصتونه به راته پيدا شوې وې. او تر ټولو لمړی به دا کيده چې د سلطان د ويل شوې زوې سکندر سره به راته نکاح کول را پيښيدل. په داسې حال کې چې هغه زما بد ايسي. او پاته شوه دا خبره چې دخلکو په سترګو کې به زما د اسلام دمنلو سره زما عزت او درنښت نور هم ډير شوې واې ، نو دا کار خو د اسلام له اړخه هم غير معقول دې. عزت بايد زيات کړل شي خو دالله تعالې په دربار کې ، زه په دې آند يم چې دا کار د نيت په خلوص سره شونې دې.

قاسم دا سې انګيرله چې دکومې عامې پيغلې په ځاې د کومې عالمې ، فاضلې او پوهې پيغلې سره ناست دې ،اوس نو هغه د زړه له کومې به مارسي باندې ځاريده. هغه خوښايسته هم وه او دهغې ذهانت ، اودخبرو کولو انداز دهغې شخصيت نور هم را برسيره کاوه ، پههمدې خيالونو کې ډوب قاسم يو ځل بيا وويل:

« ليکن مارسي ، که چيرې ته په ځرګنده توګه اسلام و نه منې نو بيا به ستا ژوند د کوم مسلمان ملګری سره څه ډول منسلک کړل شی ؟ زما مطلب دادې چې که چيرې ته په عيسايی مذهب باندې همداسې ولاړه اوسې نو شونې ده چې ستا واده به هم ديوه عيسايی ځوان سره تر سره شي.»

قاسم په ډيره ساده توګه د مارسي څخه دا پوښتنه وکړه. خو ددومره پوهې سره خبرې کونکې مارسي خپلې سترګې ښکته کړې او په مخ يی سرې سرې ښښې را ځرګندې شوې . دواده کولو يادونه هغه بلکل اوبه اوبه کړې وه. کله چې قاسم دمارسي مخ ته وکتل نو په زړه کې يی دا خيال راغې..... چې هر څنګه چې وي دا پيغله له ماسره مينه کوي ، قاسم ته دا فکر په پوره ډاډ سره په زړه کې را وګرزيد . خو مارسي دقاسم د پوښتنې په اړه يواځې همدومره وويل چې:

« ماته په ځرګنده توګه د اسلام منل د اعتراض وړ خبره نه ده. زه خو يواځې دخپلې مور درويی په خاطر خاموشه پاته شوې يم.»

کله چې مارسي خاموشه شوه نو قاسم د خوشحالۍ نه په کاليو کې نه ځايده. ځکه نن نه يواځې مارسي دمسلمانيدو په اړه اقرار کړې و بلکه په دې توګه يی دهغه د محبت پيغام هم منلې و. اوس نو قاسم خپله خبره لکه څه په ځرګندو ټکو کې وکړه .

« مارسي ! ستا جادو کونکې شخصيت زه دخپل جادو د اغيز لاندې راوستې يم. ته په داسې حال کې چې يوه پيغله يې خو د ډيرو تکړو اوپوهو نارينه و څخه هم د عقل او فکر نه ډکه خبره کوی. اوس خوستا د سترګو څخه زه ويره احساسوم.» ددې اخرې خبرې د کولو په وخت کې قاسم په ذومعنې توګه وخندل.

مارسي ترې هم په خندا کې و پوښتل چې: « ايا زما سترګې دومره بد شکله دي ؟ » ددې خبرې سره يوځاې مارسي خپلې سترګې را پورته کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم دمارسي په سترګو کې و ننوت او ويې ويل «ويريږم چې ددې سترګو په بحر کې ورډوب نه شم»

دا خو يو شرارت و ، مارسي بلکل په دې خبره اوبه شوې وه. دهغه مخ د انارو په څير تک سور ګرزيدلې و ، کله چې قاسم اوسپنه ګرمه وکتله نو بيا يې وويل چې:

« مارسي ! که چيرې ماته په ژوند کې ستا د مشورو تر څنګ ته هم يې ، نو شوني ده چې په دنيا کې به د نيمايي فساد د جرړو د له منځه وړلو جرءت پيدا کړم.»

مارسي د قاسم په دغه خبره باندې په زړه کې عش عش وه ، اوس هغې غوښتل څه ووايي ، خو دلږ څه ځنډ وروسته يې په الفاظو تکيه وکړه او ويې ويل:

« زما مشورې ستا دبصيرت څخه ډيرې ارزښتناکه نه دي ، ماته به ددې څخه بله ستره رتبه دکومه شی چې ستا په څير ديوه شجاع او زړه ور سالار مشيره را ته وويل شي.»

دقاسم زړه په ګوګل کې ټوپونه وهل ، ځکه هغه دا انګيرله چې مارسي دهغه اقرار منلې دې ، خو په دې وخت کې يو ناڅاپه مارسي څه شرارت لورې ته ولاړه اوويې ويل:

« سالار صيب ! ايا تا زه دهمدې خبرو له پاره دلته رابللې وم......ما خو فکر کاوه چې دملک اوملت کومه مهمه خبره او دنده به وي چې ته يې دې کندوالو ته په راتلو مجبوره کړې يې.»

په دې خبر قاسم لږ څه زوړند غوندې شو ،خو په ژولې ژبه يې وويلې « په حقيقت کې په محبت او جنګ کې هر څه روا دي .»

قاسم د محاورې لار غوره کړه. خو مارسي يو ناڅاپه يو نوې رنګ اختيار کړ او خپله خبره يې داسې را غبرګه کړه .«نه ! دروند ه ! دا بلکل غلطه خبره اوفلسفه ده. په محبت او جنګ کې هر څه نه شي روا کيداې، ډير داسې څه شته چې نه خو په محبت کې روا دي او نه په جنګ کې. خو شرط دادې چې د روا اوناروا پريکړه بايد د انسانې آند په واسطه وکړل شي. دامحاوره خو په حيواناتو باندې تطبيقيږي ، ځکه چې هغوې په محبت او جنګ کې هر څه روا بولي.»

اوس نو قاسم ته د خپلې کمزورتيا احساس شوې و. دهغه په اعصابو باندې ډيره يوه او عاقله پيغله سپره شوې وه ، هغه خپل ويده ضمير ته ور غږ کړ او په لږه شيبه کې يې مارسي حيرانه دريانه پريښوله.« مارسی ! په دې کې هيڅ شک نه شته چې ستا آند ډيرې ژورې خبرې هم را سپړي ، خو حقيقت دادې چې محبت په خپله د جنګ بل نوم دې. اويا جنګ د محبت . زه يو عسکر يم ، او دهيواد د پايښت اوبقا له پاره جنګيدل زما دنده ده. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې دندې د تر رسولو له پاره محبت زما دتکمیل لاره ده..... په دې خاطر که ما د محبت له پاره رابللې یې او یا د ملک او ملت د بقا په خاطر ، دواړه یوه خبره ده.»

دقاسم ددې ښکلو خبرو په واسطه د مارسي سترګې خلاصې پاته شوې. اوس نو هغه بې ځوابه پاته شوې وه. په دې خاطر هغې وخندل او په مرموزه توګه خاموشه پاته شوه.

پوره ډیر وخت تیرشوي و. په دې وخت کې نا ثاپه کوم شوپرک د چت دکوم درز څخه راوالوت ، اوپه یوه تړپ د مارسي او قاسم تر مخه را پریوت. مارسي د ویرې او وار خطایی څخه چغې کړې ،او یوناڅاپه د قاسم په لاسو کې را پریوته ، دهغې چپ لاس د قاسم په ښي لاس کې پریوت ، هغه داسې شو لکه برق یې چې په سینه کې راننوتې وي ، دمارسي زړه په زوره زوره په ټوپونو شو. اودقاسم په زړه کې یوه نوې غوټۍ په پرانستو شوه. خو دا ټول هر څه د څو ثانیو له پاره وو. ځکه د لږ ځنډ وروسته مارسي د قاسم څخه بیله شوه او بیرته په خپل ځاې کې کیناسته. دهغې مخ د شرم اوحیا څخه لکه د انار په څیر سور شوي و ،اوس نومارسي بیرته تلل دخپل ځان له پاره غوره وګڼل. ځکه په دې توګه د قاسم دبدن سره د یوځاې کیدو اوبیرته جدا کیدو په واسطه دهغه وجود ټول په لړزا راغلې و ، هغې د خبرو کولو توان هم له لاسه ورکړې و.......

هغه په لړزیدلو پښو را پورته شوه اوپه زمکه پرتو وچو پاڼو ته یې په کتلو سره وویل:« اوس نو باید مونږ له دې ځآیه ولاړ شو »

د قاسم له پاره د نن ورځې لیدنه دهغه د دویشت کلن ژوند بهترینه اوښکلې تجربه وه. هغه ډیر خوشحاله و ، دمارسي سره دهغه یو ځاې والې داسې معلومیده لکه هغه چې د اوه براعظمونو پادشاهي تر لاسه کړې وي. قاسم هم راپورته شو اودمارسي سره قدم په قدم مخته ولاړ. په لاره کې یې یو ځل بیا د مارسی څخه وپوښتل:

« اوریدلې مې دې چې ابوجعفر د سلطان د خپلوانو سره هم اړیکې عځولې دی. ایادا ریښتیا دي ؟»

مارسي ځواب ورکړ چې « هو ! ما هم همداسې اوریدلی دی، زما مور به ویل چې ابوجعفر د شهزاده علاوالدین سره ډیر نژدې اړیکې لري ، »

« د شهزاده علاوالدین سره ؟.....دا ته څه وایی ؟....نوایا شهزاده علاوالدین ، یعنې دسلطان مشر زوې هم دهمدې غدارانو ملګرې دې ؟» قاسم ترې په ډیره حیرانتیاسره په ډیر لوړ اواز سره و پوښتل.

« نه ! په یقین سره چې نه ، زه شهزاده علاوالدین په شخصې توګه پیژنم ، هغه هیڅکله هم داسې کار نه کوي ، ابوجعفر به دکوم چال اوپلان په خاطر هغه په خپل جال کې را ګیر کړې وی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم د ډاډ ساه واخسته ، خو هغه ددې نوې خبرې په معلومولو خوشحاله و ، چې ابوجعفر د شهزاده علاوالدین سره هم تګ راتګ لري. یعنې هغه ته یو نوې راز را څرګند شوې و.

قاسم او مارسی په خپلو کې خبرې اترې کولې او اېنوس ترونو راورسیدل ، نوې ځوان «اکبر» بګۍ تیاره کړې وه او همدلته ولاړ و. مارسي او قاسم دواړه پېښه نیولې شول. مارسي د قاسم څخه د اجازې اخستلو په توګه وویل .

«ته خو د ینې چرې سالار یې. داسې برېښې چې ته به هم د محاذ په لور د روانیدونکې لښکر سره سبا هغه لورې ته سفر کوې. ما غوښتل چې یو وخت پخپله ستا ناست ځای ته حاضره شم او ستا د کورنۍ سره ووینم.» مارسي په ډیره خلاصه توګه دا خبره وکړه.

قاسم ورته وویل : اتفاقا چې زه یې د دواړو لښکرو سره د تللو څخه بې برخې کړې یم. ما ته یې ویلې چې همدلته په «اورنه» کې و اوسم او د کومکې موادو د استولو څارنه وکړم» قاسم د مارسی څخه خپله نوې دنده پټه کړه. اودخپل نه تګ په اړه یې اخوا دیخوا خبرې وکړې. مارسي د قاسم د ځواب څخه تر ډیره پورې حیرانه ولاړه وه، هغې هیڅ هیله نه درلوده چې د قاسم په څیر یو میړنې عسکر دې د جهاد د دندې څخه شاته پاته شي. په دې اساس یې په استفها میه توګه ترې وپوښتل :

ایا سلطان ستا په څیر یو ویاړلې توره وهونکې سپاهي یواځې د غنمو د دانو د لېږون له پاره پریښې؟» د مارسی دخبرې په اوریدو سره د قاسم روح په لړزه راغې ، هغه د څه ځنډ کولو پرته وویل «نه سلطان چې ما ته کوم کار سپارلې دې ، دهغې نه بیانول زما دندې لمړنۍ غوښتنه ده. زه شاته پاته کیدونکې سپاهی نه یم..... کیدای شي چې تر اوسه د جنګ په میدان کې زما د وړتیاو د ازمیښت وخت نه وي راغلې ... زه هیلمن یم چې سلطان به د قونیا څخه د بیرته راستنیدو په وخت کې ما ته هم د صلیبیانو پر خلاف په ستر جهاد کې د ګډون ویاړ راکړي.»

مارسی د قاسم په خبره وپوهیده او په تفهیمې توګه یې سر وخوځاوه ، او د خپلې خبرې په اړه یې ښښنه وغوښته. قاسم هم په خندا شو . د لږ څه خاموشې وروسته مارسی د قاسم د سترګو څخه سترګې راوویستې ، را وګرزیده او په بیړه د بګۍ په لور ور روانه شوه. او په بګۍ کې کیناسته.

د بله اړخه سلطاني لښکر کوچ کړې و . خو شهاب الدین پاشا دهغوې څخه څو ورځې وروسته روانیدونکې و . د قاسم په زړه کې که څه هم د جنګ د میدان څخه د لرې پاته کیدو غم څپې وهلې خو د مارسی خبرو دهغه په دماغ د نشتر په څیر داغ لږولې و . هغه غوښتل چې د صلیبیانو په مقابل کې د جنګ په میدانو کې خپله میړانه را څرګنده کړي ، دهغوې سره پنجه په پنجه شی ، دهغوې د اوسپنو سره اوسپنه ټکر کړي ، او هغوې ته دا ډاګیزه کړې چې د مکې عرب اوس هم د خالد بن ولید په څیر زړه ور او میړنې د ځواک خاوندان لری ، خو اوس هغه ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اورنه» کې د تم کیدو حکم شوې و ، په همدې خیالونو کې ډوب د یني چري دخیمه ځاې په لور ور روان و. دهغه په ذهن کې د راتلونکې پلانونه اوختل را اوختل.

لږ څه مخته په یوه چوک کې و درید اوشاته یې مخ را واړاوه ،هغه غوښتل د اغاحسن ځاې ته ورشي. ځکه اغا حسن د یني چري د لس زریز فوځ قوماندان و. هغه هم نوې مسلمان و خو په ایمان او قول کې د اوسپنې په څیر پوخ او کلک و. اوس نو د قاسم دهغو فوځې تمځاېو په لور روان و چې د خښتو او تیږو څخه د فوځې سالارانو له پاره جوړ کړل شوې و.

قاسم د اغاحسن کمرې ته نژدې را ورسید نو د کمرې دننه یې په زوره زوره خندا وې واریدې. داسې بریښیده چې دننه په کمره کې ښه ټوکې ټکالې رواني دي. قاسم دتم کیدو پرته د اغاحسن کمرې ته ورننوت. د اغا حسن کمره د یني چري د ځوانو افسرانو څخه ډکه وه. کمره په ډیر ښه فرش فرش کړل شوې وه. او دیوالونو ته تکیه ګانې ایښوول شوې وې. قاسم د ټولو سره دترغاړې وتو وروسته وویل:

« نن خو محفل د دزعفرانو دکشت په څیر ګرزیدلې دې ، داسې بریښې چې تاسو ته میاشتنۍ تنخوا تر لاسه شوې ده.» دقاسم په خبرو باندې خندا نوره هم زیاته شوه. خو سالار امیر خان په لوړ اواز ځواب ورکړ چې «وروره ! مونږ ته خو همدا معسکر کور هم دې او دنیا هم. دلته خو هره ورځ زمونږ اختر اختر وي او هره شپه مو دبرات شپه وي» په دې خبره ټولو یو ځل بیا ښه په زوره وخندل.

د یني چري په فوځ کې امیر خان تر ټولو زیات خنده کونکې او لوړ غږې وګڼې و. قاسم خان ته داسې ډاګیره شوه چې نن دهمدې امیر خان په برکت دا محفل دومره رنګین ګرزیدلې دې. کله چې ټول کیناستل نو قوماندان اسلم خان لږ څه په سخته لهجه وویل:

« محترما ! د تنخوا ګانو خبره به څه وي ؟ اوریدلې مې دي چې د بایزید یلدرم په وخت کې به ډیرې اوچتې اوچتې تنخواګانې ورکول کیدې. تر څنګ یې د اورنه د خلکو تر منځ د یني چري د فوځیانو ډیر ستر مقام او ښه دبدبه وه. اوس خو یې یني چرنې دکوهیانو په ویستلو او دپلونو د جوړولو په څیر په سپکو کار و مصروف کړې دې.»

داسلم خان دخبرو سره سم د محفل رنګ بدل شو. د اغاحسن په ګډون په یو شمیر سالارانو دا خبره ښه ونه لګیده. خو یو شمیر نورو د اسلم خان دخبرې سره سر تاو کړ. قاسم تر اوسه پورې یو ډیر پوه او ماهر جاسوس ثابتیده. هغه دراتلوسره سم د محفل څخه داسې یوه پوښتنه وکړه چې دهغې په واسطه په یني چرنې کې درا ټوکیدونکې بغاوت له پاره لمړنې معلومات تر لاسه کیدې شول. د اسلم خان د خبرو سره دقاسم خان تندې و غوړید ، هغه به ډیره ساده ګۍ سره بل غشې پریښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دوستانو ! دا راته ووایاست چې دسلطان سره کوم کوم کسان تللي دي او د شهاب الدین پاشا سره به څوک ملګرتیا کوي ؟»

اغا حسن سمدستي ځواب ورکړ ، « دسلطان سره د یني چري یواځې پنځه زریز فوځ تللې دې ،پاته ټول فوځ په جاګیردارانو او سردارانو باندې مشتمل دې. ددې پنځه زریز فوځ قومندانی زمونږ دوست «ریاض بیګ » کوي ، خو دشهاب الدین سره به د یني چري د فوځ دیارلس ډلې روانیږي . په لمړیو لیکو کې به زه او امیر خان د قومندانانو په څیر درومو. پاته نور ټول چې دلته ناست دي ، د اسلم خان پرته ، به دفوځ په قلب کې پاته کیږی. په میمنه او میسره باندې جاګیرداران او سرداران ټاکل شوي دي. و ددرې زره پیاده فوځونو کمان پخپله د سلطان دخور دخاوند «محمد چلپې» په غاړه دې...... دا خو زمونږ حال دې خو زه حیران یم چې ستا نوم په هیڅ لیست کې نه تر سترګو کیږي.

اغا حسن د شهاب الدین د فوځ دتللو تفصیلي خبره وکړه او په اخره کې یې د قاسم څخه همغسې پوښتنه وکړه چې مارسي ترې کړې وه. قاسم داغا حسن پوښتنه له نظره و غورځوله اود اسلم خان په لور یې وکتل او ورته یې وویل :

« دا اسلم خان یې ولې دلته تم کړې دې ؟»

اسلم خان ددې پوښتنې څخه حیران پاته شو . هغه په تړ تړې ژبه وویل چې:

«تا تا تاسې...... خپله خبره ګول مول کړه او زما په اړه دې وپوښتل ، لمړی ته دوا یه چې ته ولې دلته پاته کړل شوې یې او له ځآنه سره یې ملګرې کړې نه یی.؟

پخوا له دې چې قاسم په خبرو پیل وکړې ، سالار عبدالرحمن په خبرو شروع وکړه « زه به درته ووایم چې قاسم بن هشام ولې د لښکرو سره یو ځای نه کړل شو .»

ټول محفل خاموشه کیناست او د پوخ عمري سالار « عبدالرحمن» په لور متوجه شو .

« سلطان قاسم ته دلته په اورنه کې د اوسیدو په وخت کې د جنګ کولو حکم کړې دې . داسې اوریدل کیږي چې دلته دقیصر پټ فوځ شتون لري.»

دعبدالرحمن دخبرو په واسطه اسلم خان خپل څنګ بدل کړ اوپه سترګو کې یې د ویرې نښې را څرګندې شوې، هغه فکر کاوه چې قاسم خان به پخپله د کوچ څخه ځان په څنګ کړې وي ، خو دلته اوس خبره بلکل برعکس شوه . دعبدالرحمن دخبرو سره سم په ټول محفل کې یو حیرانونکې څرنګوالې راپیدا شو .« پټ فوځ ! دا ته څه وایی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورنه خو د عثماني سلطنت زړه دې ، نو که چیرې دلته هم پټ فوځ شتون ولري نو بیا د هونیاډې پر خلاف د جنګ کولو له پاره تلو ته څه اړتیا ده ؟ امیر خان په تندې باندې دیولس لکیرې جوړې کړې او ویې ویل:

اسلم سمدستې د امیر خان دخبرې سره ځان یو کړ « هو ! که چیرې همدلته دهغوې فوځ شتون ولري نو بیا خو عثماني سلطنت د سختو ګوابنونو سره مخ د ي ، په داسې حالاتو کې هغې لورې ته د سلطان تللو ته څه اړتیا ده ؟»

د اسلم دخبرو په وخت کې قاسم په مکمله توګه د هغه لورې ته متوجه و . د اسلم خان دخبرو په پای کې قاسم خان یو ځل بیا خپله پوښتنه تکرار کړه او ویې ویل:

« هو ! تا غوښتل چې ووایې چې ته ولې د لښکرو سره یو ځاې ولاړ نه شوې ؟»

دا ځل دقاسم په خبرو کې یو ډول سختوالې هم و چې اسلم خان ډیر ښه محسوساوه ، هغه یو ځل بیا ترټرې شو او په لړزانده اواز یې وویل:

« په حقیقت کې زمونږ په کور کې کوچنې پیدا کیږي. او زما دکورنۍ د پاملرنې له پاره زما څخه اخوا بل څوک نه شته.»

قاسم خان ترې په حیرانتیا څخه وپوښتل چې «ایا ته دلته د معسکر په اقامت ځاې کې نه اوسیږې، لکه څنګه چې دا نور سالاران هم اوسیږي ؟ ماته خو دا هم ډاګیزه شوې نه وه چې ته به واده ولرې.»

دقاسم دخبرې ځواب همغه عمرتیري عبدالرحمن ورکړ « په حقیقت کې چې د یني چري کوم سپاهی اویا سالار واده کوي نوهغه ته د چونۍ په سیمه کې د سلطان له اړخه یو کور ورکول کیږي ، ته خو پوهیږې چې مونږ ټول پخوا غیر مسلمان و . او ته په دې هم پوهیږې چې دیني چري ډیره کې سپاهیان هغه بندیان دي چې عثماني سلطنت په مختلفو جنګونو کې بندیان کړې دي ،په دې خاطر نه دلته زمونږ کومه کورنۍ شته او نه مور او پلار ، او خویندې ورونه. ستا خبره بیله ده. دیني چري په تاریخ کې ته لمړی کس یې له بیخه مسلمان یې او مسلمان پیدا شوې یې.»

قاسم خان ته په دې اړه پخوا دومره معلومات نه و . هغه د کوم شک په بسټ د اسلم په اړه تحقیقات کول. ځکه هغه ته معلومه شوې وه چې د یني چري یو شمیر سالاران د ابوجعفر په اشارو باندې ناڅي. په دې وخت کې یو ناڅاپه قاسم خان ته کوم فکر پیدا شو او مصنوعي خندا یې وکړه او بیا یې وویل:

« یاره ، بس پریږده ، تاسو خو ډیر ښه اورنګین محفل جوړ کړې و . ما هسې په هسې ستاسې په رنګ کې بنګ ورګډ کړل ، راځئ دا خبره پریږدو او دا راته ووایاست چې زما د راتلو تر مخه مو په کومه خبره خنداګانې کولې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم نه غوښتل چې اسلم دخپل ځان په اړه حساس کړي. اوبیا دخپل شک په اساس بل کوم کار و نه شي کولې. دقاسم دخبرو د اوریدو سره سم اغا حسن په خندا شو او ویې ویل:

« ستا د راتلو تر مخه دلته د مشاعرې محفل جوړ شوی و ، او قومندان امیر خان خپل فارسي شعرونه اورول.

ددې خبرې د اوریدو سره قاسم دامیر خان په لور وکتل او په خندا یې ترې وپوښتل. « ډیر ښه ، ته شاعری هم کوې. لږ خو مونږ ته هم واوروه ، چې تا څه لیکلي دي ؟ امیر خان سمدستي ځواب ورکړ : « هو د شاعرۍ به څه ووایم ، مونږ ته خو په اندلس کې شاعري په کار وه. مونږ به هلته د « الحمرا » په دربار کې شعر وایه. اودخاص دیوان شهزادګیو به د برنډو څخه پر مونږ ګلان را شیندل.

دامیرخان په دې خبره یو ځل بیا محفل دخندا ډک شو او دخونې فضا بلکل بدله شوه. په همدې وخت کې قاسم خان عبدالرحمن ته وویل:

« قاسم بن هشام. ته خو عرب یې ، ایا فارسي شاعري باندې هم پوهیدې شې؟

ته د پوهیدو خبره کوې ، زه به درته په فارسی کې اشعار واوروم.

په دې وخت کې ټول محفل غوږ په اواز شو. قاسم د شونډو لاندې خندل ، او د لږ څه ځنډ نه وروسته یې په ډیر ښه اواز سره داسلم خان په لور د کتلو په وخت کې دا شعر ووایه.

ان نه من باشم که روز جنګ بیني پشت من  آن منم که درمیان خاک وخون بیني سرې.

د قاسم دا شعر دومره ښایسته و چې د اغا حسن په کمره کې د واه واه اوازونه پیل شول.د شعر دویلو په وخت کې دقاسم سترګې په اسلم خان ورښتې وې ، هماغه و چې هغه په ډیره بده توګه په خپل ځای کې راغونډ شوې و.

اغاحسن او امیر خان د قاسم خان د شعر په اوریدو سره په وجد کې راغلل او د قاسم خان څخه یې وغوښتل چې خپل شعر یو ځل بیا واوروی. قاسم مسکې شو او خپل شعر یې یو ځل بیا ووایه. دا ځل په ستاینه کولو کې اسلم خان هم را یوځای شو ،

د ینی چرې د سالارانو دا غونډه همداسې ګرمه وه چې کمرې ته یو پوخ عمرې شخص را ننوت ، دهغې په مخ باندې د وقار او دبدبې نښې وې ، قاسم دهغه په کتلوسره دا و انګیرله چې دا هم د ینې چرې د فوځ کوم سالار دې. دا کس پخپله « محمد چلپې » و ، نوموړې دسلطان مراخان دخور میړه او د شهاب الدین باشا ددریزره ایز پیدل فوځ سالار ...... په خونه کې شته دینې چرې ټول سالاران دهغه په درنښت و دریدل ، محمد چلپی خونې ته مسکې را ننوت. اوبیا یې د ټولو سره د ښه راغلاست وروسته داغا حسن تر څنګ کیناست. اوبیا هملته په فرش

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې د کیناستو وروسته یې ټولو سالارانو او قومندانو ته وویل « سپه سالار شهاب الدین حکم کړې دې چې دنوې میاشتې د سپوږمۍ د کتلوسره سم به د دوشنبې په ورځ زمونږ لښکر د اروپا په لور کوچ کوي ، هیله ده چې تاسې ټول به تر هغه وخته پورې تیار اوسئ ، زمونږ د فوځ دکوچ کولو له پاره یواځې پنځه ورځې پاته دي ، داخل چې کوم جنګ مونږ ته مخته دې هغه به دټولو جنګونو څخه مختلف وي ، مونږ د هونیاډې د فوځ پر خلاف جنګ ته ورځو . تاسې ته به معلومه وی چې څو اونۍ دمخه د ټرانسلوانیا د هربان ستاټ په سیمه کې هونیاډې زمونږ سالار فرید پاشا ته سخته ماتې ورکړې ده ، بیا دغه هونیاډی ترکې بندي فوځیان په بیلا بیلو میلمستیاو کې دخلکو تر مخه د تیغه تیر کړل او په بې ګناه توګه یې د جنګي بندیانو ویني توې کړې مونږ به دهونیاډی څخه ددې شهیدانو د وینو بدله اخلو .

دهونیاډې په دې برې اوزمونږ د فوځونو پرلپسې ماتې په ټوله اروپا کې د اروپایانو تر منځ د خوشحالۍ څپې راپیدا کړې دی ، په همدې اساس یې دترکانو د مکملو ویستلو له پاره په اروپا کې یوه ستر یووالې را منځته کړې دې . « شاه لارډ سلاس » چې په دې وختو کې د هنګري اوپولینډ دواړو هیوادونو مشري په غاړه لري دې غورزنګ ته نوې روح ورکړې دې. په دې اتحاد کې هنګري ، پولینډ ، لاچیا ، اوبوسنیا حکومتونه په پوره ځواک سره شریک شوی دی. سربیا هم چې دلارډ ستیفن په وخت کې د عثمانیانو دسلطنت ملاتړې وه د هغه د ځآې ناستي « جارج برنیکوچ » په مشرۍ دهمدې اتحادي فوځونو په لیکوکې ورګډه شوی ده . فرانس او جرمني هم دخپلو جګړه مارو ډیره شمیره دې لیکو ته ور لیږلې ده . ددې نه علاوه د اروپاېې هیوادونو زیات شمیر عسکر په خپله خوښه دې لیکو ته راغلې او په کې راګډ شوې دې . تر ټولو مهمه خبره داده چې صلیبیانو دې جنګ ته دمقدس جنګ نوم ورکړې ، په دې اړه د روم پوپ ډیر په جوش او جذبه کې راغلې اوخپل نماینده کارډینل « جولین سیزراینی » یې د یوه ستر وسلوال فوځ سره هلته ور استولې د ي. ددې نه علاوه د اروپا دهرې سیمې څخه ددې فوځ د بسپنې له پاره مالې او خوراکې تعاون را روان دې. په حقیقت کې دا یو صلیبې جنګ دې اویاد ساتئ چې دا جنګ دعیسایت مذهبی جوش د اسلام پر خلاف راپارولې دې. د وینس او جینوا دجمهوریتونو بحري بیړۍ هم د عیسایی لښکرو د بسپنې له پاره رارسیدلې دی..... په دا سې حال کې چې د بدقسمتۍ څخه دعثماني سلطنت بحري ځواکونه د نشت سره برابر دي . په دې خاطر هونیاډ فکر کوي چې زمونږد سلطان فوځونه به د کوچنۍ اسیا څخه، چیرې چې هغوې د قونیا د امیرکرمانیا په سیمه کې په جنګ کې مصروف دي اروپا ته ولاړې نه شي...... اتحادي ځواکونه په ښکاره توګه دلارډ سالاس تر قومندې لاندې دي خوپه حقیقت کې دهغوې سردار دهنګري د پخوانې پادشاه « سجمنډ» نا جایزه زوې « هونیاډې » دې چې په دې وختو کې دعیسایی نړۍ تر ټولو ستر اتل ګڼل کیږي.

د محمدچلبي په ژبه کې دومره اغیزو چې په کمرې کې ټول سالاران خاموشه او غلي ناستو ، محمد چلپې د هونیاډې دفوځ داسې یو انځور وړاندې کړ چې قاسم خان یې هم په عسکری مهارت اوپوهه باندې قایل شو . په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې هغه ته دا ډاګیزه شوه چې دجنګ په اړه دا خبرې کونکې ، نړۍ کتونکې او عزتمنده وګړې د سلطان دخور میره دې.

قاسم په ډیره مؤدبه توګه د محمد چلپي څخه وپوښتل:

« درونده سالاره ! که د محاذ حالات دومره خراب وي نو بیا خو معظم سلطان ته پخپله په کارو چې داسلامي فوځ قیادت وکړي .»

محمد چلپي د قاسم په لور مخ ور و ګرځاوه او په خندانه توګه یې ورته وویل:« داسې بریښي چې ته به قاسم بن هشام اوسې. ستا د میړانې او بهادرۍ قصې هلته سلطاني محل ته رارسیدلې دی. خیر په هر صورت. ستا د پوښتنې ځواب دادې چې: معظم سلطان به په خپله دجنګ قیادت کوي ، زمونږ دغه اتیازره کسیز لښکر خو یوازې د لمړیو دلګیو په څیر مخته ورځی»

خو قاسم د یوه فکر په اساس یوه ځل بیا ترې وپوښتل:« دورنده سالاره !که د محترم سلطان دراستنیدو دمخه زمونږ فوځ د هونیاډی د فوځ سره لاس و ګریوان شی نوایا په هغه وخت کې به هم زمونږ ځواکونه د سلطان د رارسیدو انتظار کوي ؟

« نه ! که داسې وشول نو مونږ به په کلکه مقابله کوو . او انشاء الله دمعظم سلطان د رارسیدو دمخه به دښمن ځپوو .» دمحمد چلپي په لهجې کې عزم او هوډ وو. هغه په جګه غاړه ځواب ورکړ.

په دې وخت کې اغاحسن ترې وپوښتل:« درونده سالاره ! اوریدل کیږي چې دلته په اورنه کې دقیصر خطرناکه جاسوسان شتون لري او هغوې دمعظم سلطان په مقابل کې په سازشونو لګیا دی ؟

د اغا حسن دخبرې سره سم ټول سالاران غوږ په اواز شول ، محمد چلپي ځواب ورکړ.« دغه ډول راپورونه ماته هم را رسیدلې دي خو تر اوسه پورې په چا لاس نه شی تر پورته کیدې. خو تر هغې چې د قیصر پورې اړه لري نو هغه خو دهمغه لمړۍ ورځې راپدی خوا د مړانو دجنګولو ، خنزیرانو ، سپیو او مړزانو د لوبولو شوق لري. ډاګیزه ده چې داسې شخص به نیغ په نیغه د جنګ میدان ته د راتلو په ځای په همدې ډول سازشونو تکیه کوي.....مونږ په افواهاتو باندې کنترول پیدا کړې او معظم سلطان ددې خبرو د چاڼولو له پاره ډیر پوه او ماهره وګړي ټاکلي دي
.

داسې معلومیده چې محمد چلپي د قاسم د منصبي دندې څخه خبر و . خو په عام محفل کې یې دهغې د یادولو څخه ډه ډه کول مناسب و ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغا حسن په خونه کې تر ډېره پورې په مختلفو موضوعاتو باندې خبرې کیدې ، ان تر دې چې د ماسپښین د لمانځه واخت راغې. دسلطان دخور میړه محمدچلپې دنورو سالارانو څخه اجازه واخسته او په کومې لورې ولاړ. تر څنګ یې د اغاحسن په کمره کې ټول نور سالاران هم د ماسپښین دلمانځه د ادا کولو له پاره را ووتل ، اوس نو په دې خونه کې یواځې اغا حسن او قاسم دواړه ځانته پاته شوي و. قاسم د نورو وسالارانو د وتلو وروسته تر ډېره ځنډه پورې خاموش ناست و اوبیا پورته شو اود خونې دروازه یې د دننه څخه کونډه کړه. اغاحسن په ډېر تجسس سره د قاسم خان دې کار ته کتل او بیا یې ترې په ډېره رازداره توګه وپوښتل:

« قاسمه ! څه خبره ده ، نن خو ډېر په فکر کې ډوب معلومیږې »

قاسم اغا حسن ته دخپل سره د رانژدې کیدو اشاره وکړه اوبیا یې په ډېر ټیټ اواز سره اغاحسن ته وویل: « آغا !..... تاوکتل چې قومندان اسلم زما د تنخوا په خبره باندې څه ډول تبصره وکړه. ؟»

اغا حسن ځواب ورکړ: « څه ډول ؟ په ما خو دهغه خبرې ښه و نه لګیدې. د یني چرې ټول سپاهیان د سلطان د زامنو په خیر دي ، مونږ ته د تنخوا او مال و دولت سره کومه دلچسپي نه شته. اسلم خان ډېره ناوړه خبره وکړه او زما په آند چې په ټولو ډېره بده ولګیده. خو تا ترې څه مقصد تر لاسه کړې دې ؟»

اغا حسن یو پاک سپاهي و ، د سراغ رسانۍ سره یې سروکار نه درلود. د اسلم خان خبره پرې په ښکاره توګه بده لګیدلې وه ، خو قاسم ، داسلم خان په اړه په شک کې لویدلې و. ځکه هغه په یني چرې کې د غلطو افواهاتو دخپرونکو پلټنه کوله. سلطان مراد خان ثاني په رینښتیا چې یو تجربه لرونکې پادشاه و. دا چې هغه د سراغ رسانۍ د کار له پاره د قاسم بن هشام په څیر ځوان ټاکلې و دهغه د بصیرت ښنه ګڼل کیده. قاسم دهمغه لمرۍ ورځې څخه هر چاته د شک په سترګو کتل. هغه د اغاحسن خبرې واوریدې او اوپه تأدیبي توګه یې وویل: « اغا ! دعقل څخه کار واخله. دې ته هم ووینه چې اسلم خان د لښکرو سره د تللو څخه ځان په څنګ کړې دې. په داسې حال کې چې د سلطان پته محکمه وایي چې دسلطان سره غداران به د سلطان په نه موجودیت کې دسلطنت پر خلاف بغاوت جوړوي ، اودا هم ویل شوې چې دیني چرې یو شمیر سالاران هم ددې غدارانو سره ملګري شوي دي.»

د قاسم په خبرو اغا حسن په فکر کولو مجبور شو. اغاحسن په پلټونکو سترګو قاسم ته وکتل او ورته یې وویل:

« دا خو ماته ډاګیزه شوې ده چې زمونږ په فوځ کې تور لیوان شتون لري. خو د اسلم خان په اړه ما ددې نه مخته هیڅ دا ډول فکر نه و کړې. ستا خبره مې زړه ته را غورزي. ځکه تر هغو چې زما معلومات دي ، دهغې په اساس د اسلم خان په کور کې د کوچني د پیدا کیدو له پاره لا تراوسه ډېر وخت شته. هغه زما دوست دې. څو ورځې دمخه یې ماته ویلي و چې خداې تعالې به ورته د شوال په میاشت کې لمړنې اولاد ورکړي. خو نن چې هغه کوم عذر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کړې نو زه هم پرې حیران شانته شوم ، اوبیا تر ټولو ستره خبره داده چې یو سپاهې د جنګ میدان ته د تللو په وخت کې هیڅکله هم عذر نه کوي ، ولو که هر څومره ستونزې هم ولري.»

قاسم ډاډمن شو . اوس ورته ډاډګیزه شوه چې په اسلم خان یې شک کول سهي وو . هغه د څه ویلو له پاره خوله پرانسته چې یو ناڅاپه یې خبره و دروله. دهغه سترګې د دروازې په لور واوښتې . دهغه شپږم حس رابیداره شوې و ، دقاسم د سترګو په ځلیدا اغا حسن هم په پلټنې پیل وکړ . قاسم په خپلو شونډو باندې ګوته کیښوده او اغا حسن ته یې د چپ پاته کیدو اشاره وکړه . اوپخپله دخپله ځایه راپورته شو . اوس نو هغه په پټوپښو د دروازې په لور ولاړ . دروازې ته نژدې ورسید او په یوه بې اوازه توګه یې د دروازې کونډه پرانسته . اوبیا یې و ناڅاپه ددروازې دواړه پلې په یوه شړک سره پرانستې ، د دروازو دپرانستو سره سم یو درز شو او د یني چري یو فوځي دکوټې دننه راپریوت . داسې بریښیده چې هغه د دروازې دپلې سره غوږ ایښې و او د اغاحسن او قاسم خان دخبرو د اوریدلو هڅه یې کوله.

قاسم اواغاحسن دواړه ژر تر ژره خپلې تورې د نیام څخه را وویستې ، قاسم خپله توره په هوا کې و خوزوله او مخته ولاړ او ددروزاې کنډه یې بیا کلکه کړه . دا دیوه سراغ رسان په څیر دهغه لمړۍ معرکه وه . د یني چري دغه سپاهې د اغاحسن او قاسم د تورو په کتلو سره وارخطا شو . دهغه په مخ باندې د مرګې زیړې راخپور شوې و . او په چغو او سورو یې پیل وکړ . قاسم دخپلې تورې څوکه دهغه په ورمیږ کیښوده اوشاته یې ټیل واهه او ددیوال سره یې و نښلاوه . قاسم ترې په ډیر غضب اوقهر سره و پوښتل :« تاولې زمونږ خبرې اوریدلې ......؟ ته څوک یې ؟..... اود چاپه وینا دلته د جاسوسۍ له پاره راغلې یې ؟»

ددې ځوان ستونې وچ شوې و . هغه توکانې تیرې کړې تر څو خپل حلق تازه کړي . په همدې وخت کې اغا حسن چې دغه ځوان ته یې په پوره غور سره کتل وویل « دا د یني چري د دوویشتم دلګې عسکر دې چې د اسلم خان د قومندانۍ لاندې جنګیږي.»

د اغا حسن په خبره قاسم خان په ډیرو معنې لرونکو سترګو دهغه په لور وکتل اوبیا یې ددې ځوان څخه وپوښتل : « نوم دې څه دې ؟»

«تت.....تر.....ترکبا.....ترکباز.....» ځوان د ویرې په ترټرۍ ژبه خپل نوم وواېه . « زمونږ د خبرو د اوریدو له پاره ته دلته چا را استولې یې ؟» قاسم ترې یو ځل بیا وپوښتل .

خو دا ځوان خاموشه پاته و . قاسم د خپلې تورې څوکې ته لږ څه نور زور هم ورکړ ، دترکباز د سترګو اوښکې راغلې . دهغه د ستونې څخه د حلالیدونکې وزې د اواز په څیر اواز را وت . قاسم ترې یو ځل بیا خپله همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه تکرار کړه.« وو ایه چې تا دلته چا را لیږلې وې ؟» که چیرې را ته یې و نه وایې نو یاد لره چې زه به ستا پښې اولاسونه پرې کړم او په چوک کې به یې ګوذار کړم.»

دویرې څخه د ترکباز رنګ د خزان د پاڼو په څیر ګرزیدلې و ، خوبیا یې هم څه ونه ویل. کیدې شې چې هغه نه غوشتل د چا نوم واخلي. کله چې قاسم وکتل چې ترکباز په اسانۍ سره اقرار نه کوي نو اغا حسن ته یې د ترکباز د پښو اولاسونو د تړلو اشاره وکړه.

اغ حسن خپله توره کینبوده او دخپل صندوق څخه یې رسۍ را وویستله او لکه شیبه وروسته ترکباز لاس و پښې تړلې د زمکې په فرش باندې تړلې پروت و. اوس نو اغاحسن او قاسم دهغه تر څنګ ناست و، قاسم ورته وویل :« ګوره ! مونږ ته ووایه چې ته دلته چا را استولې یې. اوکه نه ته پوهیږې چې مونږ به ستا غوښې ټوټې ټوټې کړو » ددې خبرې سره سم قاسم په خپله توره دهغه مټ ورزخمې کړ ، دهغه کمیس و شکید اود اوږې څخه یې وینې را روانې شوې. اوس نو هغه بلکل ویرې اخستې و هغه دخپلې مړینې له ویرې په فریاد او ژړا کې وویل چې:

« زه ..... زه ....اس.....اس .....ودي ....اس ودي ..... اسودي رالیږلې وم ..... او زه ....»

په دې وخت کې دکمرې دکړکۍ نه یو غشې راغې او دترکباز په ستونې کې و نښت. ..... تر یوه وخته پورې خو قاسم او اغاحسن هم په دې و نه پوهیدل چې دا څه وشول. ترکباز په خپلو وینو کې ککړ پروت و. لاس و پښې یې تړلې وې ، اوسترګې یې دخپلو ګاټوسره راوتلې وې. ..... هغه دمړینې په حال کې و .غشي دهغه د ستونې سره یو ځاې نښتې و اودهغه ساه یې وربنده کړې وه.

خو کله چې قاسم خپل فکر راسم کړ نود برق په څیر یې ټوپ کړ او دکمرې دروازه یې پرانسته او بیرون ووت. اوس نو هغه هلته د بیرکونو تر مخ جوړې شوې برنډې کې منډې وهلې. هغه د عمارت اخري برخې ته روان و .ځکه هلته په چت باندې دختلو له پاره د خټوڅخه زینې جوړې شوې وې. قاسم په ډیره بیړه په زینو باندې ور وخوت. دهغه تر شا اغا حسن هم په منډه کې و خو دواړو شاته نه کتل. هغوې څو ثانیې وروسته دبام سر ته ورختلې وو. خو دلته په راتلو سره هغه نا هیلې شول ، ځکه دترکباز وژونکې دبام هغه بلې لورې ته ټوپ وهلې و او تښتیدلې و. کله چې قاسم اغا حسن بام ته د راختلو په وخت کې وکوت نور ورغږ یې کړ« منډه کړه ....دلته نه شته ......هغه بلې لورې ته ...... د بوټو په لور یې ووینه.... هغه د بام څخه ټوپ وهلې دې.»

قاسم هم په خپله بیرته شاته منډه کړه او د سیلۍ په څیر د عمارت شمال لور ته ورغې خو دلته هم اغا حسن او قاسم ناهیلې شول ، ځکه دښمن د ولکې څخه وتلې و ، قاسم او اغا حسن د فوځ د یوه دلګې سره یوځاې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معسکر شاوخوا ټوله سیمه وکتله خو د ترکباز قاتل داسې غیب شوی و لکه دخره دسره نه چې ښکر غیب وي. دماښاام دلمانځه وروسته چې کله بیرته کمرې ته راغې نو اغا حسن ته یې وویل.

« دترکباز لاش سره دې څه وکړل ؟»

« هغه خو د جاسوسۍ د څانګې مشر بهرام خان له ځانه سره یوړ. کوم وخت چې مونږ د قاتل په لټه کې و نو بهران خان دلته راغلې و اوخپل کار یې تکمیل کړې و ، » اغاحسن ځواب ورکړ او قاسم یو اوږود ...... اووو وکړ.

قاسم ترې یو څل بیا و پوښتل « ښه ، دا راته ووایه چې ستا په ذهن کې ددی پیښې په اړه څه معلومات را پیدا شو ، اودا چې دا « اسودي » به څوک وي ؟ ځکه ترکباز د مړینې نه مخته د اسودي نوم اخستې و.»

« نه ، ماته په دې اړه کوم خاص معلومات نه شته ،..... کله چې هغه ټک ټک کاوه ..... او آس آس یې وایه نو مافکر کاوه چې هغه به اسلم خان ویل غواړي. خو هغه بیا د اسودي نوم واخست. ..... ځرګنده نه ده چې دا اسودي څوک دې ؟ د اغا حسن په مخ باندې دژور فکر کولواغیز و. قاسم د کوم خیال سره اغا حسن ته مخ کړ او ورته یې وویل:

« اغا ، ته داسلم دقومندې لاندې بل کوم سپاهې را وبوله. کیدې شې چې داسلم تر لاس لاندې وګړي هغه ته د اسودي په نوم غږ وکړي. ځکه چې په عمومي توګه د فوځ عسکر خپلو سالارانو ته دخپلې خوښې نوم ورکوي. داسلم مخ اوڅیره هم توره ده ، کیدې شي دهغه د لاس لاندې وګړي د هغه د تور رنګ په خاطر هغه ته اسودي غږ کوي.

د قاسم دخبرو سره اغا حسن یو ټکان وخوړ ، اوپه ستاینوکو سترګو یې د قاسم په لور وکتل او ویې ویل: « په خداې چې ته ډیر ذهین انسان یې. ته باید د همدې پټې څانګې مشر اویا شاهی سراغ رسان واوسې.ته بلکل سهې خبره کوې ، داسلم خان دغه نوم دهغه تر لاس لاندې خلکو نه دې ایښې ، بلکه په یوه وخت کې پخپله سلطان هغه د اسودي په نوم یاد کړې و . په دې اساس اسلم خان کله کله دخپل نوم سره د اسودي لقب هم استعمالوي. خو بدې دا ده چې ماته داخبره مخکې ولې په یاد را نغله. په حقیقت کې د قاتل لټون زما دماغ هغه لورې ته متوجه کړې و .» هغه حسن په ډیره ځرګنده او ډاګیزه توګه دا خبرې کولې. قاسم خان هم په ډیر عجیب حالت کې ناست و. ځکه یو ډیر مهم سراغ یې موندلې و. هغه لږ څه په ژولې توګه اغا حسن ته وویل.

« اغا ! ...... فکر کوه چې اسلم ددې پیښې څخه خبر نه شي. زه غواړم هغه په کومې ځانګړې توګه تر خپلې ولکې لاندې راوړم.» د قاسم په خبرو اغا حسن ډیر زیات حیران شو اوویې ویل « غواړې هغه ونیسې ! مقصد دې څه دې ؟ ته په کوم حیثیت په هغه باندې لاس ږدې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو قاسم ته دا احساس پیدا شو چې هغه باید د اغاحسن تر مخه په قاسم باندې د ولکې کولو خبره نه وې کړې ،خو اوس یې خبره د خولې څخه وتلې وه. په دې خاطر یې د درواغو ویلو په ځای هوډ وکړ چې د اغاحسن په څیر مجاهد شخصیت دخپل ځان ملګرې کړي.

« په حقیقت کې زه د سلطان له اړخه په وختي ډول د سراغ رسانۍ له پاره ټاکل شوې یم. ما ته په دې لړ کې ستا کومک ته اړتیا ده. زه د پخوا څخه یو شمیر خلک تر خپلې څارنې لاندې لرم. خو دکوم څرګند ثبوت د نه لرلو په اساس دهغوې پر خلاف لاس نه شم پورته کولې. خو اوس د لمړي ځل له پاره ماته ددې سازشي زنځیر یوه کړۍ تر لاسه شوې ده. په دې خاطر زه غواړم اسلم خان اسودي په ناڅاپي توګه و نیسم.»

دقاسم ددې نوې دندې د اوریدو په اړه اغا حسن ته کومه حیرانتیا پیدا نه شوه. بلکه تر یوه حده پورې خوشحاله شو. بیایې په خندانه توګه قاسم ته وویل. « اسلم خان اسودي ته خو به معلومات ورپه برخه شوی وي چې دهغه رالیږل شوی عسکر دمړینې په وخت کې د اسودي نوم اخست.»

د اغا حسن خبره بلکل په ځای وه. قاسم دیوې لمحې له پاره فکر وکړ او بیایې وویل. « زما په آند ، تر هغو چې اسلم خان ته دا یقین تر لاسه شوې وی چې زمونږ په لاسوکې د هغه د نیولو له پاره کوم څرګند ثبوت نه شته ، نو هغه به د تیښتې هڅه نه کوي ، او پخوا تر دې چې هغه وتښتي نو زه به یې څټ ورمات کړم»

په همدې وخت کې قاسم د کوم آند په اساس یو ځل بیا وویل : « اغا ! ایا تاته د اسلم خان اسودي د اوسیدو د ځای په اړه معلوما ت شته.؟»

« مقصد دې څه دې ، ایا نن شپه خو به نه غواړې هغه ونیسي ؟» اغا حسن ورته په پلټونکو سترګو وویل. قاسم ورته د هوکړې په خاطر سر و خوځاوه.« بې شکه چې زه د نیکۍ په کار کې دځنډ کولو قایل نه یم. زه به همدانن ددې غدار په سر د تندر په څیر راپریوځم ، زه به د هیواد ددې دښمن څخه د قیصر د ټولو جاسوسانو نومونه را باسم.»

اغ حسن په پوره دلچسپۍ سره د قاسم خبرو ته غوږ ایښې و. بیا یې سمدستي وویل:

« سهې ده ، زه هم له تاسره یو ځای ځم.» « یواځې ته نه بلکه قومندان امیر خان هم له ځانه سره یو ځای وړو. کیدې شی چې اسلم دفاع وکړی او یا دهغه څه نور ملګرې دهغه د ملاتړ له پاره را و ځغلي.»

ددې خبرو نه وروسته تر ډیره وخته پورې اغا حسن او قاسم په خپل راتولنکې پلان او په مختلفو امورو باندې خبرې اترې وکړې ، ان تر دې چې شپه پخه شوه ، قاسم را پورته شو او ویې ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مونږ به نیمه شپه دخپل پلان دپلي کولو له پاره حرکت کوو .دا ډیره ښه شوه چې تاته داسلم خان دکور لاره اوګودر معلوم دي...... اوس نو ستا په غاړه دا کار هم دي چې امیر خان هم په دغه ټول پلان باندې خبر کړې او په خپل وخت یی له ځانه سره د چونې تر دروازې پورې راورې.»

قاسم خان ، اغا حسن ته خپله دنده ور وښوله ، دقاسم د هرې خبرې سره اغا حسن د اثبات سر خوځاوه. د ټولو اموراتو د ترسره کولو وروسته ، قاسم د اغا حسن څخه اجازه واخسته او خپل کور ته رهي شو.

شپه تر نیمایي زیاته تیره شوې وه. د اورنه په فوځې چونې په سیمه کې دافسرانو د اوسیدو دځایو ته نزدې درې آس سپاره تر سترګو شول. دا دهغوې افسرانو داوسیدو ځای و چې کورنۍ یی درلودې. ددې د اوسیدو د ځایو شاتنۍ برخه کې د شاه توتو ګڼې ونې ولاړې وې ، دلته به ټوله ورځ د افسرانو کوچنیانو خپلو ځانو ته شاتوت را ټولول. دغه درې واړه آس سپاره د شاتوتو دې ونو ته راورسیدل او همدلته و دریدل. دلته د ونو سیوري دتیارو په ډیربښت کې کومک کاوه. دا درې واړه دخپلو اسونو څخه را کیوتل او خپل اسونه یی د شاتوت په ونو پورې وتړل. اوس نو دغه درې واړه سیوری د عمارت په لور روان شول.

د عمارتونو په دریم کتار کې لمړنی کور د اسلم خان د اوسیدو ځای و. دغه درې واړه سیوري همغه لورې ته ورغلل. کله چې د اسلم خان کور ته ورنژدې شول نو و دریدل. دا دپښو ښتنو څخه جوړ شوې یو کوچنې داوسیدو ځای و .ددې کور بیرونۍ دروازه دکوڅې په لور څوارلس فته ستره وه ، شاته یی د کور داوسیدو د کوټو دیوالونه وو. دامیر خان سیوري د کور شاته برخې په لور ولاړ. اغاحسن او قاسم ددروازې په لور ور غلل. دیني چري دغو درې واړو افسرانو خپل مخونه را نغاړلي وو. هغوې د چیتا په څیر په پوره چالاکۍ سره دکور دروازې ته راغلل او دروازې ته یی غوږ ونیوه. هغوې غوښتل دکور دننه کوم اواز واوري ، تر ډیره وخته پورې د دروازې څنګ ته ولاړ و تر څو دکور دننه د حرکت څخه ځانونه خبر کړي. وروسته بیا قاسم په دې ډاډه شو چې اسلم خان اودهغه کورنۍ د خرګوش په خوب ویده دي ، په دې خاطر یی سمدستي د دروازې په سر د ورختلو له پاره ورټوپ کړ ، دهغه وجود په تور رنګه کالیو کې پټ و او په خپله ملا یی دوه عدده خنجرونه تړلي وو. بلې لورې ته یی د تورې خالي نیام را ځوړند و، ځکه توره قاسم خان په خپله خوله کې نیولې وه. تر شا یی د غشو ستره کڅوړه وه ، قاسم په ډیر احتیاط سره هغه لورې ته ورکوز شو ، اغا حسن هملته په کوڅه کې ولاړ و تر څو د اسلم خان د کور ددړې دپرانستو وروسته ور ننوځي. قاسم خان په ډی احتیاط سره دروازه پرانسته ، او اغا حسن یی دننه راننویست.

په بل اړخ کې امیرخان هم خپل کمالونه ښوول ،هغه د کور د شا له مخې د ونو په کومک د کربوښي په څیر خپلې پنجې لګولې اود کور چت ته را وښوت. دچت په منځ کې دتللو په ځای یی دبام په یوې لورې دیوال باندې په پټو پښو لکه دپیشو په څیر تګ کاوه ان تردې چې د کور دبام تر زینو یی ځآن راورساوه. هغه ددې ځآیه دکور تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګړ په ښه توګه کتلې شو . امیر خان په تر ټول پورته پاټکې باندې غلې کیناست. هغه دهمدې ځایه د اغا حسن او قاسم خان د فعالیت څارنه هم کوله.

قاسم او اغا حسن دبیروني دروازې څخه دننه راغلي و، هغوې هم دلته د کور په انګړ کې و ، په انګړ کې د شاتوتو یوه ستره ونه ولاړه وه.ددې ونې سیوري لکه د پیري په څیر په دیوالو باندې پریوتې و. دسپوږمۍ شپه وه. خوسپوږمۍ خپل ځو منزلونه وهلي و او نزدې و چې د لمر په تعقیب کې دهغې د شفق څخه ور ټوپ کړي. قاسم او اغاحسن مخته ور غلل او برنډې ته ور ننوتل.دلته ډیره تیاره وه او دکوټو دروازې دد ننه څخه تړل شوې وې. قاسم او اغا حسن په بیلو بیلو دروازو باندې غوږون کیښودل تر څو د ددننه څخه کوم اواز و اوري. خو په کوټو کې پوره پوره خاموشي وه. قاسم ته دا کار څه غیر قدرتي ښکاره شو. خوهغه پرې و نه پوهیده. بلاخره یې په دروازې باندې زور وکړ ، خو هغه وخت ډیر حیران شو چې دروازه کونډه شوې نه وه. هغه سمدستې دروازه پرانسته ، اواغا حسن ته یې هم دخپل ځان په لور د راتللو اشاره وکړه. په خپله همدې تیارې خونې ته ور ننوت.

څو لمحې وروسته هغه په خونه کې دننه ور ننوتې و خو کوټې ته و ر ننوتلو سره سم نزدې و چې په هغه یو افت را پریوځې. په هغه چا د توري داسې دروند ګذار وکړ چې نژدې و سر یې له تنه جدا کړي خو معلومه نه ده چې هغه کوم ځواک و چې قاسم یې ټوپ وهلو ته اړ کړ. قاسم ټوپ کړ اویوې لورې ته ودرید اوپه دې توګه په تیاره کې دپټ دښمن دتورې دغه وژونکې ګذار هسې ولاړ.

اوس نو قاسم ځان سنبال کړې و . هغه د خپل دښمن دتورې بل ګذار دهغه د تورې د پړک په واسطه و کوت اودبیا یې هغه دخپلې تورې په زور تم کړ. اوسپنه د اوسپنې سر و جنګیده او د ټنګ اواز ترې راپیدا شو ،داسې بریښیده چې دښمن یوا ځې نه دې بلکه دهغه بل کوم ملګرې هم دلته شاوخوا کې پټ شوی و. هغه ملګرې یې په اغا حسن باندې یرغل وروستې و ، ددې نه دا را څرګنده شوه چې اسلم خان اودهغه ملګری لا دپخوا څخه په سنګر کې ناست و .قاسم په همغو تیارو کې ددښمن د تورې ګذار تمباوه. بیا هغه یو ناڅاپه یوبل داو ولوبوو. هغه خپله پښه و غځوله او په زمکه پریوت. اوپه همدې ملاسته کې و خوید او ددښمن پښو ته یې ځآن ورساوه. مقابل لورې غوښتل چې په قاسم د پاسه راپریوځې خو په دې وخت کې قاسم دخپلې تورې څوکه پورته ونیوله ، په دې وخت کې مقابل لورې په قاسم راپریوت خو توره یې په ګیډه کې ولاړه او ترشا یې ووتله. دغه تیاره خونه یوې چغې ولړزوله اودمقابل لورې دګیډې څخه د وینو سیلاب راسر شو. قاسم ددښمن را پرځولو وروسته بیرته پورته شو اوپه بیړه بیرون ووت. خو دلته اغا حسن خپل مقابل لورې دښمن څو لمحې دمخه ختم کړې و. اغاحسن اوقاسم ته د زینو په لور د یوه سیوري دمنډې اواز تر غوږو شو ،اوبیا دلږ ځنډ وروسته دتورو د ټنګار اواز راغې ، داسې معلومه شوه چې امیرخان هم ددښمن سره په ټکر کې لویدلې دې. کله چې اغا حسن او قاسم د زینو په لور ورمنډه کړه ، خو پخوا تر دې چې هغوې په زینو ور وخیژې د زینو څخه د یوه درونډ شي د راپرزیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز یې واورید، خو دا کس دقاسم په پښو کې د لویدو سمدستي وروسته بیرته و درید ، اغا حسن هغه د سپوږمۍ په رڼا کې و پیژانده چې اسلم خان دي. دهغه څخه توره لویدلې وه اوپخپله د زینو څخه رالویدلې و خو روغ و جوړ و. قاسم خپله توره پورته کړه اوداسلم په ورمیږ یې ورکېښوده. اسلم جرءت وکړ اوپه لوړ اواز یې وویل: «څو......څوک یاستئ؟ اوزما څخه څه غواړئ؟»

کله چې اسلم اواز راوویست نو قاسم خپلې تورې ته نور هم زور ورکړ او د زمري په څیر یې په غړمبار پیل وکړ او ورته یې وویل:

«اسلم خانه! ته مونږ ډیر ښه پیژني چې مونږ د اسلام او وطن د غدارانو له پاره مرګ ثابتیږو. ته که غواړې څه مراعات تر لاسه کړې نو ستا خیر په دې کې دې چې ته باید هر څه چې درسره وي مونږ ته یې ډاګیزه کړې.»

«څه.......څه دروته ډاګیزه کړم؟......ما....ماته خو څه معلوم نه دي ، که چیرې تاسو ماته څه وویل نو تاسو به پخپله هم خوندی پاته نه شئ. تاسې د یني چري په یوه سالار لاس پورته کړې دي» په دې وخت کې اسلم خان حوصله په ځای کیده.....

قاسم په ناڅاپي توګه د اسلم خان د ورمیږ څخه خپله توره را دیخوا کړه ، اسلم په حیرانتیاسره د قاسم په لور وکتل ، خو څو لمحې وروسته دهغه دردناکه چیغو ټوله فضا و خیرله. قاسم خپل توره په پوره توګه دهغه د ښې اړخ په ورون کې ور ننویستې وه. د تکلیف اوزخم ددرد په خاطر دهغه ستوني نور د چغو څخه چاودیده. کیدې شي چې دهغه چیغې په شاوخو کورنو کې هم اوریدل شوي وي ، اوس نو چې اغاحسن او قاسم څه کول غوښتل باید سمدلاسه یې تر لاسه کړې وي. امیر خان هم تر دې وخته پورې هملته په چت باندې ناست.و. هغه د یوه ښه روزل شوي عسکر په څیر خپله مورچه پرې نه ښوده. قاسم د اسلم په ورون کې خپله توره ننویستې وه خو بیرته یې و نه ویستله. اسلم دتکلیف د زوره چغې او سورې وهلې. خواغا حسن ورمخته شو اودهغه په خوله یې لاس کېښود اوخوله یې وربنده کړه. قاسم د یوه وینه تویونکې انسان په څیر د اسلم خان په سترګو کې ورکیوت او ورته یې وویل:

«اسلم خانه! د ژوند څخه ډیر ارزښتناک بل کوم څیز نه شته. په ځانګړې توګه ستا په څیر غدارانوته. اوس کې ته غواړې ژوندې پاته شې نوریښتیا ریښتیا ووایه چې ستا رالیږل شوي کس ولې زمونږ خبرې اوریدلې.؟...... دا راته هم ووایه چې د ابوجعفر سره دې اړیکې تر کومه ځایه دي؟ .... اوپه یني چري کې ستا نه اخوا نور څومره کسان د قیصر جاسوسان دي.؟..... اویاد ساته ، چې نورې چغې و نه وهې ، او که نه زه به دې غوړونه در پرې کړم.
»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم په خبرو کې ډیره زیاته سفاکي او بې دردي وه. اسلم خو پرېږده چې اغا حسن هم د قاسم په خبرو باندې لړزیده. اغاحسن دقاسم په اشارې سره د اسلم دخولې نه لاس لرې کړ، اسلم د قاسم د سفاکۍ څخه دومره ویریدلې و چې دډیرو سختو دردونو سره سره یې بیا هم ژبه و درروله. دقاسم دبیا پوښتنې په اړه هغه د طوطی په څیر په خبرو پیل وکړ. هغه وویل چې په حقیقت کې ابوجعفر د قیصر جاسوس دې اودعثماني سلطنت د تباه کولو په خاطر دلته د تیرو شلو کالو څخه میشت شوې د ې. هغه دا هم وویل چې ابوجعفر په یني چري کې هم دخپلو جاسوسانو جال خپور کړې دې. خو هغه په یني چري کې دموجوده جاسوسانو نوم او ادرس و نه ویلې. هغه دیوه سالار نوم واخست چې څټ یې ځوړند شو ، داسې معلومیده چې هغه بې هوشه شوې وي ،په همدې وخت کې امیر خان د چت څخه په مرموزه توګه دوې ته وویل چې « تر څنګ کور کې څه حرکت تر سترګو کیږي ، ،تاسې په بیړه خپل کار تر سره کړئ»

قاسم په مایوسۍ سره د اسلم په لور وکتل او د لږ ځنډ وروسته یې خپله توره دهغه د ورانه څخه را وویستله. اسلم د بې هوشۍ په حال کې په زمکه ترپیده .خو سترګې یې پرانه نستې ، قاسم ، اسلم په همغه ځاې کې پریښود . او اغا حسن ته یې د پورته ختلو او د امیرخان سره دخبرو له پاره ورولیږه ، خو پخپله هغه بلې بندې خونې ته ورغې. دقاسم په آند چې دلته د اسلم ښځه بنده پاته وه. هغه دروازې ته ور ورسید اودروازه یې ور ټیل وهله. قاسم هملته پرته ډیوه رڼا کړه او دبرنډې په دیوال کې یې پروت مشال هم روښانه کړ ، اوس نو مشال په لاس قاسم بندې دروازې ته ودرید اود هغې د پرانستلو هڅه یې کوله. د لږڅه هڅې وروسته دروازه په یوه کړک سره پرانستل شوه خو هغه ته کمرې ته ور ننوتل په نصیب نه شول ، معلومه نه ده چې د زینو سره پروت بې هوشه اسلم کله په هوش کې راغلې و او په زمکه باندې په ښویدو ښویدو کله د قاسم تر شا را رسیدلې و ،اوس نو دهغه په لاسو کې یو اوږود خنجر د ورایه ځلیده. کله چې قاسم د دروازې پټې ورماتې کړې نو اسلم هغه نیمه دره را پورته کړه او په قاسم یې د تورې درووند ګذار وکړ ، قاسم بلکل په همغه اخرې لحمې کې د شا له خوا اواز واورید اوپه بیړه را وګرزید . خو اوس ډیر ناوخته شوې و د اسلم خان خنجر د قاسم په ښې اوږې باندې راپریوتې و اودهغې دغوښې دپرې کولو ورسته بلې لورې ته وتلې و. په دې توګه اسلم خان د خپل زخم بدله واخستله. قاسم په زوره زګیروې وکړ. خو په خپل ځاې باندې ثابت قدمه پاته شو ، مشال دهغه د لاسو څخه ولویدخو تر اوسه پورې یې رڼا خپروله. قاسم دخپل زخم هیڅ پروا و نه کړه او په پوره زور سره یې خپله توره راخلاصه کړه او داسلم سر یې د تنې څخه جدا او دکوټې منځ کې ور وغورځاوه. دمشال رڼا تر ډیره پورې دننه کوټه روښانه کړې وه. داسلم پرې کړل شوې سر د کمرې په صحن کې رغړیده. اوبیا په هغه بله خونه کې ښځینه اواز تر غوږو شو . دا د اسلم دښځې چغې وې.

قاسم رالویدلې مشال بیا راواخست. او کمرې ته دننه ور ننوت. هغه د رڼا په مرسته وکتل چې هلته یوه ښځه ناسته ده، ټول وجود یې د ویرې نه ریږدیږي ،دهغې په پښو کې یوه تیزه توره هم پرته ده. داسې معلومیده چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



توره اسلم خپلې ښځې ته د خپل ځان د دفاع له پاره ورکړې وه. خو هغې ښځې دخپلې کمزورتيا په اساس هغه استعمال نه کړای شوه. او د ويرې نه يې لاندې غورځولې وه. داسلم ښځې چې کله دخپل ميړه پرې کړل شوې سر وکوت نو خپل ذهني توازن يې له لاسه ورکړ ،هغې په راوتلو سترګو تر ډېره پورې نقاب پوشه قاسم ته کتل اوبيا يې يو ناڅاپه په پښو کې پرته توره را پورته کړه او د يوې پاګل وحشي حيوان په څير يې په قاسم باندې حمله وکړه. قاسم څو قدمه شاته شو او بيا ددې ناروزلې ښځې د تورې ګذار په خپله توره باندې تم کړ ، دهغې ښځې توره دهغې له لاسه ولويده او دديوال سره ولګيده. په همدې وخت کې د بيرون څخه د منډې اواز راغې ،دا اغا حسن چې قاسم ته يې ويل چې څو کسه وسله وال کسان غواړې دغه کور د مخې له لورې تر کلابندۍ لاندې راولي. قاسم ددې خبرې په اوريدو سره د برق په څير بيرون ته ور ودنګل اود درې زينې خيزونو په وهلو سره د کور بام ته ورسيد. اغا حسن يې هم تر شا په منډو و. امير خان لا د پخوا څخه هلته په چت باندې موجود و . هغه د عسکري پوهې څخه په ګټې اخستو سره مخکې دمخکې يوه رسۍ دلاندې کيوتلو له پاره دکور شاته غوځولې وه. تر ټولو دمخه اغا حسن لاندې کيوت ، ....بيا قاسم او په اخر کې امير خان هم لاندې را کيوت. اوس نو هغوې بلکل خوندي و. درې واړه په ډېره محتاطه توګه د شاتوت د ونو سيورې ته راغلل او پخوا ددې څخه چې هغه وسلوال کسان دې کورته را ننوځې د ينې چري دغه درې واړه سالارانو خپل کار تکميل کړې و او د فوځې چونۍ د سيمې څخه وتلي و.

سهار د اورنه په خلکو کې عجيبه عجيبه خبرې کيدې. هرې لورې ته حيرانتيا خپره شوې وه. خلکو په ځاې ځاې کې د شپې د پيښې شوې پيښې په اړه خبرې کولې ، ځکه په يوه ورځ کې د ينې چري په عسکرې چونۍ کې څلور کسان وژل شوي وی ، دهر چاپه ژبه همدا خبره وه چې د قيصر جاسوسان په اورنه کې را خپاره شوي دي.

خو قاسم په بل کوم فکر کې و. دهغه سره ډېر کم وخت و ، خو تر مخ يې کارونه انبارونه وو. په دې وخت کې هغه د بغدادي دروازې ترڅنګ ګرزيده را ګرزيده. ځکه ابوجعفر همدلته اوسيده. اوس ورځ وه خوهغه دا ځاې يوائې په دې خاطر کوت چې په راتلونکې ګام اخستو کې ورته اسانتياوې پيدا شي، بازار کې هم پوره ګڼه ګوڼه وه. خلکو ترکې خولۍ په سر کړې وې او درانه کالي يې اخستې و ، ټول په خپل کاروباري زوند کې ښبتې وو. قاسم په کرار کرار په بازار کې ګرزيده. خو يوائې يو څوکسان د پرونېو پيښو په اړه په خپلو منځو کې خبرې اترې کولې. قاسم عربي کالي په تن کړي و چې کميس يې تر پښو پورې را غځيدلې و ،په سر يې حجازی لونګۍ تړلې وه ، هغه د بازار د غوغا څخه بې پروا د بغدادي دروازې په لور وروان و. هغه غوښتل د بغدادي دروازې جامع جومات ته ورشي. هغه د بغدادي دروازې جومات ته ور ګرزيدونکې و چې په دې وخت کې يې سترګې د مارسی په ځوان کوچوان باندې ولګيدې. دمارسي کوچوان په بازار کې د څه اړينو شيانو د اخستلو له پاره راغلې و ، هغه غوښتل د مارسی کوچوان (اکبر) سره ووينې ، کله چې داکبر لورې ته ورنژدې شو نو اکبر هغه وپيژانده

(c) ketabton.com: The Digital Library



« او.... صاحبه ته !.....ته دلته څه کوې ؟..... مارسي ستا ډېره ستاينه کوي ، نن خو زمونږ کورته هغه راغلې دې..... هغه زما دمشرې مالکې دوست دې. .....هغه د چوغې خاوند ....؟

داسې ډاګيزه شوه چې اکبر د قاسم ستونزه اسانه کړه. هغه چې د چا لټون کاوه هغه پخپله د قاسم مخې ته راغې. قاسم سمدستې د اکبر څخه وپوښتل.

« څوک ؟..ابو جعفر ؟»

« هو ! هماغه ابوجعفر..... دنيلا ستګرو خاوند ..»

کله چې اکبر ورته د نيلا سترګو خاوند وويل نو د قاسم ذهن بيا په را وګرځيد.د نيلا سترګو خاوند عرب اوسيدونکې ، ابوجعفر به تل دقاسم په زړه کې را ټکيده. قاسم سمدستې پريکړه وکړه چې هغه به مارسی ته يو پيغام استوي ، په همدې خاطر يې اکبر ته وويل :

« زه تاته يو ليک درکوم. ايا ته يې په سهي توګه خپلې کوچنۍ مالکې ته ور رسولې شې ؟« هو ! بلکل ، زه به ليک هرو مرو کوچنۍ مالکې ته ور سپارم.»

د مارسي کوچوان دخپل عمر نه زيات چالاکه و. خو اوس قاسم ته ستونزه راپيدا شوه ، ځکه هغه غوښتل په بازار کې دخط د ليکلو کوم ځاې پيدا کړي ، هغه فکر وکړ چې دکوم سراې د منشي د کاغذ او قلم څخه بايد کار واخلي. په دې خاطر هغه د مارسی دکوچوان سره يوځاې د يوه سراې په لټه کې روان شو. په بازار کې پوره ګڼه ګوڼه وه. خلک په پښو تلل راتلل، خوبوشمير خلک په خرو اواسونو سپاره په بازار کې ګرزيدل. دهرشي اوهر ډول وسايلو څخه دوکانونه ډک و ، ښځه او نر ټول په پيرلو او پيريدلو کې مصروف و. دا د اورنه تر ټولو ستر بازار و. دا د بغدادی دروازې څخه پيليده او دښار تر منځه پورې رسيده. قاسم او اکبر د سراې د لټون له پاره ان د بغدادي دروازې تر چوکه پورې را ورسيدل ، قاسم د اکبر د وينا په اساس په يوه ځاې کې تم شو ، دا ډير ستر او ښايسته سراې و ، قاسم اکبر له ځانه سره واخست او سراې ته ور ننوتل. د سراې د عمارت په کتلو سره حيران پاته و ، دا تيږو څخه جوړشوې يو ډير ښکلې عمارت و ، قاسم دعمارت له منځه تير شواو د استقباليه ميز په لور ورغې ، هلته يو دپوخ عمر سړې دهغوې ښه راغلاست وکړ ، قاسم ورته د کيناستو سره سم خپله خبره وکړه. هغه پوخ عمري سړي سمدستي کاغذ او قلم د قاسم تر مخ کيښوول تر څنګ يې د قلم رنګ هم رامخته کړ. قاسم خان قلم او کاغذ راواخست او مارسي ته يې وليکل:

«نن يوځل بيا عقاب ستا په انګړ کې دې ، پخوا له دې چې هغه ستا د کيناستو ځاې زيانمن کړي دهغه عزايم ځانته ډاګيزه کړه ، د ستورو د چال چلند په اساس نن ورځ زمونږ له پاره ډيره غوره ورځ ده. د چمن د مرغانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره د دې عقاب خطر کمیدونکې دې. امید دې چې د شاهین تر راتلو پورې به دغه عقاب د کوم ښکاری ښکار وګرځي. خو دهغه په تګ راتګ باندې ، په ځانګړې توګه نن ورځ ځانګړې څارنه په کار ده ، والسلام»

دا د رازه ډکه لیکنه وه. خو مارسی ذهینه نجلۍ وه ، هغه ته ددې مسئلې ډاګیزه کول ستونزمن کار نه و، قاسم مارسي ته لیکلی دغه لیک را تاو کړ اوبیا اکبر ته ورکړ. اکبرپه دې و پوهیده چې کار پوره شوې دې ، نو سمدستې د تللو له پاره تیار شو. خو قاسم یوځل بیا هغه تم کړ. په چوترې باندې ناست دغه پوخ عمری سړې چې د قاسم دا لیک یی دخپلو عینکو لاندې کوت ، حیران پاته و. ځکه د قاسم د لیک مضمون ډیر عجیب و. که چیرې لیک د مارتها اویا ابوجعفر لاسو ته هم ورغلې وې نوبیا یی هم راز ترې نه شو پیدا کولې. قاسم تر اوسه پورې د یوه ډیر پوه سراغ رسان په څیر خپل ځان ثابت کړې و. هغه اکبر ته وویل:

« ګوره اکبره ! ....خپلې مالکې ته دې وو ایه چې ددې لیک ځواب به همدا نن راکوي او هغه هم ژر تر ژره..... اکبره ! ته په خپله د خپلې مالکې ځواب ماته راوړه. زه به نن ماسپښین ستا د راتلو انتظار کوم. ... هلته د لاله شاهین دیادګار تر څنګ....»

د قاسم د هدایاتو د اوریدو سره سم اکبر خپل سر د درنښت په خاطر و خوځاوه. هغه ولاړ اوقاسم هم پریښود چې ژر تر ژره ولاړ شی. له یوې خوا قاسم اکبر د مارسي د کور په لور ولیږه خو دبله اړخه یی اراده وکړه چې هغه به په خپله د ابوجعفر د څارنې له پاره د مارتها تر کوره ورځې. خو اوس هغه داکبر د بیرته راستنیدو انتظار کاوه. کله چې اکبر د سراې د منشې څخه ووت نو قاسم هم د منشی شکریه ادا کړه او بیرون وتلو له پاره را پورته شو. هغه د سراې څخه د را وتلو په حال کې و چې په دې وخت کې یی سراې ته د یوه اجنبي په را ننوتلو ستر ګې ولګیدې. دا سړې دخپل شکل اوصورت څخه د هنګرې عیسایی معلومیده ، اوهمدا خبره وه چې قاسم یی دهغه لورې ته متوجه کړې و .دا اجنبي مسافر و اودهغه په شا بار کړل شوې سامان ددې ګواه و چې هغه همدا اوس اورنه ته را ننوتې و ، پخوا ددې څخه چې قاسم دهغه په اړه څه نور فکر کړې واې ، اجنبي بلکل د قاسم سره نژدې تیر شو ،خو تم شو او په ډیر معصومیت سره یی دقاسم څخه و پوښتل.

« ایا دا سراې دې ؟»

د اجنبي د لهجې څخه د قاسم ګمان په یقین بدل شو. دا ریښتیا هم دهنګرې اروپایی اوسیدونکې و ، د قاسم په څیر سراغ رسان د هنګرې ددې اوسیدونکې پوښتنه غنیمت وګڼله اوپه مکمله توګه دهغه اجنبي په لور متوجه شو.

« هو ! تاسې دکومه ځایه راغلي یاست ؟..... ایا ته د سراې په لټون پسې یی ؟» قاسم اجنبي ته دځواب ورکولو په ځاې په عامه توګه ترې وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هو ! زه دهنګرئ څخه راغلې یم ، او همدا اوس دې ښار ته رانوتم.» داجنبي په خبرو کې بلکل سادګي وه ، هغه د شکل او صورت نه دقیصر جاسوس اویا د عیسایی فوځ سپاهي نه معلومیده. دهغه په مخ ساده شانته خندا وه اودسترګو شاوخوا یې تورې حلقې وې. دهغه سترګې هم داروپایی خلکو په څیر شنې شانته وې. دهغه په کتلو سره دقاسم اعصاب ارام شوې و. هغه په دې فکر کې شو چې دا شخص خطرناکه نه دې. دهغه لهجه ، خبرې او قواره د جاسوس په څیر نه معلومیده. کیدې شی چې دا کوم سوداګر اویا سیل کونکې وي ، په همدې خاطر قاسم د زړه له کومې د تللو پریکړه وکړه، خو دخپلو معلوماتو په خاطر یې داجنبي څخه اخري پوښتنه وکړه. هغه دهغې دمخه یې اجنبی ته وویل:

« هو !دا سراې دې او ډیر ښه سراې دې.... ته را ته سوداګر معلومیږې.» د قاسم په استفهامیه لهجه ورته وویل:

هغه سړي وخندل. او خپل سر یې د نفي په خاطر و خوځاوه.« نه ، نه ، ماته سوداګر مه وایه. زه د دنیا د اخستلو له پاره نه یم راغلې ، او نه یې د پلورلو له پاره راغلې یم. زه خو په دې خاطر را وتلې یم تر څو خلک وپوهوم چې د دنیا پیرل او پیرودل بندکړئ ،ژوند ډیر لنډ دې اودغه لنډ ژوند په پیرلو او پیردلو باندې له لاسه مه ورکوئ.»

قاسم یو ناڅاپه د اجنبی په خبرو کې دلچسپې واخسته. هغه اجنبي ته په مسکا وویل چې:

« ستا د سوداګرئ خبره سهي ده. خو د ژوند د لنډون خبره دې غلطه ده. ژوند به ولې مختصر وي ، ژوند خو ډیر اوږود دې. لمړی په دې دنیا کې ژوند کول په کار دي اوبیا هغې دینا کې. دمرګ ملایکه خو یواځې دانسان بدن لمسوي ،..... هغه د روح دمرکز څخه لرې اوسي.....»

اجنبي د قاسم خبرې په پرانستو سترګو اوریدې. بیا یې په بیړه دخپلې شا څخه سامان را ښکته کړ ، او د قاسم سره ورغاړې وت. « واه ! زه څومره خوش نصیبه یم ، په اورنه کې د لمړي قدم د ایښودو سره سم زه د یوه ډیر مناسب انسان سره مخ شوې یم. تا د ژوند په اړه ډیره ښه خبره وکړه..... دا ډیرهستره خبره ده. ایا ته خو به حکیم نه یې ؟»

د اجنبی په خبرو قاسم وخندل او ورته یې وویل « نه !دروند ه میلمه ، دا دومره ستره خبره نه ده. دا خو عامه خبره ده .دا خبره خو تاته د مسلمانانو یو کوچنې ماشوم هم کولې شی.»

اوس نو اجنبي د پخوا څخه هم ډیر حیران پاته شو.

« ایا رینښتیا هم دمسلمانانو کوم کوچنې ماشوم دا خبره همداسې کولې شي ؟»

« هو ! یو کوچنې ماشوم هم !» قاسم ورته په خندا کې ځواب ورکړ. اوس نو هغه دغه اجنبي کوم خبطې وګڼه. ځکه هغه وکتل چې اجنبي خلا ته ګوری او دخپل ځان سره خبرې کوي. اجنبي ویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ددې مقصد دا شو چې د مذ هب سره هم د کائناتو په اړه د ستونزمنو پوښتنو ځوابونه شته. ما خو دا فکر کاوه چې مذهب د یوځو کسو پوهو خلکو د لوبو وسیله ده ..... که چیرې مسلمان په مرګ قایل نه وي نو په یقیني توګه به دهغو سره د انسان دموخو له پاره اعلې او برتر شعور شتون ولری..... ددې مقصد خو دادې چې زه بلکل سهی لورې ته راغلې یم.....هو ! زه بلکل سهي ځاې ته راغلې یم. اوس به زه د تندې احساس نه کوم، ای اربانه ! تا واوریدل چې زه سهي ځاې ته راغلې یم.»

د اجنبي ددې خبرو د اوریدو سره دقاسم دلچسپي نوره هم زیاته شوه. خو دهغه سره دوخت کمښت و. ځکه هغه غوښتل د ابوجعفر د نیولو له پاره پلان جوړ کړي. په دې خاطر ددې نه زیات د پاته کیدو جوګه نه و. هماغه و چې داجنبی څخه یې رخصت واخست او روان شو. خو اجنبی هغه له لاسه و نیوه « ته چیرې ځې ،.....را ځه لما سره راشه. زه یو اجنبی یم، ماته لاره و ښیه، ته ماته ډیر نیک انسان معلوم شوې.»

قام ودرید او په ډیر متانت سره یې اجنبي ته وویل:« درونده ! زه خو اوس له تاسره نه شم تم کیدې، خو ته همدلته په سراې کې اوسه زه به ستا دکتلو له پاره یو ځل بیا راځم....خو تا ماته خپل نوم او دلته اورنه د راتلو مقصد و نه وایه. نو که ته په دې اړه څه ونه وایی نو زما او ستا تر منځه به دغه بیګانګې څنګه له منځه ولاړه شي.؟

اجنبي په ډیره ټیټه لهجه وویل« زه ښښنه غواړم چې ماتاته خپل نوم و نه ښود. زما نوم «اربا ن» دې ، د هنګري اوسیدونکې یم اوهمدا اوس اوس د قسطنطنیې څخه دلته اورنه ته راغلې یم، زه کوم ځآنګړې کار نه کوم خو داوسپنې د ویلې کولو په کار کې پوره مهارت لرم..... اوسپنه زما په لاسو کې ویلې کیږي... په دې خاطر ما دکسب له اړخه ددې وخت داود وګڼه.»

اوس نو قاسم په خلاصو سترګو اربان ته کتل، قاسم په پوره جوش او ولولې سره اربان د لاسو ونیو او په ډیره مینه یې ورته وویل:

درونده اربانه ! ته دلته زمونږ معزز میلمه یې. ته همدلته په سراې کې اوسه. ستا ټول مصرف به زه ورکړم، خواوس زه په بیړه کې یم سبا به څه وخت ستا په خدمت کې حاضر شم.

قاسم په معذرت سره داربان څخه رخصت واخیست. او دسرایه راووت. اوس نو دهغه مخ د سلطاني قصر په لور و. ځکه هلته د امرانو د اوسیدو ځایونه و. هغه غوښتل د سلطان دقصر شاتنۍ برخې ته د ابوجعفر دڅارنې له پاره ور وځغلي، اوغوښتل یې چې دمارتها تر دروازې ور ورسیږي.اوبیا دڅارنې له پاره باید یو داسې ځاې و ټاکي چې دهغه ځایه دابوجعفر په تلو راتلو باندې څارنه وکولې شي. خو هغه ته د مارتها د دروازې پورې د ورتلو اړتیا پیدا نه شوه.ځکه هغه د لرې څخه دمارسی کوچوان وکوت. ځکه قاسم لږه شیبه مخته همد ې کوچوان ته دمارسی په نوم یو لیک ورکړې و، قاسم فکر وکړ چې دهمدې کوچې په سرکې په اکبر باندې ورغږ کړي .....بیا هغه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریکړه وکړه اوهمغې لورې ته روان شو په کومې چې اکبر روان و . هغه څو کوځې داکبر تر شاولاړ اوبیا په یو موړ کې را وګرزید ، وبې کتل چې اکبر د ښار دننه سړک لورې ته روان دې. په دې خاطر یې په هغه ور غږ کړ. اکبر د غږ سره سم و درید کله یې چې شاته وکتل نو خوله یې دحیرانتیا څخه وازه پاته شوه . هغه په ډیره بیړه د قاسم لورې ته راغې ،قاسم دهغه سره دغیرمعمولی یوځاې کیدو په ځاې دمعمول مطابق په لاره دتلو په وخت کې دیو ځاې کیدو پریکړه وکړه. د لږ څه وخت وروسته قاسم او اکبر یوځاې په لاره روان و . اکبر لکه د طوطې په څیر په خبرو لګیاو.

«نن زما مالکه ډیره خوشاله وه. ستا دلیک نه وروسته یې دخوشحالۍ نه ټوپونه وهل ، خو بیا پوه نه شوم چې ولې زما مالکې د مشرې مالکې اودهغې د میلمه دخبرو داوریدو له پاره کړکۍ ته ورغله اوهملته ورته ولاړه وه اوغوږ یې ورته ایښودې. مالکې مې ماته هم وویل چې دهغوې خبرې واورم ......نن مالکه ډیره خوشحاله ده ، صاحبه ! ما ددې نه مخته هیڅکله هم هغه دومره خوشحاله نه وه کتلې.»

اکبر تر اوسه پورې خبرې کولې. خو قاسم دهغه خبرې غوڅې کړې او ورته یې وویل چې « ایا تا هم د ابوجعفر او مارتها خبرې واوریدې ؟

«هو !» اکبر په لنډه ورته وویل:

قاسم ترې بیا وپوښتل : « هغوې څه ویل ؟»

اکبر تندې را ګونج کړ او د لږ فکر نه وروسته یې وویل « هغوې دواړو په یني چرې کې د راپورته شوو پیښو په اړه خبرې کولې، ابوجعفر ورته ویل چې دا کار د شاهې سراغ رسان کړنه ده. ..... اومارتها ، یاد ساته چې دا شاهې سراغ رسان ډیر زیات خطر ناکه او چالاکه انسان دې..... ما هغه کتلې دې. دهغه وجود داسپ د وجود به څیر او دپړانګ په څیر سترګې ، او د ګیدړې په څیر تیزدماغ لرې.

اکبر همدومره وویل اوبیا خاموشه پاته شو. قاسم ترې یو ځل بیا په پلټونکې لهجې سره و پوښتل.

« بس !......ایا همدومره څه دې اوریدلې و یا نور څه دې هم ؟»

اکبر یوځل بیا وویل :« ابوجعفر د شهزاده علاوالدین سره د کتلو خبره هم کوله. هغه مارتها ته داخبره کوله چې شهزاده دهغه په لاسو کې دې او دا چې مارتها ته په دې اړه د ویریدو اړتیا نه شته. هغه په ډیره ټینګه توګه دا خبرې کولې. داسې کومه کومه خبره به ترې را وتله ، خو زما مالکه ټوله ورځ هلته د کړکۍ سره سر یو ځاې کړې و ، ولاړه وه اودهغوې خبرې یې اوریدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم له پاره همدومره خبره کافي وه. هغه په تلو تلو کې اخرۍ پوښتنه وکړه. « ایا ابو جعفر تر اوسه هم هملته دې ».

« نه ، هغه لږ څه دمخه دهغه ځآیه را ووت. خو دا راته ډاګیزه نه شوه چې هغه چیرې ولاړ ، کیدې شې چې زما مالکې ته په دې اړه معلومات وي.»

قاسم د تلو تلو په وخت کې یو ناڅاپه و درید. هغه چې دا کبر څخه څه غوښتل و پوښتي ، هغه یې پوښتلي و. اوس نو هغه ته د اکبر سره یو ځاې په کوټو کې تګ مناسب نه ښکاریده. په ډیره مینه یې اکبر ته دوه درې اشرفۍ په لاسو کې کیښودې ، هغه یې په اوږه باندې و ټپاوه. او پخپله په یوې بلې لورې ولاړ. هغه په لاره کې په همدې فکرونو کې ډوب و چې دابوجعفر په غداریدو کې خو هیڅ شک پاته نه شو. دهغه په ذهن کې یو ځل بیا دهغه نیلې سترګې را ځلیدې. هغه په دې ډاډمن شوې و چې ابوجعفر د عثماني سلطنت له پاره یو خطرناک جاسوس او مهمه مهره ده. خو دهغه په ذهن کې را ټوکیدونکې دغه خیال تر اوسه پورې یوه مفروضه وه. هغه دا انګیرله چې ابو جعفر د یوه عربي په ځاې یو اروپایي اوسیدونکې دې هغه غوښتل چې د ابوجعفر اصلي بڼه را برسیره کړي. خو ددې ویرې چې بغاوت په هروخت کې شونې دې چې په ټولو ځایو کې سر راپورته کړي ،خپلې پلټنې ته یې ددوام ورکولو په ځاې پریکړه وکړه چې ابوجعفر ته ددې نه زیات وخت ورنه کړي او لاس پرې پورته کړي او په خپله ولکه کې یې راوړي . په همدې خاطر یې په ډیره بیړه ځان د پټې محکمې مشر بهرام خان ته ورساوه ، ځکه هغه ته دد ې کار د ترسره کولو له پاره یوه ډله عسکر و ته اړتیا وه. تر څو دسلطان له اړخه ورکړل شوې خصوصي اختیارات استعمال کړي او ابوجعفر په رڼا ورځ و نیسي اوبندي یې کړي.

دهغه دغه ننۍ ورځ ډیره مصروفه تیره شوه، هغه ته ماسپښین ناوخته دمارسي پیغام هم رارسیدونکې و. په دې خاطر هغه باید د لاله شاهین یادګار ته ورغلې وي. او همدا نن ورځ یې د ابوجعفر په څیر د یوه ځواکمن او بانفوذه وګړي د نیولو پلان هم درلود تر څو دهغې له لارې د سازشونو ټولې کړۍ راو سپړي. هغه د سهاره تر اوسه پورې پیدل روان و. خو اوس ورته د یوې وسله والې ډلې اړتیا پیدا شوې وه. ترڅنګ یې دخپل ځان له پاره دیوه بهترین آس اړتیا هم. هغه ددې کار د تر سره کولو له پاره دخپل ځان سره د بهران خان رایوځاې کول مناسب وګڼل. هغه نیغ دسلطاني قصر تر څنګ د سرکاري دفترونو دعمارت په لور ورغې ،ځکه هغه کولې شو دبهرام خان سره همدلته ووینې.

دبهرام خان څنګ ته د رسیدو سره سم هغه ورته خپله مدعا وویله. خو بهرام خان داسې خیز وواهه لکه لړم چې په کو خاص ځاې کې ټک ورکړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دا ته څه وايې ؟ مونږ څنګه کولې شو دابوجعفر په څير شخصيت و نيسو .؟ هغه خو دامراو د ډلې څخه دې. او د سلطاني قصر سره نيغ په نيغه اړيکې لري.»

قاسم خان د بهرام خان خبرې واوريدې او خوله يې را جوړه کړه ، لږ څه په قهر يې وويل « که هغه د سلطاني قصر سره اړيکې لرى ، نو څه وشول. دا خو پخپله د معظم سلطان حکم دې چې هر هغه څوک پرته له ويرې ونيسئ چې اړيکې يې دغدارانو سره ثابتې شي. زه به د ابوجعفر دنيولو پرته ارام کينم. دا به زما په دنده کې زما غفلت وي ،دقيصر جاسوس به زمونږ تر سترګو ګرځي را ګرځي او مونږ ورته هيڅ هم ونه ويلې شو. دا به څه ډول شوني وي ..؟»

بهرام د ابوجعفر د نيولو په لاره کې خنډ و. ځکه هغه ددومره سترې خطرې بار په غاړه نه شو اخستې. چالاکه ابوجعفر دخپلو غوړه ماليو په اساس د شهزاده علاوالدين نه علاوه د سلطنت نور ډير مسؤلين هم په خپلو لاسو کې لوبول. بهرام داسې انګيرله چې د ابوجعفر په نيولو سره به شهزادګان ،ستر ستر وزيران او امران دهغه د ملاتړ له پاره په خوزښت راشي ، هغه د لږ څه فکر کولو وروسته قاسم ته وويل:

« قاسم بن هشامه ! زه له تاسره د ابوجعفر په څير د شاطر انسان دنيولو له پاره نه شم تلاي. ځکه که ما ابوجعفر و نيوه نو شهزاده علاوالدين به زما په لاسو کې زنځيرونه واچوی..»

اوس نو قاسم په هغه څه پښيمانه ښکاريده چې سلطان يې دده په اړه د هداياتو د ورکولو څخه منه کړې و. هغه ته دسلطانی دماغ د لرليد اوباريک بينۍ په اړه اوس معلومات تر لاسه شو. هغه داسې انګيرله چې سلطان به يواځې يو سپاهي وي خو اوس ورته د ډاګيزه شوې وه چې هغه يواځې يو سپاهې نه بلکه يو ډير پوه او د سترو تجربو خاوند دې. هغه ته د خپلې عاقبت نا انديشۍ په اړه احساس کيده. ځکه که نن سلطان بهرام ته حکم کړې وې نو بيا به دا ستونزه نه رامخته کيده. خو په هر صورت هغه داخرې حربې په توګه بهرام ته وويل :

« بهرام خانه ! سلطان ستا په شتون کې زه د ټول دربار تر مخه شاهي سراغ رسان ټاکلې يم ، په دې اساس زه تا ته حکم کوم چې دابوجعفر په نيولو کې زما سره مرسته وکړه.»

اوس نو بهرام خپل تخرګونه ګرول. ځکه دا رېښتيا و ، کله چې سلطان قاسم د شاهي سراغ رسان په څير ټاکه نو بهرام خان هم هلته موجود و. خو اوس بهرام خان په دې خاطر وړاندې وروسته کيده چې سلطان ورته په ځآنګړې توګه کوم حکم نه و صادر کړې. څنګه چې قاسم بهرام ته دسلطان دحکم په اړه وويل نوبهرام يو رامات شو او په مړاوې لهجه يې وويل.

« قاسم بن هشامه ! سهي ده ..... زه ستا په مسؤليت ددې کار کولو له پاره تيار يم. خو ياد ساته چې که شهزاده علاوالدين ماته حکم وکړ نوزه ابوجعفر سمدستي پريږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم د بهرام خان دومره څه هم د ځان له پاره غنیمت وګڼل. او ویې ویل:

« سهي ده ، د شهزاده علاوالدین د وینا په اساس ته ابو جعفر بیرته پریږده.»

ددې وروسته قاسم خان او بهرام خان د ابو جعفر د نیولو له پاره په پلان باندې خبرې اترې پیل کړې ، ان تر دې چې ماسپښین پیل شو. قاسم خان د بهرام خان سره د پلان د جوړولو وروسته د برق په څیر راووت او د کرایې د اسونو د اخور په لور ولاړ او د لاله شاهین دیادګار پورې د تللو له پاره یې یو آس کرایه کړ. د ماسپښین د کیوتو تر مخه هغه د یادګار دروازې ته رسیدلی و. خو د ژمنه کړل شوي وخت نه لږ څه وروسته رسیدلی و. کله چې دروازې ته ورننوت نو اکبر یې تر سترګو شو. هغه د ابنوس د ونو سره نژدې په یوه مات دیوال باندې د پاسه ناست و. اکبر هم د دروازې په لور کتل. هغه سمدستي د دیواله را ټوپ کړ او بیا د قاسم په لور په منډه ورغی. په همدې وخت کې د قاسم سترګې هم هلته د ونو په ګڼو بوټو کې دولاړې بګۍ په لور ونښتې. هغه حیران شو. ځکه ددې مطلب دا و چې مارسي پخپله هلته راغلې ده. د مارسی په جرءت باندې حیران و ځکه نن سبا مارتها او دابو جعفر د خپلو سازشی کړیو په اخری سر کې و. او همدا نن هم ابو جعفر د مارتها د کوره راوتی و ، مارسي ته احتیاط کول په کار و ،په یقین سره چې مارتها او ابو جعفر به په مارسي باندې شک کوي اودا هم شوني ده چې د ابو جعفر جاسوسان به د مارسي پټه څارنه هم کوي ، قاسم په همدې فکرونو کې ډوب په بیړه بیړه د باره دري په لور ولاړ. اوس نو اکبر هم ورته را نژدې شوی و ، قاسم اکبر ته په خندا کې وویل:

« داسې معلومیږي چې ستا مالکه هم په خپله دلته باره دري ته راغلې ده.»

اکبر په پوره جوش سره ورته د اثبات په توګه سر وخوځاوه. او د قاسم سره یې د لاس د ورکولو وروسته وویل

«مالکه په باره دري کې نه شته بلکه هملته په بګۍ کې ناسته ده. ته هم هملته ورشه ، نن مونږ د تعقیب څخه ویریدو. په دې خاطر د مختلفو لارو څخه په پټه توګه دلته راغلي یو»

قاسم د مارسي پوهې ته حیران و ،یعنې هغه څه چې هغه انګیرلي و مارسي هم همغسې انګیرنه درلوده.

د مارسي سره خپلو خیالاتو د هماهنګۍ د کتلو وروسته د قاسم په زړه کې نورې هم د خوشحالۍ څپې ګرمې شوې . هغه بګۍ ته ور نژدې شو اود بګۍ شاتنۍ پرده یې پورته کړه او په بګۍ کې ناستې مارسي ته یې سلام وکړ. مارسي په خندا سره د قاسم د سلام ځواب ووایه. اوهغه ته یې د ننه بګۍ ته د راتلو له پاره اشاره وکړه. اکبر بیرته منډه کړه او د څآرنې په خاطر د همغه مات دیوال د پاسه وخوت. اوس نو هغه دیوه هوښیاره چیتا په څیر څلور خواوې تر څارنې لاندې نیولې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارسي او قاسم په بګۍ کې د لرګيو څخه په جوړو شوو چوکيو باندې يو بل ته مخامخ کيناستل. دا څلور ضربې لس فټه کوچنۍ کمره وه. مارسي او قاسم يو بل ته دومره نژدې ناست و و چې دهغوی زنګونونه يو دبل سره نښتل. نن مارسي په ساده کاليو کې وه او دپخوا څخه ډيره ښايسته او ښکلې ښکاريده. دهغې په لويو لويو سترګو کې يو ډول تجسس اوپلټنه وه. يو ناڅاپه دهغې شرارتي زلفې دهغې د سر څخه راپرانستل شوې او په اوږو او مخ يې راوغوړيدې. هغې بيرته په بيړه په لاسو خپلې زلفې را جوړې کړې او مسکۍ شوه. قاسم ته دا سې څرګنديده لکه د ګل غوټۍ چې را سپړيدلې وي. تر يوې لمحې پورې هغه خپل ټول مسؤليتونه له ياده ويستلي و. هغه په دې آند و چې دهغې ښکلتيا دهغه په اعصابو باندې سپره شوې ده. خپل سر يې و ځنډه او په پوره غور سره يې وويل.

«نن ابو جعفر ستاسې کور ته درغلې و»

مارسي دقاسم خبره واوريده اوپه زوره يې وخندل او بيا يې داثبات له پاره سر وخوځآوه او ويې ويل: «تا ماته د ابو جعفر د جاسوسۍ له پاره ويلي و ، خو ددې څخه ماته ستا اصليت را څرګند شو ..... درونده شاهي سراغ رسانه ...!

قاسم لمړۍ پوه نه شو خو وروسته چې وپوهيده او د شرم څخه يې سرښکته کړ او مسکې شو.

« زه سهي ده ، که چيرې تاته ډاګيزه شوې وی نو ته يې داسې وګڼه چې مادرته د سلطنت له اړخه يوه نيکه دنده درسپارلې وه. خو اوس راته دا ووايه چې ستا د مور او ابو جعفر ترمنځ څه خبرې شوې دي.

مارسي په پوره متانت سره وويل « زه نن هغه وخت ډيره زياته حيرانه شوم چې وامې وريدل چې زما مور اوابو جعفر د قسطنطنيې د قيصر جاسوسان دي اودهغه له پاره کار کوي. زما په ذهن کې هم نه راتله چې زما مور دې په دومره خطرناکه سازش کې را نغښتې وي.... هو ! دا خلک دسازش په کړيو کې را نښتي دي ،پرون چې د ينې چرې کوم سالار وژل شوې دې ، نو ابو جعفر وايې چې په دې قتل کې شاهي سراغ رسان يعنې قاسم بن هشام هم شريک دې. ديني چري سالار اسلم خان د ابو جعفر ډير نژدې سړې و اوابو جعفر يې په مړينه باندې ډير خواشينې ښکاريده. هغه تاته د څه زيان د درسولو خبره هم کوله. تر هغې چې زه د خپلې مور او ابو جعفر د خبرو څخه پوهه شوې يم نو زه فکر کوم چې هغوی به اورنه ته د سلطان د راستنيدو د مخه کومه خطرناکه لوبه لوبوي. په دې خاطر ما تاته دخط د ليکلو په ځاې پخپله دلته د راتلو او له تاسره دمخامخ خبرو کولو پريکړه وکړه.

دمارسي دخبرو په اوريدو سره قاسم حيرانتيا ونه ښووله. ځکه هغه ته ددې خبرو په اړه د پخوا څخه معلومات تر لاسه شوې و خو هغه لږ څه شک يې چې په زړه کې و هغه هم اوس له منځه ولاړ ، هغه ته اوس دا ډاډمنه شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دلته په اورنه کې به ابوجعفر اودهغه ملګرې د سلطان د راستنیدو دمخه فساد اوبغاوت خپروي ، هغه د لږڅه خاموشۍ نه وروسته په هوډمنه توګه مارسي ته وویل:

« ته اندیښنه مه کوه زه به همدانن شپه ابوجعفر نیسم ، تر څو هغه پخپله د خپلو سازشي پلان ټولې کړې را بربنډې کړی»

مارسي ورته په حیرانتیا سره وکتل او په پوره جذبې سره یې ورته وویل: « ایا رینښتیا هم ته داسې کولې شې؟ ما خو اوریدلې دی چې ابوجعفر ان تر شاهي دربار پورې خپلې اړیکې غوځولي دي. هغه خو زما مور ته تسلي ورکوله چې شاهي سراغ رسان زمونږ هیڅ نه شي کولې ، ځکه چې هغه له ځانه سره شهزاده علاوالدین ملګرې کړې دې »

دشهزاده د یادونې سره سم د قاسم تندې ګونجې شو ، ځکه هغه دهره ځایه همدا خبره اوریده ، اوس نو دهغه په زړه کې دا شک را پیدا شو چې هسې نه چې د سلطان مشر زوې علاوالدین د ابوجعفر د نیولو په کار کې ورته خنډ پیدا نه کړي. هغه اوس په دې فکر کې شو چې څه ډول شهزاده د ابوجعفر د ملاتړ څخه لرې وساتي. کله چې مارسی وکتل چې قاسم ګونګ ناست دې نو خپله نازکه ګوته یې دهغه په زنګون کیښوده او زور یې ورکړ ، دمارسی په ګوته کې لکه دبرق په څیر ټکان و .داسې وبریښیده لکه قاسم ته یې شاک ورکړې وي ، یوناڅاپه را نیغ شو ، مارسی دهغه په کتلو سره مسکۍ شوه او رته یې وویل:

«په خداې ! ته یوخالصه عرب مسلمان یی. ستا ټول کرچار د یوشریف الطبع انسان نمایندګي کوي.... کله چې تاته وینم نو په زړه کې مې را ګرځي چې یوه لحظه هم له تا جدا نه شم. » ددې اخري خبرې په کولو سره دمارسی سترګې د حیا نه ښکته شوې.

اوس نو د قاسم نوبت وو ، هغه په شرارتې او مینه ناکه توګه وویل : « که چیرې د لرې کیدودومره ویره درسره وي ، نو یوځل ولې نه رانژدې کیږي. زما درنه مور او ورندار به ستا په کتلو ډیرې خوشحاله شی ، ته کله زمونږ کور ته راشه ، » دقاسم لمړۍ خبره بلکل ډاګیزه وه ، دمارسی مخ د شرم څخه تک سور شو اوپه خپل ځاې باندې یښغه نیغه شوه. قاسم داسې و انګیرله چې یوه ډیره ستره خبره یی ډیره ژر اوبې وخته کړې ده. په دې خاطر یی دخپلې خبرې د جوړولو هڅه وکړه:

«زما په‌آند چې په تا زمونږ دکور په لور دور تللو خبره ښه و نه لګیده. په دې خاطر خاموشه پاته شوې.»

مارسی د قاسم د خبرې په اوریدو سره ټکان‌وخوړ او سمدستي یی خپل سر راپورته کړ او دخپلې چپتیا په اړه یی څرګندونې پیل کړې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



« نه ، نه ، داسې مه وایه ، اوس خو ستا نوم زما له پاره ژوند ګرزېدلې دې . تاته به ډاګېزه شوې نه وي چې زه سکندر څومره تنګه کړې یم . په حقیقت کې زه او سکندر یو ځاې را ستر شوي یو . زما مور دهغه د پلار وینځه وه . په دې خاطر هغه ما دخپل پلار جاګیر ګڼي ...... سکندر هغه لورې د تللو دمخه هڅه وکړه چې ما هم له ځایه سره یوسي خو ما ترې ځان په دې خاطر شاته کړ چې هغه یو مسلمان دې او زه یوه عیسایي ، زه نه غواړم چې دیوه مسلمان سره واده وکړم . ما خو ترې په همدې بهانه ځان په څنګ کړ . خو اوس هغه د اسلام څخه بېرته اوختې دې . او عیسایي شوې دې . زه هره لحظه دخپل ځان د خوندي پاته کېدو په اړه اندېښمنه یم . ځکه زما مور غواړې زه د سکندر سره واده وکړم . سکندر چې هغه لورې ته ورته ، نو دایي ویلي و چې هغه به ډېر ژر ما هلته ور وغواړي ، نو په داسې حالاتو کې ستا وجود زما له پاره دپناه اخستو بهترین ځاې دې .

دمارسي دخبرو څخه دقاسم په جود کې د سکندر پر خلاف د قهر او غضب څپې را پیدا شوې. هغه ددې نه مخته د مارسي په دغه قصه او غم باندې نه وخبر . هغه ته دا ډاګېزه شوه چې مارسي سهي خبره کوي ، د سکندر په څېر د یوه حیوان صفته انسان څخه هر عمل شوني دې . اوس نو قاسم مارسي له خپله ځانه سره نوره هم نژدې احساسوله ، په یوه عزم سره یې هغې ته وویل :

مارسي ! تا ډېره ښه وکړه چې په وخت دې دسکندر د عزایمو څخه خبر کړم . اوس به زه هڅه کوم ستا په اړه هم ځان اګاه و ساتم . ته اندېښنه مه کوه ، زه نن شپه ابوجعفر نیسم ، زه هیلمن یم چې دلته په اورنه کې به زه دهغه او د سکندر د ملګرو په اړه پوره معلومات تر لاسه کړاې شم . او ډېر ژر به ټولې مهرې را بربنډې کړم او په دې توګه به ستا داندېښنو لړۍ هم پاې ته ورسیږي

قاسم تر اوسه پورې خپله خبره نه وه خلاصه کړې چې د بګۍ نه بېرون دپښو ترپار شو ، قاسم لکه دپړانګ په څېر متحرک شو او سمدستي یې د بګۍ شاتنۍ پرده پورته کړه ، اکبر په بیړه دبګۍ په لور ور روان و دقاسم په تندې باندې غونجې پیدا شوې وې . هغه فکر کاوه چې هرو مرو کومه خبره راپیدا شوې ده ، پرته له ځنډه د بګۍ څخه را ووت . په دې وخت کې اکبر هم را ورسید . اکبر دراتلو سره سم وویل :

« مایو آس سپور وکوت چې ددې یادګار په شاوخوا کې ګرزیده . او د دیوال دچاودنو څخه دننه یې دیادګار د کتلو هڅه کوله .»

دې خبرې د قاسم په اعصابو باندې بد اغیز وکړ ، سمدستي یې خپله توره را وویسته او اکبر ته یې وویل ، ته په بګۍ کې کینه ، زه به بېرون دحالاتو څارنه وکړم . اوس باید مونږ ددې ځآیه و لاړ شو .» قاسم ددې خبرې په کولو سره دخپل آس په لور ورغې ، ماسي هم داکبر خبرې اورېدلې وې ، دهغې زړه ددې نوو حالاتو په را پیدا کېدو سره درزیده . په دې خاطر یې دخپل پړونې لاندې پټ خنجر را وویست او په لاس کې یې ونیو ، قاسم په خپل اس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپور شو او د یادګار ددروازې څخه بیرون ووت. هغه داس په شا هم دهرډول حالاتو سره دمقابلې له پاره تیار و. په یوه لاس کې یې توره نیولې وه او په بل کې دآس قیضه. هغه خپل آس په بیړه باندې و ځغلاوه او د یادګار شاوخوا یې ټوله سیمه و څارله. دهغې سترګې په پوره تیزۍ سره هرې لورې ته متوجه وې او غوږونه یې دهر ډول اواز داوریدو له پاه خلاص وو. هغه ځلورو خواوته نظر و ځغلاوه خو هیڅوک یې تر سترګو نه شول، بیرته راستون شو او اکبر ته یې اشاره وکړه تر څو بګۍ راوکاږي. دې په خپل اس سپور و او بګۍ یې تر څنګ تیره شوه. مارسی دبګۍ پرده پورته کړه او په استفهامیه توګه یې قاسم ته وکتل اودسترګو په اشارې سره یې د حالاتو په اړه معلومات تر لاسه کړ. قاسم ورته په ټیټ اواز سره وویل:

« داند یښنې خبره نه شته. کیدې شي اکبر ته کومه غلط فهمي پیدا شوي وي. په هر صورت تاسې ولاړ شئ. په لاره کې هیڅ ډول خطر نه شته. لږ وروسته لمر پریوځې اودماښام تیارې خپریږي. په دې خاطر د تیارو دمخه تاسې خپل کور ته ستانه شئ»

کله چې یادګار ته رانژدې شول نو اکبر د بګۍ اس ته لښته ورکړه ، اوبیا په څو لمحو کې بګۍ دښار منځته رسیدلې وه.

قاسم د ابوجعفر دنیولو له پاره د شپې د نیمایی وروسته خپل پلان تر تیب کړې و ، نن ورځ د قاسم له پاره د ټولو مصروفترینه ورځ وه. تر اوسه پورې هغه د خپل پلان دپلې کولو له پاره پوره وخت درلود، په دې خاطر یې دښاره کرایه کړې آس بیرته هغه ځای ته ورساوه اوپه خپله دخپل کور په لور روان شو.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

# دقيصر جاسوس

پخنبه نیمه شپه وه چې بهرام خان او قاسم دواړه د روزل شوو امنیتي عسکرو سره یو ځای د ابوجعفر کور تر خپلې کلابندۍ لاندې راوستې و. غوښتل یې په څو لمحو کې خپل کاري پلان پلې کړي. کله چې ټول کسان په خپلو خپلو ټاکلو شوو ځایو باندې و دریدل نو بهرام خان او قاسم خان دواړه ور مخته شول او د ابوجعفر دکور دروازه یې ور وټکوله. دایو ستر او عالي شانه ماڼۍ وه. په روازې د ټک ټک کولو اواز د شپې په چپتیا کې تر ډیره ډیره ځایه پورې رسیده. دبهرام خان رنګ تک ژیړ تښتیدلې و. ځکه هغه ویریده چې د غرب په خطیب باندې به دلاس دپورته کولو څخه په ښار کې فساد اوبغاوت را پورته شي. بهرام تر اوسه دې ته تیار نه و چې دابوجعفر دجاسوسۍ خبره و مني. ځکه هغه د بهرام خان د امنیي د ندې داخستو تر مخه هم همدلته میشت و. هغه حیران و چې دا سړې څنګه یو ناڅاپه جاسوس وخوت. هغه په دې فکر کې ډوب و چې د سراغ رسان په څیر د قاسم په ټاکلو کې سلطان ډیره غلطي کړې ده. هغه ته قاسم یوبې تجربې او احساساتي ځوان ښکاریده ، هغه په همدې غمونو کې ډوب و او دزړه درزار یې وار په وار زیاتیده. په همدې وخت کې د کور ددروازې د پرانستو اواز واوریدل شو ، بهرام یو دم د دروازې په لور وروکتل ، دروازه دابوجعفر غلام څوکیدار پرانستې وه. هغه هم ددروازې دپرانستو سره سم په ډیره خرابه لهجه ویوښتل:

« څوک یاستئ..؟ تاسې نه پوهیږئ چې نیمه شپه ده ، د څه له پاره دلته راغلي یاست ؟»

ددوې سره مله نور عسکر شاوخوا تیار ولاړ و. ددې څوکیدار مخې ته یواځې بهرام او قاسم خان ولاړ وو. قاسم ورمخته شو او دڅوکیدار سره یې په خبرو پیل وکړ.

« مونږ غواړو د غرب دخطیب سره ووینو ...... مونږ دهغه په نوم د قونیا څخه دسلطان خاص پیغام له ځانه سره راوړې دې. ابوجعفر ته ووایه چې سالار ریاض بیګ د قونیا څخه دسلطان خصوصي پیغام له ځانه سره راوړې دې.

دقاسم دخبرو په اوریدو سره څوکیدار دخپلې غصې څخه را ټیټ شو او شاته ولاړ او په یوه منډه یې ځآن د ابوجعفر خونې ته ورساوه. قاسم ددې فرصت نه ګټه پورته کړه او عسکرو ته یې خپلې شاته د راتلو او کور ته د ورننوتو حکم وکړ. اوس نو هغه خپله توره هم را ویستلې او په لاس کې نیولې وه. او د توپان اوسیلۍ په څیر دکور دننه ورغې. هغه څوکیدار کوت چې په کومه ولاړ ، دهمغسې پسې قاسم ، بهرام او نور عسکر هم همغه لورې ته ورغلل اوپه دهلیز کې و دریدل. قاسم په اخري کونج کې دبندې کمرې په لور ورغې ، دقاسم تر مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څوکيدار هم همدې خونې ته ورننوتې و . کمرې ته د ورننوتلو سره سم قاسم ودرید ، خو هلته هیڅ اواز نه اوریدل کیده . دروازه یې لږ څه ور ټیل وهله ، ویې کتل چې ددیوال تر څنګ یو مشال روڼ دې خو هغه کمره خالي وه . هغه په پټو قدمونو سره دننه ورغې او په حیرانتیا سره یې څلورو خواو ته کتل ، دا دهغه ځای منځنۍ کمره وه . او په ډاډ سره چې دهغې تر شا د کور نورې خونې هم وې . ځکه چې ددې کمرې په دیوال کې دروازه هغه لورې ته پرانستل کیده .....دا دروازه پرانستې وه ، دا سې څرګندیده چې څوکیدار همدا اوس اوس دهمدې دروازې څخه دننه ورغلي و . کله بې چې دهغه بله اړخه اواز واورید نو همله ته تم شو ، داسې معلومیده چې دهغې لورې کوم کس دې لورې ته را روان دې ، قاسم سمدستي شاته ولاړ او تر شایې خپلو عسکرو ته هم حکم وکړ تر څو ددیوال سره ځانونه تکیه کړې . لږه شیبه وروسته د راتلونکو قدمونو اواز واوریدل شو اوبیا چا دروازه دهغه لورې څخه پرانسته ، قاسم خپله توره تیاره په لاسو کې نیولې وه ، بهرام اودهغه ملګري ساه نیولي ولاړ و ، دهغوی سره دې کمرې ته یواځې څلور کسه عسکر راغلي وو . پاته نور عسکر بیرون په خپلو خپلو ځایو کې ولاړ و . د دروازې د پرانستلو سره سم لمرۍ ابوجعفر خونې ته راننوت . هغه د شپې کالي په ځان کړې و او سترګې یې دخوبه ډکې وې . په کمره کې د قدم د ایښودو سره سم یې دحیرانتیانه خوله خلاصه پاته شوه . په کمره کې یې د شپږو وسله والو کسانو په کتلو سره سترګې پرانستې پاته شوې ،خو اخر هغه هم ابوجعفر و ، هغه دخپلې حوصلې په ځای کولو کې ځنډ ونه کړ ، سمدستي یې خپل ځان ډیر غضبناکه ونیو ، او په ډیره قهرجنه توګه یې بهرام ته وویل :

« بهرامه !.... دا څه بدتمیزي ده ...؟ تاسو زما کورته ، زما د اجازې پرته څنګه را ننوتي یاست ؟

دابوجعفر په خبرو د بهرام پښې په لړزیدو شوې ، هغه غوښتل په معذرت ډوله توګه څه ووایي ، خو قاسم ورمخته شو او خپله لوڅه توره یې د ابوجعفر په سینه کیښوده او مار په څیر د پرشیدو سره یې ورته وویل :

« دشنو سترګو نقلي عربه او د قسطنطنیې دقیصر خطرناکه جاسوسه ، ته په مسلمانو عسکرو باندې سترګې را باسې . لمرۍ خپل ګریوان ته وګوره .» دا د قاسم له اړخه یوه رواني حربه وه . چې دهمدې حربې له مخې ورته زیاته بریا په برخه شوه . ځکه ابوجعفر یو ډیر ښه روزل شوې جاسوس و ، دهغه په سترګو کې دقاسم خبره تر یوې لمحې پورې ګرزیده خو وروسته یې بیرته خپله حوصله په ځای کړه او په ډیرې غصې سره یې وویل :

« ته څه اپلتې وایې ؟ دا څنګه دجادې نه وتلي خبرې کوې . ته څه ویل غواړې ؟ ..»

بهران چې پخپله هم یو ډیره پوه سراغ رسان ګڼل کیده ، د ابوجعفر مخ ته یې په ډیر غور سره کتل ، هغه په زړه کې وویل ...... قاسم په ابوجعفر باندې په لاس پورته کولو کې غلطي کړیده . دا هغه څوک نه دې چې قاسم یې په لټه کې دې ...... قاسم هم د ابوجعفر د ځواب څخه نا هیلې شوې و ،خو هغه د ابوجعفر د پرواه کولو پرته خپلو سپاهیانو ته حکم وکړ چې : « لاس و پښې یې و تړۍ او د پټې محکمې ځمکنۍ برخې کې یې ور وغورزوئ ، »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم دخبرو سره سم دهغه عسکرو پر ابوجعفر باندې لاسونه وتړل او د تورو ترمنځ يې را ښکيل کړ. ابوجعفر خپل ځان ډير ډاډه او مطمئن ښوده خو په حقيقت کې هغه ټول دننه وجود به لړزان وو. عسکرو دهغه لاسونه د شالورې ته په زنځيرونو تړلي و و. دبهرام مخ د ويرې څخه ژيړ ګرزيدلی و ، قاسم د بهرام حالت ډيره ښه احساساوه ، دهغه په اوږه يې لاس کيښود او ورته يې وويل:

« بهران خانه ! ته انديښنه مه کوه ، له ما سره راځه ، زه به ستا تر مخ دهغه څخه دا را ډاګيزه کړم چې اصلي نوم يې څه دې. ته دا فکر مه کوه چې هغه د شلو کالو راهيسې دلته ميشت دې. ايا تا ته دقيصر دسازشي لوبې او په دې اړه د اوږدو پلانونو په اړه معلومات نه شته. له ما سره يو ځاې راځه... !

بهرام خان چې دقاسم پريکړه واوريده نو په لړزه شو. ځکه قاسم غوښتل د ښار يو مذهبي لارښود ته دهغه په پټنځاې کې اذيت او تکليف ورکړي ، د بهرام له پاره دا خبره دزغم وړ نه وه. هغه فکر کاوه چې که چيرې قاسم د غرب خطيب ته اذ يت ورکړې نو په ښار کې به اړو دوړ را پيدا شي. هغه په زره کې پريکړه وکړه چې قاسم به د اذيت ورکولو د فکر نه تير کړي ، په همدې فکرونو کې هغه د قاسم او ابوجعفر سره يو ځاې بيرون راووت. په همدې وخت کې دهغه په ذهن کې يوه خبره راغله او بيرون ته د را وتلو سره سم يې خپلو سپاهيانو ته وويل :

« تاسو اوس ابوجعفر د ښار د کوتوال په زندان کې واچوئ ، دهغه څخه به د پلټنې کار سبا سهار وختی پيلوو. په دې وخت کې پټې محکمې ته دابوجعفر وړل اړين نه دي.»

قاسم غوښتل څه ووايي خو بهران دلاس په اشارې څخه هغه منه کړ او ورته يې وويل:

« څه ويلو ته اړتيا نه شته ، زه د سرکاري ليکنو پرته دومره مهمه شخصيت په خپلو پټو پلټنځايو کې نه شم ساتلې. کله چې هغه د کوتول په زندان کې ور پريوځي او نوم يې هلته ثبت شی نو بيا يې مونږ خپل پلټنځايو ته ور وړلي شو.»

داسې بريښيده چې بهران په سهي وخت کې غلط قدم واخست. څرګنده وه چې د امنيت عسکر د بهران خان دحکم لاندې و ، قاسم ته سمدستي داسې ډاګيزه شوه چې په لاس راغلي ښکار له لاسه ووت.. سپاهيانو ابوجعفر له ځانه سره بلې لورې ته بوت ،دهغوې سره د دې پټې محکمې ټوله ډله ملګري وول ، په همدې وخت کې بهرام قاسم خان ته وويل:

« تا ډيره ستره غلطي وکړه ، اوس دعا کوه چې په ښار کې د ابوجعفر د نيولو دخبرونو څخه کومه غوغا اوفسا د را پيدا نه شي ، ځکه بله ورځ د جمعې مبارکه ورځ ده او په دې ورځ به په ټولو غونډو کې دابوجعفر د نيولو په اړه خبرې کيږي ، که داسې پيښ شول نو مونږ دواړو ته به ډيره ستونزه را ولاړه شي. دسلطان زوې به پرمونږ باندې لاس پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبهرام دخولې څخه د سلطان دزوې دکليمې د راوتلو سره سم ، قاسم د سلطان محمد په اړه په فکر کې شو ، هغه ته دا رایاد شول چې سلطان محمد ورسره د دوستۍ لاس ورکړې ، هغه هوډ وکړ چې سباسهار وختې به د شهزاده محمد سره د ابوجعفر د نيولو خبره مطرح کوي ، همدغې خبرې هغه ته يو ډول ډاډ ور په برخه کړ او دخپل آس په لور ولاړ، په دې وخت کې بهرام هم په خپل آس سپور شوې و . دوې دواړه تر ډېره ځايه يو دبل سره يو ځاې روان و . بيا قاسم دبهرام څخه اجازه واخسته او دخپل کور په لور ولاړ .

نن قاسم ډير ستومانه شوې و . ځکه هغه په يوه وخت کې ذهني او جسماني جنګ را ښکيل شوې و ، کله چې په خپله بستره کې څملاست نو متوجه شو چې بدن يې ټول مات مات دې . کمبله يې په ځان را واچوله او څو لمحې وروسته په خواږه خوب ويده شو .

هغه تر ډيره پورې ويده و ، دهغه ورور او ورندار هم دا فکر کاوه چې هغه ستومانه شوې دې نو په دې خاطر يې د سهار چاې ته را پانه ځاوه . دهغه ورور او وريرونه يې خپلو خپلو مکتبونو لورې ته تللې وو ، او ورځ ښايسته ډيره راپورته شوې وه .

د ورځې د يوې برخې دتيريدو وروسته دهغه سترګې د دروازې په ټکار باندې را پرانستل شوې . ځکه چا د طاهر هشام دکور بيرونۍ دروازه په زوره زوره ووهله . هغه خپلې سترګې مښلې او په دې حيران و چې ويې کتل دومره ورځ يې په خوب کې تيره کړې ده . د بسترې نه راووت او څپلۍ يې په پښو کړې او د بيرونۍ دروازې په لور ورروان شو ، ددروازې دپرانستلو سره سم يې هغه وخت سترګې پرانستې پاته شوې چې......

دهغه تر مخه ابوجعفر ولاړ و . دهغه په مخ زهرجنه خندا وه ، تر څنګ يې څلور کسه سپاهيان او څو نور لاس پوڅې هم ولاړ و . دابوجعفر د کتلوسره سم د قاسم خان دخولې نه په نا څآپې توګه را ووتل: «ته ؟»

دهغه سترګې دحيرانتيا څخه بوټې راوتلې وې . هغه باور نه شو کولې چې هغه ابوجعفر چې هغه څو ساعته مخته په پوره ميړانې سره نيولې و او د کوتوال په زندان کې يې اچولې و ، هغه اوس په ړڼا ورځ په پوره ازادۍ سره دهغه تر مخه ولاړ دې . ابوجعفر چې قاسم دومره حيران دريان و کوت نو په خپله زهرجنه خندا کې يې وويل: « قاسم بن هشامه ! زه دشلو کالو راهيسې په اورنه کې په پوره عزت اودرنښت سره شپې سبا کوم . خو دلته ستا د راتلو څخه تر اوسه څو په شمار ورځې تيرېږي ..... هغه څه چې تا له ماسره وکړل دهغې دحساب ورځې به ډيرې ژر راشي . خو اوس زما سره د غه سرکاري مامورين غواړي تا دشهزاده علاوالدين دربار ته وړاندې کړي . دا بايد ډاګيزه وي چې زه دشهزاده علاوالدين د ځانګړې حکم په واسطه را پريښول شوې يم .

د ابوجعفر په خبرو د قاسم وجود ټول دقهر اوغصې څخه په اور کې سوزيده ، د ابوجعفر په سترګو کې يې سترګې ور ننويستې او ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ابوجعفره ! ته زما د ولکې څخه خوندي نه شې پاته کیدې. زه ستا د ټولې لوبې څخه خبریم. زه به د شهزاده علاوالدین تر مخه ستا له مخه دغه نقاب لرې کړم. او یاد ساته کله چې زه تا یو ځل بیا ونیسم نوبیا به هیڅوک هم تاته زما د غضب څخه نجات در نه کړاې شي.

ابوجعفر د قاسم په خبرو باندې په زوره زوره وخندل ،دهغه په مخ د شیطانت نښې د ورایه ځلیدې، ابوجعفر په زهرجنې خندا سره وویل: « ته نور ما نه شې نیولې، ځکه له تاسره زما په خلاف هیڅ داسې ثبوت نه شته چې شاهي دربار کې یې وړاندې کړاې شي. ما شهزاده ته ستا په اړه ټولې خبرې کړې دي. اوس به ته د ینې چرې د یوه سرتیرې قومندان « اسلم خان» د وژلو په اتهام بندي خاې ځې.

د ابوجعفر د مکر نه ډکې خندا ټوله فضا را نغاړلې وه. او قاسم ته دابوجعفر دخبرو انداز د زغم نه وتلې و. خو هڅه یې کوله چې خپل ماغزه ساړه کړي، نو ځکه یې یو سرکاري مامور ته و کتل او ورته یې وویل:

« تاسو وواياست، چې تاسو د څه له پاره دلته راغلي یاست ؟ د قاسم په خبرو کې نرې شانته طنز و ، سرکاري مامور چې یو ښایسته او ښکلې ځوان و په لږ څه سخته ژبه وویل:

مونږ له ځانه سره ستا دبوولو له پاره راغلي یو ....مونږ د شاهي ګارډ د ساتونکو د ډلې عسکر یو ، او دلته د شهزاده سلطان علاؤالدین بن سلطان مرادخان ثاني په حکم راغلي یو .....

قاسم دهمدې حالاتو له پاره تیار شوې و. هغه دځوان څخه کور ته د وبیرته ورننوتلو اجازه واخسته، کورته دننه ورغې، دهغه مور ،پلار او ورندار په دې نه و خبر چې ددروازې نه بیرون څه روان دي. قاسم په کور کې دڅه ویلو پرته د ضروري کارونو څخه ځان فارغه کړ اوبیا یې خپلې ورندار ته وویل چې د شاهي دربار په لور ورځي، ددې خبرې سره سم بیرون راووت.

دا دشهزاده علاوالدین سره دقاسم خان لمړنۍ لیدنه کتنه وه ، هغه په لږ څه بې پروايي سره د شهزاده تر مخه و درید، شهزاده ورته په ډیره غصه وویل :

اوریدلي مې دې چې ته معظم سلطان شاهي سراغ رسان ټاکلې یې. داسې معلومیږي چې د روند سلطان نور زوړ شوې دې ، دلته په اورنه کې کوم قیامت راتلونکې و چې د شاهي سراغ رسان دټاکلو پورې یې خبره ورسیده. تا خو زمونږ د سلطنت په یو ډیر عزتمنده سلاکار باندې لاس اچولې اوهغه ته دې سپکاوې کړې، مونږ به د روند سلطان ته ستا ددې کار او ددې سپکاوي په اړه شکایت کوو. ترڅو چې معظم سلطان د قونیا څخه را ستنیږي نو تر هغه وخته به ته دلته زمونږ سر بندي یې. ستا د بې باکۍ او بې عقلۍ سزا به په خپله سلطان ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهزاده دخبرو په اوریدو سره د قاسم دپښو لاندې زمکه و خویده. ابوجعفر ریښتیا ویلي و، لوبه بلکل بدله شوې وه ، د شهزاده د خبرو څخه ډاګیزه کیده چې د قاسم دخبرو اوریدو ته تیار نه دې. خوبیا هم قاسم جرءت وکړ او ویې ویل:

دورنده شهزاده ! زما په نظربند کولو کې بیړه مه کوه ...... لمړی.....

شهزاده قاسم خبرو ته پرې نه ښود او دهغه خبرې یې په منځ منځ کې غوڅې کړې:

چپ شه ! خبرو کولو ته دې ضرورت نه شته. که چیرې معظم سلطان تاته دومره عزتمنده ځاې نه وې درکړې نو مونږ به همدا اوس او په همدې شیبه ستا سر له تنې جدا کړې و.

اوس نو قاسم ته د ویلو ځاې نه و پاته. ځکه د شهزاده دروازه چیان د بربنډو تورو سره هملته دحکم منلو ته په لیکه ولاړ و. قاسم په پوره ناهیلۍ سره د شهزاده په لور وکتل او د بې وسۍ نه یې سر ښکته کړ، هغه په همدې فکر کې و چې د ابوجعفر پلان بریالې شو او قاسم و نه توانید چې اورنه د قیصر د جاسوسانو څخه خوندي و ساتلاې شی. د شهزاده د حکم سره سم ساتونکو قاسم خان په خپله ولکه کې واخست. او هملته په شاهي محل کې یې په خصوصي زندان کې بندي کړ. دا زندان د نورو په څیر د اوسپنې د سلاخو څخه نه و جوړ شوې، دا یوه پراخه کمره وه او څلورو خواو ته یې کړکۍ وې، خو هرې کړکۍ ته بیا د اوسپنې سلاخونه لګیدلي و او بیرون ترې وسله وال ساتونکو پیره کوله.

اوس نو قاسم د اورنه دخوندي ساتلو له پاره هیڅ نه شو کولاې. ان تر دې چې په دې شاهي زندان کې یې بل زنداني ملګرې هم نه وچې خبرې یې ورسره کړې واې ، هغه ټول وخت په همدې فکر کې ډوب و چې څه ډول به وتوانیږي چې اورنه د بغاوت اوفساد څخه خوندي و ساتلاې شي.

خو دهغه دهمدې کار په واسطه ابوجعفر په خپله په یني چري کې د بغاوت را پاڅولو پلان شاته غورزولې و. هغه ډیر زیات چالاکه او شاطر انسان و. هغه فکر کړې و چې په داسې حال کې چې دهغه رقیب اوس دشهزاده علاؤالدین تر مخه د بغاوت در اپیدا کیدو خبره کړې ده ، ......نو په دې خاطر دا به مناسبه نه وي چې دومره ژر بغاوت راپورته کړي، که چیرې دا کار وشي نوبیا به دشهزاده باور را باندې له منځه ولاړ شي ، په دې خاطر هغه سمدستي دخپل سازش ټولو کړیو ته خبر ورکړ چې دبغاوت اوفساد له پاره جوړ کړل شوي پلان تر یوه وخته پورې شاته و غورزوي ...... هغه نه غوښتل چې د بهران اوشهزاده تر مخه دقاسم خان خبرې او اندیښنې سهي ډاګیزه شي. همغه و چې هغه د قاسم خان د دراغژن کیدو په خاطر خپل پلان و ځنډاوه. د بله اړخه قاسم خان د وخت په تیریدو سره ورځ په ورځ نا ارامه کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې تیرې شوې ،مارسي هم ډیر ه اندیښمنه او غمژنه وه ، دقاسم د کورنۍ کسان هم وراخطا او ویرې اخستې و.ځکه قاسم دهمغې ورځې څخه چې تري تم شوې و ، تر اوسه پورې یې درک نه و لګیدلې. دهغه ورور طاهر د ښار کونج کونج و لټاوه ، هغه د ښار د کوتوال د سپاهیانو سره یو ځاې د ښار ډیر ځایونه تر سترګو تیر کړل خو د قاسم په اړه یې کوم معلومات تر لاسه نه کړاې شو . اوځنګه به ورته معلومات تر لاسه شوې واې ځکه هغه خو د سلطان په محل کې زنداني پروت و .

مارسی به هره ورځ خپل کوچوان اکبر د قاسم پسې استوه. خو هغه به بیرته هر ماښام ناهیلې را ستنیده. هغې اکبر د لاله شاهین یادګار ته هم ځو ځو ځله استولې و. او دوه درې ځلې د طاهر کور ته هم.

یوه ورځ مارسی فکر وکړ چې د ابوجعفر په اړه معلومات تر لاسه کړي. ځکه چې قاسم ورته په اخري کتنه کې د ابوجعفر د نیولو په اړه د خپل پلان خبره کړې وه.

په داسې حال کې چې اکبر مارسي ته همدومره ویلی و چې ابوجعفر سهي سلامت دې او په ښار کې موجود دې. مارسي داسې انګیرلې وه چې ابوجعفر تر اوسه پورې بلکل نیول شوې نه دې. خو هغې ته د اندیښنې خبره دا وه چې هغه ولې ددومره وخت دتیریدو سره سره بیا هم دهغې دمور دکتلو له پاره دهغوې کورته رانغې مګر دهغې مور پخپله دوه درې ځلې دکوره وتلې وه. مارسي ډیره هڅه وکړه چې دخپلې مور د سترګو څخه ځان اخوا کړي ، خو مارتها ډیره روزل شوې جاسوسه وه او دمارسي په دا م کې و نه نښته. مارسي خپل کوچوان اکبر د ابوجعفر په لور ور ولیږه ، تر څو دهغه د نوکرانو څخه دهغې شپې په باره کې تفصیلات را ټول کړي په کومه شپه چې دهغه د نیولو له پاره دهغه په کور قاسم د پولیسو سره یو ځاې یرغل وروړې و .....خو اکبر هم ونه توانید کوم خاص خبر تر لاسه کړي .او د قاسم په اړه به هغه څه ډول خبر تر لاسه کړې و ،ځکه چې هغه خو دهغه نا پوهه شهزاده په ځآرن ځاې کې بندي پروت و .

او بیا یوه ورځ خبر را غې چې د شهاب الدین پاشا په مشرۍ د ترکانو فوځ د «نیش» په سیمه کې د «هونیاډې» د لښکروسره د ټکر وروسته ډیره سپکه ماتې خوړلې .

پیښه داسې منځته راغلې وه چې سلطان مرادخان ثاني د کوچنۍ اسیا د قونیا په ښار کې د «کرمانیا دامیر» سره په جګړه کې بوخت و ، خو دبله اړخه عثماني لښکر د شهاب الدین پاشا او محمد چلپي په مشرۍ د «هونیاډې» دبې شمیره لښکرو د غشو د ګذار لاندې و . عیسایي لښکر د «ډینوب د دریاب» څخه تیر شوي و او د «نیش» په سیمه کې د عثماني لښکرو په مقابل کې یې خیمې وهلې وې. دهونیاډی د بیرغ لاندې د ټولې نړۍ د عیسایانو ډیره نامتو جګړماران را ټول شوي و ، په داسې حال کې چې د شهاب الدین پاشا تر قومندې لاندې یوا ځې اتیا زره تجربه لرونکې فوځ و . سهار وختي ددواړو فوځونو تر منځه جنګ پیل شو ، د **۱۴۴۳** کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسپښين په وخت کې د «نيش» په سيمه کې ددې دواړو ځواکونو ترمنځ سخته زمکنۍ جګړه و نښته. دمحمد چلپې پياده عسکر په ډيره ميړانه و جنګيدل. محمد چلپي پخپله هم په اس سپور دخپلو عسکرو لارښوونه يې کوله.

دماسپښين په وخت کې ، کله چې د جنګ ميدان د هرې لورې ګرم و او هرې لورې ته د انسانانو لاشونه په خپلو وينو کې تړپيدل ، نو داسې ډاګيزه شوه چې دمسلمانانو پله درنه شوې ده ، په همدې وخت کې قوماندان امير خان هم خپله پنځه زره عسکر د غرونو دپټنځايو څخه رابيرون کړل او د الله اکبر په نعرې سره يې په صليبي ځواکونو باندې يرغل راوست. هغه ددښمن په ميسره باندې يرغل وکړ او دهغوې ليکې يې يو په بله پسې و ځيرلې اوان ددښمن تر قلبه پورې ورسيد. هغه د پخوا څخه دا پلان درلود چې ددښمن د فوځ په اعلی قوماندان هونياډې به حمله کوي ، هغه په ډيره ميړانه خپل ځان د هونياډی پورې ور ورساوه ، خو کله يې چې شاوخوا وکتل نو پوه شو چې ددښمن د تورو د ګذار لاندې راغلې دې. خو امير خان د ويريدو په ځاې په خپلو متوکې نور توان هم را پيدا کړ او د هونياډې ساتونکې ډله يې ځيرې کړه ، په دې وخت کې د هونياډې اس دهغه تر مخه و. هغه تر ډيره وخته پورې توره چلوله خو ناڅاپه متوجه شو چې بازو يې له کاره وتلې دې ، هغه ته داسې ډاګيزه شوه چې د شهادت وخت يې را رسيدلې د ې. په همدې وخت کې يې په ذهن کې يو ډير عجيب فکر را ګرزيد ، په ډير قوت يې خپله توره د نيزې په ځير د هونياډې په لور ور و توغوله. تورې هم فضا ځيرې کوله اونيغه دهونياډې په شا کې ور ونښته. هونياډې دخپله اسه لاندې راپريوت. خو د بله اړخه امير خان بې وسلې شوې و ، په دې اساس ډيرې تورې پرې په يوه وار راپريوتې او دهغه وجود يې ټوټې ټوټې کړ...... دبله اړخه هونياډې خو داسه راپريوتې و خوبيرته سمدستې را پورته شو ، د تورې د ور شغولو په وخت کې د امير خان په لاسو کې دومره ځواک نه وچې توره يې دهونياډې په وجود کې ور ننوځي ، په دې اساس يواځې د توره ځوکه دهونياډی په وازده کې لږ څه ورننوتې وه، چې د هونياډې د راپريوتو سره سم ترې بيرته پخپله را و غورزيده. که څه هم هونياډې زخمې شوې و خو د پوره ميړانې څخه يې کار واخست او بيرته په خپل آس سپور شو.

په دې جنګ کې اغاحسن او ديني چري ګڼ شمير سالارانو ګډون درلود. خو په دې ټولو محمد چلپې ډير مصروف و. هغه خپل لښکر ان ددښمن تر قلبه پورې رهبري کړې و ، دهغه لښکريانو په ډيره ميړانه د دښمن په لښکرو باندې ګذارونه کول ، پخپله چلپې هم په اس سپور ددښمن په ليکو کې د برق په ځير ښې او چپ لورې ته ګذارونه کول. په همدې وخت کې محمد چلپې ددښمن دنيزې د ګذار لاندې راغې اودهغه د آس سينه يې ځيره کړه او بلې لورې ته ترې ووتله. خو محمد چلپې د آس د راپريوتو دمخه دهغې څخه ټوپ کړ او لاندې ودريد ، اوس نو هغه هم پياده شوې و ، توره يې لکه دبرق په ځير هرې لورې ته ړکيده ، او په پرلپسې توګه يې ددښمن ګڼ شمير سپاهيان له منځه يوړل ، خو هغه هم به ناڅاپې توګه د يوه افت لاندې راغې ، يوه غښتلې رسۍ چې يو سر يې ګنډه شوې و په هواکې لامبو وهونکې تر محمد چلپې پورې را ورسيده او پخوا ددې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپله دفاع وکړای شی ، رسۍ یی په څټ کې ونښته او د لږ مقاومت وروسته هغه په یوه جټکې سره په زمکه راپریوت، څکه چې درسۍ را غورزونکې خپل آس په مخالف لوري و ځغلاوه او محمد چلپې یی هم له ځانه پسې کشاوه.

د محمدچلپې د نیولو خبر د عثماني لښکر تر منځ لکه د اور په څیر خپور شو ، ددې خبر سره سم دعسکرو حوصلې کمزورې شوې او په دې توګه دماښامه نه مخته د جنګ پریکړه وشوه. د ترکانو لښکر په ډیره بده توګه ماتې خوړلې وه ، څلور زره ترکې عسکر ژوندی نیول شوي و او ګڼ شمیر نور بندیان شوي و اوپه دې توګه د شهاب الدین پاشا زړه ور لښکر د هونیاډې د ګڼ هیوادی لښکر په لاسو د عبرتناکې ماتې سره مات شو.

د ترکانو لښکر ته د ماتې د ورکولو وروسته د هونیاډې حوصله نوره هم ځواکمنه شوه. هغه د ترکانو د فوځ تر شا ان تر «صوفیه» بورې ولاړ اوهغه ځاې یی هم دمسلمانانو څخه ونیوه. څو ورځې وروسته یی د بالقان دغرونو څخه په تیریدو سره د «فلیپوپولس» په ښار حمله وکړه ، دلته ترکانو یو ځل بیا دمقابلې کولو هڅه وکړه خو داځل یی هم ماتې وخوړه. اوس نو دعیسایانو له پاره ډګر خالي و، دهغوې حوصلې د پرلپسې فتوحاتو په واسطه ډیرې قوې شوې وې.

تر اوسه پورې سلطان مراد خان د قونیا څخه بیرته نه و راستون شوې ، خو دخپلو لښکرو دماتې څخه هملته په کوچنۍ اسیا کې خبر شو. په دې خاطر یی ژر تر ژره د بیرته راستنیدو له پاره ځان تیار کړ. هونیاډې د «روملیا» او «د بالقان د درې» دتباه کولو وروسته د عثماني سلطنت دپاې تخت اورنه په لور په اسانۍ سره راتلاې شو ، څکه سلطان په اورنه کې نه و او د هونیاډې ځواکمن فوځ ته دسلطان په نشتوالې کې په اورنه باندې ولکه کول کوم ګران کار نه و. خو هغه غوښتل د خپلو دغو بریاو په اړه د عیسایي دولتونو څخه داتلوالې سند واخلي ، همدا علت و چې هغه په اورنه باندې د ولکې کولو په ځاې د بیرته ستنیدو پریکړه وکړه او د «بوډا» په سیمه کې یی دټنګ ټکور ،عیش ونوش او مستۍ کولو مجلسونو جوړ کړل.

قاسم ددې ټولو حالاتو څخه بې خبره پاته و. دمارسی اود قاسم د کورنۍ حالت ، دهغه په ورکیدو باندې ، نورهم ډیر خراب شوې و ، طاهر دخپل ورور قاسم په ورکیدو دومره اندیښمن و چې بلاخره یوه ورځ د سلطاني قصر په لور ولاړ.غوښتل یی چې د شهزاده محمد سره ووینې ،څکه قاسم ورته د شهزاده سره دخپلو اړیکو په اړه خبر ورکړې و. نن هغه هوډ درلود چې دشهزاده سره دلیدلو په وخت کې به ورته دقاسم د ورکیدو په اړه خبر ورکوي. کیدې شي شهزاده دهغه په راپیدا کولو کې ورسره مرسته وکړي. څکه چې شهزاده پخپله قاسم ته د دوستۍ کولو وړاندیز کړې و. طاهر ډیر زړه نازړه د شهزاده د کتلو له پاره ورغې څکه هغه پوهیده چې شهزاده ایله اوس د څوارلس کالو ځوان دي اودهغه څخه دکومې ټیکې پریکړې اخستل دهیلو نه لري بریښي. خوبیا هم طاهر هغه لورې ته ورغې. په دې وخت کې ډوب شوې په ډکې هم تکیه کوي...... په همدې ډکې د تکیه کولو له پاره طاهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشهزاده کتلو ته ورغي ، کله چې محل ته ور ننوت نو دمحل ناظم هغه په خپله خونه کې کيناوه ، اودهغه د راتلو په اړه يې شهزاده محمد ته پيغام ورکړ. شهزاده محمد ته چې کله څرګنده شوه چې دقاسم بن هشام ورور راغلې دې نو هغه د دربار دکوم شخصيت د ورليګلو په ځاې په خپله هلته ورغې، هغه دطاهر د کتلو له پاره د انتظار خونې ته ورغې ، د محل اعلې منتظم او نور سرکاري افسران دشهزاده د درننبت له پاره و دريدل.

شهزاده د طاهر سره ور غاړيوت او سمدستي يې ترې و پوښتل..

قاسم بن هشام چيرې دې ؟... هغه خو له ماسره ژمنه کړې وه چې کله کله به دلته سلطانى قصر ته راځې او له ماسره به ويني، خو دهغه وخته چې هغه تللې دې نو بيا يوځل هم دې لورې ته نه دې راغلې. که مونږ غوښتلې نو هغه مو را بللې شو خو فکر مو وکړ چې کيدې شي په خپلو کارونو کې مصروف و اوسي.

هغه وخت چې شهزاده دا خبرې کولې نو دمحل اعلې منتظم د شهزاده دخبرو په اوريدو سره ټکان وخوړ ،خو شهزاده او طاهر دواړه په خپلومنځو کې په خبرو و او هيڅ يوه هم د منتظم په لور توجه نه درلوده. کله چې شهزاده محمد د قاسم بن هشام د ورکيدو په اړه واوريدل نو حيران پاته شو. او دنور څه د ويلو نه پرته يې طاهر بن هشام له ځانه سره خپلې کمرې ته يوړ. دهغه په ذهن کې ډيرې زياتې خبرې ګرزيدې . په اورنه کې د قاسم په څير د يوه وګړي داسې ناڅاپه ورکيدل ددې خبرې نښه وه چې په اورنه کې کوم ژور او خطرناکه سازش روان دې ،اوس نه هغه هم په خپرو شوو افواهاتو باندې باور پيدا کړ ، او دا چې په اورنه کې دقيصر جاسوسان موجود دى ، خپلې د ناستې خونې ته د رسيدو سره سم شهزاده د طاهر څخه يو ځل بيا وپوښتل:

څومره ورځې کيږې چې قاسم غايب شوې دې ؟اودا راته ووايه چې په اخرې ځل هغه کومې لورې دتلو په خاطر دکوره وتلې و.

طاهر هشام حوسيلې وکړ او لږ څه په ټيټ اواز يې وويل :

اخرې ځل قاسم خپلې ورندار ته ويلې و چې د سلطانې قصر په لور ورځي ، دهغه د ورکيدو نن دريمه اونۍ برابره شوه ، پخوا مونږ دا باور درلود چې هغه به دخپلو کارونو په لړ کې کورته د راتلو وخت نه شي پيدا کولې، اوبيا زمونږ کور ته يو اجنبي شخص دا پيغام راوست ، چې قاسم د سلطان سره دکتلو له پاره قونيا ته تللې دې. خو دوه ورځې دمخه ماته څرګنده شوه چې قاسم قونيا ته نه دې ورغلې بلکه بلکل د اورنه څخه وتلې نه د ى.ماته ډيره انديښنه راپيدا شوې ده ، په همدې فکر کې مې هوډ وکړ چې سلطاني قصر ته ورشم او دشهزاده محمد څخه د کومک غوښتنه وکړم.

ځوان شهزاده په ډيره غور سره د طاهر خبرې اوريدې. د طاهر دهرې خبرې سره د هغه حيرانتيا په زياتيدو وه. په ځانګړې توګه کله چې هغه ته دا ډاګيزه شوه چې قاسم د اخرې ځل له پاره دسلطاني قصر په لور راغلې دې......

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه داسې وانګیرله چې قاسم دهغه د کتلو له پاره دلته راغلې و ،خو تر څنګ یې په ذهن کې دا فکر هم را ټوکیده ، چې په دې اړه باید د محل د مؤظفینو څخه پوښتنه وکړي. په دې خاطر یې د دروازې د ساتونکې په کومک دمحل اعلې منتظم راوغوښت. اوس نو هغه د طاهر سره نورې خبرې ونه کړې بلکه د اندیښنې په حال کې یې د کمرې فرش ته کتل ، په همدې وخت کې دمحل منتظم هم کمرې ته را ننوت. دهغه په مخ کې هم د اندیښنې نښې تر سترګو کیدې. هغه کمرې ته را ننوت او په ډیره مؤدبه توګه یوې لورې ته و درید. شهزاده محمد ورته وویل:

علي خانه !......د نن نه درې اونۍ مخته شاهي سراغ رسان قاسم بن هشام زمونږ سره دکتلو له پاره دلته سلطاني محل ته راغلې و ،خو هغه مونږ ته نه دې رارسیدلې.... ته په دې اړه ماته څه ویلې شې؟

دشهزاده دخبرو په اوریدو سره د علي خان په مخ کې د ویرې سیورې را ښکاره شول او په لړزیدلې اواز سره یې ځواب ورکړ « درونده شهزاده ! هو ! درې اونۍ مخته قاسم بن هشام دلته راغلې و خو ستا سره دکتلو په ځای هغه د شهزاده علاؤالدین سره دکتلو له پاره ورغلې و. او شهزاده علاؤالدین ......

علي خان څه ویل چې ناڅاپه تم شو .....دهغه ویناد شهزاده تر څنګ طاهر هم خپل ځانته متوجه کړې و. ضرور کومه داسې خبره شته چې علي خان یې د ویلو څخه ویریده. شهزاده محمد ورته په غصه شو او ورته یې وویل:

علي خانه ! خبره دې ولې بنده کړه... ماته ووایه چې قاسم بن هشام زما د ورور سره دکتلو وروسته بیا چیرې ولاړ ؟مه ویریږه ، څه چې درته معلوم دې ټول مونږ ته ووایه.

اوس نو د طاهر زړه په سینه کې په درزهار و. خداې پوهیږې چې علي خان به څه ویل غوښتل. د شهزاده محمد اوطاهر سترګې دعلیخان په مخ نښتې وې. په دې وخت کې ورته علیخان ډاګیزه کړه چې شهزاده علاؤالدین خو قاسم بن هشام په اورنه کې د فسادونو د پیداکولو او امن ته د زیان رسولو په جرم د معظم سلطان دبیرته راستنیدو پورې په شاهي زندان کې بندې کړې دې. داخبر د شهزاده محمد له پاره غیر متوقع و. هغه ته دا څرګنده وه چې دهغه مشر ورور د سلطنت ولیعهد دې او دسلطان په نه موجودیت کې احکام جاري کولې شي خو هغه ته دا څرګنده نه وه چې دهغه مشر ورور د قاسم بن هشام په څیر میړنې ، مخلص او دامن راوړنکې مجاهد شخصیت په بندیخانه کې هم اچولې شي ، ښکاره ده چې شهزاده علاؤالدین د شهزاده محمد څخه ستر هم و او دواک او اختیار خاوند هم. دطاهر بن هشام حالت هم ډیر غمژن و ، هغه ته بلکل دا ډاګیزه نه وه چې شهزاده علاؤالدین دکوم ډول خطرې د راپیداکیدو په اړه دهغه ورور بندې کړې دې. طاهر او شهزاده محمد دواړه په همدې فکرونو کې ډوب ناست و چې اعلې منتظم علي خان دوې ته یو بل ټکان ورکونکې خبر هم واوراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«درونده شهزاده ! په حقیقت کې شاهي سراغ رسان قاسم بن هشام په ناڅاپي توګه د غرب خطیب ابوجعفر نیولې و او په هغه یې داشک پیدا کړې وه چې هغه د قیصر د جواسیوسو د شبکې مشر دې.... اوتاته معلومه ده چې شهزاده علاؤالدین د غرب د خطیب ابوجعفر ډیر درنښت کوي، شهزاده علاؤ الدین فکر کړې چې قاسم بن هشام د ښار اوسلطنت په یوه ډیر عزتمنده انسان باندې لاس اینښودې دې اوپه دې توګه یې په اورنه کې دامن ثبات ته دزیان داړولو هڅه کړې ده......همدا علت دې چې هغه قاسم بن هشام د خپله ځانه سره نظربند کړې دې.

اوس نو شهزاده د ډاډ ساه واخسته. ځکه هغه ته دپیښې په اړه معلومات تر لاسه شو. سمدستي یې دخپل مشر وزور سره د کتلو پریکړه وکړه اوعلی خان ته یې د بیرته تللو اجازه ورکړه. اوس نو هغه غوښتل د شهزاده علاوالدین دربار ته ورشي. طاهر بن هشام یې په میلمستون کې په انتظار کې کیناوه. اوپه خپله د شهزاده علاؤالدین خاص کمرې ته ورننوت.

د شهزاده علاوالدین له پاره د شهزاده محمد خبرې هسې دکوچنیوالي خبرې معلومیدې. په دې خاطر یې د شهزاده محمد د خبرو د اوریدو وروسته وویل: زه به د سلطان د راتلو تر مخه دا نالایقه شاهي سراغ رسان ازاد نه کړم. که چیرې خداې ناخواسته دسلطان په نشتوالي کی دلته په اورنه کې بغاوت را پیدا شی نوبیا به دهغه مسؤلیت د چا په غاړه وي؟

خو شهزاده محمد دهغه د خبرو څخه ډاډمن نه شو. اوپه احتجاجي توګه یې وویل: درونده اوعزتمنده وروره !......ته ولې په دې فکر نه کوې چې دغه ځوان په خپله سلطان دلته په اورنه کې د سازش کونکو د جرړو د پیداکولو له پاره شاهي سراغ رسان ټاکلې دې،اوس نوکه ستا په خاطر دهغه په کار کې کوم خنډ راشي نوبیا به دهغې مسؤلیت د چاپه غاړه وي؟

دشهزاده محمد خبرو په علاوالدین باندې هیڅ اغیز و نه کړ. بلکه هغه دپخوا په څیر په سخته لهجه باندې وویل:

محمده ! ته، تر اوسه پورې کوچنې هلک یې. تاته څه معلوم، چې قاسم بن هشام په اصل کې څوک دې؟ مونږ ته خو د مغرب خطیب ابوجعفر ویلی دي چې دا سړې په تیره میله کې ناڅاپی راپیدا شوې دې او په یوې مقابلې کې یې د معظم سلطان زړه ګټلې دې. اوبیا چې کله سلطان د قونیا په لور روان شو نو هغه دغه سړی ته دلښکر سره دتللو حکم کړې و خودغه سړي د بهانو په جوړولو سره دلته دپاتې کیدو له پاره ځانته زمینه برابره کړه او د یوه نامعلوم سازش د ځپلو له پاره یې سلطان ډاډمن کړ. ساده زړي معظم سلطان هم ددې شکمن شخص په خبرو باور وکړ او هغه یې د جنګ میدان ته دوړلو په ځاې همدلته په اورنه کې پریښود....ته پوهیږې چې ابوجعفر زمونږ دسلطنت پخوانې وفاداره شخصیت دې، همدا خبره قاسم بن هشام ته د زغم وړ نه وه نو په دې خاطر یې زمونږ د سلطنت په وفاداره شخص باندې حمله وکړه ،کله چې بهرام خان ماته دهغه د نیولو په اړه خبر را کړ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ سمدستي ابوجعفر خوشې کړ او د قاسم خان د بندی کولو احکام مو ورکړل .....ته ډاډه اوسه ،مونږ چې هر څه کړی دي د سلطنت د ګټو په خاطر مو تر سره کړي دي، معظم سلطان به هم په دې څو ورځو کې بیرته راستنیږي ، دمعظم سلطان د راتلوسره سم به مونږ ټول حقیقت د هغه تر مخ بیا ن کړو .... شهزاده محمد ته اوس پوره ډاګیزه شوې وه چې ابوجعفر دهغه ورور شهزاده علاؤالدین په مکمله توګه په خپل جادو کې را نښلولې دی. په دې اساس یی فکر وکړ چې شهزاده علاؤالدین به دهغه هیڅ خبره و نه مني اونه به قاسم خان د سلطان د راتلو تر مخه ازاد کړي. هغه په همدې فکر کې ډوب ناست و ، بیا یی دخپل ورور څخه اجازه واخسته اوبیرون راووت. اوس نو هغه په خپل فکر کې بله کومه خبره ګنډه کړې وه. په بیړه تر میلمستونه پورې راغې او د راتلو سره سم یی دقاسم ورور طاهر د خپل پلان څخه خبر کړ ، هغه طاهر ته وویل:

داسې ډاګیزه کیږي چې ابوجعفر زما ورور شهزاده علاؤالدین په خپل جادو کې را ښکیل کړې دي. نو په دې خاطر دهغه څخه دا هیله نه کیږي چې هغه دې قاسم بن هشام دسلطان د راتلو تر مخه ازاد کړي. خو زه اندیښمن یم چې د قاسم بن هشام د نظر بندۍ په وخت کې او دسلطان دراتلو تر مخه دسلطنت غداران کومه توطئه جوړه نه کړي ..... ته زما وړاندیز و منه ، دا به ستا له پاره ، د سلطنت له پاره او زمونږ د ټولو له پاره ډیر غوره وي.

شهزاده محمد غوښتل خپل پلان ډاګیزه کړي خو دهغه د خبرې تر مخه طاهر ترې و پوښتل:« ته چې څه ویل غواړې پرته له ځنډه یی راته وویایه ، زه به ستا هره سلا د سر په سترګو و منم.» دطاهر دخبرو په اوریدو شهزاده محمد ډیر زیات خوشحاله شو او بیا یی وویل: «ته به داسې وکړې چې سبا سهاربه په یو ډیر ګړندي اوتیز تلونکې آس باندې سپور شي او زما لیک به کوچنۍ اسیا کې د معظم سلطان دربار ته ورسوي اوهغه به د ټولو حالاتو څخه پخپله خبر کړې. زه باوري یم چې معظم سلطان به شهزاده علاوالدین ته سمدستي یو بیړني پیغام را ولیږي.» طاهر دهغه دخبرې سره سمدستې موافقه وکړه او په ډیره احساساتي توګه یی وویل:

« ستا لیک به ماته څه وخته پورې ترلاسه شي.؟»

« ته همدا اوس خپل ځان دسفر کولو له پاره تیار کړه ،سبا سهار وختي د تلو تر مخه به زما لیک تاته در ورسیږي»

د شهزاده محمد او طاهر هشام تر منځه تر ډیره وخته پورې په همدې مسئلې باندې خبرې اترې روانې وې اوبیا طاهر اجازه واخسته او سلطاني قصر ته ولاړ. اوس نو دهغه حالات ډیر بدل شوي وو. هغه تر ډیره پورې ډاډمن و ځکه ورته ډاګیزه شوې وه چې ورور یی چیرې دی؟ او په څه حال کې دی ؟ هغه په بیړه د آسونو د اصطبل پورې راغې او خپل آس یی را پرانست او دکور په لور رهي شو. هغه په دې فکر کې ډوب وو چې کله یی کوچنیان خبر شي چې دروند کاکا یی په خیر خیریت سره په سلطاني قصر کې موجود دی ، نو ډیر زیات به خوشحاله شي. تر څنګ یی د راتلونکې ورځې د سفر له پاره یی هم ځان تیاراوه ، خو کله چې دکور دروازې ته را ورسید نو هلته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوې کوچنۍ بگۍ وکلته چې ولاړه ده ، د دې بگۍ په دریدو او کتلو سره یې حیرانتیا نوره هم زیاته شوه ، داسې ځرگندیده چې کومه میلمنه ښځه دهغوې کورته راغلې وي. طاهر په همدې فکرونوکې شو چې هغه ښځیه میلمنه به څوک وي چې ددوې کورته راغلې ده. ځکه هغه پوهیده چې په اورنه کې دهغه اړیکې د ډیرو کم شمیر خلکو سره جوړې شوې دي. خو په هغوی کې داسې څوک نه شته چې ښځې یې په بگیو کې سفرونه کوي. په دې اساس دا به هرومرو د امراو د طبقې دکورنۍ د ښځو څخه کومه ښځه وي. طاهر دهمدې خبرو په فکرونو کې ډوب کورته را ننوت. کوچنیانو یې په انگړ کې لوبې کولې. دخپل پلار دکتلوسره سم یې دهغه په لور را منډه کړه. اوخپل پلارته یې وویل:

« پلار جانه ! کورته یوه ښځه راغلې ده ......اود قاسم کاکا په اړه پوښتنه کوي ، مور او نیامې دهغې سره په خبرو لگیادي ...»

د طاهر د تندي گونجې نورې هم زیاتې شوې ...دا به څوک وي ؟ دهغه تجسس نور هم زیات شو. دا سې بریښې چې کومه ښځه چې دلته دقاسم پوښتنې ته راغلې ده هغه قاسم پیژنې. هغه ته دا خبره نوره هم دحیرانتیا سبب وگرزیده. ځکه قاسم خو یواځې څو میاشتې مخکې اورنه ته راغلې و نو دومره ژر به یې څنگه د یوې ښځې سره اړیکې پیدا کړې وي. په همدې فکرونو کې ډوب هغه دکور یوې بلې کمرې ته ولاړ. دواړه کوچنیان یې ښې او چپ لورې ته روان وو او په پرلپسې توگه یې خبرې کولې ، طاهر دهغوې خبرې له نظره وغورځولې او ورته یې وویل:

« ولاړه شئ ، اوخپله مور مو دلته را وبولئ ،...... شاباس !

دواړو کوچنیانو منډه کړه او څو لمحې وروسته د طاهر ښځه دهغه تر مخ ولاړه وه. هغه مسکۍ وه او خوله یې دخندا نه وازه پاته وه. دهغې په مخې دخندا په کتلوسره د طاهر حیرانتیا نوره هم ډیره شوه نو سمدستې یې ترې وپوښتل:

« څه خبره ده ؟ دا میلمنه ښځه څوک ده اودکومه ځآیه راغلې ده ؟ اود قاسم په اړه څه پوښتي ؟ د طاهر دښځې سکینې په مخ د شرارت نه ډکه خندا وه ، اوپه همدې خندا کې یې وویل:

« ته قاسم و لټوه ، الله مونږ ته د سپوږمۍ په څیر ناوې راکړې. » طاهر دخندا په ځاې نور هم حیران شو او ویې ویل: « دا ته څه وایې ، د یوې بیگانه نجلۍ سره په لمړي ځل په خبرو کې داسې دومره پر مخ تللې یاست ، اول خو راته ډاگیزه کړه چې دا څوک ده ؟

اوس نو سکینې هم په ډیر غور سره خپله خبره وکړه. ځکه هغې ته دخپل میړه مزاج بلمنگه محسوس شو ،په ټیټه لهجه یې وویل: « دا مارسی ده ..... دا هغه نجلۍ ده چې د میلې په ورځ یې دقاسم ژوند خوندي کړې و .دا نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم په اړه ډیره معلومات لری ، دومره معلومات چې زه او ته یې هم نه لرو . زه ښځه یم او دمحبت په معامله کې زما سترګې دوکه نه خوري. ما ددې نجلۍ په سترګو کې د قاسم له پاره دسمندر په څیر څپې وکتلې. دا پیغله د څو ورځو راهیسې د قاسم د بیلتون څخه سخته نارامه وه او نن مجبوره شوې چې دلته راشي اودهغه په اړه و پوښتي.او که نه هغې دلته د راتلو څخه د شرم احساس کاوه. په طاهر د سکینې خبر ې له یوه اړخه ښې ولګیدې اوپه دې اړه په فکر کولو مجبور شو چې ددې پیغلې نوم خو مارسی دې.....او دا د مسلمانانو په څیر نوم نه دې ، نو ایا قاسم دکومې عیسایی پیغلې سره دمحبت تارونه غځولي دي. هغه په دې فکر کې هم و چې هسې نه چې دا نجلۍ د ابوجعفر جاسوسه وي اودقاسم په اړه دهغه د ورور د راتلونکې پلان څخه ځان خبروي. اوپه همدې خاطر دلته راغلې وي. دهغه ذهن په اسانۍ سره دا خبره نه منله چې مارسي دې دهغه د ورور سره مینه اومحبت وکړي ، خو کله کله به یې چې دا فکر کاوه چې مارسی دهغه د ورور محبوبه ده نو په سینه کې یې دخوشحالۍ ګیګړې شړنګیدل. کله چې سکینې طاهر په فکرونو کې ډوب وکوت نو ورته یې وویل: « یوائې زه نه ،بلکه ستا دروند پلار او درنه مور هم د مارسي سره دخبرو کولو وروسته ډیره خوشحاله دي. دا پیغله د ډیره وخته راهیسي دلته موجوده ده او مونږ په دې خاطر دلته ستنه کړې چې ته دسلطاني قصر څخه دقاسم په اړه څه معلومات راوړې نو مارسي به هم دهغې څخه خبره کړو .

طاهر په دې فکر کې شو چې که دا پیغله دابوجعفر جاسوسه وي نو بیا خو ترې د قونیا په لور دتللو خبره پټول په کاردي ، خو د قاسم د بندي کیدو په اړه ابوجعفر پخپله هم معلومات لري نو په دې خاطر به دې پیغلې او خپلې کورنۍ ته دد ددې خبرې یادول دومره زیانمنونکي نه وي ،بلکه ښې پایلې به ورکړي. تر څنګ یې که ابوجعفر ته دا ډاګیزه شي چې د قاسم ورور طاهر تربندي خانې پورې د قاسم پورې ور رسیدلې دې نو هغه به لږ څه نور هم محتاط شی. اوپه اورنه کې به د کوم بغاوت د راپیدا کولو پروګرام شاته و غورځوي. د همدې فکر په بنسټ طاهر پریکړه وکړه چې هغه به ددې میلمنې پیغلې مارسي تر مخه دقاسم د بندي کیدو یادونه کوي. په همدې خاطر یې خپلې ښځې سکینې ته وویل:

« سهي ده ، ته دا پیغله تر دې ځآیه راوړه ، چې زه یې یو وار ووینم.»

سکینې دخوشحالۍ نه ټوپ کړ او دخپل میړه په لور دکتلو وروسته په بیړه دهغه ځآیه ووتله. کوچنیان لا د پخوا څخه ددې کمرې څخه وتلي وو او په انګړ کې په خپلو لوبو کې مصروف و . د لږڅه وخت دتیریدو وروسته قاسم دهغه پیغلې مخ وکوت. کله یې چې سترګې په مارسي و نښتې نو حیران پاته شو، په دې فکر کې شو چې ایا دا ډول ښکلې مخونه هم شته ؟ دا سترې سترې سترګې ، اوږدې اوږدې زلفې، داسې خوزیدې لکه دوه تورې کونترې چې په هوا کې وزرونه رپوي. مارسي په داسې حال کې چې سر یې د شرم نه ښکته و دې خونې ته را ننوته او د طاهر تر مخه د لرګي په چوکۍ کیناسته. دطاهر مور اوښځه هم دمارسی تر شا دې خونی ته را ننوتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي په کينې او ښي اړخ کې کيناستل. تر اوسه لا طاهر خبره نه وه کړې چې د پلار يې په ډېرو کمزور قدمونو سره کمرې ته راننوت او دطاهر تر څنګ په کټ کې کيناست. طاهر مارسی ته په ډېر غور سره کتل ، هغه ته ددې پيغلې په مخ د پرېښتو په څير معصوميت تر سترګو کيده. طاهر په خپله په جاسوسۍ باندې نه پوهيده بلکه يو نيغ په نيغه توره وهونکې ماهر او استاد و ،په دې خاطر يې په ناڅاپه توګه په فکر کې راغله چې مارسی دکوم غلط قدم له پاره دهغوې کور ته نه ده راغلې ، سمدستي يې د مارسي څخه خپلې سترګې واړولې اوخپلې درنې مورته يې مخ کړ او ورته يې وويل:

« درنې مورې ! د قاسم درک خومعلوم شو.»

دهغه ددې خبرې سره په خونه کې ناست دهر چا خوله دحيرانتيا څخه خلاصه پاته شوه. په دې وخت کې دمارسی حالت هم دکتلو و. هغې د تجسس ، پلټنې ، احساس ، محبت او مينې څخه ډکو جذباتو کې طاهر ته په ډکو سترګو و کتل او تر ټولو دمخه يې وويل:

«آ..آ.......آيا ته رښتيا واې ؟ دهغې په لهجه کې شرم وحيا را نغښتې وه ، دمارسی نه وروسته د قاسم مور په ډېره بيړه وويل: « زما زوې چيرې دې...... چيرې دې هغه...؟ تا خو ويلي و چې هغه به له ځانه سره راوړم. د طاهر ښځې هم همداسې وويل او زياته يې کړه: ددې نه ډاګيزه شوه چې زمونږ د ناوې نګور قدم زمونږ له پاره د خير او عافيت سبب وګرزيد. همدا نن مارسی زمونږ کورته راغله او همدا نن د قاسم په اړه هم مونږ ته خبر ترلاسه شو ،

تر ټولو وروسته دقاسم پلار په پوره غور سره وويل : « څنګه معلومات يې شوې دې......؟ اوس قاسم چيرې دې ، ايا هغه دکوم کار پسې سلطان استولې دې ؟» دا دهشام خبرې وې ، چې دخپل وخت ډېر مشهور پهلوان هشام بن عدی ......

د ټولو دخبرو داوريدو وروسته طاهر په ټيټ اواز وويل:« نه !درونده پلاره..... سلطان خو قاسم ته ډېر مهم کار ورسپارلې و . خو دسلطان مشر زوې علاؤالدين د غرب د خطيب ابوجعفر په وينا دتيرو درې اونيو راهيسې دخپل ځان سره نظر بند کړې دې.

دطاهر د خبرو داوريدو وروسته مارسي په خپل ځاې کې ورخښه شوه ، داسې معلوميدل چې ابوجعفر خپل کار کړې دې. مارسی ته دا ومنله چې ابوجعفر يو ډېر ښه روزل شوې جاسوس دې ځکه هغه مارتها ته ويلي و چې هغه به ډېر ژر قاسم دخپلې مخې څخه لرې کړي ،مارسي په همدې فکر کې وه چې ابوجعفر خبله خبره پوره کړه.... د بله اړخه طاهر خپل پلار ته د پيښې په اړه تفصيلي معلومات ورکوي ، په دې وخت کې ناڅاپي د طاهر په زړه کې يو فکر راغي اودقاسم قصه يې په نيمايي کې پريښوده او دمارسی په لور متوجه شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



« محترمې ! ستا په اړه مې ماته ښځې څه ويلي دي خو هغه ماته کافي نه دي. نوکه ته يې بده نه ګڼې مهرباني وکړه او خپله کورنۍ راته را وپيژنه ، تر څو زما په ذهن کې انديښنې له منځه ولاړې شي.

دا ډول پوښتنې دمارسي له پاره غير متوقع نه وې. خو څرنګه چې دهغې ذهن د قاسم په لور متوجه و نو په دې اساس د طاهر په پوښتنه يې ټکان وخوړ. او بيا يې د لږه ځنډه وروسته په داسې حال کې چې سره يې ښکته کړې و داسې وويل:

« زه له تاسو څخه څه نه پټوم. په دې دنيا کې يواځې تاسې زما له پاره هر څه ياست. زه به تاسو ته دخپل ژوندانه يوه يوه پاڼه پرانزم او در ته به يې بيان کړم»

ددې خبرو نه وروسته مارسي د خپل ځان او خپلې کورنۍ په اړه د طاهر کورنۍ ته پوره تفصيلي معلومات ورکړل . هغې دالبانوي قصر نه نيولې د سلطان تر محله پورې اوبيا د سلطان د قصر نه نيولې د قاسم سره د کتلو پورې ، څه چې ورته ياد وو بيان کړل....دهغې په قصه کې د سکندربيګ يادونه هم وشوه او ابوجعفر يې هم ياد کړ..... هغه دقاسم سره دخپلو ليدنو کتنو په اړه هم تفصيلي خبره وکړه او دخپلې مور مارتها د جاسوسۍ دکرچار په اړه هم. کله چې مارسي خپله قصه پوره کوله نو دطاهر دمور اوښځې د سترګو څخه اوښکې روانې وې ،طاهر او پلار يې په خپل ځاې ناست و او دمارسي د مينې ډک داستان يې اوريد. په دې وخت کې د طاهر مور پورته شوه او مارسي يې د سينې سره يوځاې کړه، دمارسي د غټوغټو سترګو څخه د اوښکو څاڅکې لکه دباران په څير په زمکه راپريوتل. سکينه هم ور پورته شوه او دمارسي سره يې دمينې غاړه ورکړه.

« زه خو وايم چې ته اوس همدلته اوسه. ځکه چې ته په خپل کور کې دخپلې مور مارتها څخه هم خوندی نه يې. خداې نا خواسته که څه درته پيښ شي نو مونږ به دقاسم تر مخ څنګه سر پورته کړو.

دسکينې خبرې لا نه وې خلاصې شوې چې هشام په خبرو پيل وکړ.« ګوره لورې !تا مونږ ته هر څه په رېښتيا سره بيان کړل او زمونږ په زړونو کې دې دخپل ځان له پاره ډير ښه ځاې پيدا کړ. ددې څرګندونې وروسته چې تا اسلام منلې دې زه نور هم خوشحاله شوې يم. زه تاته نصيحت کوم چې ته خپل نوم هم په يو مسلمان نوم بدل کړه ، او ځانته يو مسلمان نوم کيږده.

مارسي د قاسم دپلار دخبرو په اوريدو سره په شرمناکه لهجه باندې وويل: « نو بيا همته ما ته يو ښه نوم پيدا کړه ، هر هغه نوم چې تا ماته راکړ همغه به پس له دې زما نوم وي.»

اوس نو هشام دخپل راتلونکې نګور د نوم په اړه فکر کاوه. د لږڅه وخته وروسته هشام وويل: سهي ده لورې ! مونږ ستا له پاره يو نوم پيدا کړې دې. » ټولو د هشام په لور وکتل نوهغه هم وخندل اوپه خندا کې يې مارسي ته ور غږ کړ..... غزاله....

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهشام دخولې څخه مارسی دخپل نوی نوم په اوریدو ډیره خوشحاله شوه، دا نوم بلکل سهي و. د مارسي له پاره دغزاله په څیر د غټو سترګو خاوندي ته همدا نوم مناسب و. کله چې سکینې مارسي ته دغزاله د نوم په اړه تشریح ورکړه نودهغې مخ د شرم څخه تک سور وګرزید. هغه په دې فکر کې شوه چې عربي ځوان قاسم به په څومره مینه هغې ته دغزاله نوم اخلې.

مارسی څو ساعته د قاسم په کور کې پاته شوه. په پیلامه کې دهغې راز داره کوچوان اکبر د دروازې نه بیرون ولاړ و. خو وروسته مارسی هغه بیرته ولیږه او ورته یې وویل چې د ماسپښین نه وروسته راشي اوهغه پورته کړي. اوس نو هغه مارسی نه وه بلکه یوه مسلمانه پیغله غزاله وه. خو هغې تر اوسه پورې خپل دغه نوم د خپلې مور او ابوجعفر څخه پټ ساتل غوښتل.

ماسپښین ناوخته و چې اکبر د مارسي د بیرته وړلو په خاطر خپله بګۍ راوسته. مارسي هم د طاهر د کورنۍ د ټولو غړو سره د مینې او محبت په فضا کې پوره وخت تیر کړې و او اوس بیرته خپل کورته ستنه شوه.

بل سهار طاهر د قونیا په لور و خوزید ، هغه یوآځې خپلې ښځې ته ویلي و چې د سلطان سره د کتلو له پاره کوچنۍ اسیا ته ورځې تر څو دقاسم د ازادولو له پاره څه وکړاې شي. تر څنګ یې خپلې ښځې ته لارښوونه وکړه چې د اوس له پاره قونیا ته دهغه د تللو خبره پټه و ساتي ، سکینې هم سهار وختی د لمانځه وروسته د هغه د تللو له پاره تیارې نیولې و.

د بله اړخه مارسی د قاسم د کتلو له پاره نا ارامه وه. همدا نن سهار هغې پریکړه کړې وه چې هغه به سلطاني قصر ته ورځې او د کومې لارې څخه به د قاسم سره لیدنه کوي. سلطاني قصر ته د مارسي تل راتلل څه نوې خبره نه وه. ځکه چې هغه د البانوي وینځې مارتها لوروه او دسکندر محبوبه هم..... خو نن سهار د روانیدو سره سم یې مور و دروله.

« اې نجلۍ..... ! دا نن بیا چیرې روانه یې؟ د پوښتنې ایګنې پرته روانه یې ؟

په مارسي د مور خبره ډیره بده و لګیده. مخ یې را وګرځاوه او مورته یې وویل. « دلته نژدې ورځم ، د سلطاني قصر پورې.... »

غالبا چې مارسی به هلته په قصر کې د کومې ملګرې نوم اخیستې و ، خو نن د مارتها سلوک څه بلمنګه ښکاریده. په دې اساس یې په سختې ژبې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« خبردار ! ....ته هیڅیرې نه شې تلاې. تاته ډاګیزه ده چې ته دالبانیا راتلونکې ملکه یې. سبا به په البانیه کې سکندر سره یو ځاې په تخت کینې. دخپل حیثت په اړه دې فکروکړه. دا ته هره ورځ چیرې اوکومو ځآیو کې ګرځې را ګرځې. ما همدا نن سهار اکبر د دوو ورځو په رخصتۍ لیږلې دې.

مارسي دخپلې مور د خبرو څخه لږ څه پښه نیولې شوه او یوه نامعلومه ویره یې په زړه کې کیناسته. هغه ته داسې ځرګنده شوه چې دا خبرې دهغې مور نه دې کړي بلکه ابوجعفر دهغې دمور په ژبه غږیږي. هغه فکر وکړ چې دهغې مور خو پخوا داسې نه وه ، ځکه هغې ته به یې تل ناز ورکاوه او په ډیرو نازونو کې یې را ستره کړې ده. یو ناڅاپه یې فکر خراب شو پریکړه یې وکړه چې سلطاني قصر ته به هرو مرو ورځو ، ابوجعفر ته په قهر وه په دې اساس یې پریکړه وکړه چې سلطاني قصر ته به هرومرو ورځي. په دې خاطر یې وویل:

« مورجانې ! څه درباندې راغلل..... زه خو تر محله پورې ورځم..... پیدل په پښو هم ورتلاې شم... زه د ملکې سروین سره هم کتل غواړم او د سربیایی وینځو سره هم غواړم ووینم.... ډیر وخت وشو چې هغه لورې ته نه یم ورغلې.

مارسي د خپلې مور په خوږ رګ باندې ګوته کیښوده. ځکه سربیایی شهزادګۍ سروین او دهغې وینځې هغې ته ډیر ارزښت درلود. په ځانګړې توګه د ملکې سروین وینځې د عیسایی توب په خاطر هم مارتها ته ډیرې ورنژدې وې. کله چې مارتها د مارسی دژبې څخه دهغوې نومونه واوریدل نو خاموشه شوه او مارسي ته یې دتللو اجازه ورکړه.

مارسي دکوره ووتله او په پښو تر سلطاني قصر پورې ولاړه. هغې په لاره کې فکر کاوه چې دملکې سروین سره کتل به د قاسم دازادیدو له پاره ګټور وي. په داسې حال کې چې پخوا ددې هغې فکر کاوه چې دخپلو سهیلیو په منځګړیتیابه د شهزاده علاؤالدین سره نیغ په نیغه ووینې او په دې اړه به ورسره خبرې کوي. خو اوس هغې خپل فکر کې بدلون راوستې و او دد ې کار له پاره یې سربیایی شهزادګۍ ملکه سروین چې د سلطان مرادخان ثاني ملکه وه مناسبه و ګڼله. ځکه هغې کولې شول د قاسم په را خلاصیدو کې ښه او غوره کړچار ادا کړي. هغه په دې پوهیده چې دواړه شهزادګان ، شهزاده محمد او شهزاده علاوالدین د ملکې سروین ډیر قدر او درنښت کوي او دمور په سترګو ورته ګوري.

ملکه سروین د سربیا دپادشاه لاړډ ستیفن لور وه. دسربیا دغه پادشاه د سلطان مرادخان ثاني ډیر وفاداره ملګرې او دوست و. دهمدې وفادارۍ په بنسټ یې سلطان مراخان ثاني ته خپل لور شهزادګۍ سروین په نکاح ورکړه. او بیا شهزاداګۍ سروین د خپلو څو کسو وینځو سره یو ځاې اورنه ته دسلطان دناوي په څیر راغله.

مارسي محل ته درا ننوتلو سره سم نیغه محل سراې ته ورغله. هلته یې د ټولو دمخه دملکې سروین خواجه سراې سره وکتل. دهمغې له لورې ورته وویل شول چې ملکه سروین د شاهي باغ شاته سیمه کې مرغیو ته دانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کوي. مارسي به ددی نه مخته هم کله کله د ملکې سروين سره کتل. همدا علت و چې هغه پرته له کومه ځنډه د شاهي باغ شاتنۍ برخې ته ورغله. کله چې ملکې سروين مارسی وکتله نو په خندا يې ورته وويل:

« خوش امدید.......نن خو زمونږ البانوي خور زمونږ ليدلو ته راغلې ده .....»

دملکې په ژبه کې د بورې په څير خوږلني و، د ملکې د لهجې نه د مارسي حوصله نوره هم لوړه شوه. او ويې ويل:
« درنې ملکې !...... ستاسې محبت مې کله کله دې مانيو ته د راتلو له پاره را کاږي. او که نه....

په شاهي بزم کې د غريبانو تيريدل څه معنې لري..........

ملکې يو دم د مارسي په لور وکتل او دهغې ددې خبرې څخه يې په خوند اخستلو سره وويل: « سبحان الله ! نن خو ته په مشکو او عنبرو کې را لتاړې خبرې کوې.....داسې معلوميږي چې کوم زخم دې خوړلې او دلته راغلې يې.

مارسي د شونډو لاندې و خندل او سريې ښکته کړ اوبيا يې وويل: د درنې ملکې د ژبې څخه د سبحان الله د کليمې په اوريدو سره داسې ډاګيزيږي چې درنې ملکې د اسلامي معمولاتو سره هم دلچسپې پيدا کړې ده .ملکې ورته پر ته له ځنډه وويل: « ولې نه ...... د اسلام سره خو زما مينه دهمغې لمړۍ ورځې څخه شته ، زما درونډ او معظم پلار لارډ ستيفن هم د زړه له کومې مسلمان و. همدا علت دې چې هغه د ترکانو د سلاطينو ددرې نسلونو سره د عثماني سلطنت د ټينګښت له پاره کار کړې دې.

اوس نو مارسي په ډيره مينه او محبت دغې ښکلې اوښايسته ملکې ته کتل. لږ وروسته ملکې دمارسي څخه وپوښتل: « وايه مارسي ! څنګه دې پيښنه راکړې ؟ داسې ډاګيزيږی چې نن ته زمونږ څخه د څه غوښتنې له پاره راغلې يې؟

مارسی د حيرانتيا څخه سترګې راپورته کړې اوبيا يې په پوره خوشحالۍ سره وويل: عجيب........ درنې ملکې ! ډيره عجيبه...... ته خو اوس د زړونو په حال هم پوهيږې. »

« د زړونو په حال يواځې الله تعالې پوهيږي.... مونږ يواځې ستا په مخ ليکل وکتل ، تا نه دې اوريدلې چې څيرې مکمل کتاب وي.» ملکې نرمه شانته خندا وکړه او بيايې وويل. اوس نو مارسي هم ورته خپله خبره پيل کړې وه .....

« درنې ملکې !..... تا به اوريدلې وي چې معظم سلطان يو عرب ځوان د شاهي سراغ رسان په څير ټاکلې دې......»

« داسې بريښي چې هغه سراغ رسان ستا د زړه سراغ لګولې دې.....ولې ؟..... ايا زړه خو به دې پرې نه وې بايلودې ؟...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي څيره د حيا څخه سوربښنه شوه. سترګې يې ښکته کړې او دلږ څه ځنډ نه وروسته يې وويل: « ددرنې ملکې سترګې هرڅه ويني...... خو اوس ما د عثماني سلطنت د پايښت سوال له ځانه سره راوړې دې.

دمارسی په خبرو باندې ملکه حيرانه شوه او سمدستې يې وويل: « خداې دې نه کړې چې عثماني سلطنت ته پيښ شي. تا څه ډول پوښتنه له ځانه سره راوړې ده.،،،،»

مارسي لږ په تتره ژبه وويل : « درنې ملکې ! هغه عرب ځوان چې معظم سلطان په اورنه کې د سازشونو د بربنډولو له پاره په خصوصی توګه ټاکلې دې نو په دې وخت کې ديوه غدار په خبره شهزاده علاوالدين نظر بند کړې دې...... په داسې حال کې چې هغه غدار د سلطنت پر خلاف په خطرناکه سازش کې مصروف دې.

دملکې رنګ تغير وکړ او په ډير غور سره يې وويل: « هغه غدار څوک دې چې شهزاده علاوالدين يې په خپله ولکه کې اخستې دې ؟..... مارسي تو خو په هوش کې يې ؟ تاته معلومه ده چې ته څه وايې ؟ ته خو په يوه ترک شهزاده او ولېعهد باندې الزام لګوې ؟»

دملکې دخبرو د تکميل سره سم مارسي په پوره عزم سره ورته وويل: « درنې ملکې ! زه يوازې الزام نه لګوم بلکه دا وايم چې شهزاده علاوالدين قاسم بن هشام په زندان کې اچولې دې ، درنې ملکې ، په دې وخت کې په اورنه کې قاسم هشام ته سخته اړتيا ليدل کيږي ، دخداې له پاره څه وکړئ ، هسې نه چې د معظم سلطان په نشتوالې کې ابوجعفر په اورنه کې دفساد اوبغاوت اور بل کړي.

اوس نو دملکې سترګې د حيرانتيا نه وازې وې ، او په لږ څه تيزې لهجې سره يې وويل:

« ابوجعفر ؟........ ايا دا همغه سړې نه دې چې دسترګو رنګ يې د لاطينې ولسونو په څير نيلې دې ؟ او د غرب د خطيب په نامه يې شهرت موندلې دې..... اې مارسي ! هغه سړې خو ستا دمور خواته ډير تګ راتګ کوې ،...... همداسې ده که نه ؟

ملکې خپلې سترګې په خلا کې اړولې را اړولې اوپه څه فکر کې ډوبه وه. هغه ته په ياد راغلل چې يو وخت ابوجعفر او مارتها په دې شهزادګۍ باندې دخپل اثر ور رسوخ د وراچولو هڅې کولې. په هغه وخت کې سروين نوې نوې را واده شوې ناوې وه. په دې خاطر د نا اشنايی په اساس خاموشه ناسته وه. خو نن چې مارسي د ابوجعفر د سازش په اړه خبره وکړه نو د ملکې سروين سترګې هم را وغوړيدې ، هغې دمارسی خبرې هم په ډير غور سره واوريدې ، مارسي ورته وويلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درنې ملکې ! ابوجعفر زمونږ کورته تګ راتګ کوي.... په همدې خاطر زه ددې سازش په اړه پوره معلومات لرم. درې اونۍ مخته قاسم بن هشام د قیصر دجاسوسانو دسراغ د پیدا کولو له پاره د ابوجعفر تر پوزې پورې ور رسیدلې و. خو شهزاده علاؤالدین ټوله معامله سرچپه کړه..... اوس نو ته که څه کولاې شې ویې کړې......»

اوس نو ملکه په ټولو حالاتو ښه پوه شوې وه .... هغې فکر کاوه چې د شهزاده علاوالدین سره ددې مسئلې په اړه څه ډول خبرې وکړي ، هغې دمارسي په خبرو پوره باور وه ځکه چې هغه پخپله د ابوجعفر دکړچار څخه خبره وه. هغې فکر کاوه چې نه یواځې قاسم بن هشام را خلاص کړل شي بلکه په یوه ډول نه یوه ډلو د ابوجعفر ستونې هم ورخفه کړي. هغه په دې پوهیده چې اوس دهغې په اوږو باندې ډیر دروند بار را پریوتې دې.... مارسي ته یې وویل:

مارسي ! ستا ډیره زیاته ممنونه یم... چې مونږ ددې نازکه حالاتو څخه خبر کړو. مونږ به همدا نن د څه کولو هڅه وکړو.

دملکې په خبرو مارسی د ډاډ ساه واخسته. او بیا یې په ټیټ اواز سره وویل:

« درنې ملکې ! زما یوه غوښتنه ده....»

ملکې د مارسي په لور وکتل او ترې ویې وپوښتل: « هو هو ، ووایه».

«درنې ملکې ! زه غواړم دقاسم بن هشام سره ووینم ، هغه همدلته په شاهی قصر کې په زندان کې بندي دی. نو که ملکه دزندان مسؤل ته حکم وکړي چې هغه ماتم نه کړی....»

ملکه یو ځل بیا حیرانه شوه.... دڅو لمحو له پاره په فکر کې ډوبه شوه. او بیا یې د یوه نوي عزم سره وویل:

« زما سره یوځاې راځه... مونږ به همدا اوس شاهي زندان ته ولاړ شو اودقاسم بن هشام سره به ووینو .» ملکې په پوره احساس سره قدم پورته کړ او د مارسي په زړه کې د خوشحالۍ ګوړه په ماتیدو شوه.

دشاهي زندان مسؤل چې ملکه سروین وکتله نو پښې یې په لړزیدو شوې ، دا سیمه د محل په شمال غرب کې پرته وه ، دمحل سراې ښځې به دلته هیڅکله هم نه ورتللې. یوازې ددې ځاې کارکونکې خلک د محل په دې سیمه کې اوسیدل. دلته شاهي آسپ ځاې هم و او دمحل وسله تون هم همدلته پروت و. دهمدې ستر عمارت په منځ کې یوه ستره کمره د شاهي زندان له پاره ځانګړې شوې وه. کله چې ملکه د زندان داروغه ته ور نژدې شوه نو هغه تر ملا پورې را ښکته شو اودملکې له پاره یې درنښت په ځاې کړ. ملکه هم هملته ودریده. او په تحکمانه توګه یې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شاهي زندان کې څومره بنديان پراته دی ؟» ملکې په شاهانه انداز کې خبرې کولې. داروغه په لړزيدو شو او په تړ تړې ژبه يې وويل :

« مم...ملکه معظمه ! دلته يواځې يو بندي موجود دی.»

ملکې ترې بيا وپوښتل: « دهغه نوم څه دې ؟»

د زندان داروغه ورته په ډيره درنه ژبه وويل : « قاسم بن هشام»

ملکې چې د قاسم نوم واوريد نو يو ځل يې دمارسي په لور و کتل ، دمارسي مخ هم د احساساتو ډک و ،ملکې داروغه ته مخ کړ او ورته يې وويلې« مونږ همدا اوس اوهمدا وخت د قاسم بن هشام سره کتل غواړو . ولاړ شه او هغه د ډير زيات درنښت سره يو ځاې دلته له ځانه سره راوړه.»

د زندان داروغه سمدستي شاته و ګرزيد او په منډه منډه د زندان دروازې ته ولاړ . د لږ وخت وروسته قاسم د مالکې او مارسي تر مخ ولاړ و. په دې درې اونيو کې دقاسم روغتيايي حالت ډير خراب شوې و، دهغه مخ ژير ګرزيدلې و خو سترګې يې لا تراوسه هم روښې او روښانه وې ، مارسي د قاسم په کتلو سره ډيره نا ارامه شوه ،خو هغې دقاسم سره د ملکې او دزندان د داروغه په شتون کې په بې تکلفۍ سره خبرې و نه شوې کړاې. هغه يوې لورې ته و دريده او په ډيره غمژنه توګه يې دقاسم روغتيايي حالت ته کتل.قاسم مخته راغې او ملکې ته يې سلام وکړ ، ملکې ورته په خندا ځواب ورکړ او بيا يې ورته وويل:

« قاسم خانه ، زه د سلطان مرادخاني ثاني ، دعثمانيه سلطنت د پادشاه ، ملکه يم. مونږ ته نن مارسی ستا د حالاتو په اړه په تفصيل سره خبره کړې ده ، په دې خاطر مونږ په خپله ستا سره د کتلو له پاره دلته راغلې يو .... ته انديښنه مه کوه ، مونږ به همدا نن د شهزاده علاوالدين سره خبرې وکړو او تا به د زندان څخه خوشي کړو.»

قاسم چې د پخوانه يې دا انګيرلې وه چې دهغه سره ليدونکې د شاهي کورنۍ کومه درنده غړې ده ، نو دملکې د خبرو په اوريدو سره نور هم مؤدب و دريد اودملکې په درنښت کی يی خپلې سترګې ښکته کړې او په نرمې لهجې سره يې وويل:

« د معظمې ملکې بخت دې نور هم ستر شي...... ماته دخپلو بندې کيدو په اړه کومه انديښنه نه شته.خو په دې اړه ډير انديښمن يم چې شاهي حکم مې په ځاې نه کړاې شو . خداې پوهيږې چې دسلطنت غداران تر کومه حده پورې رسيدلې دي، ماته خودا هم نه وو معلوم چې زمونږ لښکر د جنګ ډګر ته روان شوې دې او اوس په څه حال کې دي ؟.....

ملکې په پوره ډاډ سره د قاسم خان خبرې واوريدې او په لږې شانته غمژنې لهجې سره يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« د اروپا پە لور زمونږ تللي لښکر د صلیبي ځواکونو څخه ماتې خوړلې ده. زمونږ ددروند سلطان د خور او زمونږ د اندرور میړه سپه سالار محمد چلپي هم د هونیاډې په لاسو بندي شوی دی ، د صوفیا ښار زمونږ د لاسو څخه وتلې دی او زمونږ لښکرو د بلقان پە درو کې هم دصلیبي دښمن له لاسه ډیر زیانمن شوې دی. تر څنګ یی یو بنه خبر هم شته او هغه دا چې معظم سلطان د کرمانیا امیر ته ماتې ورکړې ده او دقونیا بغاوت یی ځپلې دی. اوس به معظم سلطان په څو ورځو کې بیرته اورنه ته را ستون شي. دهغې وروسته به معظم سلطان د هونیاډې پر خلاف د جنګ له پاره د اورنه څخه روانیږي.

ملکې د روانو حالاتو اودلښکرو دحال په اړه قاسم ته په تفصیل سره خبره وکړه. د خبرو د تفصیل داوریدو سره سم قاسم ډیر زیات احساساتي شو، په ځانګړې توګه کله یی چې د سلطان دخور د میړه سپه سالار محمد چلپي د بندي کیدو خبره واوریده ، ځکه هغه ته د محمد چلپي سره خپله هغه لیدنه په یاد راغله چې د اغاحسن په خونه کې یی فوځي افسرانو ته د خبرو کولو وروسته دده سره درلوده. هغه په ډیر خلوص سره ملکې ته وویل:

« د محترم سالار محمدچلپي د بندي کیدو په اړه ډیر زیات خواشینې شوې یم. زه دا احساسوم چې په داسې حالاتو کې ماته سلطنت ډیره سخته اړتیا دلوده.»

ملکې دقاسم په خبرو باندې سر خوځاوه. اوبیا یی په دلاسه کوونکې لهجې باندې ورته وویل: « بس ته به همدا نن ازاد کړل شې. زما له تاسره همدا ژمنه ده.... اوس به نوموږ بیرته ولاړ شو .....»

ملکې دبیرته ستنیدو دمخه دمارسي په لور وکتل اوبیا د شونډو لاندې وخندل ، مارسی هم د شرم اوحیا څخه سترګې ښکته اچولې وې. کله چې ملکې خپلې سترګې واړولې نو مارسی هم دوخت نه په کټې اخستو سره دقاسم په لور په ډیره غمناکه توګه وکتل اوبیا د ملکې سره روانه شوه. په دې کتلو کې ددواړو سترګې څلور شوې وې او په همدې کتو کې یی یو بل ته ډیر څه منتقل کړي و. قاسم په ډیره نرم اواز سره دمارسي نوم واخست نو مارسي هم د یوې لمحې له پاره پښه نیولې شوه اوپه تلو تلو کې یی قاسم ته مخ کړاو ورته یی وویلې چې « مارسی نه.....غزاله...... دا ستا د دروند پلار له اړخه راکړل شوې نوم دی....»

دهمدې خبرې سره سم مارسی هم د ملکې په لور ورګرندۍ شوه او په بیړه دهغه ځآیه ووتل. خو دمارسی د اخري خبرې دقاسم په غوږونو کې همغسې انګازې کولې ..... هغه وانګیرله چې مارسي دهغه دکورنۍ دغړو سره هم کتلې دي. په دې وخت کې د قاسم زړه دمحبت او مینی د نغمو څخه ډک و.

دبله اړخه طاهر بن هشام د توپان اوسیلۍ په خیر سفر کاوه او د سلطان دلښکرو په لور ور روان و. خو هغه لا په لاره کې و چې د سلطان دلشکر د بیرته را ستنیدو خبر ورته ورکړل شو. خو ددې سره سره بیاهم هغه خپل تګ ته دوام ورکړ. هغه له خپله ځانه سره د شهزاده محمد لیک هم درلود او دهمدې لیک په کومک یی هڅه کوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورور د شهزاده علاوالدین د زندان څخه را ازاد کړي. هغه د دانیال ددریاب څخه تیر شو او کوچنۍ اسیا ته ور ننوت. همدلته ورته د سلطاني لښکر دبیرته راستنیدو نښې نښانې تر سترګو شوې. بله ورځ هغه د سلطاني لښکر تر مخه و، په خپل ستومانه آس سپور د لښکر و قرارګاه ته ورننوت. او سمدستي یې د شهزاده محمد لخوا لیکل شوې لیک د سلطان تر مخ کیښود.

سلطان چې کله د شهزاده خط ولوست نو غومبري یې تک سره شول ، په مخ کې یې د غصې او قهر نښې را وځلیدې، خو د خط د لوستلو وروسته خاموشه پاته شو. بیا یې د څو لمحو نه وروسته طاهر بن هشام ته وویل :

« تا ډیره ښه وکړل چې مونږ دې خبر کړو. زه پخپله ډیر ژر اورنه ته رسیدونکي یم،خو هلته به زمونږ په رسیدو کې وخت لګیږي ، او کیدې شي په همدې وخت کې دښمن هلته د بغاوت دپیلامې له پاره کار وکړي. په دې خاطر مونږ غواړو چې یو تیز تلونکي قاصد له تاسره یو ځاې و استوو تر څو قاسم بن هشام د شاهي زندان نه ازاد کړي»

طاهر هم همداسې غوښتل. همدا علت و چې دارام کولو په ځاې یې په همغه ورځ دماښام نه مخته د شاهي قاصد سره یوځاې د کوچنۍ اسیا څخه لکه دباد او توپان په څیر د اورنه په لور راوالوت.

خو پخوا تر دې چې طاهر اورنه ته را ورسیږي ، دملکې د وینا په اساس شهزاده علاوالدین قاسم بن هشام را زاد کړې و. او کله چې طاهر بیر ته ا ورنه ته را ورسید نو قاسم هم په کور کې موجود و. طاهر د سلطاني قصر څخه فارغ شو نو قاسم او مارسي دواړه یې د کوچنیانو سره په انګړ کې د لوبو کولو په حال کې وکتل. کله یې چې په قاسم سترګې و نښتې نو سمدستی یې ټوله ستوماني له منځه ولاړه. کله چې قاسم خپل مشر ورور وکوت نو ورمنډه یې کړه اودهغه استقبال یې وکړ. هغه ته ورغاړې وت. عمر اوعلی چې کله خپل پلار وکوت نو د خوشحالۍ نه یې داسې چیغې کړې چې اسمان یې په سر واخست......هغه دې ...هغه دې پلار مو راغې ، پلار مو راغې ....چغې یې هرې لورې ته وهلې. دواړو د پلار په لور ورمنډه کړه او دهغه د پښو څخه چاپیره شول. د کوچنیانو د چغو سره سم سکینه او د قاسم مور اوپلار هم دخپلو کمرو څخه راووتل ، مارسی هم دخوشحالۍ نه شنه وه ، طاهر چې کله خپله ټوله کورنۍ په خوشحالیو کې وکتله نو په زړه اوخوله دواړو یې د الله تعالې شکر ادا کړ.

خوابوجعفر تر اوسه پورې ازاد و. دبله اړخه شهزاده علاوالدین هم قاسم ازاد کړ خو په دې شرط چې هغه به بیا په ابوجعفر حمله نه کوي ، هماغه و چې هغه د ابوجعفر او دهغه په یوڅو ملګرو د څارنې کار پیل کړ. او په یني چرې کې یې خپلو ډلګیو ته دتیارسۍ حکم وکړ. خو اوس یې د سازشي کړیو د نیولو په ځاې د سلطان تر بیرته راستنیدو پورې په انتظار کې کیناست. تر څنګ یې په ټول ښار کې دیني چرې فوځې دلګې خپاره کړل. او دهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول حالاتود مقابلې له پاره یې خپل ځان تیار کړ. تر څنګ یې په ډیره ناقراری سره دسلطان د بیرته راستنیدو په انتظار کې کیناست.

څو ورځې وروسته اورنه ته د سلطان د رارسیدو خبر را ورسید. دښاروالۍ مسؤلینو د ښار پاکوالې پیل کړ او دشاهي دربار پورې اړونده خلک هم د سلطان د رارسیدو له پاره په ذهني توګه تیار شول. دابوجعفر زړه هم په سینه کې په لړزیدو و. خصوصا دهغه وخته چې قاسم ازاد شوې و، هغه ته د خپلو خطرناکه پایلو په اړه په زړه کې ویره راګرزیده. په دې وخت کې هغه ته دا هم ډاګیزه شوې وه چې د مارتها لور مارسي دقاسم بن هشام کور ته تګ را تګ کوي، هغه په مارسی ډیر په قهر و. ځکه چې هغه نه شو کولې چې اوس مارسي د قاسم دکوره بنده کړي، په دې توګه قاسم ته دنورو ثبوتونو په اړه معلومات تر لاسه کیده.تر اوسه پورې هغه خپل زړه ته تسلي ورکوله چې سلطان به هیڅکله هم په هغې لاس پورته نه کړي ،خو بیا یې هم دسلطان مرادخان ثاني له اړخه په زړه کې ویره درلوده. هغه به ښکته پورته کیده، ناسته پاسته به یې کوله خو د وخت په اړه به یې فکر کاوه. هغه د راتلونکو ګواښونو دمقابلې له پاره دخپلې ادارې لاندې جاسوسي کړیو ته خبر ورکړې و اوهغوی یې تیارسئ کړې و. د هغه پلان دا و چې که چیرې سلطان یې و نیسي نو د قیصر جاسوسان دې خپل مخونه پټ کړي اودښار په ګوټ ګوټ کې دې اورونه بل کړي اوفسادونه دې پیل کړي. په یني چرې کې موجود جاسوسانو ته هم لارښوونه شوې وه چې که یو ځل په ښار کې اور بل شي نو دوې دې هم دخلکو کورنو ته ورننوځي او لوټمار او قتل وقتال دې جوړ کړي. ابوجعفر په خپله یو پخوانې جاسوس و اوهغه هیڅکله هم کوم خام کار نه کاوه په همدې خاطر یې سمدستي د خپلو تښتیدو له پاره هم پروګرام جوړ کړې و. د هغه پلان داو چې څنګه چې شاهي دلګې دې ونیسي نو په همغه وخت کې دې د یني چرې د غدارو سپاهیانو یوه خونړۍ ډله د کوم اړخه په شاهي ډله باندې حمله وکړي او ابوجعفر دې ترې خلاص کړي، هغه د قاسم بن هشام د له منځه وړلو له پاره هم پټ پلان جوړ کړې و او ددې کار له پاره یې ځانګړې ډله ټاکلې وه. دې ډلې به هروخت د قاسم څارنه کوله او ورته حکم شوي چې د مناسب وخت سره سم هغه له منځه یوسي.

په دې توګه ابوجعفر دسلطان دراتلو سره سم دخپل پروګرام د پیل له پاره تیار ناست و. اوس نو دهغه له پاره دیوه کار دپیلامې مناسب وخت په کار و. اوهغه دمارتها د لور مارسي تښتول اودالبانیه پادشاه سکندر بیګ ته دهغې روغ رمټ رسول و.همدا علت و چې هغه به کله هم مارسی د قاسم کور ته د تلو راتلو په وخت کې کتله نو دمارپه څیر به ورته تاویده راتاویده.

دهغه وخته چې سکندربیګ د اورنه څخه د البانیا په لور تللې و نوابوجعفر دهغه سره په رابطه کې و. څو ورځې مخته سکندربیګ ابوجعفر ته پیغام استولې و چې دهغه امانت یعنې مارسی هغه ته ور ورسوي او اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو جعفر غوښتل چې د سلطان در اتلو دمخه هغه ددې مسئلې څخه هم ځان بیغمه کړي. همغه و چې یوه ورځ یې دمارسي د تښتولو پروګرام جوړ کړ.

هغه شپه ډیره یخه او سړه هوا په کې چلیده ، ستورو هم د غرب له لوري شرق ته خپل پړاونه وهل او د اورنه خلک په دې یخو شپو کې په خپلو کوټو کې بند د ګرمو بړستونو لاندې ویده پراته وو. په ورانو او شاړو کوڅو کې کوڅه ډپو سپیو حکمراني کوله. په همدې وخت کې د سلطاني قصر تر شا تعمیرونو کې څلور کسه اس سپاره را ښکاره شول ، ددوی تر مخه ابو جعفر روان و. دې څلورو واړو آس سپورو نقابونه اغوستې و. ابوجعفر خپل دغه نقاب پوشه ملګري را روان کړي و او دمارتها دروازې ته یې و درول ...... هغه دخپله اسه راکیوت او دمارتها دانګړ دروازه یې دخپل خنجر په لاسکې و ټکوله. په دې وخت کې دهغه نقاب پوشه ملګري هم دخپلو اسونو څخه را کیوتي وو. دهغوي څخه دوو نقاب پوشو دخپلو آسونو واګې یو دریم نقاب پوش ته ورکړې ځکه هغه دریم نقاب پوش د ابوجعفر دآس واګې هم په خپلو لاسو کې نیولې وې. هغه څلور واړه آسونه و نیول اود لارې یوې خواته و درید. دابوجعفر سره دوه نور نقاب پوشان د دیوال تر څنګ پټ و دریدل تر څو د دروازې د پرانستلو په وخت کې یې څوک و نه ویني. ابوجعفر خپله توره په تیکې کې ایښې وه او ددروازې د ټکولو سره سم یې خپل نقاب له مخه لرې کړ. کله چې ددروازې دهغې لورې څخه د مارتها زړې خادمې اواز وکړ...... څوک یې ؟ .....نو ابوجعفر ورته ځواب ورکړ« زه ابوجعفر یم. دروازه پرانیزه او خپلې مالکې مارتها ته زما د راتلو په اړه خبر ورکړه.» دمارتها خادمې ابوجعفر و پیژانده. او سمدستی یې دروازه پرانسته. د دروازې د پرانستلو سره سم ددې خادمې سر د تنې څخه پرې کړل شو او هلته په انګړ کې یې ټوپونه وهل پیل کړل..... ابوجعفر د تورې په راویستلو او دخادمې د سر په پرې کولو کې لږ څه ځنډ هم ونه کړ. ددې کار نه د فراغت وروسته هغه خپلو دواړو ملګرو ته د راننوتلو اشاره وکړه .اوبیا دریواړه د مارتها کور ته ورننوتل. دمارتها په کور کې ټول پنځه کسه اوسیدل ، مارتها، مارسي، دمارسي کوچوان اکبر ،د مارتها خادمه ، او بل دهغې زوړ خادم چې لږه شیبه مخته د ابوجعفر په توره یې سر پرې کړل شوې و. ابوجعفر ته د نور مقاومت هیله نه وه. په دې خاطر پرته له کومې اندیښنې د مارتها اودهغې د لور کوټې ته ورغله. اوس نو هغه هڅه کوله چې مارتها د کوم مقاومت پرته خپله لور مارسی هغه ته ورحواله کړي،خو هغه په دې هم پوهیده چې مارتها د خپلې لور سره ډیره زیاته مینه کوي. خو تر څنګ یې هغه ته دا هم ډاګیزه وه چې مارتها په خپله سکندر ته مارسی ورکړې تر څو د البانیی ملکه وګرځي. هغه دا هم کولې شو چې نیغ په نیغه مارتها ته ووایی چې مارسي دهغه ددې کسانو سره یو ځای د سکندر بیګ په لور و استوي. خو هغه په دې هم ډاډمن و چې مارسی به هیڅکله هم دهغه د کسانو سره البانیا ته د تلو له پاره زړه ښه نه کړي. په همدې خاطر یې د مارسی د تښتولو په اړه پریکړه کړې وه. په دې توګه هغه فکر وکړ چې په یوه غشي دوه ښکاره ښکار کړي. خو دلته د راتلوسره سم دهغه دپلان پایلې دهغه دهیلو برعکس وختې. دهغه له پاره مارسی غوره ډوډۍ ثابته نه شوه. بلکه په مرۍ کې یې نښتې اغزې وګرزید. هغه وخت چې هغه مارتها ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل غږ د دروازې دپرانستلو وویل اوبیا دننه ورننوت نو مارسي یې توره په لاس وکتله ، او ویې کتل چې دهغه په تندي باندې خولې راماتې دي. مارسي په خپلو لاسو کې توره نیولې وه او دمرګ او مړینې له پاره تیاره ولاړه وه. ابوجعفر سمدستي خپله توره په نیام کې کېښوده او په پوره مکارۍ سره یې وویل :« مارتها ! زه ستا د لور د بوتلو له پاره راغلې یم. هغې ته دعا وکړه ، ځکه هغه به د سکندر بیګ ملکه ګرزیږي.......»

خو لا تر اوسه د ابوجعفر خبرې خلاصې شوې نه وې چې مارسي پرې لکه د زمرۍ په څیر و غړمبیده: « خبردار ! که یو قدم دې زما په لور را واخست نو ټوټې ټوټې به دې کړم....»

دمارتها له پاره دا صحنه دهغې د هیلو پر خلاف وه. هغې غوښتل چې لور یې ملکه وګرځي خونه د تښتولو له لارې . هغې دمارسي سره د لیونتوب تر پولو پورې مینه کوله. مارتها هغه وخت ډېره قهرجنه شوې وه چې ابوجعفر یې وکوت چې په نیمه شپه دهغې کور ته دهغې داجازې پرته ، لوڅه توره را ننوتې دې . اوس نو هغې د یاده ویستلې و چې د مارسي له پاره د سکندر بیګ ښځه بله ښه رشته نه شته. هغې ته دا هم ډاګیزه وه چې دهغې لور مارسي ددې لوچکو کسانو په لاسو کې خوندي نه شي پاته کیدې نو په همدې اساس یې په پوره همت سره وویل :

« ابوجعفره ! ما له تا څخه د اهیله نه درلوده ...... خو نن تا دا ثابته کړه چې ته یو ښه عیسایی نه یې. بلکه یو بدفطرته انسان یې ..... ته ولې د مارسي د تښتولو له پاره راغلې یې. په داسې حال کې چې ما له تاسره وعده کړې وه چې زه به مارسی سکندر بیګ ته واده کوم او زه ددې کار له پاره تیاره ناسته وم. په دې کې شک نه شته چې زه د صلیب په خاطر ستا سره په ډېرو شیانو کې ملګرې وم خو یاد ساته چې زه به هیڅکله هم اجازه ورنکړم چې څوک زما لور زما تر سترګو و تښتوي.

کله چې مارتها خپله خبره پوره کړه نو ابوجعفر په زوره زوره دومره وخندل چې ټوله کمره یې د خندا دانګازو څخه ډکه شوه. دهغه په مخ د نړۍ دشیطانت ټولې څپې ګرزیدې. هغه نه یوازې په زوره خندل بلکه په خپل مکروه اواز کې یې خپله خندا همداسې اوږدوله. بیا یې په ډېر مشکل سره خپله خندا و دروله او ویې ویل: « واه ، مارتها بیګم ! چې زه به ستا دا نازدانه لور په ډولۍ کې کینوم او وړم به یې. اویا به ورته په لارو کې ګولونه شیندم. مارتها بیګم ! ستا په ذهن کې به هم داخبره را ونه ګرځي چې د ابوجعفر ذهن تر کومه ځایه پورې رسیږي. اوس نو واوره چې زه ولې ستا د لور د تښتولو له پاره په دې نیمه شپه کې ستا کور ته راغلې یم.

مارتها ! ته اوس د قاسم بن هشام او ډېرو نورو خلکو په سترګو کې راغلې یې. او په دې توګه ته زما له پاره یوه کمزوري ګرزیدلې یې. زه په دې پوهیږم چې ته یوه کمزوري ښځه یې. که چیرې د قاسم بن هشام په سلا سره سلطان تا ونیسي نو بیا به ته د پټې محکمې د جلادانو سختۍ ونه شې زغملای اوزه په دې هم ډاډمن یم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالبانوي شهزادګانو د وژلو نه تر اوسه پورې چې څومره حالات تيرشوي دي ټول به دې پټې محکمې ته بيان کړې او ته په دې هم پوهيږې چې زه دخپل ځان پر خلاف هيڅ ډول ثبوت نه پريږدم......اوس وخت راغلې چې زه ستا دخدمتونو بدله تاته درکړم.

دابوجعفر خبرو دمارتها وينه و چه کړه. اوس نو هغه پوه شوې وه چې په دې نيمه شپه ابوجعفر دهغې کورته ولې راغلې دې. ابوجعفر خپلې خبرې بندې کړې اويوځل بيا يې په ډيره مکروه او ناولې توګه په خندا پيل وکړ. دهغه خوله دخندا نه وازه وه او توره يې په نيام کې وه چې مارسي پرې يو ناڅاپه مرګونې ګذار وکړ خو ابوجعفر يو اړخه ته ځآن واچاوه او دمارسي د تورې دګذار څخه يې ځان خوندی کړ ،که چيرې دمارسي ګذار پرې لګيدلې وې نو دهغه اوږه به يې شکولې وې اودهغه د زړه پورې به رسيدلې وې. اوس نو نه يوازې هغه خپل ځان خوندې کړ بلکه خپله توره يې هم را وويسته او خپلو دواړو ملګرو ته يې هم د را ننوتلو حکم وکړ. کله چې هغه دواړه نقاب پوشان کمرې ته را ننوتل نو په مارسی باندې يې را هئ کړل خو ابوجعفر هغه وخت ډير حيران پاته شو چې مارسی د يوې ماهرې تورې وهونکې په څير ددواړو نقاب پوشانو توره وهونکو سره درنه مقابله کوله. او مارسی به ولې دهغوې مقابله نه کوله ، هغې دقاسم د ازاديدو وروسته دقاسم څخه په پرلپسې توګه دتورې وهلو درس اخسته. او اوس هغې د يوې پوهې اوماهرې توره وهونکې په څير مقابله کولې شوه.

ابوجعفر او مارتها يوې لورې ته ولاړ و او د مارسي او دوو نقاب پوښانو تر منځه يې دمارسی دتورې دوهلو دفن سيال کاوه. مارتها هم ډيره حيرانه ولاړه وه او مارسی يې کتله چې څه ډول يې کورته د راننوتو غلو دتورو په مقابله کې خپله توره جنګوله اوځان يې خوندي ساته. دشپې په تيارو کې د تورو شرنګار تر لرې لرې ځايو پورې اوريدل کيده ، زړه خادمه او ځوان کوچوان اکبر هم په خپلو خونو کې رابيداره شوي وو. دخادمې په زړه کې ويره او د ځوان اکبر په زړه کې ميړانې ټوپونه وهل. اکبر په يوه ټوپ سره خپله بستره پريښوده او په يوه منډه يې په ديوال باندې نښتې برچه راواخسته ، دهغه ذهن په ډيره ګړندۍ توګه دې لورې ته متوجه شوې و چې په کور باندې غلو داړه اچولې ده او يا دا چې دښمن په مارسي باندې يرغل راوړې دې. په ډيره بيړه د خپلې کمرې څخه ووت اودخپلې مالکې د کمرې په لور ورغې ،کمرې ته د ورننوتلو وروسته يې چې کله وکتل چې دمارسی او دوو نقاب پوشانو تر منځه دتورو مقابله روانه ده او ترڅنګ يې مکروه اوشيطان شکله ابوجعفر خپله توره د تيکې را ويستلې اودمارتها په لور ور روان دې نو ډير زيات حيران دريان و دريد. هغه باور نه شو کولې چې ابوجعفر به هم مارتها ووژني. همدا علت و چې هغه مارتها پريښوده اودمارسی دکومک له پاره يې ورمنډه کړه اوپه يوه ګذار يې د يوه نقاب پوښ په ملا کې خپل خنجر ور ننويست. په دې وخت کې مارسی هم د مقابلې څخه ستومانتيا احساسوله. په ملا خنجر خوړلې نقاب پوش د زمکې سره زمکه شو خو په همدې وخت کې مارسی او اکبر دمارتها زړه چاوديدونکې چغې واوريدې اودهغې په لور يې ورمنډه کړه .داکبر سترګې دحيرانتيا څخه بيرون را وتلې وې. ځکه هغه باور نه شو کولې چې دمارتها ډير پخوانې د زړه ملګرې ابوجعفر به هم مارتها په داسې بې دردۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ووژني. کله چې مارسی خپله مور په وینوکې ډوبه وکتله نو هر څه یې پرېښوده اوهغې لورې ته یې ورمنډې کړې ، خپله توره یې هم ایسته اچولې وه ، هغې فکر کاوه چې مور یې هغوې د تل له پاره پرېښودل. منډه یې کړه اودمور سره ورغاړې وته او په چیغو چیغو یې مور ته اواز کاوه ، مورې ...مورې ... خو دمارتها په ګېډه کې د ابوجعفر توره ښه ګرزیدلې وه . او هغې خپله اخري ساه اخسته . مارسی دخپلې مور سر را پورته کړ اوپه خپل زنګون یې کیښود او هغې ته یې په زوره زوره غږ کاوه تر څو هغه د بلې نړۍ د تللو څخه راستنه کړي.

دکمرې بل منظر هم د لیدلو وړ و . دمارسي څخه لویدلې توره اوس د اکبر په لاسو کې وه او اکبر د هغه بل پاته شوې نقاب پوښه پر خلاف په جنګ کې لګیا و . ابوجعفر خالي لاس و او په دې انتظار کې و چې که موقع او فرصت تر لاسه کړي نو دهغه وژل شوي نقاب پوښه توره به راواخلي. ځکه دهغه خپله توره دمارتها په ګېډه کې پاته شوې وه. او دمارتها تر څنګ په غم او غصې کې ککړه مارسي ناسته وه. همدا علت و چې ابوجعفر مارسي ته د ورنژدې کیدو څخه په ویره کې و . اکبر د تورې د وهلو په فن نه پوهیده. خو بیا یې هم د هغه نقاب پوشه هر ګذار په خپلې تورې باندې لکه د یوه ماهر سپاهي په څیر تم کاوه او په پوره همت سره یې مقابله مخته وړله...... خو تر څو پورې به دغه دیارلس ، څوارلس کلن هلک د ابوجعفر د روزل شوي تجربه لرونکي غدار سپاهي سره مقابله کوله ،....او بیا همداسې وشول ، دغه تجربه لرونکي نقاب پوښه اکبر پوره ستومانه کړ او بیا یې پرې د تورې سخت ګذار وکړ او داکبر یو لاس یې دهغه د تنې څخه پرې کړ. د اکبر پرې کړل شوې لاس دمارسي تر څنګ پریوت . مارسی تر اوسه پورې هڅه کوله خپله مور د مرګ دکومې څخه را وکاږي. خو دمارتها سترګې دهغې دبدن څخه بیرون را وتلې وې اودهغه وجود هره شیبه د وینې د بهیدو په خاطر زیږیده. خو ناڅاپه دمارتها د وجود رګونه ساړه شول دخپلې لور مخ ته یې وکتل.... مارسي چغې کړې او مور ته یې وویل:

مورې .....مورې.....دخداې له پاره ما ځانته مه پرېږده ......

مارتها د مړینې په حال کې وه ،اخري ساه یې اخسته. هغې مارسي ته وکتل او د څه ویلو هڅه یې کوله دهغې اخري الفاظ داسې و....

«مم....مم....مار .....سي ! ..... اب .....بو .....فر...... دقیصر جاسوس دې ........مم......مم .... ما ال....بان وي ....شاه زادګانو ته ......زهر .......ور.......کړ..........کړی ....ووو....»

مارتها مړه شوې وه ،مارسي چې کله د خپلې مورسترګې بې نوره وکتلې نو اسمان څیرونکې چیغه یې دخولې ووتله ، اوس نو هغه په دې نړۍ کې ځانته پاته شوې وه. بلکه د ابوجعفر په څیر د یوه وحشي حیوان رحم وکرم ته پاته وه. خو ښخوا ددې څخه چې دخپلې مور په اړه څه نور فکر وکړي ، خپل شاته یې دځوان اکبر چغې تر غوږو شوې. مارسي داسې شوه لکه څوک چې د خواږه خوبه رابیدا ر شی. دنقاب پوښه توره دهغه په سینه کې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتي وه..... کله چې مارسی خپل وفادار ملازم په دغه حالت کې وکوت نودهغې په وینه کې دقهر او غصې څپې نورې هم تاندې شوې ،هغه داور د بخرکي په څیر ورمخته شوه او د اکبر توره یې راواخسته اود زخمي زمری په څیر یې په نقاب پوښه باندې حمله وکړه. کله چې نقاب پوشه دمارسی حملې ته متوجه شوه نو خپله توره یې دکبر دسینې څخه را وویسته او ځای یې بیرته په وسله سمبال کړ. مارسی لکه د توپاني سیلۍ په څیر په دواړو باندې حمله ور وړه اوهمدا دهغې غلطي وه ، کله چې ابوجعفر وکتل مارسی لکه د لیونۍ په څیر هرې لورې ته حملې کوي نوپه ډیر زغم سره یې دهغې ګذار په خپله توره تم کاوه. مارسي دغصې څخه دې حد ته رارسیدلې وه چې د ستونې څخه به یې ډول ډول اوازونه راوتل ، د بله اړخه نقاب پوښه هم دمارسی د تورې ګذارونه په پوره حوصلې سره اخستل ، ابوجعفر اونقاب پوشه نه غوښتل مارسی له منځه یوسي ځکه هغوې دهمدې له پاره راغلی وو چې مارسي له ځانه سره و تښتوي. په دې اساس هغوې هوډ درلود چې دغه بې عقله نجلۍ ژوندۍ و نیسي.

دمارسي څخه هم برق او بریښنان جوړه شوي وه، هغه به هرې لورې ته ټوپونه وهل او په هغوې دواړو به یې حملې کولې ، هغې به دومره په چالاکۍ سره حمله کوله چې ابوجعفر او هغه بل نقاب پوشه به دهغې حمله په مشکل سره دفعه کوله ، خو دا ډاګیزه نه شوه چې د مارسي تورې به په ابوجعفر او نقاب پوش کې څومره زخمونه پیدا کړي و خو هغوې اوس هم غوښتل مارسي ژوندۍ ونیسي ځکه مارسي د ابوجعفر له پاره ډیر اهمیت درلود، ځکه که هغه مارسی له لاسه ورکولې نو بیا خو ابوجعفر دسکندر بیګ څخه دقیصر د جاسوسۍ له پاره کار نه شو اخیستلای. په همدې خاطر ابوجعفر دمارسی دتورې هر ګذار په ډیر احتیاط سره اخسته. خو دلږ ځنډ وروسته مارسي احساس کړه چې نوره ډیره ستومانه شوې ده او دستومانتیا څخه یې دزړه درزهار وار په وار زیاتیږي او نژدې ده چې په زمکه راپریوځي.

کله چې دمارسي په حملو کې کمښت راغې نو ابوجعفر او نقاب پوښه دواړو دهغې د نورو ستومانه کولو په خاطر په هغې پرلپسې حملې پیل کړې. اوس نو دمارسی همت نور ځواب ورکړې و، ابوجعفر او نقاب پوښه دواړه قوی او تنومنده وګړي وو ،په داسې حال کې چې مارسی دهغوې په مقابل کې یوه ځوانه او د کمزوري وجود خاونده پیغله وه. خو نن هغې د خپل همت نه پورته مقابله کړې وه او د ابوجعفر اودهغه د نقاب پوښه ملګري وار پار یې وارخطا کړي و. خو اوس هغې دا احساس کړې وه چې ددې دواړو غلو مقابلې ته نور دوام نه شي ورکولې ، په همدې وخت کې هغې یوه ډیره عجیبه و غریبه پریکړه وکړه او دابوجعفر په څیر د بدکړچاره خلکو څخه یې دخپلې ابرو اوعزت د خوندي ساتلو په خاطر دا و پتیبله چې خپل ژوند پای ته ورسوي،هغې نه غوښتل چې ابوجعفر یې ژوندۍ و نیسي. په همدې فکر کې یې خپل ځان په زمکه را و غورزاوه او سمدستي یې دخپلې تورې څوکه په خپلې ګیډې کې ورننویسته.......

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي دغه ډول له منځه تلل ابوجعفر ته د زغم وړ نه و ، هغه ډیر زیات وار خطا شو ،هغه داسې وانګیرله چې ټول کار یې اوبو ویوړ. سمدستي ورمخته شو او دمارسي د ګیډې څخه یې دهغې توره راوویستله. اوپه د ډیرې واخطایی په حال کې یې خپل نقاب پوښنه ملګری ته حکم وکړ چې سمدستې مارسي په اوږه کړي او ددې ځآیه یې و کاږي. نقاب پوښنه هم رامخته شو او بې هوشه مارسي یې په لاسو کې واخسته او په ډیره بیړه بیرون ووت. ابوجعفر هم ور پسې په بیړه ووت. اوس نو دابوجعفر له پاره دمارسي ژوند ډیر ارزښتناکه و. هغه غوښتل ژر تر ژره مارسي ته طبې کومک ورسوي ، کله چې ابوجعفر او هغه نقاب پوښنه مارسی د وژل شوې مارتها له کوره را وویستله نو هغې زړې خادمې په ډیر احتیاط سره د اواز دپیدا کیدو پرته د کور د انګړ دروازه و تړله. همدا زړه خادمه اوس ددې ټولو کړنو یواځنۍ شاهده وه.

ابوجعفر دخپله ځآنه سره زخمي مارسی د خپل یوه بل جاسو او فعال غړي سلیم پاشا کور ته ور ورسوله. سلیم پاشا د اورنه ډیر مشهور معالج ډاکټر پیژندل کیده ، خو په حقیقت کې هغه هم د قیصر مهم جاسوس و ، هغه د جراحت او د طب په علومو کې پوره پوره مهارت درلود . اود خپل ذهانت او تجربې په اساس یې تر سلطانې قصر پورې لاره پیداکړې وه. د سلطان مرادخان ثاني د طبیبانو شمیره شل کسو ته رسیدله. اوسلیم پاشا هم دهمدې ډلې څخه یو و. په تیرو څو ورځو کې سلطاني قصر ته دشهزاده علاو الدین د کتلو له پاره د سلیم پاشا تګ راتګ ډیر زیات شوی و. ځکه چې شهزاده علاؤالدین د ډیرو ورځو راهیسې د ځګر په ناروغتیا ککړ شوی و ، کله چې شهزاده علاوالدین دخپلې ناروغتیا په اړه ابوجعفر خبر کړ نو هغه ورته دسلیم پاشا څخه دعلاج کولو له پاره مشوره ورکړه. په داسې حال کې چې پخپله شهزاده علاؤالدین د ابوجعفر په واسطه د ځګر په ناروغتیا اخته شوی و. هغه دڅو میاشتو راهیسی شهزاده علاؤالدین ته په مختلفو خوراکونو او مشروباتو کې داسې زهر ورکول و چې هغه په کرار کرار له منځه یوسي.

څو میاشتې مخته ابوجعفر داسې محسوس کړې وه چې کار یې نور په اورنه کې پوره کیدونکې دې نوپه دې خاطر یې د عثماني سلطنت ددغه میړنې او فعال شهزاده د له منځه وړلو له پاره دغه پلان پیل کړ. ځکه د سلطان مرادخان ثانې وروسته همدغه شهزاده و چې د فوځ قیادت او قومنده به یې په غاړه اخیسته. خو ابوجعفر دهغه بل شهزاده په لور کوم فکر نه کاوه، ځکه چې له یوه اړخه هغه تنکې ځوان و اودبله اړخه ابوجعفر دا انګیرله چې په هغه کې دسلطانۍ وړتیاوې نه شته . همدا علت وچې ابوجعفر د شهزاده علاوالدین سره اړیکې پیدا کړل اودخپلو مذمومو موخو د ترسره کولو له پاره یې دهغه له منځه وړل اړین وګڼل. او اوس چې په اورنه کې دابو جعفر کارونه پاې ته رسیدونکې وو نو هغه شهزاده ته د سست اغیزکونکې زهرو نسخه ورکړه ، سلیم پاشا د شهزاده علاؤالدین طبیب و خو په حقیقت کې دغه وګړې په اورنه کې د ابوجعفر نه وروسته د قیصر ستر جاسوس و. ددې ترڅنګ سلیم پاشا لا تراوسه پورې د قاسم بن هشام د سترګو هم خوندي پاته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ابوجعفر زخمي مارسی له ځآنه سره د سلیم پاشا کور ته وروړه. نو سلیم پاشا یې پرته له ځنډه علاج پیل کړ ، مارسي ډیره زیاته وینه له لاسه ورکړې وه . اودهغې د ښایسته ځهرې رنګ د خزان د پاڼې په څیر تک ژیړشوي و. هغه د ډیره وخته راهیسی بې هوشه وه اودهغې ښایسته ښو دهغې سترګې داسې ور پټې کړې وې لکه تابه ویل چې په خواږه خوب ویده ده......

پاته ټوله شپه سلیم پاشا د مارسي تر څنګ ناست و او دهغې د زخمونو په علاج کې مصروف و. سهار وختي یې ابوجعفر ته خبر ورکړ چې د البانیې دراتلونکې ملکې ژوند اوس د خطر نه بیرون دې نو په لمړي ځل د ابوجعفر په مخ باندې دمکر اوفریب خندا را پیدا شوه. اوس نو دابوجعفر پلان تکمیلیدونکې و. یو نظر یې مارسي ته وکتل ،کله یې چې هغه دخوب په حالت کې وکتله نو ډاډمن شو ، ابوجعفر دکمرې څخه بیرون را ووت ،دهغه تر شا سلیم پاشا هم را ووت ، په دې وخت کې ابوجعفر سلیم پاشا ته وویل:

« ډیر ښه ډاکتر صیب. زه اوس در څخه ځم. دانجلۍ به یو څو ورځې همدلته له تاسره اوسي. ددې ساتنه او څارنه په تا ده. که دیسوع مسیح خداې وغواړي نو مونږ به ډیر ژر هغه د سکندر بیګ لورې ته ور ولیږو اودهغه سره به خپله ژمنه پوره کړو. هغه به زمونږ ددې کار څخه دومره خوښ شي چې خپل ټول فوځ به د هونیاډې د فوځ تر قومندې لاندې ورکړي ، سلیم پاشا ! زه ډاډمن یم چې دا پیغله به څو ورځې له تاسره همدلته خوندي پاته وي .....»

سلیم پاشا ورته په مثبته توګه هوکړه وکړه او ورته یې وویل« مقدسه پلاره ! ته اندیښنه مه کوه ، اوس به دانجلۍ دلته زمونږ سره خوندي پاته وي.....»

ابوجعفر ورته یو ځل بیا وویل: « را ته ووایه ، چې د شهزاده علاوالدین علاج دې کوم ځآې ته رسولې دې ؟» ددې خبرې دکولو سره سم دابوجعفر په څیره کې دشیطانت مسکاهم را ډاګیزه شوه.

سلیم پاشا هم په همغه توګه خندا وکړه او ورته یې وویل: « مقدسه پلاره ! شهزاده علاؤالدین به ډیر ژر دتل له پاره دنړۍ د ستومانتیاو څخه بیغمه او ازاد شي، ما په ډیره احتیاط سره دهغه علاج تر سره کړې دې.....»

ابوجعفر د سلیم پاشا دخبرو داوریدو وروسته د ډاډ او اطمینان ساه واخسته ، سر یې و خوځاوه او بیا یې دځانه سره فکر وکړ چې څومره ستر جاسوس دې چې د عثماني سلطنت په مرکز اورنه کې یې د سلطان مراد خان ثاني پر خلاف د جاسوسۍ پراخه جال خپور کړې دې او اوس دهغه دغه پلان د بریالیتوب اخري پړاونو ته رسیدلې دې. هغه فکر کاوه چې اوس نو هغه د شاهي سراغ رسان او نورو خلکو په سترګو کې را لویدلې دې په دې خاطر بایدهر وخت د اورنه د پریښولو له پاره تیار و اوسي. هغه فکر وکړ چې دهغه نایب ډاکټر سلیم پاشا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې دچا تر سترګو شوې نه دې. نو په دې خاطر پاته کار به سليم پاشا ته ور وسپارل شي. په همدې فکر کې ډوب و چې سليم ته يې وويل:

« سليمه ! زه فکر کوم چې نور نو په اورنه کې زما کار پای ته رسيدلې دې. زما خبره په غور او دقت سره واوره. کله چې دا نجلۍ د تللو وړ و ګرځي نو زه به يې د خپله ځانه سره يو ځای البانيه ته يوسم ، خو تر شا وروستې کارونه ، په اورنه کې بغاوت خپرول او د شهزاده علاؤالدين او قاسم بن هشام وژل او دسلطان عزل او دهغه دتخته د را پرزولو ټولې دندې تاته درسپارم. ته د يني چرى ټول عيسايي مجاهدين ډير ښه پيژني او زمونږ دسازش د پلې کولو په وخت کې به د ټولو خلکو سره اړيکې موجودې وې. په دې اساس ته به په دې اړه د هيڅ ډول ستونزو سر مخ نه شې.

دسليم پاشا له پاره دا ډيره دعزت خبره وه ، او تر څنګ يې يو دروند مسؤليت هم و. هغه په مؤدبانه توګه خپل سر وخوځاوه،ابوجعفر ته يې تسلي ورکړه او ورته يې وويل: « مقدسه پلاره ! تا چې ماته د صليب اعظم دخدمت کوم فرصت را کړې دې ، دهغې فرصت څخه به زه پوره پوره ګټه واخلم او دا به درته ثابته کړم چې ستا پريکړې تر څومره پورې سهي وې.»

ابوجعفر بيرته ستون شو. د ټولې شپې جنګ و جدل هغه پوره ستومانه کړې و. اوس هغې غوښتل چې ولاړ شي او ارام وکړي ، دطبيب سليم پاشا څخه يې اجازه واخسته.او دهغه د کوره را ووت. په دې وخت کې د هغه دواړه نقاب پوښه ملګرې دخپلو خپلو ځآيو په لور تللې و. هغه مارسی هملته دسليم پاشا په کور کې دهغه تر څارنې لاندې پريښوده.

سليم پاشا هم په حقيقت کې سليم پاشا نه و ،دهغه خپل نوم « لوګان » اودهنګري اوسيدونکې و، نوموړې د تيرو څو کالو راهيسې دلته په اورنه کې ميشت و. خو دخپل قدو قامت نه په ګټې اخستو سره يې خپل ځان ترک ښکاره کاوه. اورنه ته د راتلو وروسته هغه خلکو ته دا ډاګيزه کوله چې هغه يو ډير ستر طبيب دې او د تاتاري سيمو څخه عثماني سلطنت ته راغلې دې. هغه خلکو ته داهم وويل چې دهغه پلار د امير تيمور په دربار کې شاهي طبيب او جراح و. همدا علت و چې دسلطنت امراء ډير ژر دهغه سره اشنا شول. اوهغه يې دخپلو ځانو له پاره خاص طبيب و ټاکه. مارسي د سليم پاشا ځآې ته رارسيدلې وه او تر اوسه د خوب په حالت کې پرته وه. همدا علت و چې سليم پاشا خپلې زړې خدمتګارې ته د مارسي په اړه ځانګړې لارښوونې وکړې او پخپله د ارام کولو له پاره خپلې خونې ته ولاړ.

سهار چې د قاسم سترګې دخوبه پرانستل شوې نو فکريې وکړ چې ډير خطرناک خوب يې کتلې دې. دهغه وجود ستومانه و او زړه يې په نااشنا توګه درزيده. خو هغه نه شو احساسولې چې دا خوب څه ډول تعبير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدې خوب په اړه یې فکر کاوه او د بسترې څخه راپورته شو ، دسهار دلمانځه له پاره جومات ته ولاړ . د لمانځه د فراغت وروسته بیرته کورته راستون شو ، په دې وخت کې کوچنیان هم دخوبه را ویښ شوي و. په دې وخت کې دعمر او علي عمرونه هم د پنځو او درې کالو شوی و . عمر بلکل دخپل پلار په شکل و خو علی خپلې مور سیکنې سره په شکل او قواره کې یو شانته والې درلود. خو په دې وخت کې دې دواړو کوچنیانو دخپل مور او پلار په ځای د قاسم او مارسي سره ډیره اشنایی پیدا کړې وه. دتیرو څو ورځو راهیسې به مارسي هره ورځ د قاسم کور ته راتله. په دې اساس دقاسم دکور دهر وګړي سره هغه پرته له کومه تکلفه کیناسته. مارسي پخپله هم یوه شوخه او شقبه پیغله وه ، په دې خاطر په څو ورځو کې دټول کور ستورې وګرزیده. یوه ورځ د قاسم مور قاسم ته دسهار د ناشتې په وخت کې وویل:

«اوس نو څه ته انتظار کوې .... اوس خو زمونږ لور غزاله جانه باید زمونږ کور ته راوستل شي . ځکه هغه هلته دخپلې عیسوي مور سره دخوندیتوب احساس نه کوي.»

قاسم دخپلې مور په خبرو ډیر حیران شو . هغه ته داسې څرګنده شوه چې په دې سهار کې د هغه د مور د خبرو او دهغه د تیرې شپې دخوب تر منځه یو ډول یوشانتوالي تر شترګو کیږي . هغه ته په ناڅاپې توګه د مارسي هغه خبره هم یاد ته راغله چې ډیره موده مخته یې قاسم ته ویلي وو ..... « زه هر وخت د خپل خوندیتوب په اړه اندیښمنه کوم »...... ډاګیزه نه شوه چې قاسم ته څه وریېښ شول چې یو ناڅاپه یې د سهار د ناشتې څخه لاس واخست. هغه په ډیر غمژنه توګه خپلې مور ته وویلې:

« مورجانې ! داریښتیا ده چې زه د غزالې د خوندیتوب په اړه ډیر اندیښمن یم، خو دسلطان د راستنیدو دمخه زه هیڅ داسې قدم نه شم اخستلې ، ځکه زه سلطان دلته په اورنه کې څارونکې اوسراغرسان ټاکلې یم. نو اوس که زه چیرې په دښمن باندې دڅارنې په ځای دواده په مراسمو کې مصروف شم نو بیا به زه دسلطان تر مخه خجالت و اوسم...... بس یو څو ورځې نور هم صبر وکړئ، څنګه چې سلطان دخپل فوځې مهم څخه بیرته را ستون شي نو مونږ به هم غزاله کور ته راوړو »

په د ې وخت کې د قاسم ذهن بل ځای کې مشغول و ، هغه چې څه ویل هغه یې په خپله هم نه اوریدل. خو دهغه په دماغ کې د تیرې شپې خوب یو ځل بیا خپلې نوکې ښخې کړې وې. ډیره نا ارامي یې احساسوله. په همدې وخت کې د قاسم دکور دروازه چا و ټکوله. د قاسم کور ته دمارسی نه پرته بل څوک دومره نه راتلل. قاسم ددروازې دهمغه لمړي ټکټک سره را پورته شو خو یو ناڅاپه ډیره حیران پاته شو چې مارسی به ولې دومره وختي زمونږکور ته راغلې وي ؟ هغه راپورته شو او په ډیر بیړه دروازی ته ورغې. خو کله یې چې په دروازې کې د پټې محکمې مشر بهرام خان وکوت نو ډیر حیران پاته شو ، مارسي یې له یاده ووته او دا فکر یې په ذهن کې را وګرزید



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هسې نه چې په ښار کې ابوجعفر دبغاوت اور نه وي لګولې. هغه دروازه و تړله او بیرون د بهرام خان سره په خبرو شو.

« بهرام خانه ! خیریت دې... ته ؟...... دومره سهار وختي ......؟؟»

خو دبهرام څیره دقهره تک شنه وه. دقاسم زړه هم په زوره زوره درزیده او اعصاب یې ستومانه شوي و. هغه خپل ځان د هرډول بدې خبرې اوریدو ته تیار کړې و. په همدې خاطر یې د بهرام خان څخه یو ځل بیا وپوښتل.

« بهرام خانه !ته خو هیڅ نه وایې ؟.... دومره سهار وختي دلته څنګه راغلې یې ؟»

بهرام خان په نیولې ژبه ورته وویل « ستا له پاره زه ښه خبر نه لرم قاسم بن هشام ! زه تاته لږ څه زحمت درکول غواړم.....»

د بهرام خان د لهجې څخه دقاسم خان په تندې خولې را ماتې شوې. ځکه ضرور داسې کومه خبره شته ...هغه د بهرام خان په لهجه کې نه یوازې طنز محسوساوه بلکه دهغه تحکمانه انداز یې هم له پامه و نه ویست. خو بیا یې هم ترې و پوښتل:

مقصد دې څه دې ؟..... ته ماته څه ویل غواړې ؟..... کومه خبره زما له پاره ښه خبر نه دې ؟»

«قاسم بن هشامه ! د البانوي وینځې په کور باندې چا حمله کړې ، حمله کونکو هغه هم وژلې ده او ترڅنګ یې دهغې زوړ ملازم او ځوان کوچوان هم له منځه وړې دې. دهغې ځوانه لور هم حمله کونکو له ځانه سره تښتولې ده .ددې ټولو حالاتو او ګواهیو نه دا څرګندیږي چې ددې وژونکو عملیاتو شاته یو شخص قرار لري....»

بهرام دهمدې خبرو وروسته خاموشه شو. خوپه ددې وژونکې خبر په اوریدو سره په قاسم سر وګرزید. هغه دخپلو پښولاندې زمکه خویندونکې احساسوله. دمارتها ، اکبر او زوړ خادم د وژلو خبر دقاسم لپاره لړزونکې و. اوس نو هغه دبهرام خان تحکمانه لهجه هیره کړې وه. هغه دې ته هم متوجه نه و چې د بهرام خان سره د پټې محکمې درې څلور کسان عسکر هم ولاړ دي.

هغه لا تراوسه د پیښې په چار چاپیر کې ډوب و چې یو ځل بیا یې ټکان وخوړ. بهرام خان ورته وویل:

قاسم بن هشامه ! د البانوي وینځې لور مارتها د څو ورځو راهیسې ستا کور ته تله راتله. او د بهرام خان دسترګو څخه دا خبره پټه نه وه...... ماته دا هم ډاګیزه شوې وه چې البانوي وینځې له تا او له تا سره دملګرې پیغلې مارسې څخه کرکه کوله. اوس ددې نجلۍ ژوندۍ غیبول او په بې رحمۍ سره دمارتها وژل همدې لورې ته اشاره کوي چې زه باید تا سمدستي له ځانه سره بوځم او بندي دې کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو دقاسم پښتیې سره ورغلې وې. دهغه د بدن ویښتان را زیږه شوي و. اود یوې لمحې له پاره بې روحه ولاړ و اوبيا يې د ويرې پرته په ډير قهر سره بهرام ته وويل: « څه ؟......دا ته څه چټيات وايي ؟ تا خو اصل جاسوسان پريښې دي اوزما څارنه دې پيل کړې ده. دومره ستره ييښه شوې ده ، زه دسلطنت شاهي سراغ رسانه يم او همدا وخت دې چې دمجرمانو څټونه ورمات کړم...... خو ته زما دبندې کولو خبرې کوې ؟......»

د قاسم د ژبې څخه اور وريده ، خو بهرام خان سمدستي خپله توره لوڅه کړه او برق په څير و غريد او ويې ويل: « قاسم بن هشامه ! ته د بهرام خان په سترګو کې نه شې ور ننوتلې. زه ستا د نيولو اوبندې کولو د ټول تياري سره يو ځاي دلته راغلي يم. ما د پيښې د پلټون د تکميليدو نه وروسته ، تر هر څه دمخه شهزاده علاوالدين ته مراجعه وکړه. او دروند شهزاده ماته په ذاتي توګه حکم وکړ چې تا سمدستي له ځانه سره بندي کړم، زه د سلطاني قصر څخه نيغ په نيغه دلته راغلي يم.

اوس نو دقاسم احساس را ژوندې شوې و ، هغه ته ډاګيزه شوه چې هغه په ډيره بده توګه د جاسوسانو په جال کې را ښکيل شوې دې ، هغه فکر وکړ چې داخل بنديتوب به يې د سلطنت له پاره ډير زيات زيانمن ثابت شي. ځکه ددښمن سازشونه هم خپلو اخري پوړونو ته رسيدلي دي. هغه دې ته هم متوجه و چې دا ځل به سلطان علاوالدين هغه په عزتمنده توګه له خپله ځانه سره نظر بند نه کړي بلکه شوني ده چې نوموړي به دهغو درې ګونو قتلونو په جرم دجلاد تورې ته ورحواله کړي. په همدې خاطر يې پريکړه وکړه چې جالات هر ډول چې وي بايد د بهرام خان لاسو کې ځان و نه نښلوي. هغه په همدې فکر کې ډوب و چې تر شا يې دروازه پرانستل شو ه، دا طاهر و ، د قاسم ورور ،هغه د بهرام خان قهرجن اواز اوريدلې و ، په دې خاطر ددروازې نه بيرون راووت. طاهر د کومې ترمخه خطرې له مخې خپله توره همداسې لوڅه راخستې وه. کله چې د دروازې څخه را بيرون شو نو سترګې يې د بهرام خان په لوڅې تورې ور ونښتې. هغه لا تر اوسه په موضوع نه و پوه شوې چې بهرام خپلو عسکرو ته حکم وکړ :

« دا سړې بې وسلې کړئ او ويې نيسئ..»

عسکر را مخته شول خو طاهر دخپله ځايه هم ونه خوزيد ، هغه د حجاز د درې منل شوې توره وهونکې او دعثماني سلطنت د تورې د وهلو د فن تر ټولو ستر استاد و. هغه درې واړه عسکر هملته تم کړل ، په داسې حال کې چې د بهرام خان سره يې ذاتي پيژندګلوي هم درلوده او په کار ورته داو چې هغه د بهرام خان څخه د مسئلې حقيقت ځانته معلوم کړې و ، خو هغه د بهرام خان په نيت باندې وپوهيد. هغه دا هيله نه درلوده چې د بهرام خان څخه داسې کومه نا خوښه خبره واوري. همدا علت و چې هغې دمحکمې ددرې واړو عسکرو تر مخ خپله توره پورته کړه او د بهرام خان په ګډون يې پرې حمله وروړه. ددروازې تر مخه د طاهر او د بهرام عسکرو تر منځه د تورو د وهولو شرنګار له لرې لرې څخه اوريدل کيده. طاهر دخپلې تورې په زور څلور واړه سپاهيان په نڅا نڅول. اوس نو دغو عسکرو اوبهرام خان دا احساس کړې وه چې هغوې نه شي کولې ددې پوه اوماهره توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهونکې په مقابل کې بريا تر لاسه کړي. ...... بهرام د قاسم په سر توره نيولې وه او هغه يې په خپل قابو کې راوستې و ، دهغه په سترګو کې حيرانتيا هم وه او قهر و غضب هم. ځکه دهغه تکړه اوروزل شوي سپاهيان د طاهربن هشام ترمخه لکه د نانځکو په څير نڅيدل، بلاخره يې په قهر او غضب سره وويل:

« طاهر بن هشامه ! زه درته حکم کوم چې توره دې کيږده ، ستا د ورور د نيولو په اړه پخپله شهزاده علاوالدين حکم کړې د ي. که چيرې ته خپله توره ونه غورزوی نوزه به په شاهي کارونو کې ستا مداخله ستر جرم وګڼم او ستا د وژلو څخه به هم دريغ و نه کړم.»

خو د طاهر بن هشام توره لکه د جادو د خنجر په څير په هوا کې نڅيده ، هغه پخپله د بادو توپان په څير څلور واړه سپاهيان پسې واخستل اوبيا يې د تورې په خوزولو سره لکه د سر تيرې په څير وخندل :

«بهرام خانه ! که ته وايې چې زه توره و غورزوم ، نه ته دهر څه لمړی زما د ورور دسر څخه توره لرې کړه. او که نه زه به تا او ستا دا کارندې د ګازرو اوملېو په څير پرې پرې کړم.»

بهرام هيڅکله هم داسې هيله نه درلوده چې طاهر دې دشهزاده سلطان علاوالدين د نوم د اوريدو وروسته هم خپله توره و نه غورزوي. لږ څه فکر يې وکړ اوبيا يې دقاسم دسر څخه توره لرې کړه. دا د قاسم له پاره بهترين وخت و. هغه لکه سمدستي يوې لورې ته شو او بيا يې په يوه منډه ځان د هغه ځايه وويست. دا حالت د بهرام خان د هيلو پرخلاف و. کله يې چې وکتل چې قاسم خان يې د لاسو څخه ووت نو هر څه يې هير کړل او سمدستي يې دهغه تر شا ور منډې کړې ، هغه نور سپاهيان چې د طاهر سره په توره وهلو کې مصروف و د بهرام د تلو سره سم يې د طاهر سره مقابله بس کړه او يوې لورې ته شول ، هغوې لا دپخوا څخه دعاوې کولې چې په کومه توګه ددې مصيبت څخه خلاصون ومومي. ځکه د طاهر توره پر هغوې د الله دعذاب په څير را نازليده. خو څنګه چې ورته د دې عذاب څخه د خلاصون لاره پيدا شوه نو شا يې را واړوله او په تيښته يې دهغه ځايه ځانونه وويستل .اوس نو بهرام خان اودهغې عسکر د قاسم په لټون پسې وتلي وو. خو په حقيقت کې هغوې قاسم له لاسه ورکړې و .......

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

# د زيجيدين تړون

قاسم د بهرام خان او دهغه دملګرو څخه داسې ورک شو لکه دخره دسر نه چې ښکرونه ورک شوي وي ، خو په حقيقت کې هغه دخپل کور تر څنګ په يوه کوڅه کې د يوه کور په ډيوډۍ کې ور ننوتې و . خوبهرام خان او دهغه ملګرو داسې انګيرله چې هغه به تر لرې کومه ځايه پورې تللې وي . په دې خاطر هغوي دخپل فکر له مخې په يوې لورې منډې وهلې. کله چې قاسم دبهر ام خان او دهغه دملګرو دسترګو څخه پټ شو نو دبرق په څير بيرته راستون شو او دخپل کور مخې ته راغې ، دلته يې ورور لا تر اوسه توره په لاس حيران و پريشانه ولاړو. قاسم په ډيره بيړه طاهر ته وويل :

« وروره ! غزاله يې تښتولې ده .دهغې مور او دهغې ملازمين يې چې کوچوان اکبر هم په کې شامل دې وژل شوي دي ، خو بهرام خان ددې ټولې قضيې شک پر ما کوي او يو ځل بيا يې د شهزاده علاوالدين څخه زما د نيولو اوبندي کول احکام راوړي دي. خو زه غواړم چې غزاله را پيدا کړم خو شهزاده اوبهرام خان به ما دې کار ته همداسې پرې نه ږدي. خو ما پريکړه کړې چې پخپله د البانيه په لاره د غزالې د را پيدا کولو هڅې وکړم، ځکه زه په دې ډاډه يم چې غزاله د ابوجعفر کسانو د سکندربيګ له پاره ددې ځايه تښتولې ده . څرنګه چې دا ټوله پيښه د شپې په نيمايي کې ترسره شوې ده نو په دې اساس به تښتونکې تر ډيره لرې پورې نه وي تللي.»

کله چې قاسم خپل ورور طاهر ته داخبرې کولې نه هغه دخپل کور ددروازې تر مخه همل‌ته په کوڅه کې ولاړ و . خو دخبرو د خلاصيدو سره سم يې د کور اخور ته ورمنډه کړه ، طاهر هم دهغه خبرې اوريدې اودهغه سره يو ځاې د اسونو اخور ته ور ورغې. کله يې چې قاسم دآس دزين کولو په حال کې وکوت نو ورته يې وويل:

« زه به هم درسره يو ځاې ولاړ شم...»

« نه ! ته له ماسره مه ځه..... دلته په اورنه کې هرساعت د بغاوت د راپيدا کيدو ګواښ موجود دې. ته همدا اوس د شهزاده محمد او ملکې سروين سره ووينه او د ابوجعفر د نيولو احکام ترې تر لاسه کړه. زه سل په سلو کې ډاډمن يم چې مارتها د ابوجعفر کسانو وژلې ده.»

قاسم خپل آس تيار کړې واوپه کور کې د چاسره د کتلو پرته راووت. طاهر هم ورسره يو ځاې را روان و . په دې وخت طاهر يو ناڅاپه د قاسم د اس د زين سره تړلې وسلې ته وکتل او ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« اوه .....ستا دغشو په کڅوړه کې خو ډیر کم غشي دي .....لږ صبر وکړه چې زه په کې نور غشي هم کیږدم.....»

«نه ! ...زه ددې نه زيات وخت نه شم ضايع کولې ،ځکه بهرام به په څو لمحو کې بیرته راستنیږي ، ته هڅه وکړه چې دهغه سره د سوال ځواب په ځاې سلطاني قصر ته ولاړ شې....»

طاهر هم دوخت د نزاکت احساس وکړاو خپل سر يې د اثبات په خاطر و خوزاوه.

قاسم هم سمدستي خپل آس ته قمچينه ورکړه ، خپل مخ يې د پګړۍ په لمن کې را پټ کړ، آس يې هم دهوا په څير پورته روان و او دښار په لور ورنژدې کيده.

هغه غوښتل په ډيره بيړه ډير لرې سفر وکړي ، دهغه په آند چې مارسي د تښتونکو له اړخه سهار وختي د اورنه څخه تښتول شوې ده. هغه غوښتل ژر تر ژره پنځوس کوړه سفر وکړي ځکه هغه انګيرله چې تښتونکو به لا تر اوسه پورې پنځوس کوسه سفر نه وي وهلې. او که کړې يې هم وي نو ستومانه شوي به وي. دهغه ځواکمن آس د اورنه څخه لکه د الوتونکې په څير د البانيه په لور الوت.

دبله اړخه طاهر هم سلطاني قصر ته ور رسيدلې و او شهزاده محمد او ملکه سروين يې د مارتها د وژلو او دمارسی د تښتولو څخه خبر کړل دا دملکې له پاره يو دردونکې خبر و. هغې ته مارسی ډيره ګرانه وه اودمارتها په اړه يې هم تر يوه ځايه معلومات درلود. خو کله چې طاهر د ملکې څخه د ابوجعفر د سمدستي د نيولو غوښتنه وکړه نو ملکه په ډيره سخته توګه متوجه شوه او سمدستي يې وويل:

« بې شکه چې دا وګړي سمدستي او بې له ځنډه بايد ونيول شي»

خو شهزاده محمد ورته وويل چې ابوجعفر د شهزاده علاوالدين سره خاص اړيکې لري او شهزاده علاوالدين دابوجعفر د نيولو په ځاې دقاسم بن هشام د نيولو حکم ورکړې دې ، شهزاده محمد هغې ته دا هم وويلې چې قاسم د بهرام خان د پنجو څخه دخلاصون وروسته دمارسي د را پيداکولو له پاره د البانيه لاره نيولې ده..... اوس نو ملکه هم د حالاتو د نزاکت څخه پوره پوره خبره شوه او د لږڅه فکر کولو وروسته يې وويل:

« سهي ده ...... نو مونږ بايد د شهزاده علاوالدين سره خبرې وکړو ..... راځئ تاسې دواړه هم زما سره يو ځاې ولاړ شئ ، زه به همدا اوس د شهزاده سره خبرې وکړم....»

طاهر اوشهزاده محمد دملکې سره يوځاې د شهزاده علاؤالدين ځانګړې خونې ته راغلل. ملکه تر ټولو دمخه روانه وه. دهغې دوه کسه خادماني دهغې ښي او چپ لورې ته رواني وې ، کله چې ملکه د شهزاده علاوالدين کمرې ته ور ننوتله نو په پالنګ باندې دپريوتې شهزاده په کټلو سره حيرانه پاته شوه. هغه په بستره باندې پروت او دښار مشهور حکيم او طبيب سليم پاشا يې د کټ تر څنګ ناست و. شهزاده د ملکې د کټلو سره سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل پلار ددې سربیانی ملکې د درنښت په خاطر د راپورته کیدو هڅه وکړه. هغه د بسترې څخه بالښت را واخست او تکیه یی پرې وکړه. خو د لږ ځنډ وروسته ورته ډیر سخت ټوخې پیدا شو، اوس نو شهزاده محمد او ملکه دواړه د شهزاده علاوالدین د ناروغتیا په اړه ډیر اندیښمن شوي و. ځکه هغوې ته دا نه وه ډاګیزه شوې چې شهزاده علاوالدین دومره سخت ناروغه شوي دې. شهزاده محمد ددې څخه څو ورځې مخته د خپل ورور د کتلو له پاره راغلې و خو په هغو ورځو کې شهزاده علاوالدین بلکل روغ رمټ و، یوازې د تبې اوبخار تکلیف یی احساساوه. خو نن یی کله چې خپل ورور په داسې سختې ناروغتیا کې وکوت نو وجود یی ولړزید. شهزاده علاوالدین د عثماني سلطنت ولیعهد و او د سلطان مراد خان ثاني د مشرزوې اودهغه د ځآې ناستې په اساس، سلطان ته ډیر ګران او منلې و. سلطان د شهزاده علاو الدین سره ډیره زیاته مینه کوله. محمد فکر وکړ چې که چیرې دهغه پلار ته دهغه ددې نازولي زوې دداسې خطرناکې ناروغتیا په اړه معلومات ترلاسه شي نو دغم نه به لیونې شي. محمد په ډیره غمګینه توګه مخته ورغې او خپل ورور ته یی وویل:

«ورور جانه ! ته دومره سخت ناروغه یی....... اومونږ ته یی یو خوله خبر هم را و نه لیږه.....»

محمد د خپل ورور دځواب دمخه د طبیب په لور ورمخ کړ «طبیبه ! دا ستا مسؤلیت و، زما ورور خو ناروغه دې، او ته دهغه معالج ډاکټر یی. تاته په کار و چې مونږ ته دې په دې اړه خبر راکړې وې.»

ملکې هم خپل شاهې شان وشوکت له پامه و غورزاوه او د شهزاده سره دهغه په تخت کیناسته، دشهزاده لاس یی په خپل لاس کې و نیوه او ورته یی وویل «علاوالدینه ! ایا ته زمونږ څخه ناراضه شوې یی؟ ته دومره سخت ناروغه یی او مونږ ته دې یو خوله خبر هم نه دې راکړې ؟»

«نه ! درنې ملکې ! هیڅکله هم، داسې څه خبره نه شته. زه تر پرونه پورې بلکل روغ رمټ وم خو نن سهار مې ناڅاپه روغتیایی حالت خراب شو، تبه او کمزورتیا را ته د پخوا څخه وه خو نن سهار د یوه خراب خبر په اوریدو سره زما روغتیایی حالت نور هم خراب شو.»

«ستا په دښمنانو دې وي......، خداې دې نه کړي چې تاته به داسې کوم خراب خبر راغلي وي، هغه به کوم داسې خبر وي چې ته یی داسې خراب تراب کړې یی ؟» ملکې په ډیره مینه د علاوالدین لاس زور کاوه او تری ویی وپوښتل.

«په حقیقت کې زما څخه یوه ډیره ستره غلطی شوې ده چې ما ستاسو په اصرار باندې د سلطنت یو ستر دښمن ازاد کړ. همدا علت دې چې مونږ نن ددې بد اوخراب خبر تر اغیز لاندې را غلو. مونږ ستاسو په غوښته قاسم بن هشام ازاد کړ خو هغه تیره شپه زمونږ د سلطنت ډیره پخوانی میلمنه مارتهابیګم وژلې او دهغې ځوانه لور یی تښتولې ده......همدې خبر...... همدې خبر مونږ ته دخپلې غلطی احساس را پیدا کړ او مونږ یی په بستر ه کې را

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریوستلو . مونږ بهرام خان ته د قاسم بن هشام د ژوندي یا مړ نیولو حکم کړی دی ، تاسې اندیښنه مه کوئ که دا ځوان یو ځل زمونږ په لاسو کې راشی نو بیا به زما روغتیایی حالت پخپله ځای ته راشي.»

په کمرې کې شتو خلکو ټولو د شهزاده علاوالدین خبرې واوریدې او ټول پرې په خپلو خپلو ځایو کې حیران او ګوته په خوله پاته و . د سلیم پاشا په وجود کې د خوشحالۍ څپو منډې وهلې . شهزاده محمد اوملکه دواړه په دې خاطر ګوته په خوله و چې هغوی چې دکومې خبرې له پاره راغلي وو دهغې دکولو ځای نه لیدل کیده . اود طاهر وجود د شهزاده د نیت په کتلو سره په لړزه راغلی و .

ملکه په دې فکر کې شوه چې اوس باید څه وکړل شی ؟ناروغه شهزاده چې دسلطنت وارث و د قاسم بن هشام په اړه دخبرې اوریدو ته هم تیار نه و . نو په داسې حال کې به د ابوجعفر د نیولو له پاره حکمنامه څه ډول ترلاسه کړل شي. هغې په زړه کې دا دعا کوله چې کاشکې یا سلطان پخپله اویا د هغه کوم قاصد دهغه له اړخه کوم پیغام راوړي. شهزاده ناروغه و او ملکې نه غوښتل هغه نور هم په اندیښنو کې را لتار کړي. شهزاده محمد هم د ملکې په څیر په فکرونو کې ډوب و . خو طاهر په خپل ځای ولاړ او وجود یې په دې فکرونو کې لړزیده چې که دهغه ورور د شهزاده علاوالدین په لاسو ورشي نو پایلې به یې ډیرې خرابې وي. هغه هغې ورځې ته بد رد ویل په کومې چې سلطان دهغه ورور قاسم ته د سلطنت د سراغ رسانۍ ډیر درنده او خطرناکه دنده ورسپارلې وه ، ټول خلکو په خپلو خپلو ځایو کې په فکرونو کې ډوب ناست وو چې په دې وخت کې دروازه چې دغې ځآنګړې خونې ته د راننوتلو اجازه وغوښته. شهزاده علاوالدین دروازه چې ته په پلټونکې سترګو وکتل اوبیا یې اجازه ورکړه چې را ننوځي.

دروازه چې د راننوتلوسره سم وویل چې د پټې محکمې مشر بهرام خان له تاسې سره دکتلو اجازه غواړي. شهزاده د بهرام خان د نوم د اوریدو سره سم نیغ را پورته شو او سمدستي یې بهرام خان ته د راتلو حکم وکړ. کله چې بهرام خان کمرې ته راننوت نو دهغې دحالت په کتلوسره په کمرې کې ناست ټول خلک حیران پاته شول ، ځکه دبهرام خان ویښتان په خاورو ککړ و اوڅیره یې د حده زیاته لویدلې اوخړه پړه وه . شهزاده ترې په سخته لهجه وپوښتل:

« بهرام خانه ! داسې معلومیږي چې تا دسلطنت غدار له ځانه سره نه دی راوړی ؟»

خو بهرام خان شهزاده ته دځواب ورکولو په ځای په ویستلو او برندو سترګو طاهر ته وکتل اوبیا یې دیوه ماشوم په څیر د شاهی ادابو د په نظر کې نیولو پرته چیغې کړې او ویې ویل:

« دغه دی......دغه دی درونده شهزاده !دغه دی هغه شخص چې خپل ورور قاسم بن هشام ته یې د تیښتې له پاره لاره برابره کړه ، دا د قاسم بن هشام مشر ورور طاهر بن هشام دی . سمدستي ددې نیولو حکم ورکړئ . درونده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده ! دغه وګړي په همغه وخت کې چې ما غوښتل د قاسم بن هشام په لاس کې زولنې ور واچوم ، زما په سپاهيانو يې حمله وکړه او معامله يې بدله کړه. درونده شهزاده ! دا د قاسم بن هشام ورور دې او ډېر خطرناکه توره وهونکې دې ، بې شکه چې دا به هم د خپل ورور سره په دې سازش کې ورګډ وي.»

طاهر خو پرېږده چې دغه حالت د شهزاده محمد ، ملکې او ان د سليم پاشا له پاره هم د توقع وړ نه و. د ملکې او شهزاده محمد په اميدونو باندې ګرد پريووت. طاهر هم په ډېره بده توګه وارخطا شوې و. هغه هيڅکله هم دا نه وه انګيرلې چې دداسې حالاتو سره به هم مخ کيږي په داسې حال کې چې شهزاده علاوالدين خپلې سترګې پرانستې وې او په طاهر کې يې ورننويستې وې ، د طاهر زړه هم په زوره زوره درزيده ، خو څرګنده نه شوه چې ملکې څه ډول همت و کړ او شهزاده علاوالدين يې خپلې لورې ته متوجه کړ. او ورته يې وويل:

بلکل غلط..... د بهرام خان پلټنه بلکل غلطه ده. مونږ په پوره ډاډ سره ويلې شو چې دالبانوي وينځې وژل او دهغې د لور د تښتولو په پېښه کې قاسم بن هشام هيڅ ډول لاس نه لري بلکه دا کار د قيصر دجاسوسانو له اړخه تر سره شوې دې. دا جاسوسان نه يوا ځې په اورنه کې دبغاوت د پيداکولو له پاره کار کوي بلکه غواړي خپل ستر دښمن قاسم بن هشام هم د خپلې مخې څخه لرې کړي. علاوالدينه ! ته د غصې او قهر په وخت کې په بېړه کومه پريکړه ونه کړې. معظم سلطان به څه کتلي وی چې قاسم بن هشام يې شاهي سراغ رسان ټاکه.

شهزاده ته د ملکې خبرې د زغم وړ نه وې ،او لکه دتنور په اور کې سوزيده. بيا يې په لړ څه سخته لهجه وويل:« درنې ملکې ! د سلطنت په امورو کې زمونږ د سترګو ليد تر هغو ځايو پورې رسيږي چې د محل درنې بيبيانی يې نه شي کتلې. ته په کومو دلايلو د قاسم بن هشام څخه دومره ملاتړ کوې ؟ په داسې حال کې چې دهغه په خلاف زمونږ سره دهغه د جرم ټول شواهد موجود دي. دشهزاده په خبرو سره ملکه په خپل ځای کې په لړزه راغله. په دې وخت کې په خونه کې موجود طبيب سليم پاشا مخته راغې او په ډېره مؤدبه توګه يې شهزاده ته وويل :

«درونده شهزاده ! د درنې ملکې همدردی دقاسم بن هشام سره شوني نه ده بلکه دهغې همدردي به دمارتها بيګم سره شوني وي. ځکه چې درنې ملکې به په يقين سره د البانوي وينځې مارتها بيګم سره سيمه ايزه مينه او محبت درلود. په دې اساس د معظمې ملکې خبره بايد له نظره و نه غورزول شی.»

دسليم پاشا په خبرو ملکه و بګنيده، که څه هم دا په څرګنده توګه د ملکې سره د خواخوږۍ جمله وه ، خو په حقيقت کې دا يو ژور طنز و ، شهزاده محمد هم دا طنز په ښه توګه محسوس کړې و ، خو شهزاده علاوالدين د سليم پاشا په دې خبره ډېر سخت غبرګون و ښوداو په قهرجنه توګه يې سليم پاشا ته وويل: «طبيبه ! ته پوهيږې چې د ملکې په ملاتړ کې ته څومره په غلطه روان يې. معظمه ملکه د کومې البانوي وينځې سره د سيمه ايز محبت په ځای زمونږ سره ډېره مينه او محبت کوي. زه ستا په خبرو باندې ډېر زيات خفه شوم ، » ناروغه شهزاده په سليم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاشا باندې سترګې را برګې کړې ،سلیم پاشا د شهزاده دقهر څخه ډیر وارخطا شو او پښې یې په لړزیدو راغلې. او د یوه مکارې ګیدړې په څیر یې خپل لاسونه غبرګ کړل اودملکې په پښو کې ولوید او په ډیر منت او زاریو سره یې ورته وویل:

« درنې ملکې ! دا حقیر او کمتر شخصیت په خپلو خبرو ډیر زیات پښیمانه او نادم دې ، زما د وینا مقصد هغسې نه و چې څنګه ترې واخستل شو ، په دې اساس زه د زړه له کومې له تاسې څخه د خپلو دغو خبرو په اړه بښنه غواړم»

ملکې د سلیم پاشا دغه غوړزې پرزې دسترګو وغورزولې او شهزاده علاوالدین ته یې وویل:

« علاوالدینه ! په دې وخت کې په اورنه کې ددښمنانو له اړخه د بغاوت ګوابښونه تر مخه دي. زه غواړم چې ته کوم تیز تلونکې قاصد سلطان ته ورولیږې اودهغه څخه نیغ په نیغه لاربښوونې تر لاسه کړې. مونږ ته مارتها بیګم ډیره ښه معلومه وه. او د هغې کورته د غرب دخطیب ابوجعفر د تلو راتلو په اړه مو هم پوره معلومات درلود. اوس هم مونږ په همدې فکر کې یو چې تاسې د قاسم بن هشام پر خلاف خپله نیوکه کمه کړئ اودهغه په ځای د ابوجعفر څارنه پیل کړئ.»

ملکې د شهزاده لمړنۍ خبرې هم له یاده وویستې او دخپل مقصد خبره یې بیرته د هغه تر مخه راغبرګه کړه . ان تر دې چې هغه ته یې د ابوجعفر د نیولو مشوره هم ورکړه. اوس نو شهزاده محمد هم غوښتل چې د ملکې ملاتړ وکړي نو په دې اساس یې وویل:

« درونده وروره ! مونږ د قاسم بن هشام د دوست په څیر تاسې ته دا په دعوې سره وایو چې دقاسم په څیر سرښندونکې مجاهد به هیڅکله هم د سلطنت دښمن و نه اوسي.»

د شهزاده محمد په خبرو سلیم پاشا مات مات شوې و. طاهر هم اوس لږ څه په ځان پوهیدلې و. خو شهزاده علاوالدین د هیڅا دخبرو منلو ته تیار نه و. هغه د ټولو مشورې اوخبرې له پامه وغورزولې او نیغ په نیغه یې دبهرام خان څخه دقاسم د نیولو او دهغې د تیښتې په اړه د راپور داوریدو حکم وکړ. بهرام خان اوس هم طاهر بن هشام ته په سوزونکو سترګو کتل. هغه مخته ورغې اودشهزاده تر مخه یې په ډیرې مؤدبې توګه خپلې خبرې پیل کړې:

« درونده شهزاده ! مونږ قاسم بن هشام نیولې و. خو دهغه ورور طاهر د کوره راووت او دخپلې تورې په واسطه یې زمونږ په سپاهیانو باندې حمله وکړه ، قاسم هم د همدې فرصت نه ګټه واخسته او زمونږ د لاسو څخه ووت.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« خو بهرام خانه ! ......هغه نجلۍ څه شوه چې تاسې ویل چې قاسم بن هشام تښتولې ده . ایا د قاسم د کور څخه هغه نجلۍ یا بله کومه داسې نښه نښانه تر لاسه شوې ده ؟»

کله چې شهزاده د بهرام خان څخه دا پوښتنه وکړه نو سلیم پاشا په خپل ځای په زمکه کې ننوت. ځکه مارسی دهغه په کور کې وه . خو هیڅ ا هم دهغه په لور کومه توجه ونه کړه . خو د شهزاده د پوښتنې سره سم په بهرام خان سر وګرزید. که چیرې مارسي قاسم تښتولې وي نو هغه به خامخا دهغه په کور کې را پیدا شوې وي. بهرام ډیره پلټنه وکړه خو مارسي یې پیدا نه کړه او پیدا کولې یې هم نه شوه . او اوس دبهرام خان څخه شهزاده د مارسي په اړه پوښتلي وو . بهرام خان ورته په ماته ژبه وویل:

«درونده شهزاده ! زه خجالت باسم چې ما تر اوسه پورې مارسي نه ده پیدا کړې»

په کمرې کې عجیب حالت حاکم و . شهزاده ناروغه او کمزورې و . په همدې خاطر شهزاده محمد او ملکې نور څه ویل نه غوښتل. بلاخره شهزاده په داسې حال کې چې خپل اړخ یې بدلاوه بهرام خان ته وویل:

« بهرام خانه ! هغه نجلۍ باید را پیدا کړل شي ، د اورنه کونج کونج و لټوئ ، قاسم که ګنګار وې او که نه ، تر نن ماښامه پورې یې زما مخې ته راوړئ.»

شهزاده ستومانه شوې و ، دابوجعفر ارامو زهرو دهغه وجود دننه خوړلې و . ملکې محسوس کړه چې شهزاده نور دخبرو وړتیا نه لري. نو را پورته شوه او د تللو اجازه یې واخسته.

« علاوالدینه ! په دې خبرو ځان دومره مه کړَوه . دغه ډول پیښې باید د شهزادګانو په ژوند باندې اغیز ونه کړې. ته زما د مشورې په مطابق د سلطان په لور یو ګړندې قاصد و لیږه ، انشاءالله چې ټول حالات به په سهې لاره ولاړ شي.»

کله چې شهزاده محمد ، ملکه او طاهر د شهزاده علاوالدین دکمرې څخه بیرون را وتل نو شهزاده د طاهر په لور مخ کړ او ورته یې وویل :

« طاهر بن هشامه ! د سلطنت مجرم ته د تیښتې لاره ورکول ډیر ستر جرم دې. خو مونږ تا ته د معظمې ملکې دملګرتیا په اساس بښنه کوو . اوس ستا دنده ده چې دبهرام خان سره یو ځای دد ې نجلۍ په پیدا کیدو او د قاسم بن هشام په نیولو کې مرسته وکړې.»

د شهزاده دخبرو په اوریدو سره طاهر بن هشام په ډیره ناخوالې سره د اثبات په توګه سر و خوځاوه ، اودملکې تر شا بیرته روان شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر دسلطاني قصر څخه د راستنیدو وروسته نيغ په نيغه کور ته راغي. ډير زيات اندېښمن و ، کله چې کورته راغي نو ټولو ترې د قاسم په اړه وپوښتل. خو طاهر ورته په لنډه توګه وويل چې قاسم روغ رمټ دې او ډير ژر به بيرته راستون شي. خو په حقيقت کې هغه په خپله ډاډه نه و. هغه ټوله ورځ د قاسم او دهغه د سفر په اړه په فکر کې ډوب و. کله چې شپه شوه نو د طاهر نا ارامتيا نوره هم ډيره شوه. په داسې حال کې چې هغه دخپلې کورنۍ ټول غړې په يوه ډول ډاډمن کړي و خو پخپله ټوله شپه په بستره کې اوښت را اوښت. ټوله شپه يې په همدې حال کې تيره کړه خو قاسم بله ورځ هم را ستون نه شو.

ډيرې ورځې شوې وې چې قاسم د البانيې په لور په سفر روان شوې و ..... همدا نن سهار طاهر ته خبر راغلې و چې سلطان بيرته را ستون شوې دې. د طاهر له پاره دا خبر ډير خوشحالونکې و. خو دخپل ورور قاسم د ورکيدو په اړه اندېښمن و. هغه هوډ وکړ چې همدا نن د سلطان سره مخ شي او د حالاتو څخه يې خبر کړي. تر څو سلطان دقاسم او غزالې د ورکيدو په اړه کوم قدم واخلي.

هغه دسلطان دربار ته ورغی ، او دسلطان سره يې وکتل ، سلطان يې خبرې په ډيره سړه سينه واوريدې خو څه ځانګړې دلچسپې يې دهغه دخبرو سره څرګنده نه کړه. يواځې همدومره يې وويل: « طاهر بن هشامه ! ته په ډاډمنه توګه په خپل کور کې اوسه.مونږ د ټولو حالات څارنه کوو. تاته ډاډ درکوم چې ستا ورور ته به هيڅ زيان نه رسيږي ، ته ولاړ شه او په دې اړه هيڅ ډول اندېښنه مه کوه.»

دطاهر له پاره دسلطان خبرې هسې غولونکې معلومې شوې خو بيا هم طاهر يوه نا اشنا حوصله محسوس کړه. دا ځل چې کورته را ستينده نو اندېښنې يې نيمايي را کمې شوې وې.

سلطان د قونيا د بغاوت د ځپلو نه وروسته بيرته بريالې را ستون شوې و. ځکه د کرمانيا امير د سلطان دلښکر تر مخه په هيڅ ځای کې نه و تم شوې. بلکه د کوچنۍ اسيا په ټوله سيمه کې هغه مخته په تيښته و او سلطان يې تر شا ور روان و. بلاخره د کرميا امير د سلطان په لاسو سخته ماتې وخوړله. او سلطان دهغه دماتې څخه وروست اورنه ته را ستون شوې و. هغه دخپل پخواني پلان له مخې بايد د قونيا دبغاوت د ځپلو وروسته دشهاب الدين پاشا په لور تلوتللې واې. خو د کرميا دامير سره د پرلپسې جنګ په واسطه په هغه ناوخته شوې و .او شهاب الدين پاشا هم د «وازاګ» د سيمې څخه د بلقان تر درې پورې ماتې خوړلې وه ، سلطان ته هم د شهاب الدين پاشا دماتې خبر په کوچنۍ اسيا کې ور رسيدلې و. همدا علت و چې هغه په ډيره بيړه بيرته اورنه ته را ستون شو ، دهونياډې سره د جنګ په وخت کې دسلطان دخور ميړه محمد چلپې هم ددښمن په لاسو کې پريوتې و . کله چې سلطان بيرته خپل شاهي محل ته راستون شو نو دهغې غمځپلې خور ورته په ژړيدونکو سرو سترګو مخې ته راغله. اودخپلو کوچنيانو واسطه يې ورکوله او دخپل ميړه د راخلاصون له پاره يې ترې غوښتنه کوله. دبله اړخه دسلطان مشر زوې علاوالدين دمرګ په بستره باندې پروت و ، هغه ته اورنه ته د راستنيدو دمخه د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالاتو په اړه پوره پوره معلومات تر لاسه شوې و خو محل ته د راستنیدو وروسته یې چې کله د شهزاده علاوالدین حالات وکتل نو هر څه ترې هیر شول ، سلطان دا محسوسوله چې الله تعالې هغه په ډیرو سختو ازمیښتونو کې را ګیر کړې دې. هغه دناروغه شهزاده څخه د قاسم یا ابوجعفر په اړه هیڅ ډول پوښتنه و نه کړه. بلکه ددخپلو ستونزو دحل له پاره یې شپې شپې په دالله په درګاه کې په عبادت تیرولې اودهغه څخه یې دخپلو ستونزو د حل له پاره مرسته غوښتله.

د حیرانتیا خبره دا وه چې هغه تر اوسه پورې دابوجعفر اویا بهرام خان په اړه هیڅ هم و نه پوښتل.او نه یې په هغوې باندې لاس واچاوه. پخپله ابوجعفر هم دسلطان په دې سلوک باندې حیران پاته و. په داسې حال کې چې د شهزاده طبیب سلیم پاشا هغه په دې پوه کړې و چې سلطان په ډیرو خبرو باندې پوه شوې دې. خو سلیم پاشا هم په دې حیران و چې سلطان ته دمحل درارسیدو تر مخه دا ټول معلومات څه ډول ور رسیدلې دې. اوس نو ابوجعفر دېخوا څخه ډیر محتاط ګرزیدلې و ، هغه دډیر چالاکه اومکار شخصت مالک و، دهغه شپږم حس هم را بیداره شوې و. هروخت به یې غوږونه بیداره و ،ځکه هره ګړی دخپلو نیولو تر ګوابښ لاندې و . هغه ته د قاسم ورکیدا اود سلطان د رازه ډکه چوپتیا د کوم ستر توپان دراتلو تر مخه دخطر زنګ حسابیده. اوس نو ابوجعفر په دې فکر کې شو چې دهغه پخواني جوړ شوې پلان به اغیزمن ثابت نه شی ،اول یې فکر وکړ چې په جوړ کړل شوې پلان باندې باید سمدستي اوپرته له ځنډه عمل وکړل شي ...... خوهغه دسلطان په چوپتیا باندې نه پوهیده . په سلطانی قصر کې دهغه جاسوسانو هغه ته هر ګړی د قصر خبرونه ور رسول، ددې جاسوسانو په سر کې پخپله سلیم پاشا شامل و

یوه ورځ سلیم پاشا ابو جعفر ته وویل : چې سلطان د خپلې خور دمیړه محمدچلپي د خلاصون له پاره دصلیبیانو د فوځونو دمشر هونیاډې سره د خطونو دلیږلو را لیږلو په واسطه اړیکې کلکې کړې دې.... د ابوجعفر له پاره دا خبر دهغه دهیلو څخه پورته و . هغه ته دا ډاګیزه شوې وه چې دسلطان خور به سلطان مجبوروي چې هغه دهونیاډې د پنجو څخه دخپلې خور میړه محمد چلپي را ازاد کړي ، په همدې اساس یې د حیرانتیا ښوولو پرته وویل:

« نو ایا دسلطان دهونیاډې څخه د بدلې د اخستلو او په هنګري باندې د لښکر کشۍ اراده پری اېښې ده؟»

دابوجعفر دخبرې په ځواب کې سلیم پاشا وویل: « نه ! سلطان دصلیبي لښکرو پرخلاف تل دخپلو عسکرو په تیارولو کې مصروف وي ......د خپلې خور د میړه دخلاصون لاره یې یوائې د دیپلوماتیکو لارو څخه اړیکې نیولې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن سبا سلطان د ځلورو خواو څخه په غمونو کې را ګیر و. دهغه مشر زوې علاوالدین هم اوس ژر تر ژره دهغه ځاې ناستې نه شو کیداې. نو که چیرې په همدې حالاتو کې سلطان ووژل شي نو د عثماني سلطنت دروازې به په مکمله توګه و نړل شي»

د سلیم پاشا دخبرو د اوریدو په وخت کې ابوجعفر دخندا اوخوشحالۍ نه شین و اوبیا یې وویل:

«ته څنګه دا ویلې شې ؟ د سلطان کشر زوې شهزاده محمد هم دادې د ځوانۍ په درشل کې پښه ږدي.»

«نه ! مقدسه پلاره ! له یوې خوا محمد ډیر کوچنې دې ،او د سلطان د وژلو وروسته به هغه ددې جوګه نه وي چې د عثماني سلطنت تخت باندې کیني او سلطنت کنترول کړاې شي. بله خبره داده چې هغه ډیر بې عقله او نا اهله دې. مونږ ته دعلاوالدین له لورې پوره ګوابښ موجود و چې د علاوالدین په لمنځه وړلو سره به هغه د تل له پاره تم شي.

ابوجعفر ډیر خوشحاله و. د سلیم پاشا دخبرو څخه هغه داسې انګیرله چې اوس نو د اورنه لوبه دهغه په لاسو کې ده. خو په ناڅاپې توګه د سلطان خاموشي ورته را یاده شوه. ددې سره نا ارامه شو او سلیم پاشا ته یې وویل:

«لوګان ! زما شپږم حس د سلطان له لورې ډاډمن نه دې. ماته هره شیبه داسې څرګندیږي چې دسلطان څارونکې ډله زما پټه څارنه کوي. اوهمدا اوس هم دلته چیرې موجود دې..... نن ماته ددې له پاره را بللې یې چې دمارسي د روغتیایي حالت په اړه درڅخه وپوښتم ، زه پوهیږم چې زه باید ددې نه زیات په اورنه کې پاته نه شم .

سلیم پاشا د ابوجعفر خبرې په ډیر غور اودقت سره واوریدې خو کله یې چې دابوجعفر د تللو خبره واوریده نو غونې یې زیږ شو ځکه هغه پوهیده چې دابوجعفر د تللو وروسته به په اورنه کې دقیصر د جاسوسانو ټول مسؤلیت دهغه په غاړه کې پریوځي. په دې اساس یې په ډیره ناهیلې توګه د ابوجعفر څخه و پوښتل:

«مقدسه پلاره ! مارسي اوس بلکل روغه رمته ده. خو د اوږد سفر اویا د ګاډۍ د سپرلۍ څخه یې زخمونو ته زیان رسیدلې شي. غوره خو دا وه چې تاسې هغه په کومه نرمه ګاډۍ کې دالبانیې په لور بوتللې واې......تاسې خو ددې ځایه ځئ ، خو زه په دې انګیرم چې په اورنه کې به د اور دبلیدو کار کله پیلوو .....»

«لوګانه ! ته اندیښنه مه کوه. ابوجعفر په خامو لوبو باور نه لري ، ما د هر څه له پاره پوره تیارې نیولې دي. زه اوس د سلطان د عکس العمل منتظر یم. یاد ساته چې په اورنه کې د بغاوت د خپرول اصل مقصد دادې چې سلطان د صلیبي مقدسو لښکرو پر خلاف دلښکرکشۍ جرءت هم ونه شي کړاې. هغه ته دلته په دارلسلطنت کې دومره ستونزې راپیدا کړل شي چې هغه پرې دهونیاډې څخه د بدل د اخستو فکر پریږدی. نو که چیرې مونږ ته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مقاصد په ښار کې د بغاوتونو اوفسادونو د پيلولو پرته تر لاسه کيدې شي نو بيا خو به مونږ په موقته توګه د بغاوت پلان شاته پريږدو . خو ته سلطان ته دزهرو د ورکولو په پروګرام باندې فکر وکړه ..... خو که چيرې سلطان د هونيادې پر خلاف د خپل لښکرو د ليږدولو فکر پرې نه ږدي نو بيا به دا ستا مسؤليت وي چې په ينې چرې کې عيسايي مجاهدين د فساد اوبغاوت په لور را کاږي ، په ښار کې به په هر ځای کې اورنه و لګوئ تر څو سلطان دلښکرو د کوچ کولو اراده پرې ږدي.

سليم پاشا په ډيره حيرانتيا سره دقيصر ددې جاسوس خبرې اوريدې. هغه ابوجعفر ته ددې پلان په جوړولو مبارکې ورکړه ، اوس نودهغه تر مخه حالات بلکل روښانه شوي و. د ابوجعفر د تللو وروسته هغه ته د سلطان په حرکاتو باندې ځارنه کول ور په غاړه وو . نو که چيرې سلطان دصليبي لښکرو په خلاف د کوچ کشئ ځخه لاس اخسته نو په ينې چرې کې دبغاوت اوفساد تم کول د سليم پاشا مسؤليت و او که سلطان دخپلې ارادې ځخه لاس نه اخسته نو بيا دسليم پاشا دنده وه چې په ينې چرې کې دبغاوت اوفساد را پارولو له پاره خپلو جاسوسي شبکو ته حکم ورکړي . خو دهغه تر مخه د سلطان د وژلو په پلان باندې دروند کار هم پروت و .

ابوجعفر اوسليم پاشا تر ډيره پورې په خپلو راتلونکو پروګرامونو باندې خبرې کولې. بلاخره دوې پريکړه وکړه چې د اورنه ځخه دابوجعفر سمدلاسه وتل مناسب دي ځکه چې دقاسم ورکيدل او دسلطان د رازه ډکه چوپتيا د ابوجعفر له پاره د خطر د زنګ په څير شميرل کيده. په دې اساس د سلطان د وژلو ځخه دابوجعفر تر تښتيدو پورې ټول پلان جوړ کړل شو ، ددې وروسته سليم پاشا د ابوجعفر ځخه اجازه واخسته اودخپل کور په لور روان شو .

بله ورځ د جمعې مبارکه ورځ وه . ابوجعفر د اورنه ستر اومشهور خطيب و . اوهغه نه غوښتل چې د اورنه خلک دجمعې دخطبې پرته پريږدي. په همدې خاطر هغه د جمعې دخطبې وروسته اوبيا د شنبې په شپه دشپې په تياره کې مارسي له ځانه سره داخستلو اود البانيه په لور د تللو پروګرام جوړ کړ. ترځنګ يې د هر نا څاپې حالت د راپيدا کيدو له پاره يې هم خپل پلان تر تيب کړ. اوهغه دا و چې که چيرې ابوجعفر په ناڅاپي توګه د سلطنت د سپاهيانو له اړخه و نيول شي نو په ينې چرې کې دهغه تياري ډلګۍ به هغه د پخوا ځخه د جوړ شوي پلان سره سم د تورې په زور دهغوې د لاسو ځخه ازادوي او دښار نه به يې بيرون کوم پټځاي ته رسوي . هلته به دهغه تجربه لورنکې ملګري دمارسی سره يوځاي شتون ولري اوپه دې توګه به دا خلک د برق په څير په تيزۍ سره دهغه ځايه فرار وکړي.

شونې ده چې د ابوجعفر په برخليک کې به ددغې بلې لارې د تښتيدو پلان جوړ شوې و . ځکه ، هغه وخت چې هغه د سلګونو خلکو تر مخه د جمعې د لمانځه له پاره خطبه ورکوله نو ډير حيرانونکې حالت را مخته شو اوهغه دا چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوجعفر د جمعې د لمانځه د خطبې له پاره ولاړ و او خطبه يې  ورکوله، خلک په ډېر ادب او درنښت سره ناست او خطبه يې  اوريده. په همدې وخت کې د ممبر سره نژدې يو  اوږود  ځوان راپورته شو ، دې ځوان خپل مخ په خپلې لونګۍ باندې پوښلې و ،ابوجعفر په منبر ولاړ و  خطبه يې ويله چې دغه ځوان د ممبر خواته ور روان شو او هملته و دريد.  ټول خلک  دهمدې ځوان لورې ته متوجه شول ، په جومات کې په سلګونو خلکو په ډېره  حيرانتياسره دې ځوان  ته کتل . کله چې ابوجعفر دغه ځوان  خپلې لورې ته په راتلو وکوت  نو وينه يې وچه شوه . هغه هيڅ نه پوهيده چې څه کيږي ، لمړۍ خويې ژبه درنه شوه، بيا سمدلاسه خاموشه شو  او په ترټره ژبه يې ددې ناپيژندل شوي ځوان څخه وپوښتل:

«ته څوک يې ؟او څنګه دې دجمعې دخطبې د ويلو په وخت کې د  راپورته کيدو  جرءت کړې دې ؟»

په جومات کې دناستو خلکو زړونه په سينو کې درزيدل، دې ځوان د ابوجعفر  خبرو ته هيڅ اعتنا و نه کړه. او نه يې دهغه دخبرو  ځواب ورکړ. هغه ودريداوخپل مخ يې په جومات کې ناستو خلکو ته را واړاوه. داسې بريښيده لکه چې په جومات کې ناستو خلکو ته يې څه ويل غوښتل ، بيا يې د څولمحو د ځنډ وروسته په لوړ اواز وويل:

د جمعې د لمانځه ډيرو درنو  حاضرينو !......دغه کس چې تاسې يې د مغرب د خطيب په نامه پيژنۍ او ستاسې تر مخه د شلو کالو راهيسې دلته د جمعې د لمانځه خطبې ورکوي.....مسلمان نه دې..... بلکه يو پوخ عيسوي دې ، دا شخص دلته په اورنه کې دقيصر د جاسوسي دستګاه مشري په غاړه لري....

درنو حاضرينو ! تر اوسه پورې ستاسې په خاطر سلطان ددې شخص د نيولو څخه ځان ژغورلې دې. ځکه درونډ سلطان په دې ويريده چې د ابوجعفر په نيولوسره به تاسې فساد جوړ کړئ ، په دې اساس هغه د ډيرې اوږدې مودې د انتظار او پلان جوړولو وروسته داپريکړه وکړه چې ابوجعفر په دې درنه ټولنه کې و نيول شي.»

په دې وخت کې دابوجعفر حالت هم دکتلو وړ و . دغه شخص چې په هر ډول ناوړه حالاتو يې د قابو پيدا کولو وړتيا درلوده ، نن يې وار و پار وار خطا و او ټولې تجربې يې تر مخه ناکامې معلوميدې. دسختې يخنۍ په موسم کې هم دهغه تندې اووجود  په خولو کې ډوب و. دهغه مخ ته په کتلوسره به هر کس داسې انګيرله چې دهغې د رنګونو څخه وينه ويستل شوي وي.

اوس هغه ته د قاسم د ورکيدو او دسلطان د اوږدې خاموشئ اصلي سبب ډاګيزه شوې و، اوسلطان همداسې پلان جوړ کړې و. دابوجعفر جاسوسانو ته دا ډاګيزه شوې نه وه چې ابوجعفر به د جمعې د ورځې دخطبې په وخت کې د خلکو د ټولنې تر مخ نيول کيږي. دلته نه دهغه تر څنګ کوم ساتونکې و او نه دهغه څخه دفاع کونکې. په دې ټولنه کې يواځې يو داسې کس و چې هغه د ابوجعفر د جاسوسي تنظيم غړيتوب درلود ، کله چې هغه ابوجعفر دغسې په شرميدلې حال کې وکوت نو همت يې وکړ او ممبر سره نژدې ولاړ دغه اوږود  قامته ځوان ته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته درواغ وایی ، د جومات په خطیب باندې دداسې دروند الزام په لګولو سره تا خپل مرګ ته اواز کړې دې. دا ټولنه به تا ژوندې پرې نه ږدي. که ته دومره بهادر انسان یې نو خپله خیره دې ولې پټه کړې ده .... له تاسره دخطیب په خلاف هیڅ ډول ثبوت نه شته ، مونږ د مغرب دخطیب مریدان او مقتدیان یو، مونږ به تاته ستا داګستاخي هیڅکله هم ونه بښو .»

دې سرې په ډیره احساساتي توګه داخبرې کولې ،کله چې ابوجعفر خپل دغه جاسوس په دې توګه وکوت نوهغه هم خپل ځان کنترول کړ ، دهغه دماغ هم بیرته کار پیل کړ اوپه ډیره سخته توګه یې د لمانځه په دې جمعه کې خلکو ته وویل:

« دا بدکرچاره انسان و نیسئ...دې د اسلام یو ستر خدمتګار ته د لمانځه په دې ستره ټولنه کې عیسایي وویلې او په دې توګه یې دعثماني سلطنت سپکاوې کړې....»

خلک حیران دریان پاته و او لا دپخوا څخه په خپلو منځو کې پس پسکې پیل کړې وې ، یو شمیر احساساتي ځوانانو په پرلپسې توګه خپل اړخونه بدلول را بدلول. کله چې دمغرب خطیب حکم وکړ نو هغه احساساتي ځوانان راپورته شول او دممبر په لور دهغه ځوان د نیولو له پاره را مخته شول خو تر اوسه لا هغوې یو قدم هم نه و اخستې چې په جومات کې یو انګازه کونکې غږ را پورته شو......دا انګازه کونکې اواز د چا وو ...... دا د سلطان مرادخان ثاني د ساتونکې ډلې د قومندان او سپه سالار « طغرل بیګ » اواز و . طغرال بیګ د زمري په څیر و غړمبید او وویې ویل:

« خبردار ! هیڅوک د خپله ځایه ونه خوزیږئ»

طغرل بیګ په خپلو لاسو کې خپله لوڅه توره نیولې وه اوهرې لورې ته یې خوزوله. دهغه ترشا د شاهي ساتونکې ډلې ډیر ښه او غوره سپاهیان دخپلو لوڅو تورو سره یو ځاې ولاړ و . د لمونځ کونکو دډلې څخه چې هر څوک په کوم ځاې کې را پورته شوې و هغه بیرته هملته په خپل ځاې کې کیناست. اوس نو دممبر سره ولاړ نقاب پوشه ته کوم ګواښ نه و موجود . په دې خاطر یې د خپله مخه د پګړۍ څنډه لرې کړه. دا قاسم بن هشام و . چې څو ورځې مخته د مارسی د پیدا ینبت له پاره د البانیه په لور تللې و . هغه په ډیره بیړه په یوه شپه اویوه ورځ کې خپل سفر وهلې و . خو هغه ته په ټوله لار کې داسې نښې نښانې تر لاسه نه شوې چې دمارسی تښتونکی پرې تللې وې. هغه په ځاې ځاې د خلکو او دهقانانو څخه هم په دې اړه و پوښتل خو هیڅ درک ورته و نه لګید. اوس نو هغه ته څرګنده شوې وه چې مارسي تر اوسه پورې هم هملته په اورنه کې په کوم پټځاې کې ساتل شوې د ه . هغه په دې پوهیده چې د اورنه څخه یوازې دوه لارې بیرون وتلې دي ، یوه هغه چې د کوچنۍ اسیا په لور ورځي او بله د البانیه په لور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوچنۍ اسیا په لور د مارسي د تښتولو خو پوښتنه هم نه راپیداکیده ،په دې خاطر هغه د کوچنۍ اسیا لاره پریښوده او د البانیه لاره یې و نیوله. خو کله چې په دې ډاډمن شو چې مارسي دهغې تښتونکو لا تر اوسه پورې د اورنه څخه نه ده راویستلې نو بیرته اورنه ته یې د رستنیدو پریکړه وکړه. خو هغه ته دا ډاګیزه وه چې اورنه ته دهغه د ورتللو ټولې دروازې بندې کړل شوي دي. ځکه شهزاده علاوالدین هم په غلط فهمۍ کې اخته شوې و، او بهر ام خان او د هغه کارندې د بوې کونکو سپیو په څیر د قاسم خان د بوې پسې ګرزیدل. په دې خاطر یې پریکړه وکړه چې سمدلاسه به اورنه ته نه ورننوځي. بلکه دښاره به پنځه کوسه لرې خپله لاره بدلوي او د سلطان لښکرو ته به ځان ور رسوي. هغه غوښتل چې سلطان د ټولو جریاناتو څخه خبر کړي او د خپل پلان په اړه نوې فکر وکړي. او همداسې وشول. هغه د خپل سفر په یولسمه ورځ دسلطان مرادخان ثاني په دربار کې حاضر شو.

سلطان د قاسم په کتلو سره حیران پاته شو . خو کله چې قاسم سلطان ته په اورنه کې د ورپیښو شوو حالاتو تفصیل ووایه نو سلطان حیران دریان پاته شو او د یوه ښه پلان د پلې کولو په خاطر یې قاسم دخپل ځان سره په لښکرو کې وساته. هغه دخپلې شاهې ساتونکې ډلې سپه سالار « طغرال بیګ» هم را وباله. او په اورنه کې یې د سازش کونکو د ځپلو له پاره په یوه عملی پلان باندې خبرې وکړې. قاسم د سپاهیانو یوه تجربه لرونکې ډله له ځانه سره واخسته او اورنه ته د یوې پټې لارې را ننوت. هغه په بدلو کالیو کې د ابوجعفر د جاسوسی شبکې د رینښو څخه د ځان دخبرولو له پاره کار پیل کړ. خو تر دې دمه یې په هیڅ باندې لاس نه و پورته کړې.په همدې وخت کې سلطان هم اورنه ته راستون شو ، قاسم به هم په پټه توګه دسلطان سره کتل ، دخپلمنځې مشورې نه وروسته پریکړه وشوه چې د ابوجعفر سره په شبکه کې د را ښکیلو وګړو د نیولو مخته باید ابوجعفر و نیول شي ، همدا علت و چې نن قاسم د جمعې دلمانځه په ستره ټولنه کې په ابوجعفر باندې د لاس پورته کولو له پاره هلته ورغلې و ،

اوس نو ابوجعفر ته هم د تیښتې بله لاره نه وه. دلمانځه په ستره ټولنه کې دابوجعفر د نیولو علت دا و چې عامو خلکو ته دهغه اصلی څیره را ډاګیزه کړي او هغه و نیسي. تر څو په ښار کې هر ډول فساد خپرولو څخه مخنیوي وشي.

د ابوجعفر حالت ډیر خراب شوې و . کله یې چې قاسم وکوت نو ساه یې په ختو شوه . اوس نو هغه خپل ځانته ښکنځلې کولې ، چې ولې یې دخطرې داحساسولو سره سره بیا هم اورنه پرې نه ښوده . سلطان او قاسم دهغه د هیلو څخه ډیر هوښیاران او د تدبیرخاوندان ثابت شول.

کله چې قاسم په دې لویه ټولنه کې دخپله مخه نقاب لرې کړ نو د جمعې ډیرو کسانو هغه وپیژانده . په دې خاطر په مجمع کې یوځل بیا مکمله خاموشي حاکمه شوه . ځکه خلکو قاسم د یوه میړنې ، بهادر او ښه انسان په څیر پیژانده. کله چې قاسم خلک ارام وکتل نو یو ځل بیا یې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درنو حاضرینو !زه په دې هم شکمن یم چې ستاسې دمغرب خطیب به په نسلې توګه عرب وي بلکه دا لاطینی وګړې دې...... خو له ماسره په دې اړه هیڅ ثبوت نه شته. خو تاسې به اوریدلې وې چې دیني چري په نوې مسلمانو فوځیانو کې چا د بغاوت تخم شیندلې دې. نو تاسې په دې پوه شئ چې هغه همدا وګړې دې.... تاسې به دا هم اوریدلې وي چې د سلطاني قصر تر څنګ اوسیدونکې یوه میلمنه البانوي کنیزه وژل شوې او لور یې تښتول شوې ده نو پوه شئ چې هغه همدا وګړې دې چې داسې ناوړه کار یې تر سره کړې دې.

درنو حاضرینو !تاسو ته به ډاګیزه شوې وي چې دشهاب الدین پاشا په مشرۍ زمونږ لښکر دماتې سره مخ شوې دې... زمونږ ډیر ښه سپاهیان شهیدان شوي دي ، په داسې حال کې چې دمعظم سلطان د خور میړه محمد چلپې هم د څلورو زرو ترکو سپاهیانو سره یو ځای د صلیبیانو په قید کې پروت دې. مونږ باید دخپلې دغې ماتې بدله واخلو ..... او په دې لاره کې یني چري زمونږ ځواک دې ، په داسې حال کې چې ابوجعفر هغه وګړې دې چې په یني چری کې یې یو شمیر سالاران او نوې مسلمان شوي سپاهیان بیرته خپل پخواني مذهب عیساییت ته را ګرزولې او دلته په اورنه کې یې د بغاوت د جوړولو ناولې سازش تر لاس لاندې نیولې دې. په دې اساس د معظم سلطان د ځانګړي حکم په اساس نن مونږ په دغه ستره ټولنه کې دغه غدار ابوجعفر نیسو اوبندی کوو یې......»

قاسم لا تراوسه اخري خبره نه وه خلاصه کړې چې د ټولنې څخه په ابوجعفر باندې لعنت ویل پیل شول. که چیرې د شاهي ساتونکې ډلې دلوخو تورو ویره نه وایی ، نو یوشمیر احساساتي ځوانانو د ابوجعفر په مرګ باندې هم صرفه نه کوله ، اوس نو دابوجعفر سره بله لاره نه وه. په څو لمحو کې شاهی وسلوالو ځوانانو د ابوجعفر په لاسو کې زولانې وروا چولې اودخپله ځانه سره یې و نیو.

داجومات و او د ابوجعفر د ساتونکې ډلې کسان دلته نه و موجود . په دې اساس دهغه له اړخه دپخوا څخه جوړ شوې پلان پلې نه کړای شو . شاهي ډلې دهغه لاسونه اوپښې ور وتړلې او له ځانه سره یې په ګاډۍ کې ور واچاوه . قاسم بن هشام ، طغرل بیګ او د شاهي ساتونکې ډلې کسان په خپلو اسونو سپاره د بګۍ ښې او چپ لورې ته روان شول اود اورنه د کلا د زندان په لورې ولاړل.

دابوجعفر د جاسوسۍ نظام دړې وړې پاته شو . کله چې دهغه خلاصونکې ډلې ته دابوجعفر د نیولو خبر ور ورسید نوهغه وخت ابوجعفر د شاهي کلا په زیر خانه کې لاس و پښې تړلې پروت و. قاسم د خپلو پوښتنو ګرویزونو له پاره ابوجعفر همغسې تړلې پریښود ، پاته سپاهیانو ته یې د تللو اجازه ورکړه. اوس دلته دزیرخانې څو ساتونکې او قاسم و طغرال بیګ پاته شوې و. کله چې قاسم خپلې پوښتنې ګرویزنې پیل کړې نو ابوجعفر یې په مقابل کې ډیر مقاومت و نه شو کړای ، هغه د اذیت په دویم پړاو کې د سازش ټولې کړۍ را وسپړودې. خوبیا هم هغه ابوجعفر و . یو تجربه کار او پوخ روزل شوې جاسوس. هغه نه دهغې ډلې په اړه چې تل د ابوجعفر د خلاصون له پاره تیار ولاړ وو څه وویل اونه یې دطبیب سلیم پاشا په اړه کومه خبره ډاګیزه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو دقاسم دپوښتنو په لړ کې تر ټولو مهمه پوښتنه مخته راغلې وه .. هغه دابوجعفر متې د شاله اړخه تړلې وې اودپښو تر منځ یې د لرګې یوه ډنډه ورکړې وه او دهغه پښې یې ورسره په رسۍ تړلې وې ، درسۍ بل سر یې د زیر خانې د چت پورې تړلې و. دابوجعفر دپښو لاندې یو ډیر عجیب و غریب میز ایښودل شوې و ، ددې میز تښتې د یوه لاستي په واسطه ښکته پورته کیداې شوې ، قاسم به دغه لاستې خوزاوه او دمیز تښتی به یې ښکته پورته کولې ، دد ې کار سره به ابوجعفر په فضا کې زوړند پاته کیده ، د ابوجعفر په پښو کې پرته رسۍ د میز د تښتو سره نښلول شوې وه ،کله به چې دمیز تختی لاندې لورې ته حرکت کاوه نو دهغه په پښو کې تړلې رسۍ به هم هغه د لاندې په لور را کشاوه . اوپه دې توګه به هغه د چت او فرش تر منځ زوړند پاته کیده ،دقاسم په لاسو کې پایه شکله لاستې و ، کله به یې چې د میز دتختو د ښکته کولو له پاره دغه لاستې و ګرزاوه نو د ابوجعفر چغې به اسمان ته ورسیدې.

قاسم دابوجعفر تر مخه په لاستې باندې لاس کیښود او ورته یې وویل:

« ابوجعفره ! یو ځل راته ووایه چې د مارتها لور مارسی چیرې ده ؟..»

خو ځومره چې دا پوښتنه د قاسم له پاره مهمه وه په همغه اند ازه اویا دهغې ځخه زیاته د ابوجعفر له پاره هم مهمه وه. ځکه ،که هغه دمارسی په اړه ځواب ویلې نو هلته د سلیم پاشا راز را بربنډیده . او ددې سره بیا د شهزاده علاوالدین د روغتیا یې حالت ډاډمن کیده اودهغه د ژوندي پاته کیدو هیلې زیاتیدې. په دې خاطر ابوجعفر په ډیره کلکه توګه خپل غاښونه سره ورکړل او دقاسم د پوښتنې ځواب یې ورنه کړ . قاسم یو ځل بیا لاستې په پوره زور سره وګرزاوه ، ابوجعفر ته داسې ځرګنده شوه لکه ټول وجود یې چې ټوټې ټوټې شوې وي.هغه چغې کړې او ویې ویل:

مارسي دلته نه شته...... مارسي دلته نه شته....مارسي دلته نه شته....دخداې له پاره ما پریږدئ.»

ابوجعفر په سختو دردونو کې پروت و . قاسم د لاستې د ګرزولو پرته ترې یوځل بیا وپوښتل:

« که مارسي دلته نه شته نو بیا چیرې ده ؟»

« هغه....هغه......هغه الب...... هغه البانیا ته تللې ده »

د قاسم له پاره دا خبره دمنلو وړ نه وه .ځکه هغه پخپله دالبانیې په لور تللې و ،په همدې خاطر یې په ډیره سخته لهجه د ابوجعفر ځخه وپوښتل:

« ته درواغ وایې.....مارسی همدلته چیرې ده..... همدلته په اورنه کې.... ما د البانیا ټوله لاره لټولې ده ، ایا هغه په هواکې والوته او البانیا ته ولاړه ؟..»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« نن.....نه......او نه .....مم .....ما پرېږدئ ، هغه مو د کوچنۍ اسیا د لارې څخه دوه ورځې مخته استولې ده. بیا به هغه د سمندر د لارې ددانیال څخه تیرېږي اوالبانیا ته به رسيږي.....»

د قاسم له پاره دا خبر مرګوني و.د هغه خوله وازه پاته شوه ، هغه په دې ډاډ من شو چې ابوجعفر دهغه څخه زیات چالاکه دې. ابوجعفر د مارسی د لیږلو له پاره څه ډول لوبه لوبولې ده. قاسم د ابوجعفر په چال نه و پوهیدلې. په هرصورت ، قاسم د ابوجعفر څخه د را تلونکې ښځې په اړه معلومات تر لاسه نه کړاې شو خو دهغې سره سره قاسم دا احساس کړې وه چې ابوجعفر ورته دهغه دهیلو پورته معلومات ورکړې دې. په دې خاطر تر ماښامه پورې د ابوجعفر څخه د پوښتنو ګرویزونو وروسته یی دماښام لمونځ ادا کړ او بیا یی د ابوجعفر څخه تر لاسه شوې معلومات په یوه کاغذ باندې ولیکل اودکلا څخه د وتلو او اورنه ته د بیرته راستنیدو تیارې یی وکړ. دابوجعفر لاس وپښې یی ازادې کړې او هغه یی همدلته په زیرخانه کې بندې پریښود اوپخپله د کلا څخه د بیرون را وتلو له پاره بیرونې دروازې ته راغې.هلته یی دکلا د مسؤل څخه وپوښتل:

« ددې کلا دخوندي ساتلو له پاره څومره ساتونکې شته..؟»

« زمه سره ټول لس کسان دي»

قاسم په ډاډمنه توګه ورته سر وخوځاوه. هغه دا هیله هم نه درلوده چې په دې ورځ کلا به دابوجعفر خلاصونکې ډله حمله کوي. دا په حقیقت کې یوه کوچنۍ جنګي کلا وه چې دښار د دیوال به شمال غربي برخه کې پرته وه. اوپه هغه وختو کې استعمالیده چې ښار به کلابند کیده. دې کلا دوه برجونه درلودل ، چې د شهرپناه څخه دلوړوالي په خاطرترې دښاره بیرون تر لرې لرې ځایو پورې حمله کونکې ځارل کیدې شول.

قاسم د کلا مسؤل ته دابوجعفر له پاره خوراک څښاک د برابرولو حکم وکړ. او تر څنګ یی دا هم ورته وویل چې د ابوجعفر د نیول کیدو په اړه هیچاته خبره ونه کړل شی..... قاسم دهغه ځایه را ووت. طغرل بیګ هم ورسره مل و. نن قاسم تر ټولو ستر دنده تر سره کړې وه. ځکه چې هغه دټولو ستر ښکار ابوجعفر ښکار کړې و اودهغه څخه یی د سازش ټولې کړۍ را بربنډې کړې وې. اوس نو دننه په اورنه کې دکوم سازش دخپریدو ګوانښ کم شوې و ، قاسم د سلطان تر مخه د ابوجعفر څخه ترلاسه شوې معلومات په تفصیل سره بیان کړ. اودسلطان څخه یی د ټولو هغو وګړو د نیولو احکام واخستل چې په دې سازش کې ښکیل شوي و. په دې ډله کې یو شمیر ستر ستر وګړي هم وو. دیني چري یو شمیر سالاران او سپاهیان هم په کې ورګډ وو. او تر څنګ یی دښار په مختلفو ځایو کې دقیصر څو کسه جاسوسان هم وو. خو که په هغوی کې یوا ځنې نوم نه و نو هغه دسلیم پاشا نوم و ، تر څنګ یی د ابوجعفر دهغې ځانګړې ساتونکې ډلې یادونه هم نه وه چې نن شپه یی ابوجعفر ددې شمالي کلا د زندان څخه خلاصه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان ددې ټولو وګړو د نيولو له پاره دشاهي ډلې سپه سالار طغرال و ټاکه ، دغه شاهي ډلې يې په څو برخو وويشلې او د مختلفو ځايو څخه يې د وګړو د نيولو له پاره لس لس اويا دولس دولس کسان ورولېږل.

نن ټوله ورځ د ابوجعفر د نيولو په اړه ځاې ځاې خبرې اترې کيدې. په يو ځاې نيم کې دابوجعفر کارندو بلوې اوفسادات هم جوړ کړل خو د سلطان وفاداره فوځ ينې چرې دښار په ټولو سترو سترو ځايو اوکوڅو کې ګزمې کولې ، نن د سهاره څخه د ښار ټولې دروازې بندې کړل شوې وې ترڅو د ابوجعفر کوم ملګرې دخپلو نيولو د ويرې و نه تښتي. نن ورځ د اورنه په تاريخ کې د اهميت وړ ورځ ګڼل کيده ، سلطان پخپله نيغ په نيغه ددې ټول حالاتو څارنه کوله.

خو قاسم ددې هر څه سره سره بيا هم غمګين و ، هغه هيله درلوده چې د ابوجعفر څخه به د پوښتنو ايګنو په واسطه د مارسي درک هم ځانته معلوم کړي. څومره يې چې مارسی ځانته نژدې احساسوله هغه ترې همغومره لرې شوې وه. د ابوجعفر د نيولو تر مخه د سلطان له اړخه په ښار کې اعلانونه هم شوي و.

« ديو شمير شر اچونکو، چې په اورنه کې پټ شوې دي ، د نيولو له پاره په ټول ښار کې نظامی مقرارت اعلانيږي ، هيچاته د اورنه څخه د وتلو اجازه نه شته. هيڅوک دې هم کوم اجنبي انسان نه ميلمه کوی ،اونه دې دغسې وګړو ته پناه ورکوي ، په ښار کې ټولو بهرنيو ته حکم کيږي چې دښار د کوتوال سره خپل نومونه ثبت کړي او هملته حاضري ورکړي.....»

دهمدې اعلاناتو او انتظاماتو وروسته د قيصر د جاسوسانو دنيولو لړۍ پيل شوه. قاسم ټوله ورځ ډير زيات مصروفه پاته شو، دښار په مختلفو سيمو کې يې د قيصر دجاسوسانو پر خلاف عمليات کول ، په ډيرو مهمو ځايو باندې قاسم پخپله حمله کوله. دشپې تر ناوخته پورې يې د سازشي کړيو زيات شمير وګړي تر ولکې لاندې راوړي و. خو يو شمير مجرم عناصر هملته په ښار کې يو ځاې بل ځاې پټ شوي و. دهغوی د پيدا کيدو په خاطر د بهرام خان دپټې محکمې ، دښار کوتوال ، د ينې چرې وفاداره فوځيانو او د شاهي دلګيو عسکرو په پوره محنت سره پلټنې کولې.

قاسم د شپې ناوخته ، هغه وخت کورته را ستون شو چې ډير زيات ستومانه شوې و. خو اوس يې هم خوب د سترګو څخه غايب و. په خپله بستر و غوځيد او سترګې يې په چت کې ونښتې. دهغه دماغ دلته و خو زړه يې البانيه کې و. تر ډيره پورې ويښ اوبيداره و. خوبيا معلومه نه شوه چې څه وخت يې سترګې ورغلې وې.

بله ورځ سهار چې دقاسم سترګې و غوړيدې نو دهغه له پاره همغه لمړنې خبر ډير انديښمن کونکې و. هغه ته سهار وختي خپل يوه کس راپور راوړ چې.... تيره شپه په شمالي کلا باندې چا دشپې حمله کړې ده ، دې حمله کونکې د قيصر خطرناکه جاسوس ابوجعفر له ځانه سره وړې دي ، دپيښې تفصيل څه داسې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیمایي شپې نه وروسته کومې وسلوالې ډلې وینه تویونکې حمله کړې ده ،دکلا مشر او دهغه د ساتونکو ډله یې له یوه سره د تیغه تیر کړي دي او په زیرخانه کې بندی ابوجعفر یې خلاص کړې او له ځانه سره یې وړې دې. دشواهدو نه ډاګیزه کیږي چې دحمله راوړونکې ځوکسان هم په دې جنګ کې وژل شوې دي خو حمله کونکو د تللو په وخت کې دخپلو ملګرو مړې هم له ځانه سره وړی دي.

دقاسم د لړزولو له پاره همدې خبر بسنه کوله. هغه د پرون څخه تر نیمایی شپې پورې دسلو څخه زیات غداران نیولي وو. خو اصل مجرم یې یو ځل بیا د لاسووت. هغه په دې هم حیران و چې شمالي کلا ته یې ابوجعفر د ټولو امنیتی حالاتو د په نظرکې نیولو سره په ډیره پټه توګه وروړې و. او ددې کار په اړه ډیر کم اوخاص خاص خلک خبر وو .....دا خبره چې .....« ابوجعفر به په شمالی کلا کې ساتل کیږي ».... په ډیره محتاطه توګه د پخوا څخه مطرح شوې وه. هغه په همدې فکر کاوه چې هرو مرو به دابوجعفر کوم خاص کارنده تر اوسه پورې د نیولو څخه خوندي پاته شوي وي چې هغه ته نه یوازې په شمالي کلا کې دابوجعفر د بندی کیدو معلومات تر لاسه شوي بلکه دهغه دخلاصون لپاره یې په همغه لمړنۍ شپه قدم پورته کړې دې.

د بله اړخه ......ابوجعفر دمارسی او خپلو شپږو کسو نورو ملګرو سره یو ځای د یوې غرنۍ درې څخه تیریدل، هغوې دالبانیی د محل په لور روان وو . مارسي په یوې بګۍ کې سپره وه. دا بګۍ درې اسونو کشوله ، د روانیدو ترمخه طبیب سلیم پاشا مارسي ته دخوب ادویه ورکړې وه ،همدا علت و چې مارسی لا تراوسه هم ویده پرته وه او په ځان نه پوهیده. ابوجعفر ځکه د ښار دکلابندۍ څخه راوتلې و ، چې دهغه خلاصونکې ډلې د ابوجعفر سره یو ځای د کلا د دیوالو څخه ټوپ وهلې و او مارسي هم د سلیم پاشا داثرو رسوخ له مخې دښاره بیرون د لاله شاهین تر یادګاره پورې راوستل شوې وه. مارسي یې لا د ماښامه د ښاره راویستلې وه ، قاسم بن هشام د ابوجعفر د جاسوسۍ شل کلنې هڅې په یوه ورځ په اوبو لاهو کړې وې اودبغاوت ټولې کړۍ یې سره خوزولې وې. او ابوجعفر په دې خبره ډیره غمژن و . هغه په فکر کې ډوب و او هڅه یې کوله خپله غصه په دې سړه کړي چې د قاسم محبت «مارسي» یې له ځآنه سره راوړې وه.

په همدې ورځ د سلطان قاصد د هنګري دپادشاه لارډ سلاس پیغام له ځانه سره راوړې و . د هنګري پادشاه غوښتنه کړې وه چې سلطان مرادخان ثانی دې دخپلې خور دمیړه دخلاصون په خاطر دسربیا ازادي و مني او ددې هیواده څخه دې خپله شاهي ولکه پاې ته ورسوي ، د «والیشیا» ولایت هنګري دې هم مونږ ته راکړي او نقدي زر دې هم تر شپیته زرو ډاکټ پورې مونږ ته تسلیم کړي»

د سلطان له پاره ددې شرایط منل ډیر ستونزمن کار و . ددې پیغام مقصد داو چې سلطان د خپل یوه کس د راخلاصون په خاطر دهنګري پادشاه ته خپل نیمایی سلطنت ور کړي. سلطان د لارډ سلاس ځواب ډیر شرمناکه وباله او پرې ډیر په غضب شو. غوښتل یې چې هغه ته لیک ور واستوي او ورته ګواښ وکړي چې خپل بندي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورڅخه د توري په زور را خلاص کړي. خو په دې وخت کې هم يو ځل بيا د سلطان خور او خورينه را مخته شول اوسلطان يې مجبور کړ چې دهنګري دپادشاه په مقابل کې سخته ژبه ونه کاروی. همدا علت و چې سلطان د هنګري پادشاه ته وليکل چې: خپل شرايط لږڅه نرم کړي ځکه دپادشاهانو سره ښه نه ښکاري چې خپل يو بندي په دومره لوړ قيمت و پلوري.

ځوورځې وروسته مارسی البانيه ته ورسيدله. خو قاسم لا تر اوسه هم په اورنه کې اوخت را اوخت. دا هڅه يې کوله چې څه ډول دځو ورځو له پاره اجازه واخلي اود سکندربيګ په محل باندې حمله وکړي او خپله مارسي ترې بيرته را ازاده کړي. په همدې وخت کې سلطان د ابوجعفر په ريښو کې رانښتې جاسوسانو ته په ريښتنې توګه سزا ورکړې وه. سخت مجرمين يې جلادانو ته ورحواله کړي و او معمولي مجرمين يې زندان کې ور اچولي وو.

د هنګري دپادشاه او سلطان تر منځ دخط و کتابت لړۍ دوام پيدا کړ، دا لړۍ دومره اوږده شوه چې بلاخره د صليبيانو اومسلمانانو تر منځ په يوه تاريخي تړون منتج شوه. د سلطان خور او دنورو بنديانو خپلوانو سلطان د هونياډې څخه دبدل داخستو په ځاې دهغه سره په سولې کولو مجبور کړ. دې خط و کتابت داسې بڼه خپله کړه چې بلاخره سلطان مرادخان ثاني او دهنګري پادشاه لارډ سلاس دواړه ديوه تړون د لاسليک له پاره د« زيجيډين» سيمې ته ورغلل. د روم دپاپا ځانګړې نماينده ،«کارډينل جولين» د مسلمانانو سره دسولې په کولو سخت ناخوښه و. هغه ډيره هڅه وکړه چې هونياډې او لارډسلاس د سلطان سره د سولې د موافقې دکولو څخه منه کړي. خو دا ځل د لارډ سلاس اودسلطان تر منځه سوله شوې وه. هماغه و چې د ۱۴۴۴ ز کال د جولاې په دولسمه ددواړو پادشاهانو تر منځ په زيجيډين کې د سولې تړون لاسليک شو. ددې تړون له مخې سربيا د عثماني سلطنت له لاسو ازاده کړل شوه. د « واليشيا» داياليت يوه برخه د هنګري پادشاه ته ورکړل شوه اوتر څنګ يې سلطان دخپلې خور د ميړه دازادولو له پاره شپيته زره ډاکټ د فديې په توګه صليبيانو ته ورکړل. دا تړون په هنګري او ترکی دواړو ژبو کې ليکل شوې و اودواړو پادشاهانو په هغې دلاسليک کولو وروسته سوګندونه ياد کړي و چې ددې تړون دمندرجاتو درنښت به لکه دمذهبي صحيفې په توګه کوي. ددې تړون له مخې « ډينوب» درياب دسلطان له پاره اخري پوله ټاکل شوې وه. داتړون د لسو کالو له پاره و. اودغه لس کاله ټول په کې دمسلمانانو اوعيسايانو تر منځه د سولې دکلنو په نامه ياد کړل شوي و. لارډسلاس په انجيل سوګند وکړ او سلطان مراد خان په قران لاس کيښود.

اوس نو سلطان ډاډمن شوې و ، محمد چلپي هم ازاد شوې و او بيرته اورنه ته ور رسيدلې و. په کوچنۍ اسيا کې هم امن قايم شوې و. ددې سولې د تړون له مخې په څرګنده توګه په اروپا کې جنګ پاې ته رسيدلې و. اوسلطان مرادخان ثاني دلمړي ځل له پاره د سکون ساه اخستې وه. تيرو شلو دوه ويشت کلونو جنګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسفرونو هغه د سلطنت د امورو څخه ستومانه کړې و ،په دې اساس هغه غوښتل چې خپل پاته ژوند په ارام او سکون سره ، د الله په یاد کې ، تیر کړي ، هغه ددې سولې د تړون دلاسلیک کیدو وروسته د سیل اوتفریح له پاره د کوچنۍ اسیا د ښکلو اوښایسته ځایو د کتلو په لور مخه کړه.

شهزاده علاوالدین چې د څو ورځو راهیسې په پرلپسې توګه یی ناروغتیا زیاتیده ، د سلطان د بیرته راستنیدو نه وروسته یی دشاهي طبیبانو د ځانګړې توجه له مخې روغتیا مخ په ښه کیدو وه . د خپلې ناروغتیاد بسترې څخه پورته شوې او اوس په خپله د قدم وهلو جوګه ګرزیدلې و ، دمحل په داخل کې به یی آس سواری هم کوله او په یو شمیر لوبو کې به یی هم برخه اخستله. خو یوه ورځ یوناڅاپه دهغه روغتیایی حالت ډیر خراب شو او د څو ساعتو سختې ناروغتیا وروسته بې د دې فانې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

شهزاده علاوالدین سلطان ته ډیر زیات ګران و . کله یی چې د وفات خبر سلطان ته ورسید نو سلطان سخت ټکان وخوړ. دهغه په فکر کې هم نه و چې ناروغه شهزاده به دغسې یو ناڅاپه ددې نړۍ څخه سترګې پټوي ، دخپل ځوان زوې ناڅاپي مړینې د سلطان په ځیګر باندې ډیر ناوړه اغیز وکړ، هغه د خپل زوې د تکفین له پاره په ډیره بیړه اورنه ته راستون شو، خو د زوې داخري رسوماتو داداکولو په وخت کې سلطان داسې معلومیده لکه یو ناڅاپه چې بوډا شوي وي. دهغه مخ داسې اغیزمن شوي لکه د یوه کیشتیبان مخ چې د کیشتۍ دغرقیدو په وخت کې د غم او اندیښنو څخه اغیزمن کیږي . شهزاده نه یوائې سلطان ته ګران و بلکه هغه دسلطنت وارث او ولیعهد هم و. دهغه ناڅاپي مړینې سلطان مړژواندې کړې و . اوس نو سلطان ته د مملکت د امورو ، او حکومت کولو سره هیڅ دلچسپي نه وه پاته . همدا علت و چې سلطان د شهزاده د مړینې په دریمه ورځ د سلطنت څخه دګوښه کیدو پریکړه وکړه. د سلطان ددې پریکړې په واسطه د سلطنت ګڼ شمیر مخلص عمایدین ، سپه سالاران او سالاران ډیر غمژن شوي و ، په دې اساس هغوې پریکړه وکړه تر څو سلطان مجبور کړي دسلطنت نه د عزل کیدو خپله پریکړه بیرته واخلي او عثماني سلطنت بې یاره او مددګاره پری نږدي. خو سلطان دیوه خبره هم وانه وریده او په خپله پریکړه باندې کلک و درید.

دسلطنت په تخت باندې د شهزاده علاوالدین نه وروسته دهغه د کوچني ورور شهزاده محمد دکیناستو حق و ، په دې اساس سلطان شهزاده محمد ته د هغه په کوچنیوالي کې د عثماني سلطنت تاج ور په سر کړ، په دې وخت کې د شهزاده محمد عمر څوارلس کاله و . ګڼ شمیر خلکو دا ګمان کاوه چې ځوان شهزاده به د حکومت امور په ښه توګه تر سره نه کړي. په دې خاطر سلطان دخپل نوي شهزاده له پاره د خپل سلطنت ډیر تجربه لرونکې سالاران او عمایدین د سلاکارانو په څیر و ټاکل. په دې لړ کې یی قاسم بن هشام په ځانګړې توګه په ځانته خونه کې ور وغوښت او ورته یی حکم وکړ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« قاسمه ! مونږ پر تا باندې ډېر زيات باور او اعتماد کوو . د ابوجعفر د سازش په را بربنډولوکې چې تا کوم کړچار ادا کړې دهغې له رويه دې په عثماني سلطنت باندې ډېر زيات احسان کړې دې. چې اجر اوبدله يې مونږ نه شو درکولې. مونږ ستا د وړتياو او اخلاص ترمخه پريکړه کړې ده چې زما د تګ سره سم تاسې د شهزاده محمد د ځانګړې سلاکار په څير و ټاکو . هيله لرم چې ته به دا دنده په ډېره ښه توګه تر سره کړای شې. مونږ پر تا پخوا له دې نه هم ډېر مسؤليتونه بار کړې دي ، هسې خو هم مونږ ته شاهي سراغ رسان او په اورنه کې د قيصر د جاسوسانو د جړو د ويستلو له پاره ټاکلې يې..... خو څرنګه چې اوس د سازش او بغاوت ګوابس کم شوې دې نو په دې خاطر مونږتا ددې مسؤليت څخه ازادوو اود شهزاده محمد سره دې د ځانګړې سلاکار په توګه ټاکو . اوس نو هغه شهزاده محمد نه دې بلکه « سلطان محمد خان » دې.

قاسم لا دپخوا څخه دحالاتو څخه ښه خبر و . اوهغه همدا هيله درلوده چې سلطان به ورته د شهزاده په اړه څه ځانګړې هدايات ورکوي. خو هغه ددې هيله نه درلوده چې هغه دې د شاهي سراغ رسانۍ څخه جدا کړی. په دې خاطر يې په څيرانتياسره تر ېو پوښتل:

« خو درونده سلطانه ! د ابوجعفر يو شمير جاسوسان لا تر اوسه هم زمونږ د پنجو څخه ازاد ګرځي ، زه ډېره هڅه کوم چې هغوې هم ونيسم.»

« ددې کار له پاره بهرام خان کافي دې. هسې هم ما تاسې د موقت سراغ رسان په څير ټاکلې واست. ته د جنګ د محاذ سړې يې. مونږ نه غواړو تا دلته په دې امورو کې له لاسه ورکړو .»

قاسم يې د شاهي سراغ رسانۍ د دندې څخه لرې کړ . او د نوې ځوان شهزاده سلاکار يې و ټاکه. خو په ينې چرې کې د قاسم قومنداني همغسې په خپل ځاې پاته شوه.

د شهزاده محمد په تخت د کيناستونه وروسته سلطان د کوچنۍ اسيا د «ايدين» د رياست په لور وخوزيد. په دې سيمه کې ډېرې په زړه پورې طبيعې ښکلې منظرې وې او تر څنګ يې هلته يوه خانقاه هم موجوده وه. په دې خانقاه کې به هروخت د ذکر وفکر او زهد اوعبادت غونډې جوړې وې. په ايدين کې د ښارې ژوند په لړ کې کومه خاصه ستونزه نه تر سترګو کيده. بلکه ددې ځاې خاموشه چاپيريال او ښکلې طبيعې مناظرو سلطان ته د سلطنت د تخت نه په زرګونو واره زيات سکونت او ارام ورباښه. دلته سلطان په ذکر وعبادت کې مصروف شو . ځکه سلطان مرادخان ثاني يو درويش صفته اوفلسفي انسان و اود ماده پرستۍ څخه يې سخته کرکه درلوده . هغه ته د ښارونو اوسيدونکی او ددولت را ټولونکی د جهنم خس ښکاريدل. دهغه په وړاندې د دنيا له پاره منډې تړړې د شيطان د پيروانو کار ګڼل کيده . هغه په دې پوهيده چې د حقيقي ژوند راز د الله تعالې په پيژندلو کې پټ دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې خاطر يې د سلطنت څخه د ګوښه کيدو پريکړه وکړه او پادشاهي ، زر ، جواهرات او هرڅه يې پريښودل او په دې اړه يې يوه لمحه هم د خفګان احساس و نه کړ.

سلطان اورنه پريښوده او ترې ولاړ. د سلطان مرادخان ثاني د سلطنت څخه ګوښه کيدل او يوه ځوان شهزاده ته د سلطنت امور ورسپارل د عيسويانو اوصليبيانو له پاره د خوشحالۍ سبب وګرزيدل. په دې اساس يې د موقع نه د ګټې په اخستو سره د لاسليک شوي تړون د ماتولو هڅې پيل کړې ، دهنګرى قومي غونډې داوخت داورپا څخه د ترکانو د ويستلو له پاره بهترين فرصت وګاڼه ، په دې لړ کې ډير ستر محرک عنصر د پوپ نماينده « کاردينال جولين» و . هغه د پوپ د پوره تاييد په اساس د تړون په ماتولو اصرار کاوه ، پوپ ( پاپا يې روم ) د روم د کيتوليک چرچ مشر و . په دې اساس هغه وخت چې پوپ دا فتوې ورکړه چې د مسلمانانو سره د تړون ماتول ګناه نه ده نو په ټوله اروپا کې د جوش او جذبې نوې ولولې را وټوکيدې. د قسطنطنيې قيصر هم په دې تحريک کې له ټولو مخته و . په داسې حال کې چې قيصر د ( ارتوډکس د کليسا ) پيرو و . ارتوډکس کليسا د ورمن کليسا سره سخت مخالفت درلود خو ددې سره سره بيا هم د قسطنطنيې قيصر د مسلمانانو پر خلاف د کارډينل جولين او د هنګري دخلکو تر څنګ قدم په قدم روان و . دا حالات دصليبيانو له پاره د هيلو نه ډک و ، ځکه د عثماني سلطنت د امورو مسؤليت د يوه ځوان شهزاده په اوږو بار وو ، او کرميا امير هم ددې خبر په اوريدو سره يو ځل بيا په بغاوت لاس پورې کړ ، عثماني فوځونه د کرميا امير د ځپلو له پاره يو ځل بيا هغه لورې ته ولاړل.

دبله اړخه د «دانيال » په دره اوسيند باندې د ( جينوا ، برګنډي او وينس ) بحرې بيړيو ولکه کړې وه. او عثماني فوځونو ته يې دا ستونزمنه کړې وه چې د دانيال دد رياب څخه په اسانۍ سره تيرې شي. اوس نو ټول حالات د صليبيانو په ګټه او دمسلمانانو په زيان باندې راڅرخيدل. خوددې ټولو خبرو سره بيا هم دهنګري پادشاه لاړډ سلاس نه غوښتل د سلطان سره خپله کړې لوظنامه ماته کړي. تر څنګ يې د هنګري دقومي غونډې يو شمير غړي هم دتړون دماتيدو پر خلاف و او دا کار يې غير اخلاقي ګاڼه. ان تر دې چې پخپله هونياډې هم د تړون د ماتولو پر خلاف و . خو کارډينال جولين دخپل مذهبي اغيز څخه کار واخست او د روم د پاپا د فتوې په اساس يې د پادشاه ضمير ارام کړ. اوهغه ته يې دا ډاډ ورکړ چې دغيرعيسوى خلکو سره تړون هيڅ معنا نه لرى. په دې لړ کې دهنګرى د قومي غونډې د يوشمير کسانو مخالفت هم ددې فتوې تر اغيز لاندې راغي ، جولين په غونډه کې اعلان وکړ چې دا فتوې پخپله د پوپ د تائيد نه برخمنه ده . هغه غونډې ته په خپلې وينا کې چې تاسې يې « د عثماني دولت ، لمړۍ ټوک او د ګبن د څلورم ټوک په ۴۲۴ مخ کې لوستلې شئ» داسې وويل:

« ايا تاسې په دې زرينه موقع کې خپلې ټولې هغه هيلې چې خلکو په تاسو پورې تړلې دي له منځه وړئ ، ددې خوش بختۍ څخه ګټه نه پورته کوئ چې تاسې ته در په برخه شوې ده . ستاسې ژمنه ، عهد او تړون ستاسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خداي او ستاسي دمسيحي ورونو سره دي په دې اساس زمونږ هغه پخواني ترون چي زمونږ دمذهب دمخالفينو او دمسيح ددښمنانو سره شوي و ، له منځه تللي دي. نن په نړۍ کې دمسيح نماينده د روم پاپا دي اودهغې د اجازې پرته نه تاسو کوم ترون کولي شئ او نه يې پوره کولي شئ ، په دې توګه زه تاسي د هغه درواغو د سوګند څخه برې کوم اوستا سو فوځ ته برکت ورکوم ، د شهرت او خلاصون په لاره کې زما تر شاه را ځئ ،خو که چيرې اوس هم ستاسو په زړونو کې څه خبره وي نو زه به دهغې ګناه وبال په خپله غاړه واخلم.»

هونيادې لا تر اوسه د کارډينل جولين تر اغيز لاندې نه و راغلي ، ځکه هغه دترکانو سره د ژمنې ماتول ډيره ستره بداخلاقي ګڼله. خو کله چي د هونيادې سره دا ژمنه وشوه چي د ترکانو څخه د بلغاريې دبيرته اخستلو وروسته به هغه هيواد هونيادې ته ورحواله کړل شي او هونيادې به دهغه ځآې پادشاه ومنل شی نو هغه هم د کارډينال سره همغږې شو.

دهونيادې د راضی کيدو سره سم د صليبيانو لښکر چي دراتلونکو لسوکلونو له پاره يې د مسلمانانو سره د جنګ د نه کولو ترون لاسليک کړې و ، په ډير جوش اوجذبې سره جنګ ته تيار شول. هونيادې وړانديز وکړ چي دترون دماتولو اعلان دې د ۱۴۴۴ زکال د سپتمبر تر لمړۍ نيټې پورې پټ پاته شي ، هغه فکر کاوه چي عيسايي صليبي ځواکونه به د ستمپر تر لمړۍ پورې د وخت څخه پوره پوره ګټه پورته کړي اوپه هغو ټولو سيمو به ولکه ومومي چي ترکي فوځيان يې د دې ترون له مخې پريږدي . همدا راز يې سربيا پادشاه ،جارج برنيک وچ ته يې دهغه د سلطنت دپراخولو په اړه لالچ ورکړ اوهغه يې هم د ترون په ماتولو باندې اړ ويست.

دلين پول د وينا له مخې « دکومو لارو څخه چي دا غداري ترسره کيده، دهغې له مخې د اروپا د جنګي پوهانو او يوه ستر سپه سالار دشهرت له پاره ددې نه بله زياته معيوبه خبره په تاريخ کې نه شي تر ستړګو کيدې.»

تر اوسه پورې د سوله ليک د ليکلو څخه لا يوه مياشت هم نه وه تيره شوې چي دماتولو له پاره يې صليبيانو سره لاسونه يو کړل. هغه وخت چي عثماني فوځيانو د سربيا، واليشيا (والاچيا) او د ډينوب د ساحلي سيمو او جنګي کلاګانو څخه خپل فوځونه را ويستل نو صليبي فوځونو د ترون څخه پوره پوره ګټه پورته کړه ، اوپادشاه لاړسلاس ، کارډينل جولين ، او هونيادې دعثماني سلطنت پر خلاف نژدې شل زره فوځونه راټول کړل او د سپتمبر په لمړۍ نيټه يې دحملې له پاره عملي ګامونه واخستل. ترکان دهغوې ددې فريب او چل ول څخه بې خبره وو . په دې اساس هغوې ګڼ شمير جنګي کلاګاني صليبانو ته پرې اينښې وې. صليبيانو هم په يو شمير جنګي کلاګانو باندې يرغل وروړ او هلته ميشت ترکي فوځونه يې يو په بل پسې يا ووژل او يا يې د غرونو د سرونو څخه لاندې را وغورول . دهنګري فوځونو دخبر ورکولو پرته د ترکي په پولو باندې يرغل راوست ، هغه سميې يې لوټ اوتالان کړې او دبلغاريه له لارې يې ځانونه بحر اسود ته را ورسول اوبيا يې دهغه ځايه د جنوب په لور مخه کړه. په دې توګه هغوې ګڼ شمير سيمې تر خپلې ولکې لاندې راوړې او تر «وارنا» پورې ور ورسيدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه ښار یې کلا بند کړ ، دلته هم ترکي فوځونه ددومره ناڅاپي یرغل دمقابلې له پاره تیار نه وو. په دې اساس یې دمجبوریت له مخې خپلې وسلې په ځمکه وغورزولې او «وارنا» یې صلیبیانو ته ورحواله کړه. ددې نه مخته چې په لاره کې څومره ترکي فوځونه را روان وو ټول مقتول او مغلوب کړل شول. او ټولې سیمې د عیسایانو او صلیبیانو دبې رحمۍ اوسفاکۍ او دمسلمانانو د عامې وژنې شاهدې وګرزیدې.

د صلیبیانو دترون د ماتولو دا خبر چې کله نوي ځوان سلطان ، سلطان محمد خان ته را ورسیدنو په هغه وخت کې د «وارنا» ښار هم د ترکانو د لاسو څخه وتلې و. ځوان پادشاه چې کله دا ډول غمژن خبرونه واوریدل نو وارخطا شو، سمدستي یې دسلطنت دربار جوړ کړ اوخپل سپه سالاران، سلاکاران، وزیران را ټول کړل اودهغوې سره یې په دې لړ کې مشورې پیل کړې. په دربار کې ناست هر سړې دغم اوغصې څخه تک سور ګرزیدلې و، د ینې چري زوړ او تجربه لرونکې سپه سالار « خواجه خیري» تر ټول ګرم او جذباتونه ډک معلومیده . په دې وخت کې نوي ځوان سلطان غونډه پیل کړه او په خپلو خبرو کې یې ورته وویل:

« دسلطنت درنو وفادارانو ! لکه څنګه چې تاسو ټولو ته ډاګیزه شوې ده چې د اروپا بدفطرته صلیبیانو ، زمونږ د معظم سلطان سره خپل کړې ترون مات کړې او زمونږ ګڼ شمیر جنګي کلا ګانې او سیمې یې تر خپلې فوځې ولکې لاندې راوستې دي، هلته یې چور او تالان کړې او خلک یې په عامه توګه وژلې دي او اوس یې د «وارنا» په ښار باندې هم ولکه کړې ده ، صلیبیان غواړي ترکان د اروپا څخه بیرون وکاږي ، هغوې ددترون په ماتولو سره په انساني تاریخ کې ډیر بد کرچار ادا کړې دې.....

دا هغه حالات وو چې دهغې څخه دخلاصون په خاطر مې ستاسو دا غونډه رابللې ده. په دې وخت کې زمونږ د فوځونو زیاته برخه هلته په کریمیا کې دکریمیاد امیر د بغاوت په ځپلو کې مصروف دي، دلته اوس زمونږ سره د ینې چري د وفاداره اوتجربه لرونکې فوځونو په ګډون نزدې ۳۵ زره وسلوال فوځونه موجود دي، چې مونږ کولې شو ددې فوځونو سره یوځاې د هونیاډې د مقابلې له پاره قدم پورته کړو. خو زه د څو ورځو راهیسې په دې فکر کې یم چې زمونږ یو شمیر پخواني سپه سالاران او وزیران اوس د صلیبیانو سره د پنجه په پنجه کیدو څخه ویره لري ، دهمدې حالاتو د په نظر کې نیولو په اساس له تاسو څخه د سلطنت د بهبود په خاطر اړینې مشورې غواړم.»

نوي ځوان سلطان دخپل عمر څخه د ډیرو پورته خیالاتو څرګندونه وکړه او ددربار حاضرینو ته یې هر څه تر مخ کیښوول. په دې وخت کې ټول خلک په خپلو خپلو ځایو باندې ناست و او په ډیر تعجب سره یې د نوې سلطان خبرې اوریدې. په دې وخت کې د ینې چري زوړ سالار «خواجه خیرې» تر ټولو دمخه پورته شو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درونده سلطانه ! تا چې دکومو سالارانو او وزیرانو یادونه وکړه ، هغوی د سلطنت د پایښت له پاره دخپلې وینې اخري څاڅکې هم ځاروي. هیڅ یو ریښتونې مسلمان به د عیسویانو سره د جنګ او جهاد څخه دریغ ونه کړي ، په حقیقت کې د سلطنت یو شمیر پخواني وفاداران دا هیله لري چې ستر معظم سلطان ، سلطان مراخان ثاني په خپله د صلیبي فوځونو پر خلاف دهغوی قیادت په غاړه واخلي.»

دخواجه خیري د خبرو د خلاصیدو سره سم طبیب سلیم پاشا سمدستي و درید او په ډیر قهر سره یې د خواجه خیري په لور وکتل او بیایې سلطان ته مخ کړ او ورته یې وویل:

« د دروند سلطان بخت دې بلند وي ! زما په آند چې خواجه خیري نور دخپل عمر په اخري وختوکې دې ، ځکه یې د ګوښه کیناستو څخه دمعظم سلطان دبیرته راستنیدو وړاندیز وکړ. درونده سلطانه ! ستا په مبارک وجود کې نوې او تازه وینه ځغلي ، همستا قیادت دصلیبي فوځونو له پاره دمرګ پیغام ثابتیدې شي ، ستا په قیادت کې چې عثماني فوځونه په څومره همت او میړانه د صلیبي ځواکونو مقابله کولې شی هغومره د پخوانیو سالارانو په قیادت کې نه شی کولې. په دې اساس زه هیله لرم چې تاسې محترم ، خپل درووند پلار ته د ګوښه ناستې څخه د بیرته راستنیدو تکلیف ورنه کړئ او په خپله دعثمانی فوځونو قیادت په غاړه واخلئ. »

سلیم پاشا غدار و. دهغه اصلي نوم « لوګان » و. او د یوه طبیب په څیر دابوجعفر په ملتیا اورنه ته را ننوتې و. همدغه وګړي د ابوجعفر په سلا شهزاده علاوالدین ته سست زهر ورکړي و او هغه یې پرې شهید کړې و. سلیم پاشا غوښتل چې همدا ځوان سلطان په خپله د عثماني ځواکونو قیادت په غاړه واخلی او دصلیبي ځواکونو مقابله ته ولاړشي. تر څو د هونیاډې په څیر د یوه تجربه کار سالار تر مخه ماتې وخوري. خو قاسم چې سلیم پاشا یې په ژورو سترګو کوت دخپله ځایه پورته شو او نوي اوځوان پادشاه ته یې وویل:

« درونده سلطانه ! درووند اومحترم سالار « خواجه خیري » چې کومه سلا درکړه نو په همغې کې دسلطنت له پاره ګټه او بهبود دې. دسلطنت په تخت کیناستل یوه خبره ده ...... او د جنګ په میدان کې ددښمن په چالونو پوهیدل بله خبره. تاسې ته تر اوسه پورې په کوم ستر جنګ کې د برخې داخستو وخت نه دې تر لاسه شوې. په دې خاطر غوره داده چې درووند او معظم سلطان یعنې ستاسې محترم پلار یو ځل بیا دحکومت په تخت کښیني ، همدا دسلطنت د بقا او اسلام د بهبود له پاره غوره سلا ده.»

سلطان محمد دخپل دوست او ملګری قاسم خبره د زړه په غوږونو اوریده. هغه پخپله هم دا محسوسوله چې لا تراوسه د کوم ستر جنګ له پاره د فوځ د قومندې وړتیا نه لری. په دې خاطر یې نورې مشورې لازم و نه ګڼلې او خپل حکم یې داسې ولیکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درنو حاضرینو ! زه د خپل دوست اوملګري قاسم بن هشام او محترم سالار خواجه خیري د مشورو سره متفق یم . په دې خاطر زه د سلطنت خپلو همدغو دواړو وفادارو ملګروته حکم کوم چې دوې همدا نن د « ایدین » په لور ولاړ شي او سمدلاسه سلطان له ځانه سره بیرته اورنه ته راوړي......»

سلطان محمد په ډېره عجیبه توګه د سلیم پاشا په لور وکتل او ورته یې وویل:

« ددې نه علاوه ، زه غواړم د سلطنت ملګرو ته ډاګیزه کړم چې مونږ د چاپلوسۍ کونکو او غوړه مالۍ څخه سخته کرکه کوو ....»

دهمدومره خبرو وروسته سلطان خاموشه شو ، ددې وروسته په نورور ضروري خبرو باندې بحث پیل شو اوبیا د سلطان مرادخان ثاني تر را تلو پورې ددربار غونډه پای ته ورسیده او خلک ولاړل.

قاسم او خواجه خیري په همدې ورځ د « ایدین» په لور وخوزیدل، هلته دایدین په خانقاه کې د زاهدانو او درویشانو یوه کوچنۍ ډله وه ، سلطان هم په عام او ساده کالیو کې دهمدې درویشانو تر منځه ناست و اوپه روحاني موضوعاتو به یې بحث او خبرنه کوله. کله یې چې قاسم او خواجه خیري په خانقا کې وکتل نو یوټکان شانته یې وخوړ اوبیا بیرته خاموشه کیناست. هغه فکر وکړ چې هرومرو کومه داسې خبره شته چې دهغه دوه تکړه سالاران قاسم اوخیري دلته ایدین ته راغلي دي. خوسلطان اندیښمن نه و . ځکه هغه یو درویش صفته انسان و اوهیڅکله هم دنیاوی امورو نه اندیښمن کاوه.

خواجه خیری او قاسم سلطان ته ورنژدې شول ، سلطان اودهغه ملګرو درویشانو ددې دواړو میلمنو ډیر ښه استقبال وکړ. اوبیا یې دخپله ځانه سره نزدې په زمکه کینول ، سلطان د قاسم مخ ته په غور سره کتل چې لږ څه پریشانه معلومیده. خو د زاړه خواجه خیري څیره د جوش او جذبې څخه ډکه وه . سلطان د خپلو پوهو او لرې کتونکو سترګو په واسطه دهغوې دحالاتو جایزه واخسته اوبیا یې ترې وپوښتل:

« داسې بریښې چې دسلطنت منتظمین دکومې سترې ستونزې سره مخ شوي دي..... چې په خاطر یې تاسې دواړه تر دې ځآیه راغلي یاست..... وایاست..... څنګه راغلي یاست ؟.....»

نن د سلطان لهجه د شاهي دبدبې څخه بلکل خالي وه ، داسې بریښیده چې دا سلطان مرادخان ثاني نه وي بلکه د خانقاه یوفقیر او درویش خبرې کوي. خواجه خیري ورته د مخکې څخه د جوړشوي پلان له مخې خپله خبره پیل کړه:

«درونده سلطانه ! نن سلطنت ستاسې مبارک وجود او حضور ته سخته اړتیا لري. ځکه هغو بدبختو صلیبیانو د ۱۴۴۴ز کال د جولاې د دولسمې تړون مات کړې دې ، او دهغوې اتحادي فوځونو د لارډسلاس ، کارډینل جولین

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هونیاډې تر قیادت لاندې په عثماني سلطنت باندې یلغار کړې دې او تر ډیره پورې مخته راغلي دي ، زمونږ ټول سرحدي کلي او سیمې د وحشي صلیبیانو تر پښو لاندې پایمال شوي دی ، ان تر دې چې زمونږ مشهور او پیژندل شوې ښار «وارنا» هم دصلیبیانو تر ولکې لاندې راغلې دې. دښمن د سپتمبر د لمړۍ څخه تر اوسه پورې ،یعنې په دې څو ورځو کې زمونږ تر نیمایی زیات سلطنت تر پښو لاندې کړې دې او هلته یې لوټ مار ، غلا و داړې او تاخت و تاراج کړې دي. بېګناه مسلمانان یوپه بل پسې وژني او د لارډ سلاس فوځونه دکوم خطر اوویرې پرته د اورنه په لور په ګړندۍ توګه را روان دي.»

دخواجه خیري د هرې خبرې سره سلطان خپل اړخ بدلاوه دهغه سترګې د حیرانتیا څخه پرانستې پاتې واې ، هغه د یوې لمحې له پاره هم په دې فکر کې نه و چې د لسو کالو له پاره شوې د «زیجیدین» تړون به لارډ سلاس په دومره چټکۍ سره او په دومره بې همتۍ سره مات کړي. ځکه په تړون د لاسلیک کولو په وخت کې لارډسلاس په انجیل او سلطان مرادخان ثاني په قران باندې لاسونه ایښې و اوسوګند یې یاد کړې و ، نو د لارډ سلاس دسوګند دماتولو خبر سلطان ډیر حیرانه کړ . هغه هیڅکله هم دا هیله نه درلوده چې یو پادشاه ددومره ستر سوګند د یادولو وروسته ،په دومره لږه موده کې خپل سوګند ته بې اعتنا کیږي ، دهغه وینه وخوټیده او موټې یې سره ورغلل. شیبه په شیبه یې د لارډ سلاس په خلاف غصه اوقهر زیاتیده. هغه په خوب کې هم دا نو شو کتلاې چې ددومره امتیازاتو د اخستلو او ددومره ستر سوګند د پورته کولو وروسته دې لارډ سلاس داسې بداخلاقه قدم پورته کړي او دسلطان سره دې په دې توګه خپله کړې ژمنه ماته کړي. دخواجه خیري تر څنګ نورو ناستو درویشانو هم دسلطان دمخ رنګ به څرګنده توګه کوت.

سلطان دخواجه خیري دخبرو د اوریدو وروسته خاموشه کیناست ، او بیا یو ناڅاپه پورته شو او ودرید. دسلطان د راپورته کیدو سره سم ټول خلک راپورته شول ، خو اوس چې سلطان کومې خبرې کولې داسې معلومیدې لکه د اوه اقلیمونو شاهنشاه په پوره جاه و جلال سره غوریږي. سلطان وویل:

« مونږ به همدا اوس او په همدې شیبه کې دسلطنت په لور ولاړ شو .... او خواجه خیري !.....» دسلطان د غورس له امله خواجه خیري په لړزه شو اوسمدلاسه یې وویل:

« بلې !درونده سلطانه !»

« خواجه خیري ! زما دا خبره یاد ساته ، چې مونږ به دغه بدفطرته او تړون ماتونکې لارډ سالاس ته د جنګ په ډګر کې داسې ماتې ورکوو چې دهغه راتلونکې نسلونه به یې هم په یاد لري اودهغوې له پاره به دعبرت درس وګرځي ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدومره خبرې دکولو سره سم سلطان پورته شو او خپلې د اوسیدو خونې ته ورغې، دسلطان دارادې دکتلو سره سم ټول درویشان هم دې ته وهڅیدل چې د سلطان سره د یوځاې تللو له پاره ځانونه تیار کړي. په ډیر لږ وخت کې سلطان ، درویشان ، قاسم او خواجه خیرې ټول د فوځ د لښکرځاې په لور لکه د الوتونکو مرغانو په څیر والوتل.

سلطانې لښکر په کرمیا کې د کرمیا د امیر د بغاوت د ځپولو نه وروسته لا تر اوسه هم هلته په کوچنۍ اسیا کې پراته و. سلطان خپل لښکر ته د ورسیدو سره یوه ګړۍ هم ارام و نه کړ او سمدستې یې د کوچ حکم ورکړ. په ډیر کم وخت کې سلطان دځلوېښتو زرو تجربه لرونکو فوځونو سره یو ځاې د «اورنا» په لور حرکت وکړ. په دې لښکر کې د ینې چرې بهترین دلګې هم شامل و. په دې ډله کې لس زره کسان د خواجه خیرې سره ، لس زره داغا حسن سره اوترڅنګ یې د نور سالاران لکه عمر عبدالرحمن او ریاض بیګ هم دخپلو عسکرو سره شامل و. دا ځل قاسم بن هشام هم دخپلو پنځه زره فوځونو سره یوځاې دسلطان د قومندې لاندې روان و. دا لښکرې د ۱۴۴۴ز کال د اکتوبر په میاشت کې ددانیال ددریاب څخه تیرې شوې.

په څرګنده توګه د سلطان له پاره ددانیال ددریاب څخه تیریدل هم ستونزمن شوي و ،ځکه د دریاب په دې مهمه لاره باندې صلیبی ځواکونو ولکه کړې وه. خو سلطان «جینوا» ځواکونو ته دخپل هر عسکر په سر یو ډاکټ محصول ورکړ، اوپه دې توګه یې خپل ټول لښکر اروپا ته ور پوریوست. د هونیاډې په وهم او ګمان کې هم نه وه چې د «جینوا» او «وینس» بحرې بیړۍ به داډول رشوت اخلې او دسلطان خطرناکه فوځونو ته به اروپا ته د راتیریدو اجازه ورکړي. په دې وخت کې لارډ سلاس او هونیاډې د «وارنا» په ښار باندې ولکمن و. دهغوې نور فوځونه د وارنا تر څنګ په میدانو کې په خپلو خیمو کې پراته و. صلیبې فوځونوته په خپلو فتحو باندې پوره ډاډ و. دهغوې په ذهن کې هم دا نه را ګرزیده چې دسلطان فوځ به دا ډول د سترګو په رپ کې د دانیال څخه را تیر شي او ددوې دسر دپاسه به و دریږي.

هونیاډې ته دهغه مخبرانو دا خبر ورکړ ې و چې سلطان مرادخان د ګوښه ناستې څخه را وتلې دې او د څلویښت زره ځواکمنو او تجربه لرونکو فوځونو سره یو ځاې ددوې مقابلې ته را رسیدلې دې. او اوس ددوې له ځایه یوآځې څلور میله لرې دخپلو فوځونو سره یو ځاې په خیمو کې پروت دې. ددې خبرې د اوریدو سره سم د هونیاډې وار و پار ورخطا شو ، په منډه یې ځان دلارډ سلاس خیمې ته ځان ورساوه. لارډسلاس سمدلاسه خپله مشورتې غونډه را وبلله. د مجلس د غونډې په پاې کې صلیبې فوځونو خپلې لیکې تیارې کړې ، هغوې ته د هونیاډې دپخوانیو بریالیتوبونو په رڼا کې خپل برې ډاډمن ښکاریده. په دې اساس هغه د غونډې د یو شمیر تجربه لرونکو سالارانو دا سلا و نه منله چې د لښکرګاه په چارچاپیر کې ځانوته سنګر و کنې او تر څنګ یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان مرادخان د حملې انتظار وکړي. هونیاډې په خپله د سلطان مراد خان په خلاف دخپلو لښکرو سره یو ځای هغه لورې ته ورغې.

د ۱۴۴۴ز کال د نومبر په لسمه ددواړو فوځونو تر منځه دجنګ لیکې جوړې شوې ، دصلیبي فوځونو میسره کې د والیشیا فوځ و. دهنګري فوځ یې په میمنه کې و او د کارډینل جولین تر قومندې لاندې هم صلیبي مجاهدین د یوه ستر لښکر سره موجود وو. د هنګری پادشاه لاډ سلاس د خپلو سالارانو او جنریلانو سره د لښکر په زړه کې و درید. د پولینډ دفوځ شاته دیو مشهور بیشف تر قومندې لاندې یو لښکر ولاړ و خو هونیاډې ددې ټول فوځ ستر سالار اود جنګ قومندان و.

په سلطاني فوځ کې لا د پخوا څخه دوه صفونه ، دپیاده او د سپرو فوځونو جوړ شوي و. د ښي لاس قومنده د «روميليا» د «بیلربې» په لاسو کې وه. او دچپ اړخ قومنده د «اناطولیا» د بیلر بې په لاسو کې وه. ددې لیکو تر شا د زړه په برخه کې سلطان مراد خان او دیني چري تجربه لرونکې فوځونه ولاړ و.

وارنا په دې میدانو کې دنومبر په لسمه سخته جګړه و نښته ، سلطان مرادخان د « زینجیدین » د تړون ټولې مادې په غټو ټکو باندې په تختیو و لیکلې او د نیزې په څوکه یې پورته لکه دبیرغ په څیر پورته کړې او په هوا کې یې خوزولې.

مشهور تاریخپوه «کریسي » لیکي چې : « هغه ، هغه منتقم ذات ته غږ کاوه چې خلکو ته د ژمنې په ماتولو سزا ورکوي»

د عثماني دولت تاریخ لیکي چې «نن د صلیبیانو د تړون د ماتولو څخه دوه میاشتې اولس ورځې تیرېدې ، په دې ټوله موده کې هغوې د عثماني سلطنت په سیمو باندې ولکې کولې او لوټ مار او چور وچپاول یې کاوه . جنګ پیلیدونکې و چې داسې یوه پیښه را منځته شوه. اودې پیښې د عیسویانو په زړونو کې بدفالي را پیدا کړه . په دې وخت کې سخته اوتنده هوا ولږیده اودصلیبیانو ټول بیروغونه یې له بیخه را وویستل.»

د جنګ په پیل کې هونیاډې دعثماني فوځونو په ښې اړخ داسې سخته حمله وکړه چې د ترکې لښکرو پښې یې سستې کړې وې. دصلیبیانو دا حمله ډیره بریالۍ وه. ځکه په همغې لمړۍ سر کې د ترکانو لمړي دوه صفونه په مکمله توګه ګډ وډ شوي و. په فوځ کې دومره انتشار را پیدا شوې و چې سلطان خپله ماتې یقیني وګڼله. په ژوند کې لمړۍ او اخري ځل سلطان خپل صبر او استقلال له لاسه ورکړې و. سلطان لا تر اوسه پورې په همدې اندیښنه کې پروت و چې د چپ اړخه پرې د صلیبي والیشیا جنګجویانو یرغل راوست. دهغوې ددې یرغل په مقابل کې د عثماني ترکانو دفوځ دا اړخ هم سالم پاته نه شو او دسلطان هغه لږ پاته امید هم په اوبو لاهو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان په دې فکر کې شو چې ددې جنګ څخه د تيښتې په ځاى خپل اس ور مخته کړي او د هنګري دپادشاه لارډ سلاس په ساتونکې ډله باندې يرغل ورورړي. او د همدې حملې په پايلو کې شهيد کړل شي. سلطان په همدې فکرونو کې ډوب و چې داناطوليا بيلربې رامخته شو خپل اس يې ودراوه او عرض يې وکړ:

« درونده سلطانه ! د انديښنې له پاره تر اوسه کوم ځاى نه شته»

سلطان د بيلربې د خبرو په اوريدو سره داسې وځليد لکه څوک چې دخوبه را بيدار شوى وي ،سلطان خپله آس تم کړ او ديني چري د دلګيو په لور متوجه شو اوپه لوړ اواز يې وويل:

« قاسم بن هشام ...... دلته راځه....»

قاسم دسلطان څخه څو قدمه مخته د لارډ سلاس د ساتونکې ډلې ليکې څيرلې خوکله يې چې دسلطان اواز واوريد نوخپل آس يې را شاته کړ او لکه په هوا کې د الوتونکې مرغه په څير دسلطان خوا ته راورسيد. سلطان قاسم ته حکم وکړ چې:« قاسم بن هشامه ! ديني چري ټولو سالارانو ته زما حکم ورسوه چې زړونه واړه نه کړي ، مخته ورشئ او جنګيږئ او دښمن ته د ترون د ماتولو سخته سزا ورکړئ. بريا او فتحه زمونږ په برخه ده.»

لږه شيبه وروسته قاسم د يني چري ټولو سالارانو ته د سلطان پيغام ور رساوه. خو سلطان په خپله ناهيلې و. په دې وخت کې د سلطان غوږونو ته په ناڅاپي توګه د لارډ سلاس غږ ور ورسيد..... لارډ سلاس په ډير تکبر سره سلطان دخپل ځان سره دمقابلې له پاره راباله. سلطان سمدلاسه دکمان څخه يو غشې هغه لوري ته ورپريښود او د هنګرى د پادشاه لارډ سلاس اس يې پرې ننبه کړ ، اسپ د غښې دلګيدو سره سم په هنړيدو شنړيدو شو او لکه د ليونې په څير يې مخته منډې کړې ، لارډسلاس يې دکنترولو ډيره هڅه وکړه خو زخمې آس د سختو ځغليدو وروسته د خواجه خيرې د عسکرو تر مخ را پريوت. دآس د راپريوتو سره سم لارډ سلاس هم ديني چري د فوځونو په پښو کې راپريوت. خواجه خيري سمدلاسه خپله توره راوويستله اودلارډ سلاس په ستونې يې ورکيښوده ، کله چې ترون ماتونکې لارډ سلاس مرګ په خپل سر وکوت نوپه زاريو يې پيل وکړ او خواجه خيري ته يې لاسونه جوړه کړل او ورته يې وويل:

«سالاره !ما مه وژنه. ما ونيسه ، تاته به زما په سر څومره انعام چې ته غواړې درکړل شى»

خو قهرجن خواجه خيري ته د لارډ سلاس د ترون دماتولو پرته نور څه په ذهن کې نه و. هغه د هنګري دپادشاه يوه خبره هم وانه وريده اودخپلې تورې په يوه وار يې د لارډ سلاس سر له تنې پرې کړ. دهنګرى د پادشاه او زيجينډين دترون لاسليک کونکې او د اتحادې فوځونو ځواکمن مشر لارډ سلاس خپل انجام ته رسيدلې و. خواجه خيري د لارډ سلاس سر په خپلې نيز کې را وپورته کړ او نيزه يې د عيسايانو په لور ور مخته کړه ، ددې تر مخه د ترون يو نقل لا دپخوا څخه د يوې نيزې په سر کې ټومبل شوې و او صليبيانو هغه په خپلو سترګو کوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې دصلیبیانو سترګې په خپل پادشاه په پریکړې سر باندې و نښتې نو زړونه یې له لاسه ورکړل ، هغوې ته د جنګ په پیلامه کې بدفالي پیدا شوې وه ، او اوس یې چې د لارډ سلاس پرې کړې سر وکوت نو صلیبیان په دې متیقین شول چې د ترون ماتولو سزا یې سر ته راغلې ده . کله چې دهونیاډې سترګې د خپل پادشاه لارډ سلاس په سر و نښتې نو هڅه یې وکړه چې د خواجه خیرې څخه د لارډ سلاس سر بیرته واخلي. څو ځله یې ډېرې کلکې حملې وکړې خو هر ځل یې ماتې په برخه شوه، لږ وروسته د عیسایی مجاهدینو مشر او دپوپ نماینده کارډینل جولین د قاسم بن هشام تر حملې لاندې راغې ، قاسم هغه نه پیژانده مګر هغه قاسم پیژانده ، په همدې وخت کې دشا له اړخه اغاحسن چغې کړې چې:

« قاسمه ! ....دا همغه کارډینل جولین دې. چې د اروپا ټول فوځونه یې په مذهبی بنسټونو سره راټول کړي دی اوعیسویان یی د زنجیډین د ترون په ماتولو مجبور کړې و ....»

قاسم ددې خبرې په اوریدو سره لکه د اور سکروټه وګرزید ، رامخته شو اوپه کارډینل جولین باندی مرګونې ګذار وکړ، دقاسم عسکرو هم دقاسم سره په دې اړه بسپنه کوله خو قاسم په سخته توګه هغوې منه کړل ، قاسم کارډینل جولین ته د خپلې تورې د وهلو کمالات ورښوول . خو کله چې هغه بې هوشه کیده او نژدې و چې دخپله آسه راپریوزې د عیسوی لښکرو له اړخه یو غشې راغې او دقاسم پښه یې ورزخمې کړه ، اوس نو دقاسم سره دجونیل له پاره دلوبو وخت نه و پاته. په دې اساس یې خپل ښې لاس په هوا کې پورته کړ اوپه یوه درانه ګذار یې د کارډینل جولین د چپ اړخ ذره او دهغې بازو له تنې پرې کړ. جولین هغه څوک و چې ټول عیسویان یې د د ترون ماتولو ته هڅولی وو. نو کله چې صلیبیانو دهغه انجام وکوت نو پښې یې سستې شوې ، په همدې وخت کې د جولین سره دوه کسه نور بشپان هم له منځه ولاړل. اوپه دې توګه د جنګ دمیدان انځور په بل مخ واوخت. کله چې د یني چري ځوانانو عیسوي فوځونه دتیښتې په حال کې وکتل نو هغوې پرې خپلې حملې نورې هم ور زیاتې کړې.

اوس نو هونیاډې په مکمله توګه ناهیلې شوې و ، هغه یو ځل نیم دخپلو ماتې خوړلو فوځونو د راټولو هڅې وکړې خو بریا ور په برخه نه شوه . بلاخره یی دعیسوي فوځیانو په کومک ځان خوندي ځاې ته ورساوه او وتښتید. مسلمانانود سترګو په رپ کې دصلیبیانو څخه میدان و نیو. په دې جنګ کې د اتحادي ځواکونو دربمه برخه فوځونه له منځه تللې و. د شاه سلاس نه علاوه په دې جنګ کې څو کسه مشهوره بشپان هم له منځه تللې و ، خو تر ټولو زیات عبرتناکه لاش دکارډینل جولین و چې د ترون په ماتولو کې یی مهم رول لوبولې و .اوهمدا دعیسویانو د تباهی اصلی سبب ګرزیدلې و . هغه ددې ترون دماتولو ګناه په خپله غاړه واخسته اود هنګری د قانون جوړولو غونډه یی دې ته اړ کړي چې د ترون دماتولو ملاتړوکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومبر په لسمه سلطان ، عیسویانو ته د ترون دماتولو سخته سزا ورکړه ، او په یولسمه ورځ یې د وارنا انتظام یو ځل بیا په خپلو لاسو کې واخست. خو دا ځل قهرجن سلطان بیرته ژر ستنیدونکې نه و. هغه خپل یلغار ته دوام ورکړ او په څو ورځو کې یې سربیا او بوسنیا هم ونیول. دا دواړه هیوادونه د یونانې کلیسا تر حکمرانې لاندې و. ددې دواړو هیوادونو پادشاهانو پرته له کوم شرطه د سلطان اطاعت ومانه.هونیاډې لاطینی کلیسا منله اود رومن کتولیک مذهب پیرو و.

دسربیا یو تاریخپوه « رانګي» لیکي چې:«یو ځل د سربیا پادشاه « جارج برنیکویچ» د هونیاډې څخه پوښتلې و چې که چیرې برې ور په برخه شي نو دمذهب په اړه به یې فکر څه ډول وي ؟ نو هغه ځواب ورکړی و چې: سربیا به د رومن کتولیک دمذهب په خپلولو باندې مجبوره کړم..... اوس چې سلطان مرادخان ثاني دخپلې لوڅې تورې سره د سربیایانو په سر ورختلې و نو جارج همغه پوښتنه د سلطان څخه هم وکړه. سلطان ورته په ځواب کې وویل: چې دهر جومات سره به یو چرچ هم جوړوم. اوخلکو ته به پوره ازادي وي چې دخپلو مذهبونو په مطابق په مسجدونو کلیسا و کې خپل خپل عبادت وکړي .»

همدا علت و چې جارجبرنیکو وچ د سلطان دفوځونو د تم کولو هڅه و نه کړه او پرته له جنګه یې خپل هیواد هغه ته تسلیم کړ. بوسنیا هم په همدې توګه د سلطان تر مخ تسلیم شوه ، هغوې د خپلو اویاو جنګي کلاګانو دروازې دسلطان تر مخ پرانستې اوپه دې توګه د بوسنیا شاهي کورنۍ له منځه ولاړه او سیمه یې د عثماني سلطنت برخه وګرزیده.

د صلیبیانو د ترون ماتولو دهغوې په کورنیو باندې هم ډیر اغیز درلود ، د بوسنیا او سربیا ګڼ شمیر عیسوي کورنیو په خپله خوښه اسلام و مانه ، د بوسنیا خلکو د ورمن کتولیک د مذهب څخه کرکه کوله او د سربیا زیات شمیر کورنۍ هم دهمدې نفرت له امله او داسلام دحقانیت په خاطر په اسلام کې را ننوتې. سلطان په همغه لسم اویولسم نومبر د خپل سلطنت دایره پراخه کړه ، دبوسنیا د سوبې وروسته عثماني فوځونو ارام کاوه ، ځکه سلطان هم هملته په بوسنیا کې د څه وخت له پاره تم شوې و. دلته دپاته کیدو په وخت کې هغه د ښار ګوټ ګوټ کې ترکانو ته د میشت کیدلو مشوره ورکوله. سلطانې فوځونو په بوسنیا کې د صلیبي ځواکونو په څیر کوم بد کړچار ادا نه کړ اونه یې څوک ووژل ، اونه کوم سپاهې دخلکو د کورونو دلتیون له پاره د چا دروازه و ټکوله.

قاسم هم په بوسنیا کې موجود و. نن ددې ښار د فتحه کیدو دویمه ورځ وه. په لمړۍ ورځ قاسم په هغه لښکرو کې شامل و چې د بوسنیا په شاهي محل باندې یې حمله کړې وه. ددې حملې په دوران کې یو شمیر ځوانانو د قاسم اودهغه دملګرو پخلاف جنګ کړې و اوغوښتل یې د قاسم دحمله مخه ونیسي. خو هغوې ټول په دې مقابلو کې له منځه ولاړل. پرون کوم وخت چې قاسم محل ته د حملې په پایلو کې ورننوت نو د شاهي محل د ټولو ښځینو په لاسو کې یې دتورو په کتلو سره حیرانتیا و ښووله. دې کار د یني چري فوځیان د ستري ستونزې سره مخامخ کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، ددې ښځينو وسلوالو قومنده د يوې بوسنيايي شهزادګۍ په لاسو کې وه . دې ټول ښځو د محل په دهليزونو کې خپلې فوځې ډلې درولې وې. قاسم خپلو فوځيانو ته د ښځو د وژلو څخه د لاس اخستو حکم وکړ او په خپله يې په لوړ اواز د بوسنيا شهزادګۍ ته ورغږ کړ:

« درنې شهزادګۍ !..... ستاسې ټول هيواد زمونږ د سلطان اطاعت منلې دې ، ستاجنګيدل هسې بې مقصده دي. ښه به داوي چې وسله و غورزوې اوزمونږ د تورو څخه امن وغواړې. »

خو شهزادۍ د زمرۍ په څير و غړمبيده « مونږ مسلمانانو ته د ځانو د تسليمولو په ځاې مرګ ته ترجيح ورکوو. مونږ اوريدلي دي چې مسلمان عسکر د وحشې حيواناتو څخه کم نه دي....»

« درنۍ شهزادګۍ ! تا دا خبره غلطه اوريدلې ده ، ستاسې په ټول ښار کې هيڅ مسلمان عسکر د چا کور ته نه دې ورننوتې ، مونږ د چا د غلامولو له پاره جنګ نه کوو . بلکه زمونږ تورې د حق اوصداقت پريکړې کوې»

د بوسنيا شهزادګۍ چې مخ يې د اور د لمبې په څير تک سور ځليده دقاسم دخبرو د اوريدو سره اغيزمنه شوې وه خو بيا يې هم په پوره رعب سره وويل:

« سهي ده ، که چيرې تاسې ريښتونې ياست نو زمونږ له پاره لاره پريږدئ ، مونږ د محل څخه وزو او په ښار کې پناه اخلو ......تاسې خپل عسکر زمونږ دلارې څخه لرې کړئ.....»

قاسم سمدلاسه خپل عسکر يوې لورې ته کړل. بوسنيايي شهزادګۍ لوڅه توره په لاس د شاهي محل د ښځو سره يو ځاې په پوره جاه و جلال سره د محل څخه ووتله . قاسم دهغوې تعقيبول مناسب و نه ګڼل ، او دمحل ځلويښت پنځوس ښځينه غړي ، چې ټولې د شاهي کورنۍ پورې مربوطې وې ، په څو لمحو کې د قاسم اودهغه د عسکرو له سترګو پناه شوې.

نن قاسم ديني چرې دفوځونوسره يو ځاې په ښار کې ګشت کاوه اودهمدې شهزادګۍ په اړه يې فکر کاوه. هغه په دې فکر کې و چې خداې خبر چې دا د محل افت به اوس کوم ځاې کې وي ، سلطاني فوځونو ته په بوسنيا کې د جنګ کولو له پاره ډيره اړتيا پيښه نه شوه. يواځې په شاهي محل کې لږ څه مقاومت وشو خوهغه هم قاسم ډير ژر تر ولکې لاندې راوست ، اوس نو قاسم د درې ځلورو آسپ سپرو عسکرو سره يو ځاې د ښار په کوڅو کې ګرزيده . دبوسنيا خلک لا تراوسه هم د فاتح لښکر څخه په ويره کې وو . يواځې يو کس نيم به دکوره د وتلو جرءت کاوه.

قاسم د يوه کور تر څنګ تيريده چې يو ناڅاپه ودريد. د کور څخه ديوې ښځې چغې او سورې اوريدل کيدې ، قاسم په پوره حيرانتيا سره دخپلو ملګرو سپاهيانو په لور وکتل اوبيا د لږ څه فکر کولو وروسته د خپله اسه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته شو ، دهغه ملګري هم دهغه سره یوځاي دخپلو آسونو څخه را ښکته شول. هغه په ډیر احتیاط سره ددروازې په لور ورغې ، توره یې راوویسته اود خپلې تورې په لاستې یې دهغه کور دروازه و ټکوله. تر ډیره ځنډه پورې ددروازې ترمخه و درید او انتظاریې کاوه ، د ژړغونې ښځې د ژړا اواز اوس هم همغسې اوریدل کیده ، بلاخره قاسم خپل دوه کسه ملګري هملته ددزوازې مخې ته و درول اوپخپله ددوو نورو عسکرو سره یو ځاې کور ته ور ننوت. دا یو کوچنې شانته کور و چې ددې کور د یوې کوټې څخه د یوې ښځې زړه بوګنونکې اوازونه راتلل. قاسم لوڅه توره په لاسو کې نیولې په ډیر احتیاط سره د هغه کوټې په لور ورغې. دکوټې دروازه یې پرانسته او د کوټې دننه یې وکتل. خو کله یې چې هلته یوه ځوانه ښځه وکتله چې ځانته پرته ده او چغې وهې نو سمدلاسه بیرته شاته شو ، ځکه دهغې ښځې اولاد کیدونکې و او د هغې سره په کور کې هیڅوک دویمګړې نه تر سترګو کیده.

قاسم په عجیبه حالت کې را ګیر شوې و ، نه پوهیده څه وکړي. یوناڅاپه یې په فکر کې څه راغلل ، د کور څخه بیرون راووت ، هغه غوښتل د ګاونډیو کورونو څخه څوک پیدا کړې اوددې ښځې کومک ته یې ور وړي. داسې کومه ښځې چې د ولادت په امورو کې بلدتیا ولري. هغه هملته د یوه نژدې کور دروازه ور وټکوله ... او څو لحظې یې هلته ددروازې تر مخه انتظار وویست ، لږه شیبه وروسته وروته د کور دننه د قدمونو اواز تر غوږ شو اوبیا یو چا د دروازې تر شا په ویریدونکې توګه و پوښتل:

« څوک ؟.....»

دا د یوه زوړ سړي اواز و. قاسم فکر وکړ چې د مفتوحه قوم خلک څومره په ویره کې را ښکیل شوي دي. په داسې حال کې چې دسلطان لښکرو په بوسنیا کې دهیچا مال او سر ته زیان نه ورسولي. خو بیا هم د ښار خلکو دخپلو کورونو دروازې تړلې وې او په کورنو کې غلي اوپټ ناست و. قاسم ددې بوډا د اواز د اوریدو سره سم وویل:

« ګوره ! زه دسلطاني لښکر سالاریم..... ستاسې تر څنګ یوې ښځې ته د اولاد دپیدا کیدو له پاره کومک ته اړتیا ده. هغه چیغې وهي ، په دې خاطر دهغې سره د یوې ښځې د شتون اړتیا ده. ځکه هغه بلکل ځانته ده. که چیرې سمدلاسه دهغې کومک ته څوک ور و نه دانګي نو هغه به له منځه ولاړه شي.....ایا ستاسې په کور کې داسې کومه ښځه شته چې دهغې بې چاره سره کومک وکړي ؟

دقاسم دخبرو په اوریدو سره هغه بوډا خاموشه پاته شو. تر لږ ځنډه پورې همداسې چپه چپتیا وه اوبیا یې دروازه پرانسته ، دا یوکمزورې اروپایی بوډا سړې و ، دهغه په سترګو کې حیرانتیا هم وه او ویره هم. دغه زوړ سړې قاسم ته د سر نه تر پښو پورې وکتل اوبیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته لکه چې زمونږددې ګاونډې دکور په اړه خبره کوې....ته لږ ځنډ وکړه زه دخپلې لور سره خبره کوم » زوړ همدومره وویل اوولاړ.

قاسم په دې خوشحاله شو چې د زوړ سړې د زړه څخه ویره تللې وه. ځکه هغه د بیرته ستنیدو په وخت کې دخپل کور دروازه پرانستې پریښوده ، شوني وه چې هغه ته دخپل ګاونډې د اولاد د پیدا کیدو په اړه معلومات و. همدا علت و چې بوډا ته دقاسم خبره ریښتیا ښکاره شوه او ویره یې له زړه څخه ولاړه. قاسم لا په همدې فکرونو کې ډوب و چې دهغه بوډا سره دوه ښځې را غلې. دې ښځو خپل وجودونه اومخونه په لویو لویو ټکریو کې را نغاړلي وو. کله چې قاسم هغوې وکتلې نو د هغوې ددرنښت له پاره یې د یوه ریښتونې مسلمان په څیر خپلې سترګې ښکته کړې. اوس نو دقاسم اندیښنه له منځه تللې وه ، ځکه هغه زوړ سړي دغه دواړه ښځې دخپل ګاونډې کور ته ور ننویستلې ، قاسم هغه بوډا له ځآنه سره تم کړ او ورته یې وویل:

« ګوره ! که څه شي ته اړتیا پیښه شي نو د ویرې او خوف پرته یې ماته ووایه. مونږ به د کوچني دپیدا کیدو پورې همدلته ددروازې تر شا ولاړ اوسواو ستاسو له پاره دخیر دعاوې کوو.»

د زوړ سړي په سترګو کې یوځل بیا حیرانتیا را وځلیده. هغه فکر کاوه چې د فاتح قوم سپاهي خو داسې نه وي. هغه ته خپل پخواني ژوند را په یاد شو ، یعنې هغه وخت چې د رومن کتولیک کلیسافاتحین چې دهغه هممذهبه هم وو ، کله چې د فاتحینوپه څیر دې ښار ته را ننوتل نو دښار هیڅ ځاې سلامت پرینښود. کورونه یې لوټ اوتالا کړل ، ځوانې نجونې یې له ځانه سره یوړلې ، زاړه او کوچنیان یې په دیره بې دردۍ سره ووژل او فصلونو ته یې اور ور واچاوه. هغه په همدې فکر کې و چې نن مسلمانان هم د فاتحینو په څیر دلته راغلي دي خو دوې د هیچا کور ته د ورننوتلو هڅه نه ده کړې او نه یې چاته کوم زیان ور رسولې دې ، زوړ بوډا اوس د حیرانتیا په ځاې قاسم ته د مینې په سترګو کتل. هغه دې کورته دور ننوتلو نه مخته د قاسم څخه و پوښتل:

« زویه ! یوه پوښتنه درڅخه کوم....بده خو به یې نه ګڼې ؟»

په دې وخت کې د بوډا سره راغلې دواړه ښځې دخپل ګاونډې کور ته ور ننوتې وې ، یواځې همدا بوډا ددروازې تر مخ پاته وو اودقاسم سره یې خبرې کولې. قاسم دبوډا د خبرو په اوریدو سره وخندل او ورته یې وویل:

« بلکل ! و پوښته.... په ما به ستا هیڅ خبره بده و نه لګیږي»

« ګوره زویه ! ته خو پوهیږې چې مونږ عیسایان یو اوزمونږ د نجات ورکونکې نوم یسوع مسیح دې. هغه د خداې زوې هم دې او دهغه رسول هم. خو ما اوریدلې دې چې تاسې مسلمانان هم یو نبي لرئ.... په دې خاطر زه له تاڅخه پوښتم چې ستاسو نبي د خداې څه کیږي ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم له پاره د بوډا پوښتنه ډیره په زړه پورې او د توقع نه پورته وه. هغه ورته په خندا ځواب ورکړ اوورته یی وویل:

« زمونږ د نبي نوم «محمد الرسول الله صلی الله علیه وسلم» دې ، هغه د الله تعالي بنده او دهغه استازې دې. مونږ عقیده لرو چې الله تعالي وحده لا شریک ذات دې. او دهر ډول اړتیاو او احتیاجاتو څخه غني اوبې پرواه دې. نه یی کوم اولاد شته او نه په مخلوقاتو کې داسې موجود شته چې دهغه د ذات سره دهمسرۍ کولو دعوه وکړی.»

د بوډا سړې په تندې باندې دحیرانتیا لیکې راپیدا شوې اوپه سترګو کې یی په زړه پورې ځلا را وځلیده. بلکل همغسې ځلا لکه څوک چې یوه ورکه په نا ځاپې توګه راپیدا کړې .... هغه په بیړنۍ توګه د قاسم څخه یوځل بیا وپوښتل:

« ته به هرو مرو همدلته تم کیږې ، زه دننه ورځم که چیرې دکوم شې اړتیا پیښه شوه نوښکاره ته چې همتا ته به یی وایم.» زوړ سړې دننه ورغې خو یو ځل بیا پښه نیولې شو ، هغه د څو قدمو د اخستو په وخت کې څه فکر کړې و نو په دې خاطر یی خپل مخ را وګرځاوه اوقاسم ته یی وویل:

«تاسې بیرون ولې ولاړ یاست ، دننه راشئ او کینئ د لږې شیبې خبره ده. زه به درته هلته په انګړ کې کټ واچوم .» زوړ سړې همدومره وویل اوبیا یی دقاسم دځواب د اوریدو پرته دننه قدم کیښود.

اوس نو قاسم اودهغه دوه کسه ملګري دننه په انګړ کې ناست و ، پاته سپاهیان دخپل ګشت په لور روان شول ، دننه دکوټې څخه تر اوسه پورې هم دهغه ښځې د تکلیف نه ډکې چغې اوریدل کیدې ، خو اوس قاسم ډاډمن و ، هغه په ډاډه زړه هلته په انګړ کې ناست و او دهغه زاړه بوډا سره په خبروکې بوخت و. په دې وخت کې هغه زوړ سړې ترې یوه بله پوښتنه وکړه:

« اوریدلې مې دې چې ستاسې سلطان پر چا باندې بې دلیله یرغل نه وروړي ...... عیسویانو په ډیره بده توګه خپله ژمنه ماته کړه نو په دې خاطر یی ترې په لوڅه توره بدله واخسته..... ایا دا ریښتیا دې ؟»

« هو ! دا ریښتیادي. زمونږ سلطان د هونیاډې سره د لسوکالو له پاره دجنګ د نه کولو تړون لاسلیک کړې و . خو صلیبیانو هغه په همغه لمړۍ میاشت کې ماته کړه. نو دهمدې تړون دماتولو دسزا په خاطر مونږ یوائې د هنګري دپادشاه سر پرې کړ او په نیزه کې مو پورته کړ ، خو تر څنګ مو د تړون دماتولو ملاتړې دروم دپاپا نماینده کارډینل جولین هم دوه ټوټې کړ. ځکه دې سړې ټول عیسوی ملت د مسلمانانو پر خلاف د تړون د ماتولو او جنګ کولو له پاره را خوزولې و .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړه سړي د قاسم خبرې په ډېر غور او دلچسپۍ سره اورېدې. داسې برېښېده چې دقاسم شخصيت اوخبرو پرې ډېر زيات اغيز کړې و ، هغه دمسلمانو سپاهيانو دکړچار څخه هم ډېر اغيزمن شوې و . په همدې وخت کې د کوټې څخه يوه ښځه راووته او په ګړندۍ توګه ددوې لورې ته راغله خو انګړ ته د راکيوتو د مخه هملته په برنډه کې تم شوه او زوړ سړي يې ځانته ور وباله. لږه شيبه وروسته هغه زوړ سړي بيرته راستون شو او قاسم ته يې وويل..... « دڅه ضروري شيانو له پاره اړتيا ده..» قاسم د هغې شيانو د راوړو له پاره خپل سپاهې و استاوه ، هغه ښځه بيرته ولاړه او قاسم يو ځل بيا دهغه بوډا سره په خبرو کې بوخت شو . په دې وخت بوډا ورته وويل:

« زويه ! تا ماته تر اوسه پورې خپل نوم و نه ښوده ...... اونه دې راته دا وويل چې ته په فوځ کې څه رتبه لرې . يواځې همدومره دې را ته وويل چې ته د سلطاني فوځ يوسالار يې. زه غواړم ستا په اړه معلومات ولرم.» قاسم د شونډو لاندې وخندل اوبيا يې په خندا کې ورته وويل: « زما نوم قاسم بن هشام دې... اوزه په سلطاني لښکر د پنځه زره فوځونو سالار يم ، خو ستا درونده مشره ! ستا نوم څه دې ؟»

« زما نوم «بارټاکوزين» دې. ما خپل ټول ژوند په سمندر کې تيرکړې دې ، د عمر په لمړيو کې مې د عيسويت روزنه تر لاسه کړې وه خو وروسته مې د کشتۍ د چلولو روزنه تر لاسه کړه او ترڅو کالو مخته پورې د کريټ د جزيرې د يوه بحري جهاز کپتان وم...... اوس مې عمر خوړلې دې نوپه دې اساس په کور کې ناست يم. اوس زما زوې دجهاز کپتان دې. په دغو دواړو نجونو کې يوه زما لور ده اوبله زما دلور ملګرې ده چې د پناه په خاطر زمونږ کور ته راغلې ده.»

زاړه سړي «بارټاکوزين» په ډېره لنډه توګه قاسم ته ځآن ور پيژانده ، اوس نو قاسم نور هم په ډېر درنښت دغه زاړه سړي ته کتل. دواړو تر ډېره پورې پخپلو منځو کې سره خبرې کولې ، ان تر دې چه هغه سپاهې هم دسامان داخستو وروسته بيرته راستون شوې و . بارټا کوزين سمدلاسه پورته شو اوهغه سامان يې واخست اودکمرې په لور ورغې. د هغې ښځې چيغې او سورې لا تر اوسه هم لکه دپخوا په څير اوريدل کيدې. داسې برېښېده چې هغه په ډېر سخت حالت کې وه. کله کله به دهغې دا چغې په سختو زړېرويو بدليدې. بارټاکوزين دا ځل دننه ورغې خوبيرته زر راستون نه شو .....قاسم دخپلو عسکرو سره هملته په انګړ کې خاموشه ناست واو ددې ستونزمن وخت د تيريدو انتظار يې کاوه. څو شيبې او څو ساعتونه يو په بل پسې همداسې تير شول اوبيا داسې شيبه هم راغله ....... چې دکمرې دننه د يوه کوچني ماشوم د ژړا اواز را ووت. د ټولو زړونه وخوزيدل ،قاسم دخپله ځآيه ناڅاپه پورته شو ،خو لږه شيبه وروسته يې چې د کوچني ماشوم ژړا واريده نو انديښنه يې لرې شوه،

اوس نو قاسم خپله دنده تر سره کړې وه. هغه د يوې اولاد پيداکونکې ښځې سره کومک کړې و، د يوې داسې ښځې سره چې دجنګ په خاطر يې خپل ځان په کور کې بند کړې و اوهيڅ يار و مددګار يې نه درلود او ددرد څخه يې چغې او نارې دکوره بيرون اوريدل کيدې. اوهمدا د يوه مسلمان سپاهې دنده وه. قاسم خپله دنده تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وه او اوس يې غوښتل چې ددې ځآيه ولاړ شي ، هغه خپلو ملګرو ته د تللو حکم وکړ او پخپله هم را پورته شو خو د تللو دمخه يې غوښتل دهغه زاړه سړی سره ووينې او د کوچنۍ اودمور د روغتيايي حالت په اړه يې ځان پوه کړي. هغه بارټاکوزين ته ورغږ کړ. کله چې هغه قاسم ته نژدې راغې نو قاسم وکتل چې هغه دخوشحالۍ څخه ټول لړزيږي ،دهغه تر شا دواړه ښځې ، په داسې حال کې چې هغه کوچنۍ يې په لاسو کې نيولې و ولاړې وې. ښځې د قاسم څخه يوڅو قدمه اخوا ولاړې وې ، بارټاکوزين قاسم په خپلو لړزانده لاسو کې ونيو او داحساساتو نه په ډک اواز يې ورته وويل:

« زويه ! ته چيرې ځې ؟نن به ته هيچرې هم نه ځې. مونږ به د زړه له اخلاصه ستا خدمت کوو. تاته دې مبارکه وي ، ستا اوزمونږ هڅو ډيرې ښې پايلې درلودې.« بريټا » د سپوږمۍ په څير ښايسته زوې وزيږوو. ته به ډير حيران شې چې ددې کوچنۍ پلار دسلطان پر خلاف دهونياډې په فوځ کې شامل دې ، کله چې هغه ته ډاګيزه شي چې دهغه مرګونې ښځه او نوې پيدا شوې زوې د سلطان د فوځ د يوه سالار له اړخه خوندي کړل شوي دي نو په هغه به څه تيريږي ! !.......

«زما لور او دهغې ملګرې ستا دکړچار څخه ډيرې اغيزمنې شوې دي ، هغوې دواړه غواړي له تاسره ووينې.»

دقاسم په څير يو مخلص سپاهي ته دداسې شيانوکومه اړتيا نه وه. .... ! هغه بيړه دلوده چې بيرته خپل لښکر ته ځان ورسوي. په دې خاطر يې بارټاکورين ته وويل.

« درونده مشره ! دا څه چې ما کړې دا ټول زما په دندوکې و. زه دلته ددې نه زيات نه شم تم کيدې ، بس ماته به اجازه راکړې»

لا تر اوسه بارټاکوزين څه نه وويلې چې دشاته ولاړو ښځو څخه يوې ځان را مخته کړ اود قاسم تر مخه و دريده ، دهغې دغه حرکت نه يواځې قاسم اودهغه ملګري عسکر حيران کړي و بلکه پخپله بارټا کوزين يې هم په حيرانتيا کې اچولې و. خو دغې ځوانې ښځې د را تلو سره سم د خپله مخه پلو ايسته کړ ، کله چې دقاسم اودهغه دملګرو سترګې دهغې پر مخ باندې پريوتې نو درې واړه د حيرانتيا څخه ...... دا خو همغه ښځه وه چې د بوسنيا په شاهي محل کې يې د محل دښځې د ساتنې له پاره توره لوڅه په لاس کې نيولې او د قاسم تر مخه ولاړه وه. دا خو شهزادګۍ وه.د بوسنيا د شاهي کورنۍ ښايسته او حسينه شهزادګۍ.... قاسم دهغه په کتلو سره ګوته په خوله کې ونيوله ، هغه په دې فکر کې شو چې دبارټا کوزين په کور کې پناه اخستونکې ښځه همدا شهزادګۍ وه ، دحيرانتيا په اساس يې نور څه و نه ويل ، خو همدومره يې وويل:

« ت.........ته ؟؟»

« هو ! ......زه !»

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ خندل ، دهغې په سترګو کې په یوه وخت د ممنویت ، احسان ، محبت او عقیدت جذبه ښکاریده . هغه خپله ښایسته څیره را پورته کړه اودقاسم تر مخه ډیره ویریدلې او اغیزمنه شوې ولاړه وه .دهغې په سترګو کې د قاسم له پاره دعقیدې او محبت اوښکې وې.

قاسم ته دهغې دغه انداز ډیر ښه ښکاره شو . خو هغه یو مسلمان مجاهد شخصیت و ، سمدلاسه یې خپلې سترګې ښکته کړې. په دې وخت کې شهزادګۍ قاسم ته وویل:

« ما فکر هم نه کاوه چې مسلمانان به داسې خلک وي ، زمونږ دربار ته خو څو میاشتې مخته کارډینل جونیل دپاپا پیغام را وړې و او بیا یې دمسلمانانو پر خلاف یوه وینا وکړه اوپه هغې کې یې مسلمانان ددې زمکې بدترینه وحشیان ثابت کړل. خو دپرونه تر اوسه پورې د مسلمانانو کړ چار او کړنې ماته دا ډاګیزه کړه چې دروم د پاپا نماینده کارډینل جولین درواغ ویل».

قاسم همغسې دخندا نه شین و . بیایې په ډیره ټیټه لهجه وویل: « تاته به دا څه ډول معلوم شي ....چې د روم دپوپ نماینده کارډینل جولین ما پخپله دجنګ په میدان کې دوه ټوټې کړې دې ،حال داچې کارډینل دصلیبیانو د فتحو دعوا کوله او د ټرون دماتولو ګناه یې په خپله غاړه اخسته. ما هغه ته عبرتناکه سزا ورکړې ده او عیسویانو ته مې دا ثابته کړه چې عیسائیت د خپل دین څخه ګرزیدلې دی..... درنې شهزادګۍ ! ته باور وکړه چې د اسلام په سیورې کې سوزیدلې روحونو ته یخوالې او د لمنځه تلونکو ته تسکین ور په برخه کیږي.»

د قاسم دخبرو په اوریدو سره بارټاکوزین یو قدم نور هم رامخته شو او ویې ویل: « قاسم بن هشامه ! ایا ستا په مذهب کې داسې یو زوړ سړې هم را داخلیدې شي چې خپل پخوانې ژوند یې ټول په عیسویت کې تیر کړې وي ؟

د بارټاکوزین په خبرو قاسم یو ټکان شانته وخوړ او په سترګو کې یې دخوشحالۍ څپې و ځلیدې. سمدلاسه د بارټا کوزین په لور یې مخ کړ او ددواړو لاسو څخه یې ونیوه او ورته یې وویل:

«زمونږ په مذهب کې یو سړې دخپلې ساه په اخري شیبو کې هم داخلیدې شي ، زه تاته د اسلام په لور د راتلو په اساس ښه راغلاست وایم . ته زما سره یو ځاې ولاړ شه او زمونږ دسلطان سره ووینه . اوپخپله دسلطان په لاسو اسلام قبول کړه .»

خو دبارټاکوزین د ځواب په اوریدو سره قاسم یو ځل بیا دحیرانتیا احساس وکړ .ځکه کوزین ورته وویل:

« نه ، زه غواړم ستا په لاسو اسلام قبول کړم..... ما داوږدې مودې راهیسې د حق پلټنه کوله . ما دهمدې تندې د ماتولو له پاره ډیر اوږده اوږده سفرونه کړې دي ،خو ستا سره مې دخوخبرو کولو وروسته دا احساس کړه چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه تنده په لمړي ځل دماتيدو سره مخ ده . ما ته چې څومره دقدر وړ ته ښکاريږي هغومره راته سلطان نه ښکاريږي.»

اوس نو دلته قاسم ته تم کيدل اړين و گرزيدل. ځکه هغه بايد بارټاکوزين مسلمان کړې وې. هغه فکر کاوه چې يوائې د کليمې په ويلو څوک نه مسلمانيږي ، په دې اساس دې ته اړتيا ده چې نوي مسلمان ته د اسلام د نظام په اړه څه وويل شي. په دې خاطر قاسم زوړ کوزين ته وويل:

« سهي ده درونده مشره ! اوس ته ماته د لږ وخت له پاره اجازه راکړه ، تر څو زه د خپل لښکر ځاي په لور ولاړ شم. زه به تر ماښامه پورې يو ځل بيا ستا دروازې ته راشم. او همغه وخت به تا ته د اسلام په اړه اړين معلومات درکړم.»

« سهي ده ته به د شپې ډوډۍ زمونږ سره خورې ، او بيا به د ډوډۍ وروسته مونږ ټول په دې موضوع خبرې وکړو .»

دا خبره د بوسنيان شهزادگۍ وکړه ...... که څه شهزادگۍ د مذهب د بدلون په اړه کومه اشاره نه وه کړې خو د قاسم په زړه کې دا خبره ننوتې وه چې اوس د بوسنيان شهزادگۍ هم د اسلام په لور را ماته شوې ده . د همدې حالاتو په کتلو سره هغه بيرته د راستنيدو ژمنه وکړه او اجازه يې واخسته او ولاړ.

د بارټاکوزين څخه د اجازې اخستو وروسته قاسم نيغ په نيغه خپل لښکر ځاي ته ورغې. مسلمان سپاهيان ډير زيات خوشحاله و . دوارنا څخه نيولې تر بوسنيان پورې ټوله سيمه هغوي تر خپلې ولکې لاندې راوستې وه . د سر بيا پادشاه «جارج برنيکووچ» چې دلارډ ستيفن نه ورسته يې د هغه ځآي نيولې و ، دلارډ ستيفن د پاليسو برعکس يې د مسلمانانو سره سخته دښمنې درلوده. په داسې حال کې چې دلارډ ستيفن يوه خور د « بايزيد يلدرم » ښځه وه او د هغه لور شهزداگۍ «سروين» د سلطان مراد خان ثاني ملکه وه . په دې جنگ کې جارج برنيکووچ ته هم ماتې په برخه شوه او سلطان د سربيا سلطنت ټول په خپله ولکه کې واخست. او د عثماني سلطنت يوه برخه يې وگرزوله.

کله چې قاسم لښکر گاه ته ورننوت نو همدا فکر يې له ځانه سره کاوه چې سلطان بوسنيا ته په ور رسيدو سره په ښکاره توگه خپله د فتوحاتو لړۍ پاې ته رسولې ده او اوس به سلطان بيرته اورنه ته د تللو تکل کوي ، په دې خاطر هغه فکر کاوه چې په کومه توگه د سلطان څخه دلته د پاته کيدو له پاره لاره ولټوي او بيا ددې ځاي په د البانيه په لور ولاړ شي او خپل محبت يعنې مظلومه مارسي د سکندربيگ د وينو تويونکو پنجو څخه را خلاصه کړي. هغه هوډ وکړ چې سبا به کوم وخت د سلطان سره وينې او د خپلې دغې پريکړې په اړه به ورڅخه د اجازې غوښتلو هڅه وکړي.

دماښام د لمانځه د ادا کولو وروسته قاسم يو ځل بيا بيرته ښار ته راستون شو . خو دا ځل هغه ځانته و .دا ځل هغه نيغ په نيغه د کوزين کور ته ور روان و . او بيا د لږ وخت وروسته هغه د بارټاکوزين کور ته رارسيدلې و او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ناست و او په خبرو کې ورسره مصروف و . د بارتاکوزین لور خپله هغه ګاونډۍ هم د خپله ځانه سره خپل کورته راوستې وه چې قاسم یې د اولاد په زیږیدو کې ور سره بسپنه کړې وه . د کوزین په کور کې د بوسنیا ښایسته اوښکلې شهزادګۍ هم د قاسم په انتظار کې ناسته وه ، دکوزین دوه ځوان زامن هلته په «وینس » کې نوکران و و . اودواړه دخپلو ښځو او کوچنیانو سره یو ځاې هملته د وینس په ښار کې اوسیدل دهغه یواځنۍ ځوانه لور کونډه شوې وه ، دهغه میړه یو کال د مخه د مسلمانانو پر خلاف په جنګ کې وژل شوې و. دبوسنیا شهزادګۍ چې کله د نیولو څخه خلاصه او روغه رمټه د محل څخه وتلې وه نوهغې دهمدې ښځې سره پناه اخستې وه ، اوس نو حالات ډیر په زړه پورې وو. ځکه بارتاکوزین اودهغه لور د اسلام دمنلو پریکړه کړې وه . خو شهزادګۍ لا تراوسه پورې په دې اړه هوډ نه درلود.

د لږ وخت وروسته بارتاکوزین قاسم د ډوډۍ خوړلو سالون ته یوړ . هلته په دستر خوان باندې قاسم ، بارتاکوزین ، دبوسنیان شهزادګۍ ، او د کوزین لور ټول یوځاې کیناستل او ډوډۍ یې وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶

# د بوسنیا شهزادګۍ

« ستاسې سلطان دعیسویانو د عبادتځایو په اړه څه فکر لري ؟...... ایا کلیساوې به له منځه یوسي ؟ اوریدلې مې دي چې مسلمانان دخپل مذهب په اړه ډیر سخت او متشدد دی ؟»

« سلطان خو حکم کړې دي چې هر چیرې چې په سربیا اوبوسنیا کې مسجد جوړیږي ، تر څنګ دې یې یوه یوه کلیسا هم جوړه کړل شی تر عیسویانو ته دخپل عبادت په اړه کومه ستونزه نه وي او ټول هغه پخوانۍ کلیساوي چې چیرې جوړې شوي دي هغه به همغسې په خپل ځاې پاته وی.»

« دا خو ډیر مهم قدم دي. ددې برعکس هونیاډې ویلي و چې هغه به په سربیا اوبوسنیا کې ټول « یوناني کلیساوې» له منځه وړي او په ځاې به یې د «رومن کتولیک دمذهب» کلیساوې جوړوی.

د قاسم او د بوسنیان د شهزادګۍ تر منځه ډیر په زړه پورې بحث روان و، زوړ کوزین هم ددوې بحث په ډیره دلچسپۍ سره اورید. هغه لږ څه په ویریدونکې توګه د قاسم څخه وپوښتل:

« دیسوع مسیح خداې اودهغه دمور په اړه ستاسې مذهب څه وایی ؟»

په داسې حال کې چې دقاسم خوله دخندانه وازه وه ویې ویل: « مونږ هغه ته خداې نه وایو. بلکه هغه دخداې یو غوره نبي اوپیغمبر ګڼو . مونږ هغه دسیدنا عیسې علیه السلام په نوم یادوو . اودهغه درنې اومحترمې مور ته سیدة مریم علیها السلام وایو، اسلام دا عقیده بلکل نه مني چې خداې دې وویشل شي اویا دې دکوم انسان پلار و ګرزي.»

د قاسم په خبره باندې شهزادګۍ یو دم را ټوپ کړ او ویې ویل:

«دا نو څه خبره شوه، که چیرې یسوع مسیح خداې د خداې زوې نه وي نو بیا هغه د چا زوې دې ؟ ایا ته دهغه دپلار نوم مونږ ته را ښوولې شې ؟»

د شهزادګۍ پوښتنه دقاسم ل پاره سخته وه .ځکه هغه به اوس څه ویلې اود چا نوم به یې اخسته. که چیرې دایی ویلې چې عیسې علیه السلام د پلار پرته دمور په ګیډه کې پیدا شوې و نوبیا به هم شهزادګۍ پرې باور نه کاوه . هغه ته نه چیرته د تللو اونه د پښو د ایښودو په څیر کیفیت پیدا شوې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



« په اصل کې ددې خبرې کول چې عیسې علیه السلام د خداې زوې دې ، د خداې تعالې ذات په یو جسماني قالب کې ور اچول دي ،په داسې حال کې چې خداې تعالې جسم ته محتاج نه دې. دا زمکه او اسمانونه د خداې تعالې د قدرت ښکارندوې دي ،.... څرګنده ده چې خداې تعالې یو نه ښکاره کیدونکې هستي ده نو بیا به هغه څه ډول د یوه انسان سره رشته پیدا کړي...... او دهمدې ځآیه ویلې شو چې سیدنا عیسې علیه السلام دهمغه مطلق قادر ذات د قدرت یوه نمونه ده ځکه هغه خداې تعالې چې څه وغواړي کوی یی.»

اوس شهزادګۍ یو ځل بیا قاسم په یوه اندیښنه کې ور واچاوه

« ته چې دا ځواب وایی چې خداې تعالې چې څه وغواړی کوی یی ، نو بیا ته دانساني واک او اختیار په اړه څه وایی ؟ ستاسو په مذهب کې دانسان سره څومره واک دې او دخداې تعالې سره څومره واک شته ؟

قاسم یو ځل بیا په فکر کې پریوت. ځکه هغه یو سپاهي و ، کوم مبلغ او عالم نه و چې د هرې پوښتنې ځواب ووایی. هغه د بوسنیایی شهزادګۍ له اړخه په یو ازمیښت کې اچول شوې و. خوبیا یی هم دمیړانې څخه کار واخست او ویی ویل:

« درنې شهزادګۍ !دغه ټولې پوښتنې په حقیقت کې د خدای تعالې په اړه د فکرکولو په وخت کې د انسان ذهن کې را پیدا کیږي. خو په دې پوهیدل په کار دي چې د پوښتنې کونکې په ذ هن کې دخداې تعالې په اړه حقیقت څه ډول انځور شوې دې. هغه انځور چې په عیسوي کتابونو کې د خداې تعالې په اړه انځور شوې دې نو هغوې خداې ته یو جسماني وجود ورکړې دې ، دبایبل په لمړي باب کې لیکل شوي دي چې ....« خداوند خدا چې کله په یخو وختو کې په باغ کې ګرزیده نو کله یی چې خبرې وکړې نو ادم او حوا یی خبرې واوریدې» ( بایبل د پیدا ښت باب ) ، په همدې توګه په نورو مذهبونو کې هم هڅه کیږي چې خداې تعالې په عجیبو عجیبو جسماني وجودونو کې و ویني. تاته به ډاګیزه وي چې په بت پاله مذهبونو کې د تیرو او ختو څخه په خپل تصور کې دخداې شکلونه جوړوي او بیا دهغوې عبادت کوی.

دا چې تا د اختیار او واک خبره کړې ده نو دهغې په اړه لنډ ځواب زمونږ په خپل ذات کې شته. که مونږ په ژوره توګه متوجه شو نو زمونږ په ذات کې دوه برخې دې ، یوه هغه برخه ده چې پرهغې ز مونږ واک او اختیار نه شته. یعنې د جسم جوړښت ، فطري اړتیاوې ، خوراک ، څښاک ، خوب کول یا د کوچنیانو پیدا ښت..... او بله برخه هغه ده چې مونږ پرې پوره واک لرو. لکه د یوه چاسره ښسپنه کول ، همدردي کول ، محبت کول ، رښتیا خبره کول ، د درواغو څخه ځان ساتل ، د خداې تعالې د مخلوق سره ښیګڼه کول اویا دبدۍ څخه د خلکو منه کول.....

زمونږ رسول کریم صلی الله علیه وسلم چې کوم کتاب راوړې دې هغه نیغ په نیغه دالله تعالې له اړخه دې اودهمغه کلام دې ، هغه دمقدس بایبل په څیر نه دې ، ځکه په بایبل کې یواځې د سیدنا عیسې علیه السلام روایات او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه د ملګرو لیکونه موجود دي. زمونږ د کتاب نوم قران کریم دی ، په قران کریم کې الله تعالې فرمایلې دي چې «......فاالهمها فجورها و تقوها ......» یعنې الله تعالې انساني شعور ته د نیکۍ او بدۍ دواړو په اړه الهام ورکړې دې ، اوس دا د انسان پورې اړه لري چې هغه د نیکۍ لاره خپلوي او که دبدۍ لاره. الله تعالې انسان ته بلکل همغسې الهام ورکړې لکه څنګه یې چې پاته مخلوق ته ورکړې دې ، تاسې د شاتو مچۍ ووینئ ، هغوې ته چا ویلي دي چې هغوې دې دیوې کورنۍ بلکه دیوه سلطنت په څیر و اوسي. په همدې توګه د مرغاویو بچیو ته چا ویلي دي چې د اوبو په ډنډ کې ځانونه ور وغورزوي. او دمرغۍ بچې ته چا الهام ورکړې دې چې د خپلې جالې څخه دې ټوپ نه وهي.

په همدې توګه یې انسان ته هم الهام ورکړې دې ، خو څرنګه چې انسان د ټولو مخلوقاتو څخه افضل دې نو په همدې خاطر یې ورته شعور ورکړې دې اود بدیو ددې دوو الهامونو څخه یې ورته د یوه دخپلولو پوره ازادي ورکړې ده. ټول مخلوقات د الله تعالې د قانون پابند دي ، خو انساني ذات یوائې د الهي د احکامو پابند دې. په حقیقت کې د انسان سره څه دومره زیاته واکمني هم نه شته. یوائې د یوې شیبې واک لري اوهغه شیبه هم همدا موجوده وخت دې. همغه وخت چې دانسان سره شته دهغې څخه باید په سهي توګه ګټه پورته کړي ، ان تر دې چې د پایلو په اړه یې هم انسان بې واکه دې. نو اوس که څوک دا وخت داسې استعمالوي چې خپل لاسونه په زوره په اور کې ږدي نو بې له شکه چې لاسونه به یې و سوځي. دا د وخت د غلط استعمال پایلې دي چې یو انسان یې په دواړو جهانونو کې ترلاسه کوي. په مادي نړۍ کې هم او په روحاني نړۍ کې هم. لاس به دې هم و سوځي اوروح به دې هم په کړاونو کې اخته وي. خو که چیرې ته دا واک او اختیار په سهي توګه استعمال کړې نو ستا راتلونکې به پخپله ښه شي. په همدې توګه به ستا راتلونکې وختونه ټول درست و ګرځي. ان تر دې چې اخرت به دې، چې مونږ ورته د روح نړۍ وایو ، هم سهي او درست شي. دا ده په اسلام کې دانساني اختیار او واکمنۍ طریقه .

د قاسم دخبرو په اوریدو سره دشهزادګۍ سترګې دحیرانتیا څخه وازې پاته شوې وې ، زوړ بارټاکوزین داحساساتو تر اغیز لاندې راغلې و او ټول وجود یې لړزیده. لور یې «ماریا» هم د تیرې په څیر جامده ګرزیدلې وه او دوه سترګې یې په قاسم کې ور ننویستې وې تر څو لحظو پورې په خونه کې چوپه چوپتیا حاکمه وه خو دبوسنیا شهزادګۍ دا چوپتیا ماته کړه ، هغه ته خپل اواز لکه د ژور کوهي څخه راتلونکې محسوسیده:

« تا خو زمونږ سترګې را خلاصې کړې ، داسې بریښې لکه مونږ چې پخوا په یوه نالیدلې زندان کې بندیان و ، ددې حقیقت د رامنځته کیدو څخه اوس مونږ خپل ځانونه د لمرې ځل له پاره انسانان محسوسوو. خو دا داخرت خبره چې تا وکړه ، اخرت څه شې دې ؟»

اوس نو قاسم داسې احساسوله چې کوم غیبي قوت دهغه سره د کومک کولو له پاره مامور شوې دې. هغه پرته له ځنډه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« اخرت ؟.....اخرت خو یو لازمي شي دي. ځوک چې اخرت نه مني نوکه هغه خداې هم ونه مني کوم توپیر په کې نه راځي. داسې خداې چې په اخرت کې دانسان له پاره منصف نه وي ، ورته دخداې د ویلو اړتیا نه شته. قران کریم کې مونږ ته ویل شوي دی چې هر عمل او فکر لازمي پایلې لري ،تاسې چې دځه په اړه فکر کوئ دهغې له پاره هم اخرت شته او کوم عمل چې کوئ دهغه له پاره هم اخرت شته ، هغه وخت چې مونږ خپله موجوده لمحه درسته کړو نو دهغې له مخې زمونږه را تلونکې لمحه په خپله سهي کیږي ، اعمال په شخصیت باندې هم اغیز کوي ،ځکه چې اعمال دانساني روح اصلاح هم کوي او دیوچا چې انساني روح اودننه ذات اصلاح وي نو دهغه بیروني شخصیت او ذات هم باوقاره او ښایسته ښکاري. همدې ته نیک یا حسن عمل وایی. کله چې د یو چا ډیر اعمال سهي او درست وي نوهغه بیا په خپلې ښکاره او پټ ژوند کې ډاډه او مطمئن اوسي او د خپل خداې شکر کونکې ګرځي. همدغې نفس ته په اسلام کې مطمئنه نفس ویل کیږي. ځوک چې دهمداسې مطمئنه نفس خاوند وي نو که هغه ومري هم ، نو مړ نه حسابیږي ، دهغه جسم له منځه ځي خو روح یې پوره اوسلامت د خپل ریښتوني پیداکونکې لورې ته ور رسیږي ، همدې ته اخرت وایی. هغه ځوک چې مطمئنه نفس له ځانه سره یوسي نوهغه به تل پاتې ژوند تر لاسه کړي او همدې تل پاتې ژوند ته جنتی ژوند وایی. اوهر هغه ځوک چې د مطمئن نفس خاوند نه وي اوپه ژوندانه کې ددغه ور په لاس شوي وخت غلط استعمال کړې وي او داسې اعمال یې تر سره کړي وي چې دهغه داخلي او بیروني شخصیت یې هم دتباهۍ سره مخ کړي وي. نو هغه د مړینې وروسته بیابیا مړ کیږي او په تل پاتې سوځونکې اور کې به سوزیږي ، همدغې ته مونږ جهنم وایو ، اوهمدا ده د اخرت په اړه زمونږ عقیده.»

اوس نو شهزادګۍ ګوته په خوله په قاسم کې خپلې سترګې ور ننویستې وي،هغه په همدې فکر کې وه چې ټول مسلمانان به همداسې وي لکه قاسم چې دي. ددومره متوازنو اوبرابرو ، نیکو اوښه عقایدو خاوندان.... هغې هم هوډ وکړ چې د بارټا کوزین سره یوځاې به اسلام مني ، ځکه نور نو هغې ته د قاسم څخه د زیاتو پوښتنو کولو اړتیا نه وه. هغه خاموشه کیناسته خو په دې وخت کې بارټاکوزین یوه پوښتنه وکړه:

« قاسمه زویه ! ددې معنې دا شوه چې تر اوسه پورې چې څومره انبیاء اورسولان راغلي دي،دوې ټول دخداې تعالې غوره بندګان وو ، ددوې هیڅ یو هم پخپله خداې اویا د خداې زوې نه و.»

« بلکل دا ټول د خداې تعالې له اړخه ټاکل شوي خلک و. نبیان خو په هره زمانه کې او هر قوم ته لیږل شوي دي ، په حقیقت کې په پخوا زمانو کې چې هر نبي یارسول ددې نړۍ نه سترګې پټې کړې دي نودهغه وروسته دهغو منونکو د خپلو کم پوهیو اویا کم عقلیو په اساس هغوې ته دخداې ، دخداې د اوتارو ، اویا د خداې دزامنو نوم ورکړې دي . تاسو د سمندر نه اخوا په هندوستان کې ووینئ هلته خلکو «رام» « کرشن» او « ګوتم» د خدایانو په څیر منلي دي. حال داچې کیدې شي دا ټول وګړي دخداې نیک خلک واوسي ، په حقیقت کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ دور کې هم دنړۍ ټول خلک د یوه ډول شعور اوپوهې خاوندان نه اوسي. یوشمیر خلک دالله تعالې له اړخه غوره کیږي چې مونږ ورته پیغمبران وایو. دا وګړي د شعور اوپوهې په اړه تر ټولو د ستر مقام خاوندان اوسي. کله چې دا خلک خپلې خبرې نورو انسانانو ته ورښئ نو داسې خلکو ته یې ورښئ چې دعقل اوشعور خاوندان اوسي. دا خلک ورته خپله خبره پوره پوره ورښئ او هغوې د خپلو ځانو ملګري کوي، خو کوم خلک چې دهغوې په خبرو باندې و نه پوهیږي نو هغوې د شعور له اړخه په ښکته درجه کې اوسی. همداسې خلکو ته مونږ کافر وایو. خو یو شمیر داسې وګړي هم شته چې دخپلو عارضي ګټو په خاطر د حق لاره نه شي خپلولې او دسرو او سپینوزرو دځلا په کتلوسره په غلطو لارو باندې سر کیږي، دا ډول خلکو ته زمونږ په قران کې منافق اوسخت کافر ویل کیږي. زمونږ نبي او رسول صلی الله علیه وسلم چې دکوم شعور خاوند و نوهغې مرتبې ته هیڅ بل انسان نه شي رسیدلې. همدا علت دې چې الله تعالې هغه صلی الله علیه وسلم دټولو انسانانو له پاره اود ټولو جهانو له پاره ټاکلې و. زمونږ عقیده داده چې اوس به بل کوم نبي نه راځي او مونږدا عقیده هم لرو چې زمونږ په نبي باندې نازل شوې کتاب قران کریم تر قیامته پورې د ټول انسانیت له پاره هدایت اولارښوونه ده، زمونږ په مذهب کې د نورو مذهبونو پر خلاف د ذرې په اندازه هم تعصب نه شته، مونږ ددنیا هر انسان د یوه امت وګړي ګڼو اوهیڅ انسان دبل کوم انسان په غلامۍ کې نه شو کتلې.»

دقاسم خبرو ددې درې واړو په زړونو پوره اغیز کړې و، هغوې ته دقاسم خبرې د یو ډول عام فهمه خبرو په څیر ښکاریدې، لږه شیبه وروسته شهزادګۍ په ویریدونکې توګه د قاسم څخه وپوښتل:

«دروندہ میلمه !ما د زړه له کومي پریکړه کړې ده چې زه به خپل پلرنې مذهب عیسویت پریږدم او ستاسې مذهب اسلام به قبلوم.»

د شهزادګۍ دخبرې د پای ته رسیدو سره سم بارټاکوزین وویل:

«دا خو نوره هم ډیره ښه شوه ! اوس نو ته مونږ درې واړه مسلمانان کړه. مونږ ته ووایه چې دمسلمانیدو له پاره کومو شیاتو ته اړتیا ده.ایا مونږ به د صلیب په څیر کوم شي په غاړه کې را ځوړندوو. یا بله څه ؟»

«نه، تاسې ته به د داسې هیڅ کولو ته اړتیا نه وي، تاسې به یوازې په پاک زړه، پوره هوش او حواسو، او اخلاص سره دا منئ چې په دې عارضي ژوند کې د نړۍ ټول کاروبار هسې بې مقصده دي تر هغې چې د تلپاتې ژوند د تر لاسه کولو له پاره هلې ځلې او هڅې اوهاند و نه کړل شی. تاسې حیواناتو ته ووینئ نوځناور د بل د ژوند په خاطر له منځه ځي ،تاسې ووینئ یوه پیشو موګک نیسي او وژنی یې، ، خو په حقیقت کې هغه د خپل پاته نسل د پایښت له پاره دا قرباني ورکوي. په اسلام کې دشهید مرګ د ټول قوم حیات ګڼل کیږي. مونږ په حیواناتو کې دا لړۍ وینو خو انسان په خپله په دې حقیقت باندې باور نه لري، ځناور خو یوازې دخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکې نسل له پاره ژوندې اوسي،خو انسان ته دهغه ژوند دهغه دمړینې وروسته په لاس ورځي ، دهغوې ژوند یواځې د نسل دپایښت پورې را نغښتې نه وي بلکه دهرډول مادي تمایلاتو څخه پاک یو روحاني ژوند اوسي ، تاسو به دمسلمانۍ له پاره په دې ژوند باندې ایمان راوړئ اودا به منئ چې ددې ژوند مالک الله تعالې دې ، چې وحده لاشریک دې ، او دزمکې او اسمانونو یوآځنې مالک دې . انسان ته یواځې اویواځې دهمغه اطاعت کول په کار دي ، تر څنګ یې په دنیا کې د شتو ټولو شیانو ویره باید له زړه څخه وویستل شی. همدغې ته توحید وایی . تاسې به یوآځې څو کلیمې وایيی. اوپه هغې به دزړه نه ایمان راوړئ، زه اوس تاسې ته دا کلیمات دربنایم ، د کلیمې د لوست نه وروسته به تاسې په ظاهری توګه مسلمانان شئ....

« قاسم دبوسنیا شهزادګۍ ، ماریا او دهغې بوډا پلار بارتاکوزین ته کلیمه یې طیبه وروښوله:

اوبیا یې په همدې فکر هغوې ته نوې اسلامي نومونه وړاندې کړل . تر څو د بوسنیا په خلکو کې هغو د خپلو همدې ځانګړې اسلامي نومونو په واسطه و پیژندل شي. قاسم د بارتا کوزین له پاره دعباس ، دبوسنیا دشهزادګۍ له پاره د « حمیرا او دماریا له پاره د« مریم» نومونه وړاندې کړل. درې واړه نوې مسلمانان ډیر زیات خوشحاله و ، قاسم تر ډیره پورې د هغوې سره د اسلامي اعمالو اوفرایضو لکه لمونځ ، روزه ، حج ، زکات او جهاد په اړه خبرې وکړې او هغوې ته یې په دې اړه تفصیلي معلومات ورکړل.ترڅنګ یې هغوې ته ددې امورو داجرا په اړه عملي څرګندونه هم وکړه.

هیچاته د شپې د تیریدو په اړه اندازه نه لګیده. سهار شو اوقاسم د سهار لمونځ دهمغوې سره په جمع ادا کړ اوپه ډیره خوږه ژبه یې ورته د قران کریم تلاوت وکړ. چې ددې تلاوت داغیز له امله ددرې واړو نوو مسلمانانو سترګې د ژړا نه ډکې وې.

دسهار د لمانځه دادا کولو وروسته قاسم خپلې لښکر ګاه ته ولاړ او په خپله خیمه کې په ارام ویده شو.

سلطان مرادخان ثاني څو ورځې هلته په بوسنیا کې پاته شو ، بیا یې د هغه ځایه لښکر ته دکوچ کولو امر وکړ ، اوس نو هغه بیرته د اورنه په لور را روان و . په همدې وخت کې قاسم د سلطان څخه د البانیه په لور د تللو اجازه وغوښتله. خو سلطان ورته د اجازې کولو څخه انکار وکړ او ورته یې وویل:

« قاسم بن هشامه ! دا سهي وخت نه دې چې تا د دارالسلطنت اویا لښکر څخه لرې بل چیرې واستوم. مونږ خو اوس د پرلپسې یرغلونو څخه فارغه شوي یو خو دحالاتو څخه پوره ډاډ من نه یو ، ځکه تر اوسه پورې هونیاډې لا ژوندې دې اودهغه تر بیرغ لاندې د هنګرى ټول فوځ سلامت شتون لري. مونږ به هونیاډې هرو مرو سبق ور ښایو. خو اوس غواړو خپل دغه ستومانه لښکر اورنه ته د ارام کولو له پاره یوسو. بیا به دهغه ځایه تاته دالبانیه په لور د تللو اجازه درکول شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې خاطر قاسم هم د خپل لښکر سره یو ځای د اورنه په لور روان شو.

تر اوسه به لا د سلطان لښکر اورنه ته نه و رارسیدلی چې هلته په بوسنیا کې بوسنیایی شهزادګۍ چې اوس حمیران نومیده ، یوه ورځ اعلان وکړ ..... چې هغه غواړي په بوسنیا کې د اوسیدو په ځای اسلامي دارالسلطنت اورنه ته ولاړه شي. حمیرا په دې خپل هوډ کې ځانته وه. دهغې مور و پلار او نو خپلوان یا خو په جنګونو کې له منځه تللي وو اویا لرې نژدې سیمو ته تښتیدلي و. د بوسنیا شاهي کورنۍ له منځه تللې وه .او د عباس پرته دهغې د پوښتنې بل څوک نه و پاته. په همدې خاطر هغې یوه اسلامي ښار ته دتللو او هملته د پاته ژوند کولو په اړه هوډ ښوولي و . کله چې دهغې ددغه تصمیم څخه عباس اودهغه لور مریم خبر شول نو هغوي هم ورسره تللو ته تیار شول. همغه و چې ددې درې وګړو څخه جوړه شوې قافله دلښکر د تللو څخه درویشت ورځې وروسته د اورنه په لور روانه شوه.

سلطاني لښکر باغیانو ته د سزا د ورکولو، او د مملکت پولې د پخوا په نسبت د نورو پراخولو وروسته بیرته اورنه ته را ورسید. قاسم د جنګ په میدان کې بریالې او سرلوړې را ستون شوې و ، دهغه دخبرو او د ورپیښوشوو حالاتو د اوریدو وروسته دهغه کورنۍ باغ باغ شوې وه. دهغه ورور طاهر هغه په تندي باندې ښکل کړ او مورو پلاریې د خپلې سینو سره یو ځای کړ اووریرونو یې دخوشحالۍ نه ښه شور اوغوغا جوړه کړې وه. خو د قاسم په زړه کې تر اوسه پورې یو زخم پاته و چې هغه یې ارام ته نه پریښوده. اوهغه زخم د ورکې شوې مارسي په اړه و.

هغه دمارسي سره دتل پاتې ژوند له پاره د یوځاې اوسیدو هوکړه کړې وه خو اوس د مارسي پرته هغه ته داسې بریښیده لکه ټوله دنیا چې ورانه شوې وي ، بلاخره د لښکرو د بیرته راستنیدو په دریمه ورځ هغه هوډ وکړ چې د سلطان سره به ویني او د البانیا په لور به ترې د تللو اجازه اخلي ، او هلته د ورتلو له پاره به ځآن تیاروي. هغه غوښتل چې داجازې د ترلاسه کولو سره سم به ډیل نه کوي او سمدلاسه به د البانیه په لور روانیږي.

هغه ماسپښین د کوره ووت. اوغوښتل یې دماښام د لمانځه وروسته دسلطان سره ووینې ، په خپل خاص اس سپور د اورنه د بازار څخه تیریده او په زړه کې یې دا دعا کوله چې سلطان ورته سمدلاسه د البانیه په لور د ورتللو اجازه ورکړي. د هغه وخته راهیسې چې سلطاني لښکر بیرته اورنه راستون شوې و نو په بازارونو کې سوداګرۍ او ګڼه ګوڼه زیاته شوې وه، دعیسویانو دلښکرو څخه په لاس راغلي د غنیمت مالونه ، غنم ، اسونه ، توري ،هرډول کالي او ..... په بازار کې پلورل کیده. خو قاسم دهر څه څخه بې نیازه و اویوائې دمارسي په اړه یې فکر کاوه او دبازاره په بیړه تیریده. خو یو چوک ته د رسیدو سره سم یې دخپل آس واګې راښکودې ، ځکه هغه د مارتها زړه خادمه وکتله ، دمارتها د زړې خادمې په کتلو سره یې سترګې دحیرانتیا خلاصې او خوله یې وازه پاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هماغه خادمه وه چې دمارتها د قتل یوا ځنۍ شاهده وه ، دغه عمرتیرې ښځه په هغه شپه ژوندۍ پاته شوې وه ، دمارتها د کور ځخه د راوتلو وروسته هغه ځآې ځاې ټکرونه خوړل او ګرزیده . خلکو به د سوال کونکي په څیر لږ څه دخوراک ځښاک له پاره ورکول ، هغه به هم د ځآې د نشتوالې په خاطر همډلته د جومات په دروازه کې ویده کیده . قاسم هغه پیژندله . کله یې چې دا خادمه وکتله نو سمدلاسه د آس ځخه را ښکته شو او په ډیره بیړه یې ځان د یوه ډوډۍ پلورونکې ریړې ته چې دا خادمه یې تر ځنګ ولاړه وه ورساوه . تر یوه وخته پورې خو خادمې قاسم و نه پیژانده خو کله یې چې وپیژانده نو سترګې یې داوښکو ډکې شوې او سمدلاسه د قاسم په پښو کې ور پریوته . اوس نو هغې سخته ژړا کوله . قاسم خادمه ددوا ړو لاسو څخه ونیوله او راپورته یې کړه او غوښتل یې له ځانه سره یې یوسي . اوس نو هغه د سلطان سره دکتلو اراه شاته غورزولې وه ، هغه دا وانګیرله چې د مارسي دخادمې سره په دې بازار کې لیدنه کتنه هسې یو خداېې معجزه ده . په دې خاطر دې ته اړتیا ده چې تر هر څه لمړۍ ددې خادمې څخه دټولو حالاتو په اړه تفصیلې معلومات تر لاسه شي ، هغه دمارسي خادمه له ځانه سره په بازاري کرایه شوې سپرلۍ باندې کینوله اوکورته یې یوړه . په دې وخت لمر هم دماښام په غیږ کې د پریوتلو روان و . کله چې قاسم خپل کور ته ورننوت نو ویې کتل چې په کور کې ټول خلک حاضر دي ، تر ټولو دمخه دقاسم ورندار د دغې زړې غمجنې ښځې په کتلو سره حیرانه پاته شوه . خپل کار یې پریښود او راپورته شوه ، قاسم هم په پوره ژورتیا سره دخپلې ورندار په لور وکتل او ویې ویل:

«دا د غزالې خادمه ده . دغزالې د تښتولو وروسته تر اوسه پورې په کوڅو کو څو کې ګرزي ، د نن نه وروسته به دا همدلته اوسي دکور په کارو بار کې به له تاسره مرسته کوي....»

سکینې د قاسم دخبرو د اوریدو وروسته په چټکۍ سره مخته ورغله اودمارسي خادمه یې په خپله غیږکې را ونغاړله . خو دمارسي خادمې دقاسم دخبرو وروسته قاسم ته به غټو غټو سترګو کتل ، دهغې شونډو ته څه راتلل او غوښتل یې چې ویې وایي خو داسې بریښیده چې کوم نالیدلې ځواک دهغه ژبه ګونګه کړې وي ، بیا دهغې دژبې څخه په ډیره سخته توګه دا څو ټکې را ووتل:

« دا.....غزاله څوک ده ؟ ایا تاسې مارسي بې بي ته غزاله وایيی؟ که چیرې تاسې وایی چې مارسي بې بي تښتول شوې ده نو تاسې خو بیا ډیره اشتباه کوئ»

خادمې دهمدې خبرو ورسته خوله بنده کړه ، د قاسم پښو څخه زمکه وتلې وه اوسمدلاسه یې وپوښتل چې ایا مارسي تښتول شوي نه ده ؟که چیرې هغه تښتول شوي نه وي نو بیا چیرې ده ؟ دقاسم زړه په زوره زوره درزیده ، او په خپل زړه کې یې دا دعاوې کولې چې کاشکې مارسي په خیریت کې و اوسي . خو دخادمې دخبرو څخه دهغه افق تار تار شو . هغه فکر وکړ چې خادمه ورته کوم بد خبر اورول غواړي . نو همت یې وکړ او بیا یې ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مق......مقصد دي څه دي ؟ ته ماته څه ویل غواړي ؟..... که مارسی ریښتیا هم نه وي تښتول شوي نو بیا چیرې ده ؟» خو خادمې دقاسم د پوښتنې د ځواب د ورکولو په ځاې په چغو چغو ژړا پیل کړه. دخادمې ددې ژړا په واسطه د قاسم مور اوپلار او وریرونه هم سره راټول شول ، خادمې سلګۍ وهلې او ژړل یې. دکور ټولو خلکو په ډیره ستونزمنه توګه هغه خاموشه کړه اودمارسي په اړه یې ترې وپوښتل. خاد مې د سلګیو په څپو کې وویل:

« مارسي بي بي هم دهغې د مور سره یو ځاې تللې ده »

دا درواغ دي ، که داسې واې نو بیا به دهغه جسد هم دهغې دمور سره یو ځاې را پیدا شوې و. د قاسم ورور ورته په ډیره احساساتي توګه وویل. خوپه خپله قاسم ګم سم ولاړ و. دقاسم مور او ورندار هم همدا خبره تکرار کړه. بیا نو خادمې ورته وویل:

« ما په خپلو سترګو وکتل ، مارسي بي بي دخپلې مور د وژل کیدو وروسته په ډیره میړانه د غلو مقابله وکړه اوکله چې ستومانه شوه نو بیا یې دخپلې ابرو دخوندي ساتلو په خاطر خپله توره په خپله ګیډه کې ور ننویسته. ما په خپلو سترګو وکتل چې دمارسي بي بي ټول وجود په وینو کې لت پت و او اخري ساه یې اخسته چې دخپلې مور لورې ته ورغله......بیا ابوجعفر او دهغه ملګرو دمارسي بي بي لاش راپورته کړ اوله ځانه سره یې یوړ ، د دروازې بیرون دهغوي یو بل ملګرې هم ولاړ وو. ما دا ټوله صحنه په خپلو سترګو کتله. ماغوښتل ددې پیښې وروسته ستا کور ته راشم خو نه پوهیدم چې تاسې چیرې اوسیږئ ، ما محل ته د ورننوتلو جرءت نه شو کولې ، په بازار کې مې د ډیرو خلکو څخه ستاسې په اړه و پوښتل خوهیچا راته ستاسې په اړه معلومات را نه کړ.

د قاسم وینه وچه شوې وه ، تک ژیړ رنګ ولاړ و او دیوال ته یې تکیه کړې وه. خو دهغې مور او ورندار د خادمې ددې خبرو په اوریدو سره ژړل. اوس نو دطاهر سره هم د ویلو له پاره نور څه نه و. په همدې وخت کې د زاړه هشام اواز راپورته شو.

« داهم شوني ده چې په دې وخت کې به غزاله بې هوشه وه اوهغوې دهمدې بې هوشۍ په حالت کې پورته کړې وي او له ځانه سره یې وړې وي. که چیرې هغه شهیده شوې واې نوهغو خلکو بیا د څه له پاره له ځانه سره وړله.»

خو دمارسی خادمې په زور زور خپل سر د نفې په خاطر خوځاوه او ویل یې « نه ، نه ! دمارسی بي بي څټ لاندې را پریوتې و ، هغې چې په کومه توګه خپله ګیډه په توره سورۍ کړې وه نودهغې څخه دا ډاګیزه کیده چې که هغه بې هوشه وایی نو په هوش کې د راتلو سره سم به یې خپل ځان دوباره په توره سورې کاوه. زه په ډاډمنه توګه ویلې شم چې مارسی بي بي هم شهیده شوې ده.»

دا سې څرګندیده چې قاسم باندې سکته راغلې وي ، هغه ټول په همدې حال کې پرینبوول اوبلې خونې ته ولاړ. مارسي دهغه مینه وه. هغه او مارسي څو ورځو کې یود بل کیدونکې و. قاسم ته دهغې سره د تیرو ورځو دلیدونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتنو یوه یوه لمحه را یادیده. دهغه زړه هیڅ په دې نه ډاډ من کیده چې مارسی دې له منځه تللې وي. خو اوس دهغه سره ددې خبرو دمنلو پرته بله لاره هم نه وه. هغه داسې انګیرله چې ابوجعفر ورته دروا غ ویلې دي چې مارسی ژوندی ده. قاسم تر ډیره پورې په همدې فکرونو کې ډوب و ،هغه ته ابوجعفر ویلې و چې مارسي د البانیې په لور تللې ده ، هغه فکر کاوه چې شوني ده چې ابوجعفر به د اذیت کولو د ډیرې سختې ویرې له امله هغه ته دا بهانه کړې وي.

قاسم تر ډیره پورې د مارسي د مرګ او ژوند په اړه په مختلفو فکرونو کې ډوب پاته و. خو اوس ورته داسې بریښیده چې مارسي ترې ډیره لرې تللې ده. په همدې وخت کې دهغه دکورنۍ خلک ټول راغلل اود هغه تر څنګ کیناستل.اوهغه یې دلاسا کاوه. هغه ته یې مور، ورور، ورندار ... ټول راغلي و. خوهغه د هیچا په تلو راتلو نه و خبر شوې. هغه دمارسي په بیلتون او د ابوجعفر په ژوندي په څنګ کیدو باندې کولمې خوړلې. هغه ته نن شپه تیریدل هم ستونزمن شوي و. هغه ټوله شپه ویښ پاته و او دمارسی په اړه په فکرونو کې ډوب و.

بله ورځ هغه د اغا حسن سره یو ځای شو او دمارسي په اړه یې ددغې نوې انکشافاتو په رڼا کې خبرې وکړې، اوس هغه غوښتل چې کوم وفاداره او نیک انسان البانیه ته و استوي اودمارسي په اړه معلومات را ټول کړي. هغه ته یوه موهومه هیله په زړه کې را ګرزیده چې کیداې شي مارسي ژوندۍ وي. هغه خپل دوست اغا حسن ته خپله ټوله قصه وکړه. او بیا یې دخپل منځې مشورو له لارې د یني چري یو ډیر تکړه او وفاداره سپاهي « ابراهیم» دالبانیه په لور د لیږلو پریکړه وکړه.

څو ورځې وروسته ابراهیم خپل ساده کالي واغوستل او د البانیه په لور روان شو، په دې وختو کې قاسم دسلطان سره د کتلو هڅه ونه کړه. خو نن یې ددې خبر د اوریدو وروسته چې سلطان یو ځل بیا هوډ کړې چې سلطان محمد په تخت کینوي اوپخپله یو ځل بیا ګوښه ناستې شي او خپل عبادت ته دوام ورکړي، نو د سلطان سره دکتلو له پاره محل ته ورغې. نن یې هوډ درلود چې د شهزاده محمد سره ووینې، خو تر ټولو دمخه د سلطان سره دکتلو له پاره ورغې ،سلطان هغه ډیر ژر خپل حضور ته را وغوښت. کله چې قاسم د سلطان خوني ته ور ننوت نه د هغه په صوفیانه څیره یې نرۍ شانته خندا و کته. قاسم په ډیر ادب سره دسلطان په خونه کې حاضر شو او هغه ته یې سلام وکړ او بیا خاموشه و درید. سلطان قاسم ته د سر نه تر پښو پورې وکتل اوبیا یې ورته په خندا کې وویل:

« مونږ خو داسې انګیرله چې قاسم بن هشام مونږ له یاده ویستلي یو. خو ستا را تلو یو ځل بیا مونږ ته د ډاګیزه کړه چې مونږ اوس هم ستا په یاد یو.» دسلطان په خبرو کې پټ طنز رانغښتې و ، قاسم ورته په ډیره شوخۍ سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« نه درونده سلطانه ! خداې تعالې دې زما په ژوند کې هغه ورځ نه راوړي چې زه به ستا په څیر د انسانیت محسن له یاده و کاږم...... ما زما هیله دا وه چې هره ورځ ستاسې دربار ته حاضر شم. خو هر ځل راته مخکې خنډونه پیدا شوي دي خوکله مې چې نن یوځل بیا دسلطان دګوښه ناستې په اړه واوریدل ، نو ستاسو حضور ته د مشرف کیدو په خاطر راغلم.»

« ډیره ښه ! داسې ښرګندیږي چې د غم دولت ته د خبرو د ډیرو نیکو او ښو لارو څخه مالا مال کړې یې .»

« ددولت غم ؟...... درونده سلطانه ! زه ناپوهه په دې کنایه باندې ونه پوهیدم»

« زما مقصد دادې چې د البانوي کنیزې دلور مارسې ورکیدا ته بلکل له منځه وړې یې. مونږ همدې ته د غم دولت وایو.»

دسلطان داشارې په پوهیدو د قاسم سر ښکته شو اوسلطان ورته یو دوه قدمه نور هم رامخته شو. دقاسم په اوږه یې لاس کیښود« قاسم بن هشامه !ته زما د زامنو په څیر یې. یاد ساته چې مونږ ستا دحالاتو څخه بې خبره نه یو. مونږ د جنګ د محاذ څخه د راستنیدو وروسته سمدستي یو قاصد سکندر بیګ ته استولې و ، سکندر بیګ زمونږ قاصد ډیر ښه پیژني. زه هیله لرم چې هغه به زمونږ دخبرې څخه انکار ونه کړي. ځکه ما دهغه سره دخپلو زامنو څخه پورته مینه کړې ده. زه پوهیږم چې هغه بغاوت کړې دې خو زه دهغه بغاوت د یوه نازولې ځوې د ضد په څیر ګڼم اودهغې څخه زیات اهمیت نه ورکوم.»

« خو درونده سلطانه ! سکندر بیګ یوائې بغاوت نه دې کړې بلکه خپل مذهب یې هم تبدیل کړې دې. یا په بل عبارت هغه اوس مرتد شوې دې»

«هو ! زه په دې اړه معلومات لرم. خو زه په دې ډاډه یم چې هغه به یوه ورځ نه یوه ورځ زمونږ پلرنۍ مینه په یاد راوړي او بیرته به خپل اصل ته را ګرځي. ما هغه ته دخپلې مینې څه نښې نښانې هم ور لیږلې دي ، په دې اساس زه هیلمن یم چې هغه به زمونږ دهمدې احساناتو په بنسټ د البانوي ونیځې لور مارسې بیرته دلته را ولیږي.»

خو قاسم د سلطان په خبرو باندې لږ څه ډاډ هم ونه ښوده. اودا چې سکندر بیګ به دهغه خبره و مني او مارسي به بیرته ورته را ولیږي. لمړۍ خو هغه دمارسی د ژوند په اړه ډا ډه نه و. خوبیا یې هم دسلطان څخه مننه وکړه او تر ډیره پورې هملته چپ چاپ ولاړ و. خو بیا یې وویل:

« درونده سلطانه ! شهزاده محمد لا تر اوسه پورې ډیر کوچنې دې او دسلطنت دښمنان هر وخت په سنګر کې ناست دي ، زه دمعظم سلطان دربار ته په دې خاطر راغلې یم چې د ملت د پاسبان توجه د یني چري د فوځ په لور را وګرځوم ، ځکه په هغوې کې دځو ورځو راهیسې یو ځل بیا د تنخوا ګانو دکمښت په اړه زوګ اوریدل کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



درونده سلطانه ! ماته داسې بريښي چې په اورنه کې يو ځل بيا سازش د پښيدو په حال کې دې. او د قيصر سلطان ددې جال دخپرولو له پاره دسلطان د غيابت نه د ګټې د پورته کولو هڅه کوي.

قاسم دسلطان دګوښه ناستې څخه د را پيدا کيدونکو انديښنو په اړه د خپلو خيالاتو څرګندونه کوله ،تر څنګ يې د تازه حالاتو څخه هم سلطان خبر کړ ، خو دا ځل سلطان دهغه خبرو ته د توجه کولو په ځاې په خندا ځواب ورکړ او ورته يې وويل:

« ته انديښنه مه کوه ماته د تنخواګانو د کمښت د بحث په اړه پوره پوره معلومات تر لاسه شوي دي. اومونږ د يني چري د فوځيانو دتنخواګانو د لوړولو له پاره حکم جاري کړې دې ،په دې اړه د انديښنې کولو اړتيا نه شته. دا غوښتنې د کوم سازش له مخې نه دي رامنځته شوې ، بلکه د ډيرې مودې څخه د سپاهيانو دا غوښتنې مونږ ته را رسيدې.»

خو دسلطان ددې تسلي څخه که سلطان پخپله ډاډمن و خو قاسم په هيڅ صورت ډاډ من نه و. داسې بريښيده چې دقيصر جاسوسان لا تراوسه هم په اورنه کې پټ پراته دي ، قاسم تر يوه وخته پورې دسلطان په خونه کې پاته شو ، په همدې وخت کې ورته سلطان وويل چې هغه غواړې يو ځل بيا د ايدين سيمې ته د خپلو پخوانيو مصروفيتونو له پاره ولاړ شي ، دا دسلطان پريکړه وه او قاسم ددې پريکړې دماتولو له پاره هيڅ وس نه درلود. په همدې خاطر چپ ولاړ و ، دبيرته راستنيدو په وخت کې قاسم د شهزاده محمد دکتلو له پاره ورغې اوپاته ټوله ورځ يې دهمغه سره يوځاې تيره کړه.

څو ورځې وروسته قاسم د ايدين خانقاه ته ور رسيدلې و اوشهزاده محمد يوځل بيا د سلطان ځاې ناستې ټاکل شوي و ، په اورنه کې ښه خوشحالي وه. د نوې سلطان د تخت ناستې په وخت کې هرې لورې ته دجشن له پاره تياري نيول شوې و ، تيرو فتوحاتو هم دعثماني سلطنت اوسيدونکې ډير خوشحاله کړي و ،بازارونه اوکوڅې د تجارتي اموالو څخه ډکې وې ، دلرې لرې ځايو سوداګرانو به خپل مالونه راوړل اود اورنه په بازارونو کې به يې پلورل. هره ورځ سهار به چې د اورنه د بازار دروازې پرانستل کيدې نو د مسافرينو قطارونه به ولاړ و ، د تلونکو په ځاې په د راتلونکو شميره زياته وه. دينی چري سپاهيانو به رنګ په رنګ خلک کتل ، قاسم به هم هره ورځ يني چري لښکر ځاې ته د بازار د دروازې څخه تيريده. په همدې وخت کې دهغه سترګې د اروپا څخه د راغلې قافلې په يوې ډلې ونښتې. دا قافله نه ډيره لويه وه او نه ډيره کوچنۍ ،.... خو د سوداګرانو قافله معلوميده .....په سامانونو بار اوښان قطار په زمکو باندې ګونډه شوي و اود قافلې نارينه اوښځينه ټول د اوښانو تر څنګ په زمکو ناست و. هرې چيرې يې خپل پوزکې غوړولې و او په خپلو خوراکو کې مصروف و. قاسم ددې قافلې څخه د تيريدو په وخت کې دخپلو معلوماتو له پاره د يوه سوداګر څخه و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« وروره ! دا قافله د کومه ځایه څخه راغلې ده ؟»

« زمونږ قافله د سربیا د پولو څخه راغلې ده.»

قاسم د خپل اس د تم کیدو پرته دا پوښتنه کړې وه او بیا یې د خپل آس واګې سستې کړې وې. خو د سربیایي پولو دخبر داوریدو سره سم یې د بوسنیایي شهزادګۍ انځور په فکر کې را وګرزید. دقاسم آسپ په پوره ګړندۍ توګه د خپل معسکر په لور ور روان و.

دسربیایي پولو څخه راغلې قافله د اورنه ښار ته د وررننوتلو سره سم خپره وره شوه. په قافلې کې ګډون کونکې هر وګړې دخپلو خپلو کارو په لور تللي و. خو دوه اجنبي ښځې اویو زوړ سړې لا تر اوسه په اندیښنو کې ګرزیدل را ګرزیدل. هغوې په اورنه کې یواځې یو سړې پیژانده او هغه هم قاسم بن هشام و. ځکه دغه دواړه ښځې ، یوه یې مریم اوبله یې دبوسنیا شهزادګۍ حمیرا وه او زوړ سړې عباس نومیده.

دا خلک د بوسنیا څخه دلښکرو د روانیدو نه درویش ورځې وروسته د اورنه په لور را روان شوي و،خو د سوداګرانو هغه قافله چې دوې ورسره اورنه ته راغلي و ډیر ځنډ روانه شوی وه اوکه نه دوې به دلښکرو پسې سمدستي وروسته اورنه ته را رسیدلې واې.

نن قاسم دهمدې قافلې تر څنګ تیر شوې و ، او د یوه سوداګر څخه یې دقافلې په اړه پوښتنه هم کړې وه خو حمیرا اویا بل څوک یې نه و تر سترګو شوي.

عباس د پوره فکر او غور وروسته د ښار په لور د تللو پریکړه کړې وه ،حمیرا اومریم هم په خپلو ټکریو کې ځانونه رانغاړلي وچې ترې اسلامي پرده ډاګیزه کیده ، دوې د دیوال د لویې دروازې څخه ښارته را ننوتې وو او د چا څخه دپوښتنې ایګنې پرته دښار په لور روان و. دوې د خپله ځانه سره نه کومه سپرلۍ درلوده اونه څه ډیر سامان او وسایل ورسره و. شهزادګۍ له ځانه سره څه هیرې جواهرات او طلا درلودل. عباس او مریم هم له ځانه سره د خپل کور قیمتي وسایل را خستې و. هغوې فکر کاوه چې خپل دغه قیمتي وسایل وپلوري او هلته په اورنه کې پرې ځانته یوکور واخلي او تر څنګ یې په څه کاروبار پیل کړي. عباس ویل چې هغوې به دقاسم په واسطه دلته څه تجارتي کار پیلوي ، خو شهزادګۍ حمیرا هغه ددې کار څخه منه کړ ، خو معلومه نه شوه چې هغه ولې عباس ددې کار څخه منه کاوه. حال دا چې که هغوې غوښتلې نو هغوې د قاسم په واسطه پادشاهي میلمستون کی اوسیداې شول ، اخر هغه د بوسنیا شهزادګۍ وه ، خو داسې بریښیدله چې هغې د شاهي ژوند په ځاې ساده ژوند ته زړه ښه کړې و.

دوې د اورنه دبازار په منځ کې تر ډیره پورې ولاړل ، بلاخره عباس د یوه سراې تر مخه پړاووکړ ، اوس نو هغه حمیرا ته په استفهامیه سترګو کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« لورې ! زما په فکر چې مونږ به په همدې سراې کې پړاو کوو ، او مونږ باید یوڅو ورځې همدلته واوسو.»

حمیرا دسراې په تعمیر باندې سترګې وګرځولې اوبیا یې په مثبته توګه خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: « سهي ده کاکاجانه !.... څنګه یې چې ته مناسبه ګڼې....»

د لږځنډه وروسته هغوې د سراې دمنشي سره خپل نومونه لیکل ، دا سراې د ښار په منځنۍ برخه کې پروت و ، دسراې یوه ملازم دهغوې کالی اوسامونونه واخستل اوهغوې ته یې خپله د اوسیدو ځاې ور وښوده . دا یوه پراخه او هوا لرونکې کمره وه ،کړکیو ته یې پردې پرتې وې او زمکه یې فرش وه اوپه فرشي زمکه باندې بسترې غوړیدلې وې. خوعباس انګیرله چې دا کمره د ښځو د اوسیدو له پاره مناسبه نه ده خوبیا هم دوې همدې کوټې ته ور ننوتل او دروازه یې تر شا و تړله.

تر اوسه پورې لا داخلک سهي ناست هم نه و چې دکمرې روازه یې و ټکیده . دواړو نجونو دروازې ته وکتل ، عباس ور پورته شو او دروازه یې پرانسته . ویې کتل چې د پوښ عمر یو انسان یې تر مخه ولاړ و . هغه ډیر معصومه ښکاریده ، اوعباس ته یې په ډیر غو سره کتل . دعباس له پاره ددې سړې کتل د هیلو پر خلاف کار و. پخوا له دې چې عباس ترې څه وپوښتي هغه سړي پخپله په خبرو پیل وکړ:

« درونده مشره !..... ایا ستا نوم « بارټاکوزین» نه دې ، زه خو تا پیژنم»

د یوه اجنبی له اړخه دخپل نوم په اوریدو سره عباس.....ډیر زیات حیران پاته شو . دحمیرا او مریم غوږونه هم د خبرو اوریدو ته ولاړ پاته و . خو هغه اجنبي نور ځنډ ونه کړاو سمدلاسه یې وویل:

«ګورئ تاسې ویریږئ مه !.......دا دنیا ده ..... په دې دنیا کې یو انسان د بل سره لیدل کتل کوي. داسې بریښي چې تاسې زه و نه پیژندلم. زما نوم اربان دې .... دهنګري اهنګر یم. ما دکریټ څخه تر یونانه پورې له تاسره یو ځاې سفر کړې و . ته زمونږ دجهاز کپتان وې.

عباس ته داسې څرګنده شوه لکه یو ناڅاپه چې د خوبه رابیدار شوې وي. هغه ته ټول هر څه په یاد راغلل. هغه ته دا هم را په یاد شول چې د اربان سره یې یوځاې د جهاز په پورتنې پوړ کې پوره میله درلوده . ترڅنګ یې دهغه سره یې د ټولې نړۍ په سیاسي مسایلو باندې بحث هم کړې و . عباس په بیړه ددروازې پلې پرانستې ، د اربان سره ورغاړیوت. ددې کار سره دحمیرا او مریم په مخونو کې هم دخوشحالیو څپې را څرګندې شوې.

اهنګر اربان تر اوسه هم په همدې سراې کې اوسیده . دا همغه وګړې و چې یوه ورځ په ناڅاپې توګه دقاسم سره په همدې سراې کې مخ شوې و اوبیا قاسم ورسره دبیا کتلو ژمنه کړې وه. خو قاسم د خپلو زیاتو مصروفیتونو په اساس دهغه سره بیا نه وکتلي. دا همغه وګړې و چې د اوسپنې د خپرولو په فن کې یې ډیره پوهه درلوده. په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختو کې به د اوسپنې څخه دشیانو جوړول دومره اسانه کار نه و . ډیر کم خلک د اوسپنې په پخښولو باندې پوهیدل. پاته ټول اهنګران یواځې د اوسپنې په ګرمولو او دهغې څخه د ستهک او تبر د جوړولو په کارونو پوهیدل. اربان د اوسپنې څخه د ډیرو ښو شیانو په جوړولو پوهیده. هغه به اوسپنه ویلي کوله ځکه چې هغه ډیره پوه اوماهر ساینس پوه و. په هغه وخت کې به یې د ګندهک د استعمالولو په واسطه بارود استعمالول. خو تر دې وخت پورې د بارودو دوسلې استعمال ډیر کم و . اربان د جنګې موخو په خاطر یو ځانګړې ډول منجیق جوړول غوښتل تر څو دهمدې منجنیق په واسطه د بارودو تر ټولو ستر ګوله هم تر ډیره لرې پورې والوزوي. اوس نو اربان دعباس پخواني پیژوندونکې و ، خو ورته معلومه نه وه چې عباس مسلمان شوې دې. تر اوسه یې عباس د بارټاکوزین په نامه پیژانده. هغه وخت چې عباس او ورسره نجونې دې کمرې ته ور ننوتلې نو همغه وخت اربان عباس کتلې و او پیژندلې یې و. په دې خاطر هغه ددوې د کتلو له پاره دلته راغې ، عباس په ښه توګه هغه ته ښه راغلاست ووایه او دننه کمرې ته یې ور باله. په کمرې کې یې دخپلې لور په لور اشاره وکړه او ورته یې وویل :« دا زما لور مریم ده..... اودا شهزادګۍ حمیرا ده....»

« مریم؟..... حمیرا ؟...... ایا تاسو اسلام قبول کړې دې ؟ اربان ترې په حیرانتیا سره وپوښتل.

عباس ورته په خندا کې وویل چې : « الحمد لله ، اوس زما نوم عباس دې ، مونږ بوسنیا پرې ایښې ده او هوډ مو کړې چې همدلته واوسیږو .»

خو اربان دعباس خبرې په غور سره نه وې اوریدلې. د شهزادګۍ حمیرا په لور یې وکتل او ورته یې وویل: « درنې شهزادګۍ !.....درونده مشره ! ایا دا ښځه شهزادګۍ ده ؟»

خو دعباس نه مخته شهزادګۍ ځواب ورکړ. « نه درونده میلمه ! زمونږ پلار به مونږ ته د مینې نه کله کله د شهزادګۍ په نوم غږ کاوه....»

دحمیرا دځواب څخه اربان خاموشه شو ، عباس ورته دکیناستو له پاره وویل ،بیا دوې کیناستل او د اورنه په اړه یې خبرې پیل کړې.... اربان د څوتیرو میاشتو راهیسي دلته په اورنه کې اوسیده. او د ښار د تر ټولو مشهور اهنګر سره یې ملازمت اختیار کړې و. خوتر اوسه پورې په همدې سراې کې اوسیده. دسراې دمالک سره یې هم ددوستۍ اړیکې ډیر غځولې و چې دسراې مالک پخپله نه غوښتل هغه ددې ځآیه ولاړ شي. که هغه تلې هم نو چیرې به تللې وې ، په ښار کې یو تنها سړې یواځې په سراې کې اوسیدې شي، اربان د نن څخه څلور میاشتې مخته د قسطنطنیې څخه را روان شوې و ، دهغه ټول ژوند په سیر او سیاحت کې تیریده. ډیر ساده او درویش صفته انسان و. دکوچنیوالي څخه یې تر بلوغت پورې اوبیا تر دې دمه یې ژوند د ډیرې نژدې څخه کتلې و. او دنیا ته دتوجه د نه کولو په اساس په یو ځاې کې پاته کیدو اوتم کیدو ته زړه نه ښه کاوه. هغه تر څو کالو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته په قسطنطنیه کې دخپلې پوهې څرګندونه کوله ، خو یوه ورځ یې په ناسته ناسته دمسلمانانو سره داړیکو د نیولو اودهغوې په اړه د معلوماتو د تر لاسه کولو شوق په زړه کې و ګرزید. په همدې خاطر اورنه ته راغې. په اورنه کې یې لمړی د قاسم سره لیدنه وشوه. اوبیا یې تر څو ورځو پورې دقاسم د را تلو انتظار وکړ خو کله چې قاسم تر ډیرې مودې پورې را نغې نو بیا یې کرار کرار دنورو خلکو سره اړیکې جوړ کړل. دسراې مالک دهغه سره د ورورګلوی اړیکې جوړ کړل.

نن ورته په ناڅاپې توګه پخوانې بحري کپتان بارټاکوزین تر سترګو شو. همغه ملاح چې ده ورسره د کریټ نه تر یونان پورې سفر کړې و. عباس ته هم هغه سفر ، که څه ډیر لنډ و ، را په یاد شوې و. خو داربان جذاب شخصیت ټول مسافرین دخپل ځان سره اشنان کړې و. په همدې خاطر دجهاز کارکونکو د عباس په ګډون دهغه سره په پوره ازاده توګه ګپ شپ لګاوه. داربان د سخاوت له مخې به هر وخت د جهاز پورته پوړ درنګینیو څخه ډک و. په همدې خاطر نن عباس د اربان په کتلو باندې ډیر خوشحاله و اوپه ډیره ښه توګه یې ورسره روغبړ وکړ اوبیا یې کمرې ته یوړ او دخپلې لور او شهزادګۍ سره یې د هغه پیژندګلوي هم وکړه. بیا عباس د اربان څخه وپوښتل.

« خو وروره ! ته دلته څه کوې اودڅه وخته راهیسې دلته میشت یې ؟»

« زه دمسلمانانو د ژوند طریقو اولارو تر دې ځایه راوستې یم.....زه غواړم به ژوره توګه اسلام مطالعه کړم او اوس خو دمسلمانو اهنګرانو سره یو ځاې غواړم د بارودو د لرې ویشتلو له پاره منجنیق تیار کړم»

کله چې اربان ورته دخپل پلان په اړه خبره وکړه نو د عباس سترګې پرانستې پاته شوې « بارود ویشتونکې منجنیق ؟...... اربانه ! دا خو د جنګ ډیره خطرناکه وسله وي ، دا ته څه کوې ؟ ته خو دجنګ او حرب سخت مخالف وې.....»

اربان ورته مسکې شو اوبیا یې په هواکې سترګې ګرځولې اوورته یې وویل: زه اوس هم دانسانانو د وژلو سخت مخالف یم او دا ډول عمل په کلکه غندم. زه اوس هم همدا غواړم چې یو انسان د بل سره په مینه اومحبت ژوند وکړي خو هلته په قسطنطنیه کې ما وکتل چې یو شمیر خلک نه غواړی په زمکه باندې امن قایم شي ، ما د قسطنطنیې دقیصر خبرې اوریدلې دي، هغه دشیطان نماینده دې ، د امن نه ډک ښارونه ورانول ، د انسانانو وژل دهغه مشغله ده ...... دقیصر د کتلو وروسته زه په دې ډاډمن شوم چې دامن د راوستو له پاره جنګ کول اړین دي .....»

حمیرا د اربان خبرې په پوره دلچسپۍ سره اوریدې ،دهغې په سترګو کې تحسین کونکې څپې وې. هغې په لمړي ځل اربان ته مخ کړ او ورته یې وویل:

«کاکا جانه ! ته به بارود ویشتونکې منجنیق څه ډول جوړ وې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مونږ به هغې ته منجنيق نه وايو بلکه توپ به ورته وايو ..... دعيسايی نړۍ يو شمير ساينس پوهان همدا ډول توپونه جوړوي ،خو هغه انځور چې زما په ذهن کې دې نو هغه به زمونږ د توپ د نړۍ بهترين اوغوره توپ وي. ( عثماني دولت..). زه به د پرانستې ګندهک په ځاې د توپ ګولۍ جوړوم ، دهغې ګولۍ په واسطه به ډير کلک ديوال هم له منځه ځي...»

بيا خو ته بايد دسلطان سره ووينې..... سلطان به ستا دخدمتونو ډيره قدرداني وکړي.....»

« زه هم غواړم چې دسلطان سره ووينم ، خو دهغې نه مخته زه غواړم چې دخپل توپ يوه کوچنې نمونه تياره کړم ،په همدې خاطر زه ديوه اهنګر سره کار کوم ،اوس خو زما د توپ نمونه نژدې ته چې تياره شی. او زه به يې ډيره ژر د سلطان تر مخ وړاندې کړم»

زاړه عباس هم اورنه ته د خپلو راتلو موخې بيان کړې. هغه ورته وويل چې اوس مونږ غواړو همدلته په اورنه کې و اوسيږو . اوخپل پاته ژوند دخپلومسلمانو ورونو سره يو ځاې تير کړو . هغه بيا تر ډيره پورې دخپل راتلونکې پلان په اړه خبرې وکړې....

څو ورځې وروسته عباس دخپلو دواړو لوڼو يعنې شهزادګۍ حميران او مريم سره يو ځاې يو محل ته ولاړ. اربان هم ورسره ملګرې و . شهزادګۍ حميرا دخپل ځان سره قيمتي جواهرات او سرزر درلودل ، هغه يې و پيريدل اود سراې د مالک په کومک يې يوښه کور پرې را ونيوه .زاړه عباس هم دخپلو وسايلو دخرڅون نه وروسته يوکوچنې کاروبار پيل کړ. اربان به هم خپله مياشتنې تنخوا همدې کورته راوړه اوپه دې ترتيب دوې ټول همدلته په دې کور کې سره يوځاې ميشت شول. اربان لا تر اوسه پورې په ښکاره توګه اسلام نه و قبول کړې خو په زړه کې هغه مسلمان مسلمان و .

په همدې وختو کې سلطان مرادخان ثاني يو ځل بيا ګوښه ناستې شو او خپل ځاې ناستې شهزاده محمد يې په تخت کيناوه . قاسم يې دهغه ځانګړې سلاکار و ټاکه . اوپخپله بيرته « ايدين » ته ولاړ. اوس نو حالات هم ډير حيرانونکې وو. قاسم تر ډيره پورې ډاډمن شوې و چې مارسی شهيده کړل شوې ده . او د بوسنيا شهزادګې دقاسم د شخصيت څخه اغيزمنه شوې وه او ان تر اورنه پورې د هغه تر شا راغلې وه او همدلته په اورنه کې يې ساده ژوند پيل کړې و . هغې هڅه کوله چې خپل ځان را څرګند نه کړي. هونياډې دهنګری د پادشاه لاړډ سلاس د وژنې وروسته د هنګري دپادشاهي تخت نيولې و . اوسلطان د درويشانو ليکو ته بيرته ورستون شوې و ، شهزاده محمد دخپل پلار ځاې ناستې ګرزيدلې و ...... مارسي شهيده شوې نه وه او روغه رمټه د سکندربيګ محل ته ور رسول شوې وه . په داسې حال کې چې سليم پاشا تر اوسه هم په اورنه کې پروت و او دخپلې جاسوسۍ ريښې يې هرې لورې ته ځغلولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې سلطان بیرته خپل ګوښه ناستي ځای ته ورغی اونوی شهزاده په تخت کیناست نو د سلیم پاشا کارونه نور هم اسانه شول. اوس خو ابوجعفر په اورنه کېنه و، اوسلیم پاشا ته د ابوجعفر دشتون اړتیا هم نه وه، هغه دابوجعفر څخه هم تیز او ګړندی انسان و. هغه د سلطان د نشتوالي څخه ګټه پورته کړه او په ینی چري کې یې دبغاوت تخم و شینده. هغه د ډیری پخوانی مودې د تنخواګانو د کمښت مسئله یو ځل بیا را وسپړله او په نوو ځوانو سپاهیانو کې یې دبغاوت اور ته پوکې ورکړ. دا اور د ځنګل داور په څیر ډیر ژر هرې لورې ته خپور شو اوپه ډیر لږ وخت کې یې پوره سلطنت په خپلې لمن کې را ونغښت. دا د ۱۴۴۵ز کال پیښه ده.

سلیم پاشا د بغاوت په خپرولو کې ځکه ډیره اسانتیا پیدا شوه چې ابوجعفر دشلو کالو راهیسې ددې بغاوت ریښې هرې لورې ته ځغلولې وې. دسپاهیانو دې بغاوت عثمانی سلطنت یو ځل بیا ولړزاوه. نوی ځوان سلطان سخت په ویره کې ولوید. په ښار کې باغیانو بلوا ګانې جوړې کړې او د سترګو په رپ کې د اورنه خوشحاله او امن ناکه ښار د فساد او بلواګانو په واسطه په ویر او ویرانې بدل شو. هرې لورې ته د بلواکونکو ډلې ټپلې ګرزیدلې، چور، چپاول، لوټمار او وژنه هرې لوې ته روانه وه او سرکاری ځایونه د اور په لمبو کې سوځیدل. سلطان محمد خان ددې حالاتو څخه ډیر غمژن شوی و، په دې نه پوهیده چې په څه ډول دا بغاوت و ځپوي، بهرام خان هم په ښار کې د منډو ترړو په واسطه نور ستومانه شوی معلومیده خو هغه و نه توانید ددې سازشونو سرغنه ترولکې لاندې راوړي. دښار کوتوال هم په هر ځای کې پلټنه کوله، خو دیوه لاس هم د بلواګرو دمشرانو پورې نه وررسیده. دا ځل د قاسم د لاسه هم څه پوره نه و. ځکه چې هغه دشاهي سراغ رسانۍ ددندې څخه لرې کړل شوی و. او دبله اړخه دمارسي بیلتون په ذهني توګه مفلوج کړی و.....

څو ورځې تیرې شوې اوبلواګرانو په ښار کې دخلکو د امنیت نه خوندي ژوند د دوزخ په څیر ګرزولی و، په ینی چري کې هم درز پیدا شوی و، او عثماني سلطنت یو ځل بیا په بنسټیزه توګه د ګواښونو سره مخ و. د سلطنت امرآء یو ځل بیا د نوي سلطان دربار ته راغلل اویوځل بیا یې ترې د مشر سلطان مرادخان د بیرته راستنیدو غوښتنه وکړه، دا ځل نوي سلطان، قاسم بن هشام ته دادنده وروسپارله..... خودا ځل دقاسم سره د خواجه خیرې په ځای دهغه مشرورور طاهر بن هشام ملګرې شو. دسلطان محمد خان دحکم سره سم دا دواړه ورونه د ایدین په لور روان شول.

دا د جمعې مبارکه ورځ وه او خلک د ویرې او ترهې له لاسه په کورنو کې بند ناست و، دښار په کوڅو کې دینی چري باغي ډلګیو ګشت کاوه، کله به دیوې کوڅې څخه د خلکو ډله را ښکاره شوه، تیرې به یې وورولې، املاکو ته به یې اور واچاوه او کله به د بلې کوڅې څخه. بلواګرانو د ښار د کوتوال دفتر هم کلابند کړی و.

په حقیقت کې ددې ټولو کارونو پړې د سلیم پاشا په لاسو کې و، په داسې حال کې چې هغه به په خپله ټوله ورځ د نوي ځوان سلطان، سلطان محمد په دربار کې ناست و. هغه نه یوازې شاهي طبیب و بلکه د سلطنت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمايدينو کې يې هم ډير ښه نوم درلود . هغه ورځ چې سلطان محمد خان قاسم بن هشام د ايدين په لور ورليږه نو په هغه ورځ سليم پاشا هم ناست و . هغه ته دا خبر چې قاسم بن هشام د سلطان مراد خان ثاني په لور ورليږی تر څو هغه بيرته راستون شي ،د ډيرې انديښنې وړ و . خو د قاسم او دهغه د مشر ورور طاهر د ايدين په لور د ليږلو دخبر سره سم دهغه په سترګو کې دمکارۍ يوه څپه را پيدا شوه اوکله چې قاسم او ورور يې طاهر د ايدين په لور روان شول نو سليم پاشا سمدلاسه خپل لاس پوڅې را وبلل او هغوې ته يې حکم وکړ:

« قاسم بن هشام او طاهر بن هشام د اورنه څخه بيرون تللې دي ، تاسې دهغه دکور څارنه کوئ، هسې نه چې په ښار کې بلواګران او فتنه اچونکي دهغه کورنۍ ته کوم زيان ور ورسوي.» ددې خبرې سره دهغه په شونډو کې دمکارۍ نه ډکه خندا وه اوپه سترګو کې يې شيطانې نخا ځليده. هغه ددې بغاوت مشر و او د ابوجعفر نائب او بسپنه کونکي و . دهغه دغو پټو ګماشتو دهغه خبره ډيره ښه درک کړې وه. اود هغې د پلې کولو له پاره سمدلاسه دخپلو ځايو څخه پورته شول.

دسليم پاشا دحکم څخه يو ساعت وروسته د بلوا ګرانو يوه ډله چې نژدې پنځوسو کسانو ته رسيده ، شعارونه ورکول ، ځاې ځاې يې ويجاړوه او دقاسم د کور په لور ور روان و . دوې د يوه منظم پلان له مخې دلته را روان و . سليم پاشا خپل پخوانې دښمن قاسم ته سخت ټکان ورکول غوښتل. په دې وخت کې په ټول ښار کې داور اچولو پيښې او ورانې ويجاړې روان و نو که چيرې په همدې حالاتو کې هغه د قاسم په کور باندې يرغل راوړې نو په چا به شک کيږي ؟

کله چې د قاسم په کور کې ناستو خلکو په کوڅه کې شور و غوغا واوريده نو هغوې دخپل کور دروازې ددننه څخه و تړلې تر څو د بلواګرانو ډلې د تخريب له پاره کور ته را ننه نه وځي . دواړه کوچنيان علي او عمر بې له کومې ويرې دبام سر ته وختل. اوپه کوڅه کې يې موجوده بلواګران څارل. دقاسم زوړ پلار خپل پخوانې را ياد کړل او لوڅه توره يې په لاسو کې ونيوله او دخپلې ښځې ، نګور ، او کوچنيانو د خوندي ساتلو له پاره هملته د دروازې تر څنګ و دريد. دمارسی زړه خادمه هم په همدې کور کې ددوې سره يو ځاې اوسيدله.

بلواګران چې کله دروازې ته را ورسيدل نو سمدلاسه يې د دروازې په وهلو پيل وکړ ، دې دکار د هشام په اعصابو بد اغيز وکړ او په ذهن کې يې د نامعلومه خطرونو زنګونه اوريدل کيدل.هغه په زړه کې ويل چې کومه بده سانحه مخته راتلونکې ده. بلواګرانو اوس هم په پرلپسې توګه دروازه وهله. د طاهر ښځه په يوه منډه يوې کوټې ته ورغله او دطاهر غشي او کمان يې راواخستل او په يوې مورچې کې کيناتسه. دهشام ښځې او د قاسم د مور فکر دکوچنيانو په لور واوخښت ،په يوه منډه يې بام ته ځان ورساوه او هغوې ته يې ورغږ کړ ، علی اوعمر اوس د سيل کولو په ځاې دويرې او خوف له لاسه د بام په يوه ځاې کې پټ ناست و . بلواګرانو دروازه په پرلپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه وهله او ویل یې ..... « دروازه پرانیزئ او که نه مونږ یې ماتوو ....» خو د زاړه هشام د درونډ اواز په اوریدو سره بلواګران خاموشه او شاته شول. هشام هغوی ته وویل:

«« غدارانو د دروازې په ماتولو سره تاسو خپل مرګ ته اواز کوئ ، کورته د راننوتلو تر مخه زر واړې فکر وکړئ ، ځکه دلته ستاسې تر مخه د حجاز ستر اوماهر توره وهونکي هشام بن عدي ولاړ دې.

خو څو ثانیې وروسته په بلواګرانو کې درې څلور کسو نقاب پوښانو د هشام بن عدي دکور دروازه ماته کړه ، دهشام اعصابو نور ځواب ورکاوه .دهغه مخ د غصې اوقهر څخه تک سور اوختې و .او نیغ ولاړ و. په همدې وخت کې ددروازې یوه دره را پریوته او درې نقاب پوښان دکور دننه را ننوتل. خو زوړ هشام لکه د اوسپنې ددیوال په څیر دهغوی تر مخه ولاړ و. کله یې چې توره پورته کړه نو د ستونې څخه یې خالصه عربي لفظ الله اکبر را ووت. اوس نو حالات داسې و چې دغه زوړ هشام په ځانته ځان د درې څلورو کسانو بلواګرانو سره په جنګ کې ښکیل و. یوه ته هم دا مجال نه وه چې دکور دننه قدم واخلی. دقیصر جاسوسانو ته د ا ډاګیزه شوه چې دغه وګړي په یواځې ځآن ددوې مقابله کوي اوددوې هڅې یې د ناکامۍ سره مخ کړې دي. ځکه د هشام یوې تورې د بلواګرانو څلور تورې تم کولې. په همدې وخت کې دکور دیوه سنګر څخه یو غنږیدونکي غشي راغې اودیوه نقاب پوښه په څټ کې ور ننښت. نقاب پوښه د غوایی په څیر لاندې راپریوت. په همدې وخت کې یو بل غشي هم راغي اوبل نقاب پوښه یې پرې را ځملاوه ، دهشام توره هم دومره تیزه وه چې د بلواګرانو دڅو کسو متې یې پرې کړې وې، د اسمان سترګو کتل چې دهشام ځواني بیرته راستنه شوې ده. سکینې هم د خپل ناست سنګر څخه یو یوکس په ښنه کاوه اوغشي یې ویشتل. ددې کار څخه بلوایانو ته هلته په ډیوډۍ کې تم کیدل ستونزمن شول ، او قدم په قدم شاته روان شول. په دې کار سره د هشام همت او جرءت نور هم زیات شو، ورمخته شو او دیوه اوږود نقاب پوښه په سر یې توره را خلاصه کړه او دهغه سرېی پرې پرې کړ. همدا وګړې ددې ډلې د بلواګرانو مشر و. کله چې بلواګرانو دخپل مشر حالت وکوت نو په تیښته یې پیل وکړ او د سترګو په رپ کې یې هغه ځای پریښود او و تښتیدل......اوس نو زاړه هشام خپله د وینو ډکه توره په لاسو کې نیولې وه او همتله په دروازه کې ولاړو. او بې زړه اوبې غیرته بلواګرانو پسې یې غږونه کول. نن هغه دخپلې تورې د وهلو هغه هنر را ښکاره کاوه چې که چیرې دهغه زامنو هغه کتلې وای نو نن به یې دهغه د فن د وهلو مهارت په خپله منلې وای.

خو لا تر اوسه پورې د بلواګرانو ګوښ دمنځه نه و تللې. هشام د را لویدلې دروازې هغه پله بیرته پورته کړه اوبیرته یې په همغه ځآې کې و نښلوله د کوم ځآیه چې را غورزیدلې وه. اودکور دروازه یې لکه د پخوا په شان بیرته د دکور د دننه څخه و تړله. تر اوسه پورې هشام پوره ډاډ من شوې نه و. په دې خاطر هغه د وخت د پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدو سمدلاسه خپل ټول کوچنیان د ګاونډي کور ته بوتلل. ترڅو چې د بلواګرو د بیا یرغل څخه هغوې خوندي پاته شي. خو سکینې خپله مورچه پرې نه ښوده. هغې وویل:

« پلار جانه ! زه به ستا تر څنګ اوږه په اوږه د دښمن سره مقابله کوم. مونږ به مور ، کوچنیان او دغزاله خادمه هلته د ګاونډي کور ته یوسو »

په همدې وخت کې کوچنیان او د هشام ښځه دبام څخه لاندې را ښکته شوي و خو دهغوې مخونه د ویرې او دهشت څخه تک ژیړ شوي و. هشام ته دا ښه ښکاره نه شوه. عمر او علي ته یې مخ کړ او ورته یې وویل: « عمر او علي !..... د ویرې کولو اړتیا نه شته. ومو کتل چې ستاسې زوړ دادا خپل دښمنان څنګه و ځغلول. یاد ساتئ چې د زمري دیوې ورځې ژوند د ګیدړ دسلو کالو د ژوند څخه غوره دې.»

دا چې کوچنیانو ته به د خپل نیکه د خبرو څخه څه ډاډ ور په برخه شوې وي او کنه. خو لږه شیبه وروسته هغوې ټول د ګاونډي کور ته بوتلل شول. دهغوې په ګاونډ کې هم د یوه زوړ سالار کور و. که څه هم هغه زوړ سالار څه موده مخته مړ شوي و خو دهغه ښځه او یو زوې هملته اوسیدل. دهغوې په کور کې اوس د ښځو نه علاوه یو ملازم هم موجود و. هشام ورته په ډیره بیړه څه خبرې وکړې اود خپل اصطبل څخه یې یو آس دهغه په واک کې ورکړ او هغه یې کومې لورې ته ولیږه. په دې ټول وخت کې ددې ځاې کوڅې دخلکو څخه خالي وې. بلواګر ان تللي و خو دهغوې دبیرته راستنیدو ګواښ موجود و. که چیرې د ښار به بازارونو او کوڅو کې فساد ، بغاوت او د اورلګولو پیښې نه واې نو هشام به هم کومې لورې ته تللي و. خو په دې وخت کې د اورنه ښار د کربلا انځور وړاندې کاوه. په دې خاطر هشام هملته په خپل کور کې ددښمن سره دمقابلې کولو هوډ وکړ.

دبله اړخه ، کله چې سلیم پاشا ته خبر ورسید چې دقاسم او طاهر زاړه پلار د باغیانو پنځوس کسیزې ډلې ته په ځانته ځان ماتې ورکړې ده نو دقهراو غضبه سور شین کیده. هغه په خپلو باغیانو باندې سخت په قهر و ځکه هغه غوښتل د قاسم د نشتوالي څخه ډیره ګټه پورته کړي. هغه چې کله د ناکامۍ خبر واورید نو سمدستي را پورته شو اوخپله څیره یې پټه کړه او پخپله ددې شیطاني دندې د ترسره کولو له پاره را روان شو. دا ځل دهغه سره عام بلواګران نه و بلکه د یني چرې د فوځ ډیره ښه توره وهونکې یې له ځانه سره راوړي و. دوې ټول په اسونو سپاره ، دوې غوښتل چې په هره توګه چې شوني وې قاسم ته زیان ورسوي ، داس سپرو دغه ډله په ډیره ګړندۍ توګه د قاسم د کور په لور ولاړه.

لا تراوسه پورې هشام د پخوانی جنګ ستومانتیا نه وه لرې کړې چې د سلیم پاشا ډله یې د کور دروازو ته ور ورسیده او دروازه یې ور وهله. دروازه لاندې را پریوته او دوې ټول په یوه وار کورته ور ننوتل. هشام د پخوا په څیر هغوې ته هملته په ډیوډۍ کې ښه راغلاست ووایه...... اوسکینې هم دکمان څخه خپل غشي په پوره تیزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ویشتل. خو دا ځل داسې بریښیده چې قسمت د زوړ هشام پر خلاف دې ، هغه په پوره میړانې سره ددې غدارانو مقابله وکړه ، دهغوې درې کسه سپاهیان یې دوزخ ته ور تیر کړل ، دسکینې د غشو د ویشتلو په واسطه هم څو کسه سپاهیان زخمیان شوي و، خو دسپاهیانو شمیره زیاته وه او د زوړ هشام متو نور ځواب ورکاوه. بلاخره د هشام توره نوره د ګذار د تم کولو جوګه نه وه. او زوړ توره وهونکې عرب تر اخره پورې د جنګیدو وروسته په شهادت ورسید......

دهشام د راپرزیدو سره سم د سلیم پاشا دباغیانو ډله په ټول کور کې خپره شوه، تر دې وخته پورې پخپله سلیم پاشا روغ رمټ و. هغه په دې جنګ کې بلکل برخه نه وه اخستې. هغه هغې خونې ته چې سیکنه په کې په سنګر کې ناسته وه د ور ننوتلو څخه هم په ویره کې و ، ځکه په دې وخت کې سکینې بې بې هم د غشو ویشتل پرې ښودي و او توره یې په لاس کې اخستې وه او د کوټې ددروازې تر شا ولاړه وه. بلواګران په ویره ویره دهغې خونې ته ور ننوتل ، لمړی یو نقاب پوښه اوتر شا یې سلیم پاشا خپله توره په لاس کې نیولې وه او کمرې ته ور ننوت. هغه په ډیر احتیاط سره کمرې ته ور ننوتې و ...خو دهغه احتیاط دهغه په کار رانه غې ، ځکه سکینه لکه د وږې زمرۍ په څیر د دروازې د شا څخه را ووتله اوپه یوه ناڅاپه یې په دې نقاب پوښانو باندې حمله وکړه. هغې په خپل لمړني ګذار سره د یوه نقاب پوښه کار ور ختم کړ او دیوې ماهرې تورې وهونکې په څیر په سلیم پاشا باندې حمله وکړه. سلیم پاشا دهغې د تورې وهلو دفن څخه په ویره کې لویدلې و ځکه هغه یوطبیب و ، په داسې حال کې چې سکینه د هشام ننګور او د طاهر ښځه وه. کله چې هغې د سکینې د تورې فن وکوت سمدلاسه شاته ولاړ خو پخوا ددې چې هغه شاته ولاړ شي او دسکینې د تورې څخه ځان خوندي کړي ، سکینې پرې د لیونۍ په څیر حمله راوړه. دسکینې توره د طبیب په لاسو ورپریوته اودهغه د لاس درې ګوتې یې پرې کړې او په لاندې فرش باندې یې ترې وغور ځولې. سلیم پاشا لکه د حلالې شوې وزې په څیر رمباړې وهلې او په داسې حال کې چې خپل لاس یې په تخرګ کې ننویستې و د کوټې یوه کونج ته ولاړ. اوس نو هغه ځانه سنبالاوه خو سکینه یې تر شاوه ، اما سکینې هغې ته و نه رسیده ځکه درې څلور کسو نقاب پوښانو په دغه میړنۍ او زړه ورې ښځې باندې دشا له اړخه حمله کړې وه ، سکینه و نه توانیده چې د څلورو واړو تورې له ځانه تم کړی په دې اساس سخته زخمی شوه ، دهغې دچپ اړخ اوږه پرې کړل شوې وه اوپه سر یې هم د تورو زخمونه و. یوناڅاپه یې د سترګو تر مخ اسمان و څرخید اوبې هوشه په زمکه راپریوته.

نقاب پوښان ددې میړنۍ ښځې څخه ډاډمن شول ، اوسمدلاسه دسلیم پاشا په لور ورغلل. ځکه سلیم پاشا د لاس د ګوتو د پریکیدو د درد څخه ډیر زیات نا ارامه و ،په همدې وخت کې نور حمله کونکې هم دې کوټې ته را ننوتل ، هغوې ټول کور لټولې و خو په کور کې یې ددې دواړو څخه بل څوک نه و موندلې. سلیم پاشا د همدې چغو او واویلاو په وخت کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دومره ژر نور خلک چیرې تللاې شی ؟...... هغوې به همدلته دګاونډې په کور کې وي ، تاسو سمدستي د شاوخوا ګاونډیانو په کورنو باندې حمله وکړئ.....»

دسليم پاشا خبره لا نه وه تکميل شوې چې بيرون په کوڅه کې د اسونو د تاخت اوازونه پورته شول ، دوې سمدلاسه متوجه شول او د سليم پاشا شپږم حس هم دخطر احساس کړې و ، هغه يوه لمحه ځنډ هم مناسب و نه ګاڼه او بيرون ته يې منډه کړه ....دهغه سپاهيان دهغه تر شاو .هغوې لا په کوڅه کې و چې د مخالفې لورې يې مخې ته داس سپرو يوه ډله راغله.

دا همغه خلک وچې د رابللو له پاره يې هشام دګاونډې نوکر ور استولې و ، دوې د اغا حسن سپاهيان و ، قاسم بن هشام دوست اغاحسن چې کله باغيان د قاسم دکور نه د وتلو په وخت کې و کتل نو سمدلاسه يې پر هغوې دحملې له پاره خپل آس را تاو کړ خو دسليم پاشا سپاهيانو دهغوې سره دجنګ تاب نه درلود په دې خاطر هغوې ټولو خپلې لکۍ تاوې کړې او د سترګو په رپ کې دهغه ځايه و تښتيدل...... اغا حسن تر ډيره پورې دهغوې پسې خپل آس و ځغلاوه او ډير ژر يې د قاسم دپلار اودهغه د ورندار قاتلين را لاندې کړل اوپه ډير کم وخت کې يې دهغوې ګڼ شمير له منځه يوړل...... خو .....

خوسليم پاشا ..... دهغه ځايه وتلې و . ځکه هغه د ټولو دمخه بيرون راغلې و او دټولو نه مخته په خپل آس سپور شوې او تښتيدلې و ....

اغا حسن د بلواګرو د له منځه وړلو وروسته بيرته راستون شو خوزړه يې په زوره زوره درځيده ، او په ذهن کې يې ډول ډول خيالات را ګرځيدل .....هسې نه چې دښمن د قاسم کورنۍ ته زيان ور اړولې وي... په همدې فکرونو کې ډوب د قاسم کور ته راغې . خو زړه يې هملته په ډيوډۍ کې ټکان وخوړ ..... ځکه د قاسم پلار دخپلې تورې لاستې په خپل لاس کې نيولې و او په وينو کې لت پت پروت و . دهغه په څيرې کې اوس هم ډير زيات رعب او دبدبه وه . دهغه چپ اوښې لورې ته د بلواګرو لاشونه پراته و و . دوې ټول هغه په خپله اودخپلې ننګور په کومک له منځه وړې و. په کور کې مرګونې خاموشي خپره وه او هرې لورې ته د وينو ليکې خپرې شوې وې ، اغا حسن په ډيره غمژنه توګه را مخته شو او د هشام لاش يې را پورته کړ ، اوس يې غوښتل چې دننه کوټو ته ورشي ،هغه ډاډمن شوې و چې دطاهر ټوله کورنۍ شهيدان کړل شوې دي ،خو کله چې کمرې ته ور ننوت نو ديوې ښځې لاش يې تر سترګو شو ، دهغې سر او اوږه زخمې وه ، دې باوقاره اوميړنۍ ښځې لا تراوسه خپله توره په لاس کې نيولې وه او پړمخ پرته وه . په دې خونه کې د يوه نقاب پوښه لاش هم پروت و . اوفرش ټول په وينو کې ډوب و . دا د اغاحسن له پاره ډيره ستره صدمه وه ، هغه په دې ډير غمژن و چې ولې په وخت د خپل دوست قاسم دکورنۍ د خوندی کولو له پاره نه و رارسيدلې. دکور ټول سامانونه خواره واره پراته و او هرشې په وينو ککړ معلوميده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تر اوسه پورې د ګنګې په څير ولاړ و نه پوهيده چې څه وکړي، د هشام لاش يې په يوه تخت باندې کيښود او خپل ملګرو ته يې د ټول کور د لټون له پاره حکم وکړ.

په دې وخت کې يې ښځينه اواز تر غوږو شو. دا سې بريښيده چې دا به د سکينې اواز و. را منډه يې کړه او دسکينې په لور ورغې. داسې معلوميده چې هغه تر اوسه پورې ژوندۍ ده. هغه په بيړه هلته ور غې او پړمخه پرته ښځه يې را سمه کړه، دسکينې سترګې خلاصې شوې، هغه په هوش کې راغلې وه، کله يې چې اغا حسن وکوت نو په مړژواندي اواز يې څه وويل: اغا حسن ورته سمدلاسه وويل چې:

«اغاحسن يم....دقاسم دوست..... کوچنيان چيرې دي؟»

اوس نو د سکينې پر مخ باندې يوه عارفانه شانته خندا وه، هڅه يې وکړه چې خپل سر را پورته کړي، اغا حسن ور مخته شو اودهغه سر يې راپورته کړ اوپه خپل زنګون يې کيښود. اويوه عسکرته يې اواز وکړ تر څو اوبه راوړي.....سکينې ورته په حسرتناکه سترګو کتل،دهغېد شونډو څخه په ډير کمزورې اواز سره څه راوتل. «تاسو دلته په راتلو کې ځنډ کړې......ژون....ژوندته مو خداې پاماني ويلې ده.....پلا...پلار جان شهيد شوې دې......هغه.... دډيرو نقاب پوښانو سره مقابله وکړه.....هغ...هغوې دوه.... دوه ځلې حمله وکړه.....ما......دهغې..... سر... دار...... زخمي .....زخمې....»

دسکينې ساه خرابه شوې وه، داغا حسن ملګري اوبه راوړې، داغا حسن د اوبو پياله د سکينې په شونډو باندې کيښوده، څو څاڅکي اوبه د سکينې په خوله کې ور توې شوې خو څه نورې دخولې نه بيرون توې شولې، کله چې د اوبو څاڅکي د سکينې د ستونې څخه تير شول نو هغه يو ځل بيا په هوش کې راغله او ويې ويل: «زما ....کوچنيان.... کوچنيان .... راوړس.....هغوې چيرې دي...؟»

اغا حسن سمدلاسه عسکرو ته حکم وکړ چې د ګاونډې دکوره دهغې کوچنيان را ورسوي،پخپله يې هڅه کوله چې سکينې ته تسلي ورکړي.

«ميرنۍ ښځې ! مونږ سپاهيان ستا ميړانې ته سلام کوو. ته انديښنه مه کوه ، ته زخمي شوې يې. زه به دې همدا اوس د طبيب خوني ته ور ورسوم.»

خو دهغې په سترګو کې ناهيلې راپيدا شوې وه، او دخپل ژوندي پاته کيدو ټولې هيلې يې له لاسه ورکړې وې. د لږ ځنډ وروسته په يوې کوټې کې د قاسم د مور د ژړا اواز واوريدل شو، داسې ډاګيزه شوه چې د سکينې کوچنيان راغلي دي. داډير دردناکه حالات وو. عمر او علي ګم صم خوني ته را ننوتل، دهغوې مخونه لکه د ژيړ لرګي په څير ژيړ شوي و. عمر او علي د خپلې شهيدکيدونکې مور سره يو ځاې کيدل غوښتل، اغا حسن ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظر دليدلو توان نه درلود ، کوچنيان خپلې مور ته راغلل او دخپلې مور په څنګ کې کيناستل. دقاسم مور هم په ژړا او واويلا کې کوټې ته را ننوتله. په همدې وخت کې اغاحسن خپلو عسکرو ته حکم وکړ:

« ځومره ژر چې شوني وي يوه ارامه بګۍ راوړئ ، ترڅو زه دا ترټول ښه طبيب ته بوځم.»

خو اغا حسن ډير هيلمن نه و. سپاهيانو د برق په څير منډې وهلې ، سکينې چې کله خپل کوچنيان و کتل نود يو لاس د راپورته کيدو هڅه يې وکړه ترڅو د هغوې په رخسارو يې را ښکاره ي. خو ونه توانيده. دهغه پورته کړل شوې لاس را پريوت او هغه يو ځل بيا بې هوشه شوه.نن د قاسم په کور کې کربلا جوړه شوې وه. دمارسي خادمه هملته په دهليز کې ناسته وه او وير يې کاوه. د شاوخوا دګاونډيانو ښځې اونر هم همدلته را ټول شوي و ، دا ځل سکينه تر ډيره پورې بې هوشه پرته وه ، په همدې وخت کې سپاهيانو بګۍ راوړه ، اوبيا يې په ډير کم وخت کې سکينه د ښار د طبيب سليم پاشا ځای ته ورسوله.

خو دسليم پاشا مطب بند و. اغاحسن کوچوان ته حکم وکړ چې بګۍ د سليم پاشا کور ته بوځي. په ښا ر کې د بغاوت په اساس کوڅې او بازارونه بند و. کوم کس نيم که په سترګو کيده هغه هم د ويرې او خوف له لاسه ناارامه معلوميده. بلاخره د سليم پاشا کور راغې ، سليم پاشا هملته په کور کې موجود و. خو دخپل زخم په اساس يې د دې ښځې دعلاج کولو نه انکار وکړ. اوس نو د اغا حسن سره د زور څخه دکار د اخستلو بله لاره نه وه. توره يې راوويسته او د سليم پاشا خادم ته يې وويل:

« سمدلاسه طبيب را وبوله او کنه سپاهيان به کورته ور ننوځي او په زوره به يې راوړي. ته پوهيږې چې په ښار کې افراتفري او بغاوتونه خپاره دي ، سمدلاسه ولاړ شه اوزما د حکم تعميل وکړه.»

خادم سمدلاسه منډه کړه ، په دې وخت کې سکينه هم په هوش کې راغلې وه. خو ساه يې ډيره خرابه او تيزه وه. دهغې سينې ټوپونه وهل.شايد چې هغه خپلې اخرى ساه ګانې اخستې. اغا حسن چې د سکينې دا حال وکوت نو پخپله د سليم پاشا کور ته ور ننوت خوسليم پاشا بيرون ته را روان وو ،دهغه ښې لاس په يوې پټۍ تړل شوې و. او څيره يې د زيړ لرګي په څير ژيړه شوې وه ،قدم يې ډير سست او وجود يې کمزروې شوې و، خو داغا حسن په ګوابښنه باندې د هغې زخمې ښځې کتلو ته راغې ، اغاحسن هغه له ځآنه سره راواخست اوپه منډه منډه بې تر بګۍ پورې راوست. خو کله يې چې دسکينې مخ ته وکتل نو هوش يې والوت ،ځکه هغه ښځه چې دهغه د سترګو تر مخه وژل شوې وه ، بيرته راژوندۍ شوې اوغوارې دهغه په لاسو تداوي شي . دهغه پاته حواس هم له منځه تللي وو. هغه ته داسې ډاګيزه شوه چې مريضه نه بلکه مرګ دهغه سر ته رارسيدلې دې. دغې غير متوقع او نا ځآپي پيښې پر هغه سکته راوړې وه. هغه په ډير غور سره د سکينې مخ ته کتل په همدې وخت کې دسکينې پټې سترګې هم و غوړيدې اوپه سليم پاشا ورونښتې. که څه هم د حملې په وخت کې سليم پاشا په خپل مخ باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقاب ترلې و خوبیا هم دهغه دسترګو د لیدلو وروسته ساه ورکونکې سکینی ډیره زیاته حیرانه شوه. هغې هڅه وکړه چې خپلې سترګې پوره پرانزي، لاس یې راپورته کړ او غوښتل یې دسلیم پاشا په لور د اشارې کولو په ترڅ کې څه وو ایي. خو په هغې د مرګي ځپه راغله او همدلته یې ساه ورکړه.

د اغا حسن له پاره دا یوه عجیبه معما وه ، هغه ته داسې څرګنده شوه چې سکینې په خپل اخري وخت کې غوښتل سلیم پاشا طبیب ته څه وو ایي. خو هغه په دې نه و پوه شوې چې سکینې طبیب پیژندلې و ، کله چې سکینې خپله اخري ساه اخسته نو داغاحسن د سیني څخه یخ تپ راووت ، هغه ډیر غمژن او پریشانه و ، دهمدې پریشانې په وخت کې هغه دسلیم پاشا حالت ته متوجه نه شو ، سپاهیانو ته یې د سکینی بی بی د لاش د وړلو حکم وکړ او په خپله یې دغم څخه سر ښکته کړې و او د هغوې تر شا روان و.

هغه وخت چې قاسم اوطاهر بیرته راستانه شول نود هغوې دخوشحالۍ نړۍ لوټ شوې وه،دهغوې خوشحاله کورنۍ په غم اوتیارو بدله شوې وه ، دهغوې میرنې او بهادر پلار د منونو خاورو لاندې ښځ پروت و او د طاهر د ژوند اودهغه دغم او خوشحالیو ملګرې سکینه هم په هدیره کې خاموشه پرته وه ، عمر اوعلي د خپلې مور او نیکه په غم کې په ژړا ګانو باندې ځانونه بلمنګه کړې و . د قاسم اوطاهر له پاره دا ټکان د زغم وړ نه و ، دوې دواړه د سلطان مرادخان ثاني دبیرته راوستلو له پاره ایدین ته تللې و. هغوې هملته سلطان ته د بغاوت کونکو یو انځور وړاندې کړ اودهمدې انځور د وړاندې کولو وروسته سلطان یوځل بیا هوډ وکړ چې بیرته اورنه ته راستون شي، هغوې خو په دې وتوانیدل چې سلطان دعزلت د ګوښه ناستې څخه رابیرون کړي اوبیرته یې له ځانه سره اورنه ته راوړي خو اوس دغم دزیادښت له امله دوې په خپله د عزلت ګوښې ته تلونکې و.

د قاسم د ذهن څخه د غم وریځې ولاړې خو د انتقام او بدلې اخستو احساس یې په زړه کې را و ټوکید ،هغه غوښتل په هر حال دخپل پلار او ورندار تر وژونکو پورې ځانونه ور رسوي. اغا حسن ورته ددې پیښې په اړه ټول هغه څه چې یې کتلې وې په تفصیل سره وویل ، هغه دګاونډیانو څخه هم د هرې خبرې پوښتنه کړې وه ، دهغه مور او دمارسي خادمې هم ورته د پیښې په اړه تفصیل ویلې و . او ورته یې ډاګیزه کړې وه چې حمله کونکو نقابونه اغوستې و . خو معلومه نه وه چې ولې دقاسم په زړه کې کومه خبره زوړنده پاته ده. هغه ته اغا حسن ویلې و چې دهغه ورندار د سختې زخمبکیدو په وخت کې د حمله کونکو دسردار ګوتې پرې کړې وې ، اغا حسن ورته دا هم ویلې و چې طبیب سلیم پاشا دهغه د ورندار په تداوۍ کې د غفلت او سستۍ نه کار اخستې و خو اغاحسن ورته دسلیم پاشا د طبیعت او د لاس د زخمې کیدو په اړه خبره کول مناسب و نه ګڼل. هغه په دې شک کې و چې د شهزاده علاوالدین او سلیم پاشا تر منځه څه پخوانې پټو اړیکې شتون درلود. هغه اوس شپه او ورځ په همدې فکرونو کې ډوب پاته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان د راتلو وروسته په اورنه کې بغاوت تر کنترول لاندې راغې ، سلطان د راتلو سره سم دبغاوت کونکو سترو سترو کسانو ته د مرګ سزا ورکړه او یو زیات شمیر نامسؤله افسران یې په ځندانو کې واچول. تر څنګ یې د ینې چري ګڼ شمیر سپاهیان یې د بغاوت او ارتداد په خاطر له منځه یوړل.په دې کارو سره اورنه یو ځل بیا د امن او سکون ښار و ګرزید. خو لا تر اوسه سلطان د بغاوت جرړې نه وې پیدا کړې. سلیم پاشا تر اوسه پورې ژوندې و او دهغه لاس تر اوسه پورې تړلې و .دهغه د ښې لاس درې ګوتې پرې کړل شوې وې ، په دې خاطر یې لا تر اوسه روغتیا نه وه موندلې.

سلطان څو ورځې وروسته قاسم را وغوښت. او د قاسم د کورنۍ په دغه ډول وژلو یې د زړه له کومې افسوس ښکاره کړ او هغه ته یې حکم وکړ چې د بغاوت اصلي جرړې راپیدا کړي. قاسم پخپله هم همدا غوښتل چې هغه ته سرکاري اختیارات ور په برخه شي تر څو په ازادۍ سره خپل دښمنان و لټوي ، اوس نو هغه یو ځل بیا سرکاري سراغ رسان ګرزیدلې و ، دا ځل بهرام خان او دهغه ټوله اداره دده تر کنترول او حکم لاندې و ه. په محل کې لرې کړل شوي سلطان محمد هم دقاسم سره خپله خواږې څرګنده کړه . اوهغه ته یې دخپله اړخه د هر ډول بسپنې او کومک ډاډ ورکړ.

ددې پیښې څخه یویشت ورځې وروسته قاسم دیوې په زړه پورې پیښې سره مخ شو ، هغه د اورنه بازار د اهنګرانو کوڅې څخه تیریده چې د اربان سره مخ شو ، دا داورنه د بازار یوه تنګه کوڅه وه چې اهنګرانو اونجارانو په کې کار کاوه ، په دې بازار کې تورې ، نیزې ، کمانونهه او نور جنګي وسایل هم جوړیدل او پلورل کیدل. قاسم په لمړي نظر سره اربان وپیژانده. اربان هم چې قاسم وکوت نو ورغاړیوت. قاسم تر هر څه دمخه د اربان څخه ښننه و غوښته چې دخپلو زیاتو مصروفیاتو په واسطه یې و نه شوکولاې دهغه سره خپله ژمنه پوره کړې خو تر څنګ یې د اربان څخه هم وپوښتل چې هغه په اورنه کې په کومو کارونو باندې مشغول دې ؟او چیرې اوسیږې ؟ اربان په ورته په خندا ځواب ورکړ او ورته یې وویل:

« زه خو په همدې بازار کې دیوه ستر اهنګر سره کار کوم. او همدلته د اورنه په یوې محلې کې اوسیږم» قاسم په دې ښه پوهیده چې اربان یو بې ضرر ه انسان دې خوبیا هم یو اروپایی او عیسوي نژاده وګړې دې نو په دې خاطر یې پرې څه شک کیده . هغه غوښتل د اربان څخه لږ څه نور هم وپوښتي خو په دې وخت کې اربان په خپله خبرې پیل کړې او ویې ویل:

« درونده دوسته ! … ته به زما په خبرو ډیر حیران پاته شې او خوشحاله به هم شې چې ما اسلام منلې دې او دبغاوت په ورځو کې چې کله زه په خپل کور کې بند پاته و م نو ما دقران کریم دلوست هڅه هم کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ډيره حيرانونکې ده ......تا اسلام قبول کړې دې ؟.... اوس خو ته نه يوازې زما دوست يې بلکه مسلمان ورور مې هم يې ...... خو په تاکې دا بدلون څنګه راغې ؟ او دا چا په کومک درکې راغې ؟ ...

د قاسم په خبرو کې ريښتيا هم حيرانتيا وه خو کله چې اربان ورته دخپل مهربان نوم وواېه نوقاسم دحيرانتيا څخه يو ټکان وخوړ ځکه چې اربان ورته وويل:

« په ما کې دا بدلون زما د وريرو مريم اوحميرا په مهربانۍ سره راغلې دې ، زما دا وريرې ډيرې مهربانه دې ،هغوې پخپله هم اوهغو پلار عباس هم نوي مسلمانان دي ،مونږ ټول غواړو قرانکريم ولولو ،اوس مونږ دخپلو ځانو له پاره يو استاد هم نيولې دې ،ته خو کله زمونږ کور ته راشه ....»

قاسم ته دا خبره داسې ښکاره شوه لکه يو ناڅاپه چې په هوا کې الوتې وي، د ډيرې حيرانتيا له وجهې يې دخولې څخه خبره نه راوتله. ځکه هغه عباس ، حميرا او مريم درې واړه پيژندل ، بلکه دهغوې نومونه هم قاسم ايښودي و. هغه به د بوسنيا هغه شهزادګۍ څنګه له ياده ويستلې وې چې په همغه لمړۍ ورځ يې د ينې چرې د پنځه زره کسيز فوځ دسالار سره ټکر کړې و. هغه په دې هم حيران و چې هغوې څنګه او څه ډول دلته اورنه ته رارسيدلې دي. اوبيا د اربان سره يوځاې دوې ټول په يوه محله کې اوسيږي. دهغه سترګې دحيرانتيا څخه خلاصې پاته شوې وې اوپخپلې بې علمۍ يې افسوس کاوه. هغه اربان له ځآنه سره واخست او په يوه قهوه ځاې کې ورسره کيناست او تر ډيره پورې يې ددې بوسنيايي نوو مسلمانانو په اړه ورسره خبرې کولې. اربان ورته وويل چې هغه د سلطان او د مسلمانو عسکرو له پاره يو منجنيق شکله توپ جوړوي اوتر څنګ يې غواړې د سلطان سره ووينې. د قاسم له پاره دا ټولې خبرې نوې اوحيرانونکې وې ،هغه داربان سره ژمنه وکړه چې سبا به يې د سلطان سره د کتلو له پاره محل ته وړي. هغه د اربان څخه دهغه د اوسيدو د ځاې ادرس هم واخست. او په دې ژمنه يې ترې رخصت واخست چې هغه به نيغ په نيغه سلطانی قصر ته ورځې او د اربان د نوې توپ د جوړښت په اړه به ورسره خبرې کوي. ترڅنګ به يې سبا د اربان له پاره دسلطان سره د کتلو وخت هم وغواړی. د يوې اوږدې ليدنې وروسته هغه داربان څخه رخصت واخست او دسلطاني قصر په لور روان شو.

قاسم سلطان ته د اربان په اړه معلومات ورکړ اودهغه د نوي ايجاد په اړه يې هم ورته تفصيلي معلومات ورکړل. سلطان ډير زيات خوشحاله شو او په پوره شوق سره يې د اربان سره د کتلو وخت ورکړ. قاسم ترې د سبا له پاره وخت غوښته خو سلطان دسبا پورې صبر ونه کړ ، قاسم يې له ځانه سره ستون کړ او د هغه څخه يې د اربان پوره پته او ادرس واخست او خپل سرکاري ملازمين يې دهغه د باعزته راوستلو په خاطر دهغه پسې ور واستول. قاسم داربان په اړه سلطان ته هر څه ويلي و. خو دبوسنيايي شهزادګۍ اوعباس په اړه يې ورته هيڅ و نه ويل. معلومه نه ده چې قاسم به په دې اړه دکوم مصلحت څخه کار اخست. قاسم د سلطان دهدايت په اساس هملته په محل کې پاته شو او داربان د راتلو انتظار يې پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر لږ وخت وروسته ستر اهنګر اربان په پوره درنښت سره دسلطان په خدمت کې حاضر کړل شو. دا سلطان خاص دیوان ځای و. اوپه دې ځآې کې دسلطان تر څنګ دغه ستر اهنګر او قاسم ناست و. اربان د دې ناڅاپي راتلو په اساس تر یوه ځایه حیران و خو اندیښمن نه و. سلطان ددې اهنګر د ښه راغلاست له پاره دخپله ځایه پورته شو، په دې کار سره د اهنګر اربان په سترګو کې یوځل بیا حیرانتیا را وځلیده. ځکه هغه به کله کله د قسطنطنیې دقیصر په دربار کې حاضریده خو دمسلمانانو دسلطان په کتلو سره دهغه د زړه څرنګوالې بدل شوې و. هغه په دې فکر کې شو چې ایا پادشاه د پادشاهانو پرته دنورو عادي خلکو د استقبال له پاره هم را ولاړیږي. خو هغه په دې نه پوهیده چې سلطان مراد خان ثاني یو درویش صفته انسان دې، اربان پخپله هم یو درویش صفته اوفلسفي انسان و. په همدې خاطر یې دسلطان په خندا کې دخپل ځان له پاره دخپلولۍ څپې وکتلې، سلطان د اربان سره دخبرو په وخت کې وویل: «مونږ دخپل دروند میلمه څخه ناخوالې یو .... ځکه چې د قسطنطیه ستر اهنګر د نژدې څلورو میاشتو را هیسې دلته په اورنه کې میشت دې خو زمونږسره یې دکتلو له پاره زحمت نه دې ویستلې.»

خو اربان ورته په عجیبه توګه ځواب ورکړ. هغه ورته وویل:

«مونږ په سلطاني ذوق ډیر ښه پوهیږو ......دخانه بدوشو کوم پادشاه نه وي چې مونږ یې په خدمت کې حاضر شوي وې... زه د ظلم څخه کرکه لرم، نو زه د ظلم د له منځه وړلو په خاطر د اسلامي فوځ له پاره یوه تاریخ جوړونکې وسله جوړوم. خو فقیر دهغو انعاماتو او اکراماتو څخه چې دسلطان لخوا دا ډول فنکارانو ته ورکول کیږي بې پرواه دې.»

دسلطان له پاره دا ډول خبرې چې په هغې کې یو ډول معنویت و ډیرې په زړه پورې ښکاره شوې، که څه هم هغه د یوه اجنبي او ناپیژندل شوې انسان له اړخه وې خو سلطان یو درویش صفته انسان و اودهغه هیڅ خبره یې هم بده وا نه خستله. خو په نرۍ شانته خندا کې یې وویل:

«مونږ پوهیږو چې شاهي انعامات د داسې ستر اهنګر دفن قیمت نه شي ګرزیداې، خوبیا هم شاهي انعامات د ظل سبحاني له اړخه یوه عطیه ده چې باید په فخر سره ومنل شي.»

خو دا ځل هم سلطان ته د یوه ریښتونې درویش ځواب اوریدل ور په غاړه و.

«درونده سلطانه! انعام خو به مونږ تاته درکوو. او په حقیقت کې همدا زمونږ انعام باید تر څو چې دنیا اباده وي دظل سبحانې له اړخه یوه عطیه وګڼله شي. هغه هیرې او جواهرات چې سلطان یې داسې یوه فنکار ته بخشش کوې یوازې څومیاشتې اویا څو کاله دوام کولې شی، خو هغه انعام چې مونږ یې عثماني سلطنت ته ور بښو په زرګونو کاله د عثماني سلطنت له پاره د ویاړ او عزت سبب ګرځي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو دسلطان په سترګو کې داهنګر له پاره د تحسین او ستاینې احساسات را پیدا شوي و . دهغه په مخ باندې دسلطاني قهر و غضب نښې بلکل له منځه تللي وې، هغه ورمخته شو او د اربان په اوږه یې لاس کېښود او ورته یې وویل:

« واي قسمته !.... مونږ د عثماني سلطنت له پاره د معزز میلمه انعام د سر په سترګو منو. مونږ دا منو چې مونږ خپل دربار ته ددومره ستر اهنګر د رابللو غلطي کړې ده ، حق دا و چې مونږ ددې ستر فنکار د فن د ستایلې اوارزښت له پاره دهغه حضور ته ورغلي واي. پر مونږ ستاسې خبرې ډیرې ښې و لګیدې. ترڅنګ یې مونږ ستا د توپ د جوړولو په اړه هم اوریدلي دي ، خو مونږ غواړو چې تاسې دا نوي وسله د عثماني سلطنت دخزانې په بسپنه جوړه کړئ. مونږ به همدا نن د یوې سترې کار خانې د جوړولو حکم ورکړو ترڅو په هغې کې ستاسې د څارنې لاندې هر ډول فوځي سازو سامان جوړ کړل شي.

دقاسم له پاره داربان او سلطان تر منځ خبرې په زړه پورې هم وې او مزه یې هم ترې اخسته. هغه د اربان په جرء ت باندې هم حیران و او د سلطان په فیاضۍ باندې هم. خو هغه تر اوسه پورې ددې خبرو څخه مزه او خوند اخسته چې شاهي دروازه چې راغې او دده ټول حواس یې رابیداره کړل. ځکه چې شاهي دروازه چې پادشاه ته د شاهي ادابو د په ځای کولو وروسته وویل:

« درونده سلطانه ! سلیم پاشا طبیب د ډیرې مودې د ناروغتیا وروسته غواړې ستاسې حضور کې باریابه شي.»

دقاسم له پاره د طبیب پاشا نوم اوریدل یو ډول احساساتي پیغام و. ځکه دا همغه شخص و چې په خپل وخت یې دهغه د ورندار دعلاج کولو څخه ډه ډه کړې وه. خو هغه ته دا ډاګیزه نه وه چې هغه د څه وخته راهیسې علیل او ناروغه شوې دې او کله یې روغتیا پیدا کړې ده. خو ده هم دڅو ورځو راهیسې دسلیم پاشا شکل اوقواره نه وه کتلې. خو اوس چې دربان د سلیم پاشا نوم واخست نو د قاسم شپږم حس را ژوندې شو ، هغه د یو ځل بیا شاهي سراغ رسان کیدو وروسته دا عملي حکمت خپل کړې و چې هغه به یو وخت ددې وګړې څلور خواوې معلومولې ، خو نن په ناڅاپې توګه سلیم پاشا پخپله دهغه مخې ته راغلی و .

کله چې سلیم پاشا خاص دیوان ته را ننوت نو د ادب له مخې یې سر ټیټ کړی و ، دسلطان مخې ته په رسیدو سره یې سر اوملا دواړه ټیټ کړل. خو کله یې چې سر راپورته کړ نو سترګې یې په قاسم بن هشام باندې و نښتې ، دقاسم په لیدلو یې زمکه د پښو څخه و تښتیده ، پښې یې په لړزیدو شوې او نژدې و چې په فرش باندې را پریوځي. سلطان او اربان دهغه دغه ډول حرکت ته په پوره حیرانتیا سره کتل.

دسلیم پاشا د څیرې رنګ اوښت را اوښت. او په غیر ارادي توګه یې خپل زخمي لاس چې په پټۍ یې تړلی و دخپلې چپنې لاندې پټاوه. دهمدې حرکت له مخې دهغه بدقسمتي پیل شوه. ځکه دقاسم له پاره دهغه لاس ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهمیت درلود. قاسم ډیر زیات په دې حیران وو چې د یوه نه جنګیدونکي طبیب لاس څنګه اوڅه ډول زخمې شوې دې؟ دهغه په ذهن کې دخپلې ورندار اخري جملې ګرزیدلې چې اغا حسن ته یې ویلي و: دهغه ورندار د روح ورکولو په وخت کې ویلي وو ...... چې هغې د نقاب پوشاونو سردار زخمې کړې دې..... دا چې ولې هغه ته د سلیم پاشا د زخمې لاس د کتلو وروسته دا جمله را یاده شوه ،اودهغه دماغ یې په حرکت راوست او او دبدن ویښتان یې پورته ودریدل. هغه ته دخپلې ورندار د وفات په وخت کې اغا حسن ته کړې خبرې په پوره ډول په یاد وې. څکه کله چې هغې سلیم پاشا زخمی لاس وکوت نو هغې غوښتل په اشارې سره سلیم پاشا او اغاحسن ته څه ووایي. ... قاسم ته داسې احساسیدله چې ورندار یې په اخري وخت کې سلیم پاشا پیژندلې وی اودهغه په لور یې په ګوته اشاره کړې وې. اوس نودقاسم د ملا په هډوکو کې یو قسم برق راپیدا شوې و ، دهغه دماغ تر ډیر زیات فشار لاندې و او جاملې یې سره ورغلې وې. څکه چې هغه یو په بل پسې ډیرې کړې یو دبل سره یو ځاې کولې. څکه دهغه په ذهن کې دا خبره وه چې سلیم پاشا په اخري وخت کې دهغې ښځې د کتلو څخه انکار کړې و. قاسم په دې فکر کې شو چې هغه به همغه وخت و چې طبیب په خپلو زخمونو پټۍ اینبودلې. هغه په دې ډاډمن شوې و چې سلیم پاشا دهغه دکورنۍ اصلي قاتل دې خو دسلطان خبرو د هغه دفکرونو ځپې خپل ځان ته متوجه کړې وې ، سلطان سلیم پاشا ته وویلې:

«درونده طبیبه ! په مونږ ، د شاهي ادابو دغه طریقه چې تا وکړه ، ښه و نه لګیده. مونږ رکوع او سجود یواځې اویواځې د الله تعالې حق ګڼو ، خو په هر حال مونږ ستا د ناروغتیا په اړه افسوس کوو ، مونږ وکتل چې ستا په لاس باندې پټۍ تړلې ده ، داسې بریښې چې ستا د لاس ګوتې زخمې شوې دې.....ددښمنانو په برخه دې وې پرې شوې خو به نه وې ؟اوریدلې مې دې چې تاسې هم دبغاوت په ورځو کې دکومې پیښې سره مخ شوې واست.»

دبغاوت په ورځو کې د سلیم پاشا نوم اخستل د قاسم له پاره یوه بله کړۍ وه ، څکه ددې نه دا ډاګیزه کیده چې دسلیم پاشا زخم دهمغې ورځو زخم دې چې دهغه ورندار او پلار په کې شهیدان شوې و. اوبیا کله چې سلیم پاشا دسلطان دخبرې ځواب ووایه نو دقاسم شک په یقین بدل شو. څکه د طبیب ځواب ډیر غیر معقول اود عقل نه لرې معلومیده. سلیم پاشا ورته وویل:

« درونده سلطانه ! ....زه د شاهي ادابو څخه نا واقفه ، په خپل دغه کړچار باندې ډیر زیات شرمساره یم.....دورند سلطان زما د زخمې لاس په اړه و پوښتل....زما دا لاس ، دیوې نسخې د تیارولو په وخت کې په تیزابو کې و سوځید او له منځه ولاړ. همدا علت دې چې زه د څو ورځو راهیسې په کټ کې پروت یم.»

دطبیب خبره په دې خاطر معقوله نه بریښیده چې دهغې دپټې څخه دا ډاګیزیده چې دهغه د لاس ګوتې پرې شوې دي. اوتر څنګ یې دا خبره هم وه چې په تیزابو د ناڅاپې لاس ککړیدو څخه دومره زیان لاس ته نه رسیږي ، طبیب په محل کې ناست یوه پادشاه ته دا دوکه او فریب ورکولې شو خو دقاسم په څیر ذهین دماغ ته یې فریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو ورکولې. په همدې وخت کې قاسم ته يو خيال اوفکر راغې ، په دې خاطر يې د سلطان په دربار کې په پوره ادب سره وړانديز وکړ:

« درونده سلطانه ! په ډير احتياط سره يوه خبره کول غواړم »

سلطان د قاسم په لور مخ کړ او د سر په خوزولو سره يې د خبرو کولو اجازه ورکړه. قاسم ورته بيا وويل:

« درونده سلطانه ! دحيرانتيا خبره ده ...... شاهي سراغ رسان ته د يوه ځايه درې پرې کړل شوې ګوتې تر لاسه شوي دي چې مونږ د پلټنې له پاره په مشک و کافورو او قدرتي واوره کې خوندي ساتلي دي... که چيرې شوخي يې و نه ګڼئ نوزه دا ويل غواړم چې طبيب سليم پاشا د معظم سلطان څخه کومه خبره پټول غواړي....»

قاسم خبرې کولې او د سليم پاشا پښې د ويرې څخه په لړزه وې ، قاسم چې کله د درې پرېکړل شوو ګوتو خبره وکړه نو د سليم پاشا راز يې را وسپړود. دهغه مخ د خزان شوي پاڼې په څير زير ګرځيدلې و، او د پادشاه سترګو ته د کتلو په ځاې يې زمکې ته په کتلو پيل وکړ .دهغه ټول دغه حرکتونه د سلطان له پاره ډير حيرانونکې و ....په همدې خاطر سلطان په لوړ اواز ورته وويل:

« طبيبه !.... پښې دې ولې لړزيږي...؟داسې بريښې چې ته هم دهغو دريو ګوتو سره کوم تړاو لرې ؟»

د سلطان خبرو د سليم پاشا هغه پاته توان هم له منځه يوړ. په همدې وخت کې قاسم يو ځل بيا وويل:

« درونده سلطانه !ما ته دغه درېواړه پريکړل شوې ګوتې په خپل کور کې تر لاسه شوي دي ، اوزما ورندار دخپل مرګ نه څو لمحې مخته ويلي و چې هغې د حمله کونکو سردار زخمي کړې و. خو درونده سلطانه ، دا ضروري نه ده چې دا ګوتې دې حتما د طبيب سليم پاشا ګوتې وي.»

قاسم دغه اخري خبره قصدا لږ څه په زوره وويله. اوس نو هغه په سليم پاشا باندې نيغ په نيغه خپل شک څرګند کړې و. د سليم پاشا حالت هم هره ګړۍ خرابيده. ژبه يې ګونګه شوه ، قاسم چې ښکار په جال کې وکوت نو سمدلاسه يې وويل:

« درونده سلطانه !..... د پټې محکمې ماهرينو ددې پريکړل شوو ګوتو او د سليم پاشا د لاس د نورو ګوتو د کتلو وروسته په اسانۍ سره ويلاې شي چې ايا دا ګوتې د سليم پاشا دي او که د بل چا.......»

د قاسم خبرې لا په پوره ډول پاې ته نه وې رسيدلې چې په همدې شاهي خونه کې يوه په زړه پورې پيښه رامنځته شوه. کله چې سليم پاشا خپل ځان په جال کې را ښکيل وکوت نو د برق په څير يې خپل چپ لاس د چپنې لاندې ور ننويست او يو تيز ځليدونکې خنجر يې ترې را وويست. او په سلطان مرادخان ثاني باندې يې حمله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره زياته ممکنه وه چې دهغه ددغې ناڅاپي حملې په واسطه دسلطان ګېډه څيرې کړل شوې وې. خو په همدې وخت کې اربان يو عجيبه حرکت وکړ او د برق په څير د سلطان مخې ته ودريد. د سليم پاشا خنجر د اربان تر پښتيو پورې ورسيد خو سلطان ددې حملې څخه خوندي پاته شو.

همدومره مهلت کافي و ، قاسم سمدلاسه خپله توره بې نيامه کړه او مخته راغې او دسليم پاشا په څټ يې ور کېښوده. سلطان هم په لوړ اواز سره دروازه چې را وباله ، دروازه چې هم خپل توره را وويسته او په يوه منډه دننه راننوت ، سليم پاشا بې وسه کړل شوې و خو په اخر کې يې تر ټول زيات حيرانونکې عمل انجام کړ ،خپل خنجر يې د اربان د پښتيو څخه را وويست او په خپله ګېډه کې يې ور ننويست. دهغه رازونه راډاګيزه شوي و اوهغه ته نور ژوندي پاته کېدل شوني نه و ، په دې خاطر يې ځان وواژه.

بله ورځ د غدار سليم پاشا لاش د ښار په لويه څلورلارې کې په چپه را ځوړند کړل شوې و، تر څنګ يې په يوې کوچنۍ ستنه يو شاهي اعلان هم را ځوړند شوې و چې په هغې کې دغدار سليم پاشا ټول کړچار ثبت شوې و. قاسم خپله بدله اخستې وه اودهغه تر ټولو ستر دښمن او د هغه په کور د حمله کونکو نقاب پوښانو سردار ، دقيصر خطرناکه جاسوس خپل انجام ته ور رسيدلې و. قاسم نن ډېره خوشحاله و او دهمدې خوشحالۍ په حالت کې د اربان دکور په لور ولاړ. هغه غوښتل اوس دخپلو بوسنيايي ميلمنو پوښتنه وکړي. خو په حقيقت کې دهغه په زړه کې يو نامعلوم غل پټ شوې و. داسې بريښيده چې هغه به د بوسنيايي شهزادګۍ د کتلو غلا وی. کله چې د اربان دروازې ته ورسيد نو ډېر زيات احساساتي معلوميده. په لړزيدلې لاس يې ددې ښکلې کور دروازه ور وهله او هملته يې لږه شيبه انتظار وکړ.

څو لمحې وروسته ،کله چې دروازه پرانستل شوه نو د احساساتو په بهير کې وچ کلک ودريد. ځکه دهغه تر مخه د بوسينا شهزادګۍ ولاړه وه. قاسم دا هيله هم نه درلوده چې شهزادګۍ حميرا دې پخپله ددروازې دپرانستلو له پاره دلته راشي. هغه حيران و ، خو شهزادګۍ حميرا دهغه څخه زياته حيرانه ولاړه وه ځکه هغې ته دخپلو خوبونو شهزاده په ډيره نا څاپي توګه په مخکې ولاړ و. شهزادګۍ په خلاصو سترګو د قاسم خندانه او دخوشحاليو نه ډکه څيره کتله ، هغې په دواړو لاسونو د دروازې دواړه پلې را پرانستې خو خوله يې د سکتې د حالت په څير وازه پاته وه. دقاسم دغسې ناڅاپي را تلل د کومې معجزې څخه کم نه و. هغې فکر کاوه چې دمسلمانيدو نه وروسته يې خپله لمړنۍ دعا قبوله تر سترګو شوه. ځکه هغې د مسلمانيدو وروسته دخپل خداې نه د قاسم سره د بيا کتلو دعا کړې وه. او نن قاسم پخپله دهغې تر مخه ولاړ و.

کله چې ددواړو اړخونو حيرانتياوې خپل اخري حد ته ورسيدې نودواړو کتونکو يو بله ته په ډېره په زړه پورې توګه وخندل او بيا شهزادګۍ د قاسم څخه د پوښتنې پرته ، قاسم ته د دننه راننوتلو ست وکړ او پخپله په يوه منډه ولاړه او عباس او مريم يې د قاسم د ناڅاپي راتلو څخه خبر کړل. په دې وخت کې اربان په کور کې نه و خو دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې واړه قاسم په خپلو لاسو کې واخست ، دقاسم په راتلو سره دشهزادګۍ کور څلور ځله روښانه شو . هغه ولاړه او په یوه ځآې کې کیناسته ، عباس د احساساتو او خوشحالیونه په ډک اولړزانده اواز وویل:

« حمیرا لورې ! وګوره ! ..... ستا زلمې په خپله راغې ، زه ښه پوهیږم چې تا ته دهمغې لمرۍ ورځې څخه د قاسم سره مینه پیدا شوې ده ،نو اوس چیرې پټیږې ؟»

د حمیرا څیره د حیا اوشرم څخه د انارو د ګل په څیر و ګرزیده . سمدستي پورته شوه او دننه ولاړه . خو عباس هغه د لاسه و نیوله « لورې ! ځې چیرې ؟ همدلته کینه ، دومره موده وروسته قاسم یوځل بیا زمونږ کورته را غلې دې اوته ترې تښتې ؟ خوشبوی او محبت نه پټیږې ، ته خو دا هم نه منې چې ته دلته اورنه ته د قاسم له پاره راغلې یی. »

حمیرا د شرم څخه ویلې کیده . اوعباس یی لاس کلک نیولې و ، بیا یی وویل:

«کاکا ! تا زما ددعاو اغیز وکوت. قاسم بن هشام پخپله زمونږ کورته راغې . ته زما لاس پریږده ترڅو زه دهغه له پاره دخوراک څښاک غم وکړم.»

خو قاسم ددې ټولو حالاتو څخه ډیر زیات اغیزمن شوې و ، ځکه هغه هیله نه درلوده چې معامله دې تر دې ځایه پورې ورسیږې. هغه خو د خپلې مارسي « غزاله» سره مینه کړې وه . خونن یی په زړه کې شهزادګۍ حمیرا د مینې شمه بله کړې وه . خو دهغه په ذهن باندې د مارسي مینه سپره وه. هغه ته داسې بریښیده لکه دمارسی د روح سره چې بې وفایی کوي . ددې وروسته چې هغه څومره وخت ددې خلکو سره کیناست په همدې احساساتو کې سوزیده ، او د حمیرا مینه یی د سترګو غورزوله. ان تر دې چې کله چې هغه د شپې له مخې بیرته کورته ستنیده نو حمیرا ورته وویل:

« دورنده سالاره !.... ته ماته ډیر ورک ورک معلومیدې. داسې ډاګیزه کیږې چې ستا په زړه کې د بل چا د مینی چراغ لمبې وهي. نو که چیرې زما له خاطره تاته کوم تکلیف در رسیدلې وي نو دزړه نه در څخه بښنه غواړم.»

قاسم ټکان وخوړ ځکه حمیرا په هغه پوه شوې وه .هغه یو ځل بیا ونښت. له یوه اړخه دمارسی یاد هغه ځوراوه . خو دبله اړخه کوم غیبي ځواک هغه دحمیرا په لور کشاوه . دهغه د زړه تارونه سست شوي و نو په معذرت کونکې لهجه یی وویل:

« نه ، درندې شهزادګۍ ! ...زه ستا د محبت وړتیا نه لرم. ما پخوا د یوه چراغ د روښانه کولو هڅه کړې وه خو اوس هغه روښانه چراغ د زړه په تیارو کې ډوب شوې دې ، ته ډیره درنه او محترمه یی. او زه تاته په زړه کې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول خاصه جذبه احساسوم. خو زه نه غواړم تا په دوکه کې واچوم. ستا څخه مخته یوې نجلۍ زما سره د ژوند د ملګرتوب ژمنه کړې وه ، او همغه زما لمړنۍ محبت و .»

« لمړۍ محبت و؟... د وه څخه دې مقصد څه دې؟ هغه خوش قسمته اوس چیرې ده ؟»

د قاسم په سترګو کې د غم ماښام را ځلیدلې و . هغه پورته اسمان ته په کتلو سره وویل : « هغه شهیده شوې ده . د اسلام دمحبت په نامه ، هغه اوس په دې نړۍ کې نه شته.»

«د حیرانتیا خبره وه چې یو سالار او سپاهې دیوه شهید په شهادت باندې دومره غمژن دې. ما خو په اسلام کې اوریدلې دې چې شهید ژوندې وي نو بیا ته ولې دهغې د بیلتون درد احساسوې. زه له تاڅخه یوازې همدومره غواړم چې کله هم په خپله زړه کې دهغې خوش نصیبه د بیلتون دروندوالې احساس کړې نو ما بدنصیبې ته هم دخپل دغه غم څخه د لږ د پورته کولو اجازه ضرور راکړه»

دحمیرا په سترګو کې غټې غټې اوښکې را تویدې. څرګنده نه شوه چې قاسم ته څه ور پیښ شول چې یو ناڅاپه یې د شهزادګۍ حمیرا لاس و نیوه او ورته یې وویل:

« نه ، حمیرا ، نه ! ته ماته دومره درنښت اوعزت مه راکوه چې زه ستا په مینه کې را ښکیل شم. اودخپلې غزاله یاد له یاده و کاږم .»

حمیرا خپلې د اوښکو ډکې سترګې راپورته کړې ، په دې وخت کې دهغې د سترګو څخه داوښکو څاڅکې لاندې راپریوتل. داوښکو دغو څاڅکو د هغه په رخسارونو باندې سترې ستړې کرښې جوړې کړې. حمیرا د یوې سلګۍ کولو وروسته وخندل ، دقاسم څخه یې خپل لاس ازاد کړ او سر یې ټیټ کړ او ویې ویل:

« ته به بیا کله راځې ؟اوس خو به زما غوږونه د دروازې په لور متوجه وي»

قاسم د حمیرا په رخسارونو باندې د جوړو شو لکیرو ځلا کتله او د تلو دمخه یې وویل:

« زه به هرو مرو راځم ، د عباس کاکا او ستاسې د ټولو سره به وینم ......تاسو هم زما کورته را شئ ، تاته ما وویل چې زما کور زما د ورندار اوپلار د شهادت وروسته وران ویجاړ دې او زما وریرونه علې او عمر ډیر زیات خفه دي. که چیرې تاسې هلته راشئ نو دهغوي زړونه به باغ باغ شي.»

قاسم رخصت واخست او نیغ کورته ولاړ. هلته په کور کې ورته یو میلمه منتظر ناست و . دا دهغه ځانګړې استاذې و . اوقاسم هغه د غزالې د پیدا کولو په اړه البانیه ته استولې و . کله چې قاسم خپل استاذې وکوت نو ساه یې بې واره شوه. ځکه هغه نه غوښتل د غزاله په اړه کوم بد خبر واوري. ددې استاذې په کتلو سره دهغه ټول امیدونه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل بیا را و ټوکیدل. خو کله یې چې د خپل استاذي خبرې واوریدې نو یو ځل بیا یې په زړه کې داغونه راپیدا شول. ځکه د هغه استاذې ورته وویل چې د غزاله په اړه یې هیڅ ښه خبر نه دې تر لاسه کړې ، بلکه د سلطان مرادخان ثاني لیږل شوې استاذی هم د سکندربیګ په واسطه وژل شوې دې.

هغه ته به غزاله څنګ تر لاسه شوې وې. اویا به د هغه جاسوس څه ډول دغزاله خبر تر لاسه کړې و . ځکه چې غزاله اوس د سکندر بیګ په محل کې هم نه وه. نن قاسم په پوره توګه ډاډمن شوې و چې غزاله په دې نړۍ کې نه شته.

هغه تر څو ورځو پورې دغزاله د یادونو په فکرونو کې ډوب و . خو اخر تر څه وخته پورې ؟... بلاخره څو ورځې وروسته هغه یو ځل بیا د اربان کور ته ورغې. اوس نو دهغه د ژوندانه نوې پړاو پیلیدونکې و ، تر څو میاشتو پورې هغه داربان کور ته ته راته. ترڅنګ به یې شهزادګۍ حمیراهم د قاسم کور ته تلله را تلله. دا لیدنې کتنې ډیرې ژر په مینې اومحبت باندې بدلې شوې. اوبیا یوه ورځ ددواړو کورونو په خوښې اوخوشحالۍ سره د بوسنیا شهزادګۍ حمیرا د قاسم د ناوې په څیر دهغه کورته راوړل شوه.

*****

ددوه ځلي تجربو وروسته سلطان مرادخان ثاني دا ډیره ښه احساس کړې وه چې اوس هم سلطان محمد خان د سلطنت د امورو د پرمخ بولو له پاره پوره وړتیا نه لري. ځکه چې هغه په یوه کال کې دوه ځله په تخت کیناست خو هر ځل سلطان دخرابو حالاتو د سنبالولو له پاره بیرته راستون شوې و . په دې خاطر هغه بیا د تخت دپریښود و فکر و ځنډاوه. سلطان ددرې ځلې تخت کیناستو نه وروسته ، خپل زوې شهزاده محمد کوچنۍ اسیا ته ولیږده ، تر څو هلته پاته شي اودسلطنت د امورو د پرمخ بیولو تجربه ترلاسه کړي. پادشاهان د تخت نه لاس په سر کیږي خو دوه ځلي د تخت د پریښودو وروسته بیا په تخت دکیناستو کار ،په تاریخ کې ، یواځې دسلطان مرادخان ثانی پورې اړوند دي. خودغه فلسفی سلطان ددنیاوی عظمت د بې حقیقتۍ څخه دخبریدو په اساس یو ځل بیا د څلویښتو کالو په عمر ګوښه ناسته اختیار کړه.

خو دا ځل په تخت د کیناستو سره سم یې عیسوی دنیا ته بیا د سر را پورته کیدو موقع ورنه کړه. او نه یې پرته له کومه علته پر هغوې ظلم اوتیرې وکړ. دا په داسې حال کې چې دقسطنطنیې پادشاه په خپلو شرارتونو اوفساد اچولو کې همغسې مصروف و اوهمغه د عثمانیانو پر خلاف د فساد تر ټولو ستره سر چینه ګڼل کیده. دسلطان له پاره دهغوې ځپل دومره ستونزمن کار نه و . خوهغه قیصر هم په خپل حال پریښود . البته ، دا ځل هغه د «موریا» په لور توجه وکړه. په دې ځاې کې د قیصر دوه ورونه «قسطنطین» او « تهامس» په بیلو بیلو ځایو کې حاکمان وو . قسطنطین دخپلو ملکیتونو دخوندي ساتلو له پاره د « دکورت دخاکنا» کلابندي وکړه او بیا دهغه ځآیه د ډاډمن کیدو وروسته یې د«تهیبس » په ښار چې پولو ته نژدې یې عثماني سلطنت پروت حمله وکړه. سلطان ددې حملې څخه دخبریدو سمدستي وروسته د موریا په لور مخه کړه دهغه ترمخه د « فورنت» ټینګه کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته وه ، خو د ستر اهنګر اربان د جوړو کړل شوو توپونو د ګوله باریو په واسطه داکلا ډیره ژر له منځه ولاړه ، دا لمړنۍ جنګ و چې فوځ په کې توپونه استعمالول پیل کړي و ، د فورنت د فتحه کېدو وروسته د موریا په لور لاره بلکل خلاصه شوې وه ، په دې اساس د قسطنطین او تهامس له پاره د سلطان تر مخه د اطاعت کولو بله لاره نه وه. هغوې خراج ورکول ومنل او موریا هم د عثماني سلطنت د باج ورکونکو ریاستونو په ډلې کې راغې.

د بله اړخه دعثماني سلطنت پخوانې دښمن « هونیاډې » دخپلې تړون ماتونې په اساس او په اورنه کې دماتې وروسته تر اوسه پورې د مسلمانانو پر خلاف د فوځونو په راټولولو بوخت و . دهغه په لمن د وارنه د ماتې داغ د ورایه ځلیده . په دې اساس هغه په څلور و کالو کې د خپلو زیاتو کوښښونواتیا زره وسلوال فوځ تیار کړ او د ډینوب د دریاب څخه تیرشو او د سربیا سیمې ته ور ننوت. دلته دسربیا او بوسنیا خلک یو ځل بیا دهغه په فوځ کې ورګډ شول ، په داسې حال کې چې دسربیا او بوسنیا خلکو د وارنا د جنګ نه وروسته د عثماني سلطنت اطاعت منلې و . خو د هونیاډې هځو ددغو دواړو سیمو حکومتونه د خپلو ژمنو څخه واړول ، اود مکملې ازادۍ غوښتنې دا دواړه حکومتونه د عثماني سلطنت په مقابل کې د جنګ میدان ته راښکل. د ځواک دا ازمیښت د « کسوه » به میدانو کې تر سره شو . په دغو سیمو کې نژدې شپېته کاله مخته لمړني عثمانی فرمانروا ، لمړې مرادخان دسربیا ځواکونو ته ماتې ورکړې وه. اوهغه یې دخپل ځان تابع کړې و . دا ځل ددرې ځلو سختو جګړو وروسته د شعبان په ۱۸ مه ۸۵۲ هجري کال یا د اکتوبر ۱۷مه د ۱۴۴۸ کال سلطان دهونیاډې فوځونو ته سخته ماتې ورکړه او د کسوه ددغه ستر جنګ په پایلو کې دسربیا ازادي سلب کړل شوه او د عثماني سلطنت برخه وګرزیده . دا ځل سلطان دسربیا څخه دخراج په اخستو اکتفا و نه کړه. په دې جنګ کې د پخوا په څیر قاسم بن هشام په پوره میړانه ګډون درلود . اوس نو هغه یوائې یو مجاهد او سپاهي نه و بلکه د سپوږمۍ په څیر د یوې کوچنۍ لور پلار هم و. هغه دخپلې لور نوم «غزاله» ایښې و خو کله کله به یې ورته مارسي هم ویله.

دکسوده دجنګ دپای ته د رسیدو وروسته سلطان ، سکندر بیګ ته دهغه د قاصدانو د وژلو او نورو درنو جرایمو په خاطر سبق ورکول غوښتل ، په همدې خاطر یې په البانیه باندې حمله وکړه. خو دسکندر بیګ د ماهرانه چالونو په واسطه البانیه د سلطان لپاره ستونزمنه وګرزیده ، دهغې سیمې د تاو راتاو درو او غرنیو موقعیتونو په اساس عثماني فوځونو ته د خلاص جنګیدو فرصت په لاس ور نه غې ، په دې اساس د زیاتو هځو سره سره بیا هم سلطان البانیه فتحه نه شوه کړای. ان تر دې چې په همدې وختو کې د سلطان مرادخان ثاني د وصال وخت هم را نژدې شوې و.

د ۸۵۵ هجري کال د محرم الحرام په پنځمه ، یا د ۱۴۵۱ ز کال د فبروري په نهمه سلطان مرادخان ثاني د عثماني سلطنت په مرکز «اورنه» کې ساه ورکړه او تجهیز او تکفین یې ددې سلطنت په پخواني پایتخت « بروصه » کې تر سره شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو عمر او علي هم په ترتيب سره نهه او دولسو کلن شوي و، او کوچنۍ غزاله به چې اوس کله د مور سره قدم واهه نو د مور ګوته به يې نه نيوله. هغې په پنځه کلنۍ کې خپل قدم ايښوده، د دغې شپږو کالو په موده کې د قاسم زړې مور هم خپل ژوند له لاسه ورکړې و. او د خپل رب لورې ته ورغلې وه. د قاسم د هڅو په واسطه طاهر د دوو کالو غم او مصيبت تيرولو وروسته يو ځل بيا واده کولو ته تيار شوی و. په همدې خاطر قاسم د زاړه عباس د لور مريم لاس د خپل ورور طاهر له پاره غوښتې و. خو طاهر ، د مريم څخه کوم اولاد نه درلود. اربان او عباس هم د قاسم سره يو ځای اوسيدل. قاسم اوس يو ډير پوښ او ذهين انسان ګرزيدلې و ، د هغه عمر د سلطان مراد خان ثانې د مړينې په وخت کې نژدې ديرش کالو ته رسيده. خو د هغه پوهه او زيرکتيا د فوځ د ډيرو سترو اوغوره سالارانو څخه هم پورته وه.

خو هغه به اوس هم کله کله د البانيايي کنيزې مارتها د لور مارسی په غم کې ځوريده. کله به يې چې مارسی را ياده شوه نو ډير غمګين به شو. د خپلو همدغو يادونو په خاطر به کله کله د لاله شاهين يادګار ته ورته او هلته به په همغه ځآيو کې چې مارسي به روسره په کې کيناسته، کيناست او پخواني يادونه به يې راتازه کول. د سلطان د مړينې وروسته قاسم ته هم پوره تکليف رسيدلې و ، اغا حسن تر اوسه هم په ينې چرې کې موجود و او اوس د خپلې تجربې په اساس د ينې چرې د ټول فوځ نائب سپه سالار ټاکل شوې و.

د قاسم تر قومندې لاندې هم لس زره عسکر و و. خو د هغه نور ګڼ شمير دوستان يا شهيدان شوي و او يا تر اوسه هم په خپلو همغو پخوانيو دندو کې مشغول وو. په ځانګړې توګه رياض بيګ تر اوسه هم په ينې چرې کې موجود و. د سلطان د مړينې څخه سکندربيګ ډير خوښ شوې و او د ډاډ ساه يې اخستې وه.

د شهزاده عمر اوس پخلنې ته رسيدلې و ، هغه يو ډير ذهين او مبتکر ځوان و. هغه د پلار د وفاته سمدلاسه وروسته د کوچنۍ اسيا څخه را ستون شو او دلته په اورنه کې په تخت کيناست. په دې وخت کې د سلطان محمد خان عمر يو يشت کاله و.

******

يادونه: «د درويش پادشاه» لمړنۍ برخه پای ته ورسيده.

قريب الرحمن سعيد. (۳۱ مارچ ۲۰۱۱ زکال )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلطان محمد فاتح :

# دویمه برخه « تیرې شوې پاڼې »

داځل کله چې سلطان محمد خان په تخت کيناست نو عمر يې تر دوويشت کلنۍ پورې رسيده. دده نه مخته هغه دوه ځلې ، په داسې حال کې چې عمر يې يوائې څوارلس او پنځلس کاله و ، دخپل پلار په ژوند کې په تخت ناسته کړې وه. د سلطان مراد خان ثاني د مړيني سمدستي وروسته د سلطنت اراکينو هغه ته د سلطان دمړيني په اړه خبر ورکړ او هغه هم سمدلاسه او پرته له ځنډه د کوچنۍ اسيا څخه د اورنه په لور را ستون شو. ځکه همدلته دهغه د تخت د کيناستو مراسم هم تر سره کيدونکي و.

سلطان محمد خان د عثماني کورنۍ اوم څوان سلطان و ، د عثماني سلطنت بنسټ اېښودونکې پخپله ( عثمان خان ) و چې د « غياث الدين کيخسرو سلجوقي » زوم و. سلطان محمد خان د عثمان خان د شا څخه اووم نسل جوړيږي ، د عثماني سلطنت بنسټ د نن څخه نژدې يوسلودیرش کاله پخوا هغه وخت کيښول شو چې په ١٣٠٠ عيسوی کال تاتاريانو په کوچنۍ اسيا يرغل وکړ او هلته يې سلجوقي واکمن ( سلطان علاؤ الدين ) اوبيا دهغه وروسته د هغه زوې غياث الدين کيخسرو وواژه. غياث الدين کوم زوې نه درلود ، يوازې يوه لور يې درلوده چې دعثمان خان په نکاح کې وه. په دې اساس د سلطنت اراکينو په يوه خوله او يوې رايې سره عثمان خان د قونيا په تخت کيناوه او دخپل پادشاه په څير يې و منود. په دې توګه د « اسرائيل بن سلجوق » د زوزاکه څخه ، چې په ١٠٧٧ کې يې خپل نظام جوړ کړې و ، په ١٣٠٠ عيسوي کال کې نظام ولاړ او اوپه ځاې يې د عثماني سلطنت جوړ کړل شو. او دې سلطنت تر ١٩١٥ عيسوي کاله پورې دوام وکړ....

دعثماني سلطنت څخه مخته د سلجوقيانو پادشاهي وه ، دهغوې نيکه اسرئيل بن سلجوق نوميده. دا هغه څوک و چې د سلطان محمود غزنوي په حکم د هندوستان کالنجر په عسکري کلا کې اوه کاله بندي شوي و.

دعثماني سلطنت بنسټ اېښوونکې عثمان خان د سلجوقي حکمران په وخت کې د انګورې په سيمه کې د « ارطغرال » په کورنۍ کې پيدا شوي و. دا دسلطان علاؤالدين سلجوقي د حکمرانۍ وخت و. هغه د ارطغرال دميړانې اوهمت د کتلو وروسته ، هغه ته د بازنطينی د سرحداتو جاګير ور و سپاره. سلجوقي سلطان علاؤالدين د ارطغرال خان د احساناتو ممنون او مشکور هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې د سلطان محمد خان قبیله هم په لمړیو کې دهغو مهاجرو قبیلو څخه وه چې د چنگیز خان د حملو څخه یې خپل کلی کور او وطن پریښې و او په دشتو او غرونو کې یې سره تیندکونه وهل. دا قبیله د « ترکانو اوغوز» د قبایلو یوه برخه وه. چې د عثمان خان نیکه دارطغرال خان پلار « سلیمان شاه» په مشرۍ کې خپل هیواد خراسان ( افغانستان ) پریښې و او په مختلفو هیوادونو کې د ګرزیدو را ګرزیدو وروسته د شام « سوریې » په لور ور واړده شوي وو. دوې چې کله د فرات ددریاب څخه تیرشول نو سلطان محمد خان خراساني نیکه ( سلیمان شاه ) په هغه دریاب کې ډوب شو او و مړ. دهغه د مړینې نه وروسته د دې قبیلې ډیره برخه خپره وره شوه ، خو کوم کسان چې پاته شول هغوې د ارطغران خان او دهغه د ورور «دوندارخان» سره یو ځاې د کوچنۍ اسیا په لور روان شول او هلته د سلطان علاؤالدین سلجوقي دسلطنت پولو ته ور ننوتل.

« لارډ ایوسلي د ترکي ایمپایر» تر لیکنې لاندي لیکي چې: چنګیزخان خوارزم شاه له منځه وړې و. اودهغه ټول سلطنت یې دخپلو زامنو تر منځه وویشه. کله چې د خراسان دا ماتې خوړلې در په در شوې قبیله د سلیمان شاه د ډوبیدو او مړینې وروسته د ارطغرال خان په مشرۍ د سلطان علاؤالدین سلجوقي سلطنت ته ور ننوته نو شمیره یې څلورسوه او شل کورنو ته رسیده. ددغو څلوره سوه اوشلو کورنیو دغه ډله دسلطان علاؤالدین تر سیوري لاندې د پنا اخستلو له پاره دقونیا د پایتخت په لور ور روان و چې په لاره کې ارطغرال ته دوه فوځي ډلې په جنګ کې را ګیر ځرګندې شوې. هغه یوه خوا هم نه پیژندله خو کله یې چې وکتل چې دهغوې یوه ډله د شمیرې له اړخه کمه او بله ځواکمنه ده نو سمدلاسه د خپلو ۴۴۴ ملګرو سره یو ځاې دهغه کمزورې ډلې خوا یې ونیوله او داسې زبردسته حمله یې وکړ چې دښمن یې تیښتې ته و هڅاوه. دښمن میدان پریښود او خپلې پښې یې سپکې کړې. دفتحې نه وروسته هغه ته ډاګیزه شوه چې دهغې ډلې مرسته یې چې کړې ده هغوې د سلطان علاؤالدین سلجوقي د فوځ کسان و، او مقابل لورې یې تاتاریان وو.

د ارطغرال ددې میړانې په بدل کې سلطان علاوالدین سلجوقي هغه ته د دسفوت زرخیزه سیمه چې د سقاریه ددریاب په ښې لورې د بازنطیني ( قسطنطنوي ) پولو سره نښتې وه ، ورکړه ، تر څنګ یې ورته سفوت ښار هم ور باښه. ارطغرال اودهغه ملګري چې د خراسان او ارمینیا څخه راغلي و ټول همدلته میشت شول.

سلطان علاوالدین سلجوقي ارطغرال خان ته په دې سیمه کې دخپلو فوځونو د ساتلو اجازه هم ورکړه. او ترڅنګ یې ورته د بازنیطیني عسکرې کلاو عسکرو ته د درس ورکولو حکم هم وکړ. دبازنطیني سلطنت مرکز قسطنطنیه وه. علاوالدین سلجوقي چې کوم خراساني ځوان ارطغرال ته په بازنطیني باندې دحملو کولو وینا کړې وه نو نژدې یونیم سل کاله وروسته دهمغه شخص د زوزاکه څخه سلطان محمد فاتح پیدا شو چې بلاخره یې بازنطیني سلطنت ( قسطنطنیه ) فتحه کړه او د عیسویت د نړۍ دیوالونه یې سره ولړزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارطغرال خان په ۱۲۸۸ کال کې د ۹۰ کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې . هغه په خپل ټول ژوند کې د سلطان علاوالدین د ځآنګړې پاملرنې لاندې و . ان تر دې چې داسې وخت هم راغې چې ارطغران د سلطان علاوالدین د نائب په څير د تاتاريانو او بازنطينانو ګډ فوځ ته ماتې ورکړه . ددې په بدل کې ورته سلطان علاوالدين سلجوقي د « بني شهر او بروصه شهر » سيمې هم ورحواله کړې . او د ارطغرال د جاګير د نوم يې « سلطانوي » کينښود او هغه يې د خپلو فوځونو سپه سالار و ټاکه.

هلال ، د سلطان علاوالدين سلجوقي د بيرغ نښه وه...... د ارطغرال خان د مړينې وروسته دهغه ستر زوې عثمان خان دهغه ځاې ناستې و ټاکل شو . همدا د عثماني سلطنت بنسټ اېښوونکې او ددې سلطنت لمړۍ تاجدارهم و . دهغه پلار په خپل ټول ژوند کې د سلجوقي سلطنت سره تلپاتې وفاداري درلوده . سلطان هم د خپل پلار په قدم قدم کېښود او همغسې تګلاره يې خپله کړه . خو دا داسې وخت و چې سلجوقي سلطنت خپله اخري ساه اخسته او په کوچنۍ اسيا کې ملوک الطوايفي حاکمه شوې وه. عثمانيان يواځې د بازنطيني دښمنانو په مقابل کې جنګيدل اويا په بله ژبه ، عثمانيان يواځې د عيسويانو پر خلاف په جنګ رانښتي و . په دې وختو کې د قسطنطنيي پادشاه د خپلو درو ساتنه و نه شوه کړاې او عثماني فوځونه دهغه ( دتهينيا ) ميدانو ته ور ننوتل . بازنطيني سلطنت چې درسول الله صلی الله عليه وسلم په وختو کې د ځواکمنو سلطنتونو څخه و د عثمان په وخت کې د زوال سره مخ شوی و . هلته دخپل منځي جګړو او حکومتي بدنظميو عثماني فوځونو ته موقع اوفرصت برابر کړې و چې هغوې دې د بازنطيني سلطنت په ډيرو برخو باندې ولکه وکړي . ددې نه مخته داسې يو وخت و چې بازنطيني سلطنت ان د کوچنۍ اسيا تر پولو پورې را غوځيدلې و . خو اوس په کوچنۍ اسيا کې د بازنطين سره يواځې « نائيسيا او نائيکوميډيا» سيمې اودهغې شاوخوا کلي پاته شوي و . د بازنطيني سيمو په لور د عثمان د توجه علت دهغه داسلام د تبليغ کول و .

په هرصورت عثمان د اسلامي فوځونو له پاره داروپا دروازې پرانستې او د دانيال دروازې پرانستل د عثماني نسل له پاره يوه لوبه وګرزيده . عثمان د سلجوقي سلطان د فرمانبردارۍ په اساس سترې سترې معرکې سر کړې دي چې ددې ډلې څخه د « قراجه حصار » معرکه تر ټولو مشهوره ده . ددې کلا د فتحه کولو په واسطه مسلمانانو اروپايانو ته خبر ورکړ چې نور نو دهغوې د حکومت دوران مخ په ختميدو دې . سلطان علاوالدين سلجوقي خپل ميړنې سپه سالار عثمان ته د « نيزبيګ» خطاب ورکړ او هغه ته يې په خپل نوم دسکي د جاري کولو او په خپل نوم د خطبې د ويلو اجازه هم ورکړه . په دې توګه عثمان ته د شاهي لقب تر څنګ د پادشاهۍ نور ټول امتيازات هم ور په برخه شول . اوبيا لږ څه پاته کمښت هم په راتلونکو کلونو کې له منځه ولاړ . او دا هغه وخت و چې عثمان د سلطان علاوالدين سلجوقي او دهغه د زوې د پرلپسې مړينې وروسته او ازاد او خپلواکه تاجدار په توګه را څرګند شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلجوقي کورنۍ د حکومت د پای ته درسیدو سره سم د ال عثمان حکومت پیل شو . خو یو شمیر سلجوقي امیرانو لکه ( دکرمانیا امیر ) عثمان ته په ډیره کرکه او حسادت سره کتل ، او هغه یې خپل رقیب ګاڼه . همدا علت و چې لږه موده وروسته د عثمان او د کرمانیا دامیر تر منځه د جنګونو یوه نه پای ته رسیدونکې لړۍ و نښته . اودا لړۍ د هغوې د پرلپسې ناستځایو تر منځه هم همغسې جریان پیدا کړ . عثمان داسلامی حکومت بنسټ کیښود او په ۱۳۰۱ کال یې د « ټاپئکومیډیا» سره رانښتې د «قیون حصار» کلا کې په لمړني ځل د قسطنطنیا دشاهنشاهي فوځ سره مقابله وکړه او په دې مقابله کې ورته ډیره ستره بریا تر لاسه شوه . او تر شپږو کالو پورې یې د فتوحاتو لړۍ تر « بحراسود» پورې و غځیده . هغه په خپل ژوند کې په درې محاذونو کې په یوه وخت فتوحات تر لاسه کول ، ..لمړۍ .... دباغي سلجوقي امرانو پر خلاف .... بل ...د تاتاریانو پر خلاف . .. دریم .... دبازنطیني فوځونو یعنې د قسطنطنیې د پادشاه پر خلاف... په ۱۳۰۷ عیسوي کال کې عثمانیانو دبروصې ښار کلابند کړ ، دا ښار په قسطنطنیه کې د کوچنۍ اسیا په نامه یادیده . دا د نړۍ تر ټولو اوږده کلابندي وه چې تر لسو کالو یې دوام وکړ. بلاخره په ۱۳۲۲ عیسوي کال کې کلابندو فوځونو خپلې وسلې کیښودې او دعثمان خان زوې اولخان د فاتح په څیر دې کلاته ورننوت ، په دې وختو کې عثمان خان په «سفوف» کې د مرګ په بستره باندې پروت و ، خو دهغه د مړینی څخه مخته د هغه زوې اولخان هغه ته د دې سوبې خبر ور ورساوه . همغه و چې عثمان خان هغه خپل ځای ناستې و ټاکه او حکم یې وکړ چې دمړیني وروسته یې په بروصه کې خاورو ته وسپارۍ تر څنګ یې حکم وکړ چې بروصه د عثماني سلطنت له پاره پایتخت وګرځوي . هغه دهغه د وصیت په مطابق همغلته په بروصه کې خاورو ته وسپارل شو .

د«عثماني دولت» تر نامه لاندی تاریخ لیکي چې:عثمان خان د عثمانیه دولت لمړۍ تاجدار و . هغه هیڅکله هم دخپل ځان له پاره دسلطان کلیمه نه استعمالوله . دهغه زوې اولخان او لمسي ( مراد اول ) هم دخپلو ځانو له پاره د امیر کلیمه استعمالوله .د عثمانیه سلطنت د بنسټ ایښودونکي عثمان واده هم په ډیره په زړه پورې توګه تر سره شوې و . هلته د ښار سره نژدې د «ابتروني» په سیمه کې یو خداې پالي عالم او درویش صفته انسان « اوبالي » نومې اوسیده ، عثمان به دخپلې ځوانی په وخت کې هلته ډیر ورته ، هغه یوه ډیره ښایسته اوحسینه لور درلوده چې ( مال خاتون ) نومیده . یوه ورځ په ناځاپی توګه د عثمان سترګي په دغه پیغلهو نښتې ، او دکتلو سره سم پرې عاشق شو. هغه سمدلاسه د نکاح پیغام ور ولیږه خو « اوه بالي» د یوه درویش او د سلطنت د امیر تر منځ د توپیر په پوهیدو باندې دا پیغام ونه مانه. ان تر دوو کالو پورې د عشق او محبت دا لړۍ روانه وه ، عثمان هم د اوه بالي کور ته تګ راتګ ته دوام ورکړ. په دې وخت کې څو نورو ترک سردارانو هم چې په ځواک او شهرت کې د عثمان څخه کم نه و د مال خاتون سره د واده کولو هیله څرګنده کړه. خو اوه بالي هغوې ته هم ځواب ورکړ. بلاخره داسې یوه ورځ را غله چې عثمان همغلته د « اوه بالي» په کور کې پاته شوې و یو عجیب او غریب خوب یې وکوت . « وېې کتل چې یوه سپوږمۍ د اوه بالي دسینې څخه را ووزې او کرار کرار ترې د څوارلسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ جوړه شي او بیا د عثمان په سینې کې ور ننوځي ، بیا دهغه اړخه یوه ځواکمنه ونه راشنه شي چې همداسې پسې ستریږي ، ان تردې چې ددې ونې شاخونه د وچې او لمدې ټول ځایونه را و نغاړي ، د ونې د جرړو څخه د نړۍ څلور ستر دریابونه دجله ، فرات ، نیل او ډینوب را بهیږي او څلور ستر غرونه ، کوه قاف ، د بلقان غر ، دتور غر ، او د اتلس غر ددې شاخونه سنبالوي. په دې وخت کې یوه تیزه هوا راپیدا شی اودهغې ونې د پاڼو مخ چې په شکل کې تورې ته ورتوالې لري د یوه ستر ښار لورې ته وګرځوي ، دا ښار ددوو سمندرونو او ددوو لویو وچو د رایوځاې کیدو په نقطه کې پروت دې ، او د یوې ګوتې په څیر را څرګندیږي. پدې ګوته کې دوه زمرد او دوه نیلم ځاې په ځاې شوي دي، عثمان غوښتل دا ګوته په ګوته کړي چې یو ناڅاپه ګوته سره را خلاصه شوه»...... د بیداریدو وروسته یې خپل خوب اوه بالې ته بیان کړ ، اوبالې په دې خوب کې د عثمان له پاره ښه راتلونکې وکوت اوهغه یې یوه غیبي اشاره و ګڼله او دخپلې لور « مال خاتون » نکاح یې ورسره وکړه.

د عثمان همدغه خوب چې هغه نژدې یونیم سل کاله مخته لیدلي و د هغه د کړوسي سلطان محمد له اړخه پوره کیدونکې و . ددوسمندرونو او ددوو لویو وچو د رایوځاې کیدو نقطه د قسطنطنیې ښار و ، د سلطان محمد خان پلرونو او نیکونو کې د عثمان خان یو زوې « اورخان » هم د یوه فاتح او بهادر پادشاه په نوم یادیږي، دا عثماني سلطنت دویم تاجدار او د عثمان خان تر ټولو کوچنې زوې و . دهغه مشر ورور علاوالدین داسلامي علومو شوقی و تر څنګ یې د تصوف اوفلسفې سره هم ډیره مینه درلوده ، هغه ډیره پوه او مدبر انسان و ، د زمکې پرمخ تر ټولو لمړۍ منظم ، په دریشۍ سنبال ، تنخوا لرونکې او په فوځي ځایو کې اوسیدونکې فوځ « ینې چرې» دهمغې په سلا او مشورې سره جوړ کړل شو . دهغه سره په دې مشوره کې « قراخلیل» هم شریک و . ددې نه مخته په نړۍ کې فوځونه منظمیدل او په ځانګړیو کالیو هم سنبالیدل، خو دا کار به یواځې او یواځې د جنګ په ورځو کې تر سره کیده . د رومیانو او یونانیانو په سلطنتونو کې هم همدا ډول رواج و . دسیدنا عمر رضی الله عنه په وخت کې د عسکرو له پاره تنخوا ګانې ټاکلې شوې وې او د رخصتیو رواج هم دهمغه له وخته پیل شوې و ، خو په هغو وختو کې د فوځي بارکونو او یاد تلپاتې عسکري تمځایونو آند له چا سره نه و . په دې اساس دا کار تر ټولو لمړۍ اورخان د خپل مشر ورور علاوالدین او خپل دوست قرا خلیل په سلا سره تر سره کړ . هغه ټول هغه ځوان عیسوي بندیان چې په مختلفو جنګونو کې یې نیولي و د روزنې له پاره همدې ډول روزنځایو کې واچول او یو باقاعده فوځ یې ترې د « ینې چرې» په نامه جوړ کړ.

اورخان د خپل حکومت په همغه لمړي کال یعنې په ۱۳۲۶ عیسوي کې د « ټایئکومیډیا» په سیمه ولکه وکړه ، بروصه یې خپل درالسلطنت و ټاکه ، د قسطنطین په اسیایی مقبوضاتو کې دهغه د ولکې څخه یوازې د « نائیسیا» ښار پاته شوې و . خو دې ښار د قسطنطنیې نه وروسته دویمه درجه ستر اهمیت او ارزښت درلود . د قسطنطنیې پادشاه « قسطنطین » ددې ښار د خوندي ساتلو له پاره ډیرې هلې ځلې وکړې ، اورخان هغه ډیر کلک کلابند کړې و . او په ۱۳۳۰ عیسوي کال یې هغه فتحه کړ او دخپل سلطنت یوه برخه یې وګرځوله. ددې ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر خلک د اسلام دین ته را وګرزیدل. په ۱۳۳۳ کال هغه د یو باغی ترک امیر په ښار « قراسي » باندی هم ولکه وکړه ، لږه موده وروسته د اورخان حکومت د «اناطولیا» شمال غربي پولو ته وغځید.

بیا اورخان د خپل سلطنت د غځولو په ځای خپله ټوله توجه د دخلکو د فلاح او بهبود له پاره را وګرځوله ، هغه غوښتل د اصولو په مطابق د مملکت ټول قوانین په اسلامي قالب کې را و نغاړی ، د ۱۳۳۷ کال وروسته اورخان هیڅ جنګ و نه کړ بلکه دخپلو عوامو د روزلو په فکر کې و . خو دسلطنت د کورنیو انتظاماتو څخه د فارغیدو وروسته ، د اروپا په لور متوجه شو ، اود ژوند اخري څو کلونه یی د قسطنطنیی د شهنشاه د اروپایی ولکو د تر لاسه کولو او هلته د خپل قدم د ټینګولو په لاره کې مصرف کړل. د قسطنطنیی سلطنت چې یو وخت د ډینوب ددریاب او په اسیا کې تر اناطولیا او شام پورې غځیدلی و اوس یوائې د «تریس» ، د« مقدونیا» یوې برخې او « سالونیکا» اوپه یونان کې د « موریا» تریوې ډیرې برخې پورې را محدود شوی وو . د هغه اسیایی ولکې نژدې ټولې د عثمانیانو په لاسو کې راغلی وې. په همدې وختو کې د قسطنطنیی د تخت جګړه راپیدا شوه ، اورخان ددې فرصت څخه ګټه پورته کړه او د کوزین اړخ ته یی خپل شپږ زره عسکر ور واستول..... په دې توګه اورخان یو ځل بیا کنتاکوزین اودهغه مخالفه ډله « جان پلیپولوګس» یعنې ددواړو په غوښتنه د سربیا دپادشاه په خلاف خپل فوځ و لیږه. په دې وخت کې دسربیا پادشاه « استیفن ډوشن» په « سالونیکا» باندی حمله کړی و ه ...لږه موده وروسته د قسطنطنیي د تخت جګړې یو ځل بیا زور واخست نو اورخان دخپل زوې سلیمان پاشا تر مشرۍ لاندې شل زره عسکر د کوزین دکومک له پاره ور ولیږل. جان پلیپولوګس ماتې وخوړه او کنتا کوزین په تخت کیناست. او اورخان ته یی د ژمنی سره سم د «زنپ» کلا ورکړه. په دې کلا کې سلیمان پاشا عثماني عسکر ځای په ځای کړل. خو په اتفاقي توګه څو ورځې وروسته هلته په «تریس» کې زلزله راغله چې له مخې یی د ډیرو کلاګانو دیوالونه را پریوتل. په دې ډله کې د «ګیلي پولي» کلا هم وه ، دا کلا د دانیال په غربی ساحل کې تر ټولو ستر او مستحکمه جنګي کلا ګڼل کیده. سلیمان پاشا ددې کلا سره ډیر نژدې واټن کې پروت و . هغه دغه زلزله یو غیبي تائید و ګاڼه او مخته ورغې او په ګیلي پولې باندې یی ولکه وکړه. ددې کلا د سوبې وروسته د ترکانو به تاریخ کې یونوې باب پیل شو . هغوې په ۱۳۵۴ عیسوي کال په لمړي ځل په اروپاکې د فاتحینو په څیر قدم کیښود . او په مسیحي اروپا کې یی د یوه ستر اسلامي سلطنت بنسټ کیښود چې په دوو پیړیو کې یی دګیلي پولې څخه تر ویانا پورې و غځید ، د لمړۍ پیړۍ مجاهدینو د غربي اروپا د سسلي ، روما ، او سپین پورې د اسلام اواز ور رسولي و خو ترکي مجاهدینو شرقي اروپا هم د اسلامي بلنې په لور راماته کړه .

داورخان زوې « سلیمان پاشا» په داسې حال کې چې د ښکار دکولو له پاره وتلې و ، د آسه راپریوت او به ۱۳۵۸ عیسوي کال کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. نوموړي شهزاده د جنګ او عسکری فنونو له اړه د ډیرې پوهې او تدبر خاوند و . اورخان دخپل زوې په مړینې سخت غمژن شو او دهمدې غمه یی په بل کال پخپله هم د نړۍ څخه کوچ وکړ. خو ډیر نیک خویه ، درویش صفته او متدین حکمران و . هغه به دغریبانو تر منځ ډوډۍ او شورا په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپلو لاسو ویشله .سترو سترو علماو او مشایخوسره یی ډیره نزدې ناسته پاسته درلوده چې د هغوې د ډلې څخه « ملاداودقیصري » او « تاج الدین » به یی تل دخپله ځانه سره یو ځاې ساتل.

د اورخان د مړیني وروسته دهغه کشر زوې ( مرادخان اول ) دڅلویښت کلنۍ په عمر کې په تخت کیناست. دحکومت د واګو د سنبالولو سمدلاسه وروسته مردا خان د اروپا په لور د مخکې تللو هوډ وکړ. خو د کرمینیاامیر د پخوانیو دښمنیو په اساس په کوچنۍ اسیا کې بغاوت وکړ په دې اساس هغه تر هر څه لمړۍ ددې بغاوت د ځپلوله پاره قدم واخست. ددې ځایه د فارغیدو وروسته هغه د اروپا په لور قدم پورته کړ ، په ۱۳۶۰ عیسوي کال د دانیال دریاب څخه تیر شو او د خپلو فتوحاتو حیرانونکي لړۍ یی پیل کړه. خو په ۱۳۸۹ کال کې د هغه د شهادت وروسته د فتوحاتو دا لړۍ د « کسوده په جنګ» پاې ته ورسیده.

کله چې مرادخان اول په ۱۳۶۳ کال ددانیال ددریاب څخه تیر شو او دیوه ستر فوځ سره یی د تریس سیمي کې قدم کیښود نو هغه تر ټولو لمړۍ د « شورلو » په کلا ولکه وکړه ، دې کلا د قسطنطنیی څخه یوا ځې پنځه میله واټن درلود. ددې وروسته یی بله کلا د « کرک کلیسې» ترنامه لاندې هم ولکه کړه ، په همدې کال یی د «بابا» په سیمه کې دبازنطینانوسره یو اوږود جنګ وکړ چې وروسته یی هغوې ته ډیره بده ماتې ورکړه.

پایلې یی داشوې چې « ایډریانوپل» یعنې « اورنه» سمدستې خپله وسله په زمکه کې کیښوده اوپه دې توګه ټول تریس د مرادخان په ولکه کې راغې. ددې وروسته بیا عثماني جنرال « لاله شاهین» بلغاریه ته ورننوت اوهلته یی په « فلپوپولس » باندې ولکه وکړه ، داسیمه د بلقان د غرونوپه جنوب کې د بازنطنیی سلطنت اړونده وه . قسطنطین مجبور شو چې د مرادخان سره سوله وکړي، په دې وختو کې مرادخان په اروپا کې د بازنطینیانوسره په مقابله کې ښکر په ښکر و خونورو مسیحي حکمرانانو دبازنطنیانو سره د مراد په مقابل کې هیڅ ډول مرسته ورنه کړه. لیکن په ۱۳۶۳ کال « پنځم پوپ اربن» د هنګري ، سربیا ، بوسنیا او ولاچیه حکمرانان دې ته تیار کړل چې د ترکانو دمخکې تلو د مخنیوي له پاره خپل فوځونه را ولیږي. دهمدې حکم له مخې دې متحدینو شل زره کسه عسکر د تریس په لور را ولیږل. خو جنرال لاله شاهین هغوې ته ډیره بدې ماتې ورکړه ، ددې پایلې دا شوې چې د بلقان غرونه هم د عثماني سلطنت یوه برخه وګرزیده. دهمدې جنګ نه وروسته د«ډیمونیکا» سیمه چې په تریس کې پرته وه ، د مراد له خوا پایتخت اعلان کړل شوه. اوبیا یی درې کاله وروسته « اورنه» خپل پایتخت و ټاکه.د « مارټیزا » د جنګ وروسته شاهنشاه د سلطان باجګزاه و ګرزید خو د قسطنطین د شاهنشاه له پاره دا ډول سپکاوې د زغم وړ نه و ، هماغه و چې په ۱۳۶۹ کال یی روما ته سفر وکړ او دروم د پاپا څخه یی د سلطان پر خلاف د مرستې غوښتنه وکړه. په دغه ورځو کې د«رومن کلیسا » او «یوناني کلیسا» چې د شهنشاه مذهب و .... ترمنځ ډیره دښمني روانه وه . شهنشاه په ډیر ذلت او سپکاوي سره دروم د کلیسا علویت و مانه . خوبیا یی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلو موخو په تر لاسه کولو کې کومه بریا تر لاسه نه کړه . اوبیا چې کله بیرته د «وینس» څخه تیریده د یو شمیر قرض غوښتونکو له خوا و نیول شو. خو دلته په قسطنطنیه کې یې زوی «اډرونکس» بادشاه و ګرزید.

مرادخان په خپلو اصولو کې ډیر سخت و . دهغه تر ټولو کوچنې زوی شهزداه «صادوجي» یوځل د عیسویانو سره یو ځای شوې و ، خوکله چې مراد هغه ونیوه نو دخپل دغه زوی په سترګو کې یې ګرمه سیکه ویلی او ور واچوله او ړوند یې کړ . اوبیا یې ورپسې ووژه ، په ۱۳۷۱ کال دمراد خان سپه سالار لاله شاهین د صوفیا سره نژدې سماکوف په میدان کې دبلغاریا او سربیا د ګډو فوځونوسره مقابله وکړه اوهغوی ته یې سخته ماتې ورکړه ،ددې جنګ نه وروسته د بلقان دغرونو څخه نیولې دبلغاریه ټوله سیمه د عثماني سلطنت برخه وګرزیده. بل کال لاله شاهین او د عثماني فوځونو یو بل جنرال «افرینوس» په مقدونیا باندې یرغل وکړ ، مقدونیا دسربیا یو ولایت و . دهغه ځایه «کوالاډروما» او «سریز» ښارونو د فتحه کولو وروسته ، «دردار ددریاب» څخه تیر شول ، مراد سربیا ، البانیه ، اوبوسنیا په همغه وخت کې دخپل سلطنت باجګذاران وګرځول. د بلغاریا پادشاه سلیمان خپله لور سلطان حرم ته وړاندې کړه اوپه دې توګه یې خپل ځان خوندي وساته. اوبیا یو په بل پسې «مونا ستر» او «صوفیا» هم فتحه شوې. په دې توګه مرادخان د خپل سلطنت دپولو په پراخولو کې ډیر ګړندي ګامونه واخستل.

په ۱۳۷۲ کال مراد خپل شهزاده «بایزید یلدرم» ته د کرمیا د امیر لور په نکاح کړه ، دکرمانیا او عثماني سلطنت تر منځ شخړې د ډیر پخوا څخه را روانې وې. ددې شخړو د له منځه وړلو له پاره مرادخان خپله لور «نفیسه» دکرمانیا امیر ته په نکاح ورکړه اوپه دې ترتیب ددوې تر منځه تر لسو کالو پورې سوله او امن قایم شو ، خو په ۱۳۷۷ کال یو ځل بیا ددوې تر منځه نښتې پیل شوې ، په دې جنګ کې د کرمانیا امیر ماتې وخوړه او شهزاده یزید ته د «یلدرم» لقب ورکړل شو.

د مراد خان په خلاف مسیحې اتحاد د سربیا څخه پیل شو. په دې اتحاد کې سربیا ، بوسنیا ، بلغاریه ، البانیه ، ولاچیه او هنګری ټول په پوره قوت سره ورګډ شول. پولینډ هم خپل فوځونه ور ولیږل. اوپه دې توګه یو صلیبي جنګ پیل شو . په ښکاره توګه هغوی دا اتحاد داروپا څخه دترکانو د ویستلو په خاطر کړی و . مردا خان د اویا کالو په عمر د خپلو فوځونو سره یو ځای ددې اتحاد په خلاف د جنګ له پاره ووت.خو دمراد خان د ورسیدو دمخه اتحادیونو په بوسنیا کې په عثماني فوځونو باندې حمله وکړه او بنځلس زره ترکان یې د تیغه تیر کړل. ددې جنګ مشرې سربیانو په غاړه درلوده. چې پادشاه یې لازار نومیده ، د ډیرو معرکو وروسته بلاخره په ۱۳۸۹کال د «کسوده» په میدان کې هغه اخري مقابله مخته راغله چې د اتحادیونو شیرازه یې له منځه یوړه اودسربیا د قسمت پریکړه یې وکړه.

جنګ پای ته رسیدونکې و چې په دې وخت کې یو سر بیایی امیر «میلوش کوبیلووچ» دعثماني لښکر په لور آس ور ځغلاوه ، او د خپل پادشاه لاله زار په خلاف یې د بغاوت اعلان وکړ. او ویې ویل چې غواړي دسلطان سره څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيرې مهمې خبرې وکړي. همغه و چې هغه يې د مراد خان دربار ته راوست. خو دهغه د لاس د ښکلولو په وخت کې يې يو ناڅاپه خپل خنجر را وويست او به مراد خان يې حمله وکړه اوپه خپل هدف کې د بريالېتوب وروسته يې د تيښتې هڅه وکړه خو عسکرو د سترګو په رپ کې هغه ټوټې ټوټې کړ، اوس نو مراد خان د لږ وخت ميلمه و. هغه په همدې حالت کې داخري حملې حکم وکړ، ډير ژر اتحادي فوځونو ماتې وخوړه او دسربيا پادشاه «لازار» ونيول شو او دمراد خان دربارته يې راوست. مراد د «لازار» د وژلو حکم ورکړ او لږه شيبه وروسته يې پخپله هم ساه ورکړه. دمراد خان د شهادت نه وروسته د (کسوده) جنګ پای ته ورسيد. شهزاده بايزيد يلدرم په تخت کيناست، هغه په همغه لمړۍ ورځ خپل ورور شهزاده يعقوب چې د کسوده په جنګ کې يې پوره ميړانه ښوولې وه سمدلاسه وواژه. دا د سلطنت د تخت د ولکې له پاره په عثماني کورنۍ کې لمړني قتل و.

کله چې دسربيا پادشاه لازار هلاک شو نودهغه وروسته لارډ ستيفن دسربيا حکمران وګرزيد، هغه خپله خور شهزادګۍ ډيسپينا د بايزيد په نکاح کې ورکړه، او سوله يې وکړه او ترڅنګ يې دا ژمنه هم وکړه چې په راتلونکې کې به په ټولو جنګونو کې د خپل فوځ سره يو ځآې ګډون کوي. اوبيا هغه دخپل عمر تر اخري سلګۍ پورې په خپله ژمنه کلک ودريد. بايزيد د قسطنطنيې دپادشاه سره هم سوله وکړه ،ان تر دې چې ددې سولې وروسته بايزيد شهنشاه مجبور کړترڅو دخپل فوځ په واسطه فلادلفيا له منځه يوسي. همغه و چې دا ډول عبرتناکه پيښه منځته راغله چې پخپله عيسويانو په عيسوي فلاډلفيا باندې يرغل وکړ اوهغه يې فتحه کړه اوبايزيد ته يې حواله کړه، د بايزيد په وخت کې د ايدين، امشا، او ساروخان ښارونه هم فتحه شول په ۱۳۹۰ کال بايزيد د قبوس په جزيره حمله وکړه په دې توګه سمرنا او کرمانيا هم د بايزيد د تورې څخه خلاصې نه شوې، بايزيد په خپل ژوند کې دوه ځله قسطنطنيه کلابند کړې ،لمړۍ کلابندې يې اوه مياشتې دوام وکړ خو بيا چې کله بايزيد ته د هنګري دپادشاه سجسمنډ چې د هونياډې پلارو ، پخلاف فوځونو ته اړتيا پيدا شوه نوپه دې خاطر يې د لسوکالو له پاره سوله وکړه او کلابندې يې پاې ته ورسوله. دسولې شرايط يې هم ډير سخت و. دکلني خراج له پاره ديرش زره طلايي کراون و ټاکل شول. دمسلمانانو له پاره يې په قسطنطنيه کې يو شرعي عدالت هم پرانست، او هلته د بايزيد له اړخه يو ترکي قاضي و ټاکل شو. او دمشرق دکليسا تر څنګ يې يو ډير ستر او عالي شان جومات هم جوړ کړ، دقسطنطنيې دقيصر په مينول کې يې دښار اوه سوه ځآيونه مسلمانانو ته ورحواله کړل تر څنګ يې دغلطې نيمايي برخه هم بايزيد ته ورکړه. هلته شپږزره عثماني فوځونه و ټاکل شول، دهمغه وخته راهيسې عثمانيانو قسطنطنيې ته د استنبول نوم ورکړ.

بيا واليشيا فتحه شوه اوبيا يوپه بل پسې نائيکوپولس او بلغاريه هم تر ولکې لاندې راغلې. اوس نو بايزيد غوښتل په هنګري باندې يرغل وکړي خو يوناڅآپه د کوچنۍ اسيا په لور متوجه شو، په دې وخت کې د کرمانيا امير يو ځل بيا بغاوت وکړ، بايزيد يلدرم د انکورې او بروصې ترمنځ دکرمانيا دامير سره وجنګيد خو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ کې د بایزید لښکر د ماتې سره مخ شو ، دماتې دخبر د اوریدو سره سم بایزید په خپله په جنګ کې شامل شو او د کرمانیا امیر ته یې سخته ماتې ورکړه ، په دې جنګ کې دکرمانیا دامیر دوه زامن ووژل شول.

دسلطان بایزید یلدرم نه مخته ټولو عثماني امیرانو ځانو ته د امیر کلیمه استعمالوله. خو بایزید په لمړي ځل دمصر دعباسي خلیفه په اجازې سره خپل ځانته دسلطان لقب اختیار کړ.بایزید دنورو حکمرانانو په نسبت عیاش طبعه انسان و . هغه دخپلې ښځې (ډیسپینا ) په ترغیب سره د شرابو څښل هم پیل کړي و . په همدې وخت کې یو ځل بیا دهنګري دپادشاه سجسمنډ له خوا د عیسویانود اتحاد له پاره هلې ځلې پیل شوي وې، هنګري د قسطنطنی دمرکزی کلیسا په ځای دروم د کلیسا سره تړلې وه. پهمدې خاطر د روم پاپا دهغه سره مرسته وکړه ، د سجسمند د ځانګړو هلو ځلو په اساس فرانسه او برګنډی هم په دې اتحاد کې سره راټول شول ، دا ډیر ځواکمن او قوي لښکر و ، د دانیال د دریاب څخه د را تیریدو وروسته شام ته را ننوتل او مقدسه زمکه یې ازاده کړه ، کله چې دا لښکر د جرمني څخه تیریده نو دجرمنیانو ځانګړی فوځې ډلې هم وروسره را یو ځاې شوې ، دا د ټولې عیسوي نړۍ اتحاد و . هغه وخت چې د سجسمنډ لښکر سربیا ته ورسید نو هغه د بایزید دوست او فاداره ملګري لارډ ستیفن باندې یرغل وکړ اوپه دې توګه یې په سربیا کې ډیره وحشیانه توګه لوټ مار وکړ. دې لښکرپه پوره بریالیتوب سره د «سټوډا» ، « ویدین» او « ارسودا» سیمې تر ولکې لاندې راوړې او ځان یې د نائیکوپولس» سیمې ته ورساوه. او هغه ښار یې د کلابندۍ لاندې راوست. د نائیکوپولس قومندان « یوغلان بي» د وسلې د غورزولو څخه انکار وکړ ، ځکه هغه په دې ډاډمن و چې بایزید به هرو مرو دهغه د تعاون له پاره رارسیږي، او بیا همداسې وشول ، بایزید د برق په څیر خپل ځان دکلابندۍ په شپاړسمه ورځ نائیکوپولس ته ورساوه. فرانسویانودا ګمان هم نه کاوه چې بایزید به دومره ژر دلته رارسیږي ، هغوې په دې آند و چې بایزید به د ابنای فاسفورس څخه د تیریدو جرءت و نه کړي ، بلاخره د ۱۳۲۹ کال د د ستمبر په ۲۴مه بایزید یلدریم د «کانټ ډی نیورس ، سجسمنډ او فرنسوي» فوځونو پر خلاف دجنګ ډول ووهه ، دا ډیر ستر اومشهور صلیبي جنګ دې ، سجسمنډ د ترکانو د ځواک او ارادو څخه پوره خبرو ، هغه په دې هم پوهیده چې د ترکانو نومیالۍ ډلې په یوه غیر منظم او لړ.روزل شوي فوځ سره یو ځاې کیږي او بیا په ډیره ښه توګه جنګیږی. سجسمنډ خپلو ملګرو ته دا سلا ورکوله چې د ترکانو د ظاهري فوځ په جنګ کولو باندی وخت ضایع نه کړي ، بلکه دهغوې په اصل فوځ دې حمله وکړل شی. خو په صلیبی اتحاد کې ورګډو د نورو هیوادونو سالارانو دهغه دا مشوره و نه منله ، دې جنګ ددرې ساعتونه زیات دوام و نه کړ ، په دې جنګ کې د سربیا پادشاه د بایزید په ملاتړ و جنګید. عیسایی فوځونو ته ډیر زیات زیان ور وا وښت. اوبایزید دهغو ځواکونو د انتقام د اخستو له پاره چې د جنګه مخته دعیسایانو په لاسو شهیدان شوي و په دې جنګ کې لس زره عیسویان و نیول اود ټولو د وژلو حکم یې ورکړ. په دې بندیانو کې کاؤنټ ډي نیورس ، او څلوریشت نور عیسایی امرین هم شامل و و. خوبایزید هغوې پریښول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د هغوې د تللو د مخه يې د کاؤنټ ډې نيورس تر مخه يوه وينا وکړه ، داوينا د ( کريسي دلمړي ټوک په ۲۸ م مخ کې دا ډول ليکل شوې ده ):

«ګرانه ! زه په دې پوهيږم چې ته د خپل هيواد د يوه ستر سردار او ځواکمن رئيس زوې يې. ته نوې ځوان يې او لا تراوسه ستا تر مخه ډيرې هيلې اود اميدونو ډک کلونه پراته دي. شوني ده چې د جنګ په ميدان کې ستا ددې لمړيو هڅو د ناکاميو نه وروسته خلک په تا الزامونه ولګوي ، او ته د هغې الزامونه د رفع کولو له پاره او د خپل شهرت او نيک نوم د بيرته تر لاسه کولو په خاطر يو بل ځواکمن فوځ را ټول کړې اويو ځل بيا زما مقابلې ته راودانګې ، که زه له تا وېريدې نوله تا او ستا له ملګرو څخه به مې دهغوې په ايمان اوعزت سوګند اخستې واې چې په راتلونکې کې به زما مقابلې ته نه راځې. خو نه ! زه د داسې سوګند غوښتونکې نه يم.ددې برعکس ، زه به ډير خوشحاله شم چې که چيرې ته بيرته خپل هيواد ته ورسيږې او بيا فوځ راټول کړې اوبيا زما مخې ته راشې. ته به ټول وخت ما د جنګ په ډګر کې په خپل مخکې تيار و وينې. هغه خبره چې زه يې درته اوس کوم ، ته يې چې د چاڅخه غواړې نقل يې کړه.»

د نائيکوپولس د جنګ نه وروسته په ولاچيا ، هنګري او استائريا باندې هم يرغلونه وشول او د پيټرواړډين ښارهم تر ولکې لاندې راوستل شو.

ددې نه وروسته بايزيد اورنه ته ورسيد اوپه ۱۳۵۷ کال يې په يونان باندې حمله وکړه.، د تهسلي ، فوسين ، ډوريس او لوکريس په سيمو يې ولکه وکړه. او بيا يې دڅو ورځو وروسته د » موريا» ټوله سيمه ولکه کړه ، د يونان د فتحې کولو وروسته بايزيد يو ځل بياقسطنطنيه کلابنده کړه. دا په داسې حال کې چې د ترون لس کاله لا نه و پوره شوي. هغه دخپل ځانګړی قاصد په خوله پادشاه « مينوئل » ته حکم و ليږه چې سمدلاسه دې د تخت نه لاس واخلي او که نه دا ښار به د توري په زور ونيسی. خو مينوئل د بايزيد په خبره غوږ هم ونه ګراوه. همغه و چې بايزيد هم د قسطنطنيې کلابندي نوره هم کلکه کړه ،په داسې حال کې چې هغه غوښتل په قسطنطنيې باندې حمله وکړي ، چې دهغه په اسيايې ملکيتونوکې يو انقلاب راغې ، دهمدې انقلاب په اساس هغه مجبور شو خپله کلابندي پاې ته ورسوي او هغه لورې ته متوجه شی ، دهمدې ورځې وروسته د بايزيد يلدرم بدقسمتي پيل شوه. اوپه راتلونکو دوو کلونوکې چې د هغه دحکومت اخري کلونه و سختې ماتې وخوړې ، دهغه ټول فتوحات په اوبو لاهو شول او لږې مودې وروسته د عثماني سلطنت حيثيت د خاورو سره خاورې شو. په خپله بايزيد بندی کړل شو اودهغه دا ټوله تباهي اوبربادي پخپله د «ګوډ تيمور » په لاسو پيل شوه.

دګوډ تيمور سلطنت د « چين دديوال» څخه تر کوچنۍ اسيا پورې او د ارل دبحر څخه د ګنګا ددريابه پورې او ان د فارس تر خليجه غځيدلې و. هغه په ۳۵ کلنۍ کې خپل ټول دښمنان وځپول او سمرقند يې خپل دارالسلطنت و ټاکه. ددې نه وروسته هغه په لږه موده کې ۲۷ هيوادونه فتحه کړل او نهه شاهي کورنۍ يې له فنا سره مخ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګوډ تیمور د سلطنت نه وروسته د بایزید سلطنت په نړۍ کې تر ټولو ځواکمن سلطنت و . بایزید د خپلو پخوانیو فتوحاتو په اساس دومره سرشاره و چې د ګوډ تیمور د فوځونو سهي اندازه یې و نه شوه لګولې . او داسې یو فاتح یې ځانته را پارو و چې د دهشت او وحشت څخه یې ستر ستر پادشاهان لړزیدل . په لمړي ځل د داوړو تر منځ ډیر تریخ لیک لیږد پیل شو او دهمدې په پایلو کې د دواړو تر منځه سخت جنګونه پیل شول .

په ۱۴۰۰ عیسوي کال ګوډ تیمور د بایزید یو شار سیواس د شپږ لکه عسکرو په واسطه کلابند کړ ، هلته د سیواس د ښار د ساتنې له پاره د بایزید ستر زوې ارطغرال مامور شوې و . ارطغرال په ډیره میړانه د ګوډ تیمور د فوځونو مقابله وکړه او تر څو ورځو پورې یې دا شپږ لکه فوځونه پرې نه ښودل چې په دې ښار باندې ولکه وکړي . بلاخره تیمور داسې یوه لاره خپله کړه چې د کلا بند شوو سره یې هیڅ ځواب نه و . هغه شپږ زره مزدوران مؤظف کړل تر څو د دیوالونو بنسټونه وکنی ، بیا یې هغوې ته اړمونه ورکړل تر څو دیوالونه د غورزیدو څخه و ساتي . کله چې د دیوالونو بنسټونه وکنل شو نو هغه اړمونو ته یې اور ورته کړ ، د سترګو په رپ کې دیوالونه را و غورزیدل او په دې توګه یې په ښار باندې ولکه وکړه . ګوډ تیمور د خپل وحشت څرګندونه دلته هم وکړه او د بایزید د زوې ارطغرال په ګډون یې څلور زره ترکان و نیول او ټول یې د تیغه تیر کړل ، په دې وخت کې بایزد د قسطنطنیې په کلابندۍ بوخت و . د دې ناوړه خبر په اوریدو سره یې کلابندي پایې ته ورسوله او د توپان او سیلۍ په څیر یې ځان کوچنۍ اسیا کې د ګوډ تیمور مقابلې ته ورساوه . خو په دې وخت کې تیمور د شام او مصر په لور روان شوې و ، هغه دوه کاله وروسته بیرته راستون شو او د لمړي ځل څخه د زیاتو اختلافاتو سره د دواړو تر منځ د خط وکتابت لړۍ پیل شوه . او بلاخره اسمان د دواړو اړخونو تر منځ د هغه دردونکي او غمناکه جنګ ننداره هم وکړه چې د دواړو اړخو څخه په کې مسلمانان شریک وول......

دا جنګ د انګورې د جنګ په نامه مشهور شوې دې ، بایزید د یولک او شل زره فوځونو سره د سواس په لور روان شو خو ګوډ تیمور د اته لکه فوځونو سره د بایزید ښار « انګوره » کلابنده کړه ، بایزید د انګورې د کلابندۍ د ماتولو له پاره هغه لورې ته وګرزید ، تیمور په خپله تاتاری و خو د بایزید په فوځ کې هم د تاتاریانو ګڼ شمیر عسکر موجود و . تیمور هغو تاتاریانو ته خپل جاسوسان ور ولیږل او د هغوې سره یې وعدې وکړې او ویې غلول ، هغوې هم د جنګ په وخت کې د بایزید لښکر پریښود او د تیمور سره یو ځاې شول ، په دې وخت کې بایزید تر ټولو ستره بې عقلي دا وکړه چې هغه یوه ورځ د خپل جرءت د ښوولو په خاطر خپل ټول فوځ له ځانه سره اخست او د ښکار کولو له پاره ووت. هغه ځاې چې د ښکار له پاره ټاکل شوې و هلته اوبه ډیرې کمې وې ، نژدې پنځه زره عثماني عسکر د تندې له لاسه هملته له منځه ولاړل . هغوې چې ژوندي پاته شوي و هغوې هم د تندې او لوږې له لاسه بې هوشه وو . کله چې بایزید بیرته راستون شو نو ویې کتل چې د هغه په لښکر ګاه باندې د ګوډ تیمور فوځونو ولکه کړې ده ، دهغې چینې څخه چې عثماني فوځونو اوبه څښلې د هغې مخه هم د ګوډ تیمور

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوځونو گرزولې وه ، اوس نو دبایزید له پاره د سمدلاسه جنگ کولو بله لاره نه وه پاته. هماغه و چې د سې شنبې په ورځ ، د جولای په شلمه د ۱۴۰۲ عیسوي کال ، د انگورې په سیمه کې هغه معرکه را منځته شوه چې....

مشهور تاریخپوه ( گبن) لیکي چې دې جنگ «دتیمور شهرت او عظمت ته تلپاتې والې ورکړ. او د بایزید ذلت اوسپکوالي یې د تل له پاره یو یادگار پرېښود ......»

د عثماني دولت تاریخ لیکي چې: د جنگ په وخت کې ګڼ شمیر مسلمانو سردارانو د بایزید ملگرتیا پرېښوده ، په دې توگه بایزید دگوډ تیمور د اته لکه ځواکمنو فوځونو په مقابل کې یواځې دلس زره یني چري فوځیانو سره ځانته پاته شو.

دسربیا پادشاه «لارډ ستیفن» هم تر اخره پورې د بایزید سره و خو دماتې خوړلو وروسته یې دهغه ځایه تیښته وکړه ، بایزید د محمودخان چعتایي په لاسو و نیول شو ، دهغه د پنځو زامنو څخه چې په جنگ کې شریک و درې کسه ژوندي پاته شوي و. دهغې ډلې څخه شهزاده سلیمان د اروپا په لور راوگرزید ، شهزاده محمد (اماسیه )ته ورسید او شهزاده عیسی دکرمیا په لور وتښتید. شهزاده موسې ژوندي و نیول شو او د شهزاده مصطفې په اړه هیڅوک خبر نه شول چې څه پرې وشول. کیدای شي په جنگ کې وژل شوي وي ، د جنگ د پای ته رسیدو وروسته بایزید و نیول شو او گوډ تیمور هغه د اوسپنې په یوې پنجرې کې بند کړ، او هر چیرې به چې ته ، د هغه پنجره به یې له ځانه سره وړله. بایزید د ا سپکاوی و نه شو زغملې او نزدې اته میاشتې وروسته یې په همغه اوسپنیزه پنجره کې ساه ورکړه. او دهغه روح د عنصري او فولادي دواړو پنجرو څخه په یوه وخت کې ازاد شو.»

دانگورې د جنگ نه وروسته په ډاگیزه توگه عثماني سلطنت له منځه تللې معلومیده ، ځکه د عثماني سلطنت ټول باج ورکونکي ریاستونه ازاد او خپلواکه شوي و. دبایزید دشپږو څخه پنځه زامن یې دانگورې په جنگ کې دهغه سره شریک وول ، هغه څلور چې ژوندي پاته شوی و ، دبایزید د بندی کیدو وروسته مختلفو کوچنیو کوچنیو ریاستونو ته ولاړل اوهملته حکمرانان و گرزیدل ، هغوې بیا په خپلو منځو کې په جنگونو پیل وکړ. اخري سوبه شهزاده محمد ته ترلاسه شوه، ځکه شهزاده محمد داتو کالو په دوران کې د عثماني سلطنت د لاسه تللې وقار اوعزت بیر ته په ځای کړ.

شهزاده محمد د یوڅلوېښت کالو په عمر په ۱۴۲۱ کې وفات شو او په بروصا کې خاورو ته وسپارل شو ، سلطان مرادخان ثاني دهمغه زوې و. او په دې توگه د عثماني سلطنت د سلاطینو د نسب لړۍ داسې را جوړه شوه: «عثمان» ددې کورنۍ لمړنی تاجدار و چې په ۱۲۸۸ کال کې را پیدا شو. دهغه زوې « اورخان» ۱۳۲۲ کې .... دهغه زوې « مرادخان اول» په ۱۳۵۹ کال کې .....دهغه زوې « بایزید یلدرم» په ۱۳۸۹ کال کې .... دهغه زوې « شهزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اول » په ۱۴۳۱ کال کې ...دهغه زوی « دویم مرادخان » په ۱۴۲۱ کې ...دهغه زوی سلطان « محمد فاتح» په ۱۴۵۱ کال کې په تخت کیناست.

د سلطان محمد فاتح د سلطنت نه وروسته عثماني سلطنت تر سوونو کالو پورې دوام درلود . خو هغه عزت او شهرت چې د سلطان محمد فاتح په برخه شوې هغه بل چاته تر اوسه نه دې په برخه شوې ، په حقیت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایلي و چې......

« د قسطنطنیی فاتح به جنت ته داخلیږی..»

دا مبارک حدیث ډیر مشهور شوې و . اودهمدې حدیث دعملی کولو او ددې حدیث د تاج دپه سرکولو له پاره اموي حکمرانانو د « لمړي یزید » څخه نیولې تر بایزید یلدرم پورې او بیا تر سلطان مردا خان ثاني او...... ټولو په قسطنطنیی باندې دحملې کولو او د دې سیمی د ولکې کولو له پاره یرغلونه کړې و ،خو هیڅ یویی په فتحه کولو بریالي شوې نه و، دا سعادت د سلطان محمد فاتح په برخه و . همغه و توانید د ۱۴۵۳ کال د مئ په ۲۹ مه د ستر اهنگر اربان د ځواکمنو توپونو په واسطه د قسطنطنیی دیوالونه را چپه کړې او په دې توگه دا ښار د تل له پاره د مسلمانانو استنبول وگرځي...

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلطان محمد خان

سلطان مرادخان ثاني د**۸۵۵** هجري کال د محرم الحرام دمياشتې په پنځمه ،يا د **۱۴۵۱** عيسوي کال د فروری د مياشتې په نهمه په « اورنه» کې وفات شو . دهغه تجهيز او تکفين په پخوانی پايتخت «بروصا» کې ترسره شو ، دسلطان مرادخان د مړينې وروسته دهغه زوی شهزاده محمد دکوچنۍ اسيا د «ايدين» په رياست کې و ، په دې وخت کې د شهزاده محمد عمر يوشت کاله او څو مياشتې و . ددې نه مخته هغه دخپل پلار په ژوندون دوه ځله په تخت ناست و ،کله چې ورته دخپل پلار مراد خان د مړينې خبر ور ورسيد نو سمدلاسه په آس سپور شو او دهر څه د مخه يې دا خبره وکړه:

«هغوې چې له ماسره مينه لري له ما سره دې را روان شي (عثماني دولت )»

هغه د دانيال ددرياب څخه راتير شو او اورنه ته راورسيد. همدلته يې دتخت ناستې مراسم هم ترسره شول ، اوس نوهغه شهزاده محمد نه و بلکه سلطان محمدخان ګرزيدلی و. کله چې هغه د اورنه شاهي محل ته را ننوت نو ګڼ شمير مينه وال يې وکتل. ملکه سروين چې د سربيا د پادشاه لارډ ستيفن لور وه او دسلطان مرادخان ثاني ښځه او د سلطان محمد ميرنۍ مور وه... دخپل ميرني زوی شهزاده محمد په تخت کيناستو باندې ډيره خوشحاله بريښيده . دملکې سروين د ګيډۍ نه د شهزاده محمد يو ميرنی ورور هم پيدا شوې و خو په دې وخت کې دهغه يواځې اته مياشتې و . دملکې سروين نه علاوه دلته اغا حسن ، قاسم بن هشام ، طاهربن هشام هم دسلطان محمد د استقبال له پاره موجود وو . دوې د سلطنت د مشرانو او امراو په سلا د تاج پوشۍ ورځ و ټاکله . اودهغې ورځې له پاره يې هر ډول تياري پيل کړه.

هغه وخت چې سلطان محمد خان دخپلې ځوانۍ په وخت کې دوه ځله په تخت کيناست خو دواړه ځله يې د نابرابرو شرائطو له مخې د سلطنت واګې بيرته پريښودې. لمړۍ ځل يې د لارډسلاس او هونياډی د تړون ماتولو په اساس او دويم ځل په ښار کې د يني چري د بغاوت له امله . دواړه ځلې يې پلار مرادخان ثاني د سلطنت دخوندي ساتلو په خاطر مداخله کړې اوبيرته راستون شوې. په دې خاطر په عامو خلکو کې د ا انديښنه راپيدا شوې وه چې سلطان محمد خان د سلطنت کولو د امورو وړتيا نه لري . اوس نو سلطان محمد خان دا ثابتول غوښتل چې په پنځلس کلنۍ کې چې ورته کوم سلطنت تر لاسه شوې و هغه وخت خبره بيله وه او اوس چې ددويشت کالو په عمر کې ورته يوځل بيا سلطنت تر لاسه شوې ، خبره بيله ده.اوس نو محمد کوچنی ماشوم نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



. هغه د تاج اغوستلو د جشن نه دوه ورځې مخته قاسم بن هشام خپل ځانته راوباله او د شاهانه دبدبې سره يې هغه ته ښه راغلاست ووايه. تاريخ ليکي چې:

سلطان محمد قاسم بن هشام ته وويل: «راځه.....قاسم بن هشامه راځه.... ګوره ! چې دوه ورځې وروسته زما د تاج اغوستلو چشن دي. اوس خو زه د عثماني سلطنت تاجداره اوسلطان ګرزيدلې يم. ته خو پوهيږې چې زما په اوږو څومره ستر بار اچول شوې دي ، مخکې له دې نه چې ما سلطان وګرزوی ما ته ستا مشورو ډير ځواک او توانايي راکوله. په دې خاطر مې نن تاته زحمت درکړ ترڅو دا ځل هم له ما سره قدم په قدم ملګرتيا وکړې ....»

قاسم د سلطان د لهجې څخه سخت حيران شوې و ،ځکه هغه اوس هغه نوې ځوان شهزاده نه و چې د نن څخه شپږ کاله دمخه په تخت کينول شوې و. قاسم ته داسې محسوسيدله چې دکوم ستر شهنشاه اواز اوري ، د سلطان د لهجې څخه علاوه د سلطان په نور شخصيت کې هم ډير بدلون راغلې و. دهغه په مخ باندې دځوانۍ تازه وينه او په سترګو کې شاهي دبدبه او جلال په کتلوسره قاسم داسې احساسوله چې دا ځل سلطان محمد خان د کوم ستر عزم اوهوډ سره يوځاې په سلطاني تخت باندې دکيناستو اراده لري. په دې خاطر يې پخوانۍ دوسته له ياده وويستله او په ډير ادب سره يې وويل:

« درونده سلطانه !... عثماني سلطنت به ستاسې په څير تاجدار باندې وياړي ، زه داسې احساسوم چې قدرت به ستاسې په لاسو ډيره ستره کارنامه تر سره کوي .....تر هغو چې زما دخدماتو پورې اړه لري نوزه اوزما ټوله کورنۍ داسلام او عثماني سلطنت له پاره هر غږ ته لبيک وايي.»

قاسم د سلطان محمد خان سره دخبرو په وخت کې خپله پخوانۍ بې تکلفي له ياده ويستلې وه ،بلکه دشاهي ادابو د ټولو غوښتنو سره يوځاې يې دسلطان سره خبرې کړې وې ، څرنګه چې دوه ورځې وروسته د تاج دپه سر کولو جشن و نوپه دې خاطر سلطان ورته وويل:

قاسم بن هشامه !.... مونږ هر څه له ياده ويستلي شو خو د ينې چري د يوشمير ډلو بغاوت له ياده نه شو ويستلې. دهمغه بغاوت په پايلو کې ستا پلار او ورندار هم شهيدان شول او زه اوس هم دهمغو خلکو څخه چې هغه وخت يې په ينې چري کې د بغاوت اور بل کړي و انديښنه لرم. هسې نه چې دا خلک يو ځل بيا د سلطنت د انتظام دخرابولو له پاره هڅې وکړي ، دا ځل ما ته په دې خاطر مخکې تر مخکې را وغوښتې تر څو د راټوکيدلو انديښنونوپه اړه فکر وکړې ، زه غواړم چې ته د ينې چرې په هغو وګړو باندې څارنه وکړي چې مشکوک معلوميږي»

قاسم د سلطان محمد په ارادو باندې پوره پوره پوه شوې و .ځکه سلطان يوځل بيا قاسم ته د جاسوسۍ کار ورسپاره. اوپه خپله دقاسم په سترګو کې هم دا اړينه بريښيده. ځکه دسلطان مرادخان د مړيني سره سم همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول خبرونه خپریدل چې په یني چرې کې یو ځل بیا د بغاوت د اور بلیدو ته کار کیږي ، همدا علت و چې قاسم دا مسؤلیت ومانه او سلطان ته یې وویل:

درونده سلطانه !.... ستا بصیرت ته احترام لرم. د تاج د په سرولو په ورځ د مخربو عناصرو څارنه ډیره اړینه ده. په حقیقت کې یو شمیر وګړي ستا د شخصیت او عزائمو څخه په ویره کې دي. هغوې نه غواړي ته د مسلمانانو قیادت سنبال کړې. خوداسې خلک هر څوک چې دې ، یوه خبره ډاګیزه ده اوهغه دا چې داډول وګړي د قسطنطنیې د پادشاه روزل شوي اولاسپوځي عناصر او ځانګړې خلک دي»

قاسم تر ډیره پورې دسلطان سره په پټه توګه په ډیرو امورو باندې خبرې کولې اوبیا یې دهغه څخه اجازه واخسته اوبیرته راستون شو.

اوبیا د سلطان محمد خان د تاج دپه سرولو ورځ هم دعثماني تاریخ په پاڼو کې یوه نه هیریدونکې ورځ ده .....داسې ورځ چې دسلطان او قاسم بن هشام ټوله خواري یې په اوبو یوړه ،او دښمن دهماغه تاج پسرولو په وخت کې خپل کار انجام کړ.

دسلطان محمد خان دربار په جوش وخروش کې و . دسلطنت مشران ، وزیران ، امران ، دښار مشران اوسپین ږیري ..... دسلطاني قصر په عام دیوان کې سره راټول شوي و . دا یوه پراخه اوغځیدلې برنډه وه. ددې ځای څلورو خواو کې د غونډې ګډون کونکو ته ناست ځایونه جوړکړل شوي و . په دې وخت کې په دې عام دیوان کې د زرو څخه زیات وګړي ناست و . دسلطان په سر د عثماني سلطنت تاج کیښول شوې و . تر ټولو د مخه د شاهي کورنۍ غړو سلطان ته دمبارکۍ له پاره را روان و . د څو مشرانو ، ښځو اونرو وروسته د ملکې سروین د مبارکۍ ورکولو وخت راغې. دا دسلطان مراد خان ښځه او دسربیا دپادشاه لارد ستیفن لور او اروپاې نژاده وه ، ډیره ښایسته او حسینه ښځه وه ، ملکې سروین ته سلطان محمد خان ډیر ګران و. هغې دهمغې لمړۍ ورځې را هیسې دسلطان محمد خان سره مینه اومحبت کاوه ، ملکه سروین رامخته شوه او دګلونو یوه ګیډۍ یې د سلطان محمد خان په لاسو کې ورکوله چې یو ناڅاپه تم شوه. هغې لا د څه ویلو له پاره خپلې شونډې نه وې پرانستې چې دعام دیوان څخه بیرون یو ناڅاپې شور اوغوغا جوړه شوه ،ملکه سروین په خپل ځای ودریده ، دسلطان په تندي باندې هم لیکې راپیدا شوې. لږ څه په قهر اوغصې سره یې حکم وکړ:

« دا کوم ګستاخه انسان دې ؟ .... چې زمونږد تاج د پسرولو په جشن کې په خپل کرغیړن اواز سره بدشګوني خپروي .....هغه و نیسۍ او زمونږ مخې ته یې راوړئ ...»

ګڼ شمیر سپاهیان د برق په څیر د عام دیوان مخې ته ور و ځغلیدل ، د سلطان سترګې هم د بیرون په لور ښتې وې. دسلطان په مخ باندې د حیرانتیا تر څنګ قهر او غصه هم خپره شوې وه. ددربار ټول کسان په خپلو خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځايو کې سره خوزيدل. دلړ څه ځنډ نه وروسته د سلطان عسکرو يو زوړ «خواجه سرا» دلاسونو څخه نيولې و او د سلطان مخې ته يې راوړ. خواجه سرا په خپلو دواړو لاسونو کې کوم څيز نيولې و چې په کاليو کې يې را تاو کړې و. داسې بريښيده لکه خواجه سرا چې کوم تيخور ماشور را خستې وي. زوړ خواجه سرا په ژړا ژړا سره دربار ته را ننوت ، هغه د شاهي عتاب هم څه پرواه و نه کړه ، دربارته د را ننوتلو سمدستي وروسته يې په واويلاو پيل وکړ او ملکې سروين مخې ته ورغې او په مخ وهلو يې لاس پورې کړ ، ملکې هغه د پخوا څخه پيژانده او دهغه په دې کار باندې ډيره حيرانه ولاړه وه. ځکه هغه ددې خاص خواجه سرا و ....« ځانګړې خادم» ، ملکې چې دهغه په لاسو کې تيخور ماشوم وکوت نو ولړزيده ، هغه هر څه له ياده وويستل او په ژړا يې منډه کړه او د خواجه سرا لورې ته ورغله. دهغې زړه په زوره زوره دربيده. يقيننا چې د خواجه سرا په لاسو کې نوې پيدا شوې شهزاده و. دا د سلطان محمدخان ميرنې ورور و چې تر اوسه يې شيده خوړل. او ملکې سروين د ګيډې څخه راپيدا شوې و . ملکه زيړ مخ د خواجه سرا په لور ورغله او خپل کوچنې يې دهغه دلاسو څخه راواخست.

دې پيښې په دربار باندې عجيبه اغيز کړې و ،خلکو د خواجه سرا په لاسو کې دماشوم د راوستو د انداز څخه داسې انګيرلې وه چې د خواجه سرا په لاسو کې د ملکې سروين د تيخور کوچنې لاش پروت دې. په دې وخت کې د سلطان محمد عمر په سختۍ سره تر دوويشت کالو پورې رسيده. هغه ددې حالاتو څخه سخت انديښمن شوې و. هغه په دې نه پوهيده چې دا ټول هر څه دومره په ناڅاپه توګه څنګه پيښ شول. ملکې چې کله خپل مړ ماشوم په لاسو کې واخست نويوه زړه شکونکې چغه يې ووهله او ټول وجود يې په لړزان شو. ملکې وکتل چې دهغې تيخور ماشوم چې عمريې اته مياشتې و وژل شوې دې. داڅه ډول داسې په ناڅاپې توګه مړ کړل شو ؟ ما خو لړه شيبه مخکې خپل دغه نوې شهزاده په خندانه خوله اوخوشحالۍ سره پرې اينبې و اودلته راغلې وم. لړه شيبه مخکې دغه نوې شهزاده دخپلې مور سره لوبې کولې ، بيا دا هر څه څنګه په ناڅاپې ډول مخته راغلل چې خواجه سرا د هغه معصوم لاش په لاسو کې ونيوه او ډک دربار ته راغې. ملکې د دربار د حاضرينو څخه د پروا کولو پرته ژړل. هغه يوه مور وه او کوچنې شهزاده دهغې دزړه ټوټه وه. سلطان په ډير بد حالت کې واقع شوی و. دا دهغه د تخت دکيناستو لمړی ورځ وه. ناڅاپه يې په زړه کې را وګرزيدل چې د خواجه سرا څخه حقيت معلوم کړي ، په دې اساس يې لږ څه په نرمه لهجه د خواجه سرا څخه و پوښتل:

«خواجه سرا ...... دا هرڅه ،څه ډول مخته راغلل ؟..... مونږ ته حقيقت ووايه .... ترڅو مونږ ددې معصوم قاتل همدا اوس او په همدې وخت کې جهنم ته وليږو او د خپل دغه کوچنی ورور بدل واخلو.»

دسلطان دخبرو په اخري الفاظو کې غورس و. خو دخواجه سرا دخبرو په اوريدو سره دسلطان دپښولاندې زمکه و تښتيده ، سمدلاسه را کوز شو اوپه زمکه و دريد اوبيا لړه شيبه وروسته ټول دربار دهغې څپيړې اواز واوريد چې سلطان پرې هغه زوړ خواجه سرا وهلې و....ځکه چې خواجه سرا سلطان ته ويلي و.« واه ! سبحان الله ، قاتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پوښتنه کوی چې کوچنې شهزاده چا وژلې دې ؟.... اې د دربار ناستو خلکو !....زه ګواهي ورکوم چې ....دغه معصوم او نوې کوچنې شهزاده ستاسې دغه نوي سلطان وژلې دې....زه ګواهي ورکوم.....زه ګواهي ورکوم......»

خواجه سرا چیغې او سورې وهلې او د دربار ټول میلمانه هک پک حیران ولاړ و، خواجه سرا د ډیرې بې ادبۍ او بد اخلاقۍ ثرګندونه کړې وه ، هغه شاهي عتاب او قهر ته په ډاګیزه توګه بلنه ورکړې وه ، هغه په دربار کې او د تخت د کیناستو په همغه لمړۍ ورځ اولمړي ساعتو کې پر سلطان محمد باندې د خپل کوچني ورور د قتل الزام لګولې و . ملکه سروین ددې خبرې داوریدو سره خاموشه شوه او په برندو سترګو یې د سلطان په لور کتل . دلږ وخت له پاره د سلطان په ګډون ټول دربار داسې و لکه مار چې خوړلې وې. هر څوک په خپل خپل ځآې کې په فکر کې ډوب وو.....اوس به څه کیږي ، ملکه خود بې هوشۍ په حال کې وه او د خپل کوچني معصوم ماشوم لاش یې د سینې سره کلک نیولی و او په ډیرو حسرتناکو سترګو یې د سلطان په لور کتل . ځکه هغه د سلطان د تاج د پسرولو په خاطر د هغه د مبارکۍ له پاره دربار ته راغلې وه. زوړ خواجه سرا لا تر اوسه په دربار کې لوڅې پښې ولاړ و . او د دربار میلمانه پټه او چپه خوله د سلطان د حکم منتظر ولاړ و.

په همدې وخت کې یو زوړ سردارد دخپله ځایه پاڅید او سلطان ته یې وویل: « درونده سلطانه ! .... د دربار میلمانه د سلطان د حکم انتظار کوی....او ټول خلک غواړی په دې و پوهیږي چې سلطان د خپلې تاج پوشۍ په لمړۍ ورځ ولې ددې کوچنی شهزاده د وژلو حکم صادر کړې و .....»

اوس نو د سلطان محمد له پاره ددې نه زیات خاموشه پاته کیدل د زغم وړ نه و . یو ناڅاپه یې خپله شاهي چپنه را تاوه کړه او بیرته د تخت په لور ورغې. اوپه ډیره جارحانه توګه په تخت ورو خوت. خو په تخت د کیناستو په ځاې و درید او په ټولو درباریانو یې یو نظر و ځغلاوه. بیا د یوه زخمي زمری په څیر و غورید او وی ویل:

« زه حکم کوم چې ..... همدا اوس اوهمدا شیبه د معصوم شهزاده قاتل په زنځیرونو تړلې زمونږ مخې ته را حاضر کړئ ،..... مونږ پوهیږو چې هغه د کوم شیطان په حکم سره داډول کرغیړن کار تر سره کړې دې. زه به د معصوم شهزاده دقاتل سره په خپله توره باندې قلم کړم.»

سپاهیانو دمحل دننۍ برخې ته ورمنډې کړې ، خو سلطان بیرته را وڅرخید او د خواجه سرا څخه یې وپوښتل « مونږ د معظمې ملکې خواجه سرا ته دهغه دګستاخۍ په اړه بښنه کوو ..... اودخواجه سرا څخه غواړو چې ووایی چې هغه ته څه ډول دمعصوم شهزاده د قاتل په اړه معلومات تر لاسه شوی دي.....؟»

اوس نو خواجه سرا هم دخپل جذباتي کیفیت څخه لږ څه راوتلې و. ترخنګ یې د سلطان لهجې هم هغه ډاډمن کړې و چې هغه د تحقیق پرته په نوي سلطان باندې دخپل کوچني ورور د وژلو تهمت تړلې و او په دې توګه یې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ ته بلنه ورکړې وه. خوکله چې سلطان هغه ته ښېنه وکړه نو هغه بيرته را ژوندې شو او په لړزيدلې اواز يې وويل:

«درونده سلطانه !... زما د ګواهۍ سبب داو چې ماته د نوي شهزاده قاتل دهغه د وژلو وروسته وويل چې هغه شهزاده د سلطان په حکم وژلې دې..»

دخواجه سرا د خبرو په اوريدو سره سلطان ولړزيد ، هغه په سخت اواز سره په بې اختياره توګه وويل:

« هغه بدبخت څوک دې چې پر مونږ يې داسې ناروا الزام لګولې دې ؟ او ددې معصوم په پاکه وينه يې لاسونه سره کړي دي ؟ ، ، ،»

دسلطان په مخ د ځوانۍ جوش د شاهي جلال په بڼه را ښکاره شوی و. او په دربار کې هر کس په خپل ځاې باندې ګم سم ولاړ و. د خواجه سرا حالت هم دمخکې څخه بدل شوې و ، اوس نو هغه په خپل مخکينې کرچار باندې پښېمانه معلوميده ، هغه په نښتې ژبه باندی يو ځل بيا وويل:

« درونده سلطانه !... دغه معصوم شهزاده د ينې چري سپه سالار د شاهي کنيزانو څخه ستا په حکم تر لاسه کړ اوبيا هغه سفاکه او ظالم انسان هغه له ځانه سره حمام ته يوړ او هلته يې د اوبو په ډنډ کې غرق کړ....»

په دې وخت کې د ټول دربار مخه د معظمې ملکې په لور شوه ، ځکه چې ملکه په ولاړه ولاړه يو دم په زمکه راپريوته او بې هوشه شوه. سلطان سمدلاسه ورمخته شو او پخپله يې ملکې سروين ته اوږه ورکړه ، دلږ ځنډ وروسته ملکه په خپلې خانګړې خونه کې د شاهی طبيبانو تر علاج لاندې وه. لا تر اوسه دربار نه و رخصت شوې . سلطان د خواجه سرا څخه د پيښې په اړه ټول معلومات تر لاسه کړي و او د ينې چري سپه سالار په اړه يې حکم وکړ چې زنځير تړلې يې د سلطان مخې ته راوړي. خو پخوا تر دې چې د سلطان ددې حکم دتعميل له پاره سپاهيان ولاړ شی ، بهرام خان په خپله د ينې چري دغه قاتل سپه سالار زنځير تړلې د سلطان مخې ته راوست. سپه سالار پرته له کومې ويرې د سلطان دربار کې و دريد.... دسلطان مخ تک سور شوې و. او سترګي يې د اور په څير انګار ګرزيدلې وې. هغه د ينې چري ددې سپه سالار په دې جرءت باندې حيرانتيا هم وښوده او ډيره بې حده غصه هم ور ته راغله. ځکه هغه دخپله اړخه داسې ښووله چې هيڅ ډول ظلم او تيرې يې نه دې کړې. بلکه هغه څه يې چې يې کړي دي بلکل درست اوسهي يې کړي دي ، دسلطان له پاره د سپه سالار انداز د پرېښونکي په څير و په دې خاطر ورته سلطان په ډير سختو الفاظو کې وويل:

« سپه سالاره !.... مونږ ته يواځې په دوو ټکو کې ځواب راکړه. ايا تا زما د کوچني ورور د وژلو سفاکانه او ظالمانه جرم تر سره کړې دې ؟....يا نه ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هو ! ما دا کوچني شهزاده وژلي دي..... خو ددې کار په تر سره کولو کې ما کوم جرم نه دې کړې ، هغه څه چې ما کړي دي د سلطنت د بهبود له پاره مې ترسره کړي دي ځکه چې په عثماني سلطنت کې تل دا ستونزه راپيدا کيږي چې د سلطنت شهزادګان د تخت او تاج د تر لاسه کولو له پاره دټول قوم اوولس په مقدراتو باندي لوبې کوي....

« خاموش ! ...ته د ادابو د حد څخه تيريږې.... تا نه يوازې کوچنی شهزاده وژلې بلکه پر مونږ دې د درواغو الزام هم لګولې دې ، چې دهغې په اساس دملکې خواجه سرا او د دربار يوشمير نور وګړي مونږ له تاسره په دې کار کې شريک ګڼي...... حال دا چې مونږ په دغه ډک دربار کې خپل خداې حاضر او ناظر ګڼو او دا سوګند يادوو چې مونږ ددې سفاک ددې وحشت څخه بلکل بې خبره وو ........ اوستا دا جسارت هم دبښلو وړ نه دې چې تا په ال عثمان باندې دتخت و تاج له پاره په خپل منځې جنګړو کولو ولګاوه ....مونږ تا ته د مرګ د سزا د اورولو نه مخته دا پوهيدل غواړو چې ته د چا له پاره کار کوې د دقسطنطنيې د قيصر له پاره او که د هنګرۍ د پادشاه هونياډی له پاره ؟»

سلطان ، سپه سالارته په يوه ډول دمرګ سزا واوروله ، خوپه حقيقت کې هغه لږ څه په ويره کې و . هغه په دې پوهيده چې دېنې چري دفوځ په څير دغسې يو ستر سپه سالار ته دسلطان د تخت ناستې په لمړۍ ورځ د مرګ سزا ورکړل شي نو په دې فوځ کې به يو ځل بيا بغاوت را ولاړ شي. نن دسلطان له پاره دخپل ژوند سخترينه لمحه تر مخه وه. داسې لمحه چې په اړه يې ويل کيږي (نه جاې رفتن.... نه پاې ماندن..) ، اوس که چيرې هغه د نوي شهزاده د سفاکانه وژلو بدله دسپه سالار څخه نه اخلي نو په درباريانو او نورو خلکو کې به ډيره سخته غصه اوقهر را وپاريږې ، اوبيا په ځانګړې توګه دهغه ميريزه مور ملکه سروين دخپل تيخور کوچني ماشوم څخه د بې برخې کيدو نه ورسته بې هوشه پرته وه اوپه خپله سلطان ته هم خپل کوچنې ورور ډير ګران اومحبوب و ، په دې خاطر يې هغه سپه سالار ته ډيره غصه راتله خو خپل ځان يې بې وسه احساسوه. هغه د سپه سالار څخه په دې خاطر دا پوښتنه کړې وه تر څو د عسيويانو سره د سپه سالار اړيکي را ډاګيزه شي اوبيا ددې سفاک ښټ په اسانۍ سره پرې کړل شي... خو سپه سالار يوځل بيا همغسې ځواب ورکړ:

« درونده سلطانه !.... سلطان بايزيد يلدرم چې څنګه په تخت کيناست نو تر ټولو لمړۍ يې خپل کشر ورور شهزاده يعقوب دهمدې مقصد له پاره ووژه دکوم له پاره چې ما دا کار ترسره کړې دې. ځکه دهغې ددربار علماو فتوي ورکړې وه چې...... الفتنة الشد من القتل.... فتنه د قتل څخه ډيره بده ده. په دې خاطر يې شهزاده يعقوب پرته له کوم دليله ووازه. ترڅو په راتلونکې کې کومه فتنه را ولاړه نه شی. ما هم دهمدې مقصد له پاره د کوچني شهزاده ژوند پاې ته ورساوه تر څو سلطنت د راتلونکې پيدا کيدونکې فتنې څخه خوندي پاتې شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسپه سالار ځواب ډیر عجیب و غریب و ، سلطان ورته په ډیره بده خوا وویل :« ته بلکل درواغ وایې ، د اسلام په مفتیانو باندې ناروا الزام لګوي. دا د مسلمانو سلاطینو کار نه دی بلکه د مصر د فرعونانو کار دی چې کوچني ماشومان دخپل تخت او تاج دخوندي ساتلو په خاطر وژني . مونږ تا په هیڅ صورت نه شو بښلې ،که څه هم زمونږ دا ټول سلطنت پرې له منځه ولاړ شي.

سلطان ډیر کلک عزم او هوډ کړې و او دتیږې په څیر یې په سخته لهجه جلاد ته حکم وکړ چې هغه دې د سپه سالار سر قلم کړي او دمعظمې ملکې په پښو کې دې یې کیږدي. دسلطان دحکم د اوریدو سره سم سپه سالار د لمړي ځل له پاره په ویره کې شو او په ډیره مضطربه توګه یې سلطان ته مخ کړ اوورته یې وویل:

« درونده سلطانه ! ...ته د یو تیخور کوچني په بدل کې دعثماني سلطنت د ستر فوځ ینې چري راتلونکې په داو ږدی.او دا کار به دقوم اوولس له پاره ډیر زیانمن ثابت شي. په دې توګه به لکه دپخوا په شان په فوځ کې یو ځل بیا بغاوت را ولاړشي ، ماته د خپل ځان په اړه غم نه شته. زه د معظم سلطان دحکم سره سم دخپل څټ پرې کولو ته تیار یم ،خو په دې توګه به سلطنت ته ډیر زیات زیان اونقصان ور رسیږي.»

په حقیقت کې د سپه سالار خبرې پټ ګوابنونه وو چې سلطان پرې ډیر ښه پوهیده. خو اوس هغه پریکړه کړې وه اوویلي یې چې په هیڅ صورت به دا ظالم او سفاک نه ښښي. دسلطان د حکم سره سم جلاد هملته د سپه سالار دکار دپاي ته درسولو له پاره را حاضر شو ...خو پخوا تر دې چې هغوی دې په زنځیرونو کې تړلې سپه سالار دژوند څخه بیغمه کړي.... د یوه اړخه قاسم بن هشام مخته راغې او سلطان ته یې عرض وکړ چې:

« درونده سلطانه ! د یوه سرکاري سراغ رسان په توګه زه د سلطان څخه اجازه اخستل غواړم چې هغه دې دغه مجرم د لا زیات تحقیق له پاره ماته حواله کړي. تر څو دهغه څخه معلومات تر لاسه کړل شی چې دا مذموم او کرغیړن عمل یې دچا په اشاره سره تر سره کړې دی.؟»

په حقیقت کې قاسم د سلطان ستونزه حل کړې وه. که په د ې توګه په ریښتیا هم د سپه سالار اړیکي د کومې مسیحې ډلې سره ثابتې شي نو بیا به دیني چري د سالار د وژلو کار په ډیره اسانۍ سره تر سره شي. دبله اړخه سلطان ته د قاسم په دې وړاندیز حوصله تر لاسه شوه اوداسې ورته څرګنده شوه لکه د رحمت ملائکه چې یې بسپنې ته را رسیدلې وي. سلطان سمدلاسه حکم وکړ چې د کوچني تیخور شهزاده قاتل د قاسم بن هشام سره یوسئ. ددې وروسته سلطان خپل دربار رخصت کړ. نن د تاج د په سرکولو ورځ وه اوهمغه څه په کې وشول چې سلطان او قاسم بن هشام ترې ویریدل. سازشي او غدارو عناصرو خپل کار تر سره کړې و او دسلطان له پاره یې په همغه لمړۍ ورځ ډیره ستره ستونزه راپیدا کړې وه ، دا مسئله بلاخره د قاسم بن هشام په واسطه حل شوه او هغه د کوچني شهزاده سفاک قاتل د خپله ځانه سره د پټې محکمې تاخانې ته یوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته په راتلو سره قاسم بن هشام ټول سپاهيان رخصت کړل. او کله چې تا خانه خالي شوه نو قاسم بن هشام سپه سالار ته وويل: « سپه سالاره ! تا د پادشاه ورور وژلې دې ، او په خپلو لاسو دې وژلې دې،ته خو پوهيږې چې ته د مرګ څخه خوندي کيدې نه شې. خو ستا د خوندي پاته کيدو له پاره يوائې يوه لاره شته او هغه داچې زه تاته ددې ځايه د تيښتې لاره پرانزم. زه له تاسره کومک کولو له پاره تيار يم ، خو په دې شرط چې ته به ماته يوه خبره کوې »..

« قاسم بن هشامه ! زه پوهيږم چې ته له ما څخه څه غواړې. ته به له ما څخه دا خبره راباسې چې زه وو ايم چې زه د عيسويانو جاسوس يم. خو دا به ستا ډيره غلطه انګيرنه وي ، زه اوس هم په همغه خبره ولاړ يم چې دسلطان ورور مې د سلطنت د خير ښيګڼې له پاره وژلې دې.»

سپه سالار د قاسم د هيلو نه زيات چالاکه و خوت. خو قاسم خپل همت له لاسه ورنکړ او يو ځل بيا يې ورته وويل :

« ماته له تا څخه د کومې خبرې د راويستلو اړتيا نه شته. زه ډير ښه پوهيږم چې ته د چا له پاره کار کوې. زه په دې هم خبر يم چې ستا اصليت د کومه ځايه دې. او په ينې چري کې څه ډول ور ننوتې يې. شايد تاته به ډاګيزه شوي نه وي چې هغه څوک چې د لمړي ځل له پاره يې د ابوجعفر او سليم پاشا د مخونو نه پرده لرې کړه هغه زه وم. ما ته په دې اړه هم معلومات شته چې د سلطان مشر ورور علاوالدين په خپل طبيعي مرګ نه دې مړ شوې بلکه هغه وژل شوې دې. ته په کومه غلطه انګيرنه کې ځانه مه غورزوه. زه غواړم له تاسره يوه سودا وکړم. ماته د خپل يو ذاتي دښمن په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو اړتيا ده. ددې په بدل کې زه تا ته د «اورنه» څخه د وتلو لاره پرانستې شم.

اوس دقاسم دخبرو په اوريدو سره د سپه سالار زړه درزار پيل کړ. هغه ته د قاسم په خبرو کې رينښتياوالې احساسيده. هغه په دې هم پوهيده چې د قاسم دښمن څوک و. هغه به څنګه اوڅه ډول ابوجعفر له ياده ويستلې وې چې د پريښودو او ازادولو له پاره يې څو کاله مخته ، په يوې تيارې شپې اورنه په شمالي کلا باندې حمله کړې وه .... هو !....دا سپه سالار همغه شخص و چې نقاب پوښه ډله يې د شپې په تياره کې دابوجعفر پسې ولاړل اوهغه يې د قاسم د بندي خانې څخه خلاص کړ ، دسپه سالار قصه ډيره لنډه وه. هغه په قسطنطنيه کې پيدا شوې و . هملته روزل شوې و ، کورنۍ يې د قيصر نژدې دوستان و. په دې خاطر قيصر هغه د يوه ستر کار له پاره مؤظف کړې و. اوهغه ستر کار داو چې هغه دې په کوم جنګ کې په مصنوعي توګه ځان بندي کړی او دسلطان په ينې چري کې دې ځان ور ننباسي. اوبيا هغه همداسې وکړل. ددې يو علت دا و چې دسلطان ينې چري په اصل کې د عيسوی بنديانو څخه جوړ کړل شوی و ، همغه بنديان چې په جنګ کې به نيول کيدل اوبيا به د روزنې او مسلمانيدو له پاره په ينې چري کې ورداخليدل. کله چې سپه سالار د قاسم دخولې څخه داواوريدل چې قاسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه په اړه په هر څه پوهيږي نو روح یې په لړزه شو . هغه ته داسې څرګنده شوه لکه سلطاني توره یې چې په سر سپره وی. سمدلاسه یې پریکړه وکړه چې د قاسم سره به مرسته کوي اوبیا به داورنه څخه د تیښتې هڅه کوي ، په همدې فکرونوکې ډوب شو اوبیا یې وویل:

« ددې خبرې له پاره به څه ډول ثبوت موجود وي چې تاته ددښمن د پټې د ښوولو وروسته به ته ما پرېږدې ؟»

د قاسم غشې سهي په نښه لګیدلې و. ګویا سپه سالار اعتراف کړې و چې هغه د قیصر جاسوس دې ، دهغه ددې پوښتنې په ځواب کې ورته قاسم وویل: « زما په سودا باندې یقین کول ستا مجبوري ده ،که چیرې ته پرې یقین نه کوې نو مه یې کوه. زه به له تاڅخه د خپل دښمن پته اودرک تا ته د اذیت د درکولو په اساس هم واخلم. اوس چې ستا خنګه خوښه وي...»

د قاسم په خبرو کې وزن و .او سپه سالار دا وزن ډیر ښه محسوساوه. هغه په ډیره بې وسۍ سره دقاسم په لور وکتل او ورته یې وویل: « ته سهي خبره کوې. پر تا باور کول زما مجبوري ده. ته زما د لاس اوپښو زنځیرونه پرانیزه. زه له تاسره د تعاون کولو له پاره تیار یم.»

قاسم دهغه ټول زنځیرونه پرانستل. یوازې په لاسو کې یې ورته هتکړۍ پریښودې تر څو حمله ونه کړای شي. د هغه تر څنګ په فرش باندې کیناست ، په دې وخت کې سپه سالار وویل:

« ابوجعفر ما د جمعې په شپه ستا له بنده ازاد کړ ، ما اوزما ملګرو د نیمې شپې نه وروسته په شمالي کلا حمله وکړه ، هلته شته ساتونکې مو ووژل او د کلا د تاخانې څخه مو ابوجعفر ازاد کړ ،بیا د کلا د دیوال په لور دښاره بیرون کوز شو ، د ښاره بیرون د البانوي کنیزې دلور « مارسې» دسپرلۍ ګاډۍ د څو ساتونکو سره یو ځای زمونږ منتظر وه. .....»

سپه سالار همدومره خبره وکړه چې د قاسم ماغزه لړې لړې ولاړل. ایا ابوجعفر مارسې دخپله ځانه سره وړې ده ؟ ایا تر هغه وخته پورې مارسې ژوندۍ وه ؟..... د قاسم په مغزو کې دا پوښتنې یوپه بل پسې راولاړیدې. په دې اساس یې ترې په بې صبرۍ سره وپوښتل:

« دا څه.....دا ته څه وایې ؟ ایا د البانوي کنیزې لور مارسې تر دې وخته پورې ژوندۍ وه.»

هو ! هغه زخمې وه ، خوبیا پوره روغه رمټه شوې وه. مونږ هغه په یو غوای ګاډۍ کې واچوله او دالبانیه په لور مو ولیږله. مونږ نیغ په نیغه د البانیه لاره وانه خستله. بلکه لمړۍ مو د کوچنۍ اسیا په لور پنځه سوه واټنه لاره ووهله اوبیا د یوه اوږد مورږ نه د راګرزیدو وروسته د بالقان دغرونو په لور ولاړو ، هلته دبالقان غرونو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسیدو وروسته ما ابوجعفر ته خداي پاماني وویله. او بیرته اورنه ته راستون شوم. په هغه وخت کې زه سپه سالار نه وم ، بلکه خواجه خیري سپه سالارو ،په دې خاطر زما په غیر حاضرۍ باندې دچا سترګې و نه لګیدې.»

په قاسم د حیرانتیاو غرونه را پریوتي و ، هغه په خپل ځاې ناست ناست مضطرب ګرزیدلې و . مارسي دهغه لمرنۍ محبت ، هغه تر اوسه ژوندۍ وه ، خوشپږکاله مخته هغه مارسي په مرو کې شمیرلې وه . اوبیا کله چې دهغه خاص سرۍ د البانیا ځخه د بیرته راستنیدو په وخت کې هغه ته ویلي و چې سکندر بیګ د مراد خان ثاني قاصدان شهیدان کړي او دا چې مارسی هلته په البانوي قصر کې نه شته. نوهغه متیقین شوي و چې مارسی مړه شوې ده ، خو نن د سپه سالار دخبرو د اوریدو وروسته دهغه اوسان ورخطا شوي وو. ځکه چې اوس نژدې شپږ کاله وروسته هغه ته دمارسی د ژوند په اړه خبر رسیدلې و. هغه ډیر زیات نا ارامه و . اوغوښتل یی چې په څه ډول ددې ځایه والوزې او مارسي ته ځآن ورسوي. خو دا ورته ډاګیزه نه وه چې مارسی چیرې ده. هغه په ډیره جذباتي توګه وویل:

« ایا تاته ددې البانوي کنیزې د لور په اړه څه معلومات شته چې هغه اوس چیرې ده ؟او ابوجعفر هغه چیرې وړې ده ؟»

« هو ! ماته معلومه ده چې ابوجعفر هغه البانیی کې سکندربیګ ته ور رسوله.»

« خو اوس هغه په البانیه کې نه شته ، ما یی پخپله پوښتنه کړې ده ....» قاسم ترې په پوره ناقرارۍ سره وپوښتل ، اوس نو سپه سالار دقاسم حالات په کلکه ځارل. هغه کتل چې قاسم دمارسی د نوم په اخستول سره جذباتی کیږي خو هغه ته د مارسی په اړه ددې نه زیات معلومات نه و . همدومره پوهیده چې ابوحعفر له ځانه سره البانیا ته یوړه. بیا هغه لږ څه په ناهیلۍ سره وویل:

« ماته د مارسي په اړه ددې نه زیات معلومات نه شته. خوما ته د ابوجعفر په اړه معلومات شته چې هغه اوس کوم ځاې کې دې.»

د قاسم له پاره دا خبره هم ډیره په زړه پورې وه. دهغه دبدن ویښتان راپورته شول او په پوره توګه یی دهغه خبرو ته غوږ کیښود سپه سالار ورته وویل:

« اوس ابوجعفر دقسطنطنیی په ستر کلیسا کې « ایا صوفیا » کې میشت دې. دهغه اصلي نوم « ډیمونان » دې ، هغه اوس په ایا صوفیا کې ډیر ستر « بطریق » دې. ډیمونان دخپلو پخوانیو کارنامو په اساس د بطریق اعظم او شهنشاه سره ډیر ې نژدې اړیکي لري. خو اوس هم دهمغه جاسوسۍ د نظام سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم له پاره دا معلومات ډېر دحیرانۍ ور و . د ابوجعفر داصلیت په پوهیدو سره هغه د اور سره سکروټه وګرزیده . هغه ته داسې ډاګیزه شوه چې که هغه تر ابوجعفره پورې ځان ورسوی نو ګویا تر مارسی یې ځان ور رسولې دې. قاسم دسپه سالار څخه ددې نه اخوا نور څه پوښتنه کول نه غوښتل. خوبیا یې هم تر ډیره وخته پورې د سپه سالار سره په مختلفو موضوعاتو خبرې اترې کولې. هغه دسپه سالار څخه دا هم را برسیره کړل چې په اورنه کې اوس د قیصر څومره جاسوسان په خپلو دندو کې مصروف دې. د سپه سالار څخه د ټولو رازونو د څرګندولو وروسته قاسم دهغه ځایه راپورته شو او روان شو ،سپه سالار هم په ډیره بېړه راپورته شو اوویې ویل:

« دا څه دې ؟.....ته ځې.... او هغه ستا سودا .....؟ زما به څه کیږي ؟»

« ته مه ویریږه.... زه به دشپې ناوخته تا له دې ځایه باسم..»

خو هغه شپه هیڅکله هم رانغله. قاسم دهغه ځایه نیغ په نیغه د سلطان دربار ته راغې اوهغه ته یې ټول تفصیلات ټکې په ټکې وویل. چې په پایلو کې یې سبا سهار د سفاک قاتل لاش د ښار په ستر چوک کې را ځړیده. سلطان په ښار کې منادی وکړه او خلکو ته یې وویل چې دیني چرني سپه سالار یې دکوچنی شهزاده د وژلو په بدل کې قصا ص کړ ، په داسې حال کې چې د لاسته را غلو معلوماتو په اساس ، قاسم بن هشام په یني چرې کې ټول مشکوک سالاران دشپې ونیول ، او په دې توګه د بغاوت هغه ګواښ چې د یني چرې د سالار د مړینې وروسته را پیدا کیدونکې و له منځه ولاړ. سلطان دیني چرې سپه سالار ته د مرګ د سزا د ورکولو وروسته دفوځ له پاره نوی سپه سالار و ټاکه اوهغه دقاسم بن هشام دوست اغا حسن و .

کله چې اغاحسن سپه سالار شو نو دفوځ لارې ا وګودرونه هم بدل شول. ځکه چې اغا حسن یو مخلص ، پاک اومسلمان شخصت و . تر څنګ یې یو بهادر اومیړنې جنګجو او مجا هد هم و . د اغا حسن په را تلو سره په ټول فوځ کې دغیرت ،حمیت ، میړانې اوبهادرۍ څپې خپرې شوې.

قاسم هم د اغاحسن په ټاکنې ډېر خوښ و . خو دهغه په ذهن کې به هره ګړۍ او هر ساعت د قسطنطنیې په لور د تللو تلوسه را ډاګیزه کیده . هغه غوښتل ابوجعفر ته ځان ور ورسوي ترڅو دهغه څخه دخپلې مارسی په اړه و پوښتي ، حقیقت دادې چې د هغه زړه دشپږو کالو راهیسی دا نه منله چې د هغه مارسی دې مړه شوي وي ، دهغه په ذهن کې به هروخت مارسی ژوندۍ وه. خو دهغه وخته چې ورته د مارسی د ژوند په اړه معلومات ډاګیزه شوې دي نو خوب یې دسترګو تښتیدلې دې ، هغه هره لحظه د قسطنطنیې په لور د تللو په فکر کې و ، یوه ورځ کور کې حمیرا هغه ډېر اندېښمن وکوت او ترې ویې پوښتل: « نن سبا ډېر اندېښمن معلومیږې ،.... داسې بریښې چې دکوم جدا شوې محبت غم دې ځوروی ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم حمیراته د مارسی په اړه هر څه ویلي و. په همدې خاطر یې ورته په خندا نه خوله وویل: « هو !....په حقیقت کې ماته یو ډیر په زړه پورې خبر تر لاسه شوې دې، په دې فکر کې یم چې تاته یې ووایم او کنه....»

« دا به څه ډول خبر وي چې ته یې ماته د ویلو څخه ویره محسوسوې.....ته اندیښنه مه کوه او خپله خبره راته وکړه. که تا له مارسی سره مینه کړې ده نو ما له تاسره مینه کړې ده ، زه ددې پروا هم نه کوم چې که چیرې ته مارسی بیرته را ژوندۍ کړې او دې کور ته یې هم راوړې.»

قاسم د حمیرا په خبرو په اوریدو ډیر حیران شو، هغه په خپلې محبوبې ښځې نوره هم مینه راغله. حمیرا یې په خپله غیږ کې ونیوله او د خپل ځان سره یې په داسې حال کې روانه کړه چې لاس یې د هغې په سر باندې واهه او ورته یې ویل:

«حمیرا ! ته زما ژوند یې. زما دلور مور یې ، اوریښتیا خو دادې چې ته زما مینه او محبت یې..... حمیراجانې ! زه له تا څخه هیڅ نه پټوم ، ماته خبر راغلې چې مارسي شهیده شوې نه ده. بلکه تر اوسه پورې ژوندۍ ده. خو دا راته ډاګیزه نه ده چې هغه اوس چیرې ده. د هغې د مور قاتل اوددې ځایه د هغه تښتونکې وګړې په قسطنطنیه کې دې. ماته د هغه په اړه معلومات تر لاسه شوې دې. زه غواړم چې د سلطان څخه په یوه بهانه اجازه واخلم او قسطنطنیې ته ولاړ شم او د مارسی په اړه معلومات تر لاسه کړم.»

قاسم احساس کړې وه چې د مارسی د ژوندۍ پاته کیدو خبر دحمیرا زړه ته ټکان ورکړې و اودهغه په مخ د حیرانتیا نښې راپیدا شوې وې ، هغې خپل مخ را پورته کړ او د اوښکو ډکې سترګې یې و مخلې او بیا یې په ژرغوني اواز سره وویل:

« واه ، واه ، دا خو د ډیرې زیاتې خوشحالۍ خبره ده. که چیرې مارسي ژوندۍ وې نو زه به هغه پخپلو لاسو ناوې کړم اودلته به یې راوړم. هغه نه یواځې ستا محبت دې بلکه زما خور هم ده. هغه ډیره ستره ده. ما خو هیڅ هم نه دي کړي خو هغې د ایمان او اسلام په خاطر ډیر څه قربان کړي دي ، دداسې پیغلې خو زیارت ته ورتګ په کار دې .

دحمیرا په زړه کې له یوه اړخه د مارسی له پاره د عقیدې او خیرښیګڼې جذبات را پاریدلي وو. خو دبله اړخه یې دخپلې مینې د ویش په اړه اندیښنه درلوده ،خو هغې دخپل آند له مخې هیڅ داسې اندیښنه را څرګنده نه کړه. او د قاسم په غیږ کې یې نور هم ځان ور سلیښت کړ.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان محمد خان تخت و تاج خپل کړې و ، او په تخت باندې کیناست. په همغه لمړۍ ورځ پرې چې دخپل کوچني ورور د وژلو کوم الزام لګیدلې و هغه داغ اوس له منځه تللې و. د سلطنت ګڼ شمیر عمایدینو ته اوس دا ډاډ ترلاسه شوې و چې که چیرې د نوې کوچني او تیخور شهزاده د وژلو حکم سلطان ورکړې واې نو هغه به هغه د تاج دپه سرولو په ورځ نه واژه ، هغه کولې شو دخپل تخت د ناستې د مراسمو نه وروسته دا کار په ډیر ارام سره ترسره کړي ، هیڅا ته ددې کوچني تیخور ماشوم د تخت د کیناستو په اړه کوم فکر نه و پیدا شوې. بلکه ټول دمحمد خان ملاتړی و. سلطان د تخت د کیناستو څخه یوازې دوه ورځې دمخه «اورنه» ته راغلې و. په داسې حال کې چې د فوځ مشر د پخوا نه همدلته موجود و. که چیرې سلطان دداسې کوم کار دکولو اراده درلودې نو دا کار به یې دهغو سردارانو په لاسو کړې وې چې د کوچنۍ اسیا څخه اورنه ته دهغه سره یو ځای راغلي و او سلطان پرې پوره باور هم درلود. اورنه ته د راتلو سره سم داسې یوه سردار ته چې هغه پوره هم نه پیژانده ،داسې حکم ورکول د احتیاط پر خلاف کار و. بیا د ټولو نه ستره خبره داوه چې د «یني چري» سپه سالار ان د مرګ تر وخته پورې په سلطان باندې دوباره الزام و نه لګاوه. د سلطنت اراکین په همدې خبرو د فکر کولو په اساس ډاډمن شوي و . په حقیقت کې د یني چري فوځ د عثماني سلطنت ډیر نازولې فوځ ګڼل کیده نو په دې خاطر به په دې فوځ او ددې فوځ په سردارانو کې د بغاوت اغیز تل تر سترګو کیده. دغه قاتل سپه سالار د سلطان د قابو کولو له پاره دغه کار ترسره کړې و او هغه هیله درلوده چې سلطان به د بغاوت له ویرې دهغه ژوند ته کوم ګوابښ پیښ نه کړي. او تل به دهغه دفشار او کنترول لاندې وي. خو سلطان محمد خان بلکل د یوه مختلف مزاج خاوند ثابت شو. هغوې چې دا فکر یې کاوه چې سلطان محمد خان همغه محمد خان دې چې څو کاله دمخه یې ددوه ځلې ناکامیو وروسته سلطنت پرې ایښې او اوس به هم ناکامیږي نو هغوې دمحمد خان ددې اقدام څخه خبر شول او هغوې دا احساس کړه چې سلطان محمد خان اوس هغه کوچني شهزاده نه دې.

دمحمد خان د تخت دکیناستو څخه درې کاله مخته د بازنطیني سلطنت اخري حکمران.....دولسم قسطنطین ، د قسطنطنی په تخت باندې ناست و. نوموړې هم د « جان پلیپولوګس » په څیر چالاکه اوهوښیار انسان و . هغه د سلطان محمد خان د په تخت کیناستو وروسته د کوچنۍ اسیا سرکشه او باغي سردارانو او امیرانو ته ، دسمدلاسه بغاوت کولو حکم وکړ. په دې خاطر سلطان محمد خان د خپل تخت د کیناستو نه څو ورځې وروسته دهمدې کوچنۍ اسیا په لور توجه وکړه. لاتر اوسه سلطان محمد خان د کوچنۍ اسیا د بغاوتونو د ځپلو څخه نه و فارغ شوې چې د قسطنطنیې پادشاه ورته پیغام ولیږه چې د سلطان مرادخان ثاني د وخته راهیسې د عثماني سلطنت یو شهزاده ( ارخان ) نومې چې زمونږ سره بندي دې او دهغه د مصارفو له پاره چې کوم څه دسلطاني خزانې څخه ټاکل شوي و باید په هغې کې ډیرښت راوړې. او که نه مونږ به هغه شهزاده ازا د کړو او بیا به دهغه سره ستاسې پر خلاف فوځی کومک هم وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ارخان» د بایزید یلدرم لمسي و . او دبایزید دهغو زامنو څخه د یوه زوي و چې د انګوري د جنګ نه وروسته خپاره شوی و . په دې خاطر ارخان دسلطان مرادخان ثاني دکاکازوې هم و . څرنګه چې د قسطنطنیی قیصر د عثماني سلطان تخت ناستې سلطان محمد خان یو کمزورې شخص ګاڼه . نوپه دې خاطر یې غوښتل دخپلو ګوابنوونو په واسطه د سلطان محمدخان خزانې تر لاسه کړي. خوسلطان محمد خان دهغه هیڅ پرواه ونه کړه. هغه دقیصر قاصدان نامراده بیرته ولیږل. او په خپل زړه کې دا هوډ وکړ چې تر هغې چې د عیسویانو دسلطنت جرړې و نه کاږې نو د عثماني سلطنت دوام اوقیام ته به تل ګواښ ګڼل کیږي ، په دې وخت کې سلطان دقیصر قاصدانو ته سپینه خبره ونه وکړه. خوپه خپله یې دقیصر د له منځه وړلو له پاره فکر کول پیل کړل.

قسطنطین یو جنګجو شهزاده و . خو د خپل ځان په لور د محمدخان د توجه د را ګرځولو په اړه یې همغسې غلطي وکړه لکه دهغه نه مخکې « مینوئیل » چې د سلطان مرادخاني ثاني سره کړې وه. ارخان د شهزاده سلیمان د زوزاکه و. شهنشاه خو سلطان محمد خان ته ګواښ کړې و خو هغه ته دا اندازه نه وه چې د نوي ځوان شهزاده ځواکونه په څومره چټکۍ سره پرمختګ کوي او دهمدې دوویشت کالو په عمر کې هغه د پوره پوخوالي ، فوځي وړتیاو ، او دهیواد په کورني تنظیم اوتدبیر کې دخپلو ټولو پخوانیو څخه مختوالې کړې .

د سلطان محمد خان لمړي وزیر « خلیل پاشا » د قسطنطین د قاصدانو ددغه غیر معقولې غوښتنې د خطر اتو څخه ښه خبر و نوپه دې اساس یې هغوې ته وویل:

ستاسې لیونتوب «قسطنطنیه» به دسلطان په لاسو کې راځي ، تاسې په ټوله اروپا کې ارخان دسلطان په ځیر اعلان کړئ ، بې شکه د هنګري خلک هم دخپلې بسپنې له پاره را وغواړئ ، کوم ولایتونه چې تاسې یې بیرته اخستلې شئ دهغوې د بیرته اخستلو هڅې هم وکړئ ، خو تاسې به ډیر ژر د بازنطینی سلطنت پای په خپلو سترګوووینئ.

په هغه ورځ چې د قیصر قاصدان دسلطان سره دکتلو له پاره ورغلل. نوپه همغه شیبه کې سلطان هوډ کړې و چې قسطنطنیه به دخپل سلطنت یوه برخه ګرځوي. د « سینوپ » او « طرابزون» څخه علاوه د پخواني بازینطیني سلطنت په ټولو سیمو باندې عثماني دولت ولکه کړې وه. په اروپا کې یواځې قسطنطنیه اودهغې شاوخوا سیمې عیسویانو ته پاته وې ، د قیاصره هغه ستر سلطنت چې یو وخت د نړۍ د سترو اوځواکمنو سلطنتونو څخه ګڼل کیده اوس د تباهۍ اوبربادۍ اخري حد ته رسیدلې و . اوهر هغه ځای کې چې ځواک او قوت لیدل کیده هغه نژدې ټول له منځه تللي وو . خو په دې ټولو کې دقسطنطنیی وجود او په خپل ځای پاته کیدل پخپله داهمیت وړ وو . او دقیصر دسلطنت دغه اخري ښخته په خپل ځای باندې همغسې ولاړه پاته وه. دهغه وخته راهیسې چې ترکانو د اروپا په زمکه پښه ایښودې ده نو دهمغې ورځې وروسته یې ددې ښار د فتحه کولو ارزو او هیلې په زړونوکې را ټوکیدلې دي. هرڅومره چې د فتوحاتو لړۍ پراخیده ، دهغوې په زړونو کې ددې ښار سوبه کول هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکمن کيدل. چې بيا بلاخره ددې خبرې عملي نمونه د « سلطان بايزيد يلدرم» په وخت کې را څرګنده شوه. او دا هغه وخت و چې هغه د ابناى فاسفورس په شرقى ساحل کې يوه ستره فوځي کلا جوړه کړه او دهمغې ځآيه يې قسطنطنيه کلابنده کړه. خو د کلابندۍ څو ورځې لا نه وې تيرې شوې چې تيموري حملې د بايزيد دا کلابندي د پاې ته رسولو سره مخ کړه ، دهغې نه وروسته بيا سلطان مرادخان ثاني که څه هم نه غوښتل چې د شهنشاه سره کومه تربګنې را پيدا کړي خوپخپله د شهنشاه غدارۍ هغه دې ته مجبور کړ چې دسلطنت دخوندي ساتلو په خاطر د سازشونو او جاسوسيو مرکز قسطنطنيه باندې ولکه وکړي ، تر څو دا فتنه د تل له پاره پاې ته ورسيږي. خو دبازنطينی سلطنت څو ورځې لا پاته وې نو په دې اساس سلطان مرادخان هم خپله کلا بندي پاې ته ورسوله او د نورو بغاوتونو د ځپلو له پاره يې هغو لوريو ته مخه کړه.

سلطان مرادخان په دې ښه پوهيده چې د « بحر مارمورا » دواړو اړخونو ته د عثمانيانو حکومت دې او په منځ کې يې يواځې قسطنطنيه ده چې دعيسويانو په لاسو کې ده. نو تر هغې چې قسطنطنيه په همدې توګه موجوده وي نو سلطان ته به په اسيايي او اورپاې مقبوضاتو کې امنيت راوړل ستونزمن ګرځي. نو په دې خاطر هغه بايد په قسطنطنيی باندې د ولکې کولو له پاره ځان تيار کړي. ځکه هغه بايد د خپلو مقبوضاتو د خوندي ساتلو له پاره قسطنطنيه له منځه وړې واې ، دا اوداسې نور څو علتونه و چې هغه په همغه لمړۍ ورځ په قسطنطنيی باندې د ولکې کولو له پاره هوډ وکړ. او په دې توګه هغه دخپل حکومت د تر ټولو دستر کار د تر سره کولو له پاره يې خپل ځان تياراوه.

د قيصر دقاصدانو د بيرته ستنيدو وروسته سلطان د کوچنۍ اسيا په لور ولاړ ، هلته يې د هر څه دمخه د خپلو سالارانو ، وزيرانو ، امرانو اورئيساو غونډه را وبلله. په دې غونډه کې قاسم بن هشام هم موجود و. سلطان غوښتل چې د خپل سلطنت غړي نه يوازې دخپلو ارادو څخه اګاه کړي بلکه دهغوې څخه په قسطنطنيه باندې دحملې کولو ملاتړ هم تر لاسه کړي. دا يو ډير ښه اتفاق و ، په هغه ورځ چې سلطان دخپل دربار غونډه رابللې وه په همدې ورځ د قسطنطنيی د شهنشاه يو بل قاصد اورنه ته رارسيدلې و. په همغه وخت کې چې په قسطنطنيی باندې د حملې کولو له پاره ګرم بحث جريان درلود ، د سلطنت وزير سلطان ته را نژدې شو اودهغه په غوږ يې د قيصر د قاصد د راتلو په اړه خبر ورکړ. په دربار کې يو شمير خلک د قيصر سره داړيکو دخرابولو ملاتړي نه و ، په دې وخت کې سلطان ته دقيصر د قاصدانو راتګ د غيبي کومک نه کم و. په دې خاطر يې د قيصر سفير د غونډې او ګرم بحث په منځ کې راوباله. کله چې دقيصر سفير دربار ته را ننوت نو د ټولو درباريانو سترګې پرې و رونښتې ، دوې په يو ځانګړې لباس په ځان کړې و ، په غاړو کې يې طلايي صليبونه را ځړول شوي و. او په سرونو يې د قسطنطنيی ځانګړې خولۍ اينښودې وې. کله چې د شهنشاه سفير دسلطان مخې ته راغلل نو دشاهي ادابو د په ځاې کولو پرته په ډيره بې ادبۍ سره و دريدل. بيا دسلطان په اشارې سره دهغوې څخه يوه د قيصر پيغام ولوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د شهنشاهانو د شهنشاه ، د قسطنطنیې د قیصر «دولسم قسطنطین» له لورې د سلطان محمد خان په نامه:

سلطان محمد خان ته خبر ورکول کیږي چې د بایزید یلدرم لمسي او د سلیمانشاه زوي ارخان زمونږ سره بندي دې ، د هغه د خوراک څښاک له پاره چې کومې پیسې د شاهي خزانې څخه را استول کیږي ډیرې ناکافي دي ، په دې خاطر سلطان ته په کار دي چې په دې پیسو کې ډیرښت راوړي او هغه دوه هومره کړي ، او که نه شهنشاه به عثماني شهزاده ازاد کړي او د سلطان محمد خان په مخ کې به یې ودروي ، شهنشاه دا حکم هم کړې دې چې دا ځل د شهنشاه د قاصدانو د ناکامه او نامراده بیرته ستنولو ټول مسؤلیت به د سلطان په غاړه وي»

د قسطنطنیې د قیصر د قاصدانو د دغه نالیکلي پیغام د اوریدو نه وروسته د دربار ټول حاضرین هک پک او حیران دریان شول او د قهره او غضبه سره تاویدل راتاویدل. د سلطان پلان بریالي شوی و ځکه هغه خلک چې اوس د قیصر په خلاف ملاتړي نه ښکاریدل هغوی هم د دې پیغام د اوریدو وروسته د خپله آنده ګرزیدلي و ، سلطان د دربار د خلکو د راې د اوریدو وروسته د شهنشاه قاصدان په ډیره سپکه او ذلیله توګه د درباره وویستل . د قیصر د قاصدانو د تللو وروسته د دربار غونډه بیرته پیل شوه، دا ځل د ټول آند داو چې په قسطنطنیې باندې دې په ټول ځواک سره حمله وکړل شی او د دې حملې له پاره دې پوره پوره تیارې و نیول شي. سلطان ته د مملکت یو ډیر زور او باعزته غړي یوه ډیره عجیبه مشوره ورکړه:

« درونده سلطانه ! د عثماني سلطنت پخوانیو حکمرانانو هم څو ځلې په قسطنطنیې باندی حملې کړې دي ، خو هر ځل به د کوچنۍ اسیا څخه د بغاوت د پورته کیدو خبرونه راتلل اودا حکمرانان مجبور وو چې د هغو بغاوتونو د ځپلو له پاره هغه لورې ته مخه کړي ، زما ناقصه مشوره خو داده چې دا ځل په قسطنطنیې باندې د حملې کولو د مخه د «کرمانیا » د امیر سره سوله وکړل شي....زما په فکر کې د دې تلپاتې سولې له پاره یوه مشوره هم شته ،که چیرې معظم سلطان د هغې د ویلو اجازه راکړي....»

«اجازه ده»

« درونده سلطانه ! د کرمانیا امیر یوه ځوانه لور لري ، که چیرې دروند سلطان د هغې سره د نکاح کولو اراده وکړي نو زه ډاډمن یم چې د کرمانیا امیر به یې په خوشحالۍ سره ومني اوپه دې توګه به مونږ د قسطنطنیې د کلابندۍ په وخت کې د اندیښنو سره نه مخ کیږي....»

سلطان د سلطنت د دغې زاړه او وفاداره غړي مشوره ډیره وستایله . او پرته له ځنډه یې په هغې د عمل کولو اراده وکړه . په همدې وخت کې قاسم بن هشام د خپله ځایه راپورته شو او د سلطان څخه یې د خبرو کولو اجازه و غوښته ، سلطان د قاسم بن هشام په لور وکتل او په خندا شو ، بیا یې ورته د خبرو کولو اجازه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« درونده سلطانه ! دکرمانیا دامیر سره د سولې دکولو مشوره ډیره په ځاې او د عقل خبره ده ، په دې توګه زما آند دادې چې په قسطنطنیې باندې د حملې کولو دمخه د هنګرې دپادشاه هونیاډی سره هم سولې کولو ته اړتیا ده.˝ ځکه د پرلپسې ماتې خوړلو وروسته د هنګرې پادشاه هم په سنګر کې ناست دې او غواړې د فرصت د ترلاسه کولو په وخت کې خپله د عثماني سلطنت څخه بدله واخلي. »

خو پخوا تر دې چې سلطان ددې خبرې ځواب ووایې د سلطنت یو ځوان وزیر دخپله ځایه راپورته شو او ویې ویل:

«درونده سلطانه ! د قاسم بن هشام ددغه په زړه پورې آند په اوریدو سره زه ډیر حیران پاته شوم. ځکه دا به څنګه شوني وی چې د صلیبي جنګونو مشر اوقومندان او داسلام ستر دښمن هونیاډې دې د موقع اوفرصت د ترلاسه کولو په وخت کې په عثماني سلطنت یرغل نه راوړي.»

د سلطنت د وزیر په خبرو کې پوره وزن و ، سلطان غوښتل د سلطنت د نورو عمائیدینو راې هم ترلاسه کړي ، په دې خاطر سلطان د غونډې برخوالو ته د خپلمنځې خبرو اترو کولو اجازه ورکړه ، په دې وخت کې همغه زوړ وفاد اره انسان یو ځل بیا راپورته شو او ویې ویل:

« درونده سلطانه ! د قاسم بن هشام آند په هیڅ صورت غلط نه دې. د هونیاډې سره سوله شوني ده. ځکه چې هونیاډې پخپله د قسطنطنیې دپادشاه سره مذهبی اختلافات لري ، په همدې توګه د قسطنطنی د فوځونو سپه سالار « ګرانډ ډیوک نوټارس » هم د هونیاډي سره د همدې مذهبی اختلافاتو په اساس ډیره سخته دښمني لري، که څه په دې کې شک نه شته چې دواړه عیسویان دي خو درونده سلطانه ! دهغه وخته راهیسي چې عیسویت په دوو لویو ډلو ویشل شوې نودهغوې مرکزي اتحاد له منځه تللې دې. ددوې داوړه ډلې یو بل ته مرتد ، کافر او لار ورکې وایی. ددوې تر منځه دومره محبت هم نه دې پاته شوې چې دواړه ډلې د یوه دریم دښمن ، دنمونې په توګه د مسلمانانو ، په مقابل کې سره را یو ځاې شی»

سلطان ددې زوړ اووفاداره غړي خبرې ډیرې په غور اوفکر سره اوریدلې. په همدې وخت کې لمړي وزیر « خلیل پاشا» هم دخپله ځایه راپورته شو او ویې ویل:

« درونده سلطانه ! زمونږ د دربار دغړو پوهه او درک که همداسې دوام وکړی نو زه ډاډمن یم چې عثماني سلطنت به هیڅکله هم زوال و نه مومي. دقسطنطنیې خلک تر اوسه پورې د پخوانۍ یوناني کلیسا سره تړلي دي او همدا قسطنطنیه یې مرکز دې. خو ددې برعکس د هنګرې خلک د رومن کتولیک د کلیسا سره تړلي دي چې مرکز یې په روم کې د « پاپاې روم » کلیسا ده. دهغوې تر منځه دا اختلاف مسلمانانو ته د الله تعالې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخه یو غیبي کومک دی. همد امناسب وخت دی چې مونږ عیسویانو ته یو درونډ او اخري ګذار ورکړو. په دې اساس زه د قاسم بن هشام مشوره تائیدوم.»

اوس نو سلطان ته د بل چا د مشورې د اوریدو اړتیا نه وه. په دې خاطر یې یو ډیپلوماتیک سیاسي ټیم د تیارولو حکم و کړ، ترڅو د هونیاډې سره دخبرو کولو اوسولې له پاره هغه لورې ته ولاړشي. سلطان هونیاډی ته ددرې کالو له پاره د جنګ دنه کولو پیغام ورولیږه. او دهغه د راضی کولو له پاره یې ډیره نرمه ژبه استعمال کړه. په دې توګه به د غونډی خلکو ته د شمال له اړخه د کوم ګواښ د رامنځته کیدو ویره هم نه پاته کیږي. ددربار دغه ډیره مهمه غونډه لا تر اوسه پورې روانه وه چې د ینې چري سپه سالار، ځوان او میړني اغاحسن د سلطان څخه دخبرو کولو اجازه وغوښته.

«درونده سلطانه ! مونږ ته د «موریا» له اړخه هم ګواښونه شته. ځکه د موریا حکمران د قیصر د شهنشاه ورور دی. او دا ډیره شوني ده چې هغه دخپل ورور شهنشاه د کومک له پاره را وځغلي.»

په دربار کې د اغا حسن په خبرو تر ډیره وخته پورې تبصرې روانې وې، بیا د ډیرو تبصرو وروسته پریکړه وشوه چې دموریا په لور یو ځواکمن فوځ و استول شي، سلطان د سلطنت اراکینو ته دخبرو په دوران کې وویل:

«دسلطنت درنو اراکینو ! زه دا احساسوم چې قسطنطنیه د محل او ځای له اړخه ډیر خوندي ښار دی. ځکه دهغې درې خواو ته سمندر او یوې خواته وچه ده ، اودهمدې سمندر د موجودیت په اساس هغوې ستر سمندري فوځ تیار کړی دی. د قسطنطنیې نه علاوه هلته د یونان او جینوا بحري جازونه دکومک له پاره ور رسیدې شي ، خو ددې برعکس د عثماني سلطنت سره د بحري جهازونو او بحري فوج شتون ډیر کم دی ، دهغوی د بحري سترو جهازونو په مقابل کې د عثماني سلطنت کوچنۍ کشتۍ هسې هیڅ دي ، اوبیا زمونږ سره ددې کشتیو شمیره هم ډیره لږه ده. په دې اساس زه غواړم چې په قسطنطنیې باندې د حملې نه مخته مونږ باید یو ځواکمن بحري فوځ تیار کړو....»

دسلطان ددې خبرو په اساس د درباریانو په منځ کې هغه ته ددرنښت سترګې راپورته شوې او ټول په دې فکر کې ډوب شول چې د عثماني سلطنت له پاره یوه ځواکمن بحري فوځ ته اړتیا ده. هغوې تر ډیره پورې په همدې موضوع باندې خبرې اترې وکړې ، قاسم سلطان ته دهغه زوړ کشتیبان عباس په اړه سپارښتنه وکړه. هغه ته یې دا هم وویل چې هغه د سترو سترو بحري جهازونو د جوړولو او سمندر ته د ورښکته کولو او د جنګي مقاصدو له پاره دهغې په استعمالولو باندې ډیر ښه پوهیږي. د درباریانو دخپل منځې مشورې وروسته بالاخره دا اعلان وشو چې عثماني سلطنت به یوه ستره جنګي بیړه تیاروي چې په قسطنطنیې باندې به دمسلمانانو بحري محاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنبالوي. نن ټوله ورځ غونډې جريان درلود ، د ماښام د لمانځه وروسته غونډه بلې ورځې ته و غځيده. سلطان د خپله ځانه سره قاسم يوې بلې خونې ته يوړ. کله چې سلطان او قاسم دواړه ځانته شول نو سلطان قاسم ته وويل:

« قاسم بن هشامه ! که د عثماني سلطنت په دې وروستيو لسو کالو کې ستا خدمت ته يو ځغلنده نظر وکړل شي نو ستا په عسکري ورتياو کې د سراغ رسانۍ او جاسوسۍ کارونه ډير ځلانده تر سترګو کيږي ،ما خو په قسطنطنيې باندې د حملې له پاره د يوه بل محاذ د پرانستلو هوډ هم کړې دې او دا د جاسوسۍ د پټې نظام فعالول دي. زه غواړم د قسطنطنيې د حفاظتي کلا، د ديوال د حال ، د بحري ځواک تفصيل ، د هغوې جنګي او دفاعي ورتياوې ، او ان تر دې چې د قسطنطنيې د پادشاه کمزورتياوې...هر څه چې وي زمونږ د سترګو تر مخه وي. دا خو ډير ستونزمن او ګواښمن کار دې ،ځکه د دې کارونو له پاره چې هر څوک ور وليږل شي نو هغه به د غير ملکي جاسوس په څير تل د مرګوني ګواښ سره مخ وي ، زه غواړم ستا په سلا اومشوره څوک د دې کار له پاره هلته ور وليږم...»

د سلطان د دې خبرو په اوريدو سره د قاسم بن هشام وينه په رګونو کې په ټوپونو شوه، روند د خدايه څه غواړي..... دوه سترګې. هغه خو د پخوا څخه د قسطنطنيې په لور تلل غوښتل ، په دې اساس يې په پوره بې صبرۍ سره وويل :

« درونده سلطانه ! د دې ستر اومهم کار له پاره زه پخپله غواړم چې ولاړ شم. زه پوهيږم چې زه به دا کار د بل هرچا څخه په ښه توګه سر ته ورسوم.»

د سلطان مخ د خوشحالۍ نه وغوړيد . ځکه چې سلطان په خپله غوښتل چې داځل به هر کار سهي او په پوره تول سره تر سره کوي تر څو د قسطنطنيې په نيولو کې کومه ستره ستونزه رامخته نه شي ، د سلطان هيله هم همدا وه چې د دې مهم کار د تر سره کولو له پاره قاسم په خپله هغه لورې ته ولاړ شي ، خو کله يې چې قاسم په خپله هغه لورې ته د تللو له پاره تيار وکوت نو سمدلاسه يې ورته وويل:

« سهي ده .... ته د خپل سفر له پاره ځان تيار کړه. ته به ډير ژر د عيسوي نړۍ د غه پخواني مرکز او د بازنطيني سلطنت پايتخت ته سفر پيل کړې. خو قاسم بن هشامه ! يوه خبره تل په ياد ساته چې زمونږ ستر پيغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم د قسطنطنيې فاتح ته د جنت زيرې ورکړې دې. ته هغه ښار ته د عثماني فوځونو د ور ننوتلو نه مخته د دې ښار د دننۍ برخې د فتحې کولو له پاره ور ننوځې، په قسطنطنيه کې د پخوا څخه يو شمير مسلمانان اباد او ميشت دي ،د هغوې له ډلې څخه يو شمير وګړي په پوره اخلاص سره د عثماني سلطنت له پاره کار کوي ، په قسطنطنيې کې د « غلطه » نيمايي برخه زمونږ نيکه سلطان بايزيد يلدرم د هغه وخت د شهنشاه « مينوئيل » څخه تر لاسه کړې وه ..... تاته به هلته په ورتلو سره کومه ستونزه نه پيدا کيږي خو د جنګي او دفاعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره به تاته ډیره هڅه او هاند تر مخه وي ، په دې خاطر غوره داده چې ته ژر تر ژره د قسطنطنیې په لور ولاړ شې.»

دا ځل سلطان د شرقي اروپا ددغه مرکز او د پخواني عیسویت ددغه مذهبي ښار د سوبې له پاره کلک هوډ کړې و. د ځوانۍ په وخت کې ددوه ځله سلطان کیدو او معزول کیدو وروسته ، دهغه پلار سلطان مراد خان ثاني هغه د روزنې له پاره « ایدین» ته استولې و. هلته دغه نازولې شهزاده ته د اسلامي ښوونې او روزنې تر څنګ د تاریخ په اړه هم ډیر معلومات تر لاسه شوې و. هغه ته دا هم ډاګیزه شوې وه چې د اسلام ستر لارښوود او پیغمبر ، رسول الله صلي الله علیه وسلم دقسطنطنیې د فتحه کولو سره ډیره مینه درلوده، هغه تاریخ لوستې و او ورته ډاګیزه شوې وه چې دقسطنطنیې د سوبې له پاره په ۴۸ هجری کال دمسلمانانو فوځ په لمړي ځل حمله کړې وه ، په دغه جنګ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرو هم ګډون درلود. په دې جنګ کې د «سابقون الاولون » په ډله کې سیدنا ابو ایوب انصاري رضې الله عنه په څیر جید صحابي هم ګډون درلود ، ددې مطالعې په وخت کې هغه ته داهم ډاګیزه شوه چې سیدنا ابوایوب انصاري رضی الله عنه په همدې جګړې کې شهید شوې اوبیا د قسطنطنیې د دیوال تر څنګ ښخ کړل شوې دې ،دهغه ډیره مینه درسول الله صلی الله علیه وسلم ددې فرمان سره وه چې ویلي وچې : «دقسطنطنیې فاتح به جنت ته ځي.» په دې خاطر یې غوښتل په پوره تیارۍ سره په قسطنطنیې باندې حمله وکړي.

دبله اړخه پخپله په قسطنطین باندې د خپلو غلطیو په اساس مصیبتونه راغلي و. هغه د سلطان محمد خان د تخت دکیناستو وروسته ، هغه ته دوه ځلې ګواښمن قاصدان ور استولي و اوپه دې توګه یې پخپله د خپلې مړینې پا پاڼه لاسلیک کړې و. سلطان ، قاسم بن هشام قسطنطنیې ته ور ولیږه. د کوچنۍ اسیا د بغاوتونو د له منځه وړلو له پاره یې د کرمانیا دامیر سره سوله وکړه . اودهغه د لور سره یې نکاح هم وکړه. ددې ترڅنګ یې د هنګرۍ دپادشاه هونیاډې سره هم ددرې کالو له پاره سوله وکړه ، ددې سولې له امله تر درې کالو پورې د شمالي اروپا څخه کوم ځانګړې ګواښ نه و پاته. همدا راز هغه دموریا په لور یو ځواکمن فوځ ور ولیږه تر څو د شهنشاه ورور چې هلته یې حکمراني کوله د قسطنطنی د کومک څخه منه کړي ، ددې کارونو څخه دفراغت وروسته یې د ابناې فاسفورس په اروپایي برخه کې دقسطنطنیې څخه نژدې پنځه میله لرې واټن کې دیوې سترې فوځې کلا په جوړولو پیل کړل. دده نه مخته سلطان بایزید یلدرم هم د ابنای فاسفورس په اروپایی برخه کې یوه فوځې کلا جوړه کړې وه. خو سلطان محمد خان د اسیایي ساحل تر مخه د ابنایي فاسفورس په اروپایي برخه کې دویمه ستره فوځې کلا جوړول غوښتل څکه د قسطنطنیې ښار هم په همدې ساحل باندې پروت و.

ابناې فاسفورس هم په خپل جوړښت کې ډیره عجیبه ده. په حقیقت کې داسیا او اروپا دوه لویې وچې د اوبو دسمندر په واسطه جداکیږي څو لکه کاله پخوا د وچې دا ټوټې په اوبو کې دلمبا په واسطه یو بل ته ډیرې سره را

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې شوې د ی ،دا وچې یو له بله سره دومره را نژدې شوې چې په منځ کې یې د ابناې فاسفورس د اوبو یو کوچنۍ ټوټه پاته شوه. البته د شمال په لورې دا لویې ټوټې یو له بل سره یوځای شوي دي. چې دې برخې ته یې اروپایې روسیه ویل کیږي. د فاسفورس ابنا د اوبو یوه لاره ده چې اروپا او اسیا په خپلو منځو کې سره جدا کوي او دیوې پټې په څیر ددواړو لویو وچو تر منځ تیریږي. خو ددې دواړو په سر کې سمندر پروت دې ، په یوه سر کې یې د پروت سمندر نوم « توره بحیره » او په بل سر کې یې د سمندر نوم « د مارمورا بحر» دې. د مارمورا د بحر له اړخه چې کوم سمندر پیلیږی هغه ځاې ته « دردانیال» ویل کیږي. همدا دردانیال دې چې د پیړیو پیړیو راهیسې د شرق او غرب د یرغلګرانو دبحري جهازونو د تیریدو لاره ده.

هماغه و چې سلطان د ابنایې فاسفورس په اروپایی ساحل کې هم یوه ستره جنګې کلا تعمیر کړه، قسطنطین ددې کلا د جوړیدو پر خلاف احتجاج وکړ خو سلطان دهغه په احتجاج باندې هیڅ غوږ و نه ګراوه. دکلا د تعمیر په وخت کې عثماني عسکرو د څو کسو دهقانانو سره جنګ جګړه هم وکړه چې دیوه کوچني جنګ شکل یې ځانته و نیوه. او په دې جنګ کې ددواړو اړخونو څخه څو کسان هم ووژل شول. خو قسطنطین په دې پوهیدلې و چې دا ټول هر څه د قسطنطنیې د نیولو له پاره ترسره کیږي ، هغه په قسطنطنیې باندې دحملې د ویرې د ښار پاټکونه و تړل. او تر څنګ یې د ترکي عسکرو څخه د شکایت له پاره سلطان ته یو هیئت هم ور ولیږه. خو سلطان محمد ددې شکایت ځواب د جنګ په اعلان باندې ورکړ. اوس نو بازنطینی سلطنت دخپل مرګ اوژوند داخری پریکړې منتظر شو. د سلطان محمد خان ارادو دا څرګندوله چې دا ّځل به هغه په هیڅ توګه شهنشاه ته ښنه نه کوي ،په حقیقت کې سلطان دا احساس کړې وه چې تر هغې چې قسطنطنیه فتح نه شي نو اسلامي سلطنت مکمل کیدې نه شي. ځکه چې د قسطنطنیې سوبه د سیدالانبیاء نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه غوښتنه وه ، اوسلطان غوښتل چې خپل عسکری ژوند په قسطنطنیه باندې د بریالۍ حملې څخه پیل کړي ، په دې خاطر یې د هر ډول انتظاماتو ځارنه پخپله کوله. هغه خپل ستر اهنګر «اربان» را وباله اوپه قسطنطنیې باندی د حملې له پاره یې ورته د یوه ستر توپ د جوړولو حکم وکړ. داسې توپ چې د قسطنطنیې د دیوالونو دراپرزولو کار په ډیره ښه توګه تر سره کړی. د اربان په ذهن کې دپخوا څخه دهمداسې یوه توپ د جوړولو انځور موجود و. هغه سلطان ته وویل:

« درونده سلطانه ! زه داسې یوتوپ جوړولې شم چې په هغې کې څلویښت بالښته ( دیرش انچه یا دوه نیم فټه ) ستره د بارودو ګوله ایښول کیدې او د هغې څخه ویشتل کیدې شي ،دا توپ به د قدو قامت له اړخه ډیر ستر وي په دې خاطر به دا توپ د اوسپنې په ځاې د پتیل څخه جوړیږي.» ( عثماني دولت)

سلطان د اربان د توپ انځور ډیر زیات وستایه. او هغه ته یې دهغې د جوړولو اجازه ورکړه. دوسلې د تیارولو له پاره سلطان محمد خان خپل مشهور جنرالان « احمد کدک پاشا» او محمود پاشا و ټاکل. ددې تر څنګ هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برق په څیر د تیز جوړونکو معمارانو یوه ډله د قسطنطنیی په اروپایی ساحل باندې کښته کړله تر څو هغوې د قسطنطنیی څخه پنځه میله لرې واټن کې ، د فاسفورس په ابناء باندې یوه زبردسته جنګي کلا جوړه کړي. ددې ډلې مشری یې هم د مصلح الدین اغا په څیر داعمار په فن کې یو تاریخ جوړونکي شخصیت ته ورکړه . هغه هم په ډیره کمه موده یعنې څلورو میاشتو کې « د رومیلا» په نوم دا کلا تعمیر کړه. اوس نو د فاسفورس د ابنا دواړو غاړو ته دمسلمانانو ولکه کیدونکې وه . ددې کلا د تعمیر د تکمیل سره سم ددوو شنو او شادابه ساحالونو تر منځ اتلس میله پراخه غځیدلې دغه نیلګونه پټۍ یعنې (د فاسفورس ابناء ) باندې د مسلمانانو ولکه راتله. درومیلي د کلا څخه د قسطنطنیی د « برج غلاطه » سیمه په ځرګنده تر سترګو کیده. له یوه اړخه سلطان د رومیلي د کلا د تعمیر له پاره د مصلح الدین اغا په مشرۍ یو ستره ډله قسطنطنیې ته ولیږله ،خو دبله اړخه قاسم بن هشام دقسطنطنیی د پټو رازونو او عسکري معلوماتو د لاسته راوړو له پاره هم ددې ستر ښار په لور ور روان شوې و . تر څنګ یې سلطان دموریا په لور هم یو ستر او قوي ځواک ته د تللو حکم کړې و .

پخپله سلطان محمد خان د اغاحسن ، احمدکدک پاشا او محمود پاشا په څیر سالارانو سره یو ځاې د یوه مضبوط او ناقابل تسخیر فوځ د جوړښت له پاره شپه او ورځ کار پیل کړ. په هر ولایت کې یې د نوي عسکرو د استخدام له پاره مراکز جوړ کړل. دهر ولایت حکمران ته « بیلربیګ » ویل کیده . بیګ او پاشا یو څیر الفاظ و ، دهغو سردارانو د نیزې په سر کې به چې آس د لکۍ په څیر د ویښتانو یوه ګنډه موجوده وه نو هغه ته به یې بیګ یا پاشا ویلې . یو «بیلربیګ» یا دکوم ولایت پاشا به هغه څوک و چې د نیزې په سر کې به یې دآس دلکۍ د اخري ویښتانو د ګنډې په څیر څه ورنښلول شوي و . دا خلک به دهغو جاګیرونو سردارن هم و چې د فوځي خدماتو په بدل کې به ورته ورکول کیدل. ددې جاګیرونو خلک به بیا د جنګ په وخت کې دخپلو خپلو سردارانو د بیرغونو لاندې تلل ، علم یا بیرغ ته په عربي ژبه کې «سنجق» ویل کیږی ، هلته به دهرې سیمې بیل بیل سنجق یا بیرغ و نو په دې خاطر به ډیرو خلکو ولایتونو او سیمو ته سنجق ویلې . د هر سنجق «بیګ» یعنې « بیلربیګ» د فوځي بیرغ لاندې به دهغه د لاس لاندې کسان راټولیدل ، دهر بیګ ډله به د څلور سوه آس سپرو څخه کمه نه وه .

سلطان ددې سترې حملې د ترسره کولو له پاره دخپلو اروپایی ملکیتونو څخه هم د یوه لک فوځونو د تیارولو حکم ورکړ. د فوځی ډلو څخه پرته ددوې سره رضا کاره( دخپلې خوښې ) مجاهدین هم ملګري کیدل. دوې به په هر جنګ کې خپل خدمات را وړاندې کول او بیا به یې د جنګ د غنیمتونو څخه خپله برخه اخسته ، خو ددې دواړو فوځونو څخه اخوا « د ینې چرې» د ځوانانو فوځ ډیر په شان اوشوکت کې و ، چې مشري یې اغا حسن کوله. که له یوه اړخه د اغاحسن په څیر یو متقی ، میړنې اوبهادر انسان د سلطان له پاره یو ستر نعمت و خو دبله اړخه ورته « احمد کدک پاشا او محمود پاشا » په څیر د ولایتي فوځونو تکړه او تجربه لرونکې جنریلان هم د نعمت څخه کم نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغښتلیو سمندري فوځونو د جوړښت له پاره سلطان هم د سترې اوځواکمنې بحریې د جوړولو حکم کړې و او دا یې هم حکم کړې و چې ددې بحري ځواکونو د جهازونو شمیره باید د یوسل او اتیا څخه لږه نه وی ،پدې ډله کې کوچنۍ کشتې ، چې د پخوا څخه دعثماني فوځ په بحریه کې یې کار کاوه ، نه وی شاملې .

سلطان محمد خان یو باتور او د ډیرو ښو وړتیاو وړ ځوان و . الله تعالې ورته ډیره ښه وړتیا او فکري ځواکمني ورکړې وه ..... هغه د « ایدین » په سیمه کې د ډیرو غوره استادانو څخه په ډیره چټکۍ سره علوم زده کړي و او دخپلې مورنۍ ژبې څخه اخوا به عربي ، فارسي ، عبراني ، لاطیني اویوناني ژبو باندې هم ښه پوهیده. سلطان محمد نه یوازې د نړۍ په تاریخ باندې ښه پوهه تر لاسه کړې وه بلکه دنړۍ په جغرافیه کې یې هم پوره پوره بلدتیا درلوده . هغه د لوړې کچې شاعر او خبرلوڅ و . سلطان محمد دخپل وخت د ستر عالم اوفقیه « ملاعبدالرحمن جامي » سره نیغ په نیغه نسبت درلود ، تر څنګ یې دهندوستان د « دخواجه جهان » په خدمت کې به هم تر ټولو نه مخته و . دسلطان د ولایتونو د فوځونو سالار « محمود پاشا » هم د عسکریت تر څنګ په شاعرۍ کې په ځآن پسې دویمګړې نه درلود.

په قسطنطنیې د حملې د پروګرام سره سم ، سلطان د « پلوټارک» په یوې ډیرې ژورې او تاریخې لیکنې چې د « یونان او روم » تر نامه لاندې یې کړې وه اوپه هغې کې د یونان اوروم په اړه د حالاتو پوره تفصیل موجود و ، په لوست پیل وکړ. هغه د « سکندراعظم قسطنطین اول » او « تهیوډوسیس» د ژوند حالات مطالعه کړل او د قسطنطنیې د اوږې ماضي په اسرارو یو غور او فکر وکړ.

په هغو وختو کې د دې سیمې حالات څه دا ډول وو . چې په کوچنۍ اسیا کې د کرمانیا امیر په خوشالۍ سره راضی شوې و . په « البانیه » کې دسلطان محمدخان سره په یوه دسترخوان را لوې شوې «سکندربیګ» بیرته مرتد شوې و ، خو سلطان تر اوسه پورې دغه ضدي سکندر بیګ لا نه ځورولې . د« ولیشیا» ( ولاچه) مشر « ولاد» یو ظالم او کینه کښه انسان و اوظلم حد یې تر دې رسیدلې و چې د بندیانو په جسمونو کې به یې میخونه ټک وهل او هغوې به یې له منځه وړل خو دومره همت یې نه درلود چې دسلطان په مقابلې کې سر را پورته کړي ، دسلطان په مقابل کې که چا سر را پورته کولې شو نو هغه یوازې دهنګری پادشاه « هونیاډي» و . خو سلطان د هغه سره ددرې کالو له پاره د سولې تړون لاسلیک کړې و . «هونیاډي » دسلطان د پلار مرادخان ثاني په لاسو یوځل د تړون د ماتولو خوند اخستې و ، په دې خاطریې د بل تړون د ماتولو فکر هم نه شو کولې . اوس نو یوازې موریا داسې سیمه وه چې ترې قسطنطنیې ته کومک رسیدلې شو . اوسلطان ددې سیمې دکنترولولو له پاره هم یو ستر ځواکمن فوځ استولې و .

د ټولو تیاریو د تکمیلولو وروسته ، سلطان دخپلو درباریانو یوه وروستۍ غونډه را وبلله اوپه قسطنطنیې باندی یې داخري حملې کولو پلان ته اخري بڼه ورکړه . په دې غونډه کې هم سترو سترو سالارانو ، سردارانو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحکومت وزیرانو او عمائیدینو ، ګډون درلود. دې غونډې درې ورځې دوام وکړ. سلطان د حملې کولو پلان ته داخرې بڼې د ورکولو وروسته دسلطنت له پاره هم څه نوي قوانین اوفرامین جاري کړل. د «ارخان» په زمانه کې د عثماني دولت لمړي وزیر « علاؤالدین» دفوځې اصلاحاتو په اړه قوانین جوړ کړې و ، چې د مراخان اول په زمانه کې پلې کړل شول. خو سلطان د سلطنت قانون په لیکلي توګه ترتیب کړ اودا قانون نامه د عثماني سلطنت عملي کړنلاره وګرزیده. سلطان د سلطنت د قانون د وړاندې کولو په وخت کې ، دخپلې وینا په دوران کې سلطنت دیوې خیمې سره تشبیه کړ او ویې ویل چې د سلطنت څلور ستنې دې چې دهغې څخه یې یوه :دسلطنت وزیران دې ، بله یې قاضیان ، دریم یې اداري سیستم ( په دفترونو کې کارونکي ) او څلورم یې دسلطنت خزانچې یا معتمد . هغه ددې خیمې دروازې ته د « باب عالي » نوم ورکړ چې همدا نوم د عثماني سلطنت تر اخري وختو پورې ژوندې پاته شو . هغه د سلطنت له پاره څلور وزیران و ټاکل چې مشرې یې لمړي وزیر « صدراعظم » په غاړه درلوده. دهمدې سره به د سلطنت مهر موجود و او د سلطنت د ټولو امورو اعلي افسر ګڼل کیده، وزیر اعظم به هم د سلطان په څیر په خپل دفتر کې دربار را بللې شو .

د قاضیانو ډله به د علماو د ډلې څخه وه ، سلطان د اروپایي عدالتونو او همداراز داسیاي عدالت له پاره هم قاضیان و ټاکل. خواجه مفتي او قاضی به هم د مهمواو پوهو علماؤ د طبقې څخه ټاکل کیدل. سلطان د حل و عقد غونډی ته د « دیوان» نوم ورکړ ، خو ددیوان ددې وګړو شمیره یې ورزیاته کړه ، سلطان په خپل نوي قانون کې د « خارجي اغا» او « داخلي اغا» عهدې هم و ټاکلې. « خارجي اغا » دهغو حکامو څخه عبارت و چې د ولایتونو حکومتونه به یې په مخ بوتلل. خو « داخلي اغا» هغه وګړی و چې په دربار کې یې کار کاوه او ددربار مامورین و . سلطان د اغاګانو نورې عهدی هم جوړې کړې ، دبیلګې په توګه « کاپواغا» « د ګوره خواجه سراو رئیس» ، «قیزلر اغا» د ( دحبشي خواجه سراو رئیس ) ، «بوستانچي ماشي » ( د باغبانانو افسر ) « چاؤش باشي » ( دحکومت د قاصدانو افسر ) او ....

سلطان محمد خان د خپل حکومت په دوران کې خپله توجه دحکومت د قانون په پلې کولو او د ښوونې اوروزنې په لور را واړوله ، په پخوانیو وختوکې به ټولې رتبې مذهبي وې ، که څه هم په هغوې کې به یې نور علوم هم ور زیاتول ، خو ترکانو د سیاسي ښوونې او روزنې سره ډیره مینه درلوده او دې روزنې سلطنت ته ډیر وړ او دکار خلک راپیدا کول. ( مولانا شبلی ).

دسلطان را غوښتل شوې غونډې درې ورځې دوام وکړ ، په دریمه ورځ سلطان د غوندی اخری وینا وکړه او ویې ویل:

« د سلطنت درنو اراکینو ! الحمدلله ، دالله تعالي په فضل اوکرم سره مونږ دسلطنت نظام ، دملت دعلماؤ او دسلطنت دعمائیدینو په مشوره د پخوا په نسبت په ښه توګه را جوړ کړې دې ، اوس نومونږ په پوره ډاډ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه فاتح لښکر یوه برخه گرزیدې شو چې دهغې په اړه رسول کریم صلی الله علیه وسلم په دې دنیا کې د مغفرت اوبښنې زیرې ورکړې دې.

دعثماني سلطنت ځان ځارونکو سپه سالارانو !

دهغه وخته چې رومي پادشاه « قسطنطین» په دریمه عیسوی پیړۍ کې عیسوي مذهب قبول کړې اوهمدا ښاریې خپل پایتخت گرزولې نو دهمغې ورځې وروسته یې نوم قسطنطنیه گرزیدلې دې. خو دا ښار د ډیرې مودې راهیسې دبازنطینی سلطنت او عیسوي مذهب دواړو ډیر مهم مرکز و.

د سیدنا انس رضی الله عنه ترور ، ام حرام بنت ملحان رضی الله عنها ، درسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعي خور وه. یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې په کور کې ویده شوې و. ناڅاپه رابیداره شو نو په مبارکه خوله یې خندا وه. سیدې ام حرام ترې دخندا علت و پوښته ، نوهغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل....

« ما ته په خوب کې د امت هغه خلک و ښوول شول چې د جهاد له پاره د سمندر په څپو داسې سفر کوي لکه څنگ چې پادشاه په تخت ناست وي..»

سیدې ام حرام ورته عرض وکړ چې...یا رسول الله !ماته دعا وکړه چې ما هم الله تعالې دهمغو خلکو په ډله کې شامله کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دعا وکړه. اوبیرته ویده شو ، د لږڅه ځنډ نه وروسته یو ځل بیا رابیداره شو ، بیا یې مخ مبارک دخوشحالۍ نه ځلیده ، سیدی ام حرام ترې یو ځل بیا دخوشحالۍ په اړه وپوښتل. نوهغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :....« زما د امت د هغه لمړي لښکرپه اړه چې دروم د قیصر د ښار « قسطنطنیی » د نیولو له پاره جهاد کوي دمغفرت زیرې راکړل شو. سیدې ام حرام ترې یو ځل بیا ددعا غوښتنه وکړه ....خو هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل .... نه ! ته په هغه لمړي لښکر کې شامله شوې یې .....» ( بخاري شریف )

د سلطنت درنو اراکینو !د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه دواړه زیري داسې تکمیل شول چې دسیدنا عثمان رضی الله عنه د خلافت په وخت کې ، سیدنا معاویه رضی الله عنه په «قبرس» باندی حمله وکړه ، اودا داسلامي تاریخ لمړۍ بحري میشن و. په دې حمله کې سیدې ام حرام رضی الله عنها دخپل میړه سیدنا عباده بن صامت رضی الله عنه سره یو ځاې شریکه وه. دا جنگې میشن په دې خاطر بریالې و چې د قبرص خلکو دمسلمانانو سره سوله وکړه او کله چې مسلمانان بیرته ستنیدل نو سیدة ام حرام د آسه را پریوته اوهملته یې د شهادت لوړ مقام په برخه شو ، دا درسول الله صلی الله علیه وسلم لمړنی بشارت و چې تکمیل شو. دبشارت هغه بله برخه د قسطنطنیی د مجاهدینو پورې اړونده ده. همدا علت و چې په قسطنطنیه د جهاد کولو له پاره دسیدنا معاویه رضی الله عنه د خلافت په وخت کې یو لښکر په قسطنطنیی باندی حمله وکړه ، او دهغه زوې « یزید » هم په حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونکي لښکر کې شامل و. په دې لښکر کې جید اوستر صحابی «سیدنا ابوایوب انصاري» رضی الله عنه هم شامل و. دا دمسلمانانو په واسطه د قسطنطنیې لمړنۍ محاصره وه چې تر ډیرې مودې پورې یې دوام وکړ. سیدنا ابوایوب انصاري رضی الله عنه د همدې محاصرې په جریان کې ناروغه شو او بیا هملته شهید شو اوده‌مدې ښار د ستر دیوال لاندې خاورو ته وسپارل شو. خو دغه لښکر و نه توانید قسطنطنیه فتحه کړي، البته درسول الله صلی علیه وسلم د بشارت دویمه برخه هم تکمیل شوه.

د سلطنت درنو اراکینو! په یاد لرئ چې دا یواځې بشارت نه دې بلکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو حدیث هم دې چې په هغې کې یې یواځې د قسطنطنیې دخلکو خبره نه ده کړې بلکه ددې ښار د فتحه کونکو ته یې زیرې ورکړې دې.

سیدنا بشربن سحیم رضی الله عنه په یوه حدیث کې روایت کوي چې:

«تاسو به ضرور قسطنطنیه فتحه کوئ، نوبیا به بهتر امیر هغه امیر وي او بهتر لښکر به همغه لښکر وي» (مسند امام احمد)

په دې اساس په دې حدیث کې دبیان کړل شوې نیکبختۍ د لاسته راوړو په خاطر، ګڼ شمیر مسلمانو حکمرانانو په قسطنطنیې باندې د ولکې دکولو هڅې کړې دي چې په دې ډله کې سیدنا عمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه، هشام بن عبدالملک، مهدی عباسي، او خلیفه هارون الرشید....شامل دي. خوهیڅ یو یې دا ښار فتحه نه شو کړاې.

داسې بریښې چې عثماني سلطنت الله تعالي دهمدې له پاره قایم کړې دې چې داسې یو بابرکته لښکر جوړ کړي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته ډیره ښه اوغوره لښکر ویلې، زما نیکه سلطان بایزید یلدرم په ۱۴۰۲ کال قسطنطنیه په پوره ځواک سره کلابنده کړه اونژدې و چې دا ښار سوبه کړي خو په همدې وخت کې ګوډ تیمور په کوچنۍ اسیا باندې یرغل وکړ اوپه دې توګه زما نیکه هم د قسطنطنیې کلابندي ماته کړه. دا پیښه د نن څخه نژدې پنځوس کاله مخته پیښه شوې ده. او ددربار یوشمیر پخوانیو اراکینو ته به اوس هم داپیښه په ذهن کې تازه وي. دهغې نه وروسته زما دپلرونو له ډلې څخه زما تر دروند پلار پورې ټولو ددې ښار د نیولو له پاره ناکامه هڅې کړې دي.

دسلطنت درنو اراکینو! نن مونږ هم په همغه لښکر کې د ورګډیدو سعادت تر لاسه کوو چې قیام یې زمونږ د هوډ او ارادو پورې تړلې دې. «قسطنطنیه» په یوه داسې ځاې کې پرته ده چې تر څو چې فتحه نه شي اسلامي سلطنت تکمیل ته نه شي رسیدلې. اوزه ډاډمن یم چې په کومه ورځ دا پخوانې ښار فتحه اوولکه کړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودهغې وروسته به بل کوم قیصر راپیدا نه شی. ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمایلی دي چې:

«اذا هلک قیصر، فلاقیصر بعده... کله چې قیصر هلاک کړل شي نوبیا به بل کوم قیصر راپیدا نه شي»

«السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته»

دا د سلطنت دغې اوږدې غونډې ته دسلطان محمد خان اختتامي وینا وه، د دربار حاضرین د سلطان ددې علم اوپوهې څخه ډیر اغیزمن شوي و، ځکه هغوې هیڅ هیله نه درلوده چې دوه ځلې ناکامه پادشاه او نوې ځوان سلطان به دومره ستر عالم او پوه ګرزیدلې وي.

دا و سلطان محمد خان، چې اوس یې ددنیا د ستر ښار «قسطنطنیې» د فتحه کولو له پاره ملا تړلې وه. دنړۍ تاریخ بدلیدونکې و او دمسلمانانو د فتوحاتو د تکمیل تر څنګ د اروپا دبیا راپاڅیدو نوې دوران پیلیدونکې و.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طلایي بښکر

مقدسه پلاره ! په دومره لږ وخت کې ستا ملګرتیا دخپل ځان له پاره نیکبختي ګڼم. زه د تیرو پنځه ویشتو کلو راهیسې دلته کشتۍ چلوم..... او په خپل ژوند کې مې دسترو سترو راهبانو خبرې اوریدلې دي خو له تاسره به مې دغه سفر د ټول ژوند یو یادګار اوسي.....»

دا دهغه زوړ ملاح اواز و چې قاسم بن هشام یې له ځانه سره د «ابنای فاسفورس» اروپایی ساحل ته روان کړې و. قاسم د څو ورځو راهیسې په سفر کې مصروف و ، هغه د«اورنه» څخه ځانته را روان شوي و. او د ابنای فاسفورس په اسیایی ساحل کې د سلطان بایزید یلدرم له اړخه د جوړې شوی «انا ضول» فوځي کلا ترمخه دهمدې ابنا اروپایی ساحل ته ورته. هغه د عیسایی راهبانو کالي اغوستې و او په غاړه کې یې طلاې صلیب را ځوړند و ترځنګ یې دعیسې علیه السلام د انځور په څیر یو انځور هم د یوه طلاې زنځیر سره یو ځاې را ځړولې و ، په سر یې د پادریانو خولۍ او په بدن یې ستره چپنه پرته وه. قاسم یو ډیر هوښیار جاسوس و همدا علت و چې هغه په ډیر بریالیتوب سره خپل ځان بدل کړې و. خو دحیرانتیا خبره دا وه چې قاسم دغربي اروپا د پادریانو په څیر لباس اغوستې و چې د رومن کتولیک د مذهب سره یې تړاو درلود،او مرکز یې په روم کې د «پاپای روم»د ریاست لاندې کار کاوه ، د رومن کتولیک مذهب د عیسویانو د لاطینی ډلې مذهب و. اودا ډله د غربي اروپا نه علاوه د هنګري او دبالقان د غرونو په یو شمیر سیمو کې اوسیدله. ددې برعکس د عیسویانو پخوانۍ فرقه «دي هولي ارتهودکس چرچ» و چې مرکزی ښار یې قسطنطنیه و. او دې ډلې ته یې دعیسویت یوناني ډله ویله. تر دې وخته پورې پروټسټ عیسوی فرقه لا نه وه پیدا شوې او د پروټسټ فرقې د جرمن نژداه بنسټ ایښوونکې چې د «مارټن لوټر» دسیمي په «ایزګبن» کې یې لا دپیداکیدو له پاره دیرش کاله واټن موجود و ،منځته نه وه راغلې.

د فاسفورس ابناء چې دقاسم کشتۍ یې په نیلګونه اوبو کې څپې وهلې ، د اتلس میله لرې سمندري پټۍ نوم دې. ددې ابناء په شمالي برخه کې «توره بحیره» او جنوبي سر کې یې «بحر مارمورا» پروت دې. همداراز یې په شرقي سر کې د اسیا او په غربي برخه کې یې د اروپا ..... دوه سترې لوې وچې پرتې دې. ددې دواړو سترو وچو تر منځه د ابنای فاسفورس د پلنوالي ډیره برخه د بحر مارمورا په لور ځي ،چې ټول پلنوالې یې درې نیم میله دې او تر ټولو کوچنې پلنوالې یې د تورې بحیرې په لور ورځي چې ټول پلنوالی یې اته سوه ګزه دې. او ژور والی یې په مختلفو ځایو کې دځلوېښتو ګزو څخه تر دوه دیرش ګزو پورې اندازه شوې دې. قاسم په ډیر کم وخت کې د ملاح څخه ډیر زیات معلومات تر لاسه کړل. هغه په کشتۍ کې ناست و او د ابناې فاسفورس په داخل کې یې د عثماني فوځونو د کشتیو تګ راتګ څاره. هغه ته د ابناء په اسیایی ساحل باندې د عظیم فارس د هیبت ناکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمران «کسرې» په خیمو کې پراته هغه بې پناه فوځ تر سترګو شو چې د روم قیصر ته یې پرلپسې ماتې ورکړې وې او هغه یې په قسطنطنیه کې کلابندۍ ته مجبور کړې و. خوبیا د قران کریم هغه حیرانونکې وړاند وینې پوره شوې چې په کې یې ویلي وو چې رومیان به ډیر ژر د مغلوبیدو نه وروسته بیرته غالبیږي، اوبیا دکسرا فوځونه ددې ځایه و تښتیدل.... هغه ته په یوه ډیر لرې ځای کې..... ډیر لرې ځای کې دکوچنیو کوچنیو ښارونو ښېې ښانې تر سترګو شوې نو د هغه ملاح نه یې وپوښتل.

« هغه ووینه..... هغه څه دي ؟..... داسې ډاګیزیږي چې ددې ځایه څلور پنځه میله لرې کوم ښار اباد شوی دې. اودهمغې په خاطر د یسوع مسیح دین ژوندې دې ، خداوند دې هغه د هرې بلا او افت نه خوندي وساتي. ته خو د «رومه » پادری یې ، ته خو زمونږ چرچ نه منې .....همداسې ده که نه ؟»

دغه زوړ ملاح هم دعیسویانو د دواړو ډلو په اړه معلومات درلودل.

« نه داسې کومه خبره نه شته. قسطنطنیه خو د «یسوع مسیح» د رسولانو ښار دې....زه هم دعا کوم چې خداوند دې دا ښار په خوندي لاسو کې ورکړی...»

دقاسم دخبرو په اوریدو ملاح ټکان وخوړ او د کومې نا معلومه خطرې د احساسیدو په اساس یې رنګ تک ژیړ وګرزید . « دا ته څه وایې ؟ په محفوظولاسونو کې ددعا کول خو د شهنشاه په حق کې نه دي ،څکه چې ټول پوهیږي چې زمونږ دقیصر لاسونه محفوظ اوخوندي لاسونه نه دی. داسې اوریدل کیږي چې د مسلمانانو نوې سلطان په قسطنطنیه باندې حمله کونکې دې.»

د ملاح په خبرو قاسم ډیر ولړزید. څکه هغه ته یو نا څاپه خپل حیثیت ور په یاد شو چې هغه یو جاسوس دې ، په دې خاطر په ارام کیناست. خو هغه په دې حیران و چې دسلطان دحملې خبر څنګه او په څه ډول دلته تر دې ځایه را ورسید. هغه د ملاح څخه د نورو پوښتنو کولو هڅه وکړه او ورته یې وویل:

« لیکن دا خو ډیر خطرناکه خبر دې ،.... اوریدل مې دي چې دمسلمانانو نوې سلطان ډیر میړنې او جنګجو انسان دې.»

«هو !.... هغه دلته ددې ځای تر مخه د قسطنطنیې څخه پنځه میله لرې،د جنوب لورې ته د یوې سترې جنګې کلا د جوړولو کار پیل کړې دې. نن سبا چې زمونږ د ابناء څخه اروپایی جهازونه تیریږي نو د ویرې احساس کوي ، زه داسې انګیرم چې کوم خطرناک جنګ کیدونکې دې. ګوره مقدسه پلاره ! څومره وینې به و بهیږي ، ددواړو خواو څخه به څومره انسانان ووژل شی ،په داسې حال کې چې یسوع مسیح د امن اومحبت پیغمبر و .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوړ ملاح په ډیرې غمژنې لهجې سره دا خبرې کولې ، قاسم ته داسې ډاګیزه شوه لکه چې ملاح د خپل مذهب څخه بیزاره شوې وي اویا د خپلو مذهبي مشرانو څخه بیزاره شوي وي، لږ څه وروسته قاسم د ملاح څخه بیا وپوښتل:

« نوبیا د سلطاني حملې پر خلاف شهنشاه هم کوم تدبیر نیولې دې دې او که څنګه ؟»

« شهنشاه به د څه تدبیر په اړه فکر وکړي ؟ اوس خو په قسطنطنیه کې داسې کوم وګړي نه دي پاته شوې چې دخوندي پاته کیدو په اړه فکر وکړي ، خلک وایی چې قیصر په خپله سلطان دخپل ځان په خلاف را پا څولې دې ......زه وایم چې دداسې کار کولو اړتیا څه وه ؟زوړ ملاح همداسې بریده خو څه خاص ورته معلوم نه و.»

د قاسم له پاره دا سفر ډیر په زړه پورې و ، په ابنا کې یو یا دوه نورې کشتۍ هم روانې وې ، هغه یوځل بیا دخیالاتو په نړۍ کې ورک شو ،هغه ته د قسطنطنیه په دیوالونو د عثماني توپونو د ګولیو د لګیدو ننداره تر سترګو کیده او د « طرابیبه» د خلیج به غاړه یی د عربي نسل د آس د ځغلولو هوا په سرکې ګرزیدله. د لږ ځنډ وروسته کشتۍ ساحل ته را ورسیده. دقسطنطنیی په زمکې د کیوتو سره سم دهغه په زړه کې ډیرې عجیبې اوغریبې هیلې را تازه شوې. په دې ساحل باندې څو نورې کشتۍ هم دخپلو مسافریونوله پاره لنګرونه اچولې و . قاسم داسې و انګیرله چې دا د ماهیانو د نیونکو کوم کلې دې چې دساحل تر مخه د اینځرو د ونو په منځ کې خپور پروت و. هوا لا تر اوسه پورې سړه وه او د سمندر څپو تر اسوه هم د تیروشوو یخنیو یخې څپې را لیږلې. د شنو او شادابو غرونو په اساس د « طرابیه خلیج» تولله سیمه یخه ګرزیدلې وه او ګرمي په کې ډیره کمه او دلږ وخت له پاره به محسوسیدله

دماسپښین وخت و ، کله چې قاسم د «باسفورس » په اروپایې ساحل کې د همدې ماهی نیونکو دکلي سره یو ځاې دکشتۍ څخه کښته شو. هغه د ماهی نیونکو کوچنیان او بچي د همدې ساحل په غاړو د لوبو په حال کې کتل ، اوس نو درې میله لرې دهغه چپ اړخته د قسطنطنیی ښار پروت و اوښی لورې ته یې د « دتورې بحیرې » اوږده غاړه وه چې د باسفورس په لورې ور غځیدلې وه. هغه د باسفورس په اروپایی ساحل باندې و درید او دهمغه ځایه د بایزید یلدرم په لاسو جوړه شوې د «اناضولي» جنګې کلا وکتله. هغه ته دا ډاګیزه شوې وه چې دهمدې کلا څخه لږ مخته سلطان محمد هم یوه ستره جنګي کلا جوړول غواړي. هغه د خپل ساحل څلورو خواو ته وکتل خو هغه ته داسې معلومه شوه چې هغه لا تر اوسه د کلا د جوړښت له پاره د ټاکل شوي ځاې څخه ډیر لرې دې. په حقیقت کې دسلطان محمد له اړخه په دې ځاې کې د جنګې سترې کلا جوړول د میړانې نه ډک کارو. ځکه دا د دښمن سیمه وه او په ځانګړې توګه دغه سیمه چې هغه پرې اوس ولاړو د یوناني عسکرو په ولکه کې وه. که څه هم دا عسکر د قسطنطین د حکم لاندې و خو د خپلو عاداتو او رواجونو له مخې ډیر بداخلاقه او بدکړچاره و. که چیرې قاسم غوښتلې ددې ځایه قسطنطنیې ته ولاړ شي نو باید ددې ځایه یی د شمال لورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې میله واټن سفر کړې وې . خو بیا هم هغه په دې خاطر قسطنطنیې ته و نه رسید چې دهمغې لورې نه د قسطنطنیې د دیوال سره یو ځای د « ابنای فاسفورس» یوبل شاخ را وتلی و . دا د سمندري اوبو نرې او ډوب شاخ و چې ورته یو مستطیلي خلیج هم ویل کیده چې د فاسفورس غربي لورې ېې د وچې سره یوځای کوله . اود ښکر په څیر شکل یې درلود. یو چا دقسطنطنیې د دیوال څخه د لمر خاته په وخت کې دا ښکر کتلې و اودا یې مشاهده کړې و چې دلمر دختلو په وخت کې د سمندر د اوبو رنګ طلایې بریښېې نو په دې اساس یې ورته « طلایې ښکر» یا « ګولډن هارن» وو ایه چې بیا په فارسي ژبه یې د « شاخ زرین » اوپه پښتو کې ېې ورته د « طلایي ښکر » نوم ورکړ . دا د ښار د جنوبي غاړې سره یو ځای تر ډیره پورې د شا لورې ته ورځي ، په دې اساس دغه مثلث ، ښار ددوو غاړو څخه دسمندر په منځ کې را نغاړي.

دریمه او یوا ځنۍ لورې یې د وچې سره نښلي ، خو هغې لورې ته یو په بل پسې دیوالونه جوړ کړل شوي دي.

قاسم تر ډیره وخته پورې د قسطنطنیې په لور سترګې اړولې وې او ورکتل یې. هغه ته له دې ځایه « برج غلاطه» د یوه میخ د څوکې په څیر راوتلې تر سترګو شو . لږه شیبه وروسته دماهیې نیونکو کوچنیانو د قاسم په لور رامنډې کړې او ورته را نژدې شول. دا ټول عیسوی کوچنیان و او د عیسوي راهبانو کالي یې په ښه توګه پیژندل . هغوې د مقدس پلار ، مقدس پلار په نامه ورته نارې وهلې اودقاسم تر څنګ راټول شول . قاسم غوښتل قسطنطنیې ته د ور رسیدو تر مخه د خپلو عسکرو او معمارانو لټون وکړي اودهغوې کار تر سترګو تیر کړې. په دې خاطر یې دهمدې ماهی نیونکو په کلي کې د تم کیدو پریکړه وکړه. هغه په خپل څنګ کې دراټولو شوو کوچنیانو سره د یوه پادري پلار په څیر سلوک وکړ ، دا کوچنیان که څه هم خیرن او چټل و خو بیا هم دخپل رنګ او خوې له اړخه پاک یوناني معلومیدل. دا ماهي نیونکې هم په اصل کې د یونانیانو له نسله و . قاسم د خپل سامان څخه کوچنیانو ته دخوراک څښاک څه سامانونه راواخستل او ور یې کړل نو د کوچنیانو مینه د قاسم سره نوره هم زیاته شوه . اوس نو هغوې د قاسم هره خبره په پوره مینه منله . قاسم د یوه تیز او چالاکه کوچني څخه وپوښتل:

« څنګه زویه ! دلته نژدې څه عسکر راغلي دي..... کیدې شي چې هغوې غیر ملکي عسکر وي ... ایا ته پوهیږې چې هغوې به کومې لورې ته پراته وی..؟»

« هو ! د هغوې په سرونو پګړۍ دي او تورې یې راتاوې شوې شانته دي ....لکه» دې کوچني دخپل لاس په اشارې سره د مسلمانانو د هلالي تورې شکل جوړ کړ او قاسم ته یې وښود. دقاسم په مخ خوشحالي را څرګنده شوه . هغه په دې پوه شوې و چې دسلطان عسکر په همدې ساحل دکلا د جوړولو له پاره را رسیدلي دي ، په دې وخت کې قاسم غوښتل لږ څه نور هم وپوښتي چې دوو نورو کوچنیانو په ډیره بې صبرۍ سره په یو وار په خبرو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هو ! هغوي دخپلو ځانو سره ډير زيات سامانونه هم راوړي دي...هغوي هغه لوري ته دي » دې کوچنيانو د تورې بحيرې د ساحل په لور اشاره وکړه ، دې کوچنيانو قاسم ته دا ډاګيزه کړه چې د پګړۍ لرونکو سپاهيانو او يونانی عسکرو تر منځه کله کله ټکه ټوکه هم کيږی ، قاسم ډاډمن شوي و چې د کلا د جوړولو د کار مشر « مصلح الدين اغا» خپل کار پيل کړې دې ، قاسم د کوچنيانو سره د څه نورو خبرو وروسته وويل:

« راځئ چې ستاسې کلي ته ورشو . زه به تاسې ته د يسوع قصه وکړم»

کوچنيانو دخوشحالۍ نه ټوپونه کړل ، او دقاسم نه مخته مخته يې منډې وهلې . اوس قاسم د ماهي نيونکو کلي ته ور روان و . دا يو کوچنې کلې و چې د کورنيو شمير يې د ديرشو اويا پنځه ديرشو څخه نه ډيريده . دهغوې نارينه دخپلو جالونو سره يو ځای د سمندر دفاسفورس په ابناء کې تر لرې لرې پورې تر سترګو کيدل ، لمر په پوره ځواک سره په سر ولاړ و ، ښځې په خپلو کورونو کې په پخلي او خوراک په تيارولو کې مصروف وې. خو نجونې بيرون د ساحل په غاړه په ګرمۍ کې په لوبو کې را لتاړې وې. يو شمير پيغلې هلته په لمر کې دنورو ځانته ناستې وې او خپل ويښتان يې را سپړلي و او په هغوي کې يې په څه لټولو باندې اخته وې ، هغوي يو دبل سره مرسته هم کوله او پخپلو منځو کې به يې په ډيره وړه وړه خبره په زوره زوره خندل. خو کله چې دې پيغلو قاسم وکوت نو خنداګانې يې و درولې او سمدلاسه دهغه ځايه ولاړې شوې او وريدې، لوبې کونکو نجونو هم ورمنډې کړې او د پادري په لور راغلې. د قاسم قدوقامت او سره اوسپينه څيره د ماهي نيونکو پيغلو له پاره دحيرانتيا سبب وګرزيده ځکه هغوي دومره نيک اوښايسته راهب په خپل ژوند کې د لمړی ځل له پاره کوت. هغوې مقدس پلار ته سلام وکړ اوسرونه يې ټيټ کړل او دخپلو ځانو سره مسکئ شوې. قاسم د پيغلو نجونو په احساساتو کې دخپل ځان له پاره د ستاينې احساس وکوت.اوپه ډيره معصومه اوراهبانه توګه يې وويل:

« بچيانو ! سلامتې اوسئ ! د اوږده عمر خاوندانې شئ ، او يو دبل سره مينه کوئ ، ځکه چې خداوند يسوع مسيح محبت او مينه خوښوي»

دمحبت دلفظ په اوريدو سره پيغلې په خپلو منځو کې سره و پسيدې ، په دې وخت کې يوې تيزې او چالاکه پيغلې د قاسم څخه سمدلاسه وپوښتل . « پلاره ! ايا تا محبت کړې دې ؟... کله ، دکوم چا سره ؟»

هو ! ما د ټول انسانيت سره محبت کړې دې ، زما په زړه کې د محبت او مينې پرته نور څه نه شته. ... بچيانو ! زما په زړه کې د محبت پرته نور څه نه شته. له تاسو سره هم..»

د قاسم دخبرو په دې اخري ټکو باندې يوې شرمناکه او حياناکه پيغلې د لمړي ځل له پاره خپلې سترګې راپورته کړې او هغه يې پرې وکوت. کله چې د قاسم سترګې په هغې پيغلې ور ونښتې نو دا يې احساس کړه چې دا پيغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورو پیغلو څخه بلکل مختلفه ده. قاسم لا تر اوسه په همدې ځآې ولاړ و چې یو زوړ ماهي نیونکې چې په اوږو یې دماهیانو د نیولو سامان ایښې و هغې لورې ته راغې. دې پیغلې وویل:

«سردار را روان دې»

نجونې ټولې یوې لورې ته شوې او ودریدې. د ماهیانو د نیونکو سردار قاسم ته را نژدې شو او قاسم ته یې په پوره ادب سره ښه راغلاست ووایه. «مقدسه پلاره ! دلته زمونږ دې کلي ته په راتګ سره تا مونږ ته ډیر زیات عزت رابښلې دې. دلته ډیر کم ستاسې په څیر خلک راځي. ځکه چې مونږ ماهي نیونکې یو که څنګه ؟ په همدې خاطر مونږ دلته دخپلو ځانو له پاره د یوې جونپړۍ څخه چرچ جوړ کړې دې. ته راځه ! ستا په راتګ سره به دې چرچ ته د لمړي ځل له پاره کوم مقدس راهب ور ننوځي»

قاسم دغې زوړ سردار ته د مقدسو پلارانو په څیر درنښت ورکړ او ورسره روان شو.

تر ماښامه پورې ټول کلي په همدې کې بوخت و چې دغه مقدس پلار به زمونږ سره تر ډیرې مودې پورې پاته شي . قاسم په دې نه پوهیده چې ددې کلي خلک ورسره دومره مینه اومحبت لري اودومره ښه استقبال یې کوي. هغه داسې انګیرله چې ماهي نیونکې چې په ریښتونې توګه د کلیسا سره تړلې دي نودهغه په رومن کتولیک کیدو به نا خوښه شي. هغه د رومن کتولیک کالي د یوه بل کار له پاره اغوستي و. خو کله چې ماهي نیونکو ته ډاګیزه شوه چې «فادر» د روما څخه راغلې دې نو هغوې نور هم خوشحاله شول.

هغوې نالوستې غیرمذهبي خلک و. تر څنګ ی د مذهبي ډلو ټپلو په اړه یې هم ډیر معلومات نه درلود. په دې اساس دلته د څو ورځو له پاره د قاسم پاته کیدل کوم ستونزمن کار نه و. په همدې خاطر هغه د ماهي نیونکو په کلي کې دپاته کیدو پریکړه وکړه تر څو ددې ځایه د قسطنطنیی د سمندر په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي اوسلطان پرې خبر کړي. هغه غوښتل دهمدې ځآیه قسطنطنیی ته ولاړ شي. خو ددې ځایه هغه ته د قسطنطنیی په لور د تللو له پاره د «ګولډن هارن» څخه د یوې کشتۍ په واسطه تیریدل ور په غاړه و. او که چیرې غوښتل یې چې د وچې له لارې قسطنطنیی ته ور ننوځي نو بیا به د «طلاي ښکر» دپاسه تیریده او د «سینټ رومانس» ددروازې څخه به ورننوته.

خو قاسم هملته د ماهي نیونکو په کلي کې پاته شو ، هغه شرمناکه اوحیاناکه پیغله ددې کلي د سردار لور وه چې «روزس» نومیده. نورو نجونو به ورته «روزي» ویله. د کلي هلکانو او نجونو د قاسم څخه د انجیل درس پیل کړ. او ټول د قاسم په محبت کې را ونښتل. روزی په دې پوهیده چې قاسم یو راهب دې او هیڅکله به هم واده و نه کړي. خوبیا به یې هم د قاسم په کتلو ، خداې پوهیږي ، چې څه څه خوبونه کتل. هغه به خوبونه کتل چې د هغې دخوبونو شهزاده به یوه ورځ نه یوه ورځ د هغه د اخستلو له پاره دې لورې ته راځی ، خو هغې هیڅکله هم دا فکر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و کړې چې دخوبونو شهزاده به یې د یوه راهب په کالیو کې راځي، هغه به ټوله ورځ په یوه یا بله بهانه د قاسم په خدمت کې وه. ساده ، معصومه اوحیاناکې دغې پیغلې په همغه دریمه ورځ خپل زړه په قاسم باندې ایښې و او قاسم ته به یې ویل:

« پلاره ! ته په دې عمر کې د یوه راهب په کالیو کې بلکل ښه نه ښکارې. ته باید یوه ښه عسکر وواسې.»

قاسم به ورته خندل ، هغې معصومې پیغلې ته څه معلوم وه چې په هغه چا یې چې زړه ایښې دې هغه په حقیقت کې یو تکړه سپاهي او عسکر دې. قاسم د خپل راتګ په دویمه ورځ د باسفورس د ساحل د « طلایي ښکر» په اړه معلومات تر لاسه کړي و، هغه د جنوب لورې ته هم ورغلي و او دلړې څخه یې د « مصلح الدین اغا » معماران د جنګي کلا د ابادولو په کارونو کې بوخت کتلي و. د اپریل د میاشتې تر اخره پورې د کلا بنسټونه را پورته کړل شوي و. سلطان دې کلا ته د « رومیلي» نوم ورکړې و.

اوس نو قاسم غوښتل ددې طلاې ښکر پوره پوره جایزه واخلي ، په حقیقت کې هغه غوښتل هغه زنځیر له نږدې څخه ووینې چې دطلاې ښکر په خوله کې یې په سمندر کې را ځړولي و.

ګولډن هارن یا طلاې ښکر په حقیقت کې یو کوچنې خلیج و چې دقسطنطنیې د دیوالونو تر څنګ غځیدلې و. دا کوچنې شانته خلیج د ابناې فاسفورس څخه ووت اوپه اروپایي ساحل کې ور داخلیده. په عامه توګه کوچنې جهازونه او کشتۍ به چې په ابنا کې تللې په همدې خلیج کې به هم ور داخلیدې. د ګولډن هارن لورې ته به د قسطنطنیې اروپایي تجارت ترسره کیده. په همدې لورې د ښار یوه بله دروازه هم وه چې دخلیج لورې ته پرانستل کیده. دهمدې خلیج په څنډو دښار د ساتنې له پاره د اوسپنې یو ډیر ستر زنځیر داسې تړل شوې و چې په عامو حالاتو کې به هغه خلاصول کیده او په سمندر کې به را ځوړندیده. خو کله به چې دګولډن هارن څخه کشتۍ بندول کیدې نوزنځیر به یې را ښکود او دروازه به یې بنده کړه. دا چې ولې دهمغه لمړیو ورځو څخه کوم حمله کونکې قسطنطنیه نه شوه نیولې علت یې همدا زنځیر و چې دهغوې مخه به یې نیوله، اوس قاسم غوښتل دا زنځیر له نږدې ووینې.

نن دماهي نیونکو په کلي کې دهغه پنځمه ورځ وه ، او همدا نن سهار داسې یوه پیښه منځته راغله چې قاسم ته یې ټکان ورکړ. نن سهار وختي د یوناني قیصري فوځیانو یوه ډله دماهي نیونکو دې کلي ته راغله ،کله چې سپاهیان خبر شول چې دې کلي ته نوې راهب راغلي دې نود لیدلو له پاره یې ورغلل. خو کله یې چې د قاسم په مذهبي کالیو سترګې و نښتې نو پښه نیولې شول. دهغوې مشر چې کله دقاسم په چپنه د پاپاې روم نښه وکتله نو د قاسم څخه یې وپوښتل:

« مقدسه پلاره ! دا څه دي ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم دهغه په خبره کومه اندیښنه را ډاګیزه نه کړه او په ډیره بې پرواهۍ سره یې وویل: « دا دستر پلار، پوپ له اړخه راکړل شوې ننبه ده.»

خو کله چې قاسم په ځواب کې ددې ډلې د سالار خبره واوریده نو حیران پاته شو. دې سالار وویل:

« ګوره صاحبه !...اوس وخت راغلې دې چې د رومن کتولیک د مذهب پادري د یوناني مذهب په سیمه کې ازاد ګرزیږي ، دا ټوله د شهنشاه کمزورتیا ده. شهنشاه خو غواړي چې ددواړو مذهبونو خلک سره را نزدې شی خو ګورئ چې مونږ یونانیان به هیڅکله هم دا خبره و نه منو..»

په حقیقت کې د قاسم حیرانتیا په خپل ځای سهي وه. ځکه هغه د شهنشاه د کوښښونو څخه خبر نه و. حقیقت دادې چې قیصر دهمغه وخته راهیسې متوجه شوې و چې دعثماني فوځ څو کسه سپاهیان د ابنای فاسفورس په اروپایی ساحل باندې را ښکته شوي و. اوشهنشاه دهمغې ورځې را په دیخوا د قسطنطنیې د ساتنې له پاره لاس و پښې وهل پیل کړې و. دهغه ښار ددیوالونو مرمت یې پیل کړې و او په ښار کې یې خلکو ته د ډیر زیات خوراک څښاک د شیانو د راټولولو او جمع کولو هدایت کړې و.

ددې وروسته یې د غربي هیوادونو څخه د مرستې کولو غوښتنه کړې وه او د ټولې اروپا د مرستو دتر لاسه کولو له پاره یې د روم د کلیسا ټولې غوښتنې منلې وې. او یوناني کلیسا یې د رومي کلیسا تر کنترول لاندې د راوړلو له پاره ژور فکر پیل کړې و. د شهنشاه د هڅو څخه اوس د قسطنطنیه په چرچونو کې هم د رومن کتولیک راهبان تر سترګو کیدل. په حقیت کې دا د قیصر پوه او درک و ، هغه غوښتل دعیسویانو ددوو ډلو تر منځه اتفاق او اتحاد را پیدا کړي، لا تر دې وخته پورې دعیسویانو د «پروټسټنټ» ډله نه وه را پیدا شوې ، دعیسویانو یوې ډلې د روما چرچ مانه او بلې ډلې د «یوناني کلیسا » هدایت ته غاړه ایښوده. د رومن کتولیک مشري پوپ یا پاپای اعظم کوله او د قسطنطنیې مذهبي مرکز « ایا صوفیا» بشپ اعظم ته « بطریق اعظم» ویل کیده.

د سلطان محمد خان د حملې داوریدو وروسته قسطنطین د روما پوپ ته لیکلي و چې.... اوس وخت راغلې دې....
اوس وخت راغلې دې چې مونږ خپل مذهبي اختلافات له منځه یوسو او ټول متحد شو او د مسلمانانو مقابله وکړو. زه ستاسې عقاید په خوشحالۍ سره منم او همتاسې د « ایاصوفیا» دمشر په څیر منلو ته تیار یم..... همدا علت دې چې ددواړو ډلو ترمنځه د تلو راتلو له پاره وړاندیز کوم. ترڅو دا راولاړ شوې واټن له منځه ولاړ شي.

قاسم ته په دې اړه کوم معلومات نه و په دې اساس یې کله چې د یوناني ډلې دمشر خبرې واوریدې نو حیران پاته شوې و. هغه ترې په ډیر تعجب سره و پوښتل چې « دا ته څه وایې ؟ ایا شهنشاه دواړه کلیساګانې سره را یوځای کوي ؟دا خو ډیره ښه خبره ده ، زه خو وایم چې ټول انسانان سره را یوځای کړل شی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم درواغ ویلي و . حال دا چې هغه ددواړو کلیساګانو  د اتحاد او یووالي څخه خوشحاله نه و ، هغه د رومن کتولیک کالي په دې خاطر اغوستې و  چې د کافرانوو تر منځ دغه نفاق نور هم ورزیات کړي ، تر څو د کفارو دواړه ډلې د حملې په وخت کې یو دبل سره بسپنه و نه شی کولې . خو د ډلې سالار ډیره عجیبه خبره کړې وه ، ددې خبرې څخه دا مقصد اخستل کیده چې قسطنطین په مکمله توګه خپل ځان دحملې له پاره تیاروي . قاسم فکر وکړ چې دا خو ډیره ضروري اطلاع ده ، او دې ته اړتیا ده چې سلطان ترې به مکمله توګه خبر کړل شي ، هغه په همدې فکر کې ډوب و چې سالار ورته یو ځل بیا وویلې.

« مقدسه پلاره ! ته خو پوهیږې چې یونانیان مرګ خوښوي خو د خپلې عقیدې او مذهب بدلون نه خوښوي ،په دې خاطر به ته ووینې چې دا اتحاد به نه بریالی کیږي. تر خو ترا وسه زمونږ میلمه یی. ځکه چې قسطنطین تاسې ته زمونږ هیواد ته د راتلو بلنه درکړې ده. خو ډیر ژر به د رومن کتولیک پادري زمونږ د میلمستیا نه لاس په سرشي . په دې خاطر غوره ده چې ته دباران د راتلو تر مخه دخپل ځان له پاره د خوندی ځاې د راپیدا کیدو په فکر کې شې.»

د یوناني عسکری ډلې سالار همدومره وویلې او بیا دخپلې ډلې سره بیرته ستون شو ، خو د ماهی نیونکو د کلي ټول لوې او واړه چې اوس د فادر سره ډیر اشنا شوی و دقاسم په شاوخوا کې په زوړندو شونډو او غمژنو مخونو سره ولاړ و .

دا د نن سهار پیښه وه خو نوره پاته ورځ د معمول په مطابق تیره شوه . هغه ټوله ورځ په همدې فکر کې ډوب و چې څه ډول د نوې تعمیریدونکې «رومیلي کلا » پورې « مصلح الدین اغا» ته ځان ور ورسوي او دهغه په لاسو سلطان محمد ته دا خبر ور ورسوي چې د عیسویانو دواړه ډلې په نژدې کې سره را یوځاې کیږي. هغه غوښتل نن د ماښام نه وروسته د «رومیلي کلا » ته ولاړ شی . هغه په همدې فکرونو کې ډوب و چې د غټو سترګو خاونده «روزي» یی څنګ ته راغله او په څنګ کی یی و دریده . روزي ډیره غمژنه وه ، ځکه چې نن سهار د رومي فوځونو سالار د ټولو خلکو تر مخه د ځوان راهب څخه پوښتنې ګرویزنې کړې وې . هغه ته د سپاهیانو دا کړچار د سپکاوي ډک ښکاره شوې و . اوبیا هغې د یونانیانو ددې ډلې د سالار څخه ډیر ه کرکه هم کوله ، ځکه دا هغه ثوک و چې په ځنګل کې یی روزی د لاسه نیولې وه ، نو که چیرې هغه وخت د روزي ملګرو شور و غلمغال نه وې کړې نو روزي به دهمدې بداخلاقه سالار په لاسو بې عصمته شوې وې. روزې دا سالار دیوه کاله راهیسې په دې سیمه کې کوت ، دهغه نوم « مقرون» و اود قسطنطین د ساحلې فوځې چونی څارونکې و.

نن سهار هم ، کله چې مقرون د ماهی نیونکو کلي ته را ننوت نو نیت همدا و چې دغه ښایسته او حسینه پیغله په خپل دام کې را و نښلوي. خو کلي ته د راننوتلو سره سم « باقو ماهي نیونکي » هغه ته ددغه نوی ځواب راهب په اړه معلومات ورکړل . باقو هغه ته داهم ډاګیزه کړه چې د سردار لور دهمدې ځوان راهب په شاوخوا کې چکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي، باقو پخپله د روزي په اړه ښه آند نه درلود. خو د سردار تر مخه يې هيڅ نه شو ويلاې. پخپله روزي هم د هغه د بدبويه کاليو او وجود څخه کرکه او نفرت کاوه. دهغه اوږده اوږده ويښتان ، چې د څو مياشتو خاورو او خټو کې ککړ پاته شوي، دهغه دسترګو تر مخ را ځړيدلې و . دهغه دښې سترګې څخه به ټول وخت اوبه تلې ، د همدې سترګې تر مخه را ځړيدلې ويښتانو دا سترګه په ناروغتيا ککړه کړې وه. ددې نه اخوا هغه په يوې پښه ګوډ هم و ، ګويا دهغه شخصيت په خپله د روزي له پاره د کرکې نه ډک و. باقو به د سردار د ويرې روزی ته څه نه شو ويلاې. او که نه ، که وس يې کيدې نو يوه لحظه به يې هم روزی نه وې پری ايښې. خو کله چې دغه ځوان راهب کلي ته راغې نو روزی هم ورسره مينه پيدا کړه. باقو ددې خبرې زغم نه درلود. هغه تر پنځه ورځو پورې د مار په څير تاويده را تاويده. خو په سبا يې په ذهن کې يوه لاره راپيدا شوه، په دې اساس د يوناني فوځونو سالار مقرون ته ورغې او هغه ته يې د دې نوي راهب او د راهب او روزي تر منځ د محبت په اړه خبره وکړه. همدا علت و چې هغه نن سهار وختی دخپلو عسکرو سره دغه کلی ته راغې ، مقرون هم د تير يوه کاله راهيسې د سردار په لور روزي باندې سترګې ښخې کړې وې. روزي د ډير ساعت خاموشۍ وروسته قاسم ته د هولې فادر په نامه ورغږ کړ.

« نن چې له تاسره څه سلوک وشو مونږ د کلي خلک ټول پرې ډير زيات خفه شوی يو. په اصل کې دغه کس چې د يوناني ډلې سالار و ډير زيات بدطينته انسان دې ، نن چې هغه له تاسره کومه بدکلامي وکړه ، هغه ستا په خاطر نه وه بلکه زما په خاطر وه.»

قاسم د لمړي ځل له پاره د روزی په لور وکتل او په لږ څه حيرانتيا سره يې ورته وويل:

« څه مطلب ؟.... څنګه ستا په خاطر ؟ ايا ته هغه د پخوا څخه پيژنې ؟»

« هو !....ددې نوم مقرون دې. ددې لورې د فوځې څوکيو څارونکې ، هغه يوځل زه په ځنګله کې له لاسه و نيولم ، خو دخداې شکر و چې زما ملګرو شور وغلمغال جوړ کړ. نوموړی ټوله ورځ په همدې ځنګلونه کې ګرځي را ګرځي. ماته مې پلار ويل چې نن سبا څو کسه مسلمان سپاهيان راغلي دي ، په دې خاطر مقرون د پاګل او ليوني په څير منډې رامنډې وهي.»

قاسم د روزی خبرې په دير غور سره واوريدې. اوس چې کله هم روزي دهغه سره خبرې کولې نو د فادر لفظ به يې خامخا وايه. قاسم دهغې په سترګو کې د محبت پيغام لوستې و خو هغه دلته دمحبت کولو له پاره نه و راغلې. په دې خاطر هغه هڅه کوله چې د روزي په غتو غټو سترګو کې دغورزيدو نه ځان و ساتي.

ماښام را نزدی کيدونکې و، او دتيارو د خپريدو سره سم هغه د «روميلې کلا » په لور تلل غوښتل ، دې ماهي نيونکو دهمغه لمړۍ ورځې څخه قاسم ته يو ډير ښه آس ورکړې و ، تر څو هغه د مقدس کتاب د تعليم له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا كليو او بانډو ته په اسانۍ سره تګ راتګ وکړای شي. قاسم د تللو دمخه په ډېره عجيبه توګه روزي ته وويل:

« روزي !....زه د ټولو دپاره مقدس پلار یم خو ستا له پاره نه یم ، زما په زړه کې ستا له پاره عزت د یوه دوست دعزت په څیر دی. زه دغه پاس کلي ته د یوه ضرورت په خاطر ورځم ، خو ماته ستا دبسپنې له پاره اړتیا ده .»

د روزي له پاره ددې ځوان راهب خبرې بلکل نوې او په زړه پورې وې. هغه یو وارې په هوا کې په الوتو شوه. دقاسم خبرو دهغې په غوږو کې ، معلومه نه ده چې څه ور رسولي و. دهغې مخ د شرم څخه د ګلنار په څیر و ګرزید دهغې په سترګو کې حیرانتیا وه ، خو بیا یې هم په زوره زوره سر وخوځاوه او قاسم ته یې دخپل تعاون په اړه ډاډ ورکړ. خو ترې وېې پوښتل:

« زما ځان هم ستا له پاره حاضر دی. ته حکم وکړه چې زه باید څه وکړم ؟»

« ته یوائې همدومره وکړه چې زما چیرې د تللو ،اوبیرته راستنیدو اویا ددې ځایه د غیر حاضرۍ په اړه هیچاته څه مه وایه.»

روزې د یوې لمحې له پاره فکر وکړ او بیا یې سمدلاسه وویل: « ته اندیښنه مه کوه. ستا نه وروسته به هیچاته دا معلومات و نه شي چې ته چیرې یې. زه به ټول هر څه کنترول کړم.»

« خو څنګه ؟ ته به څه کوې ؟»

« داټول ماته پریږده ، ته بې فکره اوسه او د خپل کار پسې دې ورشه»

کله چې سیوري تیاره شول نو قاسم د خپل اس په شا کیناست او د انځرو په ونو کې غایب شو. هغه خپل آس د ابنای فاسفورس د ساحل په غاړو بوت. اوبیا یې د رومیلي دکلا په لور مخ کړ او آس یې پسې و ځغلاوه. د لږ ځنډ نه وروسته آس دهوا سره خبرې کولې ، د ورمیلي کلا ددې ځایه په پوره واټن کې جوړیده. خو قاسم غوښتل په ډیر کم وخت کې تر مصلح الدین اغا پورې خپل راپور ور ورسوي اوبیرته دغه کلي ته راستون شي. هغه هلته د تللو دمخه د روزي څخه ټوله لاره پوښتلې وه ، هغه ته دا هم ډاډګیزه وه چې په لاره کې به د یوناني عسکرو سره لاس په لاس کیږي ، په دې اساس یې خپل ځان پوره تیار کړې او وتلې و. اوس نو هغه دخپل آس په څټ کې ور پروت و اودهغې هوا څخه یې، چې د آس د ځغاستې په واسطه پرې لګیده ، ځان خوندي کاوه، کله چې دخپل وخت سره سم د رومیلي کلا ته ور ورسید نو دآس واګې یې دتمکیدو له پاره راکش کړې ، هغه ډاډمن چې همدلته چیرې په کوم ځای کې به دعثماني فوځ کوم سپاهي د یوه هوښیاره زمري په څیر په پهره بوخت وي. اوس نو هغه دآس په مزله مخته روان و. هغه ته دا اندازه معلومه وه چې رومیلي کلا همدلته چیرې تعمیریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دشپې په تیارو کې هغه تعمیر نه شو کتلای. په دې خاطر په ډېره محتاطه توګه مخته روان و. یو ځل پخوا د ورځې په رڼا کې هغه د رومیلي کلا د کتلو له پاره راغلې و خو په هغه وخت کې یې د لویې لارې سترواټن وهلی و خو نن هغه په کم وخت او په پټه دې ځای ته راغلې و، همدا علت وچې هغه د ساحل تر څنګ د انځیر په ونو کې پټه لاره خپله کړې وه. هغه په فکر کې ډوب و چې مخته یې د خلکو د خبرو زوګ را پیدا شو. اوبیا لږ څه وروسته یې دمسلمانو سپاهیانو یوه ډله تر مخ ولاړه وه. دې ترکي عسکرو قاسم په خپله محاصره کې واخست. دهغوې په لاسو کې لوڅې تورې وې او هغوې خپله محاصره را تنګوله او قاسم ته را نژدې کېدل، قاسم خپل مخ په یوه دستمال کې را نغښتلې و او هغه دخپلې تورې د راویستلو پرته دترکانو دفوځ سردار ته کتل. لږ وروسته قاسم په خبرو کې لمړیوالې وکړاو ویې ویل:

«السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !..... الحمد لله زه دمسلمانو سپاهیانو له ډلې څخه یم ..... تاسې ما « انجنیر مصلح الدین اغا» ته د کتلو له پاره یوسئ.»

د قاسم په خبرو د عسکرو خولې وازې پاته شوې ، بیا یې سالار را مخته شو او دقاسم څخه یې وپوښتل: ته څوک یې ؟او د مصلح الدین اغا سره څه کار لرې ؟

قاسم ته داسې ډاګیزه شوه چې دغه پوښتونکې پخپله مصلح الدین اغا دې. ځکه قاسم دهغه سره یو ځل په اورنه کې کتلې و، هغوې به کله کله دسلطان به دربار کې هم یو ځای کیناستل. قاسم بیا هم دخپل مخ څخه پرده لرې نه کړه بلکه مصلح الدین اغا ته یې وویل:

« زه ستا دوست یم او تاته د یوه مهم پیغام د ورسولو له پاره راغلې یم... ته ما نښه پیژنې خو زه به تاته خپل مخ په ځانته ځای کې و ښایم.»

مصلح الدین اغا ته د قاسم اواز اشنا شانته معلوم شو خو هغه یې پوره و نه پیژانده. خپلو سپاهیانو ته یې یوې لورې ته دکیدو اشاره ورکړه ، ترکي عسکر هم یوې لور ې ته شول او و دریدل ، په دې وخت کې قاسم د مصلح الدین اغا تر مخه د خپل مخ څخه پرده لرې کړه او ویې ویل:

« ډیر ښه شول چې ته ماته همدلته تر لاسه شوې. دا یو پیغام باید سلطان ته ژر تر ژره ورسیږي ، او ماته ستا څخه پرته بله لاره نه وه چې دا پیغام مې پرې لیږلې وې.

مصلح الدین اغا قاسم ډیرښه پیژندلې و. هغه د خوشحالۍ نه چغې کړې او دقاسم قاسم نوم یې اخسته. خو قاسم ورته په شونډو لاس کیښود او د چپ کیدو مشوره یې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« زه ډیر کم وخت لرم. ته زما دکار په اهمیت باندې پوهیږې. زه سمدلاسه ددې ځایه بیرته ستنیږم. ته تر سلطانه پورې دا پیغام ور ورسوه چې د عیسویانو ددواړو ډلو تر منځه اتحاد راغلې دې او د روم پاپا دقسطنطنیی د بسپنې له پاره ملاتړ اعلان کړې دې په دې خاطر هغه باید د غربی اروپا په لور حتمې توجه وکړي.

مصلح الدین اغا د قاسم پیغام په ډیر غور اودقت سره واورید او تر سلطانه پورې یې دهغې د وروسولو ژمنه هم ورسره وکړه ، اوس نو دقاسم له پاره په دې ځای کې ددې نه زیات تم کیدل مناسب نه و. هغه غوښتل سمدلاسه بیرته ستون شي ، په دې خاطر یې دمصلح الدین څخه اجازه واخسته اوپه همغه لاره چې راغلې و دهمغې په تیارو کې پټ او بیرته ستون شو ، مصلح الدین اغا او دهغه سره یوځای عسکر په خپل ځای حیران دریان ولاړ و او د شپې ددغه مسافر لاره یی تر ډیره پورې کتله.

قاسم چې په کوم رفتار سره راغلې و په همغه رفتار بیرته لکه د مرغه په څیر الوت اوروان و. خو په یوځای کې یی یو ناڅاپه د خپل آس واګې راښکودې. ځکه دهغه تر مخه په ناڅاپي توګه د یوناني فوځیانو یوه ډله را ووتله . په دې ډله کې یواځې پنځه عسکر و. دوې د قاسم په لاره کې لکه د دیوال په شکل و دریدل او د قاسم د تیښتې ټولې لارې یی و تړلې. دیوناني عسکرو په لاسو کې تیزې تیرې لوڅې تورې وې چې په تیاره کې د ورایه ځلیدې. دوې د قاسم تر مخه په یوه لیکه کې ولاړ و. قاسم هم یوه اوږده ساه واخسته او خپله توره یی دتیکې څخه را وویسته. ددې پنځو یوناني سپاهیانو څخه یی یوه چې ښې لورې ته ولاړ و دقاسم څخه په غوریدونکي اواز سره وپوښتل:

« ته څوک یی؟ او په دې وخت کې له کومه ځایه را ځې ؟ »

قاسم نه غوښتل ددوې تر مخه خپل ځان د یوه راهب په څیر را څرګند کړي. په همدې خاطر یی دماهي نیونکو په څیر لهجه خپله کړه او دوې ته یی وویل:

« ماهي نیونکې یم ، محترما ! د خپلې یوې ورکې شوې تورې د لټون په خاطر وتلې وم ، رابانديناوخته شو ، خو پیدا مې نه کړه او اوس بیرته خپل کلي ته روان یم.»

خو قاسم ته دې درواغو نجات ورنه کړ ، ځکه چې یوه یوناني عسکر هغه پیژندلې و ، په اسانۍ سره دهغه د پیژندلو یو علت داو چې هغه همدا نن سهار هغه د مقرون سره یو ځای د رومي راهب په کالیو کې کتلې و. په دې اساس هغه عسکر په ډیر قهر سره په داسې حال کې چې خپله توره یی په لاسو کې لوبوله ، قاسم ته وویل چې « ته درواغ وایی ،ماته وپیژندلې ، ته ماهي نیونکې نه یی. بلکه ته همغه رومي راهب یی چې همدا نن سهار یی زمونږ سالار په اړه مونږ ته خبر راکړی.....ته به زمونږ سره ځې ، ته اوس زمونږ د څارنې لاندې یی.....»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو قاسم خپل ځان په تلک کې ګیر وکوت. دهغه راز رابربنډ شوې و ، او ددې عسکرو سره یو ځاې مقرون ته په ورتلو سره دهغه وژل سل په سلو کې پیښیدل. په دې اساس قاسم خپله توره را وویسته او په یوه ځل یې په هغو پنځو باندې را کیښودل. ډیر وخت شوې و چې هغه ته دخپلو متو د ازمیښت له پاره زمینه نه وه برابره شوې ، هغه د یوه وږي زمري په څیر په یوناني فوځیانو باندې حمله وکړه او دهغوې د شمیرې د ډیرښت د پروا کولو پرته یې پر هغوې یو په بل پسې مرګوني ګذارونه پیل کړل ، دهغه توره د برق او تندر په څیر ددښمن په جسمونو باندې را پریوته. دشپې په تیارو کې د تورو یوله بل سره ټکر په فضا کې د اور بڅرکي پریښوول او د ټنګ او ټونګ اوازونه یې هم تر ډیره پورې تلل.

د قاسم د تورې د وهلو او د د دوو په ځاې د څلورو لاسونو په تیزۍ سره په خوزولو د یوناني عسکرو اوسان ور خطا شول ، خوبیا هم هغوې غوښتل قاسم را محاصره کړي خو هغوې په پرلپسې توګه د شرمناکه ناکامۍ سره مخکیدل. تر څنګ یې د قاسم تورې په یوه وخت کې دوه سپاهیان د زمکې خاورو ته ورسول ، او آسونه یې و تښتیدل. د خپلو دوو ملګرو په داسې وژل کیدو باندې دهغو پاته درې عسکرو اوسان هم ورخطا شول خو قاسم هوډ کړې و چې دهغوې له ډلې څخه به یو کس هم ژوندې نه پریږدي. ځکه دې خلکو دقاسم اصلیت پیژندلې و په دې خاطر قاسم غوښتل دهغه د رازدا پیژندونکې باید ټول له منځه یوسي اوبیا کلی ته ستون شي. د قاسم توره یو ځل بیا د یوه بل عسکر په سر داسې راپریوته چې هغه یې دوه ټوټې کړ ، دپاته دوو عسکرو له پاره دا هیبت ناکه منظر د زغم وړ نه و ، په دې خاطر یې د تیښتې لاره ونیوله او دجګړې څخه یې دخپلو پښو د ویستلو له پاره خپلو اسونو ته پوندې ورکړې. دهغوې مخه د « ورمیلي کلا » په لور وه ، قاسم هم خپل آس دهغوې پسې کړ ، او د ځغلیدونکې آس د زین څخه یې ځان را کوږ کړ او د خپلې د غشو د خلطې څخه یې یو تیر را وویست اوهغه یې په کمان کې کیښود ، دا غشې د یوناني فوځې په ځاې دهغه په اس کې ورننوت ، اس نا ارامه شو او یو خوا بلخوا یې منډې کړې او بیا یې په خپل ځان سپور کس په زمکه را وویشت. دغه یونانی عسکر پخپله هم د زخمې آس په شا خپل ځان دکنترول نه بیرون وکوت و او په دې ترتیب په زمکه راپریوت. خو د هغه بدبختي داوه چې دهغه یوه پښه د آس په رکاب کې نښتې پاته شوه ، دغه زخمې ځغلیدونکې نا ارامه آس د خپل راپریوتي مالک د پروا کولو پرته هغه په ځان پسې را ښکود او دننه ځنګل ته یوړ. د را پریوتي عسکر سر په زمکه د کاڼو سره ټکریده نو قاسم فکر وکړ چې هغه ژوندې نه شي پاته کیدي. په دې اساس هغه یوه لمحه هم تم ونه کړ اودهغه بل یوناني عسکر تر شا یې خپل آس ور وځغلاوه ، اوس نو هغه تښتیدلې عسکر یوکس و او هغه چې کومې لورې ته ورته قاسم هم همغې لورې ته پسې ور روان و. خو پخوا له دې چې هغه قاسم ته په ګوتو ورشي ، رومیلي کلا ته په ورنژدې کیدو سره ترکي عسکرو هغه کتلې و ، د ترکانو د ساتونکو یوه ډله یې مخته ولاړه وه ، کله چې یوناني عسکر خپل ځان د څلورو خواو څخه محصور وکوت نوسمدستی یې خپله توره و غورځوله اودخپل ژوندې پاته کیدو خیر یې وغوښت ، اوس نو دقاسم په څیر د یوه غیرتمنده جنګجو له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ضروري وه چې هغه ژوندې پرېږدي. خو هغه د قاسم د راز څخه خبر شوې و. اودا خبره دهغه د ستر مقصد دترلاسه کولو په لاره کې زيانمنه ثابتيده. په دې خاطر قاسم د هغه د وژلو په ځاې مسلمانو سپاهيانو ته په لوړ اواز وويل چې: «دا يوناني عسکر دې..... سمدلاسه يې و نيسئ»

دمصلح الدين اغا ساتونکې مخته راغلل، او دغه يوناني عسکر يې په خپله محاصره کې واخست. قاسم دا هم نه غوښتل چې مسلمان عسکر دې د ماهي نيونکو په کلي کې دهغه ځاې ځيږي څخه خبر شي، هغه لږ څه فکر وکړاو بيا يې د مصلح الدين اغا په نوم غږ وکړ. خو مسلمانو ساتونکو هغه ته وويل چې دهغوې سردار اوس دهغوې سره نه شته. دې مسلمانو ساتونکو قاسم دلته په دويم ځل کوت. اوهغوې پيژندلې هم و، قاسم هغوې ته حکم وکړ چې دا بندي دې همغې ته ور حواله کړي او يا دې يې د راز د رابربنډولو له ويرې سمدلاسه له منځه يوسي. ځکه دا کس د يوه ډير مهم راز څخه خبر شوې و. دقاسم د خبرې داوريدو سره سم يو ګرم مزاجه ترکي عسکر را مخته شو او ديوې لمحې د ځنډ پرته يې د يوناني عسکر په ګيډه کې خپله اوږده نيزه ور ننويستله، فضا کې يوه چيغه شوه اوپه دې توګه هغه يوناني عسکر دزمکې سره زمکه شو.

اوس نو قاسم يو ځل بيا دکلي په لور لکه د مرغه په څير الوت. هغه غوښتل چې ژر تر ژره خپل ځاې ته ځان ور سوي، همغه و چې دخپلو تلو څخه پوره يو ساعت وروسته قاسم بيرته د خپلې جونپړۍ تر شا ولاړ و. هغه څو لمحې دمخه دخپله اسه راښکته شوې و او په پښو د خپل د اوسيدو ځاې په لور ور روان و. هغه ته دخپلې جونپړۍ په کړکيو کې د رڼا نښې تر سترګو شوې، هغه خپل آس هملته د خپلې جونپړۍ تر څنګ په ونو بوټو کې و تړه. اوپه خپله د اوسيدو د ځاې ددروازې په لور ورغې. خو ددروازې نه بيرون يې په تياره کې څوک ناست وکوت ..... خو لږه شيبه وروسته يې روزي پيژندلې وه..

قاسم بې له ځنډه د روزی خواته ورغې، روزی په خندانه توګه دهغه ښه راغلاست وکړ اوبيا يې په لږه شوخۍ سره ورته وويل:

«په جونپړۍ کې دننه مقدس پلار په عبادت کې مصروف دې. هغه ماته دلته دکيناستو حکم کړې دې ترڅو څوک دننه ورتلو ته پرې نه ږدم، په دې خاطر تاسې دننه نه شئ ورتلاې...»

قاسم د روزي په خبرو د خندا نه شين شو او ددې حکمت په خپلولو سره يې د روزی ډيره ستاينه وکړه. بيا يې روزي ته وويل چې هلته د جونپړۍ تر شا يې خپل آس تړلې دې، هغه بايد سمدلاسه دکلي د آسونو په اخور وتړل شي.....روزي دحکم دتعميلولو له پاره سمدلاسه راپورته شوه، قاسم د روزی د نشتوالي نه په ګټې اخستو سره جونپړۍ ته ننوت او خپل کالي يې بدل کړل، ځکه د جنګ په وخت کې دهغه کالي شکيدلي و او په ځينو ځايو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د وینې څاڅکې هم تر سترګو کیدل. قاسم خپل لباس بدل کړې و ، خو پخوا تر دې چې هغه د خپله مخه د سپاهیانو د وینو څاڅکې پاک کړي روزي پرې ناڅاپه را ننوتله او قاسم ته یې وویل:

« ستا د تلو وروسته ،زما پلار ستا په اړه له ما پوښتلي و. او یو ځل هغه بدذات باقو هم ستا سره دکتلو له پاره راغلي و. خو ما هغوې دواړو ته ډاډ ورکړ او تم مې کړل.

« باقو؟ .....کوم باقو ؟»

خو روزي قاسم ته د ځواب ورکولو په ځای تندې تریو کړ اود قاسم په مخ یې د وینو دداغونو په کتلو سره ترې وپوښتل:

« دا ....دا څه دي ؟ ... ستا په مخ باندې د وینو څاڅکې .... ولې ......دا څه در پیښ شوې دي ؟ .... ته خو به نه یې زخمې شوې .....؟»

قاسم بې ځوابه شوی و او سمدلاسه یې لستوڼي راپورته کړ اودمخ څخه یې د وینو د څاڅکو دپاکولو هڅې پیل کړې. او ویې ویل: نه ، زه نه یم زخمې شوې ، بس په لاره کې یوڅو غلو راباندې حمله وکړه،اودهغوې سره مې تر لږه وخته پورې کشمکش درلودَ.»

قاسم نه غوښتل بله کومه بهانه جوړه کړي ، ځکه چې هغه ته معلومه وه چې سهار وختي به د یونانی عسکرو د مرګ خبر د ځنګل داور په څیر په ټوله سیمه کې خپریږي، خوروزي په حیرانونکو سترګو قاسم ته کتل ، قاسم د روزې دکتلو دانداز څخه په ویره کې شو . اوپه ډیر بیړه یې دروزي د کمزورتیا څخه د ګټې اخستو په خاطر هغې ته وویل:

« روزي ! ته دومره حسینه اوښایسته یې چې ماته په خپل دغه راهبانه ژوند باندې پښیمانتیا راځي. کاشکې چې زه راهب نه وې اویو عام انسان واې...»

دقاسم د لهجې دد غه حسرت په کتلو سره روزي هر څه له یاده وویستل.اودهغه ځوان عرب په سترګو کې همداسې ورډوبه شوه. اوس نو قاسم روزي ته د تللو اجازه ورکړه تر څو هغه خپل په وینو ککړ کالي پریمنځلې شي.

روزي ولاړه ، اوقاسم د جنګ ټولې نښې نښانې له منځه یوړې. خو راتلونکې سهار د ټولې سیمې له پاره دقیامت په څیر ګرزیدلې و. د پنځه یوناني عسکرو د وژلو خبر د ابنای فاسفورس څخه نیولې ان د قسطنطنیې تر قصره پورې رسیدلې و . نن مقرون لکه دلیوني سپې په څیر په هر هر ځای کې خوله اچوله. هغه په هرې پوستې باندې وګرزید او د ډیرو کلو او بانډو اوسیدونکو ته یې اخطارونه اوګواښونه ورکړل. شهنشاه ته یې د خبر ورکولو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره د خلکو یوه ځانګړې ډله ور واستوله او په خپله د یوې څلور سوه کسیزې عسکرې ډلې د برابرولو په هڅو کې بوخت شو. هغه غوښتل چې د رومیلي کلا د جوړولو کارکونکي مسلمانان له منځه یوسي.

د بله اړخه انجنیر مصلح الدین اغا ته هم هره ګړۍ خبرونه ور رسیدل ، په همدې خاطر هغه خپل ټول عسکر او انجنیران را ټول کړل او ضروري لارښوونې یې ورته وکړې. نن د ماهي نیونکو په کلي کې هم ډېره بده ورځ وه. د هر کس په زړه کې د یوناني عسکرو د وژلو هیبت ناست و. یوازې روزې وه چې په ویره کې نه وه بلکه حیرانه وه. هغه په دې فکرونو کې ډوبه وه چې دهغه دخوبونو شهزاده یواځې ځوان او ښایسته رنګه نه دې بلکه جنګجو او میړنې هم دې ، هغه په دې خبره هم حیرانه وه چې څه ډول د کلیسا یو راهب دغسې یو میړنې شخص ګرزیدلې شي . دهمدې فکرونو په بنسټ د قاسم په اړه دهغې آند مشکوک شوې و. ځکه دغه نوي ځوان راهب په یوه شپه کې په ځانته ځان د یوناني عسکرو پنځه وسلوال کسان له منځه وړي و ، هغه په دې فکر کې وه چې هسې نه چې دې ځوان د رهبانیت لباس اغوستې وي ! خو دې فکرونو هغه د اندیښنو په ځاې د خوشحالۍ لورې ته ور ورله. ځکه هغې همدا غوښتل چې قاسم رهبانیت پریږدي او خپل عادي ژوند ته راوګرځي تر څو له دې سره واده وکړي. اوس چې کرار کرار روزی ته د قاسم د نه راهبیت په اړه یقین تر سترګو کیده نو تر څنګ یې په زړه کې خوشحالي احساسوله. خو ټول کلي په غم او مصیبت کې اخته و. یواځې روزي چې په دې خبرو یې فکر نه و خراب شوې. خو بیا یې هم فکر کاوه چې دغه نوي ځوان راهب ولې یوناني پنځه کسه فوځیان وژلې دي؟ هغې غوښتل چې ددې راهب څخه پوښتنه وکړي خو له دې ویریده چې قاسم به دهغې څخه هسې نه چې قاسم ترې دا حقیقت پټ کړي او دخپلو درواغو په واسطه ددې زړه ورمات کړی.

لږ څه نور وخت هم په همدې توګه تیر شو ، دقسطنطنیي د قصر څخه دا حکم راغې چې مسلمان عسکر ښار ته را نژدې پرې نه ږدئ او نه ورسره جنګ جګړه وکړئ. خو مقرون دخپلو عسکرو په وژلو ډیر قهرجن و. هغه غوښتل چې په هره توګه چې شوني وي ددې پنځه یوناني عسکرو د وژلو بدله واخلي. هغه انتظار کاوه چې د شهنشاه د درباره به په دې اړه کوم حکم راځي اودهغې حکم سره سم به دغه یوموټې لږ مسلمانان د تیغه تیروي. دهغه څلور سوه سپاره ملګري هر وخت دهغه دحکم لاندې و. مقرون په خپله مرکزي قرارګاه کې منتظر او نا ارامه ناست و چې په باقو یې سترګې ولګیدې ، هغه ګوډ ګوډ کیده او دهغه لورې ته را روان و. معلومه نه ده چې مقرون ولې سمدلاسه ټکان وخوړ ،هغه د باقو څخه دکوم ښه او ناڅاپي خبر داوریدو هیله درلوده. هغه په خندانه توګه د باقو سره لاس ورکړ اودخپل ځان خواته یې کیناوه.

« وایه ! څنګه راغلې یې ؟... داسې برېښې چې کومه مهمه خبره دې راوړې ده.» مقرون ورته په ډیرې بې صبرۍ سره وویلې. باقو ورته په ځواب کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« بلې ، هو ! ما يو خبر درکول غوښتل ، چې پرون ماښام دتيارو د خپريدونه وروسته ،زمونږ د کلي راهب په اس سپور شو او د «روميلي کلا » په لور تللې و . اوبيا د يوه ساعت وروسته بيرته راستون شوې .»

د مقرون ته دا خبر دومره مهم ښکاره نه شو . او په لږ څه قهر سره يې وويل: « نوبيا څه وشول ؟... ايا د يوه راهب چيرته تګ راتګ منه دې ؟ هغه به ستاسې په خوا کې بل کوم کلي ته تللې و .»

« نه ! زمونږ د کلي راهب زمونږ په اړخ کې کوم کلي ته نه و ورغلې. هغه چيرې لرې تللې و ،زه په پوره يقين او ډاډ سره ويلې شم چې همدې راهب دغه يوناني عسکر ټول له منځه وړي دي .»

دباقو په خبرو مقرون را نيغ شو او کيناست. بيا يې په پوره شوق سره ترې و پوښتل چې:

« ستا ددې دومره پوخ يقين علت څه شې دې ؟»

« زه يې تاته علت وايم. ته زما خبره په ډير غور سره واوره. پرون سهار ته زمونږ کلي ته راغلې وې او بيادې هلته دغه راهب متنبه کړ. دهغې دعکس العمل دکتلو له پاره زما سترګې ټوله ورځ په دغه راهب باندې ښښتې وې. خوکله چې ماښام شو نو ما وکتل چې راهب د روزي سره پټې خبرې کوې ، زما غوږونه ودريدل. د ماښامه وروسته راهب خپلې کوډلې ته ولاړ . او د کوډلې چراغ يې روڼ پريښود. لږه شيبه وروسته روزي راغله او د همدې کوډلې تر مخ يې زنګون وواهه او کيناسته. ما تندي ته ټک ورکړ ځکه چې ددوې دواړو تر منځه دغه خبرې دغه ډول حرکت د معمول پر خلاف کار و . زه قصدا د همدې راهب دکوډلې په لور ورغلم ، هلته مې د روزي څخه وپوښتل چې مقدس پلار چيرې دې ؟ نو روزي ځواب راکړ چې مقدس پلار هلته په کوډله کې په عبادت کولو مصروف دې ، او هيچاته اجازه نه شته چې کوډلې ته ور ننوځي. زما شک د روزي دخبرو سره نور هم زيات شو په دې خاطر مې پريکړه وکړه چې په کوم ډول د کوډلې دننه حالت و ځارم. خو د کوډلې دروازه همغه لورې ته وه کومې کې چې روزي ناسته وه. بيا زما په ذهن کې يوه بله خبره راغله اوهغه دا چې : بايد د آس داخور په لور ولاړ شم اود راهب آس ووينم. نو زه هغه وخت ډير حيران شوم چې هلته د آسونو په اخور د راهب آس نه و ترلې. زه دآس داخور نه را روان شوم اوپه يوه ډير پټ ځاې کې کيناستم ، نژدې يو ساعت وروسته روزي په داسې حال کې چې د راهب آس يې د قيضې څخه نيولې و د آس داخور په لور راغله او آس يې هملته و تاړه او بيرته ولاړه. دهغې د تللو وروسته ما يوه رڼا را واخسته او د راهب د آس د کتلو له پاره هلته ورغلم ، نوهغه وخت ډير زيات حيران شوم چې ومې کتل چې آس په خولو کې ډوب دې. او دهغې په زين او جسم باندې د وينو ښښې ښاني دي. بيا ما ته دا ډاډ تر لاسه شو چې هرومرو راهب دکومې وينې تويونکې پيښې د تر سره کولو ورسته راستون شوې ،ما نن ټوله ورځ دهمدې خبرې څخه د خبرولو له پاره ستا دپيدا کيدو هڅې کولې ، خو ستا درک راته چا نه راکاوه. سالارصيب ! زه تاته په ډاډ سره وايم چې همدا راهب ستا د عسکرو اصلي قاتل دې . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باقو د خبرو دمکملیدو سره سم مقرون سمدلاسه راپورته شو او دخپلې تورې په لاستې یې لاس کینښود او ویې ویل « که چیرې هغه ریښتیا هم قاتل وي نوزه به همدا اوس او همدا ګړی دهغه سر له تنې نه جدا کړم.»

مقرون په ډیر ټینګ عزم سره دا خبره کوله. دهغه ددې عزم سره د باقو سترګې را خلاصې شوې ، مقرون د باد اوتوپان په څیر بیرون را ووت. اودخپله ځانه سره یې د پنځوسو عسکرو یوه ډله هم واخسته. لږه شیبه وروسته دغه ټول د ماهی نیونکو د کلي په لور الوتل.

د بله اړخه په کلي کې قاسم او روزي د کلي څخه لږ څه لرې د انځیرو د ونو په سیورې کې ناست و او په خپلومنځو کې یې خبرې کولې، نن روزي ډیره خوشحاله وه. ځکه نن هغې ته دخپلو خوبونو شهزاده تر لاسه شوې و. یو ډیر ښایسته ، د ښه قد و خال او جنګجو ځوان د هغې سره مینه کړې وه. حال دا چې قاس به څه ډول د روزی سره مینه او محبت کړې واې ؟ هغه خو لا دپخوا څخه دخپل یو ورک شوي محبت د قاتل ابوجعفر څخه د «مارسي» د پوښتنې له پاره دلته راغلې و خو هغه ته دهغې محبت څخه هم خپل مقصد اوپروګرام ډیر اهمیت درلود. اودهغه مقصد د قسطنطنیې د دفاعي نظام په اړه کره معلومات تر لاسه کول و. هغه خو روزي دخپل ځان سره ملګرې کړې وه تر څو د ماهی نیونکو په کلي کې یو څو شپې په ارامه تر سره کړي.... همداراز هغه د روزی سره د دروا غو کومه ژمنه هم نه وه کړې. خو هغه ته دا په ډیره ښه توګه ډاګیزه شوې وه چې روزی اوس د هغه په اړه په غلطه انګیرنه کې را ښنبتې ده. هغه همدلته د روزي تر څنګ ناست و. په همدې فکر کې و چې د روزی کوچنۍ خور چې یولس یا دولس کلنه نجلۍ وه په ډیره تیزه منډه دوې ته را ورسیده. او دخپلې ساه د جوړولو پرته یې دوې ته وویل:

« مقدسه پلاره !.... د یوناني فوځونو همغه پروني سالار د ګڼ شمیر سپرو عسکرو سره یو ځای لوڅې تورې په لاسو کې نیولې او په ګړندۍ توګه زمونږ دکلي په لور را روان دي. مونږ په هغه غونډۍ لوړې کولې او هغوې مو وکتل چې د کلي په لور په تیزۍ سره را روان دي.»

قاسم سمدلاسه راپورته شو او د یوه پورته ځای په لور یې ورمنډه وکړه او ودرید، په خپل تندي یې د لاس سیوری وکړ اودغرب په لور یې وکتل. د لمر پریوتو ته لا ډیر وخت و. دروزی خور ریښتیا ویل ، دمقرون اس سپاره اوس کلي ته ور رسیدونکې و. دا خو ډیره دخوشحالۍ خبره وه چې قاسم د روزي سره یوځای دکلي څخه بیرون راوتلې اودانځرو د ونوپه سیوري کې ناست دي. روزي چې د لرې څخه خپل کلی ته لوڅې توري په لاس د یونانیانو داسې ورتګ وکوت نو وویریدله او رنګ یې تک ژیړ شو. هغه سمدلاسه قاسم ته ددې ځایه دپښو د ویستلو مشوره ورکړه ، دقاسم له پاره هم همداسې کول مناسب و. خو هغه به د سپرلۍ پرته ، له دې ځایه په پښو څنګه تښتیدلې وې. په دې اساس روزی قاسم ته د کلي څخه لرې په یو پټځای کې د پټیدو وویل اوپخپله د آس د راوستلو له پاره دکلي په لور ور روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقرون د ليوني سپې په څير کلي ته ورغې او سمدلاسه دکلي دغه يوائني کوچني چرچ ته ،چې د يوې کوډالي څخه جوړ شوې و ورننوت. دهمدې چرچ تر څنګ د قاسم د اوسيدو ځاې هم و. کله چې يې راهب په چرچ کې ونه موند نو سمدلاسه يې د راهب د اوسيدو ځاې ته ورمنډه کړه ،خو قاسم يې هلته هم و نه موند ، نو د قهره تک سور شو ، تر دې وخته پورې د کلي سردار او نور واړه او زاړه ټول ددې چرچ تر مخې را ټول شول. د پنځوسو وسلوالو کسانو ډله هم همدلته منتظر ولاړه وه. مقرون د غصې اوقهر نه سور راووت او بيرون يې د کلي سردار ته اواز کړ ، دروزی پلار چې پخپله ډير قهر جن و د مقرون مخې ته راغې ، مقرون دهغه د کتلو سره سم خپله توره را پورته کړه اودهغه په سينه يې کيښوده:

« مقدس پلار مو چيرې دې ؟ زه همدا اوس او همدا شيبه دهغه سر غواړم.»

د روزی پلار چې لا دپخوا څخه دقهره اوغضبه تک سور اوختې و د مقرون په دې خبرو نور هم وقهريده او په خپله سينه يې د ايښوول شوې تورې کومه پرواه ونه کړه او په غضب سره يې وويل:

« سپه سالاره ! ته دخپل حد څخه بيرون وځې ، زه به همدا سبا سهار د قيصر په دربار کې ستا له لاسو شکايت وکړم .... تا پخوا هم زمونږ د ميلمنو سپکاوي کړې دې،مونږ د کلي خلک ټول په يوه خوله تا ته وايو چې ته د معمولي مذهبي اختلافاتو په اساس زمونږ دروند او عزتمند راهب مه تنګوه. او که نه دا کار به ستا له پاره ښه نه وي.

خو د روزی پلار ته دا ډاګيزه نه وه چې د راهب مسئله دومره کوچنۍ اومعمولي مسئله نه ده چې هغه يې ګڼي. دهغه دخبرو دختميدو سره سم مقرون خپله توره په هوا کې پورته کړه او سمدلاسه يې پرې د زوړ سردار سر پرې کړ..... د سردار د سر دپرې کولو نه وروسته مقرون په لوړ اواز سره وويل :

« دکلي خلکو ! ستاسو څخه هر څوک چې ددې سردار اويا ددې راهب دوستان وي نومخته دې راشی ، زه نن ستاسو د راهب دسر دپرې کولو له پاره راغلې يم.

خو دکلي هيڅوک مخته را نه غې. د زاړه سرد ار وژلو ټول په وحشت او دهشت کې غورزولې و. مقرون بوځل بيا خپله خبره په لوړ اواز تکرار کړه ، دهغه دغه دروند اواز د هوا په څپو باندې سپور دکلي بل اړخ کې د روزي غوږو ته هم ور رسيدلې و. روزي خو د راهب له پاره دآس د ور وړلو پسې راغلې وه خو دخپل پلار د مرګ د اوريدو سره سم يې هر څه له ياد ه ووتل. هغه لکه د ليونۍ په څير د خلکو د ټولې په لور ورمنډې کړې ، غوښتل يې د چرچ په مخ کې دخپل پلار لاش ته ځان ور ورسوي، هغې د پاګلو اوليونيو په څير چغې سوري وهلې ځکه هغې ته يې پلار دهر څه څخه زيات محبوب و. مور يې ترې هم د کوچنيوالي په وخت کې جدا شوې وه. پلار يې د ا او ددې کوچنۍ خور لکه د مور په څير پاللي وو. هغې ته په خپله هم نه وه معلومه چې د راهب نيول د مقرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاره څومره قیمت لري. هغې رامنډې کړې او د خپل پلار په لاش باندې یې ځان را و غورځاوه او په زوره زوره یې چغې ووهلې، مقرون هغه کتله، هغه خپله په وینو ککړه توره را واخسته او د روزي لورې ته راغې او په ډېره سخته ژبه یې ورته وویل:

« نجلۍ !.... ستا هغه مقدس پلار چیرې دې چې ته ورسره عشق او معشوقي کوې؟ ژر یې راته ووایه او که نه ته به هم د خپل ژوند څخه ډېره ژر بېغمه شې»

خو مقرون ته د روزي ځواب غیر متوقع شانته و. ځکه روزی ورته وویل:

« هو !هو ! .....ته ما هم ووژنه. ځکه اوس نو زما دژوندي پاته کېدو ارزښت هم له منځه تللې دې. زما پلار له منځه ولاړ ، زه هم اوس نور په دې دنیاکې اوسیدل نه غواړم.»

هغې په ډېره بده توګه ژړا اوفریاد کاوه او خپل حواس یې هم له لاسه ورکړي و چې دمقرون دخبرو ځواب یې ورکړې واې. همغه و چې مقرون دهغې دحالت دکتلو سره سم خپلو عسکرو ته حکم وکړ چې روزي له ځانه سره مرکزی چونۍ ته یوسي. په دې وخت کې یې دکلي خلکو ته مخ کړ او ورته یې وویل: چې هغه د هغوې دسردار لور نیولې او له ځانه سره یې خپلې پوستې ته وړي. دمقرون عسکر رامخته شول اونازک اندامه روزي یې په خپلو سختو لاسونو کې و نیوله. پاته سپاهیانو ته مقرون حکم وکړ چې هغوې دې د کلي څلورو اړخونو ته او ان تر ځنګله پورې و غځېږي او د ځوان راهب لټه دې وکړي.

دمقرون عسکرو روزي له ځانه سره یوړه. اوباقو هملته په کلي کې ولاړ پاته شو او روزی ته یې کتل. قاسم لا تر اوسه هم هملته په یو پټنځاي کې پټ ناست و. هغه غوښتل د ماښام د تیارو نه مخته یو آس تر لاسه کړي ، هغه په ډېره بې صبرۍ سره د روزي د بیرته راستنیدو انتظار کاوه ، دلمر دپریوتو نه لږ څه مخته یې چې کله د روزي د راتلو هیله له لاسه ورکړه نو ډېر نا ارامه شو او په ذهن کې یې د خطر زنګونو وهل پیل کړل. په دې فکر کې شو چې حتما کومه داسې خبره شته چې روزي یې دلته د راتلو څخه و ځنډوله. هغه په همدې فکر کې و چې د لرې څخه یې د یوه آس د شنهار اواز واورید. هغه داسې و انګیرله چې روزي له ځانه سره آس را خستې او را روانه ده. سمدلاسه د پټنځاي څخه بیرون راووت. خو په خپل مخکې یې یو یوناني عسکر چې توره یې لوڅه په لاس کې نیولې وه ولاړ وکوت. قاسم دخپل راهبانه لباس لاندې دپټ کړي خنجر په راویستلو کې دریغ ونه کړ ، دغه یوناني هم قاسم د یوه راهب په څیر پیژندلې و. قاسم پیدل و او یوناني په آس سپور و. دواړه یو دبل مخته را غلل....اوبیا د لمر دلویدو نه مخته قاسم هغه یوناني له تیغه تیر کړ او دهغه آس یې واخست او د رومیلي کلا په لور باندې ولاړ......

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلح الدين اغا په يوې جدا خيمه کې د قاسم ټولې خبرې واوريدې اودقاسم په غوښتنه يې ددې کلي د حال د معلومولو له پاره دوه تجربه لرونکې هوښيار سپاهيان د ليږلو له پاره تيار کړل. هغه دا سپاهيان بيرته و ليږل اود راستنيدو په وخت کې يې د خوراک يو پطنوس په لاس کې نيولې و اورا غې. خيمې ته د راننوتلوسره سم يې قاسم ته وويل: « قاسم بن هشامه ! ستا لمړنې خبر مې سلطان ته پرون ور ليږلې دې....را ځه اوس ډوډۍ هم راغله .....

اغا دسترخوان خپور کړ او د ډوډۍ لوښي يې پرې کيښودل « د ابنای فاسفورس»ماهيان خو قاسم بن هشام د ځو ورځو راهيسې خوړل ، خو د زيتون په تيلو کې وريته کړل شوې ماهيانو ورته خپل وطن او هيواد را ياد کړ ، که څه هم د روژې په اړه يې انديښنه درلوده خوبيا يې هم د خوراک څخه پوره پوره ګټه پورته کړه. د خوراک د خوړلو په وخت يې د مصلح الدين اغا څخه وپوښتل:

« د کلا تعمير تر کومه ځآيه رسيدلې ، سلطان ورته په ډيره بې قرارۍ سره منتظر دې»

مصلح الدين اغا ورته په خندا کې وويل چې « مونږ په ۲۴م د اپريل ددې کلا د تعمير کار پيل کړې دې او نن ۱۸ م د مئ مو ددې د تعمير کار تر ځلورمې برخې پورې رسولې دې. که چيرې ددې په تعمير باندې همدا ډول کار و کړل شي نو شونې ده چې د اګست په مياشت کې يې تعمير تکميل کړل شي. دکلا ټوله زمکه درې زره متره ټاکل شوې ده چې په کې اولس برجونه هم شامل دي ، په دې برجونو باندې به ستا ددوست «اربان» په لاسو جوړ کړل شوي توپونه نصب کړل شي. ما ددې کلا نقشه داسې را جوړه کړې ده چې که د هوا څخه ور ته وکتل شی نو د «محمد ص»....لفظ به ليکلې تر سترګو کيږي. په دې کلا کې درې ستر برجونه جوړيږي چې اوږود والی به يې تر ۹۰ فټو پورې رسيږي ، ما ددې برجونود لاندېنيو ديوالونو پلنوالې نهه متره کړې تر څو برجونه ډير قوي او مضبوط و دريږي »

« خو ددومره پلن ديوال لوړوالې به په يقيني توګه کم و ساتل شي که څنګه ؟»

« هو ! دديوال پلنه برخه به پنځه متره او تنګه برخه به يې پنځلس متره پورته کيږي. »

قاسم په ډير خوند سره د روميلي کلا د تعمير په اړه تفصيلات اوريدل. او تر ډيره وخته يې دهمدې کلا په اړه د مصلح الدين اغا سره خبرې کولې. ان تر دې چې هغه خبر راوړونکې بيرته را ورسيد . دغه سپاهيانو وويل چې : يوناني سالار مقرون د کلي سردار وژلې دې اودهغه ځوانه لور يې تښتولې ده .....د قاسم له پاره دا خبر د يوې زلزلې په څير ثابت شو. ځکه هغه په دې پوهيده چې زوړ سردار ته دغه مصيبت دهمغه په خاطر ور رسيدلې دې. اوبيا سپاهيانو دا هم ويلي و چې هلته د رومن کتوليک د ډلې ديوه راهب لټون روان دې ،ځکه هغه د شپږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوناني عسکرو د وژلو نه وروسته تښتيدلي دي ، سپاهيانو خبر ورکړ او نور بيرته ولاړل. مصلح الدين اغا قاسم ته مخ کړ او ورته يې وويل:

« اوس به څه کوو ؟.... مقدس پلاره ؟»

خو د مصلح الدين اغا ټوکو قاسم خوشحاله نه کړ. البته قاسم لږ څه فکر وکړ اوبيا يې وويل: « مونږ بايد د سردار دغه بې ګناه لور را خلاصه کړو. ځکه په هغوي دغه ټول مصيبت زما په خاطر راغلي دي.»

ددې نه وروسته دا خلک دشپې تر ډيره پورې د روزي د خلاصون د پلانونوپه اړه په خبرو کې بوخت شول. اوبيا يې يو ډير په زړه پورې حکمت خپل کړ چې دسهار دلمانځه وروسته يې د هغې دپلې کولو هوډ اوعزم وکړ.

سهار وختي مصلح الدين اغا او قاسم د خپلو تکړه فوځيانو يوه پنځوس کسيزه ډله و ټاکله او د مقرون دمرکزي ځارن ځاې په لور چې د«پاسفورس» په غاړه پروت و ، ورغلل. دهغوي اسونه په ګړندۍ توګه هغه لورې ته روان و اوداسې بريښيدل لکه هغه لورې ته چې ور الوزي. لا تر اوسه د لمر لمرنۍ وړانګې نه وې راخپرې شوې چې دمصلح الدين اغا دغه عسکرى ډله لکه د توپان په څير د مقرون عسکري مرکز ته ور ورسيده. دا مرکز په يوه ډير کوچنې تعمير کې جوړ کړل شوې چې څلورو خواو ته يې د انسان په قد ديوالونه ولاړ و. په منځ کې يې څلور پنځه خونې د خټو اوتيږو څخه جوړې کړل شوې وې. دعمارت په يوه کونج کې يو لوې برج هم ولاړ و چې په هغې کې د مقرون دوه کسه غشي ويشتونکي د ډيرو شرابو د څښلو له امله بې هوشه پراته و. دمصلح الدين اغا عسکري ځوانانو دسترګو په رپ کې په دې مرکز حمله وکړه او په خونو کې دننه پراته د خرګوش په خوب ويده يوناني ټول عسکر يې د تيغه تير کړل. هلته په برج کې ناست يوناې عسکر هم له منځه ولاړل او په دې مرکز کې هيڅ کس ژوندي پاته نه شو. خو مقرون اوروزي هلته موجود نه وو.

او هغوي به څه ډول ددوي لاسو ته را تلل ؟ هغوي خو د تيرې شپې راهيسې ددې ځايه وتلي و ، مقرون دخپله ځانه سره په زنځيرونو کې تړلې روزى د « غلاطه د برج» په لور وړې وه ، ترڅو هلته د روزي د ځوانۍ څخه پوره پوره ګټه پورته کړي. او د غلاطې برج ددې ځايه پوره لرې پروت و. دا يو پخواني زوړ څو پوړيزه مينار و چې پلنوالې يې دومره و چې انسان پرې د يوه سهي عمارت ګمان کولې شو. په دې برج کې لاندې باندې کمرې وې اود يوناني فوځيانو په ولکه کې و. دمقرون مرکزي دفتر هم همدلته و او دهمدې ځاې دفوځې څوکيو ځارونکې هم و. دا برج قسطنطنيې ته نژدې د ګولډن هارن په څنګ کې جوړ کړل شوې و. دغلاطې برج په ۵۰۷ کال بازنطينې پادشاهانو د جهازونو او کشتيو دلاربښود په څير « د رڼا کور يا لائټ هاوس» په توګه جوړ کړې و. دا ډير اوږود و او ډير منزلونه يې درلودل. مقرون غوښتل خپله دا شپه د روزي سره په همدې برج کې تيره کړي ، هغه به ټوله شپه شراب څښل او د روزی په عزب به يې حملې کولې خو روزي لکه د يوې وينه تويونکې پيشو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیر هغه خپل ځانته نه پرېښوده. که رېښتیا هم مقرون په هوش کې واې نو د روزی د عصمت خوندي پاته کیدل شوني نه و. خو د زیاتو شرابو د څښلو په اساس هغه خپل ځان نه شوکنترولولاې او ټول وجود به یې لړزیده. بلاخره دسهار په وخت کې یې سترګې سره ورغلې ، اوپه دې توګه یې روزی هغه وخت دشرنه خلاصه شوه.

د ورځې ناوخته دمقرون سترګې په یوه ډیر بد خبر سره پرانستلې شوې..... ځکه چا دهغه په مرکزی پوسته باندې حمله کړې وه اودهغه ټول عسکر یې له تیغه تیر کړي و. د مقرون له پاره دا یو تباه کونکې خبرو. ځکه چې هغه د قسطنطنیې د قیصر تر مخه د خپلې مرکزي پوستې څخه دخپلې غیرحاضرۍ کوم دلیل نه شو وړاندې کولې. سخت وویرید او د لمړي ځل له پاره ورته داسې ډاګیزه شوه چې هغه مفرور چې دوې ورته عیسایې راهب وایه ، هغه د سره راهب نه و ، ځکه چې په دغه مرکزی پوسته باندې حمله کول د یوه کس کار نه د ې اومقرون په دې هم پوهیده چې دلته یې ډیر دښمنان مسلمانان دي. څنګه یې چې په ذهن کې داخبره را وګرزیده چې دا حمله مسلمانانو کړې ده نو اندیښنه یې نوره هم زیاته شوه. اوس نودهغه تر مخه بله لاره نه وه چې شهنشاه ته ددې خبر د ورسیدو تر مخه هغه د رومیلې کلا د مسلمانانو څخه بدله واخلي. رومیلي کلا دهغوې څخه په پنځه میله واټن کې جوړیده. او د مقرون سره په دې وخت کې څلور سوه وسلوال کسان موجود و و. مقرون د غلاطه د برج د اوم منزل څخه را کیوت اویوه کشتۍ یې و نیوله او دګولډن هارن د دروازې څخه تیر شو اوبیرته په هماغه ساحل باندې ښکته شو چې تیره شپه ترې د برج غلاطه په لور راغلې و.

په دې ساحل دهغه عسکرو خیمې وهلې وې ، مقرون په ډیر احتیاط سره خپل عسکر له ځانه سره واخستل ، هغه له دې ویریده چې هسې نه چې د دیوالو څخه د بیرون حالاتو څخه د دیوال دننه شهنشاه خبر شي. دښار څخه په لرِ واټن کې مقرون خپل آس ته پونده ورکړه ، اوس نو د څلور سوه وسلوالو سپرو لښکر دخاورو او ګردونو په وریځو کې د ورمیلي د کلا په لور ور روان دی...

دمصلح الدین اغا تیز رفتاره جاسوسانو ، هغه ته په دې اړه د وخت نه مخکې خبر ورکړې و. کله چې دمقرون د یونانې عسکرو ډله رومیلي کلا ته ور نژدې شوه نو هلته ورته تمکیدل اړین وګرزیدل. ځکه مخکې ورته د رومیلي کلا عسکر تیار په لیکو کې ولاړ و. مصلح الدین اغا مقرون ته د یوه لښکر په ښه ښه راغلاست ووایه. او سمدلاسه یې د مقرون په عسکرو باندې حمله وکړه. مسلمانان دشمیر له اړخه کم و او دهغوې د سپرو شمیره هم د اتیاو په شاوخوا کې وه. اودپیاده جنګیدونکو شمیره هم تر سلو نه زیاتیده. خو په کومه منظمه توګه چې مصلح الدین اغا د جنګ پیلامه وکړه هغه د مقرون د عسکرو د هیلو نه ډیره پورته وه. د سهار په نهو بجو دا جنګ پیل شو او یواځې په نیم ساعت کې پاې ته ورسید اومقرون خپل شاته ګڼ شمیر لاشونه پرېښول او بیرته د غلاطې د برج په لور په شا و تښتید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ورځ د مقرون له پاره د یوه عذا ب په څیر راغلي وه. څکه کله چې هغه د غلاطې برج ته ورسید نو هلته ورته د شهنشاه پیغام راوړونکې منتظر ناست و. هغه ته د خپل ځان له پاره د قیصر له خوا د مرګ او یا عمری بندي کیدو سزا ترسترګو کیده. خو د شهنشاه په لور د تللو دمخه یې یو په زړه پورې کار وکړ او هغه دا چې په اووم منزل کې بندي روزی یې دڅه ویلو پرته ازاده کړه، شوني ده چې دا به هغه اخري نیکې وه چې په اخري وختو کې یې په کار راغله. او شهنشاه د ټولو پیښو د اوریدو وروسته ورته همدومره سزا ورکړه چې هغه یې د خپلو څوکیو د څارنې څخه را بدل کړ او یو عام سپاهی یې وګرځاوه. اودهغه په ځای یې «ویلاروس» و ټاکه. اوبیا یې د یوه هنګامي حکم په اساس د قسطنطنیې ټولې دروازې و تړلې. دا په حقیت کې د عوامو ترمخه د اضطراري حالت اعلان و. اوس نو د قسطنطنیې خلکو په ښه توګه درک کړې وه چې په قسطنطنیه باندې یوه ځواکمنه حمله کیدونکې ده.

د قسطنطین دقیصر له پاره ددې احکامو ګټه دا شوه چې د ښار خلکو چې په هغه وختو کې یې شمیره تریولکو زیاتیده، د قیصر د مصارفو له پاره په خپلو منځو کې چنده ورکول پیل کړل. تر څنګ یې خلکو د سلطان د مذهبي فکرونو په اړه خبرې او تبلیغات بند کړل او د عیسویانو د دواړو ډلو د رایوځای کیدو له پاره یې خبرې پیل کړې. کله چې شهنشاه د خلکو دا رویه وکتله نو سمدلاسه یې د «سینټ‌صوفیا» په چرچ کې، چې د شرقي کلیسا اوبطریق اعظم ستر مرکز و، ددواړو عیسوي ډلو د یوه متحده مجلس د راغونډولو پریکړه وکړه، ددې غونډې د مشرۍ له پاره یې د رومي کلیسا «پنځم پوپ جان نیکلسن» ځانګړي نماینده «کارډینل اسیډور» ته، چې په دې وخت کې همدلته په قسطنطنیه کې موجود و، ځانګړې بلنه ورکړه.

دديوال نه بيرون د يوناني عسكرو سره د لاس ښښتي وروسته، شهنشاه يو بل کار هم وكړ. هغه سمدلاسه د تجربه لرونكو كسانو يوه ډله د سلطان محمد خان لورې ته وليږله. اوهغه ته يې دمسلمانو سپاهيانو د اوسنۍ حملې څخه شكايت وكړ. خو سلطان محمد خان ددې شكايت ځواب د جنګ د ډول د وهلو سره يو ځاى وركړ. اود شهنشاه دسفيرانو د بيرته راليږلو په وخت كې يې ورته وويل:

« د قسطنطين قيصر ته ووايه چې سلطان محمد خان د يوه فاتح په څير قسطنطنيې ته را روان دى. په دې خاطر هغه ته په كار دي چې د سلطان د فوځونو د ښه راغلاست په خاطر د قسطنطنيې دروازې پرانستې پريږدي اوكه نه د تركانو اسونه به د شهنشاه دغه ستر ښار د عبرت يوه ښه وګرځوي.»

دسلطان دغه خبرې د شهنشاه په غوږونو كې لكه دتوپ د ګوليو په څير ولګيدې، او هغه يې په ډيره خرابه توګه را ومروره. هغه سمدلاسه ټولو اروپايي هيوادونو ته خپل سفيران و استول او دهغوى څخه يې د دغه ستونزمن وخت له پاره مرسته وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم لا تراوسه پورې په روميلي کلا کې و چې د قسطنطنيې د پادشاه د کړچار او نوو اقداماتو څخه ورته خبر ور ورسيد. هغه غوښتل د مصلح الدين اغا څخه اجازه واخلي او د قسطنطنيې په لور ولاړ شي خو په زړه کې يې د روزی سره د شوي تيري او ظلم په اړه درد را پيدا کيده ، هغه هوډ وکړ چې قسطنطنيې ته د تللو مخته به يو ځل هرو مرو د روزی حال احوال ځانته ډاګيزه کوي تر څو دې معصومې پيغلې ته ددې مصيبت نه نجات ورکړاې شي . په همدې فکر کې ډوب د ماهي نيونکو دکلي په لور ور روان شو ، اوس نو هغه د عامو خلکو په څير کالي اغوستي و .اود قسطنطنيې د خلکو خاصه خولۍ يې په سر کړې وه. د روميلی کلا څخه يې يو ځواکمن او غښتلې آس را واخست او دماهي نيونکو دکلي په لور وخوزيد خو هلته درسيدونه مخته تم شو. هغه دداسې يو چا لټه کوله چې د روزی په اړه ورته سهي معلومات ورکړي. په همدې وخت کې يې سترګې په يوې نهه کلنې نجلۍ ونښتې ، خپل مخ يې په دستمال کې را تاو کړ او هغه نجلۍ ته يې ورغږ کړ ، نجلۍ په يوه منډه د قاسم لورې ته راغله. قاسم هغه وپيژندله ، هغه دهغې کلي يوه عامه نجلۍ وه. اوقاسم يې ډير ښه پيژانده. خو قاسم ترې خپل مخ پټ و ساته او ترې و يې پوښتل:

« لورې ! ستاسو دسردار لور خو يوناني سپاهيانو له ځانه سره وړې وه ..... هغې ته څه پيښ شول ؟»

هغه نجلۍ په ډيره تعجب سره د قاسم مخ دکتلو هڅه کوله او غوښتل يې هغه وپيژني ، خو قاسم ترې يو ځل بيا همغسې وپوښتل ، نو نجلۍ ورته وويل:

« زمونږ دسردار لور روغه رمټه ده او بيرته را ستنه شوې ده ......خو ډيره غمژنه او انديښمنه ده .»

دقاسم زړه ټکان وخوړ. خو خپل ځان يې سنبال کړ او کوچني يې له ځانه رخصت کړ. اوس نو دقاسم بل منزل د قسطنطنيې ښار و . خو په دې فکر کې و چې هلته به څنګه او څه ډول ور داخليږي. ځکه دښار ټولې دروازې بندې وې ، که څه هم ددروازو کړکۍ پرانستې وې خو ښار ته داخليدونکې هر شخص به ډير زيات څارل کيده ، اوبله مهمه خبره دا وه چې قاسم د ښار په جنوبي اړخ کې د ابناې پاسفورس په غاړه و او د ښار د اصلي دروازې څخه ډير لرې واټن کې و. دا دروازه د وچې او دغبرګې هيوادونو په لور پرانستل کيده ، قاسم ته دا ضروري وه چې يا د ښار د سترې دروازې « سينټ رومانس» پورې لرې واټن ووهي يا د ابنای پاسفورس د شاخ ګولډن هارن څخه د کشتۍ په واسطه تير او دښار بندرګاه ته ځان ورسوي.

قسطنطنيې ډيره په زړه پورې نقشه درلوده. دا د اروپا د لويې وچې په غاړه داسيا د لويې وچې تر مخه پرته وه. د اروپا او اسيا دلويو وچو ترمنځ د ابنای فاسفورس همدا شنې اوبه حايل وې. د نن څخه شپږ لکه کاله مخته ، کله چې د وچې دغه دوه سترې ټوټې يعنې اسيا او اروپا په سمندر کې د لامبو په واسطه يو بل ته را نزدې شوې نو دواړو په خپلو منځو کې د يوه نه تر درې ميله پورې واټن و ساته او په خپلو ځايو کې تم شوې. او قسطنطنيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځآې دې چې هلته د دریدو په واسطه د اسیا څخه اروپا او د اروپا څخه اسیا په اسانۍ سره کتلې شي ، اوبیا د قسطنطنیی موقعیت د اروپا په ساحل باندې په ډیره په زړه پورې توګه جوړ کړل شوې دی. که چیرې د فضا څخه ورته وکتل شی نو ددواړو لویو وچو تر منځ دغه ابنا د غوایی د ورمیږ یا سر په څیر تر سترګو کیږي چې یواځې یو ښکر لري او هغه هم د وچې په لور راغلې چې په وچه زمکه کې یې یو درز راپیدا کړې او دیوه کوچني خلیج شکل یې ځانته خپل کړې دي. همدغې ته طلاي ښکر هم وایی ، او ځینې خلک د پاسفورس دغه شاخ ته «زرین شاخ » هم وایی. د قسطنطنیی جغرافیه داسې جوړه شوې ده چې ددې ځاې د زمکې وچې ټوټې دمثلث شکل اختیار کړې دي ،په همدې مثلث د قسطنطنیی ښار اباد شوې دي ، او دښار دیوالونه هم د همدې ساحل تر څنګ غځیدلې دي ، دښار یوې لورې ته پراخه ابنا پرته ده اوبل اړخ ته یې د «ګولډن هارن» اوبه دي. دهمدې ګولډن هارن په خوله کې یو زنځیر پروت دې چې د اړتیاو په وخت کې یې دکشتیو د تګ راتګ له پاره تړي، دغه مثلث شکله ښار دوه اړخونه د سمندر تر څنګ دي نو په دې اساس یې امنیت خوندي دي ، دیوالونه یې هم دومره ستر او لوړ نه د ي، ددې ښار یواځنې اړخ چې د وچې لور ي ته عځیدلې د یوه قوي او مضبوط دیوال په واسطه خوندي کړل شوې دي.

قاسم د بندرګاه په لور ښار ته د ورننوتلو پریکړه وکړه. هغه په حقیقت کې غوښتل د ګولډن هارن د زنځیر په اړه هم معلومات تر لاسه کړي اوترڅنګ یې د غلاطه برج هم په سهي توګه وکتلاې شي. خو ددې لارې دقاسم په پیژندګلوي کې شک را پیدا کیده ځکه چې دغلاطې برج د یوناني عسکرو په لاسو کې و اودهغوې د ډلې څخه یو څو یې قاسم پخوا لیدلې هم و. خوبیا هم قاسم غوښتل دهمدې لارې ښار ته ور ننوځي.

د ګولډن هارن په دې غاړه ،کومې ته چې اوس قاسم ور روان و د یوناني عسکرو یو مستقل کمپ هم لګیدلې و .او دا همغه ځاې و چې مقرون ترې د څلور سوه کسانو عسکرو یوه قوي ډله تیاره کړې وه. خو قاسم په هغه لاره روان و چې عام خلک پرې تلل را تلل. دهمدې لارې د یوشمیر هیوادونو تجارتي سامانونه او ډیرې نورې قافلې قسطنطنیی ته ور داخلیدې. دښار د دروازو دبندیدو وروسته ، که څه هم په دغه لاره د عامو مسافرینو تګ راتګ کم شوې و خو په لویو لویو غواي ګاډو باندې به تجارتی سامانونه بار کړل شوي و او ښار ته به ور روان و. دا ټول هغه وسایل اوسامانونه و چې د ابنای پاسفورس په مختلفو ځایو کې به د کشتیو څخه را ښکته شوي و اوبیا به دهمدې ګاډو په واسطه شار ته وړل کیده.

کله چې قاسم د مال څخه ډک د غوایانو ګاډی وکتل نو فکر یې وکړ..... چې قیصر د قسطنطنیی د کلابندۍ له پاره ډیر زیات سامانونه راټولوي. هغه دومره سامانونه راټول کړي و چې شوني و چې څو میاشتې یې په پوره زړه بې غمۍ سره ځان کلابند ساتلې واې. په حقیقت کې ګولډن هارن ددې ښار ستره بندرګاه وه. دهمدې ځآیه به د تورې بحیرې او مارمورا د بحیرې څخه راغلي ټول سامانونه او مسافرین را ښکته کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم په خپل آس سپور دګولډن هارن ساحل ته ورسيد. اوس نو دهغه تر مخه د ګولډن هارن دخليج اوبه وې اود خليج نه اخوا د قسطنطنيې دښار ديوالونه اود بندرګاه دروازه وه. قاسم د يوې عامې لارې دلته راغلې و په دې اساس دښار ددروازې مخې ته راورسيد. دا ځاې ډير ښايسته جوړ کړل شوې و او تر ډيره پورې د خوراک څښاک او نور وسايل چې د غوايي د ګاډو په واسطه دلته را رسيدلي و خواره واره پراته و. د ګولډن هارن تر څنګ دښار دروازه هسې په رسمي توګه تړلې وه خو په حقيقت کې دهغې يوه پله بلکل پرانستې وه ، دعامو خلکو په تګ راتګ باندې بنديزونه لګيدلي و اودقسطنطنيې عسکر و به هر تلونکې راتلونکې پوره پوره تالاشي کاوه. لويو لويو کشتيو به دهغې لورې سامانونه دې لورې ته را منتقلول. ټول چاپير يال کې يوډول عجله او بيړه محسوسيده. ددروازې دننه ، ددروازې شاوخوا ، ښي اوچپ لورو ته ، مخامخ ، په ګولډن هارن کې په موجودې هرې کشتۍ او جهاز باندې ، اوپه دغه ساحل چې قاسم پرې کيوتې و ، هرې لورې ته د قيصر درويشي لرونکې عسکر ولاړ تر سترګو کيدل. قاسم د يوه عام وګړي په څير دلته راغلې و خو دلته عام خلک ډير کم وو ، قاسم د بندرګاه سره ولاړ دهغو جهازونو د کتلو له پاره ورغې چې په دې سا حل او په ترمخه ساحل کې ولاړ و او سامانونه يې ترې کيوستل. په دې سامانونو کې غله ، کالي ، وسايل ، ادويات او نور ډير شيان شامل و. د کشتيو نه د سامانو د راښکته کيدو له پاره لويې لويې تختې دسمندر لورې ته ور غځيدلې وې. د ا تختې ډيرې مضبوطې او پيړې وې ، قاسم ته په دې بندرګا ه باندې دمختلفو هيوادونو خلک تر سترګو شول ، چې قسطنطنيه ته يې د خپلوخپلو هيوادونو مرستې راوړې وې ، مخامخ ساحل هم د ښار او دښار ديوالونو تر منځ پوره غځيدلې و اوپه دې توګه د اوبو او ديوال تر منځ يوه پټۍ دښار په سمندرې چاپيريال کې را ګرزيدلې وه. خو دا پټۍ دومره ستره هم نه وه چې کوم لښکر دې پرې پياده کړل شي ، دديوال تر څنګ دا پټۍ په ديوال پرتو ساتونکو په اسانۍ سره په نښه کولې شوه.

قاسم په دې فکر کې وه چې په څه ډول ښار ته ور ننوځي. دهغه سترګې په ګولډن هارن کې په ګرزيدونکې کشتيو نښتې وې ، په همدې وخت کې يوه کوچنۍ کشتۍ راغله چې يو ځوان سپاهي په کې ناست و. قاسم هغه عسکر ته په غور سره وکتل ، هغه هم کوم يوناني عسکر معلوميده. خود هغه قدوخال او قامت دهغه د بهادرۍ او ميړانې څخه خبرې کولې. سپاهي خپله کشتۍ راکښوده او دساحل سره يې يو ځاې کړه او دکشتۍ رسۍ يې د تمځاې د تښتو سره و تړله اوپخپله يې ترې را ټوپ کړ اوساحل ته راغې. دقاسم په ذهن کې يو ډير عجيب اوغريب ترکيب راغې ، هغه په بيړه بيړه ددغه ځوان لورې ته ورغې.د قاسم په لاسو کې د آس قيضه وه اوپه بدن يې دعامو خلکو لباس و. د څو قدمه اخستو وروسته قاسم دهغه ځوان تر مخه و دريد. او ورته يې وويل:

« دا سې څرګنديږي چې ته د بازنطيني سلطنت کوم عسکر يې ..... زه له تاڅخه په دې وخت کې د تکليف د درکولو څخه ښښنه غواړم. خو زه ډير بې وسه يم نوپه دې خاطر مې درته تکليف در کړ. زه غواړم دقسطنطنيې ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ور ننوځم. خو هیڅوک ما له ځانه سره هغه لورې وړلو ته تیار نه بریښي. که چیرې ته له ماسره کومک وکړې نو دا به ستا پر ما ډیر احسان وی.»

درویشي لرونکي عسکر قاسم ته په غور سره وکتل. اوبیا یې ورته وویل: «ستا له لهجې څخه څرګندیږي چې ته د قسطنطنیې اوسیدونکې نه یې.....ته د کومه ځایه راغلې یې ؟ او په قسطنطنیه کې څه کول غواړې ؟»

سپاهي په ډیره مؤدبه توګه خبرې کولې.. قاسم فکر وکړ چې نوموړې یا د کومې ستري کورنۍ وګړې دې اویا یې زما په لاس کې ددې قیمتي آس واګې وکتلې اوزه ورته کوم امیر او مهذب وګړې ښکاره شوې یم. قاسم ورته په خندا کې وویل:

« هو ! زه د بوسنیا څخه راغلی یم. او په قسطنطنیه کې دیوه شخص نه پرته بل څوک نه پیژنم. اودا هم راته ډاګیزه نه ده چې هغه شخص به ماته چیرې تر لاسه کیږي. ما اوریدلي دي چې په قسطنطنیه باندې مسلمانان کومه ستره حمله کوي اوزه غواړم چې د قسطنطنیې په فوځ کې د یوه رضاکاره په توګه شامل شم.»

قاسم کومه نوې خبره نه وه کړې ځکه د ټولې عیسوي نړۍ څخه رضاکاران د خپل مرکزیت د خوندي ساتلو له پاره دلته را روان و. اودقیصر په فوځ کې ور شاملیدل. په دوې کې یو شمیر رضاکاران په خپله خوښه اویو شمیر نور به دخپلو هیوادونو دبیرغونو لاندې اوپه ډله ایزه توګه راتلل. خو په دې ډله کې د بوسنیا څخه لا تر اوسه څوک نه و راغلي. دقاسم د جذبې د کتلو په اساس د هغه سپاهي په سترګو کې د قاسم له پاره دستاینې جذبات را وپاریدل. شوني ده چې په هغې کې به دقاسم دخبرو د انداز اغیز هم شامل و. قاسم په ډیره ساده او عاجزانه توګه خپله مدعا بیان کړه. په دې خاطر هغه یوناني عسکر چې شونې وه په خپل فوځ کې به کوم افسر و قاسم ته د شک په سترګو دکتلو څخه لاس واخست اوپه ډیرې نرمې لهجې سره یې ورته وویل:

« په قسطنطنیه کې هغه څوک دې چې ته یې لیدل غواړې ؟ او ته یې پیژنې هم ؟ »

« ډیمونان ..... ډیمونان د هغه نوم دې . هغه اته کاله مخته یو ځل بوسنیان ته راغلې و اوهملته مې ورسره پیژندګلوي شوې ده.» دقاسم په ځواب سره دهغه یوناي عسکر سترګې دحیرانیتانه وازې پاته شوې.« ډیمونان ؟؟..... دا خو « ایاصوفیا » بطریق دې . د قسطنطنیې د « دی هولي ارتوډکس چرچ ایاصوفیا » بطریق. سپاهي په ډیره حیرانتیا سره داخبرې کولې اوبیا یې قاسم د لاسه و نیوه او په دیر درنښت سره یې ورته وویل « ته خو د یوه ډیر ستر انسان میلمه یې. له ماسره راځه ،..... زه دلته لږ څه کار لرم ، ددې ځایه دفراغت وروسته بیرته ستنیږم نو تا به هم دخپله ځانه سره په کشتۍ کې یوسم.»

قاسم ته نو نور څه په کار و .....همدا چې هغه دکومې خوندي لارې قسطنطنیې ته ور داخل شي ، دهغه دا چال بریالی شو ، خو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« بیا دغه آس چې ما د عیسوي فوځ له پاره له ځانه سره راوړې دې ؟...دا به څه کړم ؟ ...» یوناني سپاهي په ستا ینه کونکو سترګو د آس لورې ته وکتل او ویې ویل چې دا آس به مونږ د بندرګاه د آسونو په اخور و تړو بیا به د مال وړونکې جهاز په واسطه هغه لورې ته راوړل شي ، تر سبا پورې به یې مونږ بیرته تر لاسه کړو .»

قاسم د هغه یوناني عسکر سره یو ځای په کشتۍ کې کیناست اودښار هغه لورې ته ولاړ. په لاره کې قاسم د هغه سپاهی څخه وپوښتل.

« که بده یې و نه ګڼې ، ستا نوم پوښتلې شم. لږ تر لږه دخپل محسن نوم خوباید راته یاد وي.»

« اوه ! ما خو له تاڅخه ستا دنامه پوښتنه و نه کړه .... هو ! زما نوم « کلاډیوس » دې. اوس نو ته هم راته خپل نوم وښایه.»

قاسم د همداسې پوښتنې هیله درلوده. په همدې خاطر یې ګلاډیوس ته خپل فرضی نوم و ښوده.

« زما نوم ...مورګن دې. مورګن. ....دبوسنیا د شاهي کورنۍ لرې خپلوان یم. هغه شاهي کورنۍ چې دمسلمانانو له اړخه تباه او برباد کړل شوه.

قاسم د خپل نوم پرته نوره خپله ټوله پیژندنه سهي او په ریښتیا نۍ توګه کړې وه. ځکه هغه د بوسنیا د شهزادګۍ حمیرا میړه و اوپه همدې خاطر د بوسنیان د شاهي کورنۍ خپلوان و ، دقاسم د پیژندګلوۍ نه وروسته هغه سپاهی نور هم تر اغیز لاندې راغې. اوبیا یې په رسمي توګه وویل:

« دلته له مونږ سره یو ډیر پخوانی عسکر دې ،هغه هم د بوسنیان اوسیدونکې دې ، هغه لمړۍ دهنګري په فوځ کې و بیا یې خپل مذهب بدل کړ اورومي کلیسا یې پریښوده او زمونږ په کلیسا کې شامل شو ، هلته د هنګري په فوځ کې هغه د مشهور سالار « هونیاډي» د بیرغ لاندې په ډیرو جنګونو کې برخه اخستې وه. زه په دې خاطر تا ته دا خبره کوم چې ته هم د بوسنیا اوسیدونکې یې او زمونږ ملګري « رومیل » هم د بوسنیا اوسیدونکې دې. اوس نو چې ته خپل یو هموطنه عسکر ووینې نوحتما به یې په کتلو سره خوشحاله شې.»

قاسم د رومیل نومې سپاهی دکتلو سره کومه دلچسپې نه درلوده. هغه خو دبل کوم مقصد له پاره قسطنطنیې ته وررروان و. خو دکلاډیوس د خبرې د تائید له پاره یې وویل:

« هو ! دا خو به ډیره په زړه پورې وي ، دخپل یو هموطنه په کتلوسره به زما زړه وغوړیږي ، خو هغه به چیرې وي ؟ او زه به یې چیرې ووینم ؟ قاسم له دې ویرې چې هسې نه چې کلاډیوس یې هرو مرو د رومیل سره مخامخ نه کړي ، درومیل په اړه پوښتنې پیل کړې. خو د کلاډیوس د ځواب په اوریدو سره یې زړه ټکان وخوړ. ځکه کلاډیوس ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« روميل به مونږ ته همدلته تر لاسه شي. دلته د ښار د دروازې تر څنګ. نن سبا ټول تجربه لرونکې سپاهيان دکلابندۍ له پاره د ځانو په تيارولو کې مصروف دي..... دغه دې ته يې په خپلو سترګو ګورې که نه. تا ته به هرې لورې ته سپاهيان تر سترګو شي....

قاسم په دې فکر کې شو چې يو بل مصيبت يې هم غاړې ته راپريوت. ځکه هغه نه غوښتل دکوم روميل سره ووينې. اوبيا يې ځان د بوسنيايي په شکل کې په ښوولو سره نور هم په خطر کې اچولې و. ځکه چې روميل په رينښتيا هم بوسنيايي و او دا شوني وه چې هغه داسې پوښتنې ګرويزنې وکړي چې د قاسم پټ رازونه ترې راوسپړي. قاسم دهمدې انديښنو په بحر کې ډوب د ښار د دروازې مخې ته راورسيد. دا د بندرګاه تر ټولو لويه برخه وه. د کلاډيوس کشتۍ غاړې ته شوه او هغه قاسم ته دخپله ځانه سره يوځاې د کشتۍ څخه ښکته کيدو اشاره وکړه. دهغوې مخه د ښار لورې ته وه ، او تر مخه يې د زياتو خلکو تګ رتګ تر سترګو کيده. د ديوال دا دروازه د ګولډن هارن په لور پرانستل کيده ،په دې اساس دلته ډير زيات ملاحان ګرزيدل. خو نن دعسکرو شميره د ملاحانو او کشتۍ وړونکو څخه ډيره وه. د سلطان محمد خان د جنګ د اعلان نه وروسته دقسطنطنيې د خلکو ژوند ډير ګډوډ شوې و اود شاهي قصر بنستونه لړزيدلي و.

قاسم د کلاډيوس سره يو ځاېددې ښار دروزاې ته ورسيد او په زړه کې يې خپل ځان د سلطانی فوځ لمړۍ سالار انځوراوه او په همدې مزو کې ډوب و .خو زړه يې د انديښنو نه هم ډک و. ځکه که ښار ته د ورننوتلوسره سم و نيول شي نو ټول کارونه به په ټپه و دريږي خو دکلاډيوس سره د يوځاې والي په خاطر قا سم ته په د روازه کې هيڅچا هم دتم کيدو اشاره و نه کړه. دا دواړه په ډيره ګړندۍ توګه مختنه ولاړل او د دې تاريخي ښار سترې او ديوشکله دروازې ته ور ورسيدل ددروازې د چت لاندې دتيريدو په وخت کې د قاسم حالات ډير عجيب و غريب ګرزيدلي و. ددروازې د جوړښت نه داسې ډاګيزه کيدل چې يو وخت بازنطينی سلطنت ډير ستر او شکوهمند و. حال داچې دا دقسطنطنيې يوه کوچنۍ دروازه وه. ددې ښار تر ټولو لويه دروازه « سينټ رومانس» و چې د وچې په لور پرانستل کيده. اوهمغه دښار مخه ګڼل کيده. د دروازې د چت لاندې دتيريدو په وخت کې قاسم ته داسې ډاګيزه شوه لکه څنګه يو څوک د يوې سترې خونې له منځه تيريږي. ددروازې دننه ښي او چپ لورې ته د فوځي افسرانو او د چونګي د محصول داخستونکو کسان ناست و ، کلاډيوس پرته له ځنډه دريمې خونې ته ور ننوت ،په دې وخت کې دقاسم وينه تيزه شوه. هغه په خپل زړه کې د خپلې ښځې حميرا څخه د بوسنيا اوريدلي قصې د خپله ځانه سره تکرارولې. کمرې ته دورننوتلو سره سم هغه وکتل چې يو لحيم اوشحيم پيړ د منځنې عمر يو فوځی افسر په خپل مخکې نقشه غوړولې او د څو عسکرو سره پرې خبرې کوي. کلاډيوس دغه افسر ته سلام وکړ اوسمدلاسه يې ورته قاسم ورو پيژانده.

« دا مورګن دې ،...... د بوسنيا د پخواني شاهي کورنۍ يو غړې. غواړې د قسطنطنی په فوځ کې ورشامل شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم فکر وکړ چې دغه د منځنې عمر فوځی افسر پخپله رومیل دې. قاسم هم ورمخته شو او په ډیر آدب یې ورته سلام او درنښت وکړ. کله چې رومیل قاسم وکوت نو دخپله ځایه راپورته شو اوپه ډیره خوشحالۍ سره مخته راغې اودخپل هموطنه سره ورغاړیوت. د قاسم له پاره دا ډیر ستونزمن وخت و هغه خپل ځان بوسنیایې ښوولې و او اوس یې هڅه کوله چې رومیل یې په بوسنیایې والې باندې شک و نه کړي. رومیل قاسم له خپله ځانه سره کیناوه او ورته یې وویل:

« ستا میلمستیا به ماته ډیره ستره نیکبختي وي ، زه خو دخپل هیواد بوسنیا د شاهي کورنۍ ډیر درنښت کوم. کلاډیوس ډیر ښه کار وکړ چې ته یې دلته زما خواته راوستې.»

اوس نو دقاسم د خبرو کولو نوبت و. هغه لږ څه په ځنډ سره وویل: « بلې ! دا خو ستا مهرباني ده اوکه نه اوس خو شاهي کورنۍ له سره پاته نه ده. زمونږه شاهي کورنۍ خو سلطان مرادخان ثاني دخپلې زهري توري په واسطه ټوټه ټوټه کړه ....»

« ګوره چې سلطان مرادخان ثاني ته څه ونه وایې .. زه د مسلمانانو ددې سلطان سخت مداح یم. تاسې به حیران شئ..... چې واورئ چې زما د اوه کلن زوې نوم هم « سلطان مراد » دې .»

درومیل خبر ې د قاسم له پاره لکه د برق د ټکان په څیر ثابتې شوې. هغه د رومیل دخبرو څخه برعکس مقصد واخست. دهغه زړه په ډوبیدو شو. هغه داسې وانګیرله چې د رومیل ژورو سترګو هغه پیژندلې دې. په دې خاطر رومیل د قاسم تر مخ بیا بیا دسلطان مراد خان نوم اخلي ، ترڅو دقاسم د زړه غلا پرې را وکاږي. هغه ډیر وارخطا شوې و اوپه دې نه پوهیده چې اوس رومیل ته څه ووایې او څه ورنه پټ کړي....

رومیل هم دقاسم په مخ باندې درنګونو تګ راتګ کوت. او د قاسم له پاره دا خبره نوره هم داندیښنې وړ ګرزیدلې وه. د عثماني سلطنت دغه تجربه لرونکې جاسوس دلمړي ځل له پاره خپل ځان په تلک کې کوت. رومیل دقاسم حیرانتیا درک کوله. د لږڅه خاموشۍ وروسته یې یو ځل بیا وویل:

« اوهو هو ! تو خو وویریدې ... زما خبره واوره ... ته اندیښمن کیږه مه ، زه دمسلمانانو جاسوس نه یم ، دیسوع مسیح خداې ریښتونې خادم او پیرو یم.....»

اوس نو قاسم پوره ډاډمن شوې و چې رومیل پیژندلې دې ، په دې خاطر یې خپل ځان د قیصر په بندیخانه کې کوت. خو دقیداوبندي کیدو تر مخه د تیښتې په فکر کې شو خو په ناڅاپې توګه یې د رومیل یوه بله خبره واوریده اوذهن هغې لورې ته واوخت او په دوه لارۍ کې و درید ، نه پوهیده چې درومیل په اړه دکومې زاویې څخه فکر وکړي. رومیل ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته به زما په اړه غلط فکر نه کوې. ما دخپل زوې نوم ، سلطان مراد ، د يوه خاص علت په اساس ايښودې دې. ستا په خير يوشمير نور خلک هم دزما دغه کار ته په ښه سترګو نه ګوري. په دې خاطر زه اوس خپل زوې ته « سولتين» وايم. زه هر چا ته ددې علت نه وايم. خو تاته به يې ووايم. ځکه چې ته زما د وطن سړې يې. لږه شيبه وروسته به زه تا خپل کورته بوځم. هلته به کله چې زما ښځې او زوې سره ووينې نوډير به خوشحاله شې.»

قاسم ترې په ويره ويره يوه پوښتنه وکړه. « ايا ستا ښځه هم بوسنيايي ده ؟»

« هو ! مونږ په خپل بوسنيايي والي باندې وياړو. »

اوس نو د قاسم ويره لږه لږه کميده. هغه ته دروميل شخصيت ډيره حيرانونکې ښکاره شو. کلاډيوس هم د روميل څخه اجازه واخسته. کله چې قاسم دروميل سره يواځې شو نوبيا يې ترې وپوښتل:

« ايا دا رينښتيا ده چې په قسطنطنيه باندې ستره حمله کيدونکې ده؟ ما خو دهمدې خبرې په اوريدو سره دلته په جهاد کې د ګډون په خاطر ځان را ورساوه.»

قاسم په ذومعنې توګه خپله خبره وکړه. هغه خو په حقيقت کې د جهاد له پاره دلته راغلې و ، روميل د قاسم په خبرو باندې دشونډو لاندې په خندا و .خو قاسم ته دروميل خندا ډيره اسرار اميزه لګيده. خو اوس د سلطان محمدخان دا جاسوس په مکمله توګه ډاډمن شوې و. روميل ورته ځواب ورکړ:

« هو ! دا خبره رينښتيا ده.... ته نه ګورې چې په ښار کې څومره توکې را ټولول کيږي.. ستا احساسات د قدر وړ دي .که چيرې ستا په څير ځوانان د شاهي بيرغ لاندې سره راټول شي نو قسطنطنيې ته به هيڅ سلطان زيان و نه شي رسولې.»

معلوم نه ده چې دقاسم د زړه نه ولې د روميل په اړه شک نه لرې کيده. نن قاسم د خلکو د پيژندنې په اړه خپل ځان د مکتب د لمړي ټولګې هلک ګاڼه. هغه تر اوسه پورې په همدې فکرونو کې ډوب و چې يو ناڅاپه ترې روميل وپوښتل.

« پخوا دې هم کله په کوم جنګ کې ګډون کړې دې ؟... اوکله دې هم مسلمانان د جنګ په حال کې کتلي دي؟»

قاسم سمدلاسه کوم ځواب پيدا نه کړاې شو ، ويې ويل « نن.....نه ، ددې نه مخته زما ډير وخت په غربي اروپا کې تير شوې دې...»

روميل دقاسم په خبرو باندې حيرانتيا و نه ښووله. په خاموشۍ سره يې سر و خوځاوه اوبيا يې وويل:« خو ما د جنګ په ميدان کې مسلمانان کتلي دي ، دهغوې هلالي تورې د برق په څير پرقيږي.....ما دمسلمانانو په خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځو جنګونو کې برخه اخستې ده ، زه دمشهور سالار هونیاډي تر بیرغ لاندې په هغه جنګ کې هم شریک وم چې د سلطان مراد خان ثاني څخه مو د «اورنه» په سیمه کې ماتې وخوړله.

د قاسم زړه یو ځل بیا په درزار شو ، هغه په زړه کې انګیرله چې رومیل هغه پوره پوره پیژندلې دې ، ځکه دا خو همغه جنګ و چې قاسم په کې په پوره میړان جنګیدلې و ، او په همدې جنګ کې یې د روم د پاپا نماینده ، کارډینل جولین یې دوه ټوټې کړې و ، رومیل هم د همدې جنګ یادونه کوله. یقینا چې هغه به قاسم هملته کتلې و ، نو په دې خاطر هغه دپلټونکي په ځیر لوبه کوله..... قاسم په همدې خبرو کې ډوب و . ان تر دې چې رومیل خپل کار اخر ته ورساوه. او قاسم ته یې دخپل ځان سره یو ځای دکور په لور د تللو اشاره وکړه.

قاسم لا تر اوسه د اندیښنو د نړۍ څخه نه و وتلې خو بیا هم دمجبوریت له مخې د رومیل سره دهغه دکور په لور روان شو .....خو قاسم هغه وخت ډیر حیران شو چې رومیل په ریښتیا هم قاسم له ځانه سره خپل کورته یوړ.

هغه قاسم په دروازې کې ولاړ پرې نه ښود بلکه دخپل هموطنه ورور په نوم یې کورته دننه یوړ. کورته د ورننوتلو سره سم رومیل خپلې ښځې ته ورغږ کړ:

« بریټا ! بریټا !.....بریټا ! ته چیرې یې؟ ته وګوره چې زمونږ کور ته څوک راغلې دې.»

دا یو کوچنی شانته کور و چې ددرې څلورو خونو څخه جوړ شوې و . په دې وخت کې د یوې خونې څخه یو شپږ کلن کوچنی راووت او بیرون لورې ته یې رامنډې کړې. دا د رومیل زوې چې رومیل یې نوم سلطان مراد خان ایښودې و ، کله چې دا کوچنې مخې ته راغې نو قاسم هم د رومیل په خبرو باندې باوري شو، کوچني رامنډه کړه او دخپل پلار سره ورغاړیوت. رومیل په خندا شو او دخپل د زوې په اوږه یې لاس کیښود او قاسم ته یې وویل:

« دا زما زوې دې چې ما یې نوم سلطان مراد خان ایښودې دې. خو اوس ورته زه سولتن وایم......»

رومیل لا تر اوسه پورې خبرې نه وې پوره کړې چې دهغه ښځه د یوې کمرې څخه را ووته ، دا یوه ډیره ښایسته او د لږ عمر ښځه وه ، قاسم چې د رومیل ښځه وکتله نو په ذهن کې یې د بریټا کلیمه ، چې لږه شیبه مخته پرې رومیل خپلې ښځې ته غږ کاوه ، را وګرزیده. هغه ته دا لفظ اشنا ښکاره شو. خو هیڅ یې یاد ته را نغلل....... د رومیل ښځه مخته راغله او قاسم ته یې په پوره حیرانتیا سره وکتل ، بیا یې په ډیر آدب سره قاسم ته سلام وکړ. رومیل ددوې تر منځ پیژندګلوي وکړه:

« دا زما ښځه بریټا ده ...... اودا مورګن صیب دې ، زمونږ میلمه. نوموړې د بوسنیا دپخواني شاهي کورنۍ خپلوان دې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم دپېژندګلوۍ په اورېدو سره بریتها د خوشحالۍ نه په کالیو کې نه ځاییده. ډېره خوشحاله وه ، تر ډېره پورې د دعاییه کلیماتو د ادا کولو وروسته رومیل او بریتها خپل دغه نوي میلمه له ځانه سره دننه سالون ته ور ننویست.

بریتها د خوراک په دسترخوان باندې ډېر شیان کېښودل. د ابناي فاسفورس د مرغاوې وریته کړې غوښته ، او د بوسنیا په څېر جوړشوې کباب .... قاسم هم لوږې راخستی و. خو د ډوډۍ د پیلولو دمخه یې رومیل ته وویل:

« تا ماته تر اوسه پورې دا ډاګیزه کړې نه ده چې د یوه راسخ العقیده عیسایي په څېر دې ولې دخپل زوې نوم سلطان مراد ایښې دې. زه ستا ددې وضاحت سره ډېره مینه لرم.»

قاسم ورته په خندا کې وویل ، ددې خبرې سره سم بریتها او رومیل دواړه په خندا شول اوبیا دلږ څه خاموشۍ وروسته رومیل په خبرو پیل وکړ : خو هغې لا څو جملې نه وې ویلې چې دقاسم د لاسو نه نژدې و چې ډوډۍ را پریوزي. .....رومیل ورته وویل:

« هغه وخت چې زما دا زوې پیدا شو نو هغه وخت د سلطان مراد فوځونو بوسنیا فتحه کړې وه. اودښار خلک د فاتحو عسکرو څخه دخوندي پاته کېدو په خاطر په خپلو کورونو کې پټ ناست و ، په دې وخت کې نا څاپه زما په کور کې د کوچني دپیدا کېدو له پاره زما ښځه ناروغه شوه. خوزما ښځه بریتها.... په کور کې ځانته وه. او د کوچني د راپیدا کېدو په سختو او کرکجنو دردونو اخته وه. په ښار کې دسلطان مراد فوځ ګشت کاوه. په همدې وخت کې د عثماني فوځ څو کسان زمونږ د کور خواته راغلل. هغوې دبریتها چغې او واویلاوې اورېدلې او سمدلاسه یې دهغې سره کومک وکړ ،په دې توګه نه یوازې زما ددې خوږې او محبوبې ښځې ژوند خوندي پاته شو ...بلکه زما یوازنی زوې هم سلامت او روغ رمټ پاته شو چې دادې اوس ستا تر مخه دې..... بریتها ته خو اوس دهغه عسکر نوم یاد نه دې نوپه دې خاطر یې دمسلمانانو دپادشاه دسلطان مراد په نامه دهغه نوم سلتین وړاندې کړ. زه په هغه وخت کې د هونیاډي په فوځ کې وم.»

د رومیل قصه د قاسم له پاره لړزونکې وه. ځکه چې دا خو دهمدې خپله قصه وه. دا خو پخپله قاسم و چې په بوسنیا کې یې د یوې دردمنې ښځې سره په خپل وخت کومک کړې و. اوبیا یې هملته د حمیرا ، مریم او عباس سره هم لیده کاته شوي و. قاسم د قدرت په دې حسن اتفاق باندې حیران دریان پاته و. ډوډۍ یې په ستونې کې ښښتله. او دحیرانتیا له لاسه یې ستونی وچ شوې و. هغه ته دا احساس و شو چې رومیل ورته سهي خبرې کړې وې . هغه بریتها ته په ډېر غور سره وکتل. دا همغه ښځه وه چې قاسم یې په وخت خدمت ته ور دانګلې و. خو په هغه وخت کې قاسم هغه نه وه کتلې ، ځکه چې هغه ناروغه وه اوبیا قاسم دسولتین په لور وکتل..... هغه د قدرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حیرانونکې کرشمه باندې حیران پاته شوی و . خداې په څه ډول هغه د بریتا اودهغه د زوې سره یوځاې کړې . دقاسم په دغه حیرانتیا باندې رومیل لږ څه اندیښمن شو او سمدلاسه یې وویل:

« مورګن.... مه ویریږه ...... مونږ یواځې دخپل زوې نوم سلټن ایښودې دې.... ترڅو دیوه محسن د احسان بدله مو ورکړې وي. مونږ خو مسلمانان نه یو ..... نو ته ولې اندیښمن کیږې ؟...»

رومیل د لمړې ځل له پاره قاسم ته د «ته» لفظ استعمال کړ. قاسم ته داسې څرګنده شوه چې مشر ورور ، طاهر یې ورته خبره کوې.... ځکه چې د رومیل په خبرو کې تلقین و ، کله چې قاسم ، رومیل په غلط فهمۍ کې وکوت نو ورته یې وویل:

« نه ، نه ، هیڅ داسې خبره نه شته...... زه خو ددې خبرو په اوریدو باندې ډیر خوشحاله یم.... دا چې تا د خپل زوې نوم سلطان مراد ایښې دې ، ډیر دې ښه کړې... زه خو د عثماني عسکرو کړچار ته حیران پاته شوې یم ،.... چې هغوې دمسلمان په څیر هم او د فاتح په څیر هم .....ددومره لوړو اخلاقو خاوندان دي ، تا خو په دې خبرو دمسلمانانو دکتلو له پاره زما شوق نور هم ورزیات کړ.»

قاسم په رینښتیا توګه هم ډیره خوشحاله شوې و . اوس نو هغه ددې خلکو سره خپل ځان یوشان ګاڼه. هغه ته خپله ښځه حمیران تر سترګو شوه ...... چې دبریتا پیژندګلوې وه . عباس اومریم دواړه د بریتا ګاونډیان و و . په دې وخت کې مریم د قاسم دمشر ورور طاهر ښځه وه. ....

قاسم ددې خلکو سره ډیر ژر ورخپل شو . خو دخپل زړه خبره یې په خپل زړه کې وساتله.»

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایا صوفیاء

قسطنطنیه د خپل جغرافیایی جوړښت او تاریخ له اړخه په نړۍ کې یوائځنې ښار و. ددې ښار نوم هم په مختلفو زمانو کې بدلیده رابدلیده. ددې ښار تر ټولو پخوانې نوم «زارغراد» و بیا «میکله غارو» ترې جوړ شو. په یوناني او رومي وختو کې یې ورته «بیزنطیه» وایه بیا په دریمه عیسوي پیړۍ کې رومي پادشاه قسطنطین هغه خپل پایتخت وګرځاوه او بیا دهمدې رومي پادشاه په نامه قسطنطنیه وګرزید. په هغو وختو کې یې ورته «نوي روم» هم وایه. په لمړیو وختو کې ورته بازنطینی خلکو «هیپولس» وایه اوعربو ورته په هغه وخت کې د «مدینة الروم» نوم ورکړې و.

په حقیقت کې دغه ښار ته د رومي سلطنت یو ستر ښاخ ویل په کار دي. دروم ښار چې په ایټالیا کې دې د عیسي علیه السلام د پیدایښت نه اوه نیم سوه کاله مخته اباد شوې و ،په ایټالیا کې یو دریاب دې چې ټایمر نومیږي ، دا دریاب د شمال له لورې راځی او د «روما» څخه تیریږي او پنځه ویشت میله لرې د روم په بحیره کې توییږي. په یو وخت کې دا دریاب د تجارت لویه لاره وه ، په همدې دریاب کې به یې ستر ستر شیان لاهو کول او کوچني شیان به یې په کشتیو کې ایښول او د «فلورنس څخه تر نیپلز» پورې به یې پرې تجارت کاوه. ددې دریاب په غاړه یو ځاې دې چې دخپل شینوالي او په زړه پورې والی له اړخه ډیر مشهور دې ، هلته تجاران خیمې وهې او شپې شپې تیروي اوبیا دهمدې دریاب په غاړه سفر کوي. دمسیح د پیدایښت نه اوه نیم سوه کاله مخته ، تجارانو په خپلو منځو کې پیسې واچولې او دلته یې یو سراې اباد کړ اوبیا همدا سراې په لوې ښار باندې بدل شو. چې اوس ورته د روم ښار وایی. په هغو وختو کې هرې کورنۍ ځانته جدا جدا سردار درلود. همغه به کورنۍ جګړې سرته رسولې ، ودونه اوخوشحالۍ به یې تر سره کولې ، په هره معامله کې به یې حکم صادراوه. اوخپلې قبیلې به یې د کوچنیو غلو او داړه مارانو څخه خوندي ساتلې ،د مسیح دپیدایښت نه مخته په شپږمه پیړۍ کې هلته یوې اسیایی قبیلې سر راپورته کړ چې د «تاریکینو» په نامه یادیدل. دې تاریکینو په ۵۰۹ قبل مسیح کې دلته یو ډیر ښه حکومت جوړ کړ. چې د اروپا لمړې جمهوریت ورته ویل کیږي. همدې جمهوریت کرار کرار په شاوخوا قبایلو باندې هم حاکمیت پیدا کړ ، ان تر دې چې ۲۲۵ قبل مسیح کې روم دیوه ځانګړي ځواک مرکز وګرزید ، اوس نو د فتوحاتو لړۍ پیل شوې وه ، په ۱۹۷ ق م کې «سپین» ، یو کال وروسته په شمالي افریقه او مقدونیا ، په ۲۴ ق م کې «شام» په ۵۰ ق م کې «فرانسه» او بلجیم ، په ۹ عیسوي پیړۍ کې «جرمني» او په ۴۴ عیسوي پیړۍ کې «برطانیه» په ۱۰۵ ع کې «فلسطین» او په ۱۱۴ عیسوي پیړۍ کې «ارمینیا» او په ۱۱۷ عیسوی پیړۍ کې عراق د رومیانو د سلطنت برخې وګرزیدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«کارنیلیس سلا» دعیسي علیه السلام د پیدا ینبت نه ۷۸ کاله مخته د روم یو ستر او مشهور جرنیل و. خو بیا د سیاست پوهانو د خپلمنځي رقابت نه تنګ شو او په ۸۳ ق م کې یې پارلمان معطل کړ او مارشلایی نظام یې قایم کړ. په هغو وختو کې به جمهوریت یواځې د خواصو او اشرافو دطبقو پورې را نغښتې و. د جرنیل « کارنیلیس سلا» د مارشلا په خلاف دهغه وخت فلسفي « سسرو » تحریک و چلاوه ، چې په پایلو کې یې په ۷۹ ق م کې «سلا» مجبور شو چې بیرته جمهوریت ته را وګرځی او په خپله د سیاست نه ځان څنګ ته کړي.

«جولیس سیزر» د سنا دغونډې غړې و او په ۵۸ ق م د فرانسې والې ټاکل شوې و. هغه تر لمړۍ شاوخوا سیمې فتحه کړې ، بیا یې په برطانیه باندې یرغل وروست اود ټیمز تر دریابه مخکې ولاړ ، د سیزر ددې بریالیتوبو څخه په سنا کې ویره را پیدا شوه ، هغوې ددې وویریدل چې هسې نه چې د سیزر څخه دیکتاتور جوړ شی ،په د ې خاطر په ۵۰ ق م کې سینټ حکم وکړ چې سیزر دې فوځ بیرته له منځه یوسي. سیزر په دې خبره ډیر په قهر شو اوپه روم یې ولکه وکړه او په ریښتیا هم یو دیکتاتور وګرزید.

د سیزر سره د رومې شهنشاه لړۍ پیل شوې اوبیا تر پنځو پیړیو پورې په همدې ښار کې را غځیدلې وه. ان تر دې چې په ۳۰۵ عیسوي کال د روم شهنشاه «لمړي قسطنطین» و زیږید، به ۳۳۰ عیسوي کال یې یو کلې د بائیز په نامه خپل پایتخت و ګرځاوه او بیا یې دا د بائیز دکلي په ځاې د قسطنطین په نامه و نوماوه. د لمړي قسطنطین د مړینې وروسته دهغه د زامنو تر منځ اختلافات راپیدا شول او سلطنت یې په دوو برخو ویشه. هغه برخه چې په قسطنطین کې وه د قسطنطین په نامه او هغه برخه چې په روم کې وه د روما په نامه یاده کړل شوه. له دې وروسته ددې دواړو برخو تر منځه مذهبی اخلافات هم را وټوکیدل. د روم خلکو د رومن کتولیک مذهب اختیار کړ خو په قسطنطنیه کې د یوناني کلیسا تر مشرۍ لاندې د «دې هولي ارتوډکس» مذهب رایج شو. د لمړي قسطنطین نه وروسته تر دولسم قسطنطینه پورې په قسطنطنیه کې دوه اتیا شهنشاهان تیر شوی دي، چې په دې ډله کې یوازې دقسطنطین تر نامه لاندې د شهنشاهانو نومونونه دولسو ته رسیږي. دې شهنشاهانو ته د روم قیصر هم ویل کیده . اوس نو رومې سلطنت په دوو برخو ویشل شوې و غربې برخې ته یې « رومن ایمپائر» اوشرقې برخې ته یې « بازینټاین ایمپائر» ویل کیده.

هرقل یا « دریم قسطنطین» چې د ۶۱۰ نه تر ۶۴۱ کالو پورې ددې هیواد شهنشاه و ، په دې خاطر ډیر مشهور شوې و چې هغه ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ۶۳۰ کال یو لیک ور استولې و او د اسلام په لور یې بلنه ورکړې وه. د سلطان محمد فاتح د سلطنت په وخت کې په قسطنطنیه کې ددولسم قسطنطین پادشاهي وه ، په پخوانیو وختونو کې د روم ، ایتهنز ، او قسطنطنیه ډیر ستر ښارونه و چې تر یولس سوو کالو پور ې د رومې سلطنت ستر مرکزونه ګڼل کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم بن هشام ته د قسطنطنيي په اړه ډير معلومات ترلاسه شوي و. هغه ته د عيسويانو دډلو ټپلو اوفرقو په اړه هم پوره پوره پوهه ترلاسه وه ، ترڅنګ يې د شهنشاه د حسب ونسب څخه هم ډير ښه خبرو. هغه په دې پوهيده چې هغه وخت چې د قسطنطنيي قيصر عيسوي مذهب ومانه نو دعيسوي او د ايران د مجوسي سلطنتونو ترمنځ ځو ځله جنګ جګړې شوي وې ، دا دقيصر او کسرې او يا روم اوفارس ترمنځ جګړې وې ، ددې سلطنتونو ترمنځ جنګونه روان و چې په عربو کې اسلامې حکومت منځته راغې او عيسويانواو مجسويان يې په حيرانتيا کې و غورځول. دمجوسيانو سلطنت د مسلمانانو په لاسو ټوټه ټوټه شو او له منځه ولاړ خو د قسطنطنيي عيسوي حکومت تر ډيره پورې قايم پاته شو. خو نن قاسم بن هشام د عيسوي ددغه حکومت د پاې ته د ورسيدو په خاطر په هوډمنه توګه دغه ښار ته ور ننوتې و. هغه هلته د روميل په کور کې د يوه رضا کار په څير اوسيده. روميل دهغه نوم د فوځ درضاکارانو په نوملړ کې ليکلې و. خو هغه يې سرکاري بيرکونو ته د ورليږلو په ځاې هملته په خپل کور کې ساتلې و. قاسم هم غوښتل همدلته پاته شي ، روميل د شاوخوا ګاونډيانوته ويلي و چې مورګن يې ورور دې او د بوسنيا څخه راغلې دې. روميل د قاسم آس د محصول د دفتر څخه هم را خلاص کړې و ، اوس نو دقاسم له پاره دخپل کار د کولو موقع ترلاسه شوې وه ، ځکه په قسطنيه کې ورته دهغه دهيلو نه پورته خوندي ځاې ځيرې ترلاسه شوې و، هغه تر ټولو نه زيات د بريټاسره په کتلو باندې خوښمن و. ځکه چې په بوسنيا کې د عباس او مريم دګاونډۍ په څير يې د بريټاسره د خپلوۍ احساس کاوه.

قاسم په همدې فکرونو کې ډوب په خپل آس سپور د «اياصوفياء» تر مخه تيريده. خپل مخ يې د څادر په يوې څنډې کې را تاو کړې و. ځکه هغه پوهيده چې ابوجعفر همدلته په اياصوفيا کې اوسيږي او نه يې غوښتل چې سمدلاسه دهغه مخې ته راشي. دا د «دي هولي ارتوډکس» چرچ و ، او دروما د پخواني مرکز په څير يې دعيسوي نړۍ په زړونو کې ځاې درلود. که څه هم دا چرچ د روم څخه وروسته ابادشوې و. خو د مذهب له اړخه قسطنطنيه په پخواني مذهب باندې روانه وه. ددې برعکس رومن چرچ درومن کتوليک د مذهب تر اغيز لاندې و. د اياصوفياء د تعمير په کتلوسره قاسم هک پک پاته شو. دا يو ستر او عظيم الجسه عمارت و ، خو د خپل زړښت سره سره يې بيا هم په کوم ځاې کې د زوړوالې نښې نه تر سترګو کيدې. ځکه چې دا دعيسويانو روحاني مرکز و اوهر شهنشاه به دهغه د ښايسته کولو او او ترميم کار په ډيره ښه توګه تر سره کاوه. د ماڼۍ دروازه ددوو ستر سترو برج شکله ستنو ترمنځه د ځليدونکې پتيل څخه جوړه شوې وه ، په دې دروازو باندې د سروزرو څخه جوړ شوي صليب نصب کړل شوې و. دا کليسا لمړي قسطنطين په ۳۲۰ عيسوي کال د لرګيو څخه جوړه کړې وه ، بيا په شپږمه پيړۍ کې يې اور واخست او وسوځيده ، خو «جستينين» قيصر په **۵۳۲** عيسوي کال به همدې ځاې يو نوې پوخ تعمير جوړ کړ، دا تعمير په پنځو کالو او لسو مياشتو کې تکميل شو ، لس زره معمارانو پرې کا و وکړ او لس لکه پونډه مصرف پرې راغلې و. قيصر ددې کليسا دتعمير له پاره د نړۍ دمختلفو ځايو څخه دمرمر تيږه راوسته.... د«فريجيا» سپنيه د «لکونيا» شنه ، د «ليبيا» نيله ،« سلينګ توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د «باسفورس» توره تیره څنډه لرونکي دمرمر تیږه یې دې کلیسا ته راوړه.دمصر د «دستاراتیږې» او «دسماق تیږې» یې هم ورته راوغوښتې. اوپه دې کلیسا کې یې استعمال کړې. د ټولې نړۍ کلیساو د دې کلیسا دجوړښت له پاره ډېر څه نذرانه کړل اوډېرې ارزښتناکه تحفیې یې ورته را ولیږلې. ددې کلیسا په جوړښت کې د نړۍ ډیرې مسالې استعمال کړل شوې ، هماغه و چې «جستینین» ددې کلیسا د جوړښت نه وروسته د لمړي ځل له پاره ور ننوت نو ویې ویل:

«سلیمانه ! زه له تا نه مخکې شوم...»

سیدنا سلیمان علیه السلام بیت المقدس اباد کړی و. اود جستینین دغه بې ادبه اشاره هم همغه لورې ته وه.

قاسم د ایاصوفیاء تر مخه د آسه را ښکته نه شو. هغه تر ډیره پورې ددې شانداره ماڼۍ او قصر په لیدلو کې ډوب و. قاسم ددې سترې کلیسا دتعمیر څخه لږ شانته لرې په آس سپور ولاړ و. اوددې عبادتځای سیل یې کاوه. دهغه تر مخه چرچ ته د ور ننوتلو طلاې دروازه پرانستې پرته وه ..... دتیرو زرو کالو راهیسې د ایاصوفیا دغه ماڼۍ د عیسویانو د روحانی مرکز په توګه استعمالیده. دهغې په بیرونۍ دروازه باندې د عیسې علیه السلام او د پولس رسول ستر ستر انځورونه را ځړول شوي و ، قاسم ،په داسې حال کې چې په غاړه یې د صلیب انځور را ځړول شوې و ، د ایاصوفیا دروازې پورې ورتلل مناسب ونه ګڼل، خو کولې یې شول چې د یوه عیسایی عبادت کونکې په څیر ایاصوفیا ته ور ننوځي خو هغه هلته دعبادت له پاره نه وراغلې. یواځې د ایاصوفیا د کتلو له پاره راغلې و ، ځکه په دې کلیسا کې د رومي او بازنطینی کلیساګانو د اتحاد له پاره ډیره ستره غونډه را غوښتونکې وه ، اوقاسم غوښتل چې ددې غونډې راز ځانته معلوم کړي او دهرې لارې چې شوني وې هڅه وکړي تر څو ددې دواړو ډلو تر منځ اتحاد او یووالې منځته را تلو ته پرې نږدي.

« دي هولي ارتوډکس چرچ» او د «رومن کتولیک چرچ» د اتحاد څخه سلطان محمد خان ته ډیر زیات زیان ور رسیده. ځکه د رومیانو ستر روحاني مشر پاپاې روم ، یا «پنځم پوپ جان نکلسن» په ټولې غربي اروپا کې پرته له کوم بل ګډون کونکې څخه دپوره واکمنۍ خاوند و. او دا شونی وه چې دهمدې پاپ د هڅو په پایلو کې ددې اتحاد د راتلو نه وروسته د قسطنطنیی د خوندي پاته کیدو په خاطر دجرمني ،فرانسې ، بلجیم ، سپین ، او برتانیی فوځونه دلته را شي ، ځکه نږدې څلور سوه کاله مخته دهمداسې یوپوپ « پطروس هرکولیس » د غوښتنې له مخې د غربي اروپا دټولو هیوادونو دسلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف یوستر اتحاد جوړ کړې و . اوبې شمیره جنګې بیړۍ یې دې جنګ ته را ښکلې وې. سلطان محمد قاسم په دې خاطر هلته ور استولې و چې هغه دې د هرې لارې چې شوني وې دغه ډول اتحاد جوړیدو ته پرې نږدي. اولاتر اوسه ددې دواړو کلیساو ګډې غونډې جوړیدو ته څو ورځې پاته وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم تر ډېره پورې په پوره خاموشۍ سره ولاړ و .بیا یې خپل سر و خڼډه او آس ته یې لغته ورکړه ، اوس دهغه په فکر کې دې چرچ ته د ننوتلو په پلان باندې غور پیل کړ. اوغوښتل یې په داسې بڼه ور ننوځي چې ابو جعفر یې ونه شي پیژندلی. په همدې فکرونو کې ډوب د رومیل کور ته ورسید.

دهغه وخته چې هغه قسطنطنیې ته راغلې و نو په سر اوذهن باندې یې د ابوجعفرفکر سپور و. هغه پوهیده چې ابو جعفر په ایاصوفیاء کې دې اواصلي نوم یې « ډیمونان» دې. خو د کوم سهي او کوټلي پلان پرته یې په ډیمونان باندې لاس اچول نه غوښتل. کله چې کور ته را ننوت نو بریټا په انګړ کې ناسته وکتله ، دقاسم په کتلوسره هغه ددرننبت له پاره و دریده. قاسم هم په خندا سره بریټا ته سلام وکړ بیا یې ترې و پوښتل چې « سلټن نه تر سترګو کیږې ؟»

هغه د رومیل دزوې خبره کوله بریټا هم ورته په خندا کې ځواب ورکړ:

هغه لا تر اوسه د مدرسې نه دې راستون شوې....خو ته نن سهار وختې چیرې تللې وې. ماخو تاته سهار نارې تیار کړې اوایښې مې دې.... لمړۍ هغه وخوره !»

بریټا بلکل لکه د سکه ورندار په څیر ښکاریده. قاسم لا تر اوسه هغې ته کتل او خندل یې. خو په لږ څه نیولي لهجې یې وویل: « ما غوښتل د سهار د عبادت له پاره ایاصوفیاء ته ور شم ،خو چرچ ته په ور رسیدو سره زما اراده بدله شوه. ما له ځانه سره ژمنه وکړه چې تر هغې پورې به دې عبادتځای ته ور نشم تر څو پورې مې چې دمسلمانانو د هلالي تورې ګوابښ مې دهغې څخه نه وي تم کړې.... زما دا خبره ،زما له اړخه یو ډول سوګند و ګڼه ».

بریټا په ډیره حیرانتیا سره قاسم ته کتل. خو قاسم په زړه کې دخندا شین و ، ځکه هغه په یوه غشي دوه ښکاره کړي و . یو خو یې د بریټا پوښتنې ته ځواب ویلې و او بله دا چې دخپله ځانه یې داسې حواله ورکړه چې ددې وروسته هغه د یکشنبې په ورځ هم ددې خلکو سره یوځای ایاصوفیاء ته د عبادت د تللو څخه خوندي پاته شو. هغه خپل ځان ته افرین ووایه. خوبریټا ورته یوه په زړه پورې خبره وکړه او هغه یې سخت متوجه کړ.

« مورګن ! ستا په کتلو مې ولې زړه شاهدي ورکوی چې زه دې پیژنم »

قاسم سمدلاسه محتاطه شو او په بیړه یې یوه بهانه جوړه کړه « هو ! دا خو دومره ستر خبره نه د ه ،مونږ دواړه د یوه ځای اوسیدونکې یو ، هرومرو به دې په ژوند کې زه چیرې کتلې اوسم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریتا ورته په ژورو سترګو کتل اودهغه ځواب یی اورید. په همدې وخت کې د قاسم په زړه کې یو فکر را وګرزید او دهمغې په اړه یی فکر کول پیل کړل ، هغه په دې فکر کې و چې په ایا صوفیا کې د ورننوتلو او د ایا صوفیا په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو له پاره د بریتا څخه کار واخلی. دهمدې فکر په بنسټ یی د بریتا څخه وپوښتل:

« ته خو به ځې راځې.....آیا صوفیاء ته...»

« هو ! زه په اونۍ کې یو ځل « دی هولي ارتوډکس چرچ» ته هرو مرو ورځم.»

قاسم ورته یو ځل بیا وویل: « بیا خو به هلته ستا پیژندګلوې هم څوک وي ؟»

« هو ! زه خو هلته څو کسه راهبان پیژنم. بطریق ثاني ،عزتمند ډیمونان سره هم ښه پیژنم ، ډیر مهربانه سړې دې ..... خو که رینښتیا درته ووایم ، دغه پادري خلک زما ښه نه راځي.. زه خو د خداوند یسوع اومسیح عبادت ته ورځم اوکه نه دا مذهبي مشران ، چې مونږ یی خپل مذهبي مشران ګڼو ډیر غلط خلک دي ،په دوې کې مې یوازې عزتمند ډیمونان ډیر خوښ دې ، زه دهغه لیکچر هم اورم. هغه په میاشت کې یو ځل لیکچر وکوی.....»

دقاسم له پاره دا خبر د احتیاطه ډک و . بریتا د ډیمونان سره نیک اړیکی درلودل. او ډیمونان قاسم ډیر ښه پیژانده. ځکه دا همغه ابوجعفر و چې په اورنه کې یی شل کاله د مسلمانانو امامت کړې و . اوبیا د قاسم محبت ، مارسي ، یی په زخمي حالت کې دهغه ځایه را تښتولې وه.

دمارسي د رایادیدو سره سم قاسم په زړه ټکان وخوړ او بیا یی د مارسی په اړه فکر پیل کړ. په دې وخت کې بریتا د خوراک د تیارولو له پاره ورغلې وه. اوقاسم په خپلې خونه کې ناست اود یوه کتاب په لوست یی ځان مصروف کړې و خو هغه په حقیقت کې دخپل راتلونکې پلان په اړه فکر کاوه. کله چې بریتا ډوډۍ راوړه نو هغې ترې وپوښتل:

« خو دا دې را ته ونه ویل چې تا ولې په ایاصوفیاء کې زما څخه دکوم پیژندګلو په اړه وپوښتل ؟»

قاسم لا دپخوا څخه په دې اړه د ځواب د پیدا کولو هڅه کړې وه. هغه ورته وویل چې: « په حقیقت کې زه غواړم خپله یو ارزښتناکه تحفه خپلې کلیسا ته هدیه کړم. خو غواړم چې زما نذارانه هلته دداسې لاسو په واسطه ورسیږی چې ایمانداره اوخداوند یسوع اومسیح ددین رینښتونې پیرو وي ،خوتا راته وویل چې دهغه ځاې ټول راهبان بد دیانته دي...»

«نه ، نه ، ما کله دا ویلې دي ، ما خو ویلي دي چې په هغوې کې یوازې معزز ډیمونان ایمانداره او پاک انسان دې. ما په خپله ددې مقدس جنګ له پاره خپل ډیر قیمتي لاکټ چرچ ته دنذرانې په توګه ورکړې دې. اوهغه مې هم د معزز بطریق ډیمونان په لاسو کې ایښې دې.... حال دا چې هغه لاکټ ماته دخپل ځان څخه هم ډیر محبوب و

(c) ketabton.com: The Digital Library



. ځکه هغه ماته زما یوې ډیرې خوږې ملګرې د ننبې په توګه راکړې و . کله چې بریټا دملګرې یادونه وکړه نو دقاسم ذهن سمدلاسه د مریم په لور ولاړ. ځکه چې همغه د بریټا سره په ګاونډې کور کې اوسیدله. د بوسنیا شهزادګۍ حمیرا خو د بوسنیا د جنګ نه وروسته دعباس کور ته ورغلې وه. هغه په زړه کې مسکې و او په همدې فکر کې ډوب چې بریټا ترې وپوښتل:

« لیکن ، ته چرچ ته او دې جنګ ته ،څه نذرانه کول غواړې..... تا خو هلته د جنګ دګوابښ تر پایې ته رسیدو پورې د نه تللو هوډ کړې دې.....راوړه ، ماته یې راکه ، زه به ستا نذرانه هلته ورکړم...زه به یې په خپله دمقدس پلار ډیمونان په لاسو کې ورکړم»

حالات ډیر په زړه پورې او نازکه شوې و. د قاسم پلان بلکل په سهي توګه پلې کیده. اوس نو هغه د خپلې لارې د نورې هوارۍ له پاره وویل :

« دا خو ډیره ښه خبره ده ، که ته یې له ځانه سره یوسې نو دا خوبه زما له پاره د خوښۍ سبب وګرځي ،ځکه چې ډاګیزه ده چې ته به زما نذرانه دکوم ایمانداره وګړي په لاسو کې ورکړې »

خو قاسم کله چرچ ته نذرانه ورکول غوښتل. دهغه سره کومه تحفه نه وه ..... که ورسره واې نه بیا به یې چرچ ته نذر کړې واې. هغه خو د قسطنطنی دحکومت د کمزوره کولو له پاره راغلې و .

په دې ورځ قاسم د بریټا سره بس همدومره خبرې وکړې. اوبیا یې په دې خبره باندې و ځنډولې چې ، ډیر ژر به خپله قیمتی تحفه را ښکاره کوي. لا تر اوسه قاسم دخپل پلان د پلې کولو له پاره ډیر څه ته اړ و. هغه ددواړو کلیساګانو د متحده غونډې د سبوتاژ کولو له پاره هم دمهرو دبدلولو هڅه کوله. مګر لا تر اوسه دلته نوې و. بیا هم هغه دبریټا په ذهن کې دخپل پلان څه خاکه ورځای کړه. اوس یې نو هڅه پیل کړه چې بریټا نوره هم په خپل ځان باورې کړي. هغه د رومیل ، بریټا اودهغوې دزوې سره خپل ځان ډیر زیات ورنژدې کړ ، بریټا به اوس قاسم ته د ورور په نامه غږ کاوه. کله به هم چې قاسم د بیرون څخه راغې نو دبریټا او سولټین له پاره به یې نوي نوي کالی اوشیان راوړل. رومیل په وړاندې د قاسم عزت اودرننبت نور هم زیات شو. هغه خو دقاسم نوم په رضاکارانو کې لیکلې و خو قاسم لا تر اوسه دخپلو دندو د اجرا په خاطر هلته نه و ورغلې. قاسم به ویل چې هغه غواړي تر څو ورځو پورې د قسطنطنیی ښار په ښه توګه ووینې.

د « ایاصوفیاء» ترمخ د یو وار ګرزیدو وروسته ،قاسم بیا هلته ورنغې. هغه نه غوښتل د پوره تیارۍ نه مخته د ډیمونان سره ټکر وکړي. په دې خاطر یې دخپلو پلانو دپلې کولو له پاره د کلیسا په اړه د نورو زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو هڅې پیل کړې. هغه غوښتل د ایاصوفیاء په داخلي نظام باندې ځان ښه خبر کړي. هغه د بازنطینی ځواکونو دسالار « نوټاراس» د وړتیاو اوکمزورتیا و ،اوارادو څخه سطان ته خبر ورکول غوښتل. اودمحاصرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه یی دښار ددیوال د«سینټ رومانس» دروازه ، دګولډن هارن بندرګاه ، دقسطنطنیی خلکو ته د غذای اونورو موادو د ترسیل لارې چارې ، او ترځنګ یی په ګولډن هارن کې را ځړول شوې هغه زنځیر هم کتل غوښتل چې دګولډن هارن لاره یی بندولې شوه. هغه د رومیل څخه هم یو ځل دوه د ګولډن هارن ددې عجایبو د کتلو له پاره غوښتنه کړې وه ، اوبیا رومیل هغه په یوې فوځې کشتۍ کې کینولې هم و او ګولډن هارن یی ورته ښوولې و ،کله چې قاسم دغه دیوشکله ستر زنځیر وکوت او دهغې ددوارو سرونو جایزه یی واخسته. نو هغه په دې ناهیلې شو چې دکلابندۍ په وخت کې ددې زنځیر ماتول ناشوني دي. شونی وه چې د «اربان» د توپ دیرش انچه غټه ګولۍ هغه دوری وری کړي خو دې ځای ته د یوه توپ راوړل اوبیا دلته نصبول له یوه سره ناشوني وو. ځکه د اربان توپونه د نقل وحمل له اړخه ډیر ستونزمن و . ان تر دې چې د جنګ په وخت کې دهغوی دیوه ځایه بل ته وړل څه اسانه کار نه و. قاسم د زنجیر دماتولو فکر د زړه نه وویست اوبیرته کورته ستون شو. خو پریکړه یی وکړه چې هغه به په یوه یا دوو ورځو کې لاسته راوړې ټول معلومات سلطان محمدخان ته ورلیږي. خو ددې معلوماتو د لیږدلو له پاره هغه باید تر رومیل کلا پورې تللې وې.

قاسم دسلطان په نامه یو تفصیلي لیک ولیکه ،اوپه ډیره ګړندۍ توګه د رومیل دکلا په لور ورغې ، اوس نو هغه د قسطنطنیی د فوځ یوعسکر و ، هغه هیڅ اندیښنه نه کوله ، هغه د ګولډن هارن لاره پریښوده او دښار د ستري دروازې « سینټ رومانس» له لارې درومیلي کلا په لور ولاړ ، درومیلي کلا د قسطنطنیی څخه پنځه میله لرې وه. قاسم سهار وختي ددې ځایه ولاړ او دغرمې دمخه بیرته راستون شو اوخپل لیکلې تفصیلي لیک یی مصلح الدین اغا ته ور وسپاره.

څو ورځې همداسې په همدې ډول مصروفیاتو کې تیرې شوې ، په دې وختو کې قاسم دبریټاسره دیوه ورور په څیر ډیر ور نژدې شوې و. اوس به نو بریټا په هر ځای کې د قاسم خبره کوله. اوبیا یی یوه ورځ په ټوکو ټوکو کې قاسم ته وویل:

« پریږده وروره ! ته داسې ورور یی چې تر اوسه د ې ماته هغه تحفه و نه ښودله. تا ویلې و چې زه به هغه تحفه چرچ ته نذرانه کوم.»

قاسم غالبا د همدې خبرې انتظارکا وه. سمدلاسه یی وویل: اوهو ! زما درنې اوخوږې خورې ، دهغې تحفی به څه ارزښت وي ، زه خو په تاباندې خپل ځان هم ځارولې شم. خویوه خبره ده ، اوهغه داچې زه به هغه تحفه هغه وخت چرچ ته نذرانه کړم چې ته به دا دنده په خپل لاس تر سره کوې. ایا داسې شوني نه ده چې مونږ نن یا سبا یا بل کوم وخت معزز ډیمونان ته د خوراک له پاره بلنه ورکړو . که داسې وکړل شي نو زه به په خپل لاس دا تحفه معزز ډیمونان ته ورکړم. ته خوپوهیږې چې ما ایاصوفیاء ته د نه تللو هوډ کړې دې ، که چیرې ته هغه مقدس پلار کورته راوبلې نو مونږ به ترې برکتونه هم تر لاسه کړو اوهمغه ته به دمقدس جنګ له پاره تحفې هم نذرانه کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم ددې خبرې کولو سره دا هیله نه درلوده چې همداسې به وشي. خو دبریتا د ځواب په اوریدو سره حیران پاته شو.

« اوهو ! ....دا خو دې ډیره پښخه خبره وکړه. ما پخپله د ډیره وخته همدا ډول فکر کاوه چې کوم وخت دغه مقدس پلار خپل کور ته د خوراک له پاره را وبولم. ما د رومیل سره هم خبره کړې وه. خو هغه فوځې دې که نه.... هغه د مذهبی خلکوسره زیاته دلچسپې نه لري.....خو مورګنه ! ته ډیر زیات مذهبي انسان یی...... که داسې نه ده.؟»

دقاسم غشي په نښه لګیدلي و. هغه په زړه کې دخوشحالۍ نه ګوړې ماتولې. اوس نو هغه دخپلې چالاکۍ په واسطه غوښتل ډیمونان دخپلې سوړې نه راوکاږي، غوښتل یی په کوم ډول د ډیمونان څخه دمارسي د راز پوښتنه وکړي. خو دې کار ډیرې هوښیارتیا ته اړه درلوده. او هغه ته په کار و چې هغه تر هر څه لمړۍ بریتا په ذهني توګه دې کار ته تیاره کړي. نو په دې اساس یی د ځانه سره پریکړه وکړه چې بریتا ته به د مارسي په اړه تول څه وایی. ښکاره ده چې هغه بریتا ته دمارسي په اړه همدومره څه ویلي شول چې مارسي نومې یوه نجلۍ دده سره محبت کاوه او ډیمونان په یوه ډول دده څخه لرې کړه او له ځانه سره یی بوتلله. هغه نه غوښتل بریتا ته دډیمونان څخه شکوه او شکایت وکړي ،په دې خاطر یی یوه کوچنۍ قصه له ځانه سره جوړه کړه....

په حقیقت کې قاسم د ابوجعفر څخه دمارسي د راز د را بربنډیدو وروسته دهغه څخه دانتقام اخستلو په فکر کې و. هغه د ایاصوفیاء دغه دویم ستر بطریق ابوجعفر یا ډیمونان واژه اوبیا یی دهغې تور په رومن کتولیک چرچ باندې ور اچاوه تر څو ددواړو کلیساو تر منځ داختلاف خلیج نور هم زیات کړل شي. په دې خاطر یی فکر کاوه چې تر هر څه لمړۍ بریتا په سهي لاره روانه کړي. هغه دمارسي په اړه یوه دردناکه قصه جوړه کړه. او فکر یی کاوه چې څه ډول یی بریتا ته واوروي، په همدې وخت کې ترې بریتا وپوښتل:

« تا خو تر اوسه پورې هغه تحفه ماته و نه ښووله. اخر هغه څه ډول تحفه ده چې ته یی له ماڅخه پټوې.»

قاسم به څه ویلي وې.دهغه سره هیڅ ډول تحفه نه وه. خوبریتایی په دې خبره خاموشه کړه چې « هو، هو، هرومرو به یی درته وښایم. خو دهغې د ښوولو نه مخته زه درته یوه په زړه پورې قصه اورول غواړم. اودا زما دخپل ژوند قصه ده.

بریتا سمدلاسه په یوه لمځې کیناسته. اوسترګې یی په پوره دلچسپۍ سره په قاسم ور ونښتې او ورته یی وویل: « هرو مرو یی راته واوروه. زه به ستا دقصې په اوریدلو ډیره خوشحاله شم.»

خو قاسم د خپلې جوړې کړل شوې قصې د اورول نه مخته ډیمونان ته د بلنې دورکولو خبره پښخول غوښتل. هغه دبریتا سترګو ته وکتل او ورته یی وویل چې زه خپله قصه هغه وخت درته اوروم چې ته به همدا نن د مقدس پلار د بلنې کار سرته رسوې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریتیا دهغه دخبرې سره موافقه شوه او په همدې ورځ یې ایا صوفیا ته د تللو اراده وکړه ، د تللو دمخه قاسم هغه تم کړه او ورته یې وویل: «ګوره ، چې ته اوس دمقدس پلار تر مخه زما یادونه و نه کړې. زه غواړم چې دهغه سره د مخکنې تعارف پرته ووینم.»

بریتیا سمدلاسه و درېده او د قاسم په لور یې په حیرانتیا سره وکتل. « مورګن ! څه خبره ده ؟....ته خو نن ډېر پراسراره شانته خبرې کوې. اول خو دې ماته هغه تحفه و نه ښووله ،بیا دې غوښتل خپله قصه دې راته واوروې ، هغه دې هم راته وا نه وروله ، او اوس ته دخپل نوم د پټولو خبره هم کوې.. را ته ووایه ، چې په زړه کې دې څه دي. زه ستا سره هر ډول تعاون ته تیاره یم. ته خو پوهیږې چې زه بل ورور نه لرم او تا دخپل کشر ورور په څیر پېژنم. ستا د نوم د یادولو پرته به زه هغه ته څنګه بلنه ورکړم. ته غواړې هغه ته د چرچ قیمتي تحفه نذر کړې او د همغې په خاطر خو زه دغه مقدس پلار ته د بلنې د ورکولو له پاره ورځم.»

قاسم په ډېره بده توګه را ننښتې و. هغه نه غوښتل چې بریتا د ډیمونان سره هغه د یو اجنبي میلمه په څیر یاد کړې ،هغه د ابوجعفر دشیطاني ذهن څخه پوره خبر و. نو که د جنګ په ورځو کې کوم اجنبي شخص ابوجعفر ته دمیلمستیا بلنه ورکړې نو هغه ته به هرومرو په دالو کې څه تور والې تر سترګو شي. په دې اساس قاسم دبریتیا څخه وپوښتل:

« نو ته به بیا .....ته به څه ډول ما هغه ته وروپیژنې ؟»

« دخپل ورور په څیر .... خو زه به ستا دشان د پورته والي په خاطر هغه ته خامخا دا ووایم چې ته ډېر شتمن او رئیس شخصیت یې.»

قاسم د بریتیا په دغه ساده فکر باندې و خندل اوهغې ته یې دتللو له پاره اجازه ورکړه. هغه چې په خپل ذهن کې کوم پلان جوړ کړې و دهغې پلې کول پیل شوي و.

دبریتیا دراتلو دمخه دهغه زوې « سلطان مراد » راغې. قاسم ورسره لوبې پیل کړې ، یو ساعت وروسته چې بریتیا بیرته راستنه شوه نو د ورایه په خندا وه ، کله چې ترې قاسم دهغې دخندا علت وپوښت نو هغې ورته وویل:

« زمونږه بلنه ومنل شوه ... د رومیل څخه ما لا دپخوا څخه اجازه اخستې وه. مقدس پلار به زمونږ په بلنه سبا شپه زمونږ سره د ډوډۍ خوړلو له پاره تشریف راوړي.»

قاسم هیله نه درلوده چې ډیمونان به دومره ژر دغه بلنه و مني. هغه داسې انګیرله چې هغه به دخپلو مصروفیاتو له مخې دې بلنې ته څو ورځې وروسته وخت ټاکي. اوس نو چې قاسم څه کول غوښتل باید ډېر ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې تر سره کړې وې. هغه سمدلاسه خپلې کوټې ته ولاړ او دخپل سامان څخه یې څه قیمتي اشرفۍ را وویستلې ، اوپه یوه کڅوړه کې یې واچولې اوبریتا ته یې د ورکولو له پاره راوړې.

« واخله خورې ! .... مقدس پلار ته ما بلنه ورکړې ده اوپه دې بلنې باندې به ټول مصارف هم زه ورکوم.» قاسم ډیره هڅه وکړه چې بریتا هغه اشرفۍ واخلي خو بریتا بې داخستلو څخه انکار وکړ او ورته یې وویل: « مونږ ته خجالت مه راکوه .... مونږ تا دد ې کور یوغړې او زه دې خپل ورور ګڼم. ته دا اشرفۍ دخپله ځانه سره کیږده.»

قاسم هغه اشرفۍ بیرته واخستې او په ډیرې محتاطې لهجې سره یې بریتا ته وویل: « اوس زه تیار یم چې تاته خپله قصه واوروم. که ته یې مناسبه وګڼې نوزه به درته دخپل زړه راز ووایم. زما قصه ډیره په زړه پورې هم ده او دردناکه هم ....»

قاسم قصدا دغسې تجسس پیدا کول غوښتل. د بریتا زوې بیرون په انګړ کې لوبې کولې اوقاسم دبریتا سره په برنډه کې په یوې لوبې چوکۍ ناست و، د قاسم د تجسس نه ډکې لهجې دبریتا په زړه پورې والې نور هم ورزیات کړې و. دهغه زړه درزیده او له ځانه سره په دې فکر کې وه چې : خداې خبر مورګن یعنې قاسم به هغه ته د څه قصه کوې... په دې خاطر یې قاسم ته وویل:

« هو ، هو ، ...... ولې نه...... ته ولې د دومره تکلف نه کار اخلې ؟ زه په پوره غور سره ستا قصه اوریدل غواړم.»

قاسم بریتا ته په ډیره مینه وکتل اوبیا یې ورته وویل: « خورې ! اصلا خبره څه دا ډول ده چې ما ته یې ستا تر مخ ویل د شرم احساس راپیدا کوي.....»

کله چې قاسم د خپلې درواغو د قصې دپیل کیدو دمخه دشرمیدو نوې اداکاري وکړه نو بریتا ورته په زوره زوره وخندل : « اوهو هو ! ته خو شرمیږې.... داسې څه خبره شوې ده چې ته پرې شرمیږې ؟....داسې بریښې چې زما د ورور په زړه کې کومه ماجبینه پټه شوې ده...»

بریتا دقاسم دهیلو سره سم خبره کړې وه. قاسم خپل سر د شرم څخه ټیټ کړ او بیا یې په همدې لهجه باندې وویل: « تا سهي درک کړې ده.... ریښتیا هم ما د یوې البانوی پیغلې مارسي سره ډیره مینه درلوده ، دا پیغله نه یوازې ښایسته او حسینه وه بلکه ډیره ذهینه او د پوهې خاونده هم وه... خو هغه زما څخه جدا کړل شوې ده...... اوس به ته ډیره حیرانه شې چې درته ووایم چې ستا همدې مقدس پلار ډیمونان هغه له ماڅخه را جدا کړې ده ......»

قاسم د خبرو په دوران کې لږ څه تم شو ،ځکه چې بریتا دحیرانتیا څخه ټوپ کړ اوپه لږ څه لوړ اواز یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« اوهو هو !.... داسې بريښې چې ته مقدس پلار دمخکې نه پېژنې.... دا خو ډېره بده خبره وشوه... ته خو ما هغه ته دخپل ورور په څير ورپېژندلې يې...اوس چې هغه له تاسره ووينې ، نوتابه وپېژني.. نو زه به هغه ته له تاسره د خپلې خپلولۍ کومه پېژندګلوي وړاندې کوم....»

خو قاسم هغه تسلي ورکوله او ورته يې وويل: « بريټا خورې ! ته مه انديښمنه کيږه.... ته خو زما د قصې د اوريدو دمخه وويريدې. اول خو ته زما خبره واوره ...... ډيمونان خو ماپيژني خو دومره مې نه پيژني چې زما هم مه خور لڼه شته او که نه. هغه دخپلولۍ اړيکې چې تا ښوولې هغه په خپل ځاې سهي دي.»

« خو که چيرې تا ډيمونان د پخوا څخه پيژنده نو زه دې دهغه دبلنې نه مخته ولې بې خبره پريښوم» زه خو درته همدا خبره کوم ... شايد چې تاته به معلومه وي چې دويم بطريق اعظم نژدې اوه کاله مخته د «اورنې، ابانيې او بوسنيا» په سيمو کې اوسيدلې دې ، دا دهغو ورځو خبره ده چې هغه په البانيه کې اوسيده او زه هم هملته وم. هلته ماته د يوې شاهي کنيزې مارتها د لور مارسي سره مينه پيدا شوه ، خو فادر ډيمونان د الباني پادشاه سکندر بيګ له پاره هغه له ما څخه يوړه. اودهغې مور مظلومه يې ووژله. خو مارسی د سکندربيګ خواته هم نه ده ور رسيدلې ، بلکه بې درکه شوې ده. دهغه وخته راهيسې اوه کاله تير شوي دي اوزه يې په لټه کې يم. زه په حقيقت کې قسطنطنيې ته دهمدې له پاره راغلې يم ، فادر ډيمونان ما ډير ښه پيژنی ،په دې خاطر زه نه غواړم دهغه مخې ته ورشم. زه غواړم چې ته په خپله خوښه دهغه څخه په دې اړه پوښتنه وکړې او دمارسي د درک د مالومولو هڅه وکړې....بريټا ، ته خو زما خور يې . اوخوېندې د ورونو له پاره هر راز قرباني ورکوي....»

بريټا دقاسم خبرې په ډير غور سره اوريدې. کله چې خبره پاې ته ورسيده نو هغې يو دم وويل:« واخله....دا کومه ستونزمنه خبره ده .... ته داسې پلانونه جوړوې ...زه به نيغ په نيغه د فادر ډيمونان څخه وپوښتم چې مارسی چيرې ده ،که چيرې فادر ته معلومه وي نو هرو مرو به يې ووايي...»

قاسم دبريټا په سادګۍ باندې وخندل ،ځکه د ډيمونان دذهن څخه خبره ويستل اسانه کار نه و،هماغه و چې قاسم دخپل ځانه جوړه شوی قصه د اول نه تر اخره پورې بريټا ته واوروله. په دې قصه کې داسې ډير ځايونه هم راغلل چې د بريټا دسترګو نه ورته اوښکې ولاړې. دقصې ټول مقصد همغه و چې قاسم مخته بيان کړې و. خو جزئيات او تفصيل يې ډير په زړه پورې و. اوبريټا په ډيره دلچسپۍ سره هغه اوريده. قاسم هغې ته دا تأثر ورکړ چې هغه ته د ډيمونان کرچار مشکوک تر سترګو کيږي..اوپه ډيره سنجول شوي توګه يې وويل:

« سهي ده. زه ستا په ټوله خبره وپوهيدم.اوستا له پاره دهر څه کولو ته تياره يم. خو په يوه خبره مې لا تر اوسه سر خلاص شوې نه دې چې زه د فادر تر مخه مارسي څه ډول را ياده کړم. اودهغه څخه حقيقت را وسپړم......اوته به څه کوې ؟ ...ايا ته په دې دعوت کې ګډون نه کوې ؟ که ګډون ونه کړې نو خبره به ټوله خرابه شي....»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبریټا پوښتنې په خپل ځاې سهي وې ، همغه و چې قاسم هم ورته ځوابونه وويل : « بريټا ، خورې ! ته ولې اندېښنه کوې.. زه به دډيمونان نه تر هغه وخته پورې پټ پاته شم ، ترڅو چې تا ترې د مارسی په اړه خبره نه وي را ویستلې. کله چې هغه دمارسي په اړه خبره وکړي ،زه به هم مخته راشم او په دعوت کې به ګډون وکړم اوخپله خاص تحفه به هم چرچ ته نذرانه کړم. زه ډاډمن يم چې هغه وخت به تاسې ټول زما ددې تحفې په کتلو سره حيران پاته شئ. پاته دا شوه چې ته به څه ډول د فادر ډيمونان تر مخه د مارسي خبره راو سپړې ..... نو واوره !...»

دا دخبرو هغه ځاې دې چې قاسم يې د ډيره وخته راهيسې انتظار کاوه. اودهمدې فکر په بنسټ يې ډيمونان ته د خوراک بلنه ورکړې وه. قاسم په خپلوکاليو کې لاس ور ننویست. يوه ډيره ښکلې ګوته يې راوويسته. چې په شنه غاړه يې د صليب نښه کندل شوې وه..... دا هغه ګوته وه چې مارتها خپلې لور مارسی ته ورکړې وه. اومارسي بيا په خپلې اخري ليدنه کې هغه ګوته قاسم ته ورکړې وه. قاسم دا ګوته بريټا ته ورکړه او په پلټونکي لهجې يې ورته وويل:

بريټا خورې !دا ګوته ماته مارسی پخپله راکړې وه،دا دهغې دمور مارتها ګوته ده. خو اوس به دا ته په ګوته کوې . کله چې ته د فادر ډيمونان تر مخه کينې نو هغه به ددې ګوتې په کتلو سره هرو مرو له تا څخه پوښتي ، خو ته دا ياد لره چې ته به ددې ګوتې په اړه هغه ته څه ځواب ورکوې.

قاسم چې خبره بس کړه . نوبريټا ترې په ډيرې پلټونکې لهجې سره وپوښتل: « هو !....راته ويې وايه چې زه به د فادر ډيمونان تر مخه ددې ګوتې په اړه څه وايم ؟»

اوس نو قاسم بريټا ته وويل: ته به فادر ډيمونان ته وايې چې دا ګوته ما د قسطنطنيې په بازار کې اخستې ده.... کله چې فادر ډيمونان ته دا محسوس شي چې دا ګوته ستا تر سترګو دومره ارزښتناکه نه ده او ته يې د قصې څخه بلکل بې خبره يې ،نوزه ډاډمن يم چې هغه به له تاڅخه دا ګوته وغواړي...ته بې شکه هغه ته ګوته ورکړه.... په دې توګه به هغه لمړۍ په خپله تاته دمارسي په اړه بيان وکړي اوکه هغه بيان ونه کړ نوبيا به هم مونږ زيان نه وې کړي ،ځکه چې مارسی ژوندۍ ده او فادر ډيمونان ته دهغې په اړه پوره پوره معلومات شته. هغه به دا ګوته هرومرو مارسي ته ور رسوي ، په دې توګه به مارسی ته هم ډاګيزه شي چې ګوته دکومه ځايه راغلې او څه ډول دې ته بيرته را رسيدلې ده.....او که ته غواړې نو د ګوتې د ورکولو دمخه په فادر باندې دا شرط ولګوه چې ددې ګوتې په اړه درته قصه وکړي....

داخو نيغه خبره ده.....نه ستونزمنه او نه نغښتې.....ايا داسې کولې شې ؟ زه ډاډمن يم چې هغه به هرو مرو څه ووايي. اوزه به يې ددغې دريڅې څخه د اوريدلو هڅه وکړم....اويا به يې وروسته له تا څخه وپوښتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم په دې پوهیده چې ډیمونان د چې د کوچني والي څخه د مارسی کورته راته او دمارتها سره یی ډیر ژور اړیکي درلودل نو هرو مرو به دمارتها داګوته وپیژني. اوکله چې بریتها په دې اړه خپله بې خبري څرګنده کړي او ورته ووایی چې دا ګوته یی په بازار کې رانیولې ده. نو هغه به حیران پاته شي او که چیرې تر اوسه پورې یی د مارسي سره اړیکي وجود ولري نو په ډاډمنه توګه به د ا ګوته مارسي ته د ورښولو له پاره تر لاسه کړي... اوهمدا به هغه وخت وي چې بریتها ترې د مارسی په اړه خبره را برسیره کړي. اوس نو بریتها هم په دې مسئله کې ډیره دلچسپي پیدا کړې وه ، هغه په ټول پلان پوه شوې وه اودقاسم سره یی د پوره کومک لاس ورکړې و.

د بلې ورځې دشپې پورې وخت په قاسم باندې ډیر سخت تیر شو ، نن رومیل هم دهمدې دعوت په خاطر کورته وختی راغلې و. بریتها هم د ډیمونان دخوراک له پاره تر ټولو ښه غذا تیار کړې وه.تر څنګ یی دمقدس پلار د راتلو په خاطر خپل کور هم ډیر ښایسته کړې و ، هغه د ډیمونان د ناستې له پاره په هغه خونه کې ځاې جوړ کړ چې په ترڅنګ کمره کې یی د ډیمونان خبرې په ډیره ښه توګه اوریدل کیداې شوې. ځکه په منځنې دیوال کې د لرګي یوه دروازه وه اوهغې قاسم ته ددې دروازې په اړه ویلي و. قاسم هم پوره ډاډمن شوې و چې بریتها ورسره پوره مرستې ته ملا تړلې ده.

دلمر د پریوتو لږ څه دمخه ، قاسم چاته د څه ویلو پرته د رومیل د کوره ووت. او دکلي څخه لږ څه لرې د کجورو د ونو تر شا و درید. هغه کولې شو دد ې ونې د تنې څخه د اړتیا په وخت کې ډیمونان تر څارنې لاندې ونیسي. د ونې سره دهغه د دریدو انداز بلکل عام اوساده شانته و.

هلته په کور کې رومیل د بریتها څخه وپوښتل : « اوهو !.... مورګن چیرې ولاړ. هغه خو تر اوسه پورې همدلته ولاړ و ....»

« هغه د اړتیاوړ سامان د اخستلو له پاره وتلې دې. ژر به بیرته راستون شي.»

بریتها په دې پوهیده چې قاسم د څه له پاره ددې ځآیه ولاړ. بریتها د مقدس پلار ډیمونان دراتلو تر مخه په ځان اوبه تیرې کړې ، پاک کالی یی واغوستل او ځان یی پوره ښایسته کړ ، تر څنګ یی د ښې لاس په ګوته یی دمارسی ګوته ور ننویسته. هغه تیاره شوه اوبیرته کمرې ته راغله. نو رومیل ترې په خندا کې وپوښتل:

« واه قسمته !....نن د مقدس پلار د راتلو په خاطر مونږ ته هم ستا دښایست او ښکلا دکتلو چانس تر لاسه شو...»

بریتها ورته په خندا شوه . خو رومیل دهغې په ګوته باندې ددې نوې ګوتې په کتلو ورڅخه وپوښتل : « اوهو ! ...دا څه دي ؟ دا دومره ښکلې ګوته دې د کومه کړې ؟..... ایا اخستې دې ده ؟ ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریتها سمدلاسه ګوته د بل لاس په ګوته پاکه کړه او ویې ویل: « هو ! په ډیر مناسب قیمت مې را نیولې ده. ما یې چې کله ښایست وکوت نو را ومې نیوله.»

نن د رومیل زوې سلطان مراد هم د باغونو شهزاده معلومیده. بریتها د ډیمونان له پاره ډیرښه خوراکونه جوړ کړي و. په هغوې کې د اوزې د وریتوکړو ورنونو څخه نیولې د مرغابیو تر وریتو غوښو پورې هر څه موجود و.

دلمر د پریوتو څخه لږ شیبه وروسته د ایاصوفیا دسپنیوپردو لرونکې مخصوصه ګاډی، درومیل دکور مخې ته ودریده ، لا تر اوسه پورې تیاره دومره نه وه راخپره شوې ، قاسم د ونې د ډډ تر شا دمیلمنو جایزه اخسته. تر هر څه لمړی دوه ځواني راهباني دګاډی څخه راکیوتې اودهغوې تر شا چې کوم شخص د ګاډی څخه خپله پښه لاندې کیښوده نو دهغه په کتلو سره دقاسم ټول حسونه سره را ټول شول. دقاسم هر رګ د قهر اوغصې څخه رپیده. دهغه تر مخه دهغه پخواني دښمن ابوجعفر ولاړ و ،که هغه غوښتلې نو هغه کولې شو چې مخته راشي او خپل دښمن ابوجعفر هملته له منځه یوسي. خو دصبر څخه یې کار واخست.

ابوجعفر بطریق په ډیر ښه لباس ملبس و. دا د ایاصوفیا مخصوص لباس و. دابوجعفر سره راغلې دواړه ځواني راهباني هم د ایا صوفیا په مخصوص لباس کې را نغښتې وې. دهغوې په سرونو باندې د سور رنګ سکارف ( دستمال ) تړلې و. اودهغوې د حرکاتو څخه ځرګندیده چې هغوې د ابوجعفر سره کارونکې اودهغه دخاصو راهبانو څخه دي. دوې ټول دننه ولاړ ل. د چرچ خاصه بګی، د رومیل دکور تر مخه ولاړه وه. د بګی کوچوان څو قدمه مخته ولاړ اوخپله بګی یې په یوه ازاد ځاې کې و دروله ، اود بګی د اخري برخې څخه یې شنه واښه را وویستل او دبګی آسونو ته یې واچول ، دا بګی دوه تکړه اوغښتلو آسونو پورې تړلې وه. دوې ټول دننه ولاړل اوددهغوې ددننه تللو څخه پوره وخت تیر شوې و، په دې وخت کې قاسم هم د هغې ونې د ډډ څخه په ډیر احتیاط سره راووت ، قاسم په ډیره بې پراهی سره مخته راغې او درومیل ددروازې شاته را ورسید. اوبیا په ډیره بیړه ډیوډی ته ورننوت. لا تر اوسه د ډیوډی مشال نه و روښانه شوې. قاسم د یوه کونج څخه د دننه ځاې څارنه وکړه ، ټول خلک په خونه کې په خپلو خپلو ځایو ناست و . قاسم په پوره احتیاط سره ولاړ او تر څنګ خونې ته و رننوت.دلته هم لا تر اوسه پورې مشال نه و روښانه شوې. خو دمیلمنو خونه د درې څلورو چراغونو په واسطه روښانه شوې وه. ددې ځایه دمیلمنو دخبرو اوازونه په پاکه توګه تر غوږو راتلل.

قاسم د یوې دروازې د سورې څخه هغوې کتلې شول. په دې خونه کې ډیمونان ، دهغه راهباني ، رومیل او بریتها ټول ناست و. د سولتېن په لاسو کې د ګلونو یوه ګیډی وه چې لږ وروسته یې دمقدس پلار تر مخه وړاندې کړې وه اودهغه نه یې ډیره مینه تر لاسه کړې وه. قاسم هغه وخت ډیر ډاډمن شو چې ویې کتل چې بریتها بلکل اندیښمنه نه ده. او په ځانګړې توګه هغه وخت کې ، چې ډیمونان ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« اوهو ! زمونږ د ګراني لور بريټا هغه شتمن او رئيس ورور چيرې دې چې دمقدس جنګ له پاره مونږ ته نذرانه راکول غواړي او دچا له پاره چې مونږ دغه بلنه منلې ده ...»

روميل په بيړه ځواب ورکړ « مقدسه پلاره ! مورګن د بريټا کوچني ورور دې ..... مونږ فکر کاوه چې ستاسې په راتلو کې به پوره ځنډ راځی ، په دې خاطر هغه د څه سامان داخستو له پاره بازار ته تللې دې. خو تاسې ډيرژر را ورسيدئ په دې خاطر مونږ ستاسې تر مخ دمورګن په نه موجوديت باندې خجالت باسو .

« نه زويه !... تاسې ته د خجالت د ويستلو اړتيا نه شته .... هيڅ خبره نه ده ... مونږ به دهغه انتظار وکاږو .»

کله چې ډيمونان دا خبرې کولې نو بريټا قصدا د مارسي ګوته په خپلو ګوتو کې خوځوله ، په ښکاره توګه هغه داهر څه دارادې پرته ترسره کول ، دډيمونان سترګې سمدلاسه د مارسی په ګوته و نښتې ،خو اول يې څه خاص محسوس نه کړل ، بريټا د ډيمونان تر مخه په پوره ادب او درنښت سره ناسته وه . قاسم په زړه کې بريټا ته دعاوې کولې ، خو لږ شيبه همغه څه وشول چې ګمان يې کيده . د ګوتې دبيا بيا خوځولو په اساس دډيمونان فکر د يادونو پخوانيو دريچو ته ولاړ . او يو ناڅاپه يې په ذهن کې څه را وګرزيدل . هغه ته د مارتها ګوته را په زړه شوه .....

اوهو !... دا خو هماغه ګوته ده چې البانوي کنيزې مارتها به هر وخت په ګوته کوله .... داسې انګيرل کيده چې هغه ته دپخوانيو وختو قصې را په ياد شوې دې . دهغه دماغ سخت ټکان وخوړ . او په حيرانتيا سره يې د ګوتې په لور کتل پيل کړل . هغه په دې فکر کې ونښت چې د مارتها ګوته د بريټا لاسو ته څه ډول راورسيده . دهغه شاطر ذهن يو ناڅاپه سيخ شو او د بريټا دغه بلنه يې د يوې بلې زاويې څخه هم و څارله . خوبيا يې هم صبر و نه شو اوبلاخره يې د بريټا څخه وپوښتل:

« ګراني لوري ! .... زه وينم چې د خپل لاس دګوتې سره په پرلپسې توګه لوبې کوې ،داسې بريښې چې دا ګوته درته ډيره ګرانه اومحبوبه ده ..»

د ډيمونان د پوښتنې انداز دهغه دشيطاني ذهن غمازي کوله . بريټا په خپلو هڅو کې بريالۍ شوې وه . ډيمونان دمارسي ګوته پيژندلې وه . بريټا د ډيمونان خبرو ته بلکل عام اومعمولي ځواب ووايه .

« مقدسه پلاره ! ..... ددې ګوتو د اخستو يوازې څو ورځې کيږي ، زما په ګوته کې لږ څه تنګه ده . په دې خاطر يې کله کله هسې بې له فکره دسهي کولو هڅې کوم . .....زه دخپل دغه حرکت په اړه بښنه غواړم»

اوس نو بريټا د ګوتې خوزول پريښول ، او د ډيمونان سره د راغليو راهبانو په لور يې توجه وکړه . خو دډيمونان ذهن په پوره توګه د مارسي د ګوتې سره را نښتې و . بريټا ورته ددې ګوتې د اخستو خبره کړې وه په دې اساس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو جعفر ټول غیر ضروري شکونه لرې شول. خو اوس هغه په دې فکر کې شو چې دا ګوته دلته قسطنطنیې ته څه ډول را ورسیده. اوبیا څنګه بریټا ته ترلاسه شوه. هغه ټول هر څه له یاده وویستل او ذهن یې د اوو کالو پخوانیو یادونو لور ې ته ولاړ. بریټا د نوو ځوانو راهبانو سره په خبرو کې بوخته وه. په همدې وخت کې ترې ډیمونان یو ځل بیا وپوښتل:

« لورې ! که زه له تا څخه څه وغواړم.... نو ایا ته به یې مونږ ته عنایت کړې ؟»

رومیل دډیمونان دخبرې څخه نا ارامه شو او دبریټا ګوتې ته یې په غور سره وکتل. خوبریټا په ډیره ښه توګه ډیمونان ته ځواب ورکړ.

« ولې نه !مقدسه پلاره !ددې مقدس جنګ له پاره زه خپل ځان قربانولو ته هم تیاره یم.... تاسې حکم وکړئ»

« ماته د مقدس جنګ له پاره نه ، بلکه د خپل ځآن له پاره یو څه په کار دي »

رومیل اوس د پخوا څخه نور هم زیات حیران پاته شو . هغه په دې فکر کې شو چې اسماني پلار ته خو په نړۍ کې دهیڅ شي اړتیا نه پیښیږي ، بیا دا بشپ دبریټا څخه څه غواړي. په همدې وخت کې بریټا یو ځل بیا خپله خبره تکرار کړه.

« مقدسه پلاره !.....تاسې زمونږ له پاره اسماني پلار یاست. دخپلو دنیاوي بچیانو څخه څه غواړئ ؟ زه ددې غوښتنې له پاره په پوره نا ارامۍ سره انتظار کوم»

ډیمونان سخت را ننښتې و . بریټا هم همداسې خبره کړې وه چې هغه پرې حیران کړي.دا سهي وه چې د یوه راهب له پاره چې ددنیوي مسایلو سره هیڅ ډول اړیکي نه لرى نوبیا هغه دبریټا څخه څه غواړی. خو ډیمونان دبریټا څخه دګوتې دغوښتلو په اړه اخوا دیخوا کیده. ځکه دا د ښځینه ګوتې له پاره جوړه شوې یوه کوچنۍ ګوته وه. او دفکر وړ خبره وه چې د یوه نارینه راهب له پاره به دداسې ګوتې سره څه دلچسپې وي.. حال داچې نارینه راهب یوې خوا ته ، د چرچ راهباني ښځې هم زیورات نه اغوندي. اوبیا هغه ته د مارسې ددې ګوتې د غوښتنې هیڅ جواز نه و چې هغه ددفاعې خزانې له پاره کومکونه راغونډوی. خو هغه پخپله بریټا ته ویلي و چې هغه دخپل ځان له پاره ترې یوڅه غواړي.... دبله اړخه دا ګوته دومره ارزښتناکه هم نه وه چې ددفاعې خزانې له پاره یې ترې وغواړي. هغه په همدې فکر کې و چې دګوتې خبره څه ډول رامنځته کړي....د لږځنډ وروسته یې اوږده ساه واخسته اوبیا یې په خندا کې وویل:

« په اصل کې ستا داګوته زما له پاره د ډیرې دلچسپۍ سبب ده. لمړۍ خو راته دا ووایه چې دا دې د کومه ځایه اخستې ده ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



رومیل په پرلپسې توګه په حیرانتیاو کې ډوب پاته و. هغه دخپلې ښځې بریټا په لور په پلټونکو سترګو کتل، بریټا وویریده ..... هغې به څه ویلې وای چې ګوته یې دکومه ځایه اخستې ده. خو خپله اندیښنه یې پټه کړه او سمدلاسه یې وویل: «دا ګوته ما تیر کرسمس د غیر ملکې سوداګرو څخه په یوه دکان کې اخستې وه. مقدسه پلاره ! په دې کې به څه راز وي ؟»

«ددې ګوتې ځانګړتیا داده چې دا یسوع مسیح دیوې ریښتونې خدمتګارې ګوته وه ..... او هغه دیسوع مسیح په دین باندې قربان شوې ده ....یعنې شهیده شوې ده ... دهغې نوم مارتها و. او هغې یوه لور هم درلوده .....»

ډیمونان دهمدې خبرې وروسته خاموشه شو او دقاسم ساه دهغې په سینې کې ګرمیده. قاسم غوښتل چې ډیمونان ژر تر ژره د مارسې په اړه څه نورې خبرې هم وکړي. په بې صبرۍ سره یې اړخه بدلاوه را بدلاوه. د بله اړخه بریټا هم نا ارامه وه. ځکه چې ډیمونان د مارسې په اړه په خبرو خبرو کې تم شوې و. بلاخره بریټا په خپله ترې وپوښتل :

« مقدسه پلاره !.... ماته خو دومره نه وه معلوم چې دا ګوته به دومره عظیمه او ستره و خیژي. مقدسه پلاره ! زه داګوته تا ته نذرانه کول غواړم. خو که تاسې را ته په دین مسیح باندې دقربان شوې مارتها په اړه لږ څه هم ووایاست. ځکه تاسې دهغې د یادولو وروسته خاموشه شوئ.. زه هم دیسوع مسیح وینځه یم. تاسې ماته دهغې عظیمې ښځې او دهغې دلور په اړه هرو مرو څه ووایاست. »

ډیمونان د بریټا دخبرو د اوریدو وروسته په ژورو سترګو هغې ته کتل. دهغه په سترګو کې مکاران ځلا راپیدا شوه. معلوم نه ده چې هغه په کومو فکرونو کې ډوب و خوبیا یې هم د لږ شیبه خاموشۍ وروسته یوه اوږده ساه واخسته او وویې ویل:

« دهغې لور مارسې هم د خپلې مور په څیر د عیسوی دین ریښتونې خادمه ده ...او د ایا صوفیا مقدسه راهبه ده. ما همغې راهبې ته د تحفې په خاطر دغه ګوته له تا غوښتې ده ..»

ډیمونان د شونډو لاندې په خندا کې دا خبره وکړه .. دهغه دخبرو په واسطه بریټا او رومیل دواړه سخت متوجه شول ، بریټا ترې په حیرانتیا سره وپوښتل:

«څه ؟؟ ..دایاصوفیا مقدسه راهبه ؟.... دهغې څه نوم دې ؟.... مقدسه پلاره ! زه دهغې عظیمې مورد لور او د سترې مارسې زیارت کول غواړم.....»

« سسټر میري .....دهغې نوم سسټر میري دې. دتیرو اوو کالو راهیسې مارسې په ایا صوفیا کې دراهبې په څیر دنده تر سره کوي ... خو دلته هغه دمارسې په نوم څوک نه پیژني ، ټول ورته سسټر وایي. .... یوازې څو پخوانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته دهغه پخواني نوم معلوم دي. د چرچ نورې راهبانې ورته سستر ميري وايي اودا دهغې مذهبی نوم دې ......

دډيمونان دخبرو دپای ته در سيدو سره سم بريټا ترې په ډيرې جذباتي توګه وپوښتل:« اوه !....بې چاره سستر ميري !..... زه به دا ګوته خامخا دهغې په خدمت کې د وړاندې کولو له پاره تاسې ته نذر کړم»

خواوس د ډيمونان سره دراغليو راهبانو په سترګو کې حيرانتيا او استعجاب را ځليده. بريټا د همدې خبرو په وخت کې دخپلې ګوتې څخه دمارسی ګوته را وويسته اوپه لاس کې يې و نيوله. بيا پاڅيده اوپه ډير درنښت سره يې هغه ګوته ډيمونان ته وړاندې کړه. ډيمونان هم په ډيره احساساتي توګه دمارتها دغه يادداښتي ګوته واخسته.

د لږڅه وخت لپاره په خونه کې پوره پوره چوپتيا حاکمه وه. بيا ډيمونان په خبرو پيل وکړ او د مارسي اومارتها ټوله قصه يې بريټا او په خونې کې ناستو خلکو ته تکرار کړه ... دا هغه نازکه وخت و چې قاسم د څنګ دکوټې څخه وتلې و . هغه ، هغه وخت چې دمارسي نوم يې دسستر ميرې په نامه واوريد نو د کوټې څخه ووت. کله چې دهغه غوږونو قسطنطنيې ته دمارسی دژوندی اوسلامته رارسيدلو خبر واوريد نو په وجود کې يې د جوش او احساس په خاطر لړزه راغله.

د خپل محبوب څخه د لرې کيدو غم او درد نن يو ځل بيا را څوان شوی و . ځکه ، هغه د مارسی ډيره زياته مينه اومحبت کاوه. د هغه په فکر کې هم نه وچې مارسي په قسطنطنيې ته ژوندۍ او سلامته را رسيدلی وي هغه داسې انګيرله چې هغه يې اوه کاله دمخه البانيې ته وړې ده اوبيا هملت چيرې بې درکه شوې ده. خو کله يې چې واوريدل چې مارسي دقسطنطنی د اياصوفيا په چرچ کې ده نو د بدن ويښتان يې ودريدل .... هغه اوس دخپلې مارسي سره کتلې شول..... مارسي چې کله دهغه سره ووينی نو څه ډول احساس به کوي. همدې دردناکه پوښتنو هغه سرشاره کړې و . اوس نو هغه ته د څنګ په خونه کې د کيناستو اړتيا نه وه. هغه سمدلاسه راپورته شو اوپه پوره احتياط سره نه يوائې د کمرې څخه بلکه د ټولې حويلۍ څخه بيرون را ووت. اوس يې خپل بل قدم اخست .اوبل قدم يې لږ څه وروسته را ډاګيزه کيدونکې و .

دبله اړخه هلته په خونه کې هغه نازکه حالات را مخته شوي و چې دبريټا ترمخ يې د قاسم ټولې پټې را بربنډې کړې وې. قاسم خو تللې و خو د مارسی د اصلی قصې په اوريدلو سره دبريټا دپښو څخه زمکه بيرون تللې وه. قاسم ددومره اوږده پلان د جوړولو په وخت کې دا خبره له ياده ويستلې وه چې کله چې ډيمونان بريټا ته دمارسي اصلي خبره وکړي نو دقاسم ټول رازونه به را بربنډ شي. او اوس خوبريټا ټوله قصه اوريدلې وه. ددومره ستر راز د خبريدو وروسته دهغه بدن ټول لړزيده او سر يې په ګرزيدو راغلې و. هغه د ډيمونان څخه اوريدلې و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څه ډول مارسی د یوه مسلمان عسکر قاسم بن هشام  په فریب کې راغلې وه  ، ډیمونان ورته دا هم ویلي و چې په لمړیو کې هغه مارسی  له ځانه سره  راتښتولې وه  ، خو تر څنګ  یی  ډیرې  نورې خبرې   پټې کړې وې . دنمونې  په توګه  دا  یی ونه ویل چې  هغه په « اورنه » کې شل کاله د ابوجعفر  په نامه  اوسیده  ، بلکه برعکس ډیمونان خپل ځان د اورنه  د یو پادري په څیر  و ښود .  او دا  یی وویل  چې  هغه وخت هغه په  اورنه کې  دباج ورکونکو اوعیسویانو دپادري په څیر  هلته اوسیده .

تر اوسه پورې بریټا په دې فکر کې وه چې هغه ددې خلکو تر مخه د مورګن راز  را  برسیره کړي اوکه نه. په همدې وخت کې  د کور  دروازه   چا و ټکوله.  په خونه کې ټول  خلک  سخت  متوجه  شول  ، په دې وخت ډیمونان  په حیرانتیا سره وویل: « ایا ستا  ورور  کور ته د راننوتلو په وخت  دروازه  ټکوي اوبیا راځي ؟»

ددې پوښتنې په ځواب کې بریټا  او  رومیل دواړه حیران پاته شول. رومیل  سمدلاسه پورته شو او دکور  ددروازې په لور ولاړ تر څو ووینې چې څوک راغلې دې ؟  خوبریټا تر اوسه هم په مخمصې کې راګیر وه. هغې دا فکر کاوه چې  په دغه څنګ  کوټه کې مورګن پټ ناست دې د بله اړخه دهغه ټول راز را برسیره شوې دې ، له ځانه سره  یی فکر وکړ  چې هسې نه چې  ..... مورګن د خپلو رازونو د رابرسیره کیدو وروسته وتلې وي ، هغه ډیره خفه او غمژنه هم وه ځکه مورګن  ورته  خور ویلې و.او په همدې خورولۍ کې یی  ورته دروا غ  ویلی و اودخپل  مقصد  له پاره یی ترې کار اخستې و . بریټا د وینې غړپ کړې و . خوپه خوله یی د څه ویلو  جرءت نه کاوه. لږه شیبه وروسته رومیل بیرته راستون شو ، دهغه په لاسو کې یوه زیړه ځرمنیزه لفافه وه ، دا د بازنطینی دربار ځانګړې لفافې وې چې د پیغاماتو د لیږدلو له پاره به یی ا ستعمالولې. ډیمونان د ځرمی  لفافې  په کتلو سره حیران شو  اوسمدلاسه یی د رومیل څخه وپوښتل: « دا څه دي ؟.... د ا خود  شهنشاه له اړخه پیغام ښکاري ؟....چاراوړ ؟»

ډیمونان ډیر بې صبره شوې و . رومیل لفافه ډیمونان ته ورکړه او ویی ویل:

« ستا کوچوان ته کوم سپاهي ورکړې وه .»

ډیمونان ته په لمړي ځل دا ډول  اتفاق ور په برخه شوې و چې د قسطنطنیی پادشاه هغه ته په ځرمي لفافه کې لیک ور  استولې و . هغه  په دې کار ډیر حیران هم و . ځکه چې دا ډول لفافې  به  هغه  ته  ددربار څخه  اوه کاله مخکې  هغه  وخت  چې هغه په اورنه کې  و  راتلې. سمدلاسه یی لفافه پرانسته ، اودهغې څخه یی ځرمنې کاغذ را وویست  او ژر ژر  یی ولوست. دا ریښتیا هم د شهنشاه  پیغام و . که څه هم  مهر  یی لږ څه پخوانې شوې و  خو د لیک په پای کې اصلي مهر لګیدلې و . په لیک کې راغلی و:

مقدس پلار ، ډیمونان !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شهنشاهي پيغام دې ، چې ته همدا اوس ، په همدې وخت کې دقسطنطنيې د شهنشاه قيصر ، قسطنطين ، په خدمت کې حاضر شې ، په ډېرې مهمې او پټې مسئلې باندې د خبرو له پاره تاسې دلته را بلل کيږئ.

فقط

شهنشاه قسطنطين

دډيمونان ذهن د حيرانتيا څخه نور شکيده ..... څکه تر ننه پورې ورته داسې کوم پيغام نه وراغلې. لمړی خو دشهنشاه قاصد د ډيمونان سره د کتلو نه مخته بيرته نه ستنيده. اوبيا دا لمړی ځل و چې شهنشاه هغه په دا سې بيړه خپل ځانته باله. خو ځرميزه لفافې او د شهنشاه مهر دا ډاګيزه کوله چې ليکنه ريښتونې ده. ډيمونان يوه لمحه هم ځنډ مناسب و نه ګاڼه او را پاځيد ، هغه د خوراک له پاره روميل او بريټا څخه ښښه وغوښته اوبيا يې د شهنشاهي پيغام عذر وړاندې کړ او دهغوې څخه يې د تللو اجازه واخسته اودخپلو ښځينه راهبانوملګرو سره يو ځاې د شهنشاه دمحل په لور روان شو.

دا چې ماښام څه وخت شروع شوې و او شپه څه وخت پيل شوې وه ، خو کله چې ډيمونان دخپلو راهبانيو سره د روميل دکوره ووت نو په کوڅه کې پوره تياره خپره شوې وه. کوچوان دکليسا د ځانګړې بګۍ ددروازې سره تيار ولاړ و. ډيمونان د کوچوان ددې تيار دريدو په اړه هغه ته په زړه کې افرين ووايه. او کوچوان ته يې د څه ويلو پرته د بګۍ شاتنۍ پرده پورته کړه اوپه بګۍ کې سپور شو ، راهبانې هم دهغه سره يو ځاې سپرې شوې. ډيمونان په ګاډۍ کې د کيناستوسره سم کوچوان ته په لوړ اواز وويل :

« د شهنشاهي قصر په لور ولاړ شه »

بګۍ د قسطنطنيې په سړکونو ځغليده. ډيمونان نن د پخوا څخه ډير نا ارامه و. نن دهغه شپږم حس هغه د نامعلومه پيښو څخه خبراوه .او اوس دمارسي د ګوتې او د شهنشاه د ليک وروسته خو هغه نور هم ډير احساساتی او نا ارامه شوې و.

ناڅاپه يې احساس وکړ چې دهغه دغه دپردې بګۍ په کوم وران سړک باندې ځغلي. ډير زيات انديښمن شو او ويې ويل...دا څه دي ؟..... کوچوان مونږ کومې لورې ته راوړو ؟ دا سړک خو دشاهي محل لورې ته نه ورځی. بلکه د ښار اسيايی برخې ، کومې لورې ته چې ابنايی فاسفور س دې ، ور ځې ، ددې لورې خو قسطنطنيی ته کوم ګواښ نه دې متوجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دډیمونان بګۍ اسونو د هوا سره خبرې کولې او په همدې لورې روانه وه. ډیمونان ډیر وارخطا شوې و.او اوس هغه دا محسوسوله چې دهغه شپږم حس دکومو خطراتو په اړه هغه ته خبر ورکاوه. هغه په ډیره اندیښنه د ګاډۍ کوچوان ته ورغږ کړ..کوچوانه... کوچوانه....کوچوانه.... !»

خو که کوچوان واې نو دهغه غږ به یې اوریدلې واې. دهغه کوچوان اوس په دنیا کې موجود نه و. دهغه لاش د نوي کوچوان تر پښو لاندې پروت و.

اوس نو ډیمونان کوچوان ته غږ کول بند کړل اوخپل خنجر یې را وویست. اوغوښتل یې ددې خنجر په واسطه د کوچوان کار و خلاص کړي. هغه په روانې ګاډۍ کې دخپله ځایه پورته شو اود بګۍ مخکینۍ پرده یې څیرې کړه . په دې وخت کې ددواړو راهبانیو رنګ د زیړ لرګي په څیر ژیړ شوې و ، ډیمونان د بګۍ مخکنۍ پرده و څیرله اوغوښتل یې د کوچوان پورې ځان ورسوی. اوغوښتل یې د شا له اړخه پرې حمله وکړي. خو څرنګه چې کوچوان په دې وخت کې قاسم و ....اوهغه ددې ټول پلان جوړونکې و نو په دې اساس ددې کار څخه لا تر مخه خبر و. کله چې ډیمونان دشا له اړخه په قاسم باندې وار وکړ نو قاسم یوې لورې ته ښکته شو او د ډیمونان ګذار خطا ولاړ. خو ډیمونان پخپله دقاسم په خواکې راپریوت ، قاسم سمدلاسه په خپل ښي لاس دهغه څټ راتاو کړ ، اوس نو بګۍ هم د ښار دیوال ته ورنژدې شوې وه. قاسم سمدلاسه په خپل چپ‌لاس د بګۍ داسونو واګې راښکودې او لږه شیبه وروسته بګۍ تم شوه. قاسم د ډیمونان څټ دومره سخت نیولې و چې ډیمونان و نه توانید په هغه باندې دخپل خنجر بل ګذار وکړي. قاسم خپل مخ په تور نقاب کې پوښلې و. په دې خاطر ډیمونان قاسم و نه شو پیژندلې. کله چې بګۍ و دریده نو قاسم د ډیمونان د خنجر لاس و مروړه ، د ډیمونان خنجر د بګۍ په منځ کې ولوید....راهبانې دومره ویریدلې وې چې ددې ځایه دوتلو اوتیښتې هیمت یې هم له‌لاسه ورکړې و. اوبیا داټول هر څه په ناڅاپي توګه مخته راغلي و.

قاسم د ډیمونان څټ په همغسې سختۍ سره نیولې و ، د بګۍ څخه یې را ښکته کړ او د دیوال په لور یې ورټیل واهه ، هلته ددیوال د تیږې سره د ډیمونان دسر دلګیدو نه وروسته ډیمونان همملته لاندې پریوت. اوس نو قاسم خپله توره راویستلې وه. معلومه نه ده چې دقاسم توره به د څومره کالو راهیسې د ډیمونان وینو ته تږې وه ، دهغه ډیمونان ، چې شل کاله هلته د عثماني سلطنت د ستر خطیب په څیر یې په سلطنت کې دبغاوتونو د راپارولو له پاره هڅې کړې وې او مسلمانانو ته یې فریب ورکړې و اوبیا یې د قاسم ورندار سکینه دهمدې بغاوتونو په پایلو کې شهیده کړې وه. دقاسم په ذهن کې دهغه ټول جرمنونه را ګرزیدل خو دډیمونان د ژولو تر مخه قاسم دواړه راهبانې د بګۍ څخه را ښکته کړې او د ډیمونان سره یو ځای د ښار دیوال ته و درولې. اوس هغه غوښتل ابوجعفر ته د مرګ سزا ورکړي خو په هغه یې دپریکنده وار کولو نه مخته دخپله مخه نقاب پورته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو قاسم د ډیمونان مخته ولاړ و.... دواړه پخواني اشنایان داوو کالو وروسته یو دبل مخې کې ولاړ و . ډیمونان سمدلاسه قاسم و پیژانده ، بیا ورته قاسم وویل:

« ابوجعفره ! .....ته به په یقین سره ما پیژنې ،ماتاته ویلي و چې ستا مړینه زه په خپله توره لیکم. اوس ګوره ، زه دخپلې ژمنې د پوره کولو له پاره ستا ښار اوستا کور ته راغلې یم..... اوستا تر مخه ولاړ یم... داخري ځل له پاره دخپلو ګناهونو څخه توبه وکړه. ځکه چې ستا ګناهګانې ډیرې زیاتې دي ، شوني ده چې ددې توبې په واسطه به یې څه در ته وبښل شي.»

د ډیمونان ټول جسم سخت لړزیده. ځکه نن ورته دخپلې مړینه په اړه سل په سله ډاډ ورپه برخه و. هغه دقاسم په مخکې په ژړا او فریاد سره وویل:

« قاسم بن هشامه.....دخداې له پاره ما مه وژنه.... ماته بښنه وکړه... ته چې له ماڅخه څومره دولت اوشتمني غواړې زه یې درکولو ته تیار یم خو ماته بښنه وکړه....»

خو قاسم دلته د ذاتي بدلې اخستلو له پاره نه و راغلې. او ه راغلې وې نو دهغه د ژړا اوفریاد په واسطه به یې هغه ته بښنه کړې وې. هغه خو د یوه ډیر ستر مقصد له پاره دلته راغلې و. اوهغه د ډیمونان په وژلو سره تر سره کیده. قاسم دډیمونان د ژړا اوفریات لورې ته هیڅ توجه و نه کړه اوپه یوه ګذار یې دډیمونان کار پاې ته ورساوه. د ډیمونان سره لاندې د ښځینه راهبانو په پښو کې ولوید. هغوې یو وارې چغې اوسوری جوړې کړې ،اوس نو قاسم ته یو ناخوښه کار کول هم ور په غاړه و. هغه باید دغه دواړه ښځینه راهبانې هم له منځه یوسي ځکه چې دهغوې څخه دراز د راڅرګندیدو ویره وه..... په همدې اساس یې زړه سخت کړ اودواړه ښځینه راهبانې یې هم یوپه بل پسې له منځه یوړې. بیا یې دهغه ځایه د راستنیدو نه مخته د ډیمونان کالي ولټول اودمارسی ګوته یې ترې بیرته راواخسته ، ددې وروسته قاسم یوډیر عجیبه کار وکړ ، دخپله جیبه یې د رومن کتولیک یو صلیب راوویست ، دا صلیب د سرو زرو څخه جوړ شوې و. هغه یې د ډیمونان په لا س کې داسې و رکړ لکه د مړینی څخه مخته چې ډیمونان دقاتل سره لاس و ګریوان شوې وي خو وروسته یې هغه د ډیمونان دلاس څخه بیرته واخست او د یوې راهبې په لاس کې ورکړ.....په حقیقت کې ددې راهبې لاش په یوې داسې زاویې کې غورزیدلې و چې په قاتل باندې یې حمله را څرګندیده. اوس نو قاسم د خپله کاره فارغه شوې و. خپله توره یې په تیکې کې کیښوده ، خپل کالي یې لرې کړل ځکه هغه په وینو ککړ شوې و ، هغه ددې کالیو لاندې نور کالي درلودل اوس نو قاسم د بګۍ څخه یو آس را پرانست اوپرې سپور شو ، لږه شیبه وروسته هغه دښار په لور بیرته ور روان و. دښار د منځه د تیریدو په وخت کې قاسم دخپل په وینو ککړ لباس څخه چې په لاسو کې یې نیولې و ، ځان خلاصول غوښتل. کله چې دښار ګنده لښتي ته ورسید نو په دې لښتې کی یې خپل په وینو ککړ لباس ور واچاوه. دهغه ځایه د لږ څه تلو وروسته یې دبګۍ آس هم په یوې تیارې کوڅې کې پریښود ، اوس نو قاسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د په وینو ککړې تورې پرته بله څه کومه نښه نښانه نه وه پاته. قاسم فکر وکړ چې توره به هلته په کور کې پاکه کړي.

قاسم ته نه وه معلوم ، چې په بریټا باندې څه ډول انقلاب تیر شوې دی. ځکه بریټا دهغه د اصلیت څخه خبره شوې وه. خو قاسم په پوره بې خبرۍ سره دکور په لور روان و. نن قاسم دخپل مشکل اوستونزمن پلان لمړۍ برخه په ډیره ښه توګه پای ته رسولې وه. قاسم نن هغه وخت دکوره ووت چې دمارسي ذکر یی واورید ، تر هر څه دمخه یی د شهنشاه یو جعلي لیک کوچوان ته ورکړ او ورته یی وویل چې دا لیک فادر ډیمونان ته ورسوي. اوبیا دا جعلي لیک هم په حقیقت کې دشهنشاه یو پخوانې لیک و چې اوه کاله مخته شهنشاه د ډیمونان په نامه لیکلی و. په هغه وخت کې قاسم په اورنه کې شاهي سراغ رسانه و. اودالیک یی لاسو ته ورغلې و ، خو هغه وخت ډیمونان د اورنه څخه تښتیدلې و. قاسم یوه ورځ مخته همدا لیک دخپلو کالیو څخه را وویست اود یوه تیزې پترۍ په واسطه یی دهغې لیکې خرابې کړې او په ځای یی په لاطینی ژبه کې څه نوې کرښې پرې و ښکلې. اوپه دې توګه قاسم دشهنشاه اوه کاله پخوانې خط په ډیره ښه توګه استعمال کړې و.

کله چې قاسم دا لیک کوچوان ته ورکړ ، نو پخپله د بګۍ شاته پټ شو اوکوچوان یی تر څارنې لاندې ونیو. کوچوان نیغ ورغې اود رومیل دکور دروازه یی ورو ټکوله..... اوبیا کله چې کوچوان د لیک د ورکولو نه وروسته بیرته راستون شو نو قاسم پرې حمله وکړه او ګردن یی ورمات کړ.

دا ټول هرڅه سهي و ، خو قاسم دبریټا د زړه نه بې خبره و. بریټا په دې وخت کې هم په خپله بستره باندې پرته وه او ددردمن زړه ددرد د هیرولو هڅې یی کولې. د سترګو یی اوښکې راتلې ، دهغې تر څنګ ولاړ رومیل ډیر اندیښمن و ځکه چې هغه دحالاتو د حقیقت نه بې خبره و. په دې اساس یی دبریټا څخه په ډیر قهر وپوښتل:

« بریټا ، نور نو بس دې. تا مقدس پلار ته دخوراک له پاره بلنه ورکړې وه څه وشول که هغه دمجبورۍ له مخې زمونږ دعوت و نه خوړ.... دمورګن په اړه هم غم مه کوه. هغه خو هسې هم اواره انسان دې. د سهار نه تر ماښامه پورې دښار کوڅه کوڅه لټوي.... پریږده چې راشي... نن به یی زه پوښتنه وکړم.»

د رومیل اخري خبره د بریټا په زړه باندې لکه د نشتر په څیر ولګیده. هغه په دې پوهیده چې مورګن به له دې وروسته بیرته دلته رانشي. هغه خو یو مسلمان جاسوس قاسم دې. هغه غوښتل چې د فادر ډیمونان څخه اصل قصه واوري ،هغې ته بلکل دا ډاګیزه شوې وه چې هغه مورګن نه بلکه مسلمان جاسوس دې ، هغې دا فکر هم کاوه چې که چیرې قاسم یی کورته راشي نو څه ډول عکس العمل به ورته ښیئ ، دهغه زړه دا ویل چې هغه باید ووژل شی ، ځکه چې مورګن ورته په درواغو خور ویلې و .او فریب یی ورکړې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبیا درومیل خبره سهي وختله. لږه شیبه وروسته بریټا دخپل کور په دروازه باندې همغه مخصوص ټکار احساس کړ چې قاسم به د راتلو په وخت کې کاوه. یو ناڅاپه یې راټوپ کړ او کیناسته. زړه یې په زوره زوره درزیده ...... بیا یې دا فکر وکړ چې ایا هغه دغه مسلمان جاسوس وژلې شي ... خو هغه دا هر څه د رومیل څخه پټول غوښتل. هغه په همدې کشمکش کې وه چې رومیل قاسم لاس نیولې خونې ته راننویست.....دبریټا سترګې په قاسم و نښتې سمدلاسه په خپله بستره باندې را پاڅیده او کیناسته. سولټن په همدې بستره دخپلې مور سره یو ځاې په خوابه خوب ویده و .....شپه ډیره تیره شوې وه. اوس نوبریټا قاسم ته همداسې په زیر سره کتل. قاسم د بریټا د پرلپسې تیزو کتلو څخه وویرید او هغه یې ځانته یو ګواښ وګاڼه.

« بریټا خورې !.... خیریت خودې ؟..... داسې بریښې چې دمقدس پلار دعوت ډیر ژر پاې ته ورسید. ما به څه کړې و. زه خو ددې ځایه د لږې شیبې له پاره ولاړم خو کله چې بیرون ووتلم نوهغه وخت حیران پاته شوم چې د رومن کتولیک پادریان مې وکتل چې په ښار کې ازاد ګرزیږي او دخپل مذهب په لور خلکو ته بلنه ورکوي ، ددې حالاتو په کتلو سره زه ډیر غمژن شوم او دهغوې څخه د یو څو سره مې بحث پیل کړ. همدا علت دې چې پر ما نا وخته شو. دلته په راتلو سره را ته څرګنده شوه چې پر ما نا وخته شوې دې ، ځکه دلته راڅخه دعوت هم تیرشوې و.»

دقاسم دخبرو په اوریدو سره خو رومیل خندل خو دبریټا په مخ کې کوم بدلون رانه غې. او راغلې به څنګه و. ځکه هغه خو اوس د ټول حقیقت څخه خبره شوې وه. بریټا په ډیر غور سره دقاسم په لور کتل. .... قاسم شرمنده شانته شو او خپلو اړخونو ته یې کتل. .....بلاخره یې وویل : « بریټا خورې !.... داسې بریښې چې ته له ماڅخه ډیره زیاته ناراضه شوې یې. زه له تاڅخه د زړه له کومې بښنه غواړم او ژمنه کوم چې په راتلونکې کې به تا له ځانه نه خفه کوم.»

خو بریټا د ټس نه مس نه شوه. یعنې په حال کې یې کوم بدلون رانغې. اوس نو قاسم ته هم اندیښنه زیاته شوه او فکر یې وکړ چې هرو مرو کومه خبره شته. را وګرزید او رومیل ته یې وکتل. خورومیل په خپل همغسې سادګۍ سره ولاړ و او خوله یې دخندا نه وازه وه .....قاسم یو دوه قدمه ور وړاندې شو او دبریټا تر څنګ و درید. اوس نو هغه د بریټا په سترګو کې ور لیدل ، دلته خاموشي نه وه ، بریټا یوائې په خپلو شونډو خاموشه وه. خو سترګې یې ؟...... سترګې یې د درد ، تکلیف ، غم او اذیت له لاسه ډیرې سختې شوې وې. قاسم د لمړي ځل له پاره دا احساس کړه چې د بریټا دغه قهر اوغضب دکوم علت پرته نه دې. هرو مرو کومه داسې خبره شوې ده چې بریټا پرې دومره په غضب شوې ده. اوس نو رومیل هم تر یوه حده پورې بدل شوې و. قاسم یو قدم نور هم ورمخته شو ....او خپل یولاس یې ور اوږود کړاو د بریټا په اوږه یې کیښود تر څو هغه راضی کړی. خو بریټا داسې یو حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ چې قاسم اورومیل یې دواړه حیران کړل. بریتا دغم اوغصې ډک انداز کې لاس را اوږود کړ او قاسم یې دګریوانه و نیوه او په سختۍ سره یې راښکود او په چغو چغو کې یې ورته وویل:

« درواغجنه ، مکاره ، دوکه بازه .....تا د یوې خور اعتماد ته دوکه ورکړې ده ....اوبیا رینښتونې خور ته .... زه به هیڅکله هم تا ونه بښم.... زما دسترګو اخوا شه....»

بریتا ډیره په غصه وه ، سلګۍ یې وهلې ..قاسم بیا بیا درومیل په لور کتل ترڅو هغه ورته اصل خبره وکړي.. خو رومیل ته هم دخبرې حقیقت نه و څرګند . نوقاسم ته به یې څه ویلې واې. هغه پخپله دخپلې ښځې ددې حرکت څخه حیران شوې و خوبیا هم ډیر ژر رامخته شو اوبریتا یې تر کنترول لاندې راوړه.اوتسلي یې ورکړه :

« بریتا !....بریتا ! ..... ځان سنبال کړه .... په تا څه وشول....څه خبره شوې ده ؟ چې ته په مورګن باندې دومره په غضب شوې یې ؟ ماته یې هم ووایه ...بریتا ! .....بریتا ! ....»

خو بریتا داسې ښکاریده لکه هیڅ چې نه اوري. هغه د رومیل په ورمخکې کیدو باندې دقاسم ګریبان پریښود . خو سختې سلګۍ یې وهلې اوژړل یې. بیرته ولاړه او په بستره باندې کیناسته. رومیل یې هم تر څنګ کیناست. په همدې وخت کې قاسم وویل:

« داسې بریښې چې دبریتا خور طبیعت ډیر خراب دې. پریږده چې پر ما د خپل زړه براس را وکاږي. هغه ماته په قهر ده. پریږده چې خپله غصه وکاږی....»

رومیل هسې په یوه بې نومه شانته توګه دقاسم لورې ته وکتل. قاسم ته هم ډیره عجیبه شانته ښکاره شوه. دبریتا سلګې نورې و دریدې. قاسم نور هلته خپل ځان غیر ضروري احساساوه ، دهغه ځایه راووت اوخپلې خونې ته ولاړ.تر هر څه لمړۍ یې خپله توره د تیکې څخه را وویستله او دټولو د سترګو پټه یې ښه پریمنځله. اوس نو هغه بلکل صافه اوپاکه وه. هغه دابوجعفر او دهغه دملګرو دوژلو اخري نښه هم له منځه یوړه. بیا یې توره راواخسته په دیوال یې وځړوله اوبیا په پوره ارام سره ویده شو. بیرته کورته د راستنیدو وروسته دبریتا د کړچار په کتلو سره قاسم ډیر اندیښمن شوې و....یا الهي دا څه پیښ شول.. په همدې فکر کې وه چې په بریتا باندې څه وشول؟ خو هیڅ ځواب یې په ذهن کې نه راګرزیده. په همدې فکرونو کې ډوب تر یو وخته پورې اوخت را اوخت ، او کله چې ورته خوب راغې نو دخوب په ښایسته وادیو کې یې سترګې پټې کړې.

بریتا ډیر زیات ژړلی و. په دې اساس یې د زړه ټول قهر اوغضب د ژړا سره له منځه تللې و . هغې تر ډیره پورې ژړل ، رومیل تر ډیره پورې دهغې سر په خپل زنګون ایښې و او ورڅخه یې پوښتل چې اخر تر څه وخته پورې به ژاړې اوتر څه وخته پورې به په مورګن باندې په غصه وي. خوبریتا رومیل ته هیڅ هم نه ویل نه غوښتل. یواځې همدومره یې وویل اوخاموشه شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«رومیله !.....بس ما پرېږده چې پرېوځم..... زما سر ډېر زیات دردمن دی....»

رومیل بریټا په بستره باندې پرېښوده .... او په پوره مینه یې دهغه په سر زور کاوه . ..لږه شېبه وروسته بریټا په خوا ږه خوب ویده شوې وه .

خو رومیل ته خوب نه راته. هغه به بیا اړخ بدلاوه . دهغه په ذهن کې دبریټا الفاظ را ګرزیدل....درواغجن ، مکاره ، فریبي ، دوکه بازه ...تا یوې خور ته دوکه ورکړې دې.... هغه په دې فکر کې وه چې اخر مورګن بریټا سره په څه کې دوکه کړې ده ؟ تر یوه وخته پورې همداسې و او بیا دخرګوش په خوب ویده شو .

خو نیمه شپه وه چې درومیل سترګې خلاصې شوې ....خپل اړخ یې بدلاوه نو حیران شو چې خپل ښځه په بستره ونه کتله ، بریټا به چیرې وي ؟.... هغه په فکر کې شو . اوبیا معلومه نه شوه چې دهغه په زړه کې به څه اندیښنې راټوکیدلې وې چې راپورته شو ، کیناست او بیا په ډیره پټه توګه دخپلې کمرې څخه راووت ،هغه غوښتل بریټا پیدا کړې دهغه په زړه کې دا راګرزیدل چې هرو مرو کومه خبره شته . هغه تر ټولو دمخه د مورګن کمرې ته ورغې .... او کله یې چې وکتل چې بریټا په ریښتیا هم د مورګن په کوټه کې ده نو په زړه کې یې ډول ډول اندیښنو سوړه وکړه ، په ډیر احتیاط سره یې قدم اخست ترڅو د قدم څخه یې کوم اواز را پیدا نه شي ، لږه شیبه وروسته هغه د قاسم د کوټې نه بیرون دکړکۍ سره ولاړ و . ددې ځایه هغه د کمرې دننې حالات کتلای شول ځکه په کمره کې مشال روښانه و . رومیل وکتل چې بریټا دقاسم دبسترې سره نژدې ولاړه ده اوقاسم تر اوسه په بستره پروت دی ، د رومیل زړه ددې منظرې په کتلوسره په درزهار شو اوساه یې په سینه کې سوزیدله ...ځکه هغه دمشال په رڼا کې دکوټې دننه حالات په ښه توګه کتلای شول...هغه وکتل ...... چې بریټا...... په قاسم باندې ور پرېوځې .... اوبیا د قاسم دسینې په لور ورښکته کیږي.....

د رومیل شونډې او حلق وچ شوي و ..... ځکه معلومه نه ده چې بریټا د قاسم په سینې باندې دورښکته کیدو څخه څه مقصد لرې..... بیا بریټا په ناڅاپي توګه راپورته شوه .....ښې لاس یې په هوا کې پورته کړ، رومیل ته د بریټا په لاسو کې یو ځلانده خنجر تر سترګو شو . خو هغه هیڅ هم نه شو کولاې..... ځکه چې بریټا په خپل خنجر باندې ....ګذار کړې و .... بریټا دخپل ورور په سینه باندې دخنجر ګذار کړې و ، په دې وخت کې رومیل خپلې سترګې بندې کړې، ځکه چې دا دهغه په زغم کې نه وه چې دمورګن په څیر یو روزل شوې عسکر دې دیوې ښځې په لاسو په داسې خوب کې ووژل شي... خو هغې هیڅ هم نه شو کولاې. هغه خو د نور څه د کتلو له پاره راغلې و ..... خو دلته قصه بدله تر سترګو شوه ، بریټا خو مورګن وژلې و ..... خو دا څه و ؟؟.....رومیل یو بل منظر هم وکوت ..... قاسم بچ پاته شو .... هغه وخت چې بریټا د یوې خور په څیر د قاسم تندې ښکل کړ ...نو همغه وخت د قاسم سترګې خلاصې شوې وې خو ځان یې بې خبره واچاوه . اوکله چې بریټا د یوې عیسوي مذهبې په څیر د یوه مسلمان جاسوس د وژلو له پاره خپل خنجر په هوا کې پورته کړ نو قاسم په پوره توګه خپلې سترګې پرانستې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریتا د خنجر لاس یی کلک و نیوه. بریتا په دې خاطر په قاسم ور ښکته شوې وه چې هغې په نړۍ کې همدا یو ورور درلود اوغوښتل یې دې ورور ته په اخري وخت کې هم خپله مینه ورکړي. خو بریتا د قاسم د تندي د ښکلولو نه مخته تم شوې وه. هغه ته دا فکر پیدا شوې و چې هسې نه چې دغه چالاکه قاسم را بیدار نه شي ،هغې خپله اراده بدله کړه او په زړه یې تیره کینبوده او د مسیح ددین د پیروې په خیر یې دخپل دښمن کار پاې ته رسوه. خو قاسم لا دمخه بیداره شوې و ، په دې خاطر یې په خپل وخت دهغې ګذار تم کړ او په خندا راپورته شو .

« خورې څه خبره ده ؟..... له ما څخه څه ګناه شوې ده ؟..... چې ته دهغې ګنا په بدل کې زما ژوند ختمول غواړې....»

« ته ...ته ... درواغجن اوفریبکاره یی. تا د یوې خور باور اواعتماد ته دوکه ورکړې ده. تا ماته دخپلې مینې ددرواغو قصه کړې وه او زه دې دمسیح ددین پر خلاف استعمال کړې یم. زه ستا د ژوند په ختمولو سره خپله دنده تر سره کول غواړم. زه به هیڅکله هم تا ژوندي پرې نږدم....»

بریتا ډیره په غصه وه ، قاسم حیران پاته شوې و چې اخر د بریتا تر مخه دهغه راز څنګه رابر سیره شوې... هغه په همدې فکر کې و چې بریتا یو ځل بیا ورته وویلې...

« تا مارسي ته دوکه ورکړې وه. اوهغه د ې د مسیح ددین پر خلاف استعمال کړې وه ..... اوبیا دې ماته دوکه راکړه او دخپلو ناولو مقصدونو له پاره دې زه هم استعمال کړم. ماته ستا حقیقت ټول را څرګند شوې دې... ته مورګن نه یی ..... قاسم بن هشام یی....»

اوس نو دقاسم له پاره ددې نه زیات پټیدل مناسب نه و. ځکه دهغې ټول رازونه را برسیره شوی و. تر یوه وخته یی خپل سر ټیټ کړ ، بریتا ورته په ډیر غضب سره کتل.... یو ناڅاپه په ژړا شوه او سلګۍ یی ووهلې.

« ما خو له تا داهیله نه درلوده ، ولې دې د همغه لمړۍ ورځې څخه راته ونه ویلې چې ته مسلمان یی.بیا به هم زما ورور واې. زما خو مسلمانان بدې نه ایسي ..... واې.... یو هغه مسلمان و چې د جنګ په دوران کې یی د فاتح لښکر په څیر زما د کوچني دپیدا کیدو په وخت کې زماسره په وخت مرسته کړې وه ، اویو ستا په څیر مسلمان وي چې زما د سادګۍ نه یی ګټه پورته کړې او دیوې خور په څیر یی ماته دوکه راکړې ده.

هغې په زوره زوره ژړل. قاسم د هغې ترمخه ټیټ سر ولاړ و. بیایی دلمړي ځل له پاره سر راپورته کړ.... دهغه په سترګو کې هم د اوښکو لمدوالې و. اوپه ډیره حسرتناکه توګه یی بریتا ته وکتل او ورته یی وویل:

«بریتا خورې ! ماتا ته هیڅ ډول دوکه اوفریب نه دې درکړې. زه اوس هم ستا همغسې ورور یم ، ما د ډیمونان سره څه پخوانې حساب کتاب درلود. هغه نه یوازې زما دپلار او ورندار قاتل و بلکه هلته په « اورنه » کې دشلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالو راهیسې د « ابوجعفر » په نامه اوسیده ..... هغه د سلګونو مظلومو مسلمانانو قاتل هم دې .... هغه د کلیسا پخوانۍ خدمتګاره مارتها بیګم په خپلو لاسو وژلې ده . اودهغې لور مارسي یې راتښتولې ده ... خو که چیرې ماتاته دا خبرې پخوا کړې وې نو بیا خو به دا دومره رازونه نه راسپړیدل کیده . زما د کرچار په اساس مسلمانانو ته څه مه وایه ... زه همغه مسلمان یم چې دبوسنیا په کوڅه کې مې ستا د اولاد د پیداکیدو چغې واوریدې اوستاکومک ته مې دروځغاستل..... هو زه همغه شخص یم .... اوزه تاته دا هم ویل غواړم چې ستا دهغه وخت سهیلۍ «ماریا» اوس زما د ورور ښځه ده ....اونوم یې مریم دې ..... اوستا بوسنیایی شهزادګۍ زما ښځه ده ... اودهغې نوم حمیرا دې .... ستا بارټا کوزین اوس عباس ګرزیدلې دې .... ما خو ته همغه ورځ خپله خور ګرزولې وې ، په داسې حال کې چې تا ماته یواځې څو ورځې دمخه ورور ویلې دي . اوس ته راته ووایه ... ایا ماتاته دوکه درکړې ده .....؟ »

په بریټا سکته راغلې وه ... هغه حیرانه دریانه ولاړه وه ..خوله یې دحیرانتیا نه خلاصه پاته وه . کله چې قاسم د حمیرا ، مریم او عباس په اړه خبرې وکړې نو بریټا د استعجاب په سمندر کې ورلاهوشوه. هغه مسلمان ځوان ته چې هغې د تیرو اوو کالو راهیسې په ناسته ، ولاړه ، ملاسته ، ویښه او خوب کې دعاوې کولې ، هغه همدلته دهغې تر مخه ولاړ و . که چیرې په هغې ورځ قاسم نه واې نو بریټا به هم نه واې او نه به یې دغه د ګل په شان کوچنې داسې سلامت اوروغ رمټ ګرزیداې . پخپله بریټا او رومیل دخپل زوې نوم هم دهمغې شپې دکومک په مناسبت سره ایښودې و ، خو اوس یې هغه ته دسلطان مراد په ځاې سلټن ویلې. دا خو هم دسلطان خراب کړل شوې لفظ و . دبریټا سترګې تر اخري حده پورې پرانسې وې ، ان تر دې چې دبڼو رپول یې هم هیر شوې و . قاسم د تیرو څو ورځو راهیسې دهغې سره په کور کې وه خو هغې نه و پیژندلې او څنګه به یې پیژندلې وې ، د اولاد دپیدا کیدو په وخت کې خو هغې قاسم په سترګو هم نه و کتلې . هغه یواځې همدومره پوهیدله چې یو مسلمان ځوان په دومره ستونزمن وخت کې ورسره مرسته کړې وه ...

دکمرې نه بیرون د ټکار اواز راغې . قاسم اوبریټا دواړه هغه لورې ته متوجه شول ..... دا به څوک وي ؟... قاسم را وګرزید اوخپله توره یې دتیکې راوویسته . خوبریټا پوهیدلې وه ، قاسم دلوڅې تورې سره بیرون وتل غوښتل خوبریټا یې لمن و نیوله »

«وروره ! بیرون مه ځه ! داسې بریښې رومیل زمونږ خبرې اوریدلې وې ، توره دې بیرته په تیکې کې کیږده ، رومیل ستا دښمن نه دې.»

کله چې قاسم درومیل نوم واورید نو اعصاب یې ارام شول ، بریټا ورته یو ځل بیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« وروره ! ما وبښه. دا خبره به دې همغه لمړۍ ورځ راته کړې واې ، زه خو دتيرو اوو کلنو څخه په ناسته پاسته کې تا ته دعاوې کوم. خو ته ماته په داسې حالاتو کې تر لاسه شوې.... که نن مې دلاسه څه بد پيښ شوی و نو دحشر په ورځ به مې تا ته ځنګه سترګې دراړولې...»

خو پخوا تر دې چې قاسم د هغې ځواب ورکړي ، روميل د توپان اوباد په څير کمرې ته راننوت ، په لاس کې يې لوڅه توره نيولې وه او مخ يې د غضب څخه تک سور شوې و. کمرې ته د راننوتلو سره سم يې په غرنده اواز سره وويل:

« فريب ورکونکې ميلمه ! زه ستا د وژلو له پاره نه يم راغلې... زه تا ته يوآخې همدومره ويل غواړم چې سهار وختي د قسطنطنيې څخه بيرون ووځه ، مونږ چې تا ته ستا دا حسان کومه بدله درکوله ، دهغې نه موڅو ځله زياته بدله درکړې ده. خوبيا هم زه دخپلې ښځې او زوې د صدقې له پاره ستا ژوند ښنم.... هو که چيرې د لمر خاته نه وروسته مې په قسطنطنيې کې وکتلې نو دټول ښار پوليس به ستاپسې واچوم او تا ته به همغسې چې مناسب وی سزا درکړم»

قاسم هم په خپلو لاسو کې لوڅه توره نيولې وه ، خو خپله توره يې د زمکې لورې ته کړې وه اوبريټا ته يې په حسرتناکه سترګو کتل. د بريټا مخ د غم او خفګان څخه بلمنګه شوې و. نن هغه دقدرت په واسطه د يوه دردناکه منظر يوه برخه ګرځولې وه. هغې ته په دواړو حالاتو کې غم او مصيبت ور په برخه کيده. روميل غوښتل قاسم رسوا کړې او ويې کاږي.. خو بريټا ته په حقيقت کې خپل ورور همدا نن تر لاسه شوې و. بريټا دقاسم سره خپل ټول خفګان پاې ته رسولې و ، خو اوس به يې څه کولې ، ځکه يوې لورې ته يې خاوند و اوبلې لورې ته يې محسن. بريټا په ډيره عاجزانه توګه دخپل خاوند لورې ته وکتل اومنډه يې کړه دهغې په پښو کې کيناسته.

« روميله !دخداې له پاره قاسم ته هيڅ مه وايه. دا به ولاړ شي ، زه ژمنه کوم چې دا به ولاړشي..»

خو پخوا تر دې چې هغه خبله خبره پوره کړې قاسم ورته وويل:

تاسې انديښنه مه کوئ.. زه له دې ځايه ځم ، زه دسهار پورې هم نه پاته کيږم. زه همدا اوس له دې ځايه ځم خو دتلو تلو په وخت کې يوه خبره ضرور کوم اوهغه داچې « ماتاسې ته هيڅ ډول دوکه نه ده درکړې. زه ډير ستر مقصد لرم او تاسې به يې ډير ووينئ. زه به تاسې تل يادوم. او که چيرې مونږ قسطنطنيې ته دفاتح په څير راغلو نو زه به تر ټولو لمړۍ له تاسې سره دکتلو له پاره راځم...»

اوس نو له دې ځايه دقاسم له پاره تلل مناسب و .ځکه چې اوس ورته روميل د تللو اجازه ورکوله. خو کله چې سهار روميل ته د ډيمونان اودهغې دراهبانو د وژلو خبر تر لاسه شي نو شوني ده چې هغه وخت به قاسم ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرون تللو اجازه هم ور نه کړي.. خو قاسم ددې نه ډاډمن و چې که رومیل د ډیمونان د وژلو خبر واوري نوبیا به یې هم د افشا کولو څخه ډه ډه وکړي.. اوکه نه هغه به په خپله په کې راګیر شي.

شهنشاه به په ډاډمنه توګه هغه ووژني ځکه چې هغه په خپل کور کې د سلطان یوه خطرناک جاسوس ته د ځآې د ورکولو دروند جرم کړې و. همغه و چې قاسم خپل سامان را پورته کړ او درومیل داصطبل نه یې خپل آس راپرانیست او دشپې په تیاره کې روان شو. بریتا اورومیل هغه په ډیرو دردناکو سترګو کوت..... هاې ... دا مذهب څومره ستر دیوال ګرزیدلې دې. د دوارو خواو انسانان یوبل غواړي خو مذهب لکه دسیسی د دیوال پهڅیر ددوې تر منځ حایل دې. بریتا دقاسم دجدایی منظر و نه شو کتلې ، سلګې یې وهلې اودخپلې کوټې په لور یې منډه کړې.. قاسم رومیل ته هم په اخري ځل وکتل او دهغوې دانګړ ددروازې څخه بیرون شو....

بله ورځ سهار د ډیمونان اودهغه سره یو ځاې د راهبانو دوژلو خبر په ټول ښار کې له لکه د اور په څیر خپور شو. دهمدې سهاره خبرې او اوازې خپرې شوې وې چې درومن کتولیک جاسوس د ایاصوفیاء ستر بطریق په ډیره وحشیانه توګه وژلې دې. ویل کیده چې ددې بطریق سره دوه راهبانې او یو کوچوان هم په ډیره بده توګه وژل شوي دي. د ښار کوڅنیو کلیساو دخلکو په راپارولو کې لږ ځنډ هم و نه کړ او د ماسپښین پورې د یونانی کلیسا پنځه نوي سلمه پادریان دزرګونو خلکو سره یو ځاې دشاهي ماڼۍ تر مخې موجود وو. دشهنشاه ساتونکې ډلې دغه مظاهرین د شهنشاهي ماڼۍ څخه لرې ساتل. خلکو په ډیر جوش اوحذبې سره د کتیولیک چرچ په خلاف نارې وهلې او د روم پاپا ته یې ښکنځلې کولې. نن په قسطنطنیه کې درومن کتولیک چرچ ټول پادریان اوراهبان چې همدا اوس اوس د شهنشاه په بلنه را غلي و دخلکو د قهر اوغضب نه پټ پراته و. دروم دپاپ ځانګړې نماینده « کارډنیل اسیډور» په خپل د خپل ځان دخوندي ساتلو په خاطر د شهنشاه تر څنګ ناست و. دښار پولیسو د مظاهرینو دکنترولولو هڅې کولې. خو دخلکو د احساساتو توپان همدا سې را خوټیده. وزیراعظم شهنشاه ته مشوره ورکړه چې سمدلاسه دروم پادریان بیرته و استوی ، خو قسطنطین داسې کار نه غوښت چې تر سره شي. ځکه هغه غوښتل ددواړو کلیساو تر منځ سوله او مصالحت رامنځته شي. هغه غوښتل څو ورځې وروسته د ایا صوفیا په ستره کلیسا کې ددواړو مذهبونو دخلکو ترمنځ ستر غونډه جوړه کړي او د غونډې مشری یې هم « کارډینل سیډور» ته ورسپارلې و. خو داسې معلومیدل چې اوس نود شهنشاه په ټولو هڅو باندې سیلۍ راغلې وي. بلاخره شهنشاه مجبور شو چې پخپله د خلکو مخې ته ودریږي، هغه دخپلې ماڼۍ په بلخانه کې و دریده او په لوړ اواز یې وویل:

« د قسطنطنیې خلکو !

زما خبره په غور سره واورئ ! زه خو وایم چې دا هر څه چې شوي دي دعثمانیانو یو سازش دې...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په همدې توګه يوه اوږده وينا وکړه او په دې توګه يې خلک بيرته خپلو کورونو ته و ليږل. خو حقيقت دا و چې د شهنشاه د وينا څخه ډير لږ خلک ډاډمن شوي و.

بريټا او روميل د ډيمونان د وژلو د خبر د اوريدو سره سم بې هوښه شانته شول اوبيا دواړو يوه بل ته په ډيره بې وسۍ سره کتل. روميل د مذهب سره هيڅ مينه نه درلوده. په دې خاطر هغه د ډيمونان وژنه دومره جدي وانه خسته. خو بريټا داسې وه لکه څوک چې په غشي لګيدلې وي.

هغې ته يوې لورې ته مذهب و اوبلې لورې ته احساسات و. د روميل په زړه کې هرو مرو دومره انديښنه وه چې که چيرې د قتل د پلټنې مخ که د هغه د کور لوري ته شو نو هغه به څه ځواب ورکوي ، ځکه چې د ايا صوفيا سپنه بګۍ د هغوې د کور ترمخه نژدې نيم ساعت ولاړه وه...... خو دا به هسې يو اتفاق و چې د پلټنې مخه د هغې کورته را ونه ګرزيده ، په خپله د ايا صوفياء بطريق اعظم ويلي و چې ډيمونان په اخرى وختو کې ديوه پادرى په بلنه د هغه ځاې ته ورغلې و. خو دا يې نه وويلې چې د کوم پادري په بلنه. د قاسم پلان همداسې و چې د ډيمونان د قتل يوه معما پاته شی. د قسطنطنيې پوليسو خپلې ټولې لارې ګودرې و لټولې خو د قاتل په اړه يې هيڅ تر لاسه نه کړه. ان تر دې چې څو ورځې تيرې شوې او د کليسا د غونډې ورځ سر ته را ورسيده.

د کليسا و د غونډې څخه يوازې درې ورځې مخته قاسم يو ځل بيا د ايا صوفيا تر مخه ودريد. په دې وخت کې هغه په يوه سراې کې اوسيده ، اوخپل کار يې لکه د پخوا په څير دوام ورکړې و. هغه په همدې ورځو کې په قسطنطنيه کې د ميشتو مسلمانو تاجرانو سره هم اړيکې غزولې و. څه پټ کارونه يې هم کړې و چې پايلې يې ډيرې ژر مخته راغلې. هغه خپل کالي همله په سراې کې ايښودي و ، نن قاسم اياصوفيا ته د ورننوتلو له پاره راغلې و ، اس يې هم له ځانه سره نه درلود ، په خپله غاړه يې يو ځل بيا د پادريانو صليب را ځړولې و ، خو دا ځل يې د رومن کتوليک د صليب په ځاې د اياصوفياء د يوناې کليسا صليب په غاړه کې ځړولې و. قاسم په ساده او پاک لباس کې و ، په سر يې شنه قيمتي خولۍ په سرکړې وه. د چرچ په ډير ښکلي باغ کې تيريده او مرکزي دروازې ته ورسيد. د دروازې دواړو خواو ته ډير ارزښتناکه کاني نصب کړل شوي و ، تر څنګ يې درويشي لرونکې ساتونکي د اوږدو نيزو سره يوځاې ولاړ و. دا ساتونکې د زرو کالو راهيسې د همدې تيږو تر څنګ ولاړ وي او پهره کوي.

قاسم په ډيره بې پرواهۍ سره ولاړ او رچرچ ته ورننوت ، مخې ته يې يو ډير پراخه سالون راغې چې مربع شکله و.

د قاسم تر مخه ۱۷۰ ستنې د « ابوالهول» په څير ولاړې وې. په سالون کې د عبادت کونکو له پاره ډيرې قيمتي چوکۍ ايښودې وې چې د ټولو مخونه د شرق لورې ته و و. د دې نه علاوه د اياصوفيا عمارت تر ډيره پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غځيدلې و. د سالون څلورو خواو ته دمرمر تيږې اېښول شوې وې ، په لاروکې يې د راهبانو ، اوپادريانو له پاره پراخه دفترونه جوړ کړل شوي و ، ددې سالون په دويم منزل کې ستر ستر پادريان اوسېدل ، د دويم بطريق اعظم د اوسيدو خونه هم همدلته وه. د چرچ د ټولو ښځو راهبانو داوسيدو خوني هم په دويم منزل کې وې ، دې راهبانو ته يې «نن» يا «سسټر» ويلې . هغوې به سپين کالي اغوستل او د کميسونو غاړې به يې سور رنګه وې. هغه پيغلې به چې راهبانې ګرزيدلې نو هغوې به ددنيا د ټولو خوشحاليو څخه بې برخې ګرزيدلې. خو څوک پوهيدل چې په دې سپينو کاليو کې ملبوسې «ننې» ،د چرچ د تياره کمرو په داخل کې خپل لباس په سور رنګ ککړوی.

قاسم ولاړ اوهلته په لمړيو څوکيو کې په يوې کيناست. تر مخه يې د سيدنا عيسې عليه السلام او سيدنا ابراهيم عليه السلام فرضی مجسمې نصب وې. په يوناني کليساو کې دغسې فرضي مجسمې نصبيږی. قاسم په ډاګيزه توګه په خپل عباد ت کې مشغول و . هغه تر ډيره وخته پورې په همدې حالت کې ناست و ، سترګې يې پټې کړې وې او داسې يې ښکاره کوله چې مناجات لولي. خو په حقيقت کې هغه دمارسی په اړه فکر کاوه. ځکه مارسي په همدې چرچ کې راهبه وه. دهغه وخته چې هغه دې چرچ ته ور ننوتې و نو د وينې دوران يې زيات شوې و ...... هغه نه پوهيده چې څه وخت به يې مارسی مخې ته راځي. هغه تر يوه ساعته پورې ټيټ سر همدلته ناست و. په دې وخت کې په ناڅاپې توګه چا په اوږه باندې و ټپاوه. دقاسم وجود باندې يخنې راغله. سترګې يې پرانستې ، ويې کتل چې دا د يوه زوړ فادر لاس و. دهغه په مخ باندې د شفقت او مهربانۍ ښې ښانې وې ، دا داياصوفيا يو پخوانې زوړ پادري و. قاسم ته دهغه په کتلو سره خپل پلار هشام تر سترګو شو او په خپل زړه کې يې دې پادرې ته ډير ښه احساسات را وپاريدل قاسم په خندا شو ، نو زوړ پادري هم وخندل.

« ماته فادر بروس وايی. زما عمر اويا کاله دې..... داسې بريښې چې ته دلته ميلمه يې. دکومه ځايه راغلې يې.؟»

کله چې دې زوړ پادرې قاسم ته په ډير شفقت سره داخبرې کولې نو قاسم ورته په ډيرې عاجزۍ سره وخندل او ورته يې وويل« درونده پلاره ! زه د تهريس د چرچ څخه راغلې يم ديسوع مسيح په خدمتګارانو کې شامل يم ، او د خپل مرکز دپايښت له پاره دعا کوم...»

«د تهريس چرچ.....هغه......هغه چې بشپ يې ليمارک دې»

قاسم سمدلاسه ځواب ورکړ ، «هو ! زه د عزتمند ليمارک په اجازه دلته قسطنطنيی ته راغلې يم. هغه ماته زما دراتلو په وخت کې د کليسا بطريق اعظم له پاره يو ليک هم راکړې دې .»

د تهريس کليسا دعثماني حکومت په واکمنۍ کې پرته وه ، هلته حکومت د عثمانيانو سره و خو د تهيريس ډيرکې خلک عيسويان و. قاسم په دې خاطر د تهريس نوم واخست چې هغه دهغې ځايه څخه پوره پوره خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود. دتهریس دکلیسا د بشپ لیمارک سره ډیمونان نیغ په نیغه اړیکي درلودل. قاسم د لیمارک له اړخه لیک هم پخپله لیکلې و ، دقاسم دخبرو د اوریدو وروسته زوړ پادري ډیر خوشحاله شو .او قاسم ته یې د راپورته کیدو او دهغه سره د ورغاړې وتو له پاره غوښتنه وکړه. دلږ ځنډ وروسته قاسم د هغه زوړ پادري سره یو ځای د بطریق اعظم د خونې په لور روان و ....

دبطریق اعظم د اوسیدو د ځای په کتلوسره قاسم سخت حیران دریان پاته شو ، ځکه دا دکوم پادشاه دخوب دځای څخه کمه نه وه. دپادري په دورازې باندې ساتونکې ولاړ و. د دې بطریق دغه خونه په حقیقت کې یو لوې سالون و ، چې په کې یوه ستره قالینه غځیدلې وه. کړکیو ته یې د اطلس او وریښمو پردې را ځړیدلې وې ، په چت کې یې قیمتي فانو س را ځوړند و چې د قیمتي تیږو یاقوتو څخه جوړ شوې و . دپردو نه مخته وروسته د بطریق اعظم ځانګړې خادماني وې چې په خپلو خپلو کارونو کې مصروفه وې. یوه ډیره ښایسته خادمه چې د ننانو لباس یې اغوستې و ، دغه زوړ بروس او قاسم دواړه له ځانه سره دبطریق اعظم د لیدلو کمرې ته یې یوړل. هغې دغه دواړه د بطریق د کمرې د ښایسته دروازې ترځنګ پریښول اوبیرته راستنه شوه. بروس دروازه پرانسته اودننه ورننو ت.

دکمرې دغربي دیوال سره یو ډیر ستر تخت ایښوول شوې و چې دواړو خواو ته یې دبطریق اعظم ښایسته خادماني ولاړې وې ، پخپله بطریق په دغه تخت باندې ناست و ، ډیر ساده لباس یې درلود، بطر یق قاسم اوبروس ته د کیناستو حکم وکړ ، هغوې هم هلته په هغو ارامو کرسیو کیناستل ،بیا نو بطریق د بروس څخه وپوښتل:

« بروسه څه خبره ده ؟ څنګه راغلی یاست ؟ اودا له تاسره راغلې میلمه څوک دې ؟»

« اسماني پلاره ! دا ځوان بشپ د لیمارک د چرچه راغلې دې چې « فادر ایرون » نومیږي. او له ځانه سره یې د بشپ لیمارک له اړخه یو لیک تاسې ته هم راوړې دې.»

بطریق سخت متوجه شو او د قاسم په لور یې وکتل. اوبیا یې په سخته لهجه وویل.

« دبشپ لیمارک خط.....؟ چیرې دې هغه خط ؟......»

بطریق اعظم په دې پوهیده چې بشپ لیمارک یواځې د ډیمونان په نامه لیکونه لیکل. خو د بدقسمتۍ څخه چې بطریق اعظم د بشپ لیمارک د لیکونو سره بلدتیا نه درلوده. اونه یې کله دهغه لیک کتلې و. په اصل کې دغیر ملکې جاسوسانو سره یواځې ډیمونان اړیکي درلودل. که څه هم بطریق اعظم د اسلام په دښمنۍ کې د ډیمونان څخه څو قدمه مخته و خو دعثماني سلطنت تر کنترول لاندې ټولې کلیساوې ډیمونان کنترولولې. په دې خاطر د بشپ لیمارک د لیک په کتلوسره هغه لږ څه اندیښمن شانته شو . اوپه دې فکر کې شو چې اوس به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو سيمو څخه ليکونه او پيغامات دهغه لورې ته راځي ، ځکه ډيمونان له منځه تللي و . دبطريق اعظم له پاره دا کار ستونزمن و ،په هر صورت هغه د بشپ ليمارک ليک راواخست او ويې لوست. په ليک کې راغلی و :

« دعزتمند ، مقدس پلار !د قسطنطنيې د کليساګانو دمشر ، د ايا صوفيا د بطريق اعظم په نوم !

...... د يسوع مسيح د دين د خادم او د تهريس دشاوخوا دکليساګانو دمسؤل بشپ ليمارک له اړخه... هولي فادر ! دغه ځوان فادر ايرون ستاسې په خدمت کې حاضر دې د معزز ډيمونان د شهادت نه وروسته ما دډير غور اوفکر نه وروسته پريکړه وکړه چې دې ځوان ايرون ته هلته په ايا صوفيا کې سخته اړتيا ده.

ايرون زما په لاسو کې را لوې شوې او ځوان شوې دې او زه دهغه له اړخه هر ډول مسؤليت منلو ته تيار يم ، فادر ايرون د مختلفو وړتياو نه ډک ځوان دې ، چې هيله ده چې ستاسې تر سيورې لاندې په پاته کيدو سره به د هولي چرچ له پاره ډير زيات ګټور ثابت شي....

په مناجاتو کې ددعاو دغوښتنې سره يو ځاې

فقط

د تهريس د کليساو بشپ.....ليمارک»

د ليک دلوستلو سره د بطريق اعظم په مخ کې دلکيرو زيادښت را ته. هغه د ليک په اخر کې لګيدلی مهر ته په ډير غور سره وکتل ، دا مهر څو ورځې مخته په قسطنطنيه کې يوه ساده شکلې زرګر ته د ډيرو پيسو په ورکولو سره جوړ کړې و .....د مهر دکتلو وروسته بطريق اعظم ته لږ څه ډاډ ور په برخه شو خوبيا يې پوره تسلي و نه شوه ، په خپلو کوچنيو کوچنيو سترګو يې قاسم ته وکتل اوبيا يې ترې وپوښتل:

« ګوره ځوانه ! نن سبا په قسطنطنيه کې پخوانيو پيژندګلوو کسانو ته هم د شک په سترګو ليدل کيږي ، مونږ يوا ځې د ليمارک د ليک په کتلو سره په تا نه شو ډاډمن کيدې. له تا سره بل څه داسې ثبوت شته چې هغه ثابته کړې چې ته د تهريس دکليسا څخه راغلې يې.»

قاسم و دريد او ددرنښت په خاطر مخکې لورې ته ورښکته شو اوبيا يې د بطريق اعظم تر مخه غرض وکړ: « مقدسه پلاره ! تا سهی خبره وکړه .... زما سره ددې خبرې حل دادې چې تاسې ما د اياصوفيا په بندي خانې کې بندي کړئ اوپه همدې وخت کې خپل قاصد وليږئ او د تهريس دچرچ نه يې تائيد راوړئ ، زه به په دې اړه هيڅ ډول شکايت و نه کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بطريق اعظم قاسم ته  په ستايونکو سترګو وکتل. خودهغه مکار د ډاډ له پاره لا تر اوسه هم د څه شک لرې کولو ته اړتيا وه. په دې خاطر هغه وويل:

« بلکل سهي ده ...... همدا لاره چې تا وښووله  سهی لاره ده .... مونږ د ليمارک څخه ستا په اړه د ځواب دترلاسه کولو پورې تا د ايا صوفيا په بندي خانه کې اچوو.»

هغه غوښتل دقاسم عکس العمل ووينې.. خو قاسم داسې کوچنې جاسوس نه و چې دبطريق اعظم په جال کې راو نښلي. قاسم خپل ځان همغسې وساته. بطريق اعظم تر دې پورې مخته ولاړ چې وسله وال دروازه چيان يې هم د قاسم د نيولو له پاره راو بلل. خوکله يې چې وکتل چې قاسم د ټس نه مس نه شو نوبيا بطريق اعظم و خندل او دروازه چيانو ته يې د بيرته تللو حکم وکړ اوبيا يې قاسم ته په ډيره نرمه ژبه وويل:

« نه مونږ تا نه نيسو. که چيرې ته ليمارک راليږلې يې نويقينا چې دا به دقسطنطنيې له پاره ګټوره وي....ښه شو چې ته راغلې.... په عثماني سلطنت کې زمونږ دسلګونو کليساګانو مسؤل ډيمونان و. خو دډيمونان نه وروسته مونږ ته دا ستونزمنه ده چې مونږ د عثماني سلطنت دخورو ورو سلګونو کليساګانو کار سنبال کړو .....که څه هم ته لا تر اوسه پورې فادر يې. او د ډيمونان ځاې نه شې نيولې خو ته به نيغ په نيغه زمونږ تر لاسه لاندې دعثماني سلطنت  دکليساګانو دکارو په تر سره کولو کې زمونږ سره مرسته کوې. په دې اساس زه غواړم تا د خپل ځان له پاره دخارجي کليساګانو د سلاکار په څير و ټاکم. درې ورځې وروسته دلته دکليساګانو تر منځ غونډه جوړيدونکې ده  نوکه چيرې په دې وخت کې د شرقی کليساګانو خبره منځته راغله نوبيا ماته ستا د مشورې اړتيا وې ، ايا ته ددې کار له پاره خپل ځان ور ګڼې...؟»

قاسم په زړه کې د خوشحالۍ نه ګوړې ماتولې. هغه هيڅ هيله نه درلوده چې هغه به په دومره مهم کار باندې ماموريږي ، هغه خو غوښتل چې په يوه ډول ددواړو کليساګانو تر منځه غونډه سبوتاژه کړی. په دې اساس يې سمدلاسه وويل:

« هو ! مقدسه پلاره ! زه تاته همدا اوس ويلې شم چې ايډريانوپل ، تهريس ، سربيا ، بوسنيا ، واليشيا ، او د البانيا نه علاوه د اناطوليه دساحل تر څنګ څنګ د « دي هولی ارتوډکس»  څلور سوه کليساګانې دې،او دا ټولې د اياصوفيا په واسطه کنټروليږي. اوبيا دا ټوله سيمه يواځې د څلورو يوناني الاصل بشپانو له خوا سنباليږي..... زه غواړم يواځې د يوه چرچ په اړه تاسې ته ، ستا سې دمعلوماتو په خاطر تفصيل بيان کړم ، ددې نه علاوه دسلطان محمدخان او مسلمانانو په اړه زه هم ډير معلومات لرم....تر هغې چې دعيسوي ښوونو پورې اړه لري نو د خداې په کرم چې زه په هغې کې هم دهيڅا څخه کم يا وروسته نه يم پاته شوې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم په ډېر تفصیل سره بطریق اعظم ته ځواب ورکړ. او دلمړي ځل له پاره یې د بطریق اعظم په سترګو کې ډاډ او اطمینان وکوت. دا دقاسم خوش نصیبي وه چې د غونډې د پیلیدونه یواځې درې ورځې مخته هغه په دومره لوړ مقام باندې و ټاکل شو. اوس نو هغه ته په ډېر احتیاط سره په دغه منصب باندې کار کول ورپه غاړه و. خو هغه لا تر اوسه د یوې خبرې څخه ډېر زوریده او هغه دا چې هغه وارخطا و چې مارسي به یې کله تر سترګو کیږي.

قاسم په خپلو خیالاتو کې ورک و چې په دې وخت کې پرې بطریق اعظم ور غږ کړ «سهي ده. ایرون زویه ! زه به دخپلې خونې سره څنګ کې ستا دخونې او د اوسیدو د ځای له پاره هم حکم وکړم. ته به دهمدا نن څخه د ټولو پیغامونو د اخستو مسؤل یې. سمدلاسه خپل کار پیل کړه ترڅو مونږ د رومن کتولیک دخلکو تر مخه خپل ټول معلومات په پوره شان وشوکت سره وړاندې او په غونډه کې په پوره دبدبې سره کینو.»

زوړ بروس یو ناڅاپه د بطریق نه وپوښتل چې « مقدسه پلاره !.... ایا په دې غونډه کې به دقسطنطنیې پادشاه هم ګډون کوي....؟»

« هو ! شهنشاه به درې وروسته دلته ایا صوفیاته راځي ، خو ماته د رومی کارډینل سیډرو تر مشرۍ لاندې په دې غونډه کې کیناستل خپل سپکاوې ښکاري. په دې خاطر زه غواړم چې پخپله دشهنشاه د صدارت لاندې ددې غونډې د جوړیدو وړاندیز وکړم »

د قاسم په زړه کې د خوشحالۍ ډېوه رڼا شوه. هغه وکتل چې ددوې تر منځ د خپلمنځې نفرت زمکه لا د پخوا څخه تیاره شوې ده. قاسم ته یواځې دفصل کشت ته اړتیا وه. قاسم په ډېر افسوس سره وویل:

«اوهو ! مقدسه پلاره ! دا ته څه وایې ؟ایا قسطنطین ددې غونډې مشري کارډینل اسیډرو ته ورسپارلې ده. اوس خو به د رومي کلیسا خلک دخوشحالۍ نه په کالیو کې نه ځایږي. مقدسه پلاره ! ته پوهیږې چې د فادر ډیمونان د وژلو مسؤلیت هم د همدې خلکو په غاړه دې. په داسې حالاتو کې به مونږ څنګه دا وزغمو چې کارډینل دې زمونږ ددې سترې غونډې مشري وکړي ، ته هرو مرو په دې اړه یو څه وکړه.»

په بطریق اعظم د قاسم خبرې ډېرې ښې ولګیدې. په حقیقت کې هغه پخپله ددې غونډې مشرۍ ته بډې وهلې وې. هغه د ایاصوفیا مشر و نو څنګه به یې دا زغملې وې چې درومی کلیسا یو معمولې کارډینل دې ددې په شتون کې دداسې یوې مهمې اوسترې غونډې مشري وکړي. هغه خو د رومي کلیسا پنځم پوپ جان نکلسن هم دخپله ځانه ښکته ګاڼه. نوبیا به دده ترمخه دیوه کارډینل څه حیثیت وي ؟ دقاسم دخبرو څخه هغه داسې احساس کړه چې د ډیمونان د وژلو وروسته د مشرۍ له پاره په شهنشاه باندې به لږ څه فشار راوړل د پخوا په نسبت اسانه وی. په همدې خاطر یې قاسم ته افرین ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ايرونه زويه ! زما په زړه کې خو تاته ډيرې هيلې راپيدا شوې. خداې دې وکړې چې ته په هغوې هيلو باندې پوره پوره وخيژې. ته به داسې وکړې چې همدا نن شپه به زما د نماينده په څير دقسطنطنيې د فوځونو دمشر سپه سالار «ګرانډ ډيوک نوټآراس» کورته ورشې اودهغه سره به ووينې. اوهغه به د اياصوفيا د دريځ څخه خبر کړې. هغه ته ډاګيزه کړه چې د اياصوفيا دبطريق اعظم په شتون کې کارډينل سيډرو ته د غونډې مشري ورکول د اياصوفيا له پاره سپکاوې دې ، زه هيلمن يم چې سپه سالار به زمونږ ملاتړ وکړې ځکه چې نوټارس يو سخت مذهبی انسان دې او ديوناني کليسا سخت پيرو دې.

قاسم ته داسې ځرګنده شوه لکه لاټرې يې چې راوتلی وي ، هغه ته داسې وبريښيده لکه په ريښتيا چې دقسطنطنيې د خاتمې او دقيصر د هلاکيدو وخت رارسيدلې وي. هغه ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا مبارک حديث په ياد راغې چې ويلې يې وو.....« اذا هلک قيصرا ، فلاقيصر بعده ..... کله چې قيصر هلاک شي نودهغه وروسته به بل قيصر نه راځی ...» هغه په دې فکر کې و چې په هر قدم کې د خداې ملاتړ ورسره دې. هغه د بطريق اعظم حکم ته لبيک ووايه ، او سپه سالار نوټاس دکور په لور د روانيدو له پاره يې ځان تيار کړ. ددې وروسته بيا د بطريق اعظم اوقاسم ترمنځ په ډيرو امورو باندې خبرې اترې وشوې ،نژدې يوساعت بطريق اعظم قاسم ته ک دخپلو راتلونکو پلانونو په اړه خبرې اولار ښوونې کولې. اوبيا بطريق اعظم قاسم ته د تللو اجازه ورکړه.

دبيرته راستنيدو په وخت کې دقاسم سترګې د اياصوفيا په دروازو او ديوالو باندې ګرزيدې. هغه به په هر موړ کې چې راګرزيده زړه به يې ټکان خوړ....... فکر به يې کاوه چې په دغه بل قدم کې به مارسي ورسره مخ کيږی. ....خو مارسي ورته تر سترګو نه شوه. دبطريق خادمانو قاسم دخپلې کوټې په لور رهی کړ. قاسم ته يې يوه پراخه او هوا لرونکې خونه ور وښوده چې په کې د ژوندانه ټولې اسانتياوې موجودې وې. دا د قاسم د اوسيدو ځاې و ، چې اوس د تهريس دپادري ايرون ترنامه لاندې راغلې و. او د بطريق اعظم وفاداره سلاکار ګرزيدلې و. لږ وخت لا نه و تيرشوې چې زوړ بروس له ځانه سره يوه خادمه او يو خادم دقاسم کوټې ته راوړل. او ورته يې وويل :

« بطريق اعظم دغه دواړه ستا د خدمت له پاره را استولې دي.....دوې به هر وخت ستا په خدمت کې حاضر وي.»

زوړ بروس ولاړ اوقاسم دهغوې دواړو خادمانو څخه دهغوې د نومونو په اړه وپوښتل ، د پيغلې نوم سونيا او د هلک نوم ډيوډ و. سونيا د واليشيا اوسيدونکې وه اودمور وپلار د مړه کيدو نه وروسته په نړۍ کې ځانته پاته شوې وه. بيا دزمانې دپيښو څخه د خوندي پاته کيدو په خاطر يې هوډ وکړ چې دکوم چرچ دخدمت له پاره به ځان وقف کوي. همغه و چې اياصوفيا ته راغله. ډيوډ دجرمنی اوسيدونکې و چې په خپل تير ژوند کې د يوه ظالم يهودې تر لاسو لاندې را پورته شوې و، کله چې د اياصوفيا يو پادري جرمنی ته ولاړ نو هغه ډيوډ ته د مسيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددين د منلو بلنه ورکړه ، ډيوډ چې دغلامۍ څخه نور تنګ ته راغلې و دغه بلنه سمدلاسه و منله. بشپ د غه ظالم يهودی ته د کليسا پيسو نه رقم ورکړ او ډيوډ يی دهغه د غلامۍ څخه ازاد کړ او د اياصوفيا په غلامۍ کې يی را ګير کړ.

سونيا يوه ښکلې نجلۍ وه ، کله به يی چې خندل نو دمخکې ژاملې غاښونه به يی لکه د مرغلرو په څير تک سپين ځليدل ، قاسم دواړه خادمان په کمرې کې د اړتيا وړ شيانو په برابرولو مؤظف کړل ، اوپخپله هغوې ته د څه ويلو پرته د خپلې کمرې څخه بيرون ووت. هغه ولاړ تر څو د سراې څخه خپل ضرورې سامانونه راټول اودلته يی راوړي...

تر ماښامه پورې قاسم په ايا صوفيا کې په ډيره ښه توګه ميشت شوې و. يو يو کس يی وکوت خومارسې يی تر سترګو نه شوه .نوره يی نو دصبر پيمانه ډکه شوې وه. هغه دلته دتهريس دپادرې په توګه راغلې و په دې خاطر يی د چا څخه د مارسی په اړه پوښتنه هم نه شوه کولاې. اوپه ځانګړې توګه خو يی په خپلو خادمانو باندې لږ څه باور هم نه شو کولاې. ځکه چې هغوې دواړو ددې ديوه يوه قدم خبر بطريق اعظم ته ور رساوه.په داسې حالت کې به يی څه کړې وې...... د ډيرې ناارامۍ په فضا کې راپورته شو اوپه خپله خونه کې ګرزيده را ګرزيده. هغه خو خپله دنده په ډيره ښه توګه مخته وړله. خو دخپل محبت قرض يی هم ورکول غوښتل. خومره يی چې ژر غوښتل خپله مارسی ووينې نو همغومره يی دمارسې د ليدلو سره واټن پيدا کيده. خو دستر مقصد دترلاسه کولو له پاره قاسم يو ځل بيا د صبر او استقامت هوډ وکړ. هغه د ماښام دمناجاتو په بهانه دخپلې کمرې څخه ووت او دبل منزل هغه ګيلرې ته ولاړ چې ډيرې قيمتې قالينې په کې خپرې شوې وې ، دغه ګيلرې دچراغونو په رڼا و کې ځليدله. ګيلرۍ ډيره اوږده وه ، قاسم يی اخرې برخې ته ورسيد او بيا هلته را وګرزيد او پښه نيولې شو. دلته يو ستر محراب جوړ کړل شوې و. په دې ګيلرې کې چې دکومو کوټو تر مخ محرابونه موجود وو نوهغه کوټې دسترو سترو خلکو د اوسيدو ځايونه و. قاسم دلته په دې خاطر تم شو چې هغه وکتل د يوه ستر محراب په فرش باندې ګڼ شمير ښځې را ټولې شوې دې. اوپه يوه خاص ډول عبادت کې مصروفه وې. دوې ټولو يو ډول خاورين لباس په تن کړې و. قاسم ددې ښځو تر شاولاړ و. دغه ښځې هملته دمحرابي برنډې په فرش باندې ناستې وې خو ددې محراب تر مخه دکوټې دروازه تړلې وه. قاسم فکر وکړ چې دا به دکوم عبادت کونکې راهب خونه وي چې ښځې مريدانې يی ترې بيرون ناستې اودهغه انتظار کوي. قاسم تر لږه وخته پورې همدلته ولاړ و اوبيا په خپل فکر کې ډوب شو.

دمناجاتو نه دفراغت وروسته بيرته راستون شو ،نوبيا دهمغه لارې څخه را تير شو. خودا ښځې اوس هم همغسې ناستې وې ، قاسم چې دعبادت کولو دا شکل وکوت نو ډير حيران پاته شو ،کله چې خپلې خونې ته راغې نوسونيا په کمره کې موجوده وه. قاسم هسې په سرسرې توګه د سونيا څخه وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« سونیا !.... دغه بل لورې....ګیلري  په ښي لورې کونج کې ګڼ شمیر ښځې په یوې برنډې کې سره راټولې شوې دی او ټولنیز عبادت کوي. هسې پوښتنه مې کوله چې دا څوک دي ؟ ، ،»

قاسم په لمړي ځل د سونیا نوم اخستې و .  دهغې په مخ باندې دخوشحالۍ نښې را پیدا شوې ،بیا یې  په ډېره معصومه توګه  قاسم ته وکتل او ورته یې وویل:

« بلې ! هغوې !...هغه ښځې دي چې دسسټر میري مریدانې دي. هغوې د ایاصوفیا ننانې یا راهبانې نه دي بلکه د قسطنطنیې  عزتمندې ښځې دي چې د سسټر میري  په نوم ژوندۍ دي......»

قاسم نور څه اوریدل نه غوښتل. ځکه هغه ته د سسټر میري نوم اخري لفظ ثابت شو ، دهغه په شریانو کې دویني ګردش نور هم تیز شو  ، هغه د ډیمونان څخه اوریدلي و چې  مارسي ته په ایاصوفیا کې ټول خلک  سسټر میري وایي ، دقاسم په سترګو  کې ځلا نوره هم زیاته شوه اودواړه لاسونه یې په اضطراري توګه په حرکت راغلل. هغه دخپلو لاسو ګوتې یو په بل کې سره ننویستلې اوبیرته ویستلې.... اوبیا دلږ ځنډ وروسته ، معلومه نه شوه ، چې ولې یې د سونیا له پاره غوره مالي پیل کړه.

« سونیا ! ته خو دومره حسینه اوښایسته یې چې ته باید دکوم شرقي هیواد شهزداګۍ وې. ستا په سترګو کې د بدخشان د لعلو په څیر ځلا ده. اوپه شونډو دې دګلابو په څیر سوروالې. زه چې تا وینم نوحیران پاته کیږم چې خداوند به ستا په جوړښت کې څومره روشنیایانې را ټولې کړې وي......»

دا خبرې دیوه سړي له اړخه کلکه حربه شمیرل کیږي... یعني دکومې ښځې په دام کې د راګیر ولو  له پاره دا اخرۍ حربه ده .  او دا ریښتیا هم اخري حربه وه. په نړۍ کې هیڅ داسې ښځه نه شته  چې په خپلې ستاینې باندې خوشحاله نه شی. که څه هم دا  ستاینه په درواغو  ، ولاړه  وه  او یا غیر متوقع هم وي. په هر صورت دادښځو کمزوري ده.  قاسم هم د سونیا د همدې کمزورتیا نه ګټه پورته کول غوښتل. دقاسم دخولې څخه دغسې ناڅاپې او پرته له هیلې  ستاینه اوریدل سونیا  د نشو  په زانګو کې وروغورزوله. دهغې یو لاس ناڅاپه دهغې په زړه کیښوول شو  او غوښتل یې په ژبه څه ووایي خوژبه یې د څه ویلو  نه وتلې وه. هغې قاسم ته دا ویل غوښتل چې ....ته ولې  خاموشه  شوې .....وایه اوهمداسې زما ستاینه وکړه .... دقاسم په څیر  دښه قامت او قوارې  انسان  د قسمت خاوندانو ته تر لاسه کیږي. سونیا هم په خپل بخت باندې ونازیده ، کله چې قاسم دهغې هیجانې کیفیت وکوت نو پوه شو چې تیر یې په نښه لګیدلې دې. نوپه دې اساس یې  ورته وویل:

« سونیا  ته ډېره حسینه یې او ښایسته  خلک  درواغ  نه وایي. ماته  ریښتیا  ریښتیا  ووایه  ،زما خدمت  ته د رالیږلو  نه مخته بطریق اعظم تاسو ته څه ډول هدایت کړی دي....»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو سونیا دموم په څیر ویلي شوې وه. هغه به دقاسم څخه څنګه خبره پټه کړې وې ،همغه و چې سمدلاسه یې ورته وویل چې بطریق اعظم هغوې ستا د جاسوسۍ له پاره ټاکلې دي. قاسم په زړه کې خپل ځانته شاباش وویل . اوس نو هغه غوښتل سونیا نوره هم په اعتماد کې واخلي اودخپلو خبرو په جال کې یې راګیره کړي.خو قاسم ددې یوې خبرې ډیر خیال ساته اوهغه دا چې هغه په خپلو ټولو خبرو کې دې لورې ته هیڅ اشاره ونه کړه چې هغه په سونیا باندې عاشق شوې دی. ځکه هغه نه غوښتل کوم درواغ خبره دخولې وکاږي.. لږه شیبه وروسته سوینا د زړه او ځان دواړو له مخې د قاسم په مریدۍ کې راپریوتې وه. او کله چې هغه بیرته تلله نو قاسم ترې هسې په سرسري توګه وپوښتل چې:

«او هو ! ..... دا سستر میري څوک ده.... ایا کومه راهبه ده...؟»

« هو ! هغه یوه البانوي راهبه ده ،خو دټولو راهباو څخه مختلفه ده . هغه چرچ ته دعبادت له پاره یوازې د یکشنبې په ورځ راځی ، پاته ټول وخت په بنده کمره کې ناسته وي. داسې بریښې چې دروحانیت کوم غټ پړاو ته رسیدلې وي، ځکه کله چې هغه لیکچر ورکوی نو ټولې ښځې ورته ژاړي. د ښار ډیرې سترې سترې ښځې د سستر میري څخه برکت ترلاسه کوی. یقین وکړه چې په ایا صوفیا کې دهغه درښښت او قدر د « مادر سوزینا » څخه هم ډیر دې.»

قاسم په پوره دلچسپۍ سره د سونیا خبرې اوریدلې. هغه حیران و چې مارسی په دې څوکالو کې څومره بدله شوې ده. معلومه نه ده چې قاسم څه فکر کړې و چې یو ځل بیا یې وپوښتل:

« ایا دهغې په لیکچر کې یوآځې ښځې ګډون کوې نارینه په کې نه وی...؟»

« هو ! بلکل نه ، هغه خو د نارینه و مخې ته بلکل راځی نه ، ډیر وخت په پرده کې اوسیږي. هو !.....کله کله دمیلې یا کرسمس په وختونو کې په ټولنیزو عباداتو کې ګډون کوې ، نوکله چې د حجابه پرته محفل دهغې مخ ویني نو دسپوږمۍ په څیر روښانه مخ یې ټول محفل تر اغیز لاندې راوړي. سونیا دا اخری خبرې د شرارت له پاره په خندا خندا کې کولې.. ځکه هغې غوښتل د قاسم سره خپل ځان درسمیاتو څخه وکاږي. دقاسم سره هغه ښایسته ډیره و ځنډیده او غوښتل یې نوره هم هلته دهغه سره پاته شي. خو بیا هم په پوره نازړه توب سره ددروازې په لور ولاړه او دخوشحالۍ نه ډک زړه سره دهغه ځایه ووتله.

قاسم ته اوس دمارسي درک لږیدلې و. ددې خبرو په اوریدو سره دهغه په زړه کې نوې اندیښنې را وټوکیدې ،کله به یې فکر کاوه چې دا د البانوي کنیزې هغه لور نه ده چې د لاله شاهین په یادګار کې به یې ورسره کتلې. اوکله به یې فکر کاوه چې مارسی اوس یوه باعزت او باوقاره راهبه ګرزیدلې په دې خاطر به دسستر میری څخه دهغې بیرته مارسی ته راوړل شوني نه وي. هغه دا فکر هم کاوه چې ایا مارسي بیرته داسلامه ګرزیدلې او عیسویت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی خپل کړې دې ، حال دا چې هغه مسلمانه شوې وه او د اسلام لمړنی ښوونې یی هم تر سره کړې وې. خو زړه یی څواب ورکاوه چې نه. مارسې اسلام نه پرېږدي.

د سونیا د تللو وروسته ، قاسم تر ډېره پورې په همدې خیالاتو کې ډوب و . هغه په همدې کشمکش کې و چې ډیوډ ورته د بطریق اعظم په لور د ورتللو پیغام راوړ. همل ته قاسم ته دا هم په یاد راغلل چې هغه خو به نن د فوځ سپه سالار «نورټاس» سره د کتلو له پاره هم ورځي ، ټوپ یی کړ ، راپورته شو او د بطریق اعظم ځانګړې خونې ته ور روان شو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډوډۍ په سر اختلاف

په قسطنطنیی کې د جنګ له پاره ځانونه تیارول په پوره بیړې سره روان و. دښار ټولو اوسیدونکو لکه د میږیو په څیر دمیوو او غلو په را ټولولو کې منډې ترړې وهلې. شهنشاه دغربي اروپا څخه د مرستو د ترلاسه کولو له پاره خپل تجربه لرونکي سفیران استولي و. هغه د «پوپ جان نکلسن» د ملاتړ د تر لاسه کولو له پاره د روم د کلیسا ټولې غوښتنې منلې وې او د هغې سره د یوناني کلیسا د یوځای کولو هوډ هم ښوولې و. د «وینس» او «جینوا» بحري بیړۍ د فاسفورس ابنا ته را رسیدونکې وې، په قسطنطنیه کې دیوه لکو نه زیات خلک اوسیدل ، دښار ټولو معمارانو د ښار دیوالونه ترمیمول. د اهنګرانو بازار شپه او ورځ پرانستې و او په سلګونو کار ګرانو شپه او ورځ د جنګ سامانونه تیارول. په ګولډن هارن کې پروت زنځیر نورهم غښتلې کړل شو ، دښار د دیوال چې څلوارلس میله نیم دایره شکله پروت و یوناقابل تسخیر دیوال وګرزید. د دیوال شاوخوا ته یو ستر خندق هم وکندل شو چې د اړتیاو په وخت کې په کې د سمندر اوبه راپریښوول کیدې شوې ،په دې توګه د ښار څلور واړه خواوې اوبه ګرزیدلې. د پخوانی تعمیر دوه ستر برجونه چې توپونه پرې ایښول شوي و له نوي سره مضبوط او مستحکم کړل شول.

د جینوا په فوځونو کې هغه مشهور او معروف سالار هم و چې «کمانډر جان جستیماني» نومیده. نوموړې داروپا ډیر میړنې جنګجو او تجربه لرونکې سالار و. شهنشاه جستیماني ته په نا ارامۍ سره انتظار کاوه ، دهغه جهاز ډیر ژر د دانیال د دروازې څخه را تیریدونکې و.

مقصد داچې د قسطنطنیی خلکو د سلطان محمد د راتلو له پاره ځانونه پوره پوره تیار کړي و. د بله اړخه سلطان محمد خان هم په دې ښار باندې د یرغل له پاره دخپلو تیاریو په اخري پړاونو کې و. په دې خاطر چې هغه د قسطنطنیی د کلابندۍ په وخت کې بلې کومې لورې ته متوجه نه شي نو د کرمانیا دامیر سره یې سوله کړې وه اودهغه لور یې ځانته نکاح کړې وه. بیا یې د هنګري دپادشاه هونیاډې سره ددرې کالو له پاره س وله وکړه ، هونیاډې دکاتولیک مذهب پیرو وو او دقسطنطنیی سره داختلاف په اساس یې د سلطان سره سوله وکړه. په دې توګه سلطان خپل شاته د شمالي اروپا ګواښونه تم کړل، خو د موریا سیمې ته یې چې هلته د قسطنطین بل ورور حاکم و د تجربه لرونکو سپاهیانو یو لښکر ورولیږه ترڅو د اړتیاو په وخت کې دهغه د راتلو مخه ونیسي.

دفاسفورس په ابنا باندې د رومیلي کلات جوړښت هم په خپل اخري پړاو کې و ، سلطان په اورنه کې اتیا زره سپاهیان را ټول کړل. خو لا تر اوسه دسپاهیانو د راټولو کار جریان درلود. ځکه سلطان پوهیده چې دقسطنطنیی د سوبې له پاره یوائې دعسکرو را ټولول بسنه نه کوي. په همدې خاطر د سلطان انجیر «اربان» شپه او ورځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه سترا و تباه کونکي توپ په جوړلو مصروف و ، تر څنګ يې دسلطان بحري بيړه هم په پوره تيزۍ سره د تکميل په لور روانه وه.

د «اورنه» په سلطاني قصر کې د کوچني معصوم شهزاده د وژلو نه وروسته دملکې سروين حالت ډير خراب شوې و. سلطان پخپله دملکې تر مخه حاضر شو او په دې پيښه يې خپل غم او ژور خفګان و ښود او هغې ته يې د هر اړخه ډاډ ورکړ چې دهغې کوچني شهزاده په وژلو کې دهغه هيڅ ډول لاس نه و. د سلطان مشهور سالاران « احمدکدک پاشا» او محمود پاشا» د فوځې تياريو په لړ کې يو دبل نه مخته روان و. اغاحسن هم ديني چري د ځوانانود روزنې له پاره د مصنوعي ديوالونو په ورختلو اودهغو څخه دتيريدلو تمرينونه کول. په دې تمرينونو کې داغا حسن په ګډون پنځه نور سالاران او دوه سوه غښتلي عسکر شامل و. اغا حسن پاته فوځ ته د غشي د ويشتلو او د تورې د وهلو د فن روزنه هم پيل کړې وه. که له يوه اړخه په اورنه کې دهر وګړي په سترګو کې د جوش او ولولې احساسات تر سترګو کيدل نو دبله اړخه په قسطنطنيه کې دهر وګړي دسترګو اومخ څخه خاورې باديدې.

قاسم د سپه سالار نورټاس ميلمستون ته ورننوت. نو دهغه پوزې ته دشرابو بوې راغې. دروازه چې قاسم ته يوه ستره ځوکۍ وړاندې کړه اوپخپله د سپه سالار نورټاس د رابللو له پاره دهغه خونې ته ورغې...... کله چې د پيړ او غټ وجود خاوند نورټاس د قاسم خواته راغې نوقاسم ور پورته شو اودهغه سره يې لاس ورکړ ، خو نورټاس د شرابو په نشه کې مست و ، سترګې يې درنې وې ، دقاسم تر څنګ کيناست اوبيا په دروند اواز سره وويل:

« تاسې د بطريق اعظم ځانګړې نماينده ياست. په همدې خاطر زه يو ځل بيا ميلمستون ته راغلم ، اوکه نه ستا څخه لږه شيبه مخته ما د شهنشاه ددوو کسو نمايندګانو سره پوره وخت تير کړې و »

سپه سالار همدومره وويل اوبيا لاس ور اوږود کړ او يو ځل بيا يې دخپل ځان له پاره دشرابو پياله ډکه کړه ، دسپنيو زرو جام يې راواخست او قاسم ته يې وويل:« بده يې مه ګڼه ، زه ډير زيات شراب څښم ، اوبيا په ځانګړې توګه مې کله چې د سلطان محمدخان له اړخه د حملې کولو خبر اوريدلې دې نو په ذهن مې ډير زيات دروندوالي راغلي دې.....په همدې خاطر ډير څښم. زه نه غواړم چې زما په زړه کې دنوې ځوان سلطان څخه ويره راپيدا شي.....زه ډير تجربه کاره يم ، او ته خو ما ډير ښه پيژنې....»

دنورټاس د خبرو څخه څرګنديده چې هغه ډير زيات شرا ب څښونکې دې ، قاسم د دې فرصت نه ګټه واخسته اوسمدلاسه يې وويل « درونده سپه سالاره ! ته يې بې شکه څښه. دشرابو د څښلو سره به ستا ميړانه دوه هومره زياته شوي ..... هسې خو هم ته ډير ميړنې اوبهادر انسان يې. ستا په شتون کې به څوک جرءت وکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقسطنطنيې په لور ستړګې راپورته کړي ،خو تا د شهنشاه د نمايندګانو په اړه ماته څه ويل غوښتل. اوستا خبرې په نيمايي کې پاته شوې....»

قاسم چې که وکتل چې نورتاا د دې جام څخه هم څلور پنځه ګوټه وکړل نو دخپل مطلب خبره يې ورته وکړه ، اوس نو د نورتاس نشه نوره هم زياته شوې وه، دقاسم دخبرو په اوريدو ډير زيات خوشحاله شو ، دخوشحالۍ په تال کې کيناست اوقاسم ته يې دهغه په ستاينې باندې افرين ووايه. دقاسم د خبروپه ځواب کې نورتاس په نشه کې به خبرو پيل وکړ:

« دشهنشاه نمايندګان !......هو ! هغوې بې عقله په دې خاطر ماته دلته راغلي و چې له ما وپوښتي چې د جنرال جستېماني د ښه راغلاست له پاره څه ډول تياري ونيول شي ؟ .....اوس ته راته ووايه چې زه د يوه کوچني کلي د قومندان له پاره لاس په سينه دريدلې شم ؟ نوتارس دقاسم په سترګو کې سترګې ور ننويستې اودا خبره يې ورته وکړه.

« بلکل نه !دا کار خو د بازنطيني سلطنت د ډوبيدو په خير دي. ستا خبره سهي ده. د جينوا په څير د يوه کوچني رياست د قومندان بايد ستا په څيرد ستر سالار د حکم لاندې وي....تا دشهنشاه کسانو ته څه ځواب ورکړ.

قاسم د هر وخت څخه پوره پوره ګټه اخستله ، او د نورتاس د غوښتنوو سره سمه خبره يې کوله. اوس نو نورتاس په مکمله توګه د هوا په څپو سپور شوې و.

« واه ،...واه..... فادر! ته څومره نيک انسان يې. ته زما په دردونو ښه پوهيږې ، دهغه وخته راهيسې چې جستېماني د قسطنطينې په لور را خوزيدلې دې د شهنشاه په سترګو کې زما قدر را کم شوې دې. خو زه به په دې جنګ کې شهنشاه ته دا ډاګيزه کړم چې زه څومره ستر سالاريم....... هغوې چې نن سبا زمونږ په سرونو باندې مسلط شوې دي..... هغوې..... هغوې خو ته ښه پيژني ..... زه دکارډينل خبره کوم......کاردينل اسيډرو .... غلط او ناولې انسان.....» سپه سالار نورتاس دخپلې نشې په وخت کې همغې لور ې ته ولاړ کومې ته قاسم دهغه بوتلل غوښتل. سپه سالار په خپله دکارډينل خبره راوسپړوده. په دې وخت کې ورته قاسم وويل:

« ته د کارډينل اسيډرو په اړه خبره کوې. زه خو پخپله په همدې لړ کې تاته راغلې يم ، ته خو خپل غم او درد د شرابو دڅښلو په نشه کې له ياده باسې ،خو بطريق اعظم داسې نه شې کولې..... خداوند دې خيروکړي ، معلومه نه ده چې په شهنشاه باندې څه شوې دي چې دقسطنطنيې دټولو امراو دسپکاوې له پاره په منډو ترړو کې مصروف دې. ديوې خوا يې تاته حکم کړې چې د يوه کوچني حنرال جستېماني د استقبال له پاره ځان تيار کړې اودهغه تر مخه ټيټ شې اودبلې خوا يې په اياصوفيا کې ددوارو کليساو د ګډې غونډې درابللو اعلان کړې دې اوبيا يې دهغې مشري هم کارډينل استېډرو ته روکړې ده. ته خو پوهيږې چې کارډينل د دروم دکليسا يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمولي مامور دې. په داسې حال کې چې دبطريق اعظم دنده دټولې عيسوي نړۍ تر ټولو ستر دنده ده. همدا علت دی چې بطريق اعظم ډېر زيات انديښمن شوی دی ، هغه دلته زه تاته په دې خاطر را استولې يم تر څو تا دبطريق اعظم د احساساتو څخه خبر کړم. دهغه فرمان دی چې د کارډينل مشري به د يوناني کليسا له پاره د سپکوالي سبب وګرځي.

قاسم دهمدې خبرو دکولو وروسته خاموشه شو .هغه دخپلو خبرو په وخت کې دنورټاس مخ اوذهن هم مطالعه کاوه . نورټاس پخپله يوناني و او سخت مذهبي انسان و . په دې اساس د يوناني کليسا دسپکوالي دخبرې د اوريدو سره سم په غضب شو او ويې ويل:

« هيڅکله هم نه ! زه به هيڅکله هم د « دي هولي ارتودکس » چرچ سپکوالې و نه زغمم. بطريق اعظم ته زما داپيغام ور ورسوه چې ته هيڅکله هم انديښمن کيږه مه. بلکه هغه ته زما له اړخه دا مشوره ورکړه چې هغه دې سبا د ښار د ټولو پادريانو اوراهبانو يوه ګډه غونډه راوبولي اوپه هغې کې ټولو چرچونه ته داحکم وليږي چې هغوی دې په ولس کې د شهنشاه ددې کار په خلاف غورنګ پيل کړي. اوخلک دې راوګماري چې هغوی دې دکارډينل مشري او درومن کتوليک د چرچ برلاسې په هيڅ توګه و نه مني.»

قاسم په دې پوهيده چې سپه سالار په نشې کې ډوب شوی دی خو دسپه سالار دمشورې د اوريدو وروسته قاسم داسې و انګيرله چې سالار د نشې څخه راوتلی دی ،نورټاس ډېر زيات شراب څښونکې و په دې خاطر کم نشه کيده. قاسم دنورټاس د مشورې څخه ډېر خوشحاله شو او نورټاس يې ډېر وستايه او ژمنه يې ورسره وکړه چې هغه به بطريق اعظم ته د ګډې غونډې دپيليدو تر مخه د يوناني کليسا د يوې ځانګړې غونډې درابللو له پاره مشوره ورکوي....

په همدې وخت کې د قاسم په ذهن کې يوه خبره راغله او په ډيرې ښې سليقې سره يې د نوټارس څخه يوه ډېره مهمه پوښتنه وکړه.« دروندِه سپه سالاره ! که ته يې بده ونه ګڼې نو زه دخپل ډاډ په خاطر يوه پوښتنه کول غواړم ...... اوهغه دا چې ايا مونږ د رومي کليسا د بسپنې نه پرته دسلطان محمد خان دځواکمن فوځ دمقابلې توان لرو او که نه ؟..... زما مقصد دادې چې له مونږ سره اوس څومره فوځ شته.

دقاسم دپوښتنې په اوريدو سره نوټارس يو ناڅاپه تک ژيړ شو ، دا سې معلوميده لکه چا يې چې وينه زبيښلې وي ، په حقيقت کې دا د سلطان محمد د نوم داوريدو ويره وه ، ځکه نوټاراس د عثماني سلطانيو په اړه ډېر ښه معلومات درلودل. خوبيا يې هم په ډېر احتياط سره قاسم ته ځواب ورکړ.

« زمونږ سره اوس خپل پنځوس زره فوځ موجود دی. چې د نيمايي څخه ډېر يې سپاره فوځيان دي ، ددې نه علاوه د قسطنطنيې د شاو خوا او يونان د سيمو څخه هم د همدومره فوځ د راتلو هيله شته. او په دې توګه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د فوځونو شمیره د سلطان محمد د فوځونو په اندازه برابره شي. خو مونږ د سلطان څخه په یوه شي کې ډیر مخکې یو او هغه زمونږ بحری ځواک دې. ځکه د عثمانیانو سره نه بحري ځواک شته او نه په دې اړه کومه تجربه لري. دهغوی په مقابله کې خو مونږ د بحر په منځ کې اوسیږو اوپه بحر باندې حاوي یو. او ددې ټولو نه ستره خبره داده چې زمونږ دیوالونه دومره مستحکم دي چې تر اوسه پورې ترې کوم فاتح نه دې راتیر شوې ..»

قاسم ترې دډیرو زیاتو مهمو معلوماتو د اخستلو پروګرام پیل کړې و. او په قسطنطنیه کې ددې مهمه دنده هم همدا وه. کله چې نوټاراس د دیوالونو مهمې خبرې ته ورسید نو قاسم ترې یو دم بیا وپوښتل:

« خو ما اوریدلې دي چې دښار دیوالونه په یو شمیر ځایو کې ناکاره شوی دي..... ایا دا سهي خبره ده ؟»

« هو ! دا سهي ده ، خو اوس په ډیره بیړه دهغو نا کاره ځایونو جوړښت روان دې...... مونږ به دمسلمانانو په لاسو مات نه کړل شو . ځکه چې په قسطنطنیه باندې دیسوع مسیح سیورې دې.

ته خو پخپله فادر یې اوله ماڅخه په دې خبرو ښه پوهیږې. نوټاراس دخپل ذهني اوزړه د ډاډ په خاطر د مذهبې برکتونو په لور مخه کړه. قاسم کله دا فرصت له لاسه ورکاوه. سمدلاسه یې ترې وپوښتل:

« ولې نه ! په کوم ښار کې چې دایاصوفیا په څیر ستر مرکز وي نو په هغه ښار باندې به څه ډول مصیبت راشی. زه تاته په پوره ډاډ سره ویلې شم چې داښار به د دنیا تر پایې ته رسیدو پورې همداسې خوشحاله اواباد پاته وی....»

« افرین ! ځوان فادر !..... ستا حوصله ډیره ستره ده. .... زه ډاډ من یم چې مونږ به د رومن کتولیک د چرچ تر مخه د سپکاوي څخه خوندي پاته شو.»

په همدې توګه خبرو کولو کې د وخت دتیریدو فکر هم چاته نه و پیدا شوې. حال دا چې ډیر زیات وخت تیر شوې و. قاسم دنوټاراس څخه ډیر زیات مهم معلوماتونه ترلاسه کړې و، قاسم له همدې ځایه هوډ وکړ چې همدا نن شپه به د سلطان په نامه یو اوږود لیک چې دغه ټول معلومات په کې درج شوي وی لیکي.

کله چې قاسم د نوټاراس د خوني څخه بیرته ستون شو نو سونیا یې په کمره کې منتظره ناسته وه. هغې لمبلې و او نوې کالې یې په ځان کړې و تر څنګ یې د سترګو د ښو له پاره هم ځانګړې تور رنګ استعمال کړې و. سونیا راهبه نه وه بلکه یوائې یوه خدمتګاره وه. خوبیا د ایاصوفیا د چرچ په څیر یو عبادتځای کې دهغې دغه ډول ځان ښایسته کول څه حیرانونکې معلومیدل. خو قاسم په هدف دخپل غشي په لګیدو باندې په زړه کې ډیر خوشحاله و، سونیا په دې خاطر دومره ځان جوړ کړې و اوراغلې وه چې قاسم یې د ښایست اوښکلا ډیره ستاینه کړې وه. خوبیا هم قاسم ته په خپله کمره کې د سونیا منتظر پاته کیدل دحیرانتیا وړ و. خو هغه خپله پخوانۍ رویه په ځاې وساتله او د سونیا څخه یې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« سونیا ! که ته ځان داسې ښایسته او ښکلې کړې نو د کوم لیوني په سترګو کې به راشې. زه خو وایم چې دخپل ځان خیال و ساته...... او هو ! په دې وخت کې زما خوني ته څنګه راغلې یی ؟»

دقاسم د خبرو لمړۍ برخې سونیا ته نوره هم خوشحالي او فرحت ور ببښلې و. خو په ناڅاپی توګه یی خپله دنده ورته رایاده شوه او قاسم ته یی وویل: « زه خو دبطریق اعظم په حکم دلته راغلې یم ، هغه ویلي و چې تاته ووایم چې کله هم راستون شوې نو له ماسره یو ځل ووینه.»

قاسم د یوې لمحې له پاره په فکر کې شو اوبیا یی د لږ څه فکر کولو وروسته د بطریق اعظم د کتلو له پاره هغه لورې ته مخه کړه. وروسته ورپسې سونیا ورغږ کړ.

« بطریق اعظم زما څخه ستاپه اړه هم پوښتلی و...»

قاسم ددې خبرې په اوریدو سره تم شو. او بیا یی سونیا ته مخ کړ او ورته یی وویل چې له تاڅخه یی څه پوښتلي و: اوبیا تا ورته څه ویلي دي.؟»

« ما هغه ته وویل چې تاسې د یسوع مسیح ددین ریښتوني خادم اومخلص عیسوي یاست. ستاسې په زړه کې د قسطنطنیی د خوندي ساتلو له پاره پوره ولولې شته اوتاسې بلکل یو ریښتوني او میړني انسان یاست .....ایا ما ورته سهي خبرې کړې دي ؟»

اوس نو قاسم ډیر حیران پاته و ، ځکه هغه فکر هم نه کاوه چې ددومره لږې ستاینې په اساس به سونیا پرې دومره فدا کیږي. د بله اړخه هغه اندیښمن هم شو چې هسې نه چې دغه پیغله پرې ځان مین نه کړي. دهمدې فکرونو په اساس هغه سونیا ته د لمړي ځل له پاره لږ څه دروند ځواب ورکړ.

« سونیا ! ستا نه ډیره ډیره مننه .چې بطریق اعظم ته دې ریښتیا ریښتیا خبرې کړې دي.»

قاسم دخپلې خونې څخه ووت او سونیا یی تر شا ورته په خوږو خوږو سترګوکتل.

بله ورځ د قاسم له پاره ډیره مصروفه ورځ وه ، بطریق اعظم د نوټاراس په سلا دیوناني کلیساو د راهبانو اوپاد ریانو غونډه رابللې وه. قاسم د بطریق اعظم په حکم باندې د ضروري کاغذونو په راټولو اوجوړولو کې مصروف و. ځکه بطریق اعظم دیوناني کلیساو راهبانو ته دشهنشاه دهر تیرې په اړه ثبوت وړاندې کول غوښتل. دبطریق اعظم اغیز او رسوخ د کوچنیو کوچنیو پادریانواو راهبانو په واسطه په عوامو کې پوره خپور شوې و. او دا همغه دور و چې په « روم» کې دپوپ ځواک د شهنشاه د ځواک څخه زیات و ، اوهمدې وخت ته د اروپا د زوال وخت هم وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي کرکه اونفرت خپل اوج ته رسیدلي و. لا تر دې وخته پورې د «مارټن لوتر» ډله نه وه را پیدا شوې. د روم پاپ نه یوازې د ټولې اروپا روحاني مشر و بلکه د ټولو سرو اوسپینو مالک هم و. په دې وختو کې د روم د کلیسا عدالت په عوامو باندې هر ډول ظلم او تیرې کاوه. عیسایت د هوس پالو مذهبی مشرانو د لوبو اله ګرزیدلې وه. او د اروپا مذهبی مشران دبې لاریو ښکار شوي و، دبیا راپورته کیدو د وخت نه نژدې دوه پیړۍ مخته اروپایی عیسوي پادریان د ظلم، تیرې اوهوس بندګان و.

په دیارلسمه عیسوي پیړۍ کې د سسلي او جرمني په پادشاه (فریډرک ثاني) باندې د روم پوپ د کفر فتوې ولګوله. پر هغې د الزامونو په لیست کې دا هم و چې هغه هره ورځ دمسلمانانو په څیر غسل کوي، د مردار و اوخیرنو کالیو د اغوستلو په پایلو کې به د سپږو دومره زیاتوالې راپیدا کیده چې د «کنټربري» لاټ پادري به کله بیرون وت نو په قبا به په سلګونو سپږې له ورایه معلومیدې. تر ۱۰۲۰ پورې د لندن په بازارونو کې د انسانانو غوښې پلورل کیدې. د روم د پاپا عدالت دخپل جوړښت په همغه لمړي کال دوه زره کسان ژوندي وسوځول اوپه لسو کلونو کې یې اویا زره کسان په اور کې ور واچول. دفرانسې مشهورې ازادی غوښتونکې ښځې «جون اف آرک» هم په ۱۴۳۱ کې په همدې ډول سزا محکومه شوې وه. داخلاقو معیار دا و چې دهغوې د لمړنیو پادشاهانو ښځه یې پنځلس همجنس پاله و.

قاسم په خپله کمره کې د نن ماښام د غونډې له پاره د اسنادو د راټولولو په کار کې مصروف و. چې په دې وخت کې شعله کونکي سونیا یو ځل بیا کمرې ته راننوتله. د راننوتلو سره سم یې دروازه د ځآن پسې و تړله. هغه په یوه منډه راغله او دقاسم په پښو کې کیناسته. قاسم هغه وخت ډیر وارخطا شو چې ویې کتل چې سونیا ژاړي.....قاسم ترې وپوښتل: څه درپیښ شوي دي.... سونیا همداسې ژړل او قاسم خپل سترګې پټولې او همدا یې ترې پوښتل چې: چل څه شوي دي؟ لږه شیبه وروسته قاسم په خپل حال شو او سونیا ته یې مخ کړ: «سونیا! څه در پیښ شوي دي؟ ولې ژاړې؟ چا درته څه ویلي دي؟»

«نه! درونده میلمه! ماته هیچا هم څه نه دي ویلي، ماته چې هر څه ویلي دی هغه تا ویلي.....زه اندیښمنه یم، ماته ټوله شپه خوب نه دې راغلې....زه نه پوهیږم چې زه څه وکړم؟....»

قاسم د سونیا په ناروغتیا پوه شوې و. هغه حالاتو وهلی یوه غمژنه پیغله وه. دهغې غوړونه دنرمې لهجې او دمحبت نه ډکو الفاظو اوریدو ته تږی و. هغې ته چې په ژوند کې هر څوک مخې ته راغلي نو د جنسي هوس له پاره یې استعمال کړې ده، هغه د سترو سترو راهبانو اوبطریقانو د پټو رازونو څخه خبره وه. ان تر دې چې دغه زوړ ستر بطریق هم سونیا سلامته نه وه پریښې. خو هیچا هم د سونیا زړه نه و راسپړودې چې ووینې چې هغه څومره زخمې دې. پرون چې قاسم د خپل مقصد له پاره دسونیا سره څو نرمې خبرې وکړې اوهغه یې وستایله. نو هغه ګیچ پاته شوې وه. دهغه په زړه څه داسې هیجان راغلې و چې ټوله شپه یې یوه لمحه هم خوب ته نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریښې. تر څنګ یې دقاسم انځور د سترګو تر مخه ایښوول شوې و ، هغه دسهار څخه تر اوسه پورې په خپله کمره کې ناسته وه او په خپل قسمت یې ژړل. هغې خپل ځآن ددې ځوان لایق او ورېږ نه ګاڼه چې ددې لورې ته یې التفات کړې و. هغه د قاسم په پښو کې ناسته وه اوژړل یې ، کله یې چې ښه وژړل نو سمدلاسه پخپله په خندا شوه ، دا نو ډیره عجیبه منظره وه ، دهغې سترګې لا د ژړا څخه لمدې وې او په مخ یې د اوښکولیکې نه وې خرابې شوې خو اوس یې دیوه معصوم کوچنی په څیر په خندا لاس پورې کړ.....قاسم فکر کاوه چې دا دایاصوفیا خادمه نه بلکه د اسمانه راغلې کومه پریښته ده.

قاسم هم دهغې ددې خلوص څخه په خندا شو ، ته خوسونیا ډیره عجیبه پیغله یې ، هم ژاړې اوهم خاندې. پورته شه او دروازه پرانیزه اوبیرته راځه. دغسې په بنده دروازه کې کیناستل ښه نه بریښي.

سونیا ته دقاسم دمحبت او مینی نه ډکه لهجه ډیره خوښه شوه ، سمدلاسه ولاړه او دروازه یې پرانسته ، خو هغې ددروازې کنجې و ګرزوله ، ددروازې کومه پله یې خلاصه نه کړه. بیرته دقاسم مخې ته راغله او د شرارت نه په ډکه لهجه یې ورته وویل:

«ایا سستېر میري ستا ډیره خوښیږي ؟ زه به یې در ته ووایم چې سستېر میری زما هم ډیره خوښه ده. زه د ورځې یو ځل نیم دهغې کتلو ته هرو مرو ورځم. هغه زما سره د یوې خور په څیر ناسته پاسته کوی ، دهغې سره دناستې په وخت کې زما ټول غمونه له منځه ځي»

دمارسی د نوم په یادولو سره د قاسم زړه بل لورې ته ولاړ. دسونیا دا خبره چې هغه د ورځې یو ځل د سستېر میري لورې ته ورځې د قاسم له پاره ټکان ورکونکي وه. په دې وخت کې یو ناڅاپه دقاسم په زړه کې یو عجیب فکر راپیدا شو. قاسم تر یوه وخته پورې په خپل دغه فکر کې ډوب و اوبیا کومې پریکړې ته ورسید او د خپل ځان سره یې و خندل. لږه شیبه وروسته هغه دخپله ځایه پورته شو او دخپل سامان څخه یې د مارسی ګوته راوویستله. که څه هم هغه په دې فکر کې شو چې دهغه ددې اقدام څخه به بې چاره سونیا نوره هم په غلط فکر کې ولویږي، تر یوې لمحې یې صبر وکړ خوبیا یې خپل ستر مقصد په فکر کې راوست او ډاډمن شو ، هغه یو دوه قدمه د سونیا په لور ورغې اوبیا یې دمارسی ګوته دسونیا په لورور نژدې کړه او په ډیر اخلاص یې ورته وویل:

« سونیا ! زه یو راهب یم.....تاته خو جسماني محبت نه شم درکولې ، خو د خپل ورحاني محبت تحفه تاته درکوم. له تانه هیله لرم چې پر ماپورې به خپل امیدونه نه تړې .ځکه چې ته خو پوهیږې چې یو راهب محبت کولې شي خو واده نه شی کولې..... دا واخله او په ګوته یې کړه.....»

دسونیا حالت دکتلو وړو. د قاسم خبرې دسونیا په غوږونو کې د سختو نیشه کونکو شرابو په څیر ور پریوتې او هغه یې زړه بایلیدونکې کړه. دهغې سترګې د عقیدت په نشې کې ډوبې شوې اوشونډې یې د احساساتو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې په رپيدو شوې ، دخپل نصيب څخه په ويره کې شوه . ځکه نن قاسم هغې ته ګوته د تحفې په توګه ورکړه ،ګويا هغه يې دمحبت په غشي وويشتله .هغې خپل لاس ورمخته کړ او د ګوتې د په ګوته کولو له پاره يې خپله ګوته هم رامخته کړه. کله چې دقاسم لاس دهغې په نرمې او نازکې ګوتې ولګيدنو دسونيا په بدن کې د لړزيدو په ځای ارام او سکون راپيدا شو . هغې ته داسې ډاګيزه شوه چې قاسم دهغې د لاس اوګوتې په نيولو سره هغه د نړۍ د جهنم څخه راببرون کړې ده. دهغې د سترګو څخه د اوښکو دوه ستر ستر څاڅکې لاندې په فرش باندې را توې شول. سونيا ته داسې څرګنده شوه لکه د نړۍ ټول بار يې چې د اوږو څخه پورته کړل شوې وي.

په همدې وخت کې چې قاسم سونيا ته ګوته په ګوته کړه نو دقاسم د کوټې دروازه په غږ سره پرانستل شوه او يو اجنبي وګړې دهغه کوټې ته راننوت ، د دې اجنبی په کتلو سره دقاسم اوسان وار خطا شول ، سونيا هم په وارخطايی سره يوې لورې ته ودريده. ځکه چې په دروازه کې په خپل سره راننوتې اجنبي قاسم ته په کرکجنه توګه کتل . دا پنځوس کلن زوړ وګړې خو د ځواکمن وجود خاوند و . قوې سترګې يې درلودې ، سترګې يې داسې سرې وې لکه چا چې په کې د اورتکې سرې سکروټې ايښودې وي . دبطريق په څير کالي يې په ځان و او په لاس کې يې امصا نيولی وه .... دا شاګال و ..... د اياصوفيا پيرې .... سونيا به ورته د اياصوفيا پيرې وايه .... بلکه سونيا په ريښتيا هم هغه د پيرې په څير منلې و . ځکه هغه به د ورځو ورځو راهيسې ورکيده ، هيجاته به يې په اړه معلومات نه و چې شاګال چيرې تللې دې ؟ اوبيا به يو ناڅاپه په ايا صوفيا کې را څرګند شو ، دهغه په اړه يوه خبره ډيره مشهوره وه چې هيڅوک د شاګال په سترګو کې سترګې نه شي ور ننويستلې . ان تر دې چې د بطريق اعظم پورې د پورته مرتبې خلک هم د شاګال دسترګو څخه ځان تيروي . دخلک ګمان خودا هم و چې دشاګال په سترګو کې د يوې دقيقې له پاره د سترګو ننويستل انسان له منځه وړي ، هغه انسان بيا په څلورويشت ساعتو کې له منځه ځي ... داخبره څومره سهي وه او څومره غلطه ... خو دسونيا تر مخه شاګال يو دوه کسان په همدې توګه له منځه وړي و ، شاګال به عادتا خاموشه و . دهغه څيره د رازونو څخه ډکه وه او هر انسان به چې ورته ډير وکتل هغه به د ويرې اودهشت سره مخامخ کيده . په چرچ کې نورو خلکو هم دا ګمان کاوه چې شاګال انسان نه دې بلکه دقسطنطين پيرې دې چې عمر يې ددرې سوه کالو څخه ډير دې . او دقسطنطنيې د خوندې ساتلو له پاره د خداوند يسوع مسيح له اړخه ټاکل شوې دې . د هغه د اوږود عمر دباور کونکو دليل دا و چې هغوې دغه شاګال د تيرو ډيرو کلونو راهيسې په همدغه شکل سره وينې . دبطريق اعظم تر څنګ د يو شمير سترو خلکو فکر هم همدا و چې شاګال پيرې نه دې خو دا يې منله چې شاګال د پټو ځواکونو مالک دې او د تور جادو خاوند هم دې.

شاګال په داسې وخت کې دقاسم د کمرې دروازه پرانسته چې قاسم سونيا ته ګوته ور په لاس کوله . خودهغوې بخت ښه و چې د دروازې د پرانستو اواز سونيا او قاسم واوريد اوقاسم سمدلاسه د سونيا څخه خپل لاس راښکود. قاسم ته د شاګال تر شا خپل خادم ډيوډ هم تر سترګو شو ، او ډيوډ ورته هم د رازونو ډک انسان معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو . سونیا خو شاګال پیژانده اما قاسم هغه د لمړي ځل له پاره کوت. ځکه شاګال دقاسم داجازې پرته دهغه خونې ته راننوتې و . دهغه تګ لکه د هندوستان دسوامیانو په څیر و ، دتلو په وخت کې یې د انسان د قد په اندازه امصا په زمکه وهله او دکمرې منځته راغې. دهغې د سترګو څخه را پورته کیدونکې حرارت قاسم هلته په خپل ځان کې محسوساوه. هغه دقاسم مخې ته راغې او دهغه تر مخه خاموشه و درید. لړه شیبه کې یې د قاسم په سترګو کې خپلې سترګې ور ننویستلې ، قاسم ته دشاګال دغه ډول راتګ د زغم وړ نه و . په دې خاطر قاسم هم دغصې نه ډکې سترګې د شاګال په سترګو کې ور ننویستلې ، خو لړه شیبه کې قاسم ته داسې ډاګیزه شوه چې دهغه تر مخه انسان نه بلکه کوم شیطان ولاړ دې. قاسم د شاګال د سترګو څخه د راوتلې حرارت په اساس ناارامه شو اوخپل وجود یې دخپل وزن څخه ډیر دروند احساساوه.

پخوا له دې چې قاسم دهغه د سترګو دحرارت ځواک له لاسه ورکړې اوخپلې سترګې ترې را واړوې ، اندیښمنې سونیا رامنډه کړه اوقاسم یې پورې واهه او د شاګال د سترګو څخه یې لرې کړ اوبیا یې په لړزانده اواز سره وویل:

« دا بطریق شاګال نومیږي .....دهغه په سترګو کې سترګې ننویستونکې ژوندې نه پاته کیږي. هغه د زرګونو پیریانو ځواک لري.....»

سونیا ددې نه اخوا نور څه و نه شو ویلې. ځکه چې دشاګال څیرونکې سترګې په هغې ور ونښتې ، معلومه نه ده چې قاسم ته څنګه معلومه شوه چې د شاګال شاته دهغه خادم په خندا دې خو قاسم تر ډیره پورې خپله غصه پټه نه کړای شوه اوشاګال ته یې وویل:

« درونده بطریقه ! تا به ما ته حکم کړې وې چې زه به خپله ستاسې خدمت کې حاضر شوې وې. دغه ډول ، د یو چا کمرې ته ، دهغه داجازې پرته ور ننوتل ښه نه ښکارې.....»

« هو هوهو ! .....تا سهې خبره وکړه ..... ما تاسې دواړه هسې په هسې پریشانه کړئ ... خو زه حیران یم چې په قسطنطنیه باندې دمرګ ویره را خپره شوې ده او تاسې دواړه د ایاصوفیا په پاکو حجرو کې رومانس ته ملاتړلې ده ..... ما اوریدلې دې چې ته د تهریس څخه راغلې یې. ایا دا رینښتیا دې ؟»

اوس نو دقاسم غصه یو ناڅاپه په هوا کې ولاړه او دپښولاندې یې زمکه وښویده. ځکه د شاګال په لهجه کې دګیدړو په څیر مکر اوفریب پټ و. قاسم ته دا لهجه ډیره پر اسراره ښکاره شوه. خو ځان یې سنبال کړ او ویې ویل:

«بلې ، هو ......دا رینښتیا دې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دا خو ډېره ښه خبره ده .....تهریس خوزما ډېر خوښ دې.. زه ډېر وخت د تهریس کلیسا ته ورځم ..... حیران یم چې تاسره مې ولې هلته نه دي لیدلې......»

اوس به قاسم څه ویلې واې. هغه د خپل ځان د خلاصون له پاره خبره شاته وغورځوله « په حقیقت کې به زه ډېر وخت په ځانته عبادت کې مصروف ووم ، او د ډېرو خلکو سره به نه شو کتلاې ، دا خو زما ډېره بد قسمتي ده چې ما هلته له تاسره نه دي کتلي.....»

« هوووووو !.....دا رینښتیا هم ستا بد قسمتي ده ...خیر !اوس خو زما اوستا تر منځ لیدنه وشوه نور نو ته بد قسمته نه یې..... زه به یو ځل بیا له تاسره وینم. د څه ضروري خبره له پاره ..... زما منتظر اوسه..»

قاسم ته داسې ډاګیزه شوه لکه شاګال چې ګواښ ورته کوي. خوبیا هم قاسم ورته مسکې شو او ورته یې وویل: «ضرور ضرور .....زه به ستا انتظار کوم»

شاګال لکه څنګه چې راغلې و همغسې د خونې څخه بیرته ووت. خو ډیوډ په خپل ځاې ولاړ پاته شو. قاسم ډیوډ ته مخ کړ او ورڅخه یې وپوښتل « ایا بطریق همداسې وي ؟ انسانیت ته د محبت د درس د ورکولو له پاره دیسوع مسیح راهب دغسې نه وي، دا موصوف دایا صوفیا سره د څومره مودې راهیسې اړیکی لري..»

« په دې خو هیڅوک نه پوهیږي ، د هر چا څخه چې پوښتنه کوې وایی چې شاګال یې دهمغې لمړۍ ورځې څخه همداسې کتلې لکه دا اوس چې دې.»

معلومه نه ده چې قاسم ته څنګه څرګنده شوه چې ډیوډ هڅه کوي قاسم د شاګال څخه وویروي ، قاسم د ډیوډ په خبرو باندې په مسخریې توګه و خندل « ښه ، ډېر ښه ، سهی ده. تاسې ولاړشئ ، زه د غونډې له پاره څه ضرور کار ترسره کول غواړم...»

سونیا غوښتل چې تم شي. خو قاسم دواړو ته د بیرته تللو حکم کړې و . نو هغه هم مجبورا دهغه ځایه ولاړه. کله چې هغوې دواړه ولاړل نو قاسم پورته شو او د خپلې کمرې دروازه یې له دننه څخه بنده کړه. اوبیا په خپلو کارو کې مشغول شو. هغه سر ښکته کړې و او څه یې لیکل چې ټکان یې وخوړ او فکر یې وکړ چې شاګال یې تر مخ ولاړ دې اوپه ډېرو بدو سترګو هغه ګاري... قاسم سر راپورته کړ ، مخته یې وکتل خو څوک یې و نه میندل. خو دا د قاسم وهم و. قاسم خپل ځانته په قهر شو او له ځانه سره یې وویل چې د یوه مؤمن په صفت د یوه شیطانه ویره احساسوی. اوبیا بیرته په خپلو کارو کې مشغول شو.

کله چې سونیا خپلې کوچنۍ شانته خونی ته راغله نو زمکې ځاې نه ورکاوه. هغه دقاسم له اړخه ورکړل شوې ګوتې ارام ته نه پرېښوده ، خپلې کمرې ته د راننوتلو سره سم یې د کمرې دروازه و تړله. اودقاسم له اړخه ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ګوته یې په لاس کې را واخسته او په ډېره مینه یې ورته کتل. بیابیا یې هغه ګوته ښکلوله اوبیا بیا یې په خپلو سترګو مخښله. اوبیابیا به یې خپل پخواني ترخه یادونه را یادول او دسترګو څخه به یې پرې اوښکې تللې. هغې خو چرچ ته پناه راوړې وه. خو دلته په راتلو سره یوه یوه راهب په جدا جدا توګه دهغه ابرو او عزت له منځه وړې و ، دا چې دغه د خلکو ترمخ د اوږدو اوږدو ویناو کونکي دخداوند یسوع مسیح یواځې په نوم راهبان دپاکو اوسپیڅلو پیغلو دلوڅو جسمونو څخه څه ډول ګټه اخلي ، دا خبره سونیا ته دلته چرچ ته د راتلو وروسته معلومه شوه. هغوې چې د غمونو د پرېښودو له پاره دلته راغلې وې ، خو په ایاصوفیا کې ورته دهغې نه زیات غمونه منتظر وو. هغې چې کله په ایاصوفیا کې خپل لباس لویدلې وکوت نو ډاډمنه شوه چې په نړۍ کې ورته دعزت د خوندي کیدو له پاره دپناه هیڅ ځاې ځیرې نه شته همدا علت و چې هغې خپل ځان د ایاصوفیا د شرایطو په مطابق ور وغورزاوه.

خو نن ورته قاسم دخپلې مینې نښه ،ګوته ، د تحفې په څیر ورکړې وه اوهغې ته یې یو ځل بیا ژوند وربښلې و. اوس نو هغې په ایاصوفیا کې په خپل تیر ژوند باندې افسوس کاوه. کاش چې هغې خپله ابرو او عزت خوندي ساتلې وې نو نن به یې د ایرون په پښو کې هر څه په پوره ویاړ سره قربان کړې وې ، همدا پیښماني دهغې په زړه اودماغ کې راګرزیده ، ډیره پریشانه وه خو د قاسم له اړخه ورکړل شوې تحفې به بیرته خوشحالیو ته را ستنوله. څومره زیاته چې هغه نن ناقراره وه په خپل ټول ژوند کې پرې دومره ناقراري نه وه راغلې. په همدې وخت کې یې په ذهن کې د سسټر میري روڼ مخ هم را وګرزید. په داسې وختو کې یواځې سسټر میري وه چې هغې ته یې حوصله ورکولې شوه. هماغه وه چې سونیا خپل سترغلي پاک کړل او دسیسټر میري په لور د تللو له پاره یې ځان تیار کړ.

نن د سیسټر میري په دروازې کې دهغې مریداني ښځې یوه هم نه وه .ځکه دهغوې له پاره یواځې د خالي اویکشنبې ورځې مختص شوې وې. او نن ددوشنبې ورځ وه. سونیا په ډیره کراره توګه د سسټر میرې دروازه و ر وټوکوله. او کله یې چې ځوابې اشاره ترلاسه کړه نو دننه ورننوتله.

سسټر میري په خپله کمره کې ناسته وه اودخپل عادت په مطابق یې یو عجیب اوغریب کتاب لوست. دسونیا په کتلو سره یې هغه کتاب بند کړ او هغه یې په یوه صندوق کې کیښود او د سونیا سره د کتلو له پاره راپورته شوه. سیسټر میري سپین کالي اغوستي واومخ یې د وقار او رعب نه ډک و. دا د «ایاصوفیا» یواځنۍ راهبه وه چې تر اوسه یې کوم نارینه ځانته نژدې نه و پریښې.... هغې دهمغه لمړۍ ورځې څخه دیوې عبادت کونکې راهبه شکل او بڼه اختیار کړې وه..... دا پخپله مارسی وه.

مارسي سونیا په ډېره مینه دخپلې سینې سره رایوځاې کړه اوپه خپل څنګ کې یې کینوله اوبیا یې ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« سونیا څه خبره شوې ده ، نن خوستا په څیره کې اندیښنې راولاړې شوې ښکاري. ماته ووایه ، زه به دې دغم دبدلیدو هڅه وکړم.»

خو سونیا د ځواب ورکولو په ځای په ژړا او واویلا پیل وکړ. سر یې دمارسي په سینې کیښود ، مارسي خپل لاس دهغې په ملا کیښود اوهغې ته یې دقرار ورکولو هڅه پیل کړه.....سونیا ژړل خومارسي خاموشه وه. داسې بریښیده چې هغې سونیا ته د ژړا کولو فرصت ورکاوه ..... په همدې وخت کې د سونیا دګوتې لاس چې هغې په خپل وجود کې پټ کړې و په غیر اختیاري توګه بیرون را ووت. او دمارسي سترګې پرې ولګیدې.... دمارسي سترګو په سرسري توګه دسونیا دا ګوته وکتله خو جدی یې ونه ګڼله. خو لږه شیبه وروسته دمارسی سترګې یو ځل بیا په دغه ګوته باندې ور ونښتې اوس نو مارسی په ډیره جدي توګه د سونیا په لاس کې دغې ګوتې ته کتل. دهغې په زړه کې دماضی یادونه را څرخیدل....دهغې سره د مارتها هغه یادګار ګوته وه چې مارسي قاسم ته ورکړې وه. نو په دې فکر کې چې هسې نه چې دهغې سترګې فریب وخوري نو د ګوتې په جوړښت باندې یې غور کول پیل کړل ، خو دا همغه ګوته وه. وجود یې په لړزان شو ، سونیا یې په ډیر احتیاط سره را سمه کړه او په خپل هیجاني کیفیت یې قابو پیدا کړ اوبیا یې په ډیرې نرمې لهجې سره سونیا ته وویل:

« ګوره سونیا ! ..... دداسې ژړاګانو څخه څه نه جوړیږي ... اوس چپ شه ، شاباس.. اوماته ووایه چې څه خبره شوې ده.؟»

مارسي خپلې پاکې ګوتې د سونیا په مخ ووهلې ، اوس نو سونیا خپل ځان ډیر سنبال کړې و ، رانیغه شوه او کیناسته. اوپخپل لاس کې یې په ګوته کړل شوې ګوته را مخته کړه اوسسټر میري ته یې وویل:

« ته خودا ګوته ویني که نه ! داماته هغه ځوان راکړې چې د پریښتو په څیر پاک انسان دې ، هغه د قسطنطنیې اوسیدونکې نه دې ، دبیرون څخه راغلې دې ، خو سیسټر .....زه څه وکړم....؟ما په هغه خپل زړه بایلودې دې. خو نه زما په وس کې ده او نه مې په اختیار کې چې زه هغه دخپل ځان کړم. هغه یو راهب دې اوزه د یوه چرچ خادمه یم..... سسټر ! زه خپل ځان دهغې ور نه وینم ، زه به هغه ته څنګه ووایم چې زه ښه نه یم پاته شوې ..... هغه ډیر ښه دې....»

خو مارسي د څه اوریدو ته تیاره نه وه. هغه په خپل ځای باندې لکه د تیږې په څیر جامده ناسته وه ، هغې ته په خپلو سترګو او غوږونو باور نه و ، هغې په تیرو اوو کلونو کې ډیر زیات ژړلي و ، ډیرې سجدې یې کړې وې ، ډیر لمونځونه یې کړي و اوپه پټه پټه یې دغه تیر اوه کلونه د الله تعالې په مخ کې ډیر ژړلې وخو هیڅکله یې د خپل فریاد ځواب نه و اوریدلې. خو نن یې په ناڅاپي توګه قاسم ته د خپل اړخه ورکړې ګوته وکتله. سونیا ورته ویلې چې هغه ځوان همدلته د ې او دا دمارسي له پاره ډیر عجیبه لمحه وه ، ځکه قاسم بلکل دهغې سره نژدې و ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د زړه ددرزهار انداز هم بدل شوې و ، دا درزهار لمړی ديوې راهبې د زړه اواز و چې دټولې دنيا د دنارينه و څخه يې ځان يوې خوا کړې و او دخپل پروردګار سره يې مينه پيدا کړې وه ، خو نن يې زړه په يوه بل انداز کې درزيده او دا ديوې ځوانې پيغلې د زړه درزار و چې د کلونو کلونو راهيسې يې دخپل محبوب کتلوته ليوالتيا درلوده. هغې يقين نه شو کولې ، په دې فکر کې شوه چې کيدې شي دا ګوته دبل کوم کس لاسو ته ورغلې وی او تر دې ځايه را رسيدلې وي،په دې اساس يې په پوره ناقرارۍ سره دسونيا څخه وپوښتل:

« دهغه ځوان راهب قواره او څيره څه ډول ده.... ايا ته يې ماته ويلې شې ؟»

سونيا ددې خبرې په اوريدو سره ټکان شانته وخوړ خوبيا يې دقاسم څيره مخته راوړه اوپه ډيره ښه توګه يې هغه تعريف کړه. اوس نو سونيا هم ډاډمنه شوې وه چې تعريف کړل شوې راهب پخپل قاسم بن هشام دې. دمارسی کيفيت هم بدل شو. هغې غوښتل چې همدا اوس او همدا شيبه راپورته شي اودقاسم په لور ورمنډه کړي.د قاسم په غيږې کې سرور ننباسي او دزړه له کومې وژاړي اوهغه ته ووايی چې.....« درځه ! .....ټول هر څه پريږده او ما ددې ستونزمن ژوند څخه بيرون کړه....» خوهغې داسې نه شواې کولې. هغې سونيا له ياده وويسته او د خپل تير پخواني ژوند په يادونو کې را ونغښتله. هغې يوه يوه خبره رايادوله.« لاله شاهين» يادګار ، دقاسم کور ، د قاسم خندانه ورندار ، د قاسم وريرونه.... اوبيا يې خپله مور راياده شوه. او بيا يې يو ناځاپه ذهن و دريد اوپه دې فکر کې شوه چې هسې نه چې ډيمونان هم دقاسم په لاسو وژل شوې وي. او بيا يې همدا فکر په زړه کې پوخ شو چې قاسم دلته قسطنطنيې ته د راتلوسره سم ډيمونان وژلې دې ، خو هغه وخت چې هغې اوريدلې و چې دسلطان مرادخان زوې سلطان محمد خان په تخت د کيناستو نه وروسته په قسطنطنيه باندې دحملې کولو ګواښ کړې دې نودهغې په دعاوګانو کې هم ډيرښت راغلې و. هغې به شپه او ورځ دخپل مالک تر مخه همدا دعاوې کولې چې هغه ورځ ډيره ژر راوړې چې سلطان محمد په قسطنطنيه باندې حمله وکړي ، هغه په دې هم ډاډمنه وه چې دسلطان په لښکرو کې به قاسم بن هشام هم ورګډ وي ، په تيرو اووکلنو کې به مارسی ډيروخت په دې حيرانه وه چې ولې يې قاسم د لټون هڅه نه ده کړې. هغه په دې پوهيده چې که چيرې قاسم يې دلټون هڅه وکړي نوپيدا کيدل به يې ورته ستونزمن نه وي اودهغې سره کتلاې شي. خو نن ډاډمنه شوې وه چې قاسم دهغې پل تعقيب کړې ، اوس نو دقاسم د کتلو له پاره نا ارامه وه خو دصبر لمن يې پرېښنبوله.او خپل وقار يې په ځاې وساته اوسونيا ته يې وويل:

«ډير ښه.....اوس نو تا دهغه سره مينه پيدا کړې ده. خو دا راته ووايه چې هغه هم له تاسره مينه کوي او که نه ؟»

«هو کوي يې ! او ډيره زياته يې کوي ، خو هغه مجبور دې ، هغه وايی چې زه تاته جسماني محبت نه شم درکولې ،ځکه چې زه يو راهب يم ، خو روحاني محبت درکولې شم ،هغه ماته روحاني محبت راکړې دې ،اودا ګوته دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحبت ننبه ده. خو سستر میري ، زه په دې نه پوهیږم چې روحاني محبت څه ته وایی ؟ تا ته به معلومه وي ، که څنګه ؟»

مارسي یوه پوهه او رسیدلې پیغله وه. هغه په ډیره اسانۍ سره دخبرو بیخ ته ور رسیدله. هغه په دې فکر کې وه چې قاسم دې نجلۍ ته قصدا دا ګوته ورکړې ده تر څو یې تر ما پورې را ورسوي. او زه یې و پیژنم. دا دقاسم له اړخه یو ډول پیغام و. مارسي دقاسم دپیغام څخه ډیره خوشحاله شوې وه ، خو هغه په دې ډیره خفه وه چې دا ناپوهه سونیا هسې په هسې د قاسم په محبت کې را ننبتې ده. په ناڅاپې توګه د قاسم په ذهن کې یو خیال راغې او سمدلاسه یې سونیا ته وویل:

« ډیره ښه ! ..... هغه راهب اوس له تاسره روحاني محبت کوي. زه تاته یوه خبره درښیم ، ته یې هغه ته وکړه .... نو هغه به پرتا نور هم ډیر مهربانه شي .... خو تر هر څه لمړۍ زما یوې خبرې ته کلک غوږ کیږده. چې خپل ځان دهغه په مینه کې دومره مه لیونې کوه ،هسې نه چې خپل یې نه کړې او بیا یې دجدا والې غم هم و نه شې زغملې ....»

سونیا مسکۍ شوه او بیا یې په ډیره بې صبرۍ سره ورته وویل: « ماته هغه خبره وښیه چې راته دې یې دښوولو ژمنه کړې وه . » ته خو پخپله د یسوع مسیح راهبه یې. نو تاته به دمحبت په اړه څه معلوم وی ؟» معلوم نه شوه چې ولې د مارسي په شونډو باندې عارفانه مسکا را پیدا شوه. هغې یوه اوږده ساه واخسته اودهغې خبره یې تکرار کړه اوویې ویل:

« هو ! ته سهي وایې. ماته به د محبت په اړه څه معلومات وی ؟»

سونیا داسې وانګیرله چې د سستر زړه یې خفه کړ. سمدلاسه یې ښښنه وغوښتله ، او بیا یې په زارۍ کونکې لهجې سره وویل « سیستر ! که چیرې ماته ښښنه وکړې نو بیا راته ووایه چې ماته څه ویل غواړې ؟»

مارسي د یوې لمحې له پاره د سونیا په څیرې باندې سترګې ور ښخې کړې اوبیا یې ورته وویل:« ته هغه ته ووایه ..... د لاله شاهین کوترې الوتې دي.. کله چې نیلا اوبه سرې شي نو بیا به خپلو کورنو ته بیرته راستنې شي.»

سونیا په ډیره حیرانتیا سره د مارسي خبرې واوریدې. یوځل یې څه وکړه دا الفاظ په خپله ژبه باندې تکرار کړې او ځان پرې پوه کړي خو بیا یې په حیرانونکې توګه وویل:

« سستر ! دا څه خبره ده ؟.... زه خو پرې هیڅ پوه نه شوم د لاله شاهین کوترې زمونږ دمحبت سره څه اړیکې لري..»

« ته ددې جملې په مطلب پوهیدل پریږده اودا یو ډول روحاني منتر و ګڼه. ماتاته د محبت یو یادګار پیغام در ښوولې دې. دا دیو چا دمحبت پیغام دې...... او ډیر زیات اغیزمن دې....»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سونیا پرې بیا هم ونه پوهیده خو د سیسټر میري پیغام یې په ژبه یاد کړ.

د ایاصوفیا د پادریانو غونډه چې ماسپښین څخه پیل شوې وه دشپې تر ناوخته پورې یې دوام وکړ. په دې غونډه کې د قسطنطنیې ټولو پادریانو برخه اخسته وه. اوټول په دې خبره ډیر په قهر و چې ولې شهنشاه ددواړو کلیساو د ګډې غونډې له پاره کارډینل اسیډرو د مشر په څیر ټاکلې دې. دا خو د ایاصوفیا دبطریق له پاره سپکوالې دې. دقسطنطنیې ټولو مذهبي مشرانو په ګډه دا پریکړه وکړه چې هغوې به د غونډې په ورځ د شهنشاه تر مخه احتجاج کوي. او کله چې ددواړو کلیساو دغه غونډه خپل اوج ته رسیږي نودوې به یې په همغه شیبه کې بایکاټ کوي او ناکامولې به یې. دا حقیقت و چې دښار د خلکو زړونه او دماغونه د کلیسا دمذهبي مشرانو په لاسو کې و. خلک ددې حالاتو په کتلو سره مجبور و دمذهبي مشرانو لورې ته مراجعه وکړي ځکه همدې مذهبي خلکو، عوامو ته د هغوې دپیسو، سرو او سپینو زرو په مقابل کې د جنت ټکټونه ورکول. دا ډاډمنه وه چې که چیرې ټولو پادریانو دشهنشاه په خلک راپارول نو خلک به لکه د اور سکروټې ګرزیدلې وې. په دې اساس د بطریق اعظم سازش بریالی شو او ټولو پادریانو ورسره په دې اړه ژمنه وکړه....

کله چې دشپې غونډه پای ته ورسیده نو قاسم د بطریق اعظم څخه اجازه واخسته اوپه خوشحالۍ سره د خپلې کمرې په لور ولاړ. دهلیزونه ټول خاموشه و او ډیره کي خلک په خپلو خونو کې ویده شوي و.

قاسم په زینو وخوت او دویم منزل ته ولاړ خو معلومه نه ده چې دویم منزل ورته ولې دومره وران ویجاړ ښکاریده. دلته هم په دیوالونو او دروازو باندې دمشالونو په رڼاو پتنګانو نڅاوې کولې. کله چې قاسم په لمړي موړ کې را وګرزید نو یو سورې لرونکې شکل یې وکوت چې ښې او چپ لورې ته یې حرکت کاوه...... داسې څرګندیده لکه کوم کس چې یو ناڅاپه کومې خوني ته ورننوځي... قاسم سخت متوجه شو.

په حقیقت کې قاسم د غونډې د جریان نه وروسته د ګڼ شمیر پادریانو سره دد ې ستر مقصد دترلاسه کولو له پاره د یوځاې پاته کیدو تبلیغ کاوه. اوتر دې وخته پورې بطریق اعظم او نور ستر پادریان خپلو خپلو کمرو ته ورغلي و. کله چې د ښاره راغلې د کوچنیو کلیساو پادریان رخصت شول نو دشپې لمړی برخه تیره شوې وه او په هغه وخت کې د ایاصوفیا دغه برخه لکه دقبرستان په څیر خاموشه پرته وه.

قاسم په داسې حال کې چې وینښتان یې په بدن را پورته شوي و د دهلیز څخه تیر شو او خپلې کمرې ته ورسید. خو کمرې ته په ورننیژدې کیدو سره یې چې کله وکتل چې دکمرې دروازه یې پرانستې ده نو حیرانتیا یې نوره هم زیاته شوه. قاسم په ډیر احتیاط سره خوني ته ورننوت خو په کمره کې هیڅوک هم نه و. البته دکوټې ټول سامان یې خپور ور شوې و او داسې بریښیدله چې چا یې سامان ټول پلټلې دې. دقاسم ذهن سمدلاسه دبطریق شاګال په لور ولاړ ځکه د نن سهاره څخه هغه شاګال نه و کتلې. قاسم خپل سامان راټول کړ او بیرته ولاړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده شو. خو خوب یی د سترګو څخه لرې تښتیدلې و. اوس نو هغه ډېرو عجیبو حالاتو سره مخ و، تر هغې چې ددندې پورې یې اړونده وه نو دقاسم کار د وړتیا وړ و. خو تر هغې چې دمحبت پورې یې اړه درلوده نو لا تر اوسه دقاسم هڅو او کوششونو کومه د ډاډ وړ نتیجه نه وه ورکړې. قاسم دخپلې خونې دروازه د دننه څخه وتړله او په خپلې بسترې باندې پریوت. اوبیا معلومه نه ده چې څه وخت به یې سترګې ورغلې وې. کله چې دقاسم سترګې ورغلې نو دقاسم دکوټې کړکۍ کې یو حرکت شانته پیدا شو، دا یوه ډېره درنه کړکۍ وه او د یوه نری اواز سره سم خلاصه شوه.

دمشال په ګرزیدو کې په کوټه کې دهرشي سیورې په حرکت راغلې و، کله چې کړکۍ پرانستل شوه نو دمشال رڼا دکړکۍ یوې لورې ته هم ور وغځیده. اوپه دې توګه تر مخه سیورې هم رڼا شو. لږ وروسته دغه سیورې د اواز دپیدا کیدو پرته د قاسم د کوټې په لور را روان شو، د قاسم کوټې ته راننوت او کړکۍ یې د ځان پسې بنده کړه، دشپې دویمه برخه هم تیریدونکې وه، د ایا صوفیا ټوله وادي په خوب کې غرقه وه، هرې لورې ته چپه چپتیا وه او د ستنې د غورزیدو اواز هم اوریدل کیده. خو دقاسم په خونه کې موجود سیورې هیڅ ډول اواز نه راپیداکاوه. سیورې چې کله د قاسم تر پښو را ورسید نو یو دم تم شو د رڼا سیورې په سیورې باندې پریوتې و. په دې اساس هغه سیورې نه و بلکه یو ژوندې انسان و. کمرې ته د راننوتلو سره سم یې دخپلې خولې پرده لرې کړه رڼا و ښووله چې هغه سونیا وه. سونیا د «ایاصوفیاء» جذباتي کنیزه.

سونیا د قاسم په قدمونو کې کیناسته او دهغه لوڅې پښې یې لکه دلیونو په څیر کتلې. د قاسم وجاهت، د هغه قدو قامت، دهغه ځواني اوښایست ....ټول هر څه لکه دسپوږمۍ په څیر ځلیدل. سونیا غوښتل چې ورشي او دقاسم تر څنګ څملي.. خو کوم نالیدلې قوت هغه ددې کاره منه کوله، هغه تر ډېره پورې د قاسم په پښو کې ناسته وه، بیا راپورته شوه او دقاسم په پښو باندې ورښکته شوه اوهغه یې ښکل کړې ..... په همدې وخت کې دقاسم سترګې را خلاصې شوې، خپلې پښې یې کش کړې او راپاڅید اوکیناست:

«دا څنګه حرکت دې؟....سونیا! دا ته یې؟.... په دې وخت کې....؟اوبیا زما په خونه کې؟...»

سونیا ورته په خپلو شونډو لاس کیښود او د خاموشه پاته کیدو اشاره یې ورته وکړه. اوپه ډېره خاموشانو توګه یې ورته داسې وویل لکه څوک چې منتر وایی ......

«د لاله شاهین کوترې والوتې..... کله چې نیلا اوبه سرې شي نو بیرته به خپلو کورنو ته را وګرځي..»

قاسم یو ناڅاپه په خپل ځای باندې ګونګ سونګ کیناست. دا خو نیغ په نیغه دمارسی پیغام و. دهغې د جسم هر رګ دخوشحالۍ نه په نڅا کې و.دهغه نه دا ویر شول چې دا دشپې دویمه برخه ده او سونیا یې په کمره کې ځانته ورسره ده. هغه راټوپ کړ او په بستر کې نیغ کیناست او په ډېره بې تابۍ سره یې د سونیا څخه وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ځ..ځ...... څه .....تا ...... تا څه وویل ؟ یو ځل بیا یې ووایه !»

سونیا یوځل بیا وویل « د لاله شاهین کوترې الوتې دې او کله چې نیلا اوبه سرې شي نو بیرته به خپله ځالو ته را ستنې شي.»

قاسم د مارسي په پیغام و پوهیده . مارسي ورته همدا ویل چې کله چې په ابنای فاسفورس کې د عیسوي فوځیانو ویني وبهیږي نو دې سپین روبې راهبه به هم د خلاصون لاره بیامومي ...

د مارسي پیغام د قاسم په زړه کې نوې روح را وپاراوه ، دا لمړې ځل و چې هغه ته په محبت کې بریالیتوب تر لاسه کیده . هغه د خوشحالۍ نه جذباتي شوې و ، مخته راغې او خپل لاس یې د سونیا په اوږه کیښود ، سونیا د انار د ګل په څیر تکه سره شوه . قاسم سونیا ته وویل:

« سونیا ! تا نن زما زړه د مینې نه ډک کړې دې ، نن چې ته له ما څخه هر څه غواړې اوله ماسره ویې نو زه به یې هرو مرو درکړم»

سونیا په زړه کې سستېر میري ته دعاګانې پیل کړې ، ځکه هغې ورته د قاسم درام کولو له پاره منتر ښوولې و . د سونیا زړه د مینې اومحبت نه درزیده .اوپه خپل قسمت یې ناز کاوه . سونیا د قاسم د خبرې په اوریدو سره په شرارت سره وویل:

« رېښتیا ؟......ایا رېښتیا دې چې هغه څه چې زه یې وغواړم ته به یې هرو مرو راکوې ؟»

« هو ! بې شکه ، ما چې کومه ژمنه کړې ده هغه به خامخا پوره کوم»

« نوبیا ما د خپل ځان سره ملګرې کړه»

قاسم حیران شو ځکه د سونیا خبره ذومعنې وه . قاسم ډاډ من و چې هغه به ترې محبت و نه غواړی ،ځکه چې قاسم یو راهب و اوهغه په دې پوهیده . خو هغې د خپل ځان سره یوځاې دده ملګرتیا غوښتې وه . قاسم وویرید او ناڅاپه یې د سونیا په لور وکتل:

« دا ته څه وایې ؟.... ته خو پوهیږې چې زه یو راهب یم »

« نو څه وشول چې راهب یې ؟ که یو راهب واده نه شي کولې نو ما سره خو نزدیکت کولې شي ؟ زه غواړم ستا په قدمونو کې سر کیږدم او د ټولې نړۍ څخه په بې خبرۍ کې ژوند و کړم......»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاسم حالت د کتلو وړ و. هغه په خپل جال کې را نښتي و. هغه په وختي توګه د سونیا د ټالولو له پاره په یوځو ټکو تکیه وکړه بیا همغه ځو ټکي د سونیا د راتلونکي ژوند له پاره د ټولو ستره تکیه وګرزیده .. قاسم ورته وویل:

« سهي ده نوبیا د قسطنطنیې د جنګ پورې انتظار وکړه ، که چیرې مسلمانانو جنګ وګاټه نو زه به درته تکیه و ګرځم. او که چیرې هغوې ناکامه شول نو بیا به دې له ځایه وکاږم.»

دقاسم دغه جمله دهغه د فکر له مخې بلکل په ځای و ه اوقاسم په خپله زړه کې همدا ډول پریکړه کړې هم وه چې هغه به په دواړو حالاتو کې دغې غمځپلې پیغلې سره کومک کوي، سونیا ددې خبرو په اوریدو سره یو دم د خپل مستقبل په خوبونو کې ډوبه شوه. قاسم ورته یوځل بیا وویل:

« لیونۍ ! ته اوس ولاړه شه ،شپه ډیره تیره شوې ده او تر ډیره پورې زما په کمره کې ستاپاته کیدله سهي نه ي ....»

« ولي سهي نه دي ؟ دلته ته کوم داسې راهب وني چې دشپې یې خونه په ښایسته نجونو نه وي ښکل کړل شوې..»

« زه ستا تر مخه ولاړ یم ، او ته پوښتې چې داسې کوم راهب شته چې پاک لمنې وي ....ماته ووینه ، زه پاک لمنې یم. په دې خاطر ته اوس خپلې کمرې ته ولاړه شه....»

دسونیا زړه خو نه غوښتل خو په ډیره ناخوالې توګه دهغه دکمرې څخه ووتله او دتلو تلو په وخت کې یې قاسم ته په ډیرو حسرتناکو سترګو سره کتل. کله چې سونیا ولاړه نو قاسم لږه شیبه وروسته دخپلې کمرې دروازې ته روغې اودهغه ځایه بیرون وکتل ، دهلیزونه وران ویجاړ معلومیدل، هغه شاوخوا وکتل اوبیا یې سترګې په هغه اوږود دهلیز باندې ور ونښلوې ، خو ددهلیز په اخرې برخه کې یې د چا په کتلو سره هک پک حیران پاته شو ..... ځکه هلته ډیر لرې شاګال بطریق ولاړ و. دمشال په رڼا کې دهغه سره ځیره د ورایه ځلیده ، قاسم ته دهغه سترګې لکه د اور د بڅرکو په څیر ډاګیزه کیدې ، هغه دقاسم په لور متوجه و اوپه ډیره کرکجنه توګه یې دقاسم په لور کتل. پخوا له دې چې قاسم څه وکړي ، شاګال یو دوه قدمه مخته ولاړ او د قاسم دسترګو څخه یې ځان پټ کړ. دقاسم د ملا په هډوکې کې یوډول برقي امواج راپیدا شوي و، هغه بیرته کمرې ته راستون شو او دخپلې کمرې دروازه یې د دننه څخه کلکه بنده کړه. قاسم په خپله بستره باندې څملاست خو د شاګال دواړه سرې سترګې یې په ذهن کې وې او دهرې لورې یې کتلې. بلاخره قاسم خپل سر په زوره وواهه او بیا یې سترګې پټې کړې او د ویده کیدو هڅه یې وکړه خو اوس خوب دهغه څخه ډیر لرې تللې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ اخرى ورځ وه ..... ځکه چې د هغې په سبا په کليسا کې د دواړو کليساګانو يوه ګډه غونډه جوړيدونکې وه .هلته په کليسا کې ددې غونډې دګډونکونکو له پاره نوې کرسۍ خپريدې ، د عبادتځای پرته نور ټول سالون ددايرې په څير په دوه سوه څوکيو ښکلې کړل شوې و. په چوترې يې د غونډې د مشر او شهنشاه له پاره دوه ستر تختونه اېښودې و ، دسالون په منځ کې يو ستر اوپراخه ميدان جوړ کړل شوې و ، نن د اياصوفيا د پاکولو کار روان و. ځکه چې يوه وروسته يې د يونان او روم ددوو کليساګانو تر منځ دجوړ جاړی او اتحاد له پاره خبرې کيدې. خو قاسم غوښتل دا اتحاد له منځه ولاړ شي ، نن يو ځل بيا قاسم د بطريق اعظم په لار ښوونه د فوځ د سالار نورټاس د کتلو له پاره ورغې. قاسم د غونډې د خرابولو په خاطر سپه سالار د سخت قدم اخستو له پاره تيار کړ. دهغه ځای د بيرته راستنيدو په وخت کې قاسم په ډيره نا محسوسه توګه د يو شمير پټو دوستانو سره دکتلو له پاره هم ورغې. خو کله چې قاسم دخپلو ملګرو سره دکتلو وروسته بيرته را روان و نو دبازار په منځ کې يې خپل خادم ډيوډ تر سترګو شو ، قاسم تندې ته ټک ورکړ ،چې هسې نه چې ډيوډ دهغه په تعقيب پسې راوتلې وي ،دغه فکر قاسم ډير نا ارامه کړ. هغه پخپل همدې فکر کې را روان و او په دې توګه د ماسپښين نه مخته ايا صوفيا ته را ورسيد ، په اياصوفيا کې دغونډی له پاره تيارى خپل اخري پړاو ته رسيدلې وه اودسالون دهرې ستنې سره مشالونه روښانه شوې و.

قاسم په بيړه بيړه خپلې کمرې ته ځان ورساوه .... ډيوډ لا تر اوسه دهغه د ذهن څخه نه و وتلې. دقاسم د راتلو څخه لږه شيبه وروسته هغه ليونۍ پيغله يوځل بيا دقاسم تر مخ ولاړه وه ، دراتلو سره سم ترې قاسم وپوښتل:

«ډيوډ چيرې دې ؟»

« نه پوهيږم ، نن سهار مې يو ځل د بطريق شاګال سره کتلې و. هغه وخت هغوې دواړه د اياصوفيا څخه بيرون روان و..»

دقاسم په زړه کې ډول ډول انديښنې راولاړې شوې. هغه دکوم خطر څخه نه ويريده خو په دې انديښمن و چې هسې چې دخپلې دندې د پاې ته رسيدو دمخه يې کار شنډ شي ، قاسم سونيا ته د بيرته تللو اجازه ورکړه اوپخپله دبطريق اعظم د کمرې په لور ور وخوځيد. هغه دغه زوړ بطريق ته د نوټاراس دبسپنې په اړه ډاډ ورکړ خو کله يې چې بطريق اعظم په انديښنو اوفکرونو کې ډوب وکوت نو په ډير احتياط سره يې ترې وپوښتل:

« مقدسه پلاره ! ته ډير انديښمن معلوميږې ، زه ستا د انديښنو د لرې کولو له پاره د هر خدمت کولو ته تيار يم. »

زوړ بطريق د قاسم په لور په ډير غور او دقت سره وکتل او بيا يې په لږڅه انديښمنه توګه وويل: « هو ! رېښتيا هم زه ډيرپه انديښنه کې يم. سبا ددواړو کليساګانو غونډه جوړيدونکې ده اوشهنشاه هوډ کړې چې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې به د رومی کلیسا سره اتحاد کوي ، زه په دې فکر کې یی چې د رومی کلیسا دواکمنۍ نه وروسته به د هیواد په کوم کونج کې ځان پټوم.....»

قاسم د لږ څه غور نه وروسته عرض وکړ « مقدسه پلاره ! ته اندیښمن کېږه مه ،دقسطنطنی دټولو فوځونو سالار نوټاراس ماته ډاډ راکړې چې هغه به په هیڅ قیمت شهنشاه پرې نږدې چې دا یووالې راوړې.»

دقاسم دخبرو وروسته دبطریق حوصله لږ څه په ځاې شوه اوبیا یی قاسم خپلې خواته کیناوه او تر ډیره پورې یی ورسره په مختلفو موضوعاتو خبرې اترې کولې... خو په هر صورت هغه مضطرب اوپریشانه وه ، هغه قاسم ته دقسطنطنی او ایاصوفیا په اړه ډیرې د راز خبرې وکړې چې قاسم ته یی دسلطان په لور دلیږلو اړتیا احساسیده.

غرمه سسټرمیري دخپلې خادمې په خوله باندې سونیا ته ځواب ولیږه ، سونیا بې له ځنډه د سسټر میري خونې ته راغله نو سسټر میري په ډیره خوشحالۍ سره هغې ته ښه راغلاست ووایه. او په مصنوعي توګه یی ترې لږ څه ځان مرور شانته کړ.

« سونیا ! ته ډیره مطلب پاله یی..... هغه نسخه چې ما پرون تاته ښوولې وه نو بیا دې زه دهغې دپایلو څخه خبره نه کړم....»

سونیا ته د سسټر میري په څیر د یوې بزرګې اوعابدې ښځې په دې سلوک باندې حیرانتیا پیدا شوه. ځکه هغې دسسټر میری په مخ کې یو بل رنګ کوت. اودا د پرېښتوپه څیر دپاکوالې په ځاې باندې بل ډول رنګ و. خو بیا هم دسسټر میري په خبرو باندې سونیا خجالت شانته شوه او په خندا یی وویل:

« سسټر !.....ستا نسخه ډیره بریالۍ وختله. اوس نو هغه ځوان راهب په پوره توګه زما په موټې کې پروت دې. زه چې کله وغواړم هغه د ایاصوفیا څخه دخپله ځانه سره یو ځاې ویستلې شم.» سونیا په هواکې خپل موټې پرانست او ویی ویل. مارسي لږ څخه ځوړنده شوه. غوښتل یی څه ووایی چې سونیا ورته یو ځل بیا وویل: « خو سسټر ! زه چې نن تا وینم داسې راته برېښي چې په تا کې د دغو وچو مناجاتو او عباداتو څخه لږ نور څه هم شته. سسټر !نن ته د یوې راهبې په ځاې یوه ښځه ښکارېږې.»

سونیا په شرارتناکه توګه ډیره ستر خبره کړې وه... اوس نو مراسي ته هم د خپلو احساساتو په اړه احساس پیدا شوې و ،په خپل ځان یی کنترول پیدا کړ اوبیا یی وویل: « نه ! داسې څه خاص خبره نه شته ، ما خو ستا دخوشحالۍ له پاره دا ټولې خبرې کولې.....»

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر اوسه پورې به د سونیا او مارسي تر منځه نورې خبرې هم کیدلې چې په دې وخت کې ډیویډ چې د سونیا د لټون پسې ان د مارسی خوني ته رارسیدلې و نوپه دې خاطر سونیا دمارسي سره خپله خبره په نیمایی کې پریښوده او دډیویډ سره ولاړه.

قاسم د شپې تر ډیره پورې د بطریق اعظم سره په خبرو مصروف و اوبلاخره د ټولو اموراتو د جوړښت نه وروسته بیرته خپلې کمرې ته راستون شو او په خپله بستره کې و غوځید.

بله ورځ د سهار دلمر دراختو نه سمدستي وروسته دقسطنطنیی د ایاصوفیا دکلیسا تر مخه د امرانو ، رئیسانو ، وزیرانو ، دسلطنت دمشرانو ، د شاهي کورنۍ ، دزمکنیو اوبحري قواو دمشرانو او دروم د کلیسا د پادریانو بګۍ په کتار کتار په دریدو شوې. کانفرس ماسپښین پیلیدونکې و ، هغه ګډون کونکي چې راغلي و نو هغوې په خپلو خپلو ځایو کیناستل. د ایاصوفیا سالون د ماسپښین نه مخته دخلکو څخه ډک شو ، اوبیا «چوبدار» ددروازې تر مخه اعلان وکړ چې لږه شیبه کې به دمعظم شهنشاه بګۍ را ورسیږي. د ایا صوفیا بطریق اعظم او د سلطنت نور اراکین ټول راغلل تر څو دشهنشاه استقبال وکړي، قاسم هم دبطریق اعظم سره یو ځاې راغي. په دې وخت کې د شاهي ساتونکې ډلې سالار د شهنشاه استقبال کونکو ته په دوو خواو کې د دریدو لار ښوونه وکړه.

تر ټولو دمخه قاسم ته دسل کسو سپرو یوه ډله تر سترګو شوه ، دا ډله په ډیره منظمه توګه را روانه وه ، د آسونو سرونه یی پورته او په پوره مستۍ کې شنړیدل. ددې معنې داوه چې شاهي بګۍ رارسیدونکې ده. ددې آسونو شاته یو ځانته اس سپور چې بازنطینی بیرغ یی په لاس کې و ، پړکیدونکې لباس یی په تن و او خپله لوځه توره یی په هوا کې خوځوله هم را روان و. دهمدې سپور شاته د قسطنطین شاهي بګۍ هم را روانه وه. دلرګي په دې بګۍ یی د سروزرو تارونه ګیېولي و ......د بګۍ دواړو اړخونو ته پردې پرتې وې ، ددې پردو خواوې لږ څه راپورته کړل شوې او شهنشاه په کې د ورایه ځلیده ، کله چې دقاسم سترګې په قسطنطین ور ونښتې نو سمدلاسه یی د رسول الله صلي الله علیه وسلم دا حدیث ذهن ته راغې .....اذا هلک قیصرا فلاقیصر بعده ...... کله چې قیصر هلاک کړل شي نوبل قیصر به بیا نه راځي... قاسم په همدې فکر کې و چې دا همدا قیصر دې چې د هلاکیدو وروسته به یی بل نه راځي. دقاسم سترګې د قیصر په څیرې ور ننښتې وې، دا یوځوان هلک و چې مخ یی لکه دزمري په څیر ښکاریده او سترګې یی لکه دپړانګ په څیر را وتې وې.

کله چې شهنشاه دبګۍ څخه را ښکته شو نو قاسم دهغه د تنومنده جسم په کتلو سره حیران پاته شو ، دا په یقیني توګه دکوم عیش و عشرت کونکي پادشاه وجود نه و. دقسطنطین په سر د بازنطینی سلطنت یولس سوه کلن تاج ایښې و. دبازنطینی سلطنت لمړی قسطنطین دهمدې تاج دپه سرولو په اساس پادشاه شوې و، قسطنطین په پوره بیړه ولاړ اوایاصوفیا ته ورننوت. دشاهي بګۍ شاته په پرلپسې توګه درې نورې بګۍ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي ،په دې بګیو کې د شاهي کورنۍ ښځیه مشراني سپرې وې. په منځنۍ بګۍ کې ملکه او په دوو نورو کې شهزاګۍ سپرې وې ،دوې هم دبګیو څخه را کیوتل او د ایاصوفیا دننه ولاړل.

دشهنشاه د ور رسیدو سره سم دایاصوفیا غونډه پیل شوه، دایا صوفیا بطریق اعظم د یوه میلمه پال په څیر د غونډې کار روایی پیل کړه. په هال کې ټولې چوکۍ دیوې دایرې په شکل کې ایښوول شوې وې ، په ځای ځآې کې د چوکیو دمنځه دتیریدو له پاره لارې جوړې کړل شوې وې ،په دې توګه ددوه سوو وګړو دغه دایره په څو برخو ویشل شوې وه. دا ویش یې داسې کړې و چې ددواړو کلیساګانو مذهبي مشران یې په بیلو بیلو برخو کې کینولي و ،د راهبانو او ننانو له پاره په دایرې کې ځانته نور ځایونه جوړکړل شوي و. شهنشاه ، بطریق اعظم او کارډینل اسیډرو په چوتې باندې ایښول شوو لوړو کرسیو باندې ناست و. دشاهي کورنۍ ښځې هم د ننانو ترڅنګ ناستې وې او د غونډې جریان یې ځاره..... د کلیساګانو د ویش له کبله ددایرې هره برخه په ډلو ډلو ویشل شوې وه. دچوترې تر مخه او ددایرې ترمنځه په مخکنې ځای کې د فوځونو سالار نوټآراس ته ځانګړې ځای جوړ کړل شوې و.....

د ټولو ترمخه بطریق اعظم پورته شو او د « مقدس کتاب انجیل» څخه یې لږ ولوسته.اوبیا یې خپله پرانستې وینا واوروله. بطریق په خپلې وینا کې وویل:

درونده شهنشاه او د غونډې معززو ګډون کونکو !

په تاسې دې خداوند دخپل رحمت سیوری وکړي....

نن دا غونډه د قسطنطنیې د شهنشاه ، دبازنطین د تخت وارث ، بهادر، یولسم قسطنطین چې دروم په قیصر مشهور دې...... په حکم دلته رابلل شوې ده.....

د «رومن کتولیک» او « دي هولي ارتوډکس چرچ» تر منځه اتحاد او یووالې د دروند شهنشاه یواځنې ارزو ده ، تر څو ددواړو کلیساو تر منځ یووالې راشي ، منافرت او ډله بازي له منځه ولاړه شي. ددواړو کلیساو ترمنځه دغه اختلاف د نهه سوه کالو راهیسې روان دې ، معظم شهنشاه او دهغې نیکونه او غور نیکونه ټول د « دي هولي ارتوډکش چرچ» رینښتونې پیروان دي. عظیم قیصر ، « جستینین» د ډیرو زیاتو مصاروفو په واسطه د ایاصوفیا دغه مانۍ اباده کړه چې اوس په کې مونږ ټول ناست یو.

تاریخ ګواه دې چې قسطنطنیې د خداوند یسوع مسیح بلنې ته تر ټولو لمړۍ لبیک ویلي و. په دې خاطر د قسطنطنیې چرچ دخداوند یسوع مسیح د لمړنیو منونکو څخه دې. تاریخ ددې خبرې ګواهي هم ورکوي چې دیولسمې پیړۍ په صلیبي جنګونو کې قسطنطنیې په لکونو شهیدان ورکړې دي او په دې توګه یې دخپل رینښتونې عیسویت ثبوت وړاندې کړې دې. همدا راز تاریخ ددې هم ګواهي ورکوي چې د یسوع مسیح تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی کلیسا په اروپا کې همدلته جوړه شوه. اوهغه هم لمړني قسطنطین د ډیرو ښکلو لرګیو څخه اباده کړې وه. اوبیا پیړی پیړی مخکې د ایاصوفیا یو ډیر ستر بطریق اوزمونږ دټولو مقدس پلار قسطنطین ته یو زیرې ورکړې و چې تاسې ټول ترې خبریاست ، خوزه به ددې خبرې یادول اړین وګڼم « زمونږ مقدس پلار زیرې ورکړې و ، چې یوه ورځ به دترکانو خلک قسطنطنیی ته را ننوځي اود رومیانو پسې به ان د صوفیا سینټ تر هغې ستنې پورې و رسیږي چې د قسطنطین دپادشا په نامه مشهوره ده. بیا به دهمدې ځایه د ترکانو مصیبتونه پیل شي ، ځکه چې په دې وخت کې به داسمانه یو پرینښته توره په لاس راښکته شي....«ګبن»

درنو میلمنو ! ددې اسماني الهام مقصد بلکل څرګند دې اوهغه دا چې یواځې د ایاصوفیا کلیسا ددې ښار دپایښت او خوندي ساتنې ضامنه ده. نن دشرق اوغرب ټول عیسوي مذهبی مشران دلته په ایاصوفیا کې موجود دي ، مونږ دسلطان محمد خان په مقابل کې ددواړو کلیساو په یووالي هیڅ ډول نیوکه نه کوو. مونږ ته به د ډیرې خوشحالی ځای وي چې زمونږ پخواني ورونه ( رومیان ) خپل بدعات پریږدي او زمونږ سره بیرته را یوځای شی.....

د « دې هولي ارتو ډکس چرچ » په ریښتوني توګه د عیسویت نماینده دي. دد ې نه علاوه ، زه د معظم شهنشاه په وړاندې په پوره درنښت سره عرض کوم تر څو دغه غونډه په خپلو خبرو سره پرانزي. تر څنګ یی ور څخه غواړم چې د غونډې د صدارت د اعلان په وخت کې د یوناني کلیسا « ایاصوفیا» حرمت او تقدس د خپل مبارک آند څخه و نه غورزوي. ددې سره خپلې خبرې پای ته رسوم.... شکریه.»

بطریق اعظم په خپل ځای کیناست او شهنشاه د غونډې د صدارت اعلان وکړ. هغه د بطریق اعظم غوښتنه له سترګو و غورزوله او کارډینل اسیډرو یی د غونډې رئیس اعلان کړ. د شهنشاه ددې اعلان سره سم د یوناي کلیساو پادریان په خپلو کرسیو کې په بنګسیو کې اخته شول ، اوس نو غونډه پیل شوې وه ، شهنشاه تر هر څه لمړی دغونډې اهداف او موخې بیا ن کړې او ددواړو کلیسا د یووالي او د قسطنطنیی څخه د دفاع له پاره یی ددې یووالي په اهمیت باندې اړوده وینا وکړه. شهنشاه دخپلو خبرو په جریان کې د ایاصوفیا پادریانو ته د ارامو کیناستو مشوره ورکه او په مختلفو جملو کې یی دهغوې دپوهولو هڅه وکړه او هغوې ته یی د ډاګیزه کړه چې د روم دپاپا او غربي اروپا مرسته د قسطنطنیی د خوندي ساتلو او دفاع له پاره ځومره اړینه ده. په حقیقت کې شهنشاه ته دکلیسا ګانو تر منځ د مذهبي اتحاد اویووالي څخه دغربي اروپا مرستې ډیر ې مهمې وې. په دی خاطر یی غوښتل ددواړو ډلو ترمنځ اختلافات له آنده و غورځوی او د ټولو عیسویانو د یوځای کولو هڅی وکړی. په حقیقت کی دقسطنطین فکر ډیر په ځای و. دا عیسوی نړۍ بدقسمتی وه چی دهغوی دملت په مرکز باندی حمله کیدونکی وه خو هغوی تر اوسه هم په اختلافاتو کی غرق پراته وو. تاریخ ګواه دی چی هغه قومونه هیڅکله هم ژوندی نه دی پاته شوی چی خپل مرکز له یاده وباسي او په خپلو منځو کی ډلی ډلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینی منوری کی دمنافقینو له خوا جوړ شوی د (ضرار جومات) په دی خاطر له منځه یوړ چی الله تعالی هغی ته په قران کریم کی د تفرقی او ضرر رسونی نوم ورکړی و.

په قسطنطنیی باندی ډیر قوی او ځواکمن دشمن حمله کونکی و. او تر ټولو ستره خبره داوه چی قسطنطنیه د اروپایی عیسویت تر ټولو ستر مرکز و. خو ددی سره بیا هم د جنګ په ورځو کی ددوی تر منځ اختلاف په لوړه کچه و. بطریق په خپلو خبرو کی دا ډاګیزه کړی وه چی.....که د رومن کتولیک چرچ خپل بدعات پریږدي نو دوی به ورسره اتحاد وکړی.... خو شهنشاه ددی برعکس ټول عیسویان د ګډ دښمن د خطر څخه ویرول او ددوی تر منځ یی د یووالی هڅه کوله. د شهنشاه د آند سره د فوځونو سپه سالار ګرانډ ډیوس نوټآرس تر ټولو زیات مخالفت کاوه، هغه په خپل ځای کی پورته شو اودشهنشاه ترمخه یی ډیره ګستاخي وکړه او په دغی ستری غونډی کی یی هغه ته په ډاګیزه توګه وویل: «که چیری معظم شنهشاه ددی خطری او ګواښ احساس کوي چی په قسطنطنیه باندی به مسلمانان ولکه وکړی ،نو زما په آند دا دومره سترګواښ نه دی، ددی نه سترګواښ په قسطنطنیه باندی د ظالم پوپ ولکه ده...... زه غوره ګڼم چی په قسطنطنیه کی د کارډینل د (خولۍ) په ځآی د ترکانو (لونګۍ) ووینم. (عثمانی دولت)

د نورټاس خبرو په غونډی باندی ډیر سخت اغیز وکړ. دیوی لحظی له پاره ټول حیران پاته وو. ټولو د قسطنطین سترګو او مخ ته کتل. د شهنشاه مخ لحظه په لحظه لکه د اور په څیر سور ګرزیده. نورټاس د شهنشاه په مقابل کی ډیره ګستاخی کړی وه. خو شهنشاه په خپله چوکۍ کی تاو راتاو شو او په خپل ځآی کیناست. دا ځای دهغه دربار هم نه و چی جلاد ته یی حکم کړی وای ترڅو د نورټاس سر له تنه غوځ کړی. دا خو مقدسه کلیسا وه اودلته د چا وینه تویول حرام وو. دبله اړخه شهنشاه هم نه غوښتل چی په دی حساس وخت کی د نورټاس په څیر تجربه لرونکی جرنیل له لاسه ورکړی. په دی خاطر شهنشاه هیڅ هم و نه ویل. د نورټاس په خبرو او د شهنشاه په مقابل کی دهغه په دغه ګستاخۍ باندی که له یوه اړخه شهنشاه سخت غصه کړی و د بله اړخه یی د رومن کتولیک پادریان هم په غضب شوی و، خو د یونانی کلیسا پادریان پری ډیر خوشحاله و و.

نورټاس اوس هم شراب څښلی و او د شرابو په نشه کی ډوب و او دخولی څخه یی همغه الفاظ راوتل چی قاسم په ډیره مینه دهغه په ذهن کی ورځای کړی و و. قاسم په خپلی کرسۍ باندی خوشحاله ناست و.

نوټاراس دخپلو خبرو وروسته بیرته کیناست، دهغه دکیناستو وروسته کارډینل اسیډورد لمړي ځل له پاره راپورته شو او غوښتل یی چی څه ووایی:

«درنو حاضرینو! زه د پوپ جان نکلسن ځآنګړی نماینده یم. قسطنطنیه یوائی ستاسو له پاره د اهمیت وړ نه ده، زمونږ له پاره هم همدومره داهمیت وړ ده. هغه زیری چی بطریق اعظم دخپل تقریر په دوران کی وکړ خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدس بطریق په پوره توګه بیان نه کړای شو. پوهیږم چې ستاسې ډیر وبه ددې زیرې په اړه اوریدلې وي خو زه به یو ځل بیا د مقدس پلار د غه زیر تاسې ته تکرار کړم:

زیرې دا ډول وو چې .....یوه ورځ به ترکان قسطنطنیې ته را ننوځي او درومیانو د تعقیبولو پسې به د(سینټ صوفیا ) د عبادتځای تر مخه دغې ستنې پورې چې د پادشاه قسطنطین په نامه یې شهرت موندلی دی رارسیږي. خو دهمدې ځایه به دهغوی زوال پیلیږي ، ځکه په دې وخت کې به د اسمان څخه یوه فرشته توره په لاس راکیوځي او د همدې اسمانې وسلې په واسطه به دقسطنطنې سلطنت داسې یو غریب انسان ته ورسپاري چې په هغه وخت کې به دهمدې ستنې سره ناست وي، فرشته به دغه کس ته ووایې.....دا توره در واخله او دهمدې په واسطه د خداوند یسوع مسیح بدله واخله. بس دهمدغې یوې پریکنده جملې د ویلو سره سم به ترکان په تیښته پیل وکړي او رومیان به د فاتحینو په څیر ترکان د غرب او اناطولیه څخه ان د ایران تر پولو پورې و ځغلوي.....(The Decline and fell of the Roman Empire)

دهمدې زیرې په اساس دبطریق اعظم څخه پوښتنه کوم چې ایا دا غریب انسان چې د ستنې تر څنګ به ناست وي د قسطنطین د کورنۍ څخه به وي ؟ زه پوښتنه کوم چې خدای مه کړه زمونږ شهنشاه به هغه وخت موجود نه وي ؟ بطریق اعظم دې دخپلې وینا په اړه وضاحت وکړي. هغه د شهنشاه په شتون کې د خپلو پخوانیو مشرانو یو ډیر کمزورې حکایت وړاندې کاوه او په دې توګه یې د شهنشاه سپکاوې کاوه .تر دې وروسته یې سپه سالار ډیوک نوټاراس هم ګواښه .... هغه دې په دې پوه شي که مسلمانان په قسطنطنیه باندې ولکه وکړي نوبیا به ستا وطن ته هیڅوک هم دعیسویانو مرکز و نه وایي. مسلمانان به زمونږ په کلیساګانو کې خپل عربې نسله اسونه تړې او په دې توګه به زمونږ د عبادتځایو سپکاوې کوي ، هغوی به د قسطنطنیې هیڅ عیسوې ژوندې پرې نهږدي او زمونږ ښځې به بې ابرو کړي ، خو ددې برعکس د کارډینل هغه خولۍ چې ته ترې نفرت او کرکه کوې د عیسویانو له پاره د پناه ځای و ګرځي. اوبیا به هغه وخت د یونانې کلیسا پادریان پښیمانې کوي چې ولې یې په خپلو رومې ورونو باندې باور نه دې کړې.

قاسم هم په دغې غونډه کې ناست و ، دهغه کرسۍ د ایاصوفیا دراهبانو او بطریقانو سره یو ځای ایښوول شوی وه. هغه دغونډې جریانات په ډیر غور اودقت سره تعقیبول ، په هغه ځای کې چې قاسم ناست و هغه ځای د غونډې د ګډونکونکو ددایرې دښې لورې اخرې برخه وه. دهغه تر مخه د ایاصوفیا راهبانې اوشهزادګۍ ناستې وې. یعنې د قاسم د ناستې ځایو دښځو د ناست ځای سره بلکل مخامخ و ددوی تر منځ څو قدمه واټن و اوهغه هم د چوترې غاړه وه. د چوترې دپاسه شهنشاه ، بطریق اعظم او کارډینل ناست وو. قاسم د خپل ناست ځای څخه په ډیره ناقرارۍ سره یوه راهبه تر سترګو لاندې نیولې وه هغه فکر کاوه چې شونې ده چې دا به مارسي وي خو مارسي په دې غونډه کې دګډون له پاره نه وه راغلې، هلته مخامخ په چو کیو باندې دشاهي کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغلی اونوری مقدسی راهبانی ناستی وی. خو کله چی کارډینل د مسلمانانو د مظالمو یادونه کول نو دقاسم وینه په جوش کی راتله.

ددی غونډی ناظم یو ځوان بطریق و، چی د قاسم ښی اړخ ته ناست و او د غونډی کاغذونه یی په لاسو کی اړول را اړول او دغونډی څارنه یی کوله. په دی وخت کی یو ناڅاپه هغه پورته شو او کوم ضروری اعلان کولو ته یی ځآن جوړ کړ.

«د غونډی درنو ګډون کونکو ! نن زمونږ په دی غونډه کی د یسوع مسیح خدای د پیدایښت د ځای (یورشلم ) یو مقدس بشپ شتون لری، هغه د تیری شپی پوری د معظم شهنشاه میلمه و. زه دهغه څخه غوښتنه کوم چی دمسیح د تعلیماتو په رڼا کی د قسطنطنیی ددغونازکو حالاتو او ددواړو کلیساو ترمنځه د اتحاد او یووالی له پاره خپل آند وړاندی کړی.»

ددی اعلان سره قاسم ټکان وخوړ ځکه هغه ته تر اوسه پوری ددی میلمه د شتون په اړه کوم معلومات نه و. داسی معلومیده چی بطریق اعظم هم د بیت المقدس ددی بشپ د راتلو څخه بی خبره پاته شوی و. په داسی حال کی چی بیت المقدس هم د عثمانی سلطنت یوه برخه وه خو دهغه ځای پادریان اوبشپان تر اوسه پوری په عیسوی نړۍ کی د ډیر عزت خاوندان ګڼل کیدل. دا د شهنشاه یو چال و چی د غونډی په جریان کی یی را مخته کړ. د بیت المقدس بشپ پورته شو او ددواړو کلیساګانو ترمنځه د اتحاد په اړه یی ډیر اغیزمن تقریر وکړ. نژدی و چی ډیر مخلص عیسوی راهبان هم دغه اتحاد ته تیار شي... چی په همدی وخت کی یو درویشي کړی دروازه چی د شهنشاه څنګ ته راغی او په غوږ کی یی ورته څه وویل: دهغه په خبرو باندی شهنشاه حیران شانته شو، شهنشاه تر ډیره پوری د دروازه چی خبری اوریدلی، او په اخر کی شهنشاه څه داسی سر وخوځوو لکه دکوم کار دکولو اجازه چی ورکوی. لږه شیبه وروسته همدغه دروازه چی د قاسم تر څنګ ناست د غونډی د ناظم خواته راغی او څ یی ورته وویل، په همدی وخت کی دغونډی ناظم د خپله ځایه پورته شو او د لږی شیبی له پاره یی د غونډی د جریان د ځنډولو اعلان وکړ. دقاسم تندی تریو شو، ځکه دغونډی دغسی ناڅاپی ځنډیدل دهغه د هیلی پرخلاف کار و. قاسم په فکرونو کی ډوب شو، داعلان نه وروسته شهنشاه دخپله ځایه پورته شو او د لږشیبی له پاره چیری ولاړ. دغونډی دګډون کونکو څخه هم څه خلک چی ډیری یی دشاهی کورنۍ ښځی وی پورته شوی او ولاړی. خوهغوی چی شاته پاته شول هغوی هم په خپلو خپلو کرسیو کی ناست په خپلو منځو کی په خبرو اترو بوخت شول. خو دا خبری اتری وروسته په یوه اوږده بحث باندی بدلی شوی، او ددواړو کلیساو پادریانو یو بل ته په لوړ اواز ویل پیل کړل، په دی وخت کی د قسطنطنیی یو عام پادری په خپل ځای کی ودرید او ویی ویل:

«تاسی خلک..... د شرابو سره پتیره ډوډۍ استعمالوئ، دا په کوم کتاب کی راغلی دی؟ مونږ خو د شرابو سره د پتیري ډوډۍ خوړونکی حرام خوړونکی او د عیسوی دین څخه بیرون ګڼو. مونږ د شرابو سره دخمبیره شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ په خوړولو قایل یو، څوک چې خمبیره شوې ډوډۍ نه خوري او پتیره ډوډۍ خوري ، دهغه خوراک حرام ګڼل کیږي. تاسو بدعتونه راویستلي دي ، تاسې حرام کارونه کوی او حرام خورئ ، دعیسوي دین څخه خارج او کافر یاست.»

په همدې وخت کې د ایاصوفیا یو پادري پورته شو او ویې ویل: « شرم وکړئ شرم !...که دخمبیره شوی ډوډۍ څخه کرکه کوئ نو بیا خمبیره شوی شراب ولې څښئ ؟ تاسې خو لا دپخوا څخه کافر واست.»

د تاریخ پاڼو د « ډوډۍ » دغه اختلاف په خپلو زرینو کرښو کې ځای کړی دی. په همدې وخت کې دایا صوفیا ماڼۍ د پادریانو د خپل منځي چغو په واسطه په لړزه کې راغله. څومره راهبان چې هلته د غونډې په خونه کې ناست و ټولو دغه جګړه په پوره غور سره کتله. او څه نورو دغه کار د شرم نه ډک ګاڼه. په دې وخت کې بطریق اعظم او کارډینال هم د غونډې په سالون کې نه و موجود . نوټاراس او یو شمیر نور مشران هم دغونډې د ځای څخه بیرون تللي وو. د تللو په وخت کې بطریق اعظم قاسم هم له ځانه سره وړی و ، کله چې قاسم د بطریق اعظم سره د نیم ساعت وخت دتیرولو وروسته بیرته راستون شو او بیرته دغونډې ځآی ته را ننوت نو د عجیب اوحیرانونکی حال سره مخ وو ، ځکه په هال کې ددواړو خواوو پادریانو یوبل ته پوره سپکې سپوری ویلې. نژدې دوو سوو پادریانو د ایاصوفیا دغه سالون د سوک اوڅپیړو ځای ګرځولی و. قاسم ددې حالت په کتلوسره په زړه کې خندل ، لږه شیبه وروسته غونډه بیا پیلیدونکې وه قاسم راغی اوپه خپل ځای کې کیناست اود غونډې دغه بدنظمي یې کتله. خو دا الهګوله هغه وخت یو ناڅاپه پای ته ورسیده چې اعلان کونکې د شهنشاه د راتلو اعلان وکړ. پادریانو په بیړه بیړه خپلې خپلې کرسۍ را سمې کړې. د شهنشاه دراتلو ترمخه بطریق اعظم اوکارډینل هم په خپلو خپلو ځایو کې کیناستل.

د لږ ځنډ وروسته شهنشاه سالون ته راننوت. هغه خپل ناست ځای ته راورسید خو دکیناستو په ځای همداسې ولاړ پاته شو. هغه ډیر قهریدلی معلومیده. اوبیا یې په ډیره تنده لهجه وویل: « بدبخته ولسه ! زه ستاسې تباهي اوهلاکت په خپلو سترګو باندې وینم ، دښمن مو سر ته رارسیدلی دی خو تاسې تر اوسه هم په پتیره او خمبیره شوی ډوډۍ باندې جنګ یاست.... یوه خبره چې ما تر اوسه نه غوښتل تاسې ته یې وکړم ، اوس غواړم تاسې ته یې ووایم:

ای تفرقه اچونکو مذهبي مشرانو ! په غور سره یې واورئ ! ما تیره شپه ډیر خطرناکه خوب کتلی دی ، ما په یوه ستر دیوال باندې په زرګونو کارغان په چغار کتلی دي ، هغوی دومره په زوره ټاغ ټاغ کوی چې ټول اسمان یې په سر راخستی دی. بیا ګورم چې د غرب له لوری د غوښې خوړونکو مرغانو یوه ډیره ستره ډله را الوتلی اوپه همدې دیوال باندې کینې. بیا زه وینم چې دغه کارغان او دغه نور مرغان یو دبل سره په جنګ کې ولویږي اوپه همدې وخت کې هغه دیوال په لړزه راشي. اوبیا زه وینم چې د اسمان څخه ګڼ شمیر بازان په دیوال باندې ناستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغانو باندی را ولویږی او دسترګو په رپ کی یی سره وخوري. بیا یوه کشتۍ په دریاب کی وینم چی سوری په کی شوی وی او د اوبو څخه ډکه شوی وی ،اوپه اخر کی یو ډیر بد شکله دیو وینم چی سترګی یی داور دبڅرکو په څیر سری وی ، دا دیو غواړي ما دخپلی لمنی لاندی پټ کړی خو زه دهغه سره دپټیدو په ځای خپله توره را وکاږم اودهغه دیو سر له تنی بیل کړم.....

مادغه ډول خوب کتلی خو هیچا ته می نه دی ویلی . ای بدبخته مذهبی مشرانو ! زه نه پوهیږم چی ددی خوب تعبیر به څه ډول وي ،خو دومره حتما پوهیږم چی د قسطنطنیی په اړه ددی خوب تعبیر ښه نه راوزي. زه تاسی ته د اخری ځل له پاره نصیحت کوم چی په خپلو منځو کی متحد شئ او که نه مسلمانان به ستاسی نوم اونښان ورک کړي.

د شهنشاه قسطنطین وینا ډیره اغیزمنه او د جوش نه ډکه وه. ټول ناست خلک چپ چاپ ناست و . بیا د ایاصوفیا یوی زړی راهبی جرئت وکړ او پورته شوه ،د خبرو کولو اجازه یی واخسته ، ویی ویل: « درونده شهنشاه ! ددی خوب هسی غورزول به د عقل نه لری خبره وي. تر هر څه دمخه ددی خوب سهی تعبیر تر لاسه کړئ تر څو دهمدي خوب په رڼا کی د قسطنطنیی د راتلونکی له پاره پلان جوړ کړل شي.»

زوړ فادر بروس هم د دی راهبی دخبرو سره خبره یوه کړه ، نورو څو کسو هم شهنشاه ته سلا ورکړه چی تر هر څه لمړی ددی خوب د تعبیر په اړه باید معلومات تر لاسه کړل شي. شهنشاه دخلکو دسلا له مخی بطریق اعظم او کارډینل ته ددی خوب د تعبیرولو په اړه وویل. خو دواړو خپل څټونه وګرول ، په همدی وخت کی یوی ځوانی راهبی دخبرو کولو اجازه وغوښته او ویی ویل:

« درونده شهنشاه ! دخوبونو دتعبیرولو په لړ کی دلته په ایاصوفیا کی یوه همداسی معتبره او باوری هستی شتون لری او هغه عبادت کونکی سسټر میری.... غوره به وی چی سسټر میری دی غونډی ته را وبلل شي او ددی خوب د تعبیر په اړه تری وپوښتل شی.»

د شهنشاه دحکم سره سم بطریق اعظم سسټر میری ته په دی غونډی کی دحاضریدو امر وکړ. د سسټر میری دنوم د اوریدو سره سم د قاسم غړی بی ترتیبه شول اوبیا یی چی کله واوریدل چی سسټر میري په غونډه کی ګډون کوی نوبیا یی دخوشحالۍ نه زړه ټوپونه وهل. هغه دکوچنیانو په څیر تر جذباتو لاندی راغلی و. دهغه په سترګو کی دبیلتون زخم و او داوو کالو څخه ددی کتلو له پاره تږی ناست و. دهغه بی تابه سترګی په همغه دروازه باندی نښتی وی په کومه چی سسټر میری را ننوتله. په کلیسا کی موجود هر کس ددغی پیغلی کتلو ته بی تابه و. شهنشاه هم دخپل خوب دتعبیرولو له پاره ناقراره و. بیا هغه وخت هم راغی چی مارسي د غونډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالون ته راننوتله. کله چې دقاسم سترګې په دغه سپینه فرشته باندې ولګیدې نو هملته په چوکۍ کې وچ کلک شو.

مارسی په ډیره کراره توګه قدم اخست او د راهبانو څوکیو ته ور روانه وه. هغې ته یې هملته په لمړي کتار کې یوه څوکۍ خالي کړې وه، کله چې خپل ناست ځآی ته ورسیده نو یوځل د شهنشاه او بیا دحاضرینو تر مخ لږ څه ټیټه شوه.....او کیناسته.

شهنشاه مارسی ته وویل: سسټر میري! ایا تاته ددې دواړو کلیساو د اتحاد دغونډې په اړه بلنه نه وه درکړل شوې؟ ته خو د ایاصوفیا ډیره پخوانۍ راهبه یې. تاته په کار نه و چې د ننۍ غونډې څخه غیرحاضره پاته شوې وای.

د قسطنطین ددې پوښتنې په اړه مارسي په ډیره ارامه توګه ځواب ووایه.« دورنده شهنشاه! ددې اختلافي غونډو له پاره زمونږ بشپ او بطریق بسنه کوي. زه خو دیسوع یوه معمولي خادمه یم. اود کلیسا ګانو د اختلافي مسایلو څخه ځان لرې ساتم. خو بیا هم زه دخپلې غیر حاضرۍ په اړه بښنه غواړم»

دخپلو خبرو په وخت کې د مارسی سترګې په قاسم ور ونښتې. او نژدې و چې د زړه حالت یې بدلون ومومي. قاسم هم دمارسي په مخ سترګې ورکلکې کړې وې. ددواړو سترګې یو دبل سره په ټکر کې وې او ددواړو په وجودونو کې په زرګونو برقي موجونو ځپې وهلې. د اوو کالو بیلتون مارسی له هر څه غورځولې وه. کله چې دهغې سترګو د قاسم مخ وکوت نو دهغې په مات وجود کې یو نوی ځواک راتازه شو، تر لږه ځنډه پورې دمارسی څخه دا هیر شوی و چې چیرې ولاړه ده ځکه دهغې دسترګو ترمخ تیرشوې یادونه لکه دتاریخ د پاڼو په څیر تیریدل اوپه همدې خیالونو کې ډوبه اوځان یې د سالون څخه غیر حاضر کوت.، هغې ته اورنه را په زړه شوه چې د کوچنیوالی خوږې شپې یې په کې تیرې کړې وې، هغې ته د سلطاني قصر یو دهیلیز په یاد راغی، د ملکې سروین د مینې اومحبت نه ډک مخ، د شهزاده محمد مهربانه کړچار، دسلطان مرادخان پلرنی شفقت.... او خپله مور مارتها یې هم تر سترګو شوه، او بیا هغې هغه یادګاره ورځ کله د زړه ویستلې شوه په کومه کې یې چې قاسم بن هشام دخلکو نه په ډک لوبغاړې کې د لمړي ځل له پاره کتلې و. نن یوځل بیا قاسم د هغې تر مخه ناست و .... په یوه ډک سالون کې.. خو نن حالات څه بلمنګه وو، نن قاسم د ګوانښونو لاندې و. دهغې ورځې نه چې هغه دلته راغلې و د مارسي وجود په دار ځړول شوی معلومیده. هغه ډیره حیرانه وه چې دهغې قاسم دهغې سره ددومره نژدې والي سره هم د هغې څخه لرې و. هغې د شهنشاه د پوښتنې ځواب و وایه خو بیا یې ځان کنترول نه شو کړای. ځکه دهغې د سترګو مخې ته قاسم ناست و ، معلوم نه شوه چې د هغې په وجود کې کومه برقي برېښنا ځپانده شوه چې یو ناڅاپه یې د سترګو څخه دمرغلرو په څیر اوښکې راغلې. خو پخوا تر دې چې د مارسي اوښکې لاندې را توی شي شهنشاه ور باندې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مونږ ستا ښښنه منو. او غواړم چې ته زما دخوب تعبير ماته ووايې.»

ددې نه وروسته شهنشاه خپل خوب ووايه. چې په اوریدو سره يې مارسي تر ډيره ځنډه پوری د بې هوشۍ په حالت کې ولاړه وه. دټولو خلکو سترګې د ايا صوفيا په دغې پخوانۍ عبادت کونکي سستر میري باندې ښښتې وې ، هيچاته ډاګيزه نه وه چې دمارسي دسترګو څخه دغه د مرغلرو قطرې دکومه ځایه راغلې. په سالون کې ناست خلک د مارسي ددغو اوښکو په کتلو سره بې روحه شوی و. په خپله شهنشاه هم ډير وارخطا شوی و او فکر يې کاوه چې دخوب تعبير يې ډير ګواښمن او خطرناکه دی. په دې خاطر سستر میری ژاړی. خو يوازي قاسم په دې پوهيده چې دمارسی دسترګو څخه د مرغلرو را تويدل او د کليسا په فرش باندې دهغې پريوتل دڅومره ستر ارزښت لرونکی دی. اوبيا ....د قاسم په سترګو کی را ټوکيدلی نم د هيچا په ليد کی نه راته.

کله چې شهنشاه ددويم ځل له پاره مارسی مخاطب کړه نو هغه داسی شوه لکه څوک چې نوی دخوبه رابيدار شی، هغې ناستو خلکو ته خپلی سترګی ورواړولی اوبیا یې ډک اواز باندی وويل:

«دورنده شهنشاه ! تا چې کوم خوب کتلی دهغې تعبير ډير خطرناکه دی. زه وينم چې قدرت د قسطنطين تقدير ليکلی دی. په ديوال ناست کارغان دقسطنطنيې مذهبی مشران او پخپلو منځو کی اختلاف اچونکی عوام دی ، دغرب نه راغلی غوښې خوړونکی مرغان دغه کارډينل او دهغه ملګری دی. او په هغه ديوال چې دوی ناست دی هغه د قسطنطنيې ديوال دی ، د اسمان څخه را تلونکی بازان د عثمانی سلطنت ترکی عسکر دی ، او لکه څنګه چې تا وويل چې شاهين يا بازان په ديوال ناست مرغان خوري نو ددې څخه دا مطلب اخستل کيږی چې فتحه به د مسلمانانو په برخه وی.

تا چې په درياب کی تلونکی کومه کشتۍ کتلی ، دا دسمندر په اوبو کی لاهو شوی قسطنطنيه ده او په کشتۍ کی د سوری دپيدا کيدو نه مقصد کورنی اختلافات دي.... اودا چې په اخر کی تا کتلی چې د سرو سترګو ديو صفته انسان تاته پناه درکوي....نو په حقيقت کی دغه ديو ستا دښمن دی چې غواړی تا د ماتی سره مخ کړی او عيسوی دين رسوا اوسپک کړی...

درونده شهنشاه !دا ټول خوب زمونږ له پاره ښه شګون نه لري ، خو دهغې په اخر کی يو ځی يو ښه شګون کتل کيږی اوهغه هم ستاسی د ذات پوری تړلی دی اوهمغه زه د خپلو هيلو اخری تمځای ګڼم. څرنګه چې تا دخوب په اخر کی د ديو سر له تنې پری کړی په دې اساس ته په يوه صورت د شاهين صفته مسلمانانو مقابله کولی شی»

ددې خبری دکولو وروسته مارسي خاموشه شوه. شهنشاه چې دمارسي دګستاخانه تعبير څخه تک سور شوی و....دتعبير داخری برخی په اوریدو سره را نرم شو اوپه ډيره بې صبری سره يې تری وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مقدسی راهبی !.....تا ماته زما د خوب دتعبیر په ویلوسره، که څه زه او ددی غونډی حاضرین دی لږ څه ناهیلی کړل خو مونږ غواړو وپوهیږو چی د شاهین صفته مسلمانانو د مقابلی له پاره لاری پیدا کړو . مونږ ته یی ژر ووایه چی څه باید وکړو ؟....

مارسي دداسی لاری څه تدبیرونه جوړ کړی و چی لمړی خو د شهنشاه په ګډون ټول خلک دغصی او قهر د حالته راووتل او یخ شول ، قاسم په خپل زړه کی مارسی ډیره وستایله. اوس نو مارسی وویل: درونده شهنشاه ! د سرو سترګو هغه منحوس دیو همدلته ستا ترڅنګ په کوم ځآی کی موجود دی ، هغه راپیدا کړئ او په خپلو لاسو یی ووژنئ ، بیا به د جنګ په ډګر کی حتمی بری ستا په برخه شي.»

د شهنشاه په تندی باندی کرښی را ښکاره شوی ،هغه به دسرو سترګو بد مخه دیو چیری لټوو . ډیر پریشانه شو او سمدلاسه یی مارسي ته وویل: « مقدسی راهبی ! مونږ به دسرو سترګو دغه منحوس دیو چیری و لټوو ؟ مونږ ته په دی لړ کی څه لارښوونه وکړئ.

« نه درونده شهنشاه ! زما سترګی ددومره ژور نظر څخه معذوره دی... خو زه په ډاډمنه توګه ویلای شم چی دا شخص به همدلته ستا ترڅنګ کوم ځای موجود وی.»

مارسی دا ځل خپله خبره په داسی ښه وکړه چی قسطنطین په ډیره ناکراری سره خپلی سترګی د غونډی په ګډون کی ګرځولی را ګرځولی. مارسي بیرته په خپله چوکۍ کیناسته. د غونډی ټول ګډون کونکی ګونګ صم په خپلو ځایو کی ناست و و . بطریق اعظم هم په خپله کرسۍ کی ځان تاوو را تاوو . خو کارډینل اسټډ د شونډو لاندی خندل. د رومی کلیسا نور پادریان هم وارخطا نه وو . خو د یونانی کلیسا راهبان داسی شوی وو لکه مار چی خوړلی وی. د شهنشاه خوب هم ډیر خطرناک و او تعبیر یی دهغی څخه زیات خطرناک ښکاریده. خو یو ناڅاپه قسطنطین دغونډی د پاته برخی دپیلیدو حکم وکړ.

دمارسی تعبیر شهنشاه ته ډیره ګټه ور ورسوله.او د قاسم په ټول فعالیت یی اوبه ور وشیندلی ځکه قاسم نه غوښتل ددواړو کلیساو تر منځه یووالی او اتحاد رامنځته شي. خو مارسی د قاسم د عزایمو څخه بی خبره وه. هغی تر اوسه پوری همدا یو فکر کاوه چی قاسم دهغی د اخستلو له پاره دلته راغلی دی. حقیقت دادی چی مارسی د خپل علم په مطابق د شهنشاه دخوب تعبیر کړی و او په هغی کی یی کومه بددیانتي نه وه کړی. دمارسی دخوب د تعبیر ګټه شهنشاه ته دا شوه چی تر اوسه پوری چی د یونانی کلیسا کوم پادریان ویریدلی وو هغوی ددواړو کلیساو تر منځه په اتحاد او یووالی باندی راضي شول کله چی شهنشاه ته دخپل خوب د تعبیر څخه ددغی ګټی داخستو احساس پیدا شو نو ویی ویل:....ډیر ښه شول ، هغه خو یو خوب و . خو دهغی د ویری څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول پادريان په لړزه شول ، اوس هيله پيدا شوی ده چې د روم د کليسا سره به ټول پادريان توافق وکړي ....شهنشاه د غونډې د پيليدو حکم وکړ اوبيا يې سپه سالار نورټاس ته مخ کړ او ورته يې وويل:

« نورټاسه ! دا وخت په خپلو منځو کې د جنګ جګړو له پاره مناسب نه دی. زه د يوه شهنشاه په څير تاته حکم نه کوم خو د قسطنطنيې ديوه سپاهي په څير تاته په دغه مقدس اتحاد کې د ګډون کولو بلنه درکوم»

نورټاس لا تر اوسه هم په خپله خبره کلک ولاړ و. خو اوس يې د شرابو نيشه را کمه شوې وه. په ډيره مودبانه توګه يې شهنشاه ته وويل: « درونده شهنشاه ! نورټاس به په هر قيمت د مسلمانانو پر خلاف جنګيږي. او د خپلې وينې داخرى څاڅکې پورې به جنګيږي. که څه هم کليسا ګانو ترمنځ يووالى راشي او يا رانه شي. زه دمعظم شهنشاه په لښکر کې ديوه عسکر په څير په جنګ کې ګډون کول دخپل ځان له پاره فخر او وياړ ګڼم.» سپه سالار دغسې ګول مول خبرې وکړې او نور بيرته خاموشه شو.

قاسم او مارسى يو بل ته د سترګو په کونجو کې کتل.... غونډه هم په پوره ځواک سره روانه وه. شهنشاه ، دسلطنت وزيران ، د ايا صوفيا بطريق ، کارډينل او بشپانو ټولو خپلې خپلې خبر ی کولی .... په سالون کې هر ډول اوازونو انګازې کولې خو دقاسم او مارسي له پاره غونډه لا پخوا پای ته رسيدلې وه. په سالون کې ناست هر کس د سټيج په لور متوجه و. خو مارسى او قاسم يود بل په لور متوجه وو. معلومه نه ده چې څومره وخت به تير شوى و .... د ايا صوفيا تر ټولو ستره تاريخي غونډه جاري وه ، قاسم خپله دنده له ياده ويستلې وه ، هغه راپاڅيد او غوښتل يې چې دمارسي په لور ولاړ شي خو داسې يې نه شواى کولی ، اومارسى هم دداسې کولو جوګه نه وه.

غونډه روانه وه. ان تر دې چې د اياصوفيا د شلو څخه خلور بطريقان او د سلو څخه ديارلس پادريان د روم دکليسا برلاسئ منلو ته تيار شوي و. په دې ډله کې زوړ فادر بروس هم ورګډ شوی و. خو بطريق اعظم لا تر اوسه پورې کومه پريکړه نه وه کړې. اوبيا هغه وخت هم راغلى چې شهنشاه د سولې دتړون د تيارولو حکم هم وکړ. چې په هغې کې د قسطنطنيې په کليسا باندې د روم د کليسا برلاسی منل شوی وه. اوشهنشاه په خپله په رومي کليسا کې د يوناني کليسا د مدغم کيدو اعلان کړی و. داسې معلوميده چې يو ډول اتحاد منځته راغلى و خو په سهي معنى ورته اتحاد نه ويل کيده. ځکه چې ګڼ شمير پادريان په دې خبرو باندې سخت په غصه اوپه غضب وو.

د شهنشاه داعلان نه وروسته دکوم اړخ نه کوم راهب دبطريق اعظم ثانى ډيمونان د وژلو خبره رايادە کړه. دې خبرې قاسم سخت متوجه کړ او دلمړي ځل له پاره يې د غونډې په لور مخ واړاوو. په غونډې کې د ډيمونان د وژلو دخبرې د يادولو سره دا هم وويل شول چې لا تراوسه يې وژنکي نه دي نيول شوي. په داسې حال کې چې ددې خبرې څرګندښوتونه تر لاسه شوي و چې په دې وژلو کې د روم د کليسا دپادريانو لاس وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترون نه وروسته په قسطنطين باندی دا خبره ښه و نه لګیده. په دی خاطر یی د دربار حاضرینو ته سختی سپکی سپوری وویلی. خو په همدی وخت کی چی دډیمونان د قاتل د نه پیدا کیدو خبری کیدی هغه د اسرارو او رازونو ډک شاګال دغونډی ځای ته راننوت. خپله امصا یی په فرش ټکوله او مخته را روان وو. دهغه د امصا په ټکار د غونډی ټول ګډون کونکی دهغه لوری ته متوجه شول ، قاسم چی کله شاګال وکوت نو سمدلاسه یی په زړه وخوړه. د قاسم شپږم حس د خطر زنګ احساساوو. د شاګال په کتلوسره قاسم په خپلی چوکۍ کی دورندوالی احساسوو . زړه یی غوښتل چی سمدلاسه ورپاڅي او د شاګال کار ورختم کړي اویا هم ددی ځایه و تښتی. خو شاګال د خپلی امصا په کوم سره د غونډ له منځه را ووت ، که څه هم هغه یو بطریق و خو دهغه کړچار د مصر د پخوانیو جادوګرانو په څیر و. هغه دخلکو له منځه راووت او دشهنشاه مخی ته راغی او ودرید ، سترګی یی په شهنشاه باندی ښښتی وی او دخپلو سرو سترګو له لاری یی شهنشاه ته په غور سره کتل.

په دی وخت کی یو ناڅاپه شهنشاه ته هغه د سرو سترګو دیو په فکر کی راغی. اوکله چی شهنشاه د شاګال شکل و صورت ته وکتل نو داسی ورته څرګنده شوه چی دا به په حقیقت کی همغه دیو وی چی تیره شپه یی په خوب کی کتلی و، شهنشاه ته د سسترمیری له اړخه ویل شوی دخوب تعبیر په یاد و. سمدلاسه یی د ټولی نړۍ دپروا کولو پرته دخپلی توری په لاستی باندی لا س کیښود ، غوښتل یی مخته راشی او دغه د سرو سترګو دیو له منځه یوسی. هغه لا تر اوسه د راپورته کیدو اراده کوله چی شاګال په مخ یی مکروه خندا وکتله ، ودرید . کله چی شاګال د شهنشاه په لور خپله ګوته راپورته کړه او خبری یی پیل کړی نو دهغه داواز په اوریدو سره قاسم داسی وبریښیده لکه دهغه د ستونی څخه چی په یوه وخت کی دوه انسانان خبری کوی. شاګال وویل:

« درونده شهنشاه ! دخپلی توری څخه دی لاس لری کړه. اوس خو زه تاته په خپله لمن کی پناه درکونکی یم. او که نه زمونږ د اسلافو دغه تاریخی ښار به د نابودۍ سره مخ شي.

شهشناه دشپی په خوب کی کتلی و چی هغه د سرو سترګو خاوند دیو به هغه ته په خپلی لمن کی دپناه ورکولو خبره کوی ، او اوس شاګال هم شهنشاه ته په خپله لمن کی دپنا دورکولو خبره وکړه. شهنشاه فکر وکړ چی دا همغه شخص دی چی په وژلو سره به یی قسطنطین د تباهۍ نه خوندي شی او سوبه به یی په برخه شي. خو دشاګال په سترګو کی داسی ځواک و چی شهنشاه دخپله ځایه یو قدم هم وانه خست. شاګال ورته یو ځل بیا وویل
:

« درونده شهنشاه !زه تاته دداسی یو خبر په اړه معلومات درکوم چی دهغی په اوریدو سره به ته ما بی اختیاره د قسطنطنیی خوندي پاته کونکی و ګڼی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د شهنشاه په ذهن کی همغه یوه خبره ګرزیده او هغه دا چی یوازی دسرو سترګو خاوند شاګال همغه دیو د ی. شاګال خپله خبره جاری و ساتله او ویی ویل:

«درونده شهنشاه !ما دډیمونان بطریق قاتل پیدا کړی دی.»

د شاګال دخولی څخه ددی خبرو د راوتلو سره سم قاسم په خپله چوکۍ کی هک پک شو ، یوائی قاسم نه بلکه مارسی هم د ویری احساس وکړ. ځکه چی هغی هم دا ګمان کاوه چی ډیمونان به قاسم وژلی وی. خو شهنشاه په ډیره حیرانتیا سره خپلی سترګی را وویستلی او تری ویی پوښتل:

» درونده بطریقه ! هغه کوم بدبخته قاتل دی چی ددواړو کلیساګانو اتحاد ته یی دزیان رسولو هڅی کړی دی. او داسس مذموم حرکت یی کړی دی ؟

دشهنشاه دخبری د تکمیل سره سم د بطریق سر و ګرزید او د قاتل په لور یی ور واړاوه. اوس نو دهغی سری سترګی د قاسم په سترګو ورنښتی وی. ناڅاپه یی خپل ښی لاس پورته کړ اود قاسم په لور یی اشاره وکړه او شهنشاه ته یی وویل:

« دا دبطریق اعظم ثانی قاتل دی. چی همدا اوس ستا تر مخه ناست دی ، دهمدی توری د ډیمونان سر دهغه له تنی څخه جدا کړی دی.»

مارسی داسی وپوهیده چی دهغی دنیا چی یوازی دوه ورځی ترمخه روښانه شوی وه بیرته تیاره شوه. قاسم هم په خپل زړه کی د شهادت کلیمه و لوسته او ځای یی د مرګ سزا ته تیار کړ. په دی وخت کی یو ناڅاپه دقاسم د زړه څخه ټوله ویره ووتله او یو ډول ډاډ ورته پیدا شو. څه داسی ډاډ چی مسافر یی منزل ته درسیدو په وخت کی تر لاسه کوی. ټول سالون داسی وو لکه مار چی خوړلی وی. هغه بطریق اعظم چی قاسم یی خپل سلاکار ټاکلی و په لړزه کی راغلی و. شهنشاه هم قاسم ته په سختو سترګو کتل. په دی وخت شهنشاه د برق په څیر و ګرځید. « دا شخص څوک دی ؟.... او له تاسره کوم ثبوت دی چی هغه به د ډیمونان قاتل وی ؟ «

« زما سره ثبوت شته....» شاګال وویل: شاګال په خپلو لاسو کی څه کاغذونه را واخستل او د شهنشاه مخی کی یی کیښوول. او ویی ویل: « درونده شهنشاه ! دغه دری لیکنی دی ، ددی څخه یو هغه جعلی لیک دی چی د ډیمونان د جسد څخه تر لاسه شوی دی. دا په نیلا رنګ شاهی لفافه کی پټ کړل شوی و. اوکوم الفاظ چی په کی لیکل شوی دی هغه ټول ستا تر مخه دي. دویم لیک د تریس دبشپ لیمارک له اړخه لیکل شوی دی او هغه هم جعلی دی چی دی ځوان بطریق اعظم ته ورکړی ، خو کله چی ماته معلومه شوه نو زما تندی و سوزید ځکه چی زه دتریس چرچ ته ډیر ځم راځم. ما هیڅکله هم دا وګړی هلته نه دی کتلی. او دریم لیک ما دهغه د کمری څخه په هغو کاغذونو کی تر لاسه کړی دی چی هغه همدا اوس پخپل لاس لیکلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروونده شهنشاه ! په دغو دری واړو لیکونو باندی یو نظر واچوئ نوکیدای شی تاسی ته هم معلومه شی چی دا دری واړه د یوه لاس لیکل شوی خطونه د ی. زه په ډاډمنه توګه ویلی شم چی دا شخص مسلمان دی او د سلطان محمد خان جاسوس دی.»

د حاضرینو دمخونو څخه رنګونه الوتی وو. بطریق اعظم د حیرانتیا په سمندر کی غوټی خوړی. اود شهنشاه مخ دغصی اوقهر څخه تک سور ګرزیدلی و. شهنشاه په ډیر لوړ اواز سره په کرکجنه توګه وویل: « جلاده ! ددی بداخلاقه سر پری کړه او زمونږ په پښو کی یی واچوه»

قاسم ددی حکم د اوریدو سره سم دخپله ځایه راپورته شو ، هغه په ظاهری توګه یو راهب ښکاریده ، نو په دی اساس هیڅ ډول وسله یی نه درلوده خو په زړه کی یی دا هوډ کړی و چی د شهید کیدو نه مخته به د څو عیسویانو روح دخپله ځانه مخته باسی. شهنشاه خو جلاد ته ورغږ کړ او حکم یی ورته صادر کړ خو هیڅ جلاد مخی ته را نه غی. ځکه چی د امقدس چرچ و اودلته هیڅ جلاد نه و موجود. یو ناڅاپه شهنشاه ته دخپلی بی عقلۍ احساس وشو اوسمدلاسه یی وویل:

«سپاهیانو !.... دغه مسلمان ونیسئ ، مونږ به دا د عامو خلکو تر منځه په سخته سزا باندی محکوم کړو.»

کله چی قاسم د شهنشاه دویم حکم واورید نو دجنګیدو اراده یی پریښوده. له ځانه سره یی وویل چی نیول و بندی کول یی په ګټه دی. ځکه هغه یو جاسوس دی او دزندانه د تیښتی لاری ورته معلومی دی. د ساتونکی ډلی کسان را مخته شول او دقاسم په لاسو اوپښو کی یی زنځیرونه ور واچول.

غونډه د لمر د پریوتو نه مخته پای ته ورسیده. او د قاسم د نیولو نه وروسته څه نور خلک هم په خلاص زړه دکلیساګانو په یووالی کی را ګډ شول. شهنشاه غوښتل شاګال ته انعامونه ورکړي خو شاګال د څه اخستلو څخه انکار وکړ. اولکه څنګه چی ر اغلی وو همغسی بیرته ستون شو او دایا صوفیا د سالون څخه ووت. غونډه پای ته رسیدلی وه او خلکو ددننۍ پیښی اغیز هم له ځانه سر یو ځای یوړ ، خو په دی وخت کی دبطریق اعظم او نورتارس حالت د کتلو وړ وو. ځکه دوی دواړه د قاسم په دام کی را ښښتی وو. په دی خاطر یی خپل سرونه د شرم نه ښکته اچولی وو . د ټولو نه زیات دمارسی حالت و. هغی خو خپلی کمری په لور قدم اخست خو داسی معلومیده چی دهغه هر قدم یو یو من ګرزیدلی دی. هغه په خپل قسمت باندی حیرانه پاته وه ، هغه چی دایی د قاسم سره اوه کاله وروسته یوځای کړه خو دهغی سره یی دوه خبرو ته هم وخت ور نه کړ. مارسی په خپل ژوند کی ددی نه زیاته نه وه غمګینه شوی ،اوس نو هغی ته د قاسم د ژوند نه زیات نور څه مخکی نه و. هغی سر ښکته کړ او په ډیره درنه درنه توګه دخپلی کمری په لوری ولاړه.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روم قیصر

قاسم یې د نیولو وروسته د شاهي زندان د زمکې لاندې تیاره کوټه کې ور واچاوو. سلطان محمد خان ته د قاسم اخري لیک همدا ور رسیدلی و چې په کې یې لیکلي و چې دداړو کلیساو تر منځ اتحاد مې سبوتاژ کړی دی. او دا چې سپه سالار نورټاس د رومي کلیسا په خلاف سخت قهریدلی دی. قاسم سلطان ته دا هم ښکلي وو چې (جان حستیانی ) به ډیر ژر دفاسفورس ابنا ته را ورسیږي. ددې ترڅنګ په ښار کې د کلونو کلونو محاصرې په خاطر په ټنونو مواد راټول کړل شوي دي. سلطان دتیرو څو میاشتو راهیسې د قاسم دغه ډول لیکونه تر لاسه کول ، چې په دې کې یې تر ټولو مهم لیک د ښار دديوالونو او د « ګولډن هارن» په اړه وو. خو نن سلطان ته خبر ورغلی و چې قاسم یې د بطریق ډیمونان په وژلو باندې نیولی دی. او ډیر ژر به ورته شهنشاه دمرګ سزا ورکړي . سلطان په لوړ اواز .....مرحبا وویله اوقاسم بن هشام یې ډیر و ستایه. ترڅنګ یې دخپلو سالارانو سره دقاسم بن هشام په اړه خبرې اترې پیل کړې.

لا تر اوسه قاسم ته دمرګ سزا نه وه ورکړل شوې ، پخپله شهنشاه خپل محل ته د راتلو وروسته دغه سزا ځنډولې وه هغه یې یوازې په یوې تیاري خونه کې ور غورځولی و. شهنشاه فکر کاوه چې هغه به دقاسم څخه د سلطان محمد د ځواکونو په اړه ډیر څه را وکاږي ، په قسطنطنیه کې دقاسم هغه دوستان چې د قاسم سره یې اړیکې وو هم دخپلو کورو څخه پټو ځایو ته ولاړل. دا خبر په ډیره بیړه د رومیل کورته هم ورسید . او بریټا هم واوریدل چې د فادر ډیمونان قاتل چې یو مسلمان جاسوس و ....د ایاصوفیا څخه و نیول شو.

مارسي لا تر اوسه هم بې هوشه پرته وه. اوځان یې د بې وسه مرغۍ په څیر بند احساساوو. داسې مرغۍ چې په یوې اوسپنیزې پنجره کې بنده کړل شوې وي، هغه به ښکته پورته کیده او دقاسم د ازادیدو په اړه یې فکرونه کول خوهیڅ ممکن لاره یې مخې ته نه راتله. دا د مارسي حال و ، اخوا « سونیا» چې قاسم به د لیونۍ پیغلې په نامه یادوله ، د قاسم د نیولو وروسته په خپله کوچنۍ کوټه کې بې سده پرته وه. هغې ته د قاسم د مسلمان په څیر ډاګیزه کیدل هم یو شوک وو. که څه هم هغه ډیره مذهبي پیغله نه وه خوبیا هم په دې ویریده او فکر یې کاوه چې ، ښه نو، یو مسلمان جاسوس د یوې عیسوی خادمې سره ولې دومره مخلص و. ورځې په چټکۍ سره تیریدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په «اورنه» کی د سلطان قصر دخلکو دګڼې ګوڼې ځخه خوزیده ، نن سلطان محمد دخپلې بحری بیړۍ د کتلو له پاره د «بحر اسود» په لور ور روان وو. دهغه تر ټولو غوره سالار احمدکدک پاشا ، او محمود پاشا هم دهغه سره یو ځای تلل. دسلطان دتلو سپرلۍ تیاره وه چی په همدی وخت کی دسلطان یو قاصد ورته رامخته شو. قاصد ورته پیغام ورکړ چی د رومیلی کلا تیاره شوی ده ، یوازی یوه میاشت معمولی کار ته اړتیا لري. اوډیر ژر به دکلا برجونه د توپونو د نصبولو له پاره تیار کړل شي

دسلطان له پاره دا تر ټولو ښه خبرو. د بله اړخه دهغه بحری بیړه هم د تیارۍ په حال کی وه. ستر ستر بحری جهازونه تیارکړل شوی و و او نن سلطان دهمدی جهازونو دمعاینه کولو له پاره دتوری بحیری په لور ور روان وو. سلطان لکه د نورو پادشاهانو په څیر د بګیو په کتارونو کی د تګ عادی نه و. دهغه سپرلۍ یوازی یو عربی نسله « ابلخ» اسپ و ، سلطان دخپلو ملګرو سره دلمر د راختلو سره سم هغه لوری ته وخوزید ، دا دعثمانی سلطنت لمړنی سلطان و چی په طبیعت کی یی د فنون لطیفه سره محبت او دلچسپی وه. « محمود پاشا» هم یو شاعر و. نوکله به چی هغه د سلطان سره یو ځای کومی لوری ته ورته نوپه ټوله لاره به یی زعفرانو په څیر محفل جوړ کړی و. سلطان محمد خان ته په زرګونو فارسی اشعار په یاد وو. هغه په فارسی او ترکی دواړو ژبو باندی ډیر شه شعرونه ویل ، په دی اساس تر توری بحیری پوری دغه اوږود سفر په ټوکو ټکالو او شاعرۍ کی په خندا اوخوشالۍ تر سره شو. سلطان محمد دبحری فوځ ځنګ ته راغی ، دا یو ستر او پراخه ساحل وو ، دسلطان بحری بیړۍ په ازادو اوبو کی ولاړی وی او هری لوری ته یی د زانګو په څیر موجونه خوړل. ګڼ شمیر سپاهیانو هلته تګ راتګ کاوه ، یوه ملاح چی کله سلطانی ډله وکتله نو سمدلاسه یی منډه کړه او امیر البحر ته یی ځان خبر ورکړ ، په دی وخت کی امیر البحر « بلوط اغلن» د یوه بحری جهاز په چت ولاړ و او د سمندر په لور یی دخپلو ځواکونو ننداره کوله. کله چی امیر البحر ته ځرګنده شوه چی سلطان دخپلو دوو سوو کسانو سره یو ځای دلته رارسیدلی دی نو ډیر وارخطا شو او دلیونو په څیر یی لاندی را و دانګل ، کله چی هغه ساحل ته را ورسید نو ویی کتل چی سلطان د یوه زوړ ملاح سره په خبرو بوخت دی. هغه وکتل چی ګڼ شمیر سپاهیانو اوملاحانو د سلطان دروند استقبال کړی دی ، امیرالبحر هم دسلطان خواته راغی ، هغه ته یی په ډیر ادب سره سلام وکړ او هلته توری بحیری ته یی دهغه د راتګ له پاره ښه راغلاست ووایه.

زوړ کپتان «عباس» هم دسلطان سره یوځای روان و. د ساحل هوا د سلطان توره لونګۍ په هوا کی الوزوله. دغه زوړ ملاح د یونانی جهازونو پخوانی کیپتان ( بارټا کوزین) وو چی د مسلمانیدو وروسته همدلته اورنه ته راغلی و. او بیا سلطان ورته همدلته په توره بحیره کی د دبحری فوځونو د تیارولو حکم ورکړی و. اصل مسؤلیت خو د امیرالبحر و خو زوړ عباس دهغه دمعاون په څیر دهغه سره یو ځای و. سلطان دخپلو معاوینینو او نورو ملګرو سره یو ځای د یوه ستر جهاز په چت ور وخوت ، دا د بحری بیړۍ بیرغ وړونکی جهاز و. دغه ډول بیرغ وړونکی جهازونه څلور و ، سلطان د جهاز د چت نه لمړی خپله بحری بیړه وکتله چی دهغوی په کتلو یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینه دخوشحالۍ نه خلاصه شوه او د بحر دمستی هوا په لګیدو سره یې خوله دخندا نه وازه شوه ، په دی وخت کی یې دمحمود پاشا په لور مخ کړ او ورته یې وویل:

« محمود پاشا ! وینی یې ، د دانیال هوا زمونږ دبللو له پاره دلته را رسیدلی ده. د فاسفورس نیلا اوبه زمونږ د جهازونو د استقبال له پاره نا ارامه دي..... محمود پاشا ! نن درته یوه خاصه خبره کوم...»

ټول خلک دسلطان لوری ته متوجه شول. سلطان د جنوب غرب ساحل لوری ته چیری چی قسطنطین پادشاهی کوله مخ کړ او ویی ویل:

« محمود پاشا ! مونږ کوچنیان وو چی د قسطنطنیی په اړه به قصی اوریدلی اوبیا مو کله چی دروم د قیصر ، دقسطنطنیی دپادشاه د سازشونو په اړه خبری اوریدی نو زمونږ د زړونو څخه به یوازی یوه خبره را وتله چی کله چی زه سلطان شم نو د کفر دغه ستر مرکز قسطنطنیه به حتما داسلامی سلطنت یوه برخه ګرځوم.» سلطان ددی خبری سره سم دعربی ژبی یو شعر ووایه چی په کی راغلی وو: ای دقسطنطنیی لوړو دیوالونو ! ته به د لیونیانو په لاره کی خنډ نه شی ،مونږ خو لیونیان یو اودخپل محبوب په عشق کی لیونیان.»

محمود پاشا د سلطانی ذوق ډیره ستاینه وکړه او په خند کی یې ورته وویل: درونده سلطانه ! ستا د احساساتو په کتلوسره ددی وړاند وینی له پاره د هیڅ ډول بصیرت اړتیا نه شته چی ووایو د قسطنطنیی ورځی شمیرل شوی دی او ډیر ژر به دا ښار قسطنطنیه نه بلکه « اسلام بول» وګرځی.

د سلطان د محمود پاشا د خولی څخه د قسطنطنیی نوی نوم واورید . او ډیر زیات یې خوښ شو ، سلطان پریکړه وکړه چی هغه به د «رومیلی کلا» او د « اناضول کلا» په لور د څو جهازونو او کشتیو یوه ډله ور استوي. په همدی خاطر یې زوړ عباس د څلورو جهازونو د ډلی مشر وټاکه او هغه ته یې هدایت وکړ چی په ابنای فاسفورس کی ورننوځی او د همدی لاری د « ابنای مارمورا» څخه تیر شی . دڅلورو واړو جهازونو سره یې لس لس کشتۍ هم وتړلی. سلطان زوړ عباس ته هدایت وکړ چی هغه دی دده ترمخه ددی مبارک جهاد دلمړني ډلګۍ په څیر حرکت وکړي. همغه و چی د زوړ عباس اودهغه د ملګرو دجهازونو دتللو له پاره وخت و ټاکل شو او سلطان بیرته خپل تمځای ته چی همغلته د بحیری په غاړه ورته جوړ کړل شوی و راستون شو. نن شپه دسلطان او د بحری بیړۍ د عسکرو له پاره د رڼا ګانو شپه وه ، سلطان تلونکی ډلی ته د جشن د جوړولو لار ښوونه وکړه ، ترکی عسکرو نوی کالی واغوستل ، مشالونه یې روښانه کړل ، او ځای ځای یې په رڼاو ښایسته کړ ، یو شمیر سپاهیانو د جنګ ډول راو خست او په هغی یې خپل وخت خوشحاله تیراوو ، د توری دوهلو مقابلی ، غیږی او کبډی ....د ا ټولی مقابلی روانی وی سلطان ددوی د میلمستیا په خاطر بی شمیره میږی او ګډی حلالی کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه یې په مکمله توګه وریتی کړي. دخوراک ځښاک وروسته سلطان په ټولو باندی انعامات وویشل او په دی توګه د عثمانی سلطنت د بحریی لمړنی ډلی د خپلو تللو جشن و لمانځه.

بله ورځ سهار دلمر خاته سره سم د عباس جهازونو د توری بحیری ساحل پریښود ، زوړ عباس د خپل جهاز په چت باندی ولاړ و ،په ټولو جهازونو د عثمانی سلطنت بیرغونه رپانده وو. سلطان ، امیرالبحر ، محمود پاشا ، احمد کدک پاشا او اغا حسن ټول ساحل کی ولاړ وو او د عباس بیړی ته یی دخدای پامانی په خاطر لاسونه خوځول. د ساحل ټول کارکونکي ، ، ټول سپاهیان اوملاحان دخدای پامانی په وخت کی حاضر وو. اوپه دی توګه د توری بحیری لکونو کالو ساحل د ۱۴۵۲ کال په سهار کی د «الله اکبر» په نارو کی را و نغښت. دهغه زاړه په رګونو کی یو ځل بیا وینه را ځوانه شوه، په تن کی یی جوش او خروش ډیرښت و مونده او یواځی په ځوارلس ورځو کی یی توره بحیره ووهله اوخپل جهازونه یی د فاسفورس د ابنا غاړو ته ورسول.

مصلح الدین اغا د خپلی جوړی شوی کلا په یوه برج باندی ولاړ و او په ابنای فاسفورس کی را ننوتونکی جهازونه یی څارل ، هغه ته دا جهازونه د لری څخه ډیر کوچني کوچني تر سترګو کیدل ، کله چی دا جهازونه د توری بحیری څخه ووتل او په ابنای فاسفورس کی ور داخل شول نو مصلح الدین داسی وانګیرله چی شونی ده چی دا جهازونه به د قسطنطنیی ته دشمالی اروپا څخه کومکونه راوړی. دمصلح الدین اغا عصابو ځواب ورکاوه. ځکه دا جهازونه اوس د روميلی دکلا تر څنګ نه تیریدل. مصلح الدین اغا سمدلاسه خپل عسکر سره راټول کړل اوهدایت یی ورته وکړ چی د کلا دروازی بندی کړی. په دی وخت کی مصلح الدین اغا د برج په سر ولاړ و و او ددی جهازونو د راتلو انتظار یی کاوه ، خو کله چی مصلح الدین اغا په جهازونو باندی د عثمانی سلطنت بیرغونه وکتل نود تکبیر په ویلو یی دکلا ټول دیوالونه په لړزه شول ، سمدلاسه یی دکلا ټولی دروازی پرانستی اوخپلو سپاهیانو ته یی حکم وکړ چی مخته ورشي او دعثمانی بحری بیړی دغی دلی ته ښه راغلاست ووایی.

دعباس جهاز رومیلی ته د رارسیدو سره سم هملته لنګر واچاوو. مصلح الدین اغا د زاړه کپتان عباس ډیره ښه استقبال وکړ ، عباس ورته وویل چی سلطان د بانای فاسفورس د کلابندی کولو حکم کړی دی ، په حقیقت کی دا زمونږ له اړخه د جنګ پیلامه ده، اوس زمونږ سره څلور ستر جهازونه او څلویښت کوچنی کشتی د یوی بیړی په څیر موجود دی او په ځانته ځان دابنای فاسفور محافظ او ساتونکی یو.

د عثمانی سلطنت بحری ځواکونو دغی ډلی د ابنایی فاسفورس په تر ټولو لویی برخی چی د توری بحیری خوله وه خپله حکمرانی جوړه کړه. په پیل کی څو عیسوی جهازونو دی لوری ته مخه کړی وه خو د عباس بهادرو سپاهیانو هغوی ابنا کی داخلیدو ته نه و پری ایښی. او داور په اورولو سره یی هغوی بیرته په شا کړی وو. بیا د ګولډن هارن خو کشتیی هم دی لوری ته راغلی وی خو دعباس شاهین صفته عسکرو هغوی ونیولی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کشتۍ یې ضبط کړې. اوس نو عثماني فوځونه په ابنا کې په پوره میړانه ګرزیدل. دغه ابنا چې ددوو سمندرونو د یوځای کیدو ځای او دکشتیو د تلو را تلو لاره وه اوس د جنوب له اړخه د نیمایي څخه زیاته د مسلمانانو په ولکه کې راغلې وه. خو د شمال له لورې په ابنا کې داخلیدونکې د دانیال دره تر اوسه پورې پرانستې وه. او دهمدې درې له لارې به د روم د بحیرې عیسوي جهازونو په اسانۍ سره قسطنطنیې ته مال او وسایل ور رسول. وینس، اسپین، جینوا، او د روم له اړخه ټول کومکونه دهمدې دانیال ددرې څخه قسطنطنیې ته ور رسیدل.

کله چې د ابنایي فاسفورس د محاصرې خبر شهنشاه ته ورسید نو دهغه اوسان وار خطا شول، سمدلاسه یې خپل خاص وزیر را وباله او په غصه ناکه توګه یې ورځخه وپوښتل:

خاص وزیره! د عثماني سلطنت بحري بیړې زمونږ په ابنا کې په سرو سترګو ګرځي راګرځي، او جان حتینانې تر اوسه پورې نه دی رارسیدلی......ایا د جینوا د بحري بیړې د ملاحانو په متو کې د کشتیو د بوتلو زور نه شته؟ دوی خو د ابنای فاسفورس د خوندي ساتلو له پاره راتلونکي وو. خو اوس د ابنا دا برخه د مسلمانانو په ولکه کې راغلې ده...که چیرې په ګولډن هارن او دقسطنطنیې په ساحل باندې زمونږ خپل جهازونه موجود نه وای، نو تر اوسه پورې به د عثماني امپراطورۍ لمړۍ ډله زمونږ تر دیوالونو پورې را رسیدلې وه. خاص وزیره! زه ډېر اندیښمن یم، ماته ووایه چې څه وکړو؟

د شهنشاه دخبرو په اوریدو سره وزیر را ټیټ شو او دخاص ادب وروسته یې وویل: «زمونږ قاصد خبر راوړی دی چې د جان حستیماني بحري جهازونه به په یو دوو ورځو کې ددانیا ددرې نه را ووځي او په ابنا کې به ور ننوځي. درونده شهنشاه! ته اندیښنه مه کوه د جان جستیماني بحري جهازونه چې زمونږ دبحري بیړې سره یو ځای شي نو مونږ به و توانیږو چې دعثماني سلطنت بحري ځواکونه د ابنا څخه وشړو.»

خو شهنشاه ډاډمن شوی نه و. هغه سمدلاسه سپه سالار نورټارس ته پیغام ولیږه چې د ښار د ټولو دروازو او دیوالونو مسؤلیت دې نیغ په نیغه په خپله ولکه کې واخلي. ورځ یوه په بله پسې تیریده او دقسطنطین په زړه کې ویره زیاتیده، هغه ته سمدلاسه خپل خوب په یاد راغی، او د سستر میرې تعبیر یې هم په ذهن کې انګازې کولې، هغه د کانفرنس په ورځ هغه دسرو سترګو خاوند دیو شاګال ښه پیژندلی و خو شاګال په ټولې غونډې کې داسې یو کار وکړ چې شهنشاه دهغه په مقابل کې هیڅ نه شو کولی. په دې توګه شاګال شهنشاه په خپله پناه کې اخستی و، یا په بل عبارت دشهنشاه خوب پوره شوی و. هغه ته سستر میري ویلي و چې هغه دی د سرو سترګو خاوند دیو بې له ځنډه ووژني خو شهنشاه داسې و نه کړای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسطنطین به نن سبا ډېر پریشانه وو. دهغه خوب دسترګو څخه الوتی وو. هغه به هره ورځ په یوه نه یوه ځای کی د جنګ په کارونو کی اخته و. خو کله به چی ځانته شو نو شراب به یی څښل.

د جان جستیمانی بحریه چی د څو جهازونواو سلګونوکشتیو څخه جوړه شوی وه دیوه ستر فوځ سره یو ځای د ابنا په شمالی برخه کی را ننوتل. دبحریی په لمړي جهاز باندی د صلیبیانو بیرغ رپیده. په جهازونو کی سپاره سپاهیان د جهازونو چتونو ته را وختل او دلری څخه یی دقسطنطنیی نندارہ کوله ، قسطنطنیه دهغوی څخه یوازی دری میله لری واټن کی پرته وه. دقسطنطنیی یوه برخه ګولډن هارن سره نښتی وه ، خو د ابنای فاسفورس بله یعنی جنوبی برخه دمسلمانانو په ولکه کی وه چی دقسطنطنیی څخه یی پنځه میله واټن درلود. خو عثمانی کشتیو به کله کله ګشت کاوه او ان تر دیوالو پوری به یی ځآنونه را رسول. د جان جستیمانی جهازونه د دیوال تر څنګ تر ګولډن هارن پوری ورسیدل. د ګولډن هارن اوسپنیز زنځیر یی خوشی کړ او ډیری کشتۍ او جهازونه دننه ور ننوتل. خو یو شمیر نور وجهازونه د ګولډن هارن څخه بیرون د ابناا په ساحل کی لنګر ونه واچول. هغه ځای چی د جستیمانی کشتیو د لنګر اچولو له پاره ټاکلی و هغه په حقیقت کی د ماهی نیونکو ځای ځیګی و. هغوی به د ورځی ماهیان نیول اوبیا به یی خپلی کشتۍ هملته په ساحل کی پریښودی ، دماهی نیونکو کوچنیانو به هلته په هغی کی لوی کولی. کله چی کوچنیانو دا ستری ستر کشتۍ و کتلی نو وویریدل او دخپلو جونپړو په لور یی ورمنډی کړی.

ټآرمن چی د عیسوي بیړۍ ددی برخی قومندان و دخپل جهاز د چت څخه یی د ماهی نیونکو دغه کوچنی کلی کوت. ټارمن د جینوا یو ډیر تجربه لورنکی سپاهی او سپه سالار و. په حقیقت کی هغه یو بحری قزاق وو خو جستیمانی د زیات رشوت په مقابل کی دلته ټاکلی و. دهغه د زوند ځلوینبت کاله دبحر په اویو کی تیر شوی و. دهغه په مخ باندی دزخمونو د ننبو څخه دا ډاګیزه کیده چی ټارمن څو جنګونه تر شا پری ایښی دی، هغه وخت چی هغه بحری قزاق و نو شهرت یی تر لری لری پوری خپور شوی و. څومره چی ټارمن په خپلی میړانی او توری وهلو کی مشهور و نو دهغی نه زیات په وحشت او بربریت کی مشهور شوی و ، دهغه تر ټولو ستر بد عادت داو چی ډېر زیات شراب به یی څښل او هره ورځ به یی یوه نوی ښایسته پیغله په خپله بستره باندی درلوده. ټارمن د ماهی نیونکو کلی وکوت. نوخپل جهازونه یی هملته لنګرګړل او پخپله یی د ساحل په غاړه خیمی ووهلی.

ددی نه اخوا په څلور میله واټن کی مسلمانان پراته وو. او دمسلمانانو کشتۍ په د ورځی څو ځلی راتلی او د ماهی نیونکو تر کلی پوری به یی چکر واهه اوبیرته به ستنیدی. نن چی د ټارمن کشتیو دلته لنګر واچاوو. نو په ګشت باندی ماموری د مسلمانانو دوه کشتۍ په ډیره بیړه خپل سالار ته د اطلاع ورکولو له پاره ورغلی. داګست میاشت وه. او د رومیلی کلا په برجونو باندی د اربان په لاسو ستر توپونه نصب کړل شوی وو. کپتان عباس هملته په رومیلی کلا کی موجود وو. کله چی خبر شو چی د جینوا جهازونه هغوی ته نژدی راغلی دی نو دهغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پرمختګ د مخنیوي له پاره یې خپلو جهازونو ته دمخکې تلو حکم وکړ. ترڅنګ یې په کلا باندې د نصب توپونو خولې هم دشمال لورې ته راواړولې ، اوس نو دعباس په شریانو کې جوش او جذبه را پاریدلې وه. عباس خپلو ګشتي کشتیو ته حکم وکړچې دعیسویانو دجهازونو په تلو راتلو باندې کلکه څارنه وکړي.

د جستیمانی د استقبال له پاره شهنشاه په خپله ترګولډن هارن پورې راغلی و ، دجستیمانی دکومک په کتلو سره په بندرګاه کې دموجودو عیسوي فوځیانو حوصلې غښتلې شوې او دخوشحالۍ څخه یې چغې وهل پیل کړل. خوپخپله شهنشاه دومره خوشحاله نه و. جستیمانی خو راغلی و خو دهغه جنګی کومک د شهنشاه دهیلو څخه ډیر کم و. خوبیا هم شهنشاه په ډیره ښه توګه د جینوا د فوځونو استقبال وکړ. اودهغوی دخوشحالیو له پاره یې په شاهي قصر کې د شپې جشن جوړ کړ.

دشپې تر ډیره وخته پورې په شاهي محل کې د شرابو جامونه کړنګیدل ، هلته د ځوانۍ اوکبابو له پاره هم خاص پروګرام جوړ شوی و. د جستیمانی د فوځ په کتلو سره شهنشاه دومره ویرې اخستی و چې په بله ورځ یې د ټولو هیوادونو په لور خپل ګړندي قاصدان و لیږل او د نور کومک غوښتنه یې تر ې وکړه. په دوی کې د اسپین د شمالي ولایت اراګون او فسطله نه علاوه دغربي اروپا نور هیوادونه هم شامل و. دهغه وخته راهیسې چې عثماني بحریې ځواکونو د توری بحیرې لاره بنده کړې وه نو د شهنشاه اړیکې د شمالي اروپا سره پرې شوې و. په شمالي اروپا کې بلغاریه ، یوکرائن ، چیکوسلواکیه او د جرمنی ځینې سیمې شاملې وې. شهنشاه به ډیر دی فکر ځوراوه چې هسې نه چې قسطنطنیه یې دلاسو څخه ووځي.

هغه خپل ځان د قسطنطنیې د ډیرو بدقسمته شهنشاه ګانو څخه ګاڼه. هغه په دې ویره کې و چې د یولس سوو کالو راهیسې دهغه دپلرونو او نیکونو دغه جوړ کړل شوی نظام به پای ته ورسیږي. خو نه یې غوښتل قسطنطنیه له لاسه ورکړي.تر اخرې حده یې هڅه کوله د قسطنطنیې څخه دفاع وکړي هغه ته دخپلو نیکونو اوپلرونو تاریخ ډاګیزه و چې په تیرو اوه سوه کلونو کې یې مسلمانان قسطنطنیې ته نژدې هم نه و راپریښې..... شهنشاه د جشن په خوشحالیو کې لږ څه مصروف شو خو نن سبا یې زړه په هیڅ شي نه راټولیده. قسطنطین یوائې په یوه فکر کې ډوب و او هغه دا چې څه ډول به وتوانیږي دخپلو پلرونو جوړ کړل شوی دغه سلطنت دسلطان محمد خان د یرغل څخه خوندي وساتي. هغه د عثمانیانو دهوډ څخه ښه خبر و ، همدا ځوکاله مخته چې هغه د «موریا» په تخت باندې ناست و نو هغه د سلطان محمد خان د پلار سلطان مرادخان دلاسه دعثماني تورو خوند څکلی و. هغه وخت چې قسطنطین د موریا حکمران و نو دخپلو ولکه شوو سیمو دخوندي ساتلو له پاره یې د « دکورت سیمه» کلابنده کړې وه اوبیا یې دهغه ځآیه د ډاډ اخستو وروسته د « تهیس» په ښار چې د عثماني سلطنت تر څنګ د عثمانیانو په ولکه کې و ناځآپې حمله وکړه او هغه یې و نیوه. قسطنطین ته دا په یاد وو چې دپیښې د خبریدو سره سم سلطان مراد خان سمدلاسه د «موریا» په لور روان شوی و. خو په لاره کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «کورتهې» مستحکمه کلا خنډ ګرزیدلې و. اوبیا هغه وخت قسطنطین ډیر حیرانه شوی و چې عثماني توپونو په ګولیو ورولو پیل وکړ او دکورتهې دغه مستحکمه کلا یې دخاور سره خاوري کړه. دا د توپونو د استعمال لمړنۍ تجربه و چې عثماني فوځونو تر سره کړې وه. هغه وخت قسطنطین ته په تېوله «موریا» کې د پناه او پټیدو ځای نه پیدا کیده په دې خاطر قسطنطین او دهغه ورور تهامس د سلطان مراد خان سره سوله وکړه ، په ځان یې باج کیښود او موریا یې هم د عثماني سلطنت د باج ورکونکو ریاستونو څخه وګرځوله. قسطنطین به دا هر څه څه ډول هیر کړي وای. دا خو دهغه خپل برخلیک و ، په داسې حال کې چې دهغه دنیکونو برخلیک هم تری پټ نه و پاته.

بازینطینی سلطنت چې یو وخت په اروپا کې د «ډینوب د دریاب» اوپه اسیا کې د «اناطولیه» او «شام» پورې غځیدلی و ، نن یواځې تر قسطنطنیې پورې را نغاړل شوی و. دا سلطنت د بازنطینیانو له پاره د زوال سبب و ګرزید. شهنشاه په دې فکر کې و چې دهغه نیکونو پخپله مسلمانانو ته اجازه ورکړې وه چې په اروپا کې میشت شي، همدا راز هغه ته دا هم څرګنده وه چې په ۱۳۳۸ کال، ددریم شهنشاه «اینډرو نیکس» د مړینې وروسته چې کله دهغه زوی «جان پلیولوګس» کوچنی ماشوم پاته شو نو ملکې اینا» خپل ستر چانسلر کنتا کوزین د کوچني شهزاده جان پلیولوګس له پاره ساتونکی او دهغه لار ښوود ټاکلی و. خو د شهزاده دغه ساتونکی کنتا کوزین ډیر زر په لالچ کې راغی او هڅه یې وکړه چې د قسطنطنیې تخت په خپله ولکه کې واخلي او شهزاده د مخې څخه لرې کړي. د کنتا کوزین همدا خیانت ددې سبب شو چې مسلمانان اروپا ته راننوځي. کنتا کوزین د ساتونکی اولارښود ټاکل کیدو نه څو کاله وروسته یعنې په ۱۲۴۳ کال کې خپل ځان د شهنشاه په نامه اعلان کړ. په دې وخت کې کنتا کوزین په «نیکوټیکا» کې میشت و. ملکې ته دا خبره د زغم وړ نه وه او د کنتاکوزین ددې کار مخالفت یې وکړ. پایلې یې دا شوې چې ددواړو ترمنځه نښتې پیل شوې ، دواړو د عثماني فرمانروا د زوی «اورخان» څخه دمرستې غوښتنه وکړه. ددې نه مخته هم عثماني فرمانروایانو د قسطنطنیې د تخت تر منځ د جنجال کونکو څخه د یوې نه یوې ډلې سره همکاري کوله.

کنتا کوزی د اورخان څخه شپږزره فوځیان وغوښتل او ددې په بدل کې یې خپله لور «تهیوډورا» هغه ته د ژوند د شریکې په څیر وړاندې کړه. اورخان هم دا شرط و مانه. اوپه ۱۳۴۵ کې یې شپږزره فوځیان د کنتا کوزین د مرستې له پاره اروپا ته ور ولیږل. کنتا کوزین دهمدې سپاهیانو په مرسته قسطنطنیه، چې دا وخت دملکې په لاسو کې وه ، کلابنده کړه. ملکه مجبوره شوه سوله وکړي اوسوله هم په دې حیرانونکې خبره وشوه چې کنتا کوزین اوښځه یې اوهمدا راز ملکه اینا او شهزاده جان پلیولوګس ....څلور واړه به په یوه وخت دتخت خاوندان اوسي ، همغه و چې دڅلورو واړو د تخت د کیناستو رسم ادا کړل شو. ددې اتحاد د نور ټینګښت له پاره کنتا کوزین خپله کوچنۍ لور شهزاده جان پلیولوګس ته واده کړه. په همدې وخت کې اورخان هم د شهزادګۍ تهیوډورا سره واده وکړ. اورخان خپلې نوې ناوې ته په خپل پلرنی مذهب د پاته کیدو اجازه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا اتحاد تر ډېره پورې پاته نه شو ځکه کنتاکوزین یو ځل بیا د تخت او اقتدار دنیولو له پاره لیونتوب پیل کړ او دعثماني فوځ څخه یې مرسته وغوښتله. په ۱۳۵۳ کال یې دحکومت ټولی چارې په خپلو لاسو کې واخستې تر دې وخته پورې شهزاده لوګس هم ځوان شوی و، شهزاده د کنتا کوزین سره مخالفت وکړ او په دې توګه کورنۍ شخړې پیل شوی. په دې وخت کې عثماني سلطان اورخان دکنتا کوزین د مرستې له پاره شل زره عسکر را واستول، ددې فوځ له پاره یې خپل زوی سلمان سپه سالار ټاکلی و. کنتاکوزین د اورخان له پاره داځل په اروپایي ساحل کې خپله یوه کلا د معاوضې په توګه وړاندې کړه، دا همغه ورځ ده چې په اروپا کې دمسلمانانو د ولکې او پښې ایښودو له پاره لمړۍ ورځ ګڼل کېدای شي. کنتا کوزین د عثماني فوځونو په مرسته خپل زوم پلیو لوګس ته ماتې ورکړه او د قسطنطنیې په تخت یې ولکه وکړه. سلیمان پاشا د تړون له مخې د اروپایي ساحل یوه کلا د «زنپ» په نامه په خپله ولکه کې راوړه او هلته یې د عثماني سلطنت فوځونه میشت کړل. ددې کار څخه څو ورځې وروسته په تهریس کې سخته زلزله راغله. او دډېرو ښارونو دیوالونه را پرېوتل. په دې کې د «ګیلی پولی» دکلا دیوالونه هم شامل و. دا کلا د دانیال د درې په غربي ساحل کې تر ټولو ستره او مستحکمه کلا ګڼل کېده. دا کلا د زنپ دکلا څخه په ډېر لږ واټن کې پرته وه، سلیمان پاشا هغه یو غیبي تائید وګاڼه او سمدلاسه یې په دې کلا هم ولکه وکړه. دکلا یوناني عسکرو دا فکر وکړ چې د خدای تقدیر به همداسې وي په دې خاطر یې د عثماني فوځونو تر مخه کومه ستونزه پیدا نه کړه.

د ګیلي پولي د سوبې وروسته د ترکانو په تاریخ کې یوه نوی دروازه پرانستل شوه، ددې پیښو وروسته دکنتاکوزین په خلاف په قسطنطنیه کې سخته کرکه راپیدا شوه، اودې کرکې د بغاوت او انقلاب بڼه خپله کړه. هر وګړي به په کنتاکوزین باندې د غدارۍ ټاپه لګوله اوهمغه یې اروپا ته دترکانو په راوستلو باندې تورن کړ. دعوامو دغه تحریکاتو کنتاکوزین مجبور کړ چې دتخت اوتاجه لاس په سر شي اودخپل ژوند پاته دیرش کاله په یوې خانقاه کې په عبادت تیرې کړي، په دې وخت کې کنتاکوزین دخپلې دورې یو تاریخ ولیکه. اودا همغه کتاب و چې قسطنطین په ډېره ښه توګه لوستی و. کله چې جان پلیولوګس په تخت کیناست نوهغه مجبور شو دمسلمانانو سره سوله وکړي او په اروپایي دغو کلاګانو باندې د اورخان ولکه په رسمیت و پیژني. په دې توګه بازنطیني سلطنت په یوه ډول د مسلمانانو باج ورکونکي وګرزید. تر څه مودې پورې د قسطنطنیې شهنشاه مسلمانانو ته په پټه خوله باج ورکاوه خو وروسته ورته دا کار د زغم وړ نه ښکاریده. هماغه و چې په ۱۳۶۹ کال شهنشاه په خپله روم ته ولاړ اود پوپ په خدمت کې حاضر شو او دهغه څخه یې د مسلمانانو پر خلاف د اروپایي حکومتونو کومک وغوښت. هغه د پوپ د ملاتړ د تر لاسه کولو له پاره داسې دذلت اوسپکاوی نه ډکه لاره خپله کړه او خپل ځآن یې د یوناني کلیسا د ټولو هغو عقیدو څخه منحرف و ښود چې د رومي کلیسا سره یې ټکر درلود. په دې توګه هغه په مذهبي معاملاتو کې دروم دکلیسا علویت و مانه. خو ددې ټولو هڅو سره سره بیا هم هغه خپل مقصد ته و نه رسید. ځکه مسیحي حکومتونو د عثماني ترکانو په خلاف د جنګ کولو څخه ډډه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه و چې شهنشاه ناکامه اونامراده بیرته قسطنطنیې ته راستون شو، دبیرته راستنیدو په وخت کی ، کله چی هغه د وینس ځخه راتیریده نو د «دیان» یو شمیر خلکو ، چې روم ته د تللو په وخت کی یی ورته قرض ورکړی و هغه ونیوه. دهغه سره دومره پیسی هم نه وی چی پور کونکو ته یی ورکړي. دهغه مشر زوی ایډرونیکس چې دخپل ځان نه وروسته یی ولیعهد ټاکلی و د حکومت او واکمنۍ څخه دخوند د اخستو وروسته یی د خپل پلار د راخوشی کولو هیله هم ځرګنده نه کړه. او نه یی دخپل پلار د پور د ورکولو هڅه وکړه. خو دهغه کشر زوی مینوئیل خپله شتمنی وپلورله اودخپل پلار پور اخستونکو ته یی دهغوی پورونه ورکړل اوشهنشاه یی ازاد کړ ، قسطنطنیې ته د را رسیدو سره هغه خپل مشر زوی ایندرونیکس د تخت څخه وشړه. اودهغه په ځای یی مینوئیل خپل ولیعهد و ټاکه.

ایندرونیکس هم یو زوی درلود چی دخپل پلار په حق تلفۍ باندی سخت خواشینی شوی و. هغه په یوه ډول د سلطان مراد خان زوی « شهزاده صادو جی » دی خبری ته تیار کړ چی دواړه به یو ځای شهنشاه او « مرادخان» دتختونو څخه کیباسي اودهغوي په ځای به پخپله حکمرانان ګرځیږی. په دی وخت کی مراد خان په کوچنۍ اسیا کی و او صادوجي په اروپا کی د ترکی فوځونو سالار و. هغه د مرادخان په غیرحاضرۍ کی بغاوت اعلان کړ ، دبله اړخه د ایندرونیکس زوی هم د بازنطینی ځوانانو د یوی ډلی سره یو ځای دخپل نیکه شهنشاه په خلاف د جنګ له پاره ځانونه تیارول. ددی شهزادګانو ګډ بغاوت حالات ډیر کړکیچن کړي وو. مرادخان ددی خبر داوریدو سره سم اروپا ته راورسید، شهنشاه هم دخپل لمسی د جرم څخه د برائت اعلان وکړ او ددی فتنی د له منځه وړلو له پاره یی ځان تیار کړ. هغه د مراد خان دا وړاندیز هم ومانه چی د نیولو وروسته به ددواړو شهزادګانو څخه سترګی ویستل کیږی. د صادو جی فوځ چی کله د خپل پادشاه مراد خان دخولی څخه دبښنی خبره واوریده نو سمدلاسه یی خپل سپه سالار پریښود. صادو جی ، دایندرونیکس زوی او نور ځوان بازنطینی امراء ټول ونیول شول، مرادخان تر ټولو اول دخپل زوی شهزاده صادو جی په سترګو کی ویلی شوی سیسه ور واچوله او ړوند یی کړ. اوبیا یی دهغه د وژلو حکم وکړ. دبازنطین امراء هم د « مارتیزا » په دریاب کی غرق کړل شول ، خو د ایندرونیکس زوی یی د شهنشاه مخی ته ور وست ، شهنشاه هم د ژمنی مطابق دخپل لمسی په سترګو کی ویلی کړی ګرمه سیسه ور واچوله خو ددی سره هم دهغه د سترګو لید د ضایع کیدو څخه خوندي پاته شو.

نن قسطنطین دخپلو پلرونو تاریخ را سپړودی و اودهغوی په کمښتونو باندی یی ژړا کوله. هغه ته دا هم ډاګیزه وه چی د عثمانی سلطان« بایزید یلدرم» په وخت کی هم شهنشاه ته ګوانښ شوی و چی هغه به دهغه مشر زوی ایندرونیکس د توری په زور په تخت کینوی. په دی خاطر پلیولوګس د یوه نوي تړون له پاره ځان تیار کړ اوهمدی تړون د بازنطینی سلطنت هغه پاته وقار اوعزت هم دخاورو سره خاوری کړ. جان پلیولوګس اودهغه کشر زوی مینوئیل چی په سلطنت کی دخپل پلار سره شریک و ، ژمنه وکړه چی دیرش زره طلایی سکی به هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د خراج په توګه ادا کوي او د شهنشاه له لوری به ددولس زره کسیز فوځ یوه ډله تل دبایزید په خدمت کی حاضره وي، په کوچنی اسیا کی د بازینطینی سلطنت په مقبوضاتو کی یوازی یوه کلا د « فلاډلفیا» په نامه پاته شوی وه. خو ددی ترون په وخت کی هغه هم بایزید په خپل نامه ولیکله. خو ددی کلا یونانی افسرانو د شهنشاه دحکم سره سره بیا هم دکلا دخالی کولو څخه ډډه وکړه. همغه و چی د بازنطینی سلطنت د سخت زوال وخت هم راورسید ، ځکه یونانی فوځیانو په خپله په فلادلفیا باندی یرغل وروست ، هغه یی فتحه کړه او بایزید ته یی ورحواله کړه. همدی کار د قسطنطنیی د پای نښی نښانی ښوولی.

د جان بلیولوګس د مړینی وروسته دهغه کشر زوی مینوئیل په تخت کیناست. اوهغه د شهنشاه له اړخه دبایزید په دربار کی دحاضریدو پابند ګرزیدلی و. په دی توګه هغه تر ښارنی لاندی و ، دپلار د وفات نه وروسته هغه د سلطاني دربار څخه و تښتید او قسطنطنیی ته ورسید او په تخت کیناست ، بایزید ته دهغه دا حرکت د زغم وړ ښکاره نه شو. هماغه و چی سمدلاسه یی قسطنطنیه کلابنده کړه ، نژدی اوه میاشتی دا کلابندي روانه وه اوبیا هغه د لسو کالو له پاره یو ژمن لیک لاسلیک کړ او کلابندی یی پای ته ورسوله. ددی کلابندی د سولی شرایط هم ډیر سخت وو. د خراج رقم یی د یرش زره طلایی کراون و ټاکل ، په قسطنطنیه کی یی دمسلمانانو له پاره د یوه شرعی عدالت د جوړولو کار ترسره کړ ، بایزید ددی کار له پاره یو ترک قاضی و ټاکه او شرق د کلیسا په دی مرکز یعنی قسطنطنیه کی یو ډیر ستر او علیشان جومات جوړ کړ چی د منارو څخه به یی هر وخت د توحید اعلان کیده.(ګبن څلورم ټوک ، ۳۹۲مخ )

د ترون له مخی مینوئیل اوه سوه کورونه مسلمانانو ته ورکړل ، د «غلطی » نیمایی برخه یی بایزید ته ورکړه چی هغه په کی شپږ زره عثماني فوځونه ځای په ځای کړل ، دښار نه بیرون د انګورو باغونه اوفصلونه وو ، ددی پیدا وارو عشر هم عثمانی خزانی ته ورکول کیده،دهمغه وخته راهیسی عثمانیانو قسطنطنیی ته د «اسلام بول» نوم ورکړی و.

د قسطنطین شهنشاه دخپلو دوو ورونو وروسته د ددی هیواد شهنشاه ګرزیدلی و ، دقسطنطین نه مخته جان پلیولوګس نومی شهنشاه تیر شوی و اودهمدی دویم پلیو لوګس د مړینی وروسته دا قسطنطین د دولسم شهنشاه په څیر په دی هیواد واکمن شوی و ، که څه هم قسطنطین دخپلو اسلافو پرخلاف ډیر د میړانی ، بهادری او جنګی تجربو خاوند ګڼل کیده او غوښتل یی ددواړو کلیساګانو تر منځ اتحاد او یووالی راوړی خو دهغه دا ټولی هڅی هسی خوشی تللی. هغه په دی هم پوهیده چی د سلطان محمد مقابله نه شي کولی خو بیا یی هم هوډ کړی چی دخپلی وینی د اخری څاڅکی پوری به د قسطنطین څخه دفاع وکړي.

د جان جستیمانی د جشن څخه د خلاصیدو سمدستی شهنشاه دښار د دیوالونو دکتلو له پاره ولاړ او دديوالونو د خرابو شوو برخو د سمدستی جوړښت له پاره یی خلک په کار واچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم روم یو ځانګړی ښار و خو مسلمانانو به د پخوانیو اړیکو په اساس د قسطنطنیې شهنشاه ته د روم قیصر ویلی. ددی قیصرانو دغه سلطنت په ځوارلسمه پیړۍ کی جوړ شوی و، داسی وخت هم راغلی چی د روم دقیصر واکمنی دشرق او غرب تر لری لری ځایو پوری خپره وه. د قسطنطین شهنشاه هم دروم قیصر و .... کیدی شی چی د روم اخری قیصر به و.

که څه هم قیصر د کلیسا ګانو تر منځ اتحاد راوست خو هغه ډیر ناکامه اتحاد و. درومی او یونانی کلیساګانو تر منځ دومره اختلافات و چی هغه په داسی معمولی اتحادونو له منځه نو شو تللای. دغونډی په ورځ ددواړو کلیساګانو پادریانو په خپلو منځو کی خپری لګولی وی، سپه سالار نورټاس خو تر دی ځایه ویل چی د کارډینال د خولی په ځای راته د ترکانو لونګۍ او عمامی ښه ښکاري. د غونډی په ورځ پخپله د یونانی کلیسا مذهبی مشران په دوو ډلو باندی ویشل شوی و، یوه ډله یی د شهنشاه خواخوږی و چی د کلیسا ګانو تر منځ یی یووالی غوښت.او هیله یی درلوده چی پوپ ورته مرسته ورکړی. خو بله ډله هغه خلک وو چی په دغسی نازکو حالاتو کی یی هم نه غوښتل چی دکلیساګانو تر منځه اتحاد اویووالی راشي. دا دویمه ډله د لمړی ډلی څخه ستره وه په دی اساس ددی ډلی ګرجا ګانو شهنشاه ته خپلی مالی بسپنی و درولی. او ددوی د ډلی څخه چی کومو خلکو غوښتل په جنګ کی ګډون وکړی هغه هم په ډیر لږ شمیر کی یواځی ددیوالونو دخوندي ساتلو له پاره حاضر شول، قسطنطینه د ډیر ګڼ شمیر خلکو میشت ځای و خو دمتعصبی یونانی کلیسا له اړخه ورته یواځی شپږزره عسکر ،هغه هم په ډیره ناخوالی توګه تیار کړل شوی و. سپه سالار نورټاس هم په همدی ډول خلکو کی ورګډ و. قیصر کتل چی قسطنطنیه یی دلاسو څخه وځی. خو حوصله او همت یی له لاسه نه ورکاوه.

هغه ته ډیر ژر یو ښه خبر ترلاسه شو اوهغه دا چی د سپین او ایټالیا ځواکونه د قسطنطنیې څخه ددفاع له پاره را روان دی. اوبیا چی کومه ورځ د «کټالونیا» او «اراګن» فوځی ډلی دګولډن هارن سره را یو ځای شوی نو دروم قیصر ته یی نوی همت ورکړ. دهغه په وجود کی وینه و چلیده او دسلطان محمد خان په خلاف یی د جنګ له پاره پلانونه جوړول پیل کړل. دشرق او غرب عیسوی ځوانان په پوره شوق او ذوق سره د قسطنطنیې د دفاع له پاره په دی ښار کی سره راټول شول خو عیسوی حکومتونو اوپه ځانګړی توګه فرانسی، جرمنی، هنګری او پولینډ د قیصر سره هیڅ ډول کومک ته زړه ښه نه کړ. نه یوازی کومک یی ونه کړ بلکه دداسی بی حسۍ او بی پرواهۍ څرګندونه یی وکړه چی د مسیحیت تاریخ ورته حیران پاته دی. په حقیقت کی په تیرو څلورو پیړیو کی مسلمانانو د عیسویانو داسی ستر او ځواکمن اتحادونه مات کړی او د جنګ په میدان کی یی ځغلولی و چی اوس دغو اروپایی هیوادونو دمسلمانانو په مقابل کی د بل اتحاد دکولو جرئت له لاسه ورکړی و. د تیرو پنځه شپیتو کالو راهیسی عیسوی اروپایانو داروپا څخه د مسلمانانو د ویستلو له پاره څلور ځلی مذهبی اتحاد کړی و ، ،(کسوده ۱۳۸۹، هائکولس ۱۳۹۲، وارنه ۱۴۴۴، او بیا کسوده ۱۴۴۸) خو په دی ټولو اتحادونو کی هغوی ملا ماتونکی ماتی خوړلی وه ، هغوی به هر ځل اتحاد وکړ او دستر لښکر سره به راغلل خو بیرته به د سختی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتې او شکست څخه په تیښته و تښتیدل. په دی اساس اوس نو دغه اروپایی حکومتونه د بل کوم اتحاد له پاره تیار نه و. قیصر د کلیساګانو تر منځ اتحاد هم وکوت خوبیا هم هغه د تیرو وختو په څیر د یوه صلیبی اتحاد په راوستلو کی بریالی نه شو.

وخت په بیړه بیړه تیریده. د **۱۴۵۲** کال د اپریل دمیاشتی **۲۴** مه ورځ وه. رومیلی کلا د **۱۴۵۲** کال د اګست په **۲۸** مه مکمله شوی وه. کله چی د شهنشاه جاسوسانو هغه ته د رومیلی کلا د تکمیلیدو خبر ورکړ نو هغه د مسلمانانو معمارانو دغه ډول ګړندی کار حیران کړی و. اوس نو جنګ پیل شوی و. د «ټارمن» جنګی جهازونه دفاسفورس د ابنا په شمالی برخی کی او عثمانی بحری ځواکونه په جنوبی برخو کی ګرزیدل. کله کله به یی یو دبله سره مخامخ ټکر هم کاوه. په یوه بل به یی غشي ورول، په توپونو به یی یو بل ویشتل. پخپل ټارمن هملته دماهی نیونکو په کلی کی پروت و، دغه ماهی نیونکی چی پخپله هم یونانی عیسویان و دخپلو لښکرو په خدمت کی یی یوه لحظه هم نه ضایع کوله. «باقو» خو به ټوله ورځ هملته د فوځونو په قوماندانۍ کی پروت و و. دهغه اوږده اوږده ویښتان به تل دهغه په تندی باندی راځړیدلی وو. هغه په پښه ګوډ و خو د رومی سپاهیانو له پاره به یی د ښه شرابو دراپیداکولو دنده تر سره کوله. هغه دټارمن سره هم نژدی دوست ګرزیدلی و و.

دوه میاشتی په همدی توګه تیری شوی، کله چی یخنی پیل شوه نو د ټارمن په فوځی کړچار کی کمښت راغی، دا غرنۍ سیمه وه او دبلقان تیزی هوا به د رومی عسکرو وینه یخوله. دروم په بحیره کی شپه او ورځ اوسیدونکی دغه سپاهیان د توری بحیری د یخو هواګانو سره نا اشنا وو. ټارمن به خپل ډیر وخت همدلته په ساحل کی تیروو. یو ماښام د لمر پریوتو څخه دمخه په ساحل باندی دتورو وریځو لړۍ راغلی، اسمان د تورو وریځو څخه ډک شوی و، کله چی د باران څاڅکی پیل شول نو ټارمن د خپلی خیمی په لور ورغی. نن دهغه له پاره ډیر غوره موسم وو او شراب یی هم په خیمه کی پراته وو. سر یی راپورته کړ او کله یی چی په اسمان کی غوړیدونکی وریځی وکتلی نو په ډیره مکروه توګه یی و خندل اوبیا یی فکر وکړ چی ډیر وخت وشو چی د ځوانۍ څخه یی خوند نه دی اخستی، خیمی کی پروت د شرابو یو بوتل یی را واخست او ټول یی خولی ته ونیوه. لږه شیبه سخت باران وریدل پیل شول. دټارمن ذهن په پرلپسی توګه د کوم ځوان جسم په لمسولو کی مصروف وو. دهغه یوه عسکر ورته د پسه د پښی وریته کړی غوښه راوړه نو ټارمن ورته وویل:

اوهو......دا باقو ماهی نیونکی چیری ورک شوی ...... دا وریت کړی ورون همدلته کیږده اوباقو زما مخی ته حاضر کړه.»

ټارمن دشرابیانو په لهجی خبری کولی، سپاهی بیرته دخیمی څخه ووت اوپه یوه منډه ولاړ. په دی وخت کی ټارمن هغه وریت کړل شوی ورون راواخست، دخولی څخه یی دشرابو څاڅکی را څڅیدل، بیرون د ژمی سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا او د فاسفورس په ابنا کی د سخت باران وریدو دغه چاپیریال ډیر هیبت ناکه ګرځولی و. ځکه شپه پیل شوی وه اودهغو مشالونو نه پرته چی په خیمو کی روښانه کړل شوی وو نوره تپوله سیمه تیاره تیاره وه. باقو هم ډیر ژر بیرته خپل کور ته ستون شوی و خو د تارمن فوځونو هغه دخپلی تیاری کوټی څخه په دغه سخته یخنۍ کی را وویست اوپه شرابو کی بدمست تارمن ته یی راوست، باقو د یخنۍ څخه لړزیده ، کله چی تارمن باقو وکوت نو په خپل څنګ کی بوتل په لور یی اشاره وکړه او ورته یی وویل:

« واخله .... ویی څښه ، او خوند تری واخله . سمدلاسه به دی یخنی ورکه شي خو یاد ساته چی ستا په څیر چټل انسان ته تارمن خپل بوتل ور وړاندی کوی. ځنډ مه کوه او که نه زه په غضب کیږم.»

د تارمن ګواښ په خپل ځای و خو د باقو له پاره دداسی شرابو یو بوتل موندل پخپله ستره خزانه ده ، باقو د وږی کارغه په څیر پری ور پریوت او په جرمنی کی جوړ شوی دغه شراب یی دخپل ستونی څخه تیر کړل ، دسترګو په رپ کی د باقو سترګی درنی شوی ، ټولی اندیښنی یی له یاده ووتلی اودموسم اوهوا څخه یی خوند اخستل پیل کړل. په همدی وخت کی ورته تارمن ور غږ کړ:

« ایا ستاسی په کلی کی کومه نجلۍ .... نه شته ؟ چی زمونږ په درد وخوري. زمونږ خدمت وکړي ، مونږ ماهیان نه خورو خو ماهی نیونکي پیغلی خورو . ولاړ شه او زمونږ عسکر هم له ځانه سره واخله اودخپل کلی کومه ځوانه له لاسه ونیسه او زمونږ خدمت ته یی راوړه. دومره یخه او اوږده شپه اوبیا دخپله کوره هم لری پاته کیدل .... ته پخپله پوهیږی .... په هر څه پوهیږی ..... ته اندیښنه مه کوه ، زمونږ په موجودیت کی تا ته هیڅوک هم ستونزه نه شي پیدا کولی. زه د جستیانی دفوځ سالار یم....سپه سالار تارمن......»

د باقو سترګی د شرابو څخه درنی وی او ذهن یی دکاره وتلی و . کله یی چی د شرابو د نشي په مستۍ کی د پیغلی ځوانی نجلۍ خبره واوریدله نو په تن اوبدن کی خوندونو او لذتونو لاری پیدا کړی. یو ناڅاپه یی ذهن د ځوان راهب په محبوبی روزی باندی پریوت. دشیطانت نه په ډکه لهجه یی وویل:

« ستره سالاره ! ته اندیښنه مه کوه زه به د ماهی نیونکی د کلی هغه نیګینه ستا په خدمت کی وړاندی کړم چی په کتلو سره به یی د خپل تیر ژوند ټولی ښایسته او ښکلی نجونی له یاده و کاږی. درونده سالاره ! هغه زمونږ د کلی دټولو نجونو ښایسته او ښکلی پیغله ده ، او کیدی شی چی ځوانی یی تر اوسه پوری خوندي پاته شوی وی ، ته له ماسره څو کسه عسکر و استوه زه به سمدلاسه هغه ستا حضور کی را حاضره کړم.

بریښنا ټول اسمان نیولی و . او دژمی یخی هوا د ونو د پاڼو بیخ راویسته. چی د جینوا شیطانی عسکر د باقو سره یوځای د روزي په مقدر باندی د برق په څیر د ور پریوتلو له پاره روان و. .... باران د پخوا څخه نور هم زیات شو او کوچنی کوچنۍ ویالی د اوبو د شور څخه ډکی روانی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوړ عباس د روميلي کلا څخه د يوه نوی فوځی ميشن په لور دتللو له پاره ځان تيارووو. دهغه سرتيرو ورته خبر ورکړی و چی نن د عيسايي بحريي سپاهيان د ابنايي فاسفورس څخه غافله شوی دی. او ديخو هواو نه د پټيدو په خاطر په خپلو خيمو کی ځآی په ځای شوی دی ، که څه هم دهغوی جهازونه په سمندر کی موجود وو خو ټولو لنگرونه اچولی وو . په دی وخت کی د ټارمن د څو جهازونو څخه يی اوه د ترک بحريي تر اور لاندی راتلل. دا جهازونه په خلاص سمندر کی ولاړ و په داسی حال کی چی نور يی په ساحل کی لنگرکړل شوی و و . د ټارمن عسکرو د ځآنو دګرمولو له پاره اورونه بل کړی و او په خبرو اترو کی مصروف و و . د عباس له پاره دا ډير ښه فرصت و او هغه غوښتل دهمدی فرصت څخه ګټه پورته کړی. هغه پريکړه وکړه چی دشپی د پښيدو سره سم به په عيسوی جهازونو حمله کوی اوهغه به سوزوي. په دی يخه شپه کی ټارمن اود هغه ملګرو داګمان هم نه کاوه چی دتوحيد پتنګان به د يخو هوا د پروا کولو پرته دهغوی په بحری بيړی باندی يرغل راوړي. په همغه وخت کی چی د ټارمن دشيطانی غوښتنو د تر سره کولو له پاره دهغه د ځواکونو يوه ډله د ماهی نيونکو د کلی په لور د شيطانی موخو له پاره ورغلی وه ... د زاړه عباس يوه جهاز او څو بادي کشتيو ... دمسيحی بيړی په لور حرکت وکړ . زوړ عباس دهغه عسکرو دهغه دعمر په لحاظ ددی کشتيو سره د تګ څخه منه کړ....خو ...هغه کله ځان زوړ ګڼه. هغه خو اوس ځوان وو.... ځکه چی د هغی جذبه اواحساسات ځوان وو . عباس غوښتل چی مسيحی جهازونو زوندی ونيسي تر څو دمسلمانانو په بحری ځواک کی ډيرښت راشي ، خو د جنګ په صورت کی به ورته اور ولګوي. عباس غوښتل دمسحيانو جهازونه په بی خبری کی را ګير کړي ، نژدی يو ساعت وروسته د عباس سرتيرو د مسيحی جهازونو خواو ته ورسيدل. مسيحی ملاحان او عسکر د جهازونو په تاخانو کی په شرابو اوکبابو باندی مست وول ، کله چی دعباس سترګی دمسيحی جهازونو په رڼاو پريوتی. نو سمدلاسه يی خپلو ملګرو ته د تم کيدو اشاره وکړه او حکم يی ورته وکړ چی دجهاز تر څنګ تړل شوی کشتۍ راپرانيزی او په هره کشتۍ کی اوه اوه توره وهونکی سپاهيان سپاره شی او دمسيحی جهازونو په لور دی ورشي ، هغه دا حکم هم وکړ چی په ډير احتياط سره دی د دښمن په جهازونو باندی ولکه وکړل شی، لږه شيبه وروسته د عثمانی بيړۍ شل کشتۍ د عيسوی دښمنانو په لور په حرکت کی راغلی ، سخت طوفان او باد وباران پيل شوی و .په اسمان کی وريځی په تندۍ سره ګرزيدلی او بريښنا او برق په غورس کی راغلی و . خو د عثمانی فوځ سرتيری ددی هر څه د پروا کولو پرته د عيسوی دشمن د کشتيو په لور ور روان وو . زوړ عباس د ځوانو هلکانو په څير هغه او دغه لوری ته منډی ترړی وهلی او د کشتيو دغه کوچنی لښکر يی په ډير مهارت سره رهبری کاوه.

ډيره ژر منځنۍ فاصله ختمه شوه او د عباس کشتۍ د عيسوی جهاز سره يو ځای شوی ، د جهاز مسؤلين په پوره بی خبرۍ کی پراته وو ، بادبانونه يی راپريوتی وو او کشتۍ په سمندر کی لنګر اچولی وی، عباس دخپله ځانه سره د پنځه کشتيو سپرو ته په دی جهاز باندی د ورختلو حکم وکړ،پاته کشتۍ د بل مسيحی جهاز په لور ورغلی. هغه بل جهاز دری سوه متره واټن کی ولاړ وو . عباس د کوم مزاحمت پرته ددشمن جهاز ته ور داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. دوی ټول **۳۵** کسان وو. ټول دباران په اوبو کې د سر نه ترپښو پوری لامده شوی وو. خو څرمنیزو کالیو دهغوی وجودونه دنم څخه خوندي ساتل. دهغوی په سرونو اهنی خولونه وو او وجسمونه یې په زرو باندی پوښل شوی وو. هغوی د کوم شور پیدا کیدو پرته د جهاز په چټ ور وختل او بیا به خویدو خویدو سره دجهاز لاندی برخی ته ورښکته شول، تر ټولو دمخه عباس و او بیا ورپسی دهغه نور سرتیری یو په بل پسی د جهاز لاندی برخی ته ورکیوتل. دلته دری غوریدلی وی او دوه کسه غلامان په کونجونو کی د یخنۍ له لاسه غونج پراته وو. عباس خپل ساتونکی د هغوی په سرونو باندی و درول او پخپله د نورو عسکرو سره یو ځای تاخانی ته ورکیوت. خو په دی وخت کی د عباس د سرتیرو د بوټانو ټکار په تاخانی کی په شرابو مست ملاحان او عسکر متوجه کړی وو. کله چی دعباس ډله لاندی ورغله نو مسیحیان هم په وسله سنبال وو. همغه و چی څو لمحی او سپنه د اوسپنی سره ټکرشوه او ددی شور د بیرونی طوفانی هواو څخه هم زیات و. خو په شرابو کی مستو سپاهیانو دعباس دعسکرو سره مقابله و نه شوه کولای. او د ګازرو او مولیو په څیر لاندی پریوتل. اوس نو په جهاز باندی عثمانی فوځ ولکه کړی وه. عباس سمدلاسه د بادبانونو د دریدو حکم ورکړ او جهاز یې د لنګر څخه پورته کړ، عباس په یوه منډه د جهاز چت ته راغی او په دی کتلو سره یی ډیره خوشحالی احساس کړه چی دهغه سرتیرو ملګرو دمسیحیانو په هغه بل جهاز باندی هم ولکه کړی وه. عباس دخوشحالۍ نه په کالیو کی نه ځایده. هغه اوس د اسمانی برق په رڼا کی غوښتل د مسیحیانو پاته نور پنځه جهازونه هم په نښه کړی. د عباس بحری سرتیری دخپل سالار د حکم منتظر وو. ددواړو نیول شوو جهازونو بادبانونه پرانستل شوی و او تیزو هواو هغه دواړه سره یوه بل ته را نژدی کول. کله چی هغه دواړه جهازونه یو بل ته سره را نژدی شول نو زوړ عباس خپلو سرتیرو ته حکم وکړ چی د مسیحی لښکرو دنظر څخه د خوندي پاته کیدو په خاطر دی یو اوږود چکر ووهی او د ماهی نیونکو دکلی سره دی لنګرونه واچوي. هغه فکر کاوه چی دمسیحیانو پاته پنځه جهازونه به د وچی له لاری په خپله ولکه کی راوړي، هغه په دی ډاډمن و چی د دغو دوو جهازونو د عملی په څیر به د ټارمن نور جهازونه هم په همدی توګه خپله ولکه کی واخلی دعباس ددی فکر لوی علت طوفانی شپه وه. نن اسمان په عثمانیانو باندی رحمت را وراوو خو اسمانی تندر د ټارمن او دهغه د فوځونو په برخه وو.

ولکه شوی جهاز او عثمانی کشتۍ اوس د ماهی نیونکو کلی ته را نژدی شوی وی، دلته د ماهی نیونکو ډیری کشتۍ دپخوا څخه ولاړی وی، یخنی په خپله لوړه کچه وه خو د زوړ عباس وینه ګرمه شوی وه، هغه را ټوپ کړ او دجهاز نه را کیوت، بیا یی خپل دیرش کسه سپاهیان ددی کشتیو او جهازونو دخوندي ساتلو له پاره پریښوو ل او پخپله یی د څو کسو ملګرو سره یو ځای د عیسوی جهازونو په لور حرکت وکړ. هغه د ساحل تر څنګ روان و. او دخپله ځانه سره یی د ۹۰ کسانو یوه ډله اخستی وه، دوی په سخت باران کی روان وو، ټول لامده او دبرق او تندر په څیر د عیسوی بیړۍ دنیولو له پاره ور روان وو. د زوړ عباس دماغ هم ډیر اغیزمن کار کاوه. هغه د احتیاط هر اړخ په نظر کی درلود. هغه د ساحل تر څنګ په غونډیو او ځنګلونو کی په ډیره پته توګه ور تیر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



، شپه دخپلې لمړنۍ برخې په اخری پړاو کی وه ، دفاسفورس تېوله وادی به توپان اوباد وباران کی راګیر شوی وه خو توره په لاس مجاهدینو په خپلو عقابی سترګو باندی د عیسوی بحری جهازونو په لور مخه کړی وه.

د ټارمن په بحری ډله کی یواځی همدا اوه جهازونه نه و بلکه ددی بحریی نور و جهازونو د ګولېن هارن په سیمه کی لنګرونه اچولی وو ، ټارمن په خپله پاساحلی غرنیو برخو کی عالیشانه خیمی نصب کړی وی اوهملته دخپلو دوو سوو سپاهیانو سره پروت و. ننی سخت باران او توپان د ټارمن جنسی غریضه ډېره راپارولی وه. په همدی خاطر یی باقو دخپلو څو کسو عسکرو سره یو ځای د ماهی نیونکو کلی ته د ښایسته او ښکلی پیغلی روزی د راوړلو له پاره ور استولی و.

په همغه وخت کی چی باقو د څو کسه وحشی عسکرو سره د روزی کور ته ور ننوت. نو د عباس سرتیری دمسیحی جهازونو څنګ ته ور رسیدلی وو. خو پخوا له دی نه چی د ساحل څخه تیر او جهازونو ته ورسیږی په سمندر کی یی کوم څیز وکوت چی دهغوی په لوری په حرکت کی دی. عباس د اسماني بجلۍ په مرسته باندی وکتل چی هغه متحرک شیان دوه کشتۍ دی چی په بیړه د لنګر اچونکو جهازونو په لور ور روانی دی. عباس فکر وکړ چی یا خو دا کشتۍ د هغو ماهی نیونکو دی چی د کورنو تر څنګ یی عثمانی جهازونو لنګرونه اچولی دی اویا دنیول شوو جهازونو څخه خوندي پاته شوی خلک دی چی دی لوری ته ځانونه را رسوي. عباس هوډ وکړ چی دهغو جهازونو د راتلو تر مخه به په خپله دهغی مخی ته ورځی خو هغه په خپلی دغی پریکړی باندی عمل و نه کړای شو. ځکه چی مخامخ راتلونکو کشتیو دجهاز عمله خبره کړی وه. هغوی اوبه څیری کولی او مخامخ کشتیو ته یی خآن ورساوه. هلته په لنګر اچول شوو جهازونو کی هم شور و غوغا تر غوږو کیده ....هغوی ته اوس یوه لاره پاته وه اوهغه دا چی بیرته شاته ولاړ شي او د ماهی نیونکو کلی ته ولاړ شي اوهلته خپل ولکه کړل شوی جهازونه له ځانه سره واخلی اود هغه ځایه یی وکاږي. عباس دهمداسی خطر د احساسولو له پاره خپل دیرش کسه عسکر هلته پریښی وو.... او هغوی ته یی حکم کړی و چی دخطر د احساسولو سره سم دی دغه جهازونه رومیلی کلا ته ورسوي. ځکه چی عباس او دهغه ملګري په ساحل کی وو او هغوی ته دزمکی له لاری بیرته ستنیدل اویا دری څلورمیله فاصله وهل اوبیا د رومی کلا پوری رسیدل دومره ستونزمن کار نه و.

د ښکر د اواز داوریدو سره سم مسیحی جهازونه ټول متحرک شول. خپل لښکر یی راواخست ، بادبانونه یی پرانستل او لنګرونه یی پورته کړل. ټارمن ددی څخه بی خبره و چی د ابنای فاسفورس په دغه دوه دری میله چاپیریال کی څه تیریږی، دهغه غوږونو ته د ښکر اواز ډیر کمزوری ور رسیدلی و. خو هغه هیڅکله هم په دغسی توپانی شپه کی د دشمن د حملی تصور نه کاوه. ترڅنګ یی د یوی ځوانی حسینی انتظار دهغه په ذهن باندی سپورو ، هغه به ددی انتظار دکوفت دکمښت له پاره وار په وار دشرابو جامونه په سر را اړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبیا د ډیر انتظار نه وروسته د ټارمن عسکرو هغه معصومه پیغله .... مظلومه «روزی» را پورته کړه او د ټارمن خیمی ته یی راوسته. روزی په باران کی لمده شوی وه ، او کالی یی په ختو ککړ و ، داسی معلومیده چی دغو وحشی عسکرو دهغی په راوړلو کی هغه په ختو کی را ښکودی وی ،کله چی ټارمن روزی وکتله نو ورنونه یی په رپیدو شول ، ریښتیا هم دا پیغله په لکونو کی یوه وه. حکم یی وکړ چی دی نجلۍ ته په ګرمو اوبو کی غسل ورکړئ او نوی لباس ورته واغوندئ اوبیا یی ددی مخی ته راوړئ. خو روزی کله داسی کول. هغی د ټآرمن د حکم د اوریدو سره سم لیونۍ شوه اوپه زوره زوره یی چغی وهل پیل کړل او ټآرمن او باقو ته یی بد رد ویل پیل کړل ، د عسکرو له پاره دا ستونزمنه شوه چی دغه ناتوانه پیغله کنترول کړي اویا یی د ټارمن دعیاشئ له پاره سینګار کړي ، دعیسوی لښکرو د جنسي اړتیاو د پوره کولو له پاره به ځوانی نجونی دهغوی سره یو ځای راوستل کیدی او دا شونی وه چی د ټارمن په ډلګۍ کی هم دغسی نجونی موجودی وی او هغوی روزی د ټارمن د عیاشۍ له پاره ښایسته کړی وای خوپه همدی وخت کی یوه پیښه رامنځته شوه اود ټارمن ټول شیطانی هوس یی په هوا کی والوزاوه. دهغه نشه راښکته شوه ، ټول هر څه یی له یاده وویستل او فوځی لباس یی واغوست.

په همدی وخت کی په ختو ککړ یوځوان د ټآرمن خیمی ته را ننوت دا د هغو جهازونو دعملی څخه یو کس و چی د عباس سرتیرو ملګرو د صلیبیانو څخه ولکه کړی وو. اودا د هماغه سپاهیانو څخه و چی په دی حمله کی ژوندی پاته شوی و او د ابنای فاسفورس یو میل اوږدی اوبه یی په لامبو سره وهلی وی او تری را وتلی و. کله چی دا فوځی د ماهی نیونکو دکلی د ساحل سره را وتلی و نو هلته یی خپل د لاسه ورکړی جهازونه کتلی وو ، دوی ټول شپږ کسان و کله یی چی وکتل چی دمسلمانانو پیاده لښکر د نورو جهازونو دنیولو اوولکه کولو له پاره دساحل په غاړه روان دي نو دوی سمدلاسه د ماهی نیونکو کشتۍ راپټی کړی او دنورو جهازونو دخبرولو له پاره یی هغی لوری ته وروځوځولی. په ختو ککړ پکړ دغه ځوان ټارمن ته وویلی چی د مسلمانان پیدل ډله یی په همدی ساحل کتلی ده چی همدلته چیری په غرنۍ سیمه کی پټه شوی ده ټارمن ته دا ټول خبرونه لړوزونکی وو. دهغه نشه له منځه ولاړه او هغه د خپلو د لاسه تللو جهازونو دبیرته تر لاسه کولو له پاره دمسلمانانو پر خلاف دجنګ له پاره ووت. خو پخوا ددی چی خپلو سپاهیانو ته حکم وکړي یو غریدونکی غشي دهغی په خیمی ولګید او په فرش کی ور ننوت. هلته په خیمی کی موجود ټارمن او ورسره نور عسکر دحیرانتیا نه وازه خوله پاته شول ، د ټارمن رنګ تک ژیړ شوی و، خو د روزی حال بلمنګه وو. هغه دخپل عزت دخوندی پاته کیدو په خوشحالیو کی نه ځایده ، هغه ډاډمنه شوی وه چی دحمله کونکو ډله د ټارمن خیمی ته را رسیدلی ده او ټارمن هم په همدی فکر کی ډوب و. هغه دخیمی څخه د وتلو اراده ترک کړه. اوسپاهیانو ته یی حکم وکړ چی خپل ځانونه په وسله سنبال کړي اود مقابلی له پاره تیار شي ، ټارمن خپله توره دتیکی څخه را وویستله او په خیمی کی دننه د نه لیدونکی دښمن څخه په ویره کی ولاړ وو. د روزی راوړنکی څو کسه سپاهیان اوباقو هم همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وو . په همدې وخت کې دخیمې نه دباندې ټک و ټوک پیدا شو او دسترګو په رپ کې څو کسه وسلوال سپاهیان دټارمن خیمې ته راننوتل.

په حقیقت کې هغه وخت چې عباس د عیسوی عسکرو د خبریدو نه وروسته د بیرته په شاتګ اراده کړې وه نوهمغه وخت یې دکومې مظلومې نجلۍ چیغې اوریدلې وې. سمدلاسه یې مخ واړاوه او د اواز لورې یې ځانته معلوم کړ ، په همدې وخت کې یې د نارمن خیمه تر سترګو شوه، هغه وکتل چې دا اواز دساحل څخه او هلته د نصب شوو خیمو څخه راپورته کیږي. هغه وکتل چې مسیحې جهازونه د ساحل څخه د فرار او تیښتې په درشل کې دي په دې اساس یې د نارمن په خیمې د حملې کولو هوډ وکړ. تر ټولو دمخه دنارمن خیمې ته ورغی ، اوسمدلاسه یې دهغه په سپاهیانو باندې حمله وکړه. ددواړو اړخونو څخه سخت جنګ ونښت ، نارمن پخپله یو توره وهونکې و ، هغه زوړ عباس وکوت نو هغه ورته کمزوری معلوم شو او حمله یې پرې وکړه خو نارمن ته هغه وخت دخپلې غلطۍ احساس وشو چې د عباس تجربه لرونکې دواړ نارمن په سختو ستونزو کې راګیر کړ. کله چې مسلمانانو عسکرو خپل سالار د یوه وحشي سره په جنګ کې وکوت نو دهغه دمرستې له پاره مخته راغلل.

باقو بې وسلې و او د خیمې په یوه کونج کې ولاړ و، حالات یې وکتل اودخیمې څخه د تیښتې له پاره یې د خیمې شاته لاره ونیوله.که د روزی سترګې پرې نه وای لګیدلې نو هغه به دخیمې څخه وتلی وای. روزي چغې کړې او یو مسلمان عسکر یې د هغه لورې ته متوجه کړ.

« هلئ !هغه خو تښتي !.... هغه ګوډ شیطان ، چې زه یې دلته دبدبخته کیدو له پاره راوستې یم. هغه تښتي....»

باقو خپل بخت بیلودې و، که څه هم هغه د ګوډ والي په اساس تښتیدې نه شو ، سمدلاسه را وګرزید او د خپل ځآن په لور د راتلونکي عسکر په پښو کې پریوت. « د خدای له پاره ما مه وژنئ ،ما هیڅ نه دي کړي دخدای له پاره ما مه وژنئ ، ما هیڅ نه دی کړی..»

اوس نو دیوه مسلمان سپاهې له پاره دا شونې نه وه چې هغه دې یو زاری کونکی ګوډ انسان ووژني. همغه و چې دغه مسلمان عسکر د باقو د وژلو څخه لاس واخست. په همدې وخت کې عباس د جنګ په میدان باندې برلاسي پیدا کړې وه. نارمن سخت زخمې شوی و اویوې لورې ته په خپلو وینو کې ډوب پروت و.دهغه د خوندې پاته کیدو امکان ډیر کم وو. دهغه پاته ملګرې هم د تیغه وتلې وو. دنارمن په خیمې خو دعباس یو څو ملګرو حمله کړې وه. په داسې حال کې چې دهغه پاته ملګرو په نورو مسیحې خیمو باندې یرغل وروستی و. په دې ساحل کې د نارمن ددوو سوو څخه زیات عسکر په خیمو کې پراته وو. خو دعباس سره د سلو څخه کم عسکروو. خو په شرابو کې مستو عیسوی عسکرو دمسلمانانو مقابله و نه شوه کړای. همدا علت و چې په ډیر لږ وخت کې دعباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتیرو مجاهدینو دنارمن تړول سپاهیان تر خپل ځان لاندې کړي وو . په دې جنګ کې د ۷۰ څخه زیات عیسویان ووژل شول او نورو پاته کسانو د قسطنطنیې په لور تیښته وکړه. مسلمان عسکرو دهغوی څخه دغنیمت مالونه راټول کړل او په بیړه یې دبیرته تللو له پاره ځانونه تیار کړل. اوس نو روزي د زاړه عباس سره یوځای روانه وه. کله چې عباس دماهي نیونکو کلې ته ورسید نو روزي ته یې وویل : « ګوره لورې !... ستاسې کلې را ورسید.... اوس نو ته خپل کور ته تللې شې. ..»

« کوم کور.... زه خو کور نه لرم .... زه اوس په دې دنیا کې هیڅوک نه لرم.... ما دخپله ځانه سره یوسه. زه به ستا د لور په څیر ستا خدمت کوم ...»

د عباس له پاره دروزي ځواب غیر متوقع و. هغه پخپله دکوره لرې اود جنګ په محاذ کې مصروف وو. نوځکه به یې روزي له ځانه سره وړې وی. د بله اړخه روزي عیسوۍ وه او دمسلمانانو په جنګي محاذ کې دهغې اوسیدل ددفاعي نظره درست نه و. خو عباس مجبور شو چې یوې بې اسرې او مظلومې پیغلې ته په خپله لمن کې پناه ورکړي ، په دې اساس هغه انکار و نه شو کړای.

د عثماني بحریه مجاهدین دخپلو عملیاتو ته بریمند راوتلي وو . دهغوی لمړۍ شپنۍ حمله ددښمن له پاره ملاماتونکې ثابته شوه. نارمن هم په اخري وختو کې قسطنطنیې ته رسول شوی و او هلته یې علاج کیده. په دې جنګ کې دعیسویانو د سلو څخه زیات کسان هلاک شوي وو. باقو هم خوندي پاته شوی و . خو روزي بیرته دخپل کلي ته د تللو په ځای د زوړ عباس سره دهغه د لور په څیر د رومیلي کلا په لور ولاړه. په دې شپینۍ حمله کې د عیسویانو هغه پنځه جهازونه هم خوندي پاته شوي و چې هلته په ساحل کې ولاړ وو . خوبیا هم دا حمله سل په سلو کې بریالۍ وه.

دشهنشاه له پاره دا یوه کلکه ضربه ثابته شوه .هغه د جینوې بحري بیړۍ سپه سالار جستېماني راوباله او د نارمن دغلطیو په اړه یې متوجه کړ ، جستېماني ته یې حکم وکړ چې سمدلاسه دې د عثماني بحري بیړۍ څخه ددې جنګ بدله واخلي اوکه نه د قسطنطنیې د ښاریانو باور به له لاسه ورکړو . که څه هم شهنشاه جستېماني ته د مسلمانانو په خلاف د جنګ حکم ورکړ خو په دې باور و چې جستېماني به دمسلمانانو سره د جنګ توان ونه لري. ددې پیښې وروسته د فاسفورس په ابناء کې د مسلمانانو ولکه نوره هم ټینګه شوې وه. دماهي نیونکو په کلي کې لا تر اوسه پورې باقو همغسې سهي اوسلامت اوسیده. خو پاته ماهي نیونکو دعیسوي فوځیانو سره خپل ملاتړ بند کړی و.

کله چې د مسیحي جهازونو د نیولو خبر هلته « اورنه » ته ورسید نو سلطان دخوشحالۍ څخه په کالیو کې نه ځایده. سلطان محمد خان سمدلاسه دخپلو سپه سالارانو غونډه را وبلله. اوهغوی ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« د اسلام سرښندونکو مجاهدینو !.... اوس وخت را نژدې شوی چې مونږ د یونوی تاریخ د لیکلو له پاره مخته ولاړ شو. مونږ هیله لرو چې د یخنۍ د موسم د پای ته رسیدو سره سم به خپل میړنی فوځ له ځانه سره اخلو او د قسطنطنیې په لور به خوزیږو. اوهغه ښار به کلابندوو »

دسلطان محمد خان په باوقاره مخ باندې دغرونو په څیر عزم تر سترګو کیده ، دینې چرې د فوځونو سپه سالار اغاحسن دسلطان خبرې ته لبیک ووایه او خپل لښکر یې د قسطنطنې په لور دلیږد له پاره تیار کړ. د یخنۍ دموسم پای لرې نه و. یوازې د څو ورځو خبره وه. همغه وو چې په غونډه کې دراپو په اتفاق دا پریکړه وشوه چې د ۱۴۵۳ کال د جنوري د میاشتې په اخر کې سلطانی لښکر ته دکوچ کولو حکم ورکړل شي.

دروم دقیصر ( دولسم قسطنطین ) له پاره دا خبر دمرګ زیرې ثابت شو. په قسطنطنیه کې یې دعثمانی شاهینو څخه ددفاع له پاره هرې لورې ته تیاری پیل کړ. اوس نو دقیصر زیات وخت په دفاعی تیاریو کې تیریده. ټوله ورځ به په جنګی کارونو او د دیوالونو د استحکام له پاره په منډو تړړو کې مصروف و. اودشپې به یې دخپلو خاصو سلاکارانو او مشرانو غونډې را بللې.

د جنورې په اخر کې شهنشاه د شاوخوا ټولې لښکرې هلته په قسطنطنیه کې سره راټولې کړې ، خپل فوځ یې د نوې سره منظم کړ ، دیونان تکړه توره وهونکې یې د پاته فوځ څخه جدا کړل او هغوی ته یې د پنځه پنځه سوو جنګجویانو قومندانی ور وسپارله. او دا یونانی سالاران یې د دیوال جنوبی او غربي سیمو کې و ټاکل. شهنشاه د ټولو فوځونو څخه زرکسه تکړه توره وهونکې را جدا کړل او خپلې ساتونکې ډلې یې هم له سره منظمې کړې. اوس نو دساتونکې ډلې هر سپاهي په خپل ځای یو سالار ګرزیدلی و. په همدې سپاهیانو کې په اطرافو کې ټاکل شوی پخوانی قومندان مقرون هم شامل و. دا همغه مقرون و چې څلور سوه سپاره یې د قاسم بن هشام او مصلح الدین اغا له اړخه د تورې څخه تیر شوی و، مقرون ډیر بدطینه او خپل سرې فوځي و. کله چې په شاهي ډله کې شامل شو نو دبدبه یې نوره هم ډیره شوه.

دنوي کال د پیل سره سم دروم د قیصر په پخوانی قصر کې جنګی فعالیتونه هم زیات شول. دغه شاهی محل د یوې جنګی کلا څخه کم نه و. د سرو مرمری تیږو څخه جوړ شوی ددغه شاهی محل ستره دروازه د زمکې څخه ۲۴ فټه لوړه وه. پراخولې یې اتلس فټه و او د اوسپنې څخه جوړه شوی وه. ددې دروازې ښې اوکینې لورې ته د شاهی فصیل دوه دیو شکله برجونه جوړ کړل شوي و چې لوړوالی یې د څلویښت فټو څخه هم زیات و. د لوې دروازې څخه د تیریدو وروسته یو ستر میدان و چې دنړۍ دمختلفو سیمو میوه داري اوګلداري ونې په کې کرل شوي وې. په فرش باندې دقالین په څیر شنه واښه راشنه شوي و، دفصیل د سترې دروازې څخه د راننوتلو سره سم یو ستر اوږود پوخ سړک جوړ شوی و ، د سړک دواړو اړخونو ته د نکریزو په څیر سور دیوال جوړ کړل شوی و، دمحل داخلی عمارت پخپله د لرې څخه د خپل عظمت اعلان کاوه. دا پیړیو پیړیو راهیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړل شوی دشکوه او جلال نه ډک عمارت وو . دشاهی محل په داخلی عمارت باندی د پیتلو یو ستر صلیب را ځړول شوی و اود عمارت په دروازو کی د ببرشیر دوه ستری مجسمی ولاړی وی ، دهغوی خولی وازی وی . دهمدی مجسمو تر څنګ په شاهی لباس کی ملبس نیزه لرونکی پهره داران ولاړ و، دمحل دداخلی عمارت لمړی برخه قسطنطین د جنګی امورو له پاره په دفتر باندی بدله کړی وه ، دلته به اعلی افسران ، او د شاهی ډلو ساتونکی قومندانان اوسالاران را ټولیدل.

دروم دقیصر محل په ډیره پراخه زمکه کی پروت و ، د محل د جنوبی دیوال سره یوځای د شاهی داروغه صدر دفتر پروت و . دمحل څو فټه پلن دیوال دزمکی څخه دومره پورته و چی ټوله قسطنطنیه تری لیدل کیدی شوه ، ددی دیوال په سر په ځای ځای کی کوچنی کوچنی برجونه جوړ کړل شوی وو . چی هروخت به پری تجربه لرونکی غشي ویشتونکی موجود و . شاهی داروغه د شهنشاهي پولیسو مشر و او دهغه صدر دفتر په څو سترو خونو باندی مشتمل و. په دی دفتر کی به هر وخت تر پنځوسو پوری تکړه سپاهیان موجود وو .او همدی سپاهیانو به د اړتیاو په وخت کی دشاهی ساتونکی ډلی کړچار هم تر سره کاوه.

دهغه ورځی څخه یی چی قاسم د شاهی محل په تاخانی ته راوستی نه و داروغه دپخوا څخه زیات مستعد او چالاکه تر سترګو کیده. هغه ته دا ډاګیزه شوی وه چی بندی جاسوس د سلطان محمد خان دلښکرو خاص سړی دی ، ځکه دی ځای ته د قاسم د راوستلو سره سم همدی داروغه دهغه څخه پوښتنی ګرویزنی کولی ، قاسم هم دپوره پوهی څخه کار واخست او شهنشاهی پولیسو ته یی دسلطان محمد دلښکر ټول حالات بیان کړل ، هغه په دی فکر کی وو چی که چیری د شهنشاه مستنطیقینو ته د سلطان محمد دلښکر ټول حالات وویل شي نو دوی به دهغه د هیبت او ویری لاندی راشي په دی خاطر یی د سلطان لښکر دهغه څه څخه چی و نور هم ډیر ځواکمن او تجربه لرونکی وښوود . قاسم ته ددی هر څه د ویلو دوه ګټې تر لاسه شوی. لمړی خو شهنشاه د هغه څخه د دی هرڅه داوریدو په واسطه دهغه د مرګ سزا و ځنډوله . دویم دا چی قاسم د اذیت ورکونکو د اذیت څخه خوندي پاته شو.

شاهی داروغه په دی پوهیده چی قاسم یو ډیر خطرناکه جاسوس دی ، په دی خاطر به کله چی دهغه څخه دپوښتنو ګرویزنو له پاره راته نو له ځانه سره به یی د لسوکسو خطرناکه سپاهیانو یوه وسلواله ډله هم راوړه. قاسم ته به دهغوی څخه د تیښتی لاری نه تر سترګو کیدی. په کوم ځای کی چی قاسم بندی ود هغی شاوخوا ټولی اوسپنیزی پنجری وی خو دکومی ورځی څخه یی چی قاسم دلته راوستی و نو هغه دخپل ځان څخه اخوا د بل کوم بندی اواز نه و اوریدلی. په کوم ځای کی چی قاسم بندی و دهغه ځایه تیښته څه اسانه کار نه و.

قاسم په یوی تیاره خونه کی پروت و . دا ځای د شاهی محل تاخانه وه چی د زندان په څیر تری ګټه اخستل کیده. په دی تاخانه کی کومه کړکۍ او یا روشندان نه و . په زمکه باندی وچ واښه خپاره کړل شوی و ، ددی تاخانی چت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د قاسم د قد څخه زيات لوړ نه و .كه قاسم غوښتلی نو دلاس په اوږيدو سره يې چت مسح كولی شو ، ددی كوچنۍ خونی دروازه د اوسپنيزو سيخانو څخه جوړه شوی وه ، خو يوی وړی كوټی ته پرانستل كيدای شوه ، په دی كوټه كی څو نوری خونی هم وی چی د زندان په توګه استعماليدی. ددی كوټی په اخری برخه كی پاتخی وی ، ددی شميره شلو ته رسيده چی د شاهی محل شاتنۍ برخی ته ور پورته كيدی. په سر كی يې د شاهی داروغه دفتر و . شاهی داروغه به تل دخپلو خطرناكو سپاهيانو سره دلته موجود وو . خو دهغی ورځی څخه چی قاسم په دی ځای كی بندی شوی و نو تل به يې د تيښتی له پاره پلانونه جوړول. د اوسپنی د سيخانو ماتول د هغه د وسه وتلی وو . هغه هڅه وكړه چی د خوراك ښباك راوړونكی غلام سره اړيكی كلك كړی تر څو كوم وخت دهغه سره دهغه د تيښتی په اړه مرسته وكړی. خو دقاسم بدبختی داوه چی دغه غلام په ژبه ګونګی وو . دلته په زندان كی په قاسم باندی يوه يوه ورځ د پيړيو د عمر په څير اوږده تيريده. خوبيا هم قاسم دلته په زندان كي بی شميره ورځی تيری كړی. ان تر دی چی اوس د ژمی موسم هم په تيريدو و.

د جنوری دمياشتی په لمړيو كی ،يوه يخه شپه د زندانی شوی قاسم په ژوند كی ډيره مهمه ثابته شوه. دتياره زندان يواځنی روڼ مشال لكه د يوه لری ستوری په څير په يوه كونج كی ځليده . دتاخانی نوری خونی چی هره ورځ به ورانی ويجاړی پرتی وی په دغه يخه شپه ډكی معلوميدی. يخنی دومره زياته وه چی هلته دورځی ګرزيدونكی مږی او موږكان هم د يخنۍ له لاسه په خپلو سوړو كی پټ شوی وو . پاس عمارت كی هم د چا دپښو ټک و ټوک نه اوريدل كيده ، ټول ساتونكي په خپلو بسترو كی بدمسته پراته وو . د قيصر په ټول شاهی محل كی هری لوری ته خاموشي خپره وه.

خو دلته په تاخانی كی قاسم بيداره ناست و . دهغه چټله او شكيدلی كمبله د دی يخنی له پاره په هيڅ ډول بسنه نه كوله. خو د تاخانی موسم د بيرون په نسبت ښه و. قاسم دخپلی خونی په يوه كونج كی ډه ډه وهلی وه او ناست و او د عثمانی فوځونو د راتلو په اړه يې فكر كاوه . هغه په همدی فكر كی و چی اوس نو دسلطان محمدخان د فاتحانه راتګ په واسطه به هغه د زندان څخه خلاصون مومی. د تاخانی په دهليز كی يو كوچنی مشال روښانه و خو روښنايي د قاسم تر كوټې پوری پوره نه رارسيدله. هغه ديوال ته چی قاسم تكيه كړی وه هغه شاتنی ديوال و اوقاسم دهغه ځايه دخونی دروازه څارلی شوه. په همدی وخت كی قاسم ته په ناسته ناسته يو عجيب شانته احساس راپيدا شو ، دهغه شپږم حس رابيداره شوی و او هغه ته دا احساس را پيدا شوی و چی دلته په تاخانی كی دهغه نه علاوه يو بل څوک هم شته.ځكه هغه دلته په تاخانی كی يو ډول اواز اوريده. خو د تاخانی هيبت همغسی په خپل ځای و . معلومه نه ده چی د قاسم په زړه كی دكومه ځايه د پيريانو او جادوګرانو خبری راګرزيدی ، هغه په دی ښه پوهيده چی تاخانه يوازی يوه دروازه لری چی د ټولو خونو څخه د تيريدونكی دهليز په اخری سر كی پرته ده. هرڅوک به چی دی تاخانی ته راننوت نودهماغه دروازی څخه به راته. هغه ګونګی غلام به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راته نو دهغه دپښو د ټکار نه به قاسم ته معلومیده چې ځوک راغی. خو نن دا دروازه بنده وه. نوبیا قاسم ته ولې داسې ځرګندیده چې زندان ته ځوک را ننوتی دی.

هغه سمدلاسه را نیغ شو او کیناست.سترګې یې د خونې په اوسپنیزو سیخانو کې ور ښخې کړې ، هغه ته یو ناڅاپه داسې ځرګنده شوه چې د مشال رڼا په خپله بنده شوه. اوبیا دقاسم غوږونو د لمړي ځل له پاره نرۍ شانته ګړګړار واورید ،اوس نو هغه ډاډ من شوی و چې د زندان په دهلیز کې کوم مافوق الفطرت هستي موجوده ده. هغه ددې انتظار کاوه چې اوس به دهغه تر مخه کوم پیرې یا دیو را ښکاره کیږي. اوبیا قاسم د خپلې خونې تر مخه دسرو سترګو یو دیو وکوت....دا شاګال و. دهغه پلن وجود او ګنجې سر په دې تیاره دهلیز کې څه ډیر عجیب شانته معلومیده. دقاسم روح تر یوې لحظې پورې و درید ، هغه د سونیا په خبرو باندې یقین پیدا کړ چې شاګال پخپله یو پیرې دی. خو قاسم سمدلاسه خپل ځان ملامته کړ اوخپل سر ته یې یو ټکان ورکړ ځکه هغه یو بهادر سپاهي و. په دې خاطر ویره او خوف دهغه څخه په کوسو تښتیده. کله چې دهغه د زړه څخه ویره ولاړه نو ځای یې غصې او قهر و نیوه ، اوس نو هغه ته ددې پرواه نه وه چې شاګال د کومې لارې تاخانې ته راننوتی دی خو دا فکر یې ضرور کاوه چې کاش هغه ددې سلاخونو څخه وتلی شوی اوپه شاګال یې حمله کړې وې.

شاګال ډیر کرار کرار روان و اوکله چې دهغه د زندان کوټې ته ورسید نو ددروازې تر مخه یې و درید ، قاسم راپورته شو اوهمدلته کیناست...... دشاګال په ښي لاس کې همغه مخصوصه امصا وه اوپه توره تیاره کې هم دهغه شیشناکه سرو سترګو قاسم په کلکه ځاره. شاګال تر ډیره پورې همـلته ولاړ و. داپخوانۍ تاخانه ، د زندان ستر ستر سلاخونه ، د مشال په رڼا کې په زمکه باندې پروت د شاګال خطرناکه سیوری ،..... دغو هرڅه د شاګال په هیبت کې نور هم ډیربښت راوست. کله چې شاګال د زندان دی خونې ته ډیر را نژدې شو نو په خپله امصا یې د هغه دخونې اوسپنیزه دروازه ووهله او قاسم ته یې وویل:

« ځوانه ! ته پوهیږې چې ستا دغه تکلیف ورکونکې اوستونزمن قید زمونږ په یوې اشارې سره ترسره شوی دی. او اوس زمونږ یوه اشاره ستا دازادۍ له پاره کافي ده. خو دهغې له پاره به ته عظیم شاګال ته دمقدسې نقشې په اړه معلومات ورکوې.»

د شاګال په ستونې کې عجیب شانته غرغرا وه. داسې معلومیده لکه دوه کسان چې په یوه ځل یوه خبره کوی ، په حقیقت کې دا ویرونکې اواز و په دې وخت کې دقاسم سترګې د شاګال په امصا باندې ور پریوتې. دا د انسانی قد په اندازه اوږده امصا په حقیقت کې یوه ستره ډنډه وه. قاسم وکتل چې د شاګال امصا دهغه څخه خویه شوی او د یوی لویشت په اندازه ددروازې دننه را غلې ده . معلومه نه ده چې ولې دقاسم ذهن د شاګال په امصا باندې متمرکزشوی و خو قاسم د شاګال د ځواب څخه غافله نه و ، هغه د مقدسې نقشې په اړه اوریدلې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه ته دا ډاډ ور په برخه و چې مقدسه نقشه به د قسطنطنیی اویا د ایاصوفیا په اړه کوم مهم سند وي. اوس نو قاسم غوښتل د شاګال څخه د مقدسی نقشی په اړه نور معلومات هم ترلاسه کړي. نوقاسم تری وپوښتل:

« شاګاله ! ته د یسوع مسیح سهی راهب نه یی. که ریښتیا درته ووایم نو ته یو مکاره جادوګر یی. ما مقدسه نقشه ترلاسه کړی ده خو تاته یی نه شم درکولی. که په دی لاره کی بندی خانه خو لاپریږده چی روح می هم له جسده ووځی هم د نقشی د ورکولو له پاره تیار نه یم.

ددی خبری سره سم قاسم د شاګال په ځیری باندی سترګی ور ښخی کړی ،ځکه هغه غوښتل د شاګال عکس العمل ووینی. د شاګال عکس العمل دهغه دهیلی په مطابق راووت. ځکه چی د شاګال په سترګو کی د تجسس او پلټنی ځپی تر سترګو شوی. هغه یو قدم نور هم رامخته شو او د اوسپنیزو سیخانو سره یوځای و درید. قاسم هم خپله کمبله واغوسته او په خپلو کمزورو قدمونو رامخته شو او هملته ددروازی تر څنګ و درید. خو پخوا تر دی چی قاسم دروازی ته را نژدی شی شاګال خپله امصا ورنیغه کړه اوهغه ته یی په خپل ځای دتمکیدو حکم وکړ.

« ځوانه جاسوسه ! هملته و دریږه. یاد ساته چی زه به په هر قیمت له تاڅخه مقدسه نقشه ترلاسه کوم. ځکه چی په هغی مقدسی نقشی کی د ټولی قسطنطنیی ځان پروت دی.»

حقیقت خو دا دی چی قاسم پخپله هم د مقدسی نقشی په اړه هیڅ نه پوهیده. خو د مقدسی نقشی په خبری سره یی په تیاره کی غشي ویشتلی و. خواوس ورته د مقدسی نقشی د اهمیت په اړه معلومات ور په برخه شوی و.

په همدی وخت کی شاګال یوځل بیا خپله امصا را پورته کړه. اوقاسم ته یی د اخری ځل له پاره وویل:

« ځوانه ! زه پوهیږم چی تا د سپه سالار نورټاس په واسطه دا مقدسه نقشه ترلاسه کړی ده اوبیا دی دبطریق اعظم سره دکار کولو په وخت کی په کوم ځای کی پټه کړی ده ....که چیری تا ماته د نقشی په اړه څه و نه ویل نو ژوند به دی د عثمانی لښکر له پاره دعبرت نښه وګرځوو.»

د شاګال امصا همغسی دهغه په لاسو کی پورته نیول شوی وه. په دی وخت کی دقاسم په ذهن کی یو عجیب ترکیب را پیدا شو ، سمدلاسه یی د شاګال په امصا باندی حمله وکړه ، د قاسم دغه حرکت دهغه مکار بطریق له پاره غیر متوقع و. شاګال هڅه وکړی چی ځان سنبال کړي خو قاسم په دواړو لاسو هغه امصا دخپل ځان په لور راښکوده. شاګال د سلاخونو هغه لوری ته ولاړ و نو دامصا د راکشکیدو سره سم هغه ځآن کنترول نه شو کړای اوپه پوره زور سره د سلاخونو هغه لوری ته راپریوت. دقاسم دغه ټکان ډیر اغیزمن و. د شاګال سر اوتندی د اوسپنیزو سلاخونو سره ولګید او زخمی شول. امصا یی دلاسو څخه ازاده شوه. اوس نو دقاسم لاسو ته د شاګال دغه امصا راغلی وه. خوشاګال د تندی اوسر د زخمی کیدو سره سم لکه د پیری په څیر دهغه ځایه ورک شو. قاسم سمدلاسه ښی او چپ لور ی ته وکتل غوښتل یی شاګال ووینی ، اوغوښتل یی په دی وپوهیږی چی شاګال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اخرې وخت کې کومې لورې ته ځان غيب کړ. دهغه په لاسو کې د شاګال کلکه امصا وه. په همدې وخت کې هغه د دهليز په چپ لورې کې يو اواز واوريد، اوس نو دقاسم په ذهن کې يو عجيبه فکر را وګرزيد .....ښه، ډيرښه.... داسې معلومه شوه چې دې لورې ته هم کومه لاره شته. ځکه چې د ديوال د ګړګړا څخه داسې څرګنديږي چې د دهليز په چپ اړخ کې په ديوال کې کومه سوړه شته. اوس نو قاسم ته د لمړي ځل له پاره دا احساس راپيدا شو چې که چيرې هغه په کوم ډول ددې سلاخونو دخونې څخه بيرون شي نو دهمدې پټې لارې په واسطه د تاخانې څخه تبنتيداى شي. قاسم فکر کاوه چې شاګال د همدې پټې لارې څخه بيرته ستون شوی دی. د قاسم ذهن په چټکۍ سره خپل کار پيل کړ، هغه داسې فکر کاوه چې شاهي داروغه به ددې لارې څخ بې خبره وي خو دهغه داخيال غلط و ځکه شاهي داروغه د تاخانې ددې پټې لارې څخه ښه خبرو.

بيا داسې وشول چې.... د شاګال د تللو وروسته د دهيليز ددروزاى د پرانستلو اواز واوريدل شو...داسې معلوميده چې اوس نو د نيغې لارې څخه ځوک دلته راځي. دنيغې لارې څخه يوازې کوم سپاهي راتلاى شو اويا پخپله شاهي داروغه د پوښتنو ګرويزونو له پاره. شونې ده چې د شاګال د راپريوتو اودسلاخونو سره دهغه د سر او تندې د لړيدو څخه راپورته شوی زوګ به بيرون هم اوريدل شوی و. او دهمدې اواز په اوريدو سره به سپاهي دلته راغلي وي، ددې اواز داوريدو سره سم قاسم د شاګال اوږده امصا هملته په پرتو وښو کې پټه کړه. د قاسم خيال سهي و، رينښتيا هم درې کسه سپاهيان توری په لاس د زينو له لارې را کيوتل، دهغوی په نورو لاسونو کې مشالونه و. سپاهيان په ډير احتياط سره راغلل اودقاسم د خونې مخې ته و دريدل.دهغوی دډلې څخه يوه يې د راتلو سره سم د قاسم څخه وپوښتل:

دا اواز دڅه شي و؟

«کوم اواز ؟»

«د بم اواز ،چې لړڅه دمخه دلته په تاخانې کې و چاوديد.»

د قاسم اوسپاهيانو تر منځه مکالمه روان وه. قاسم ورته وويل:

«په حقيقت کې کوم پيرې دلته تاخانې ته راغلی و.» قاسم دا خبره د طنز په توګه هغه سپاهي ته وکړه.

«پيرې ؟....ته سهي خبره کوې ؟»

داسې معلوميده چې درې واړه سپاهيان توهم پرسته وو .د پيرې د ذکر سره سم يې د ويرې احساس وکړ ،اوس نو قاسم په خوند خوند سره ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوْ ! پیری. د سرو سترګو خاوند دیو شکله ګنجی پیری.... په حقیقت کی هغه یو دیو وو. قاسم په ریښتیا هم دا عسکر وویرول....

اوس نو هغوی دری واړو دلته ځنډیدل نه غوښتل. دهغوی په لاسوکی مشالونه وو . هغوی ته دلته تاخانی ته دشاګال د راتلو یویو ثبوت ترمخه و. خو د پیری د ذکر سره سم هغوی بیرته شاته ستانه شول اوس نو قاسم پری اخری وار هم وکړ او ورته یی وویل:

« بهادرو سپاهیانو ،لږ څه صبر وکړئ ! لمړی خو دا سلاخونه ووینئ....»

قاسم شاګال ته دومره سخته ټیله ورکړی وه چی هغه د دروازی دسلاخونو سره ټکر وکړ او ددی سلاخونه سیخونه یی کاږه کړل. دقاسم دوینا سره سم هغه سپاهیان راغلل او دقاسم دکوټی دروازه یی وکتله خوکله یی چی د سلاخونو دپاسه د وینی قطری وکتلی نو د ویری څخه یی پښی په لړزیدو شوی اوس نو هغوی ډاډمن شوی و چی دلته ریښتیا هم کوم پیری راغلی د ی. هغوی دکومی خبری پرته سمدلاسه بیرته وګرزیدل.

دسپاهیانو د تلو څخه ډیره شیبه وروسته شاهی داروغه تاخانی ته راکیوت ،دهغه په لاس کی مشال و او ورپسی دوه سپاهیان هم را روان وو. داسی معلومیده چی هغو عسکرو دشپی په دی ناوخته وخت کی شاهی داروغه دخوبه رابیدا ر کړی او ټوله خبره یی ورته ور رسولی وه. شاهی داروغه توهم پرسته نه و. هغه سمدلاسه تاخانی ته راغی او نیغ د قاسم خونی ته ورغی. په وینه ککړ سلاخونه یی معاینه کړل اوبیا یی د دهلیز په فرش باندی دمشال د رڼا په واسطه نښی نښانی وکتلی ، شاهی داروغه ته دلته تاخانی ته د یوچا د راتلو نښی د ورایه ښکاره کیدی. د دهلیز د شمال لوری ته وانښه خپاره واره پراته و. او په همدی وښو کی د چا دقدمونو چاپ تر سترګو کیده چی دديوال د شمال لوری ته تللی و. دغه تیرلوری ديوال ددهلیز دغه برخه نوره بندوله.د ا ځای د تاخانی ترټولو تیاره ځای و او د مارانو اوموږکانو ځاله وه. داروغه ددی دیوال په تیرو باندی ښه نظر وکړ ، غوښتل یی چی وپوهیږ چی څوک خو د پټی لاری نه دلته نه دی را داخل شوی. داروغه ته دا لاره معلومه وه. دا دیوال د یوی پټی خښتی د خوزولو په واسطه دخپله ځایه د ګړګړاسره پرانستل کیږی. شاهی داروغه ته دا ډاګیزه شوه چی کوم څوک دهمدی پټی لاری څخه دلته راغلی دی ، ځکه دا یو سورنګ و چی د شاهی محل څخه بیرون وتلی و.

په حقیقت کی ددی سرنګ د راز څخه د شهنشاه او داروغه څخه بل څوک خبر نه و. شهنشاه هم د داروغه په واسطه ددی سرنګ څخه خبر شوی و په دی اساس شاهی داروغه په دی ډیر حیران و چی ووینی چی دا دریم کس چی ددی ځای د حاله خبر دی هغه څوک دی ؟ هغه ته دا نه وه ډاګیزه چی هغه کس پخپله بطریق شاګال دی. داروغه غوښتل دی سرنګ ته پخپله ور ننوځی نوپه دی خاطر یی له ځانه سره راوړی دواړه عسکر بیرته رخصت کړل ، کله چی عسکر بیرته ستانه شول نو شاهی داروغه بیرته زیر خانی ته راکیوت اودهغی دروازه یی بنده کړه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو هیڅوک ددې نیغې لارې څخه زندان ته نه شو را ننوتلی. شاهي داروغه خپله توره را وویستله او په لاس کې یې و نیوله. دقاسم د خوني څخه د تیریدو په وخت کې پښه نیولی شو او ویې ویل:

«اوریدلي مې دي چې تا کوم پیرې کتلي دي؟..... دسرو سترګو خاوند دیو؟»

«هو! هغه ګنجې هم و .....او د غوايې په څير پلن او پړسیدلی هم»

دقاسم په لهجې کې دریښتونولۍ په اساس شاهي داروغه په فکر کې پریوت. خو بله لمحه یې په هغه سرنګ کې د ورننوتلو پریکړه عملي کړه. شاهي داروغه ته دا فکر هم راپیدا شوی و چې هسې نه چې قاسم د دې پټې لارې د راز څخه خبر شي، په دې خاطر یې د ډیر احتیاط څخه کار اخست. هسې هم د دهلیز دا بل سر دقاسم د سترګو نه پټ وو. خو قاسم لا دپخوا څخه دا انګیرلې وه چې دلته بله پټه لاره هم شته.

شاهي داروغه د شمالي دیوال سره و درید اوبیا یې په خپل ښي لاس دخپل سر د پاسه د چت لاندې یوې ښختې ته زور ورکړ. لږه شیبه وروسته د دهلیز په دیوال کې ګړګړاهټ پیدا شو او دیوال دخپله ځایه وخوزید. دا یو تیاره سرنګ و ، کله چې د مشال رڼا سورنګ کې ور ننوتله نو شاهي داروغه دسرنګ دحالاتو په کتلو سره داسې و انګیرله لکه سرنګ چې د پیړیو پیړیو راهیسې همداسې وران ویجاړ پروت وی، ددیوال دپاسه دغنو جالې او نور حشرات په خپلو ځالو کې د رڼا د کتلو سره نا ارامه شول. خو ددې لارې څخه د شاګال د وتلو په وخت کې دغنو په ځالو کې محراب شکله دروازې جوړې شوې وې. د سرنګ په فرش باندې خاورې پرتې وې او د شاګال قدمونه یې په څرګنده توګه ډاګیزه کول.

معلومه نه ده چې ولې به د شاهي داروغه زړه ټکانونه خوړل، ځکه هغه په پیرې او نورو شیانو باندې یقین نه درلوده. خوبیا یې هم زړه د غمونو په ولکه کې پروت و. دشاهي داروغه په لاس کې د مشال رڼا نڅا کوله اوپه سرنګ کې جوړې کړل شوو هیبت ناکه سیورو دبدو روحونو په څیر ټوپونه وهل. سرنګ ډیر اوږود و خو دداروغه په لاس کې د شته مشال رڼا دومره لرې نه ور رسیده. بلکه لږ څه مخته به رڼا او تیاره دواړه سره داسې را یوځای کیدې چې هرسیورې به په خپله د یو دیو په څیر څرګندیده.

اوس نو د شاهي داروغه په زړه کې هم دهشت او ویره خپره شوې وه. کله چې داروغه څو قدمه مخته کیښودل نو په خپل مخکې یې د سرو سترګو خاوند ،په داسې حال کې چې سترګې یې ددې لورې ته ځلیدې وکوت. دهغه سترګې داسې وې لکه د شپې په تیاره کې چې د توري پیشو سترګې د ورایه ځلیږي. د شاهي داروغه قدمونه و دریدل او پښې یې په لړزیدو شوې ، هغه ډاډمن شوی و چې په سرنګ کې پیرې دي ، د لږځنډ له پاره پرې سکته راغله خو ډیر ژر یې ځآن راکنترول کړ ، سمدلاسه بیرته شاته راستون شو ، هغه شاته د کتلو پرته د سرنګ دخولې څخه راووت ، د سرنګ په خوله کې د چت ښختې یې زور کړه او سرنګ یې بند کړ ، خو هغه تر اوسه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویریدلی و ، ساه یې په سختۍ سره اخسته. اوذهن یې په پرلپسې توګه دهغو سرو سترګو د کتلو په کشمکش کې مصروف و. کله چې شاهي داروغه دشمالي دیوال څخه بیرته ستنیده اویو ځل بیا دتلو په وخت کې دقاسم دزندان خونې ته راغی نو قاسم دخپلې لمرۍ او اخرې پلان سره یو ځای هلته مستعد ولاړ وو.

قاسم د سلاخونو سره یو ځای ددهلیز سره نژدې په تیاره کې ولاړ و. په لاسو کې یې دشاګال کلکه امصا نیولې وه. کله چې شاهي داروغه د قاسم د خونې څخه تیریده نو د قاسم په لور یې وکتل خو پخوا ددې چې قاسم په دریدو باندې حیرانتیا ښکاره کړي اویا ورته څه ووایي نو د قاسم ډنډې خپل کار کړی و. دا د شاګال همغه امصا وه چې قاسم هلته په وښو کې پټه کړې وه ، قاسم دشاګال امصا په دواړو لاسو کې و نیوله او د شاهي داروغه په سر یې راپریښوده ، د ټس اواز راغی او شاهي داروغه په زمکه پریوت دهغه سر دوه ټوټې شوی و او ماغزه یې په دیوالونو باندې نښتي و . هغه جهنم ته رسیدلی و .د هغه جسد په خوزیدو خوزیدو سره په دهلیز کې شرقا اوغربا پریوت ، دلاسو څخه یې مشال و لوید او ومړ. قاسم سمدلاسه کیناست ، او د شاهي داروغه جسد یې دخپل ځان په لور راښکود. ددې ټولو پیښو څخه پاس موجود سپاهیان بې خبره وو. قاسم د شاهي داروغه لباس چاڼ کړ او دخپلې زنداني کوټې کونجي یې ترې راوویستله. اوس نو دقاسم له پاره ددې ځایه د تیښتې ستونزه حل شوې وه. سمدلاسه را پورته شو او د اوسپنیزې دروازې قلف یې په کونجي پرانست ، د شاګال امصا هم د قاسم په لاسو کې وه ، قاسم ځو میاشتې وروسته دخپل زندان اوسپنیزه دروازه په لغته ووهله او دخوشحالۍ نه مست دهلیز ته راووت.. په دهلیز کې یواځې یو مشال ، هغه هم د پاتخو په لور، روښانه و. قاسم په ډیر احتیاط سره د هغه مشال د رانیولو له پاره ورغی ،مشال یې راواخست او د پټې لارې د لټون پسې دشمال دیوال ته ورغی ، قاسم دغه تیرلوړه دیوال ته د ورسیدو سره سم و درید اوددیوال په څلورو خواو یې لاس وواهه تر څو هغه ښخته پیدا کړي چې ددې لارې د پرانستو له پاره د کونجي حیثیت لري.

دبله اړخه ، کله چې قاسم د پاتخو څخه مشال راواخست نو دپورته منزل عسکرو ته دا ډاګیزه شوه چې مشال یا خو تیاره شوی دی اویا دهغه ځایه لرې کړل شوی دی ، ځکه چې دتاخانې بیروني دروازه چې پورته منزل کې پرانستل کیده دکوچنیو کوچنیو سوریو په واسطه د تاخانې رڼا بیرون رسوله. خو کله چې سپاهیانو ته په تاخانې کې دغیر معمولي حرکتونو احساس وشو، متوجه شول ، خپلې توري یې را وویستلې خو د پیرې او دیو هیبت هغوی لاندې تاخانې ته دراښکته کیدو څخه منه کول ... یوعسکر جرئت وکړ او خپل شاهي داروغه ته یې اواز وکړ ،خو کوم ځواب یې تر لاسه نه کړای شو ، هغوی دری واړه د پیریانو او دیوانو په ویره کې اخته شوي وو. هغوی خو د ټس اواز اوریدلی و خو دهغوی په وهم او ګمان کې هم نه و چې دا جاسوس قیدی به ازادیږي ، قاسم لا تر اوسه پورې هم د دهلیز په دیوال کې د سورنګ کونجي لټوله ، هغه د سپاهیانو د چغو اوازونه اوریدل ، دهغه زړه درزیده ، هغه چې هر څه کول باید ډیر ژر یې کړي وی ، دقاسم په ښي لاس کې د شاګال امصا او مشال دواړه وو خو په چپ لاس یې ددیوال ښختې لټولې تر څو هغه ښخته را پیدا کړي چې سورنګ پرې پرانستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي، قاسم د ډیره وخته راهیسی دا ښخته لټوله ،بلاخره هغه په خپل سر باندی د شته چت په ښختو باندی لاس وهل پیل کړل او بیا یی یو ناڅاپه د ګړګړاهټ اواز واورید اود سرنګ دروازه پرانستل شوه.

کله چی قاسم سورنګ ته ور ننوت نه بیا یی خپل وخت د سرنګ د دروازی په بندولو باندی ضایع نه کړ او د مشال په رڼا کی په بیړه مخته ولاړ. دمخکی تلو په وخت کی ورته فکر را پیدا شو چی شونی ده چی مکروه شاګال هم همدلته وی..... اوبیا هغه وخت هم راغی چی شاګال یی مخکی ناست و. په حقیقت کی هغه دوه سترګی وی چی قاسم یی دلری څخه کوت ، همدی دوه سرو سترګو شاهی داروغه تیښتی او شاتګ ته مجبور کړی و ، یعنی شاګال تر اوسه په سورنګ کی موجود و ، د قاسم اعصابو کار ورکړ او د شاهی داروغه هغه توره یی بی تیکی کړه چی دهغه څخه یی راختستی وه. په داسی حال کی چی د قاسم په چپ لاس کی مشال هم و او هغه ډنډه هم. ددی دواړو شیانو په یوه لاس کی نیول قاسم ته ستونزمن شوی و. په همدی خاطر قاسم د ډنډی او مشال څخه د یوه انتخاب وکړ او هغه هم د مشال دنیولو .د شاګال منحوسه ډنډه یی یوی لوری ته خطا کړه ، کله چی قاسم هغه ډنډه و غورځوله نو یو عجیبه پیښه یی وکتله چی په خپله هم ورته حیران پاته و. ویی کتل چی همغه ددوو سرو سترګو خاوند چی سترګی یی لکه د پیشو د سترګو په څیر ځلیدی یو ناڅاپه د ډنډی په لور ور ټوپ کړ، اوبیا قاسم و کتل چی یوه ستره تور رنګه شادو را ټوپ کړ او د شاګال امصا یی واخسته اوبیرته د برق په څیر و تښتیده. په دغه تیاره او تنګ سورنګ کی قاسم ددغسی شادو په کتلو سره نزدی بی هوشه شوی و ، خولی پری راماتی وی ، خو ځان یی کنترول کړ ، توره یی په هوا کی خوځوله او په شادو یی دحملی له پاره ځان تیاروو. خو د زندان د سرنګ دغه د اسرارو ډکه شادو د سترګو په رپ کی ورکه شوه ، قاسم تر ډیره پوری دحملی له پاره مستعد ولاړ وو خو اوس په سورنګ کی پوره پوره خاموشي خپره شوی وه اوهغه سری سترګی اوس دهغه ځایه غیب شوی وی.

قاسم فکر وکړ چی د شاګال په امصا کی کومه خاصه خبره وه. په همدی خاطر دهغی د اسرارو ډکه دغه شادو دلته په سورنګ کی دډنډی د تر لاسه کولو له پاره موجوده وه. تر یوه وخته پوری خو قاسم داسی انګیرله چی پخپله شاګال د شادو شکل اختیار کړی دی خوبیا یی خپل سر ټیټ کړ او خپل ځان یی وپوهاوه چی دا د شاګال پالل شوی شادو وه چی دهغه د امصا د اخستو له پاره دلته موجوده وه ، اوس نو قاسم محسوس کړه چی په سرنګ کی څوک نه شته په دی خاطر په چټکۍ سره دسرنګ څخه بیرون ووت. اوڅو ساعته وروسته هغه ازاد شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقدسه نقشه

دروم په قیصر دقاسم د تیښتې خبر د تندر په څیر راپریوت. د پخوانی او تجربه لرونکی داروغه مړینې د سلطنت ټولی ستنې سره وخوزولې ، کله چې د تیښتې دقصې حقیقت قیصر ته معلوم شو نوسترګې یې دحیرانتیا څخه پرانستې پاته شوې اوبیا کله چې ساتونکو سپاهیانو ورته دا وویل چې تر ټولو د مخه تاخانې ته د سرو سترګو یو دیو را ننوتی وو نو دروم دقیصر فکر دخپل خوب په لور ولاړ ، مارسی قیصر ته دا تعبیر ویلی و چې تر هغې چې د سرو سترګو دیو شکله انسان دروم قیصر په خپله و نه وژنی د قسطنطنیې نجات ممکن نه دی. قیصر هم شاګال ته د خپل خوب د دیو په سترګو کتل. دقاسم د نیولو په ورځ په ایا صوفیا کی کله چې قیصر شاګال وکوت نو هغه سمدلاسه د مارسی د ویل شوی تعبیر سره سم دهغه د وژلو له پاره راپورته شو خو دشاګال خطرناکو سترګو هغه ددی کار څخه منه کړ . او نن ورته خبر ورکړل شو چې د قاسم د تیښتې نه لږه شیبه مخته د سرو سترګو دیو شکله انسان د زندان په تاخانه کې کتل شوی دی ، اوس نو قیصر ته دمارسي تعبیر نور هم باوری څرګند شوی و ، ځکه په دې نازکو ورځو کې د قاسم تیښته د روم د قیصر له پاره ښه شګون نه درلود.

دقیصر جاسوسانو اوقاصدانو به د روم قیصر ته د سلطان محمد خان د لښکرو یوه یوه خبره رارسوله ، سلطانی لښکر د « اورنه » څخه را روان شوی و ، دیخنۍ شپې نوری ختمیدونکې وی ،کله چې د اورنه څخه دمسلمانانو لښکر را روانیده نو دهغه ځای خلکو خپل لښکر ته تر لرې لرې ځایو پورې خدای پاماني ویله. دهغوی محبوب پادشاه سلطان محمد خان د مرادخان ثانی زوی د یوه ستر تاریخی جنګ په لور روان و په دې اساس د سلطان دلښکر هر عسکر خپل ځان ددغی مبارک لښکر یوه برخه ګڼله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته بهترین لښکر ویلی و . لښکر خپل لمړنی پړاو یوائی په پنځوس کوسه واټن کی کاوه، دسلطان لمړنۍ ډله عسکر چې دینی چری د میړنو ځوانانو څخه جوړه شوی وه په خپلو اسونو سپاره د ټول لښکر دمخه په ډیره عجیبه شان باندی روان وو . د جاګیرلرونکو فوځ که ورسره یو ځای شي نو دسلطان د ټول لښکر شمیره تر سلو زرو پوری رسیده.

د سپروفوځونو تر شا د درنو وسلو او توپونو بګئ او ګاډی روانی وی ،دهغوی شاته دپیاده فوځونو او زره پوش فوځونو ډلی روانی وی، دینی چری د لمړی دستی سپه سالار « اغاحسن » ښی اړخ کی « احمد کدک» چپ اړخ کی « محمود پاشا » ټول موجود و. د لښکر په قلب کی پخپله سلطان په یوه سپین لوړ قدی اسپ باندی سپور د ټولو فوځونو قومندانی یی کوله. د لښکر شاته په سلګونو غوایی ګاډی ، خرو ګاډی ، داوښانو ګاډی اوبی شمیره نورحیوانات را روان وو . په دې ټولو باندی د لښکر دخوراک څښاک سامانونه بار وو . دزخمیانو دمرهم پټۍ له پاره د « اورنه » دمسلمانو پیغلو او نجونو یوه ستره ډله هم روانه وه . ددی ډلی مشري د بوسنیا دشهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



...حمیرا په غاړه وه. په دې ستر لښکر کې د ګډون دتبرک څخه د قاسم بن هشام مشر وروړ طاهر بن هشام هم بې برخې نه و. په دې توګه د قاسم ټوله کورنۍ په دې مبارک لښکر کې موجوده وه. د طاهر دواړه زامن عمر او علي اوس ستر ستر ځوانان شوي و او دکوچنیو مجاهدینو په څیر یې دلښکر په خادمانو کې ځانونه ورګډ کړي و. د زاړه عباس لور مریم هم دزخمیانو دتداوۍ په ګروپ کې شامله وه.

په لښکر یک تر ټولو ستر او د ویاړ شی د پیتلو څخه جوړ شوی هغه ځلیدونکی توپ و چې تر څنګ یې په یوه ځای کې دهغه جوړونکی اهنګر «اربان» ناست و. دغه دیوه هیکله توپ به چې دهر ځای څخه تیریده نو سلطان محمد خان د سوبې خبر به یې روکاوه. اسلامی فوځونو به په لړلړ واټن کی پړاو کاوه ودقسطنطنیې په لور مخته ورتلل.

دا همغه لښکر و چې په قسطنطنیه باندی یې پریکنده یرغل وروست. ددی لښکر په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو « تاسی به ضرور قسطنطنیه سوبه کوئ ، نو بهترین امیر به ددی لښکر امیر وي او بهترین لښکر به همدا لښکر وي»

دهمدی لښکر یوه برخه دعثماني بحریې ځواک څخه جوړه شوی وه چې امیرالبحریې د سلطان محمد خان له اړخه یو ډیر ستر ملاح «بلوط اغلن» ټاکل شوی و. د سلطان په بحری فوځ کی ډیري بیړۍ نوی جوړکړل شوی وی ، ددی بحری ځواکونو لمړۍ ډلی لا دمخه ابنای فاسفورس کلابنده کړی وه. دعثمانی لښکر دراتلو د اوازو سره په قسطنطنیه کی یو ډول اندیښنی را پیدا شوی وی ، د قسطنطنیې د فوځونو سپه سالار به دخپل غم دغلطولو له پاره شراب یو په بل پسی په سر را اړول ، شهنشاه د نورو هیوداونو دکومک منتظر و ، خو عامو خلکو دخدای تعالی په حضور کی ددی خطر د له منځه وړلو له پاره شپه او ورځ دعاګانی کولی. په ایاصوفیا کی به هم په دی ورځو کی دخلکو ګڼه ګوڼه زیاته شوی وه ، په ځانګړی توګه به د یکشنبې په ورځ په دی عبادتځای کی دخلکو د کیناستو ځای نه تر سترګو کیده.

او بیا کله چې د یکشنبي په یوه سهار چې د جنګ وریځی دقسطنطنیې په اسمانو کی ګرزیدی نو ایاصوفیاته د عبادتکونکو ګڼه ګوڼه دومره زیاته وه چې اندازه لګول یې مشکل وو. سونیا هم دخپلی کمری څخه را ووتله او سالون ته راغله. هغه تر اوسه هم دخپل خدای تر مخه په ژړا وه او دخپل محبوب د راخوشی کیدو دعاوی یې کولی. دهغی زړه مات مات وو.، دهغه وخته چې قاسم نیول شوی د سونیا د زړه دنیا تیاره شوی وه ، خو دا تاریکی یوازی په غم کی تیریده او که نه دقاسم سره د سونیا دکتلو وروسته دسونیا ژوند ته رڼا راغلی وه ، دهغی ورځی نه تر ننه پوری هغی خپل ځان دهیچا د بستری ښایست نه و ګرځولی ، هغه د قاسم پسی لیونۍ وه او ددی ثابتیدو وروسته هم چې قاسم مسلمان جاسوس دی دهغی په لیونتوب کی کوم کمی نه و راغلی. هغی شپه او ورځ د شاهی تاخانو د تورو زندانو څخه دقاسم دخوشی کولو له پاره دځانه سره پلانونه جوړول. خو هغی څه کولی شول ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یوه معمولي خادمه وه ، دهغې سره يوآځې يوه وسله وه اوهغه وه دهغې ښايسته او ښکلې ځواني ..... خو په خپل زړه کې يې داپريکړه کړې وه چې پس له دې به د هيچا د هوس له پاره خپل ځان په ګناه کې نه اچوي. دهغه وخته چې سونيا په ښه اوبد پوه شوې وه نو مخې ته يې يوازې هوس پاله نارينه راتلل خو دقاسم سره دهغه ليدنه دهغې له پاره يوه نوې تجربه وه ، قاسم په هغې کې د يوې نيکې پيغلې خوی را وپاروو .... ددې سره هغه داسې شوه لکه نوې چې رابيداره شوې وي، هغه خو تر اوسه پورې د بدبويه راهبانو دهوسونو وسيله وه ، خو اوس هغې دقاسم نه پرته دبل چا له پاره ژوند نه کاوه. دهغې په ګوته کې دقاسم لخوا ورکړل شوې ګوته وه چې هغې به هروخت دخپلې سينې سره لګوله.

نن يوځل بيا دخپل خدای تر مخه د ژړا او فرياد له پاره هغه د اياصوفيا سالون ته راغلې وه. ټول سالون د ويريدلو ښاريانو څخه ډک وو. هغوی دا ګمان کاوه چې د اياصوفيا په شتون کې به هيڅوک هم قسطنطنيه سوبه نه کړای شي ...خلک ډلې ډلې دلته دعبادت له پاره راتلل.په حقيقت کې په خلکو کې دپيړيو راهيسې دا خبره مشهوره شوې وه چې يوه راهب ته دالهام په واسطه خدای تعالی ويلي وو چې په قسطنطنيه باندې به ترکان حمله کوي او ترکان به د روميانو په تعقيب پسې دايا صوفيا دغې ستنې پورې رارسيږي چې د قسطنطين په نامه مشهوره ده. خو دهمدې ځايه به دترکانو په شاتګ او ماتې پيليږي. نن سبا دهمدې زيرې په خاطر په ايا صوفيا کې دمذهبي خلکوتګ راتګ ډير زيات شوی و.

نن هم چرچ دعبادت کونکو څخه ډک شوی و، سونيا د عبادتځای دخالي چوکيو څخه په يوې سر ټيټ کړ او کيناسته. دهغې زړه مات مات و او سترګې يې دټولې شپې د ژړا په واسطه پړسيدلې وې، سونيا په خپل ښي او چپ اړخه کې ناستو ښځو ته هيڅ هم و نه کتل.....

د چرچ بشپ د چوترې په ممبر و درېد او په لوړ اواز يې مناجات وويلې ، ټولو حاضرينو دغه مناجات په ډير شوق سره اوريدل. هر چا په زړه کې د ترکانو د حملې څخه د خلاصون له پاره دعاوې کولې خو د سونيا دسترګو څخه را څڅيدونکې هرې اوښکې د ايرون ايرون چغې وهلې.

د قاسم سره محبت د سونيا ژوند بدل کړی و ، هغه بلکل بدله شوې وه. اوس هغه هغه پخوانۍ سونيا نه وه ، خلکو د سلطان محمد خان د قهر څخه پناه غوښتله ، خو سونيادخپل قاسم دليدلو له پاره دخداوند به حضور کې په ژړا کې ډوبه وه. هغې قاسم دهمغه ايرون په نامه پيژانده ، هغې ته قاسم د يوه راهب په شکل کې ورغلی و. او ديوه مسلمان په شکل کې ترې جدا شوی و. خو دسونيا له پاره يې خپل خواړه يادونه پرې ايښي و..... ايرون ، دقاسم جعلي نوم و. چې هغه د اياصوفيا د جعلي راهبيت له پاره اختيار کړی و. سونيا دايرون د خوشي کيدو له پاره دعاوې کولې ، دهغې دواړه لاسونه مخته غوځيدلي و ، په يوه لاس کې يې د قاسم دلاس ګوته په ګوته د ورايه ځليده. د سونيا تر څنګ ناستې ښځې تر ډيره پورې د سونيا په ګوته کې ګوتې ته په ډير زير زير سره کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



.دا ښځه «بريټا» وه. د روميل ښځه، چې هره يکشنبه به چرچ ته دعبادت له پاره را تلله. هغې سونيا مخته هم څو ځلې کتلې وه ، خو نن يې چې کله د سونيا په ګوته کې هغه ګوته وکتله نو حيرانه پاتې شوه. دا خو همغه ګوته وه چې دهغه ويل شوی ورور قاسم بن هشام ورته د «ډيمونان» ددعوت په شپه دې ته ورکړې وه. بريټا به کله ګوتې ته کتل او کله به يې دسونيا د سترګو څخه را څڅيدلو اوښکوته. په بريټا باندې سر و ګرزيد. اوذهن يې په تيزۍ سره کار پيل کړ. هغې سوچ کاوه چې ايا دا همغه پيغله ده چې دقاسم سره يې لمړۍ محبت کړی و اوبيا قاسم دهغې د پيدا کيدو له پاره دلته د ډيمونان پسې راغی، دبريټا په زړه کې سترو سترو موجونو ټوپونه وهل. سونيا همغسې په عبادت کې مصروفه وه خو بريټا د تجسس اوپلټنې له لاسه عبادت و نه شوکړای. او بيا کله چې بشپ اعظم دعا پای ته ورسوله نو بريټا په ډيره بې صبرۍ سره د سونيا مړوند کلک کړ.

« ای نجلۍ ! ايا ستا نوم سسټر ميری دی ؟...تا دا ګوته د کومه کړې ده ؟...ته خو سسټر ميری کيدی نه شي.... يوه مقدسه راهبه ګوتی نه په لاسوی ؟ دا ووايه چې دا ګوته دې څنګه تر لاسه کړې ده....؟

بريټا په يوی ساه څو پوښتنې را وورولې. هغه يوه عامه کورنۍ ښځه وه ، هغې ته د ژورو رازونو د ساتلو فن نه و زده . هغې په دير احساساتی توګه د سونيا مړوند کلک کړی و او دسونيا څخه يې پوښتنې ګرويزنې پيل کړی وی خو سونيا ...... هلته نه موجود نه وه.....هغه چيری ورکه وه.... د سسټر ميری معامله څه وه ، اودی ګوتی د سسټر ميری سره څه اړيکې درلودل. اوهغې ته دا هم په ياد راغله چې سسټر ميری څو ورځې دمخه دسونيا څخه ددی ګوتی دترلاسه کولو هڅې کړی وی ، دهغې په دماغ کې يو توپان را پيدا شو ،اوس نو هغه ته ايرون قصه نوره هم پيچلې شوې وه ، هغه نا ارامه وه..... هغې غوښتل چې ډيره ژر وپوهيږي چې د ايرون لخوا د ورکړل شوی ګوتی شاته کوم رازونه پټ دي...اودا ښځه څوک وه چې په ډکه کليسا کې يې د هغې لاس ونيوه ....هغې د يوی شيبې له پاره فکر وکړ اوبيا يې په بيړه بريټا له لاسه و نيوه او له ځانه سره يې يوړه......

سونيا خپلې کمرې ته درسيدو په وخت کې هم بريټا ته دا ونه ويل چې هغه څوک ده خو پخپله يې د بريټا څخه پوښتنې پيل کړې.

« خورې !.... ماته لمړی دا ووايه....چې دا ګوته.....ته د کومه درکه پيژنې.... او ددې ګوتی د سسټر ميری سره تعلق دی.؟

سونيا خپله ګوته رامخته کړه او ويې ويل خواسو بريټا په خپلو احساساتو باندې کنترول پيدا کړی و ، دخپل زړه خبره يې پټه کړه او لنډ شانته ځواب يې ورکړ.

« دا د سسټر ميری ګوته د ه. ماته ددې نه اخوا نور څه نه دی معلوم. خو ته لمړی ماته دا ووايه چې ته څوک يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سونیا پوه شوی وه چې اوس بریټا سهي حقیقت نه وایي ، په دې خاطر یې یو عجیب پلان جوړ کړ. او بریټا ته یې وویل:

« خور جانې !... زه په حقیقت کې سسټر میري یم ،زه یوه راهبه یم. او داګوته په د ې خاطر په ګوته کوم چې ددې ګوتې سره زه ډیر جذباتي اړیکې لرم.

بریټا د سونیا په دام کې راګیر شوې وه. د خوشحالۍ نه یې چیغې کړې او سونیا یې په غیږ کې راکلکه کړه.

« واه زما خورې ! .....مارسي ....بلاخره تاته خپل جداشوې محبت بیرته تر لاسه شوی دی.ما د مقدس ډیمونان څخه ستا ټوله قصه اوریدلې وه ، تا ډیر غم ګاللی دی.... مورګن زما ورور دی ،ماته معلومه ده چې هغه مسلمان دی ماته دا هم معلومه ده چې ته د هغه سره ډیره مینه کوې. ما غوښتل چې له تاسره ووینم. خو دهغه وخته راهیسې چې مورګن ډیمونان وواژه ، نو زه وویریدم او چرچ ته مې تګ راتګ کم کړ. شکر دی چې تاته خپل محبت تر لاسه شو. ماخو اوریدلي دي چې مورګن یې دایا صوفیا څخه نیولی دی ، هغه له تاسره کله کتلی و ؟ څه خو راته ووایه !»

بریټا ډیره جذباتي کیدله خو سونیا د تیږې په څیر ګرزیدلې وه ، دهغې په ذهن کې ټولې کړکې خلاصې شوې وې ، اوس نو هغې ته دا هم معلومه شوې وه چې هغه مسلمان جاسوس په حقیقت کې د سسټر میرې محبوب و. دهغې زړه مات شوی و. دیوال ته یې تکیه وکړه او ودریده .....لکه چا چې ورسره دوکه اوفریب کړې وي. یواځې یو څوک و چې په دې دنیا کې یې دهغې زړه ګټلی و ،....هغه هم دوکه کونکی وخوت. هغه خو دلته دمارسي په چکر کې راغلی و ، دبطریق ډیمونان قتل کونکی مسلمان جاسوس و اوغوښتل یې یوه اوه کلنه عبادکونکی راهبه تر لاسه کړي، ایرون هغه هم استعمال کړې وه.او دیوی لوبې دالې په څیر یې استعمال کړې وه. هغې سونیا ته ګوته په دې خاطر ورکړې وه چې هغه دا ګوته واخلي او سسټر میرې ته یې وښئي. اوسسټر میرې هم دوکه ورکړې وه ځکه چې اصل حقیقت یې ورته نه و ویلي. دسونیا زړه د غم او درد نه ډک شوی و غوښتل یې په چغو چغو وژاړي خو معلومه نه ده چې ولې یې خپله ژړا په سینه کې پټه کړه ، یواځې اوښکې وې لکه د سیلاب په څیر یې د سترګو څخه را روانې وې ، هغې خو یواځې څو ورځې دمخه دخپل ګناکونکی ژوند لاره بدله کړې وه او دا ټول بدلون یواځې او یواځې دقاسم په خاطر ترسره شوی و ، خو اوس دا څه پیښ شوي و .... دی چې څوک دخپل ځان ګاڼه هغه دبل چا وخوت. هغې چې چاته خدایه وایه .... هغه د بل چا عبادت کونکی و.... دسونیا له پاره د ټولو غمونو څخه دا غم ستر غم او ټکان و. هغه بې هوشه کیدله. اوبریټایې تر څنګ ولاړه وه او هره شیبه یې دهغې بدلیدونکی حالت کوت. هغه حیرانیده چې دی نجلۍ ته څه ورپیښ شوي دي ، حقیقت دا و چې سونیا اوس هم دقاسم څخه نفرت نه کاوه. خو په زړه کې یې په خپل حیثیت باندې غور کاوه ، یو بیګانه ځوان د سونیا په ژوند کې ور داخل شوی په حقیقت کې هغه د سسټر میرې په څیر دیوې پاکې ښځې سره مینه کوله ....په داسې حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سونیا دسستړ میري په مقابله کې خپل ځان یوه بازاري نجلۍ تصور کوله ، هغې ته خپل ځان سپک ښکاریده ، تر ډیره پورې یې د بریټا سره کومه خبره ونه کړه. بلاخره بریټا ورته پخپله وویل:

« سسټر میرې ! څه خبره ده ، ته خو ډیره پریشانه شوی. فکر مه کوه. که مورګن مسلمان دی نو څه وشول. زه به ډاډمن زړه ویلی شم چې کله هم هغه د بندی خانی څخه ازاد شي نو نیغ به ستا خواته راشی ، زه پوهیږم چې مورګن ستا نه پرته ژوند نه شي کولی. هغه ماته ستا او خپل ټوله قصه په پوره تفصیل سره کړی ده.

دسونیا له پاره ددی نه زیاتی خبری اوریدل د زغم وړ نه وی. سر پری ګرزیده. د مخ رنګ یې الوتی و او شونډی یې وچې شوی وی ، په بستره باندی کیناسته. نن هغې په خپل ژوند کې تر ټولو سرګردانه اودغم نه ډکه ورځ تیره کړی وه، دهغې د سترګو تر مخه تیاره خپره وه.

بریټا تری ولاړه. خو د سونیا له پاره دغمونو نه ډکه دروازه خلاصه شوه. تر څو چې هغه نه پوهیده چې ایرون د سسټر میری سره مینه کوی نوخپل ځان یې د ایرون په مینه کې ور ستی کړی و . خو کله چې ورته حقیقت معلوم شو نوبیا د شیشی دګیلاس په څیر ټوټې شوه.

اوبیا په همدی شپه « د ایاصوفیا » پورتنی منزل کې د سسټر میري د دروازی مخې ته یو نقاب پوشه وکتل شو . د ایاصوفیا په پورتنی منزل کی دا وخت هیڅوک هم نه و . په فرش باندی دستنی دلویدو اواز هم اوریدل کیدی شو ، دګیلري په دیوالونو باندی دمعمول په مطابق مشالونه روښانه وو. نقاب پوشه دمارسی ددروازی تر څنګ و درید او دمارسی دخونی دروازه یې ور وهله . او دځواب په انتظار شو، خو دومره منتظر پاته نه شو ځکه مارسي سمدلاسه دخپلی خونی دروازه پرانسته. خو دیوه نقاب پوشه په لیدلو ډیره حیرانه شوه ، یو ناڅاپه تم شوه اوبیا څو قدمه شاته ولاړه ، او دغه نقاب پوش ته یې په برندو برندو سترګو کتل. دا څوک دی چې په نیمه شپه یې نقاب په مخ را خپور کړی او مارسی دخونی دروازه ورټکوی ؟

خو لږه شیبه وروسته دمارسي ذهن ډیر قوی ټکان وخوړ. دهغې تر مخه قاسم ولاړ و .....قاسم بن هشام...د« اورنه» قاسم بن هشام. دسلطان مرادخان ثانی سراغ رسان ، دسکندربیګ په څیر یوه ماهر توره وهونکی ته په ډک ستیډیوم کی ماتی ورکونکی عرب ځوان چې د حجاز دودي اوسیدونکی دی ....قاسم بن هشام ....دنن څخه اوه کاله مخته ، دچا محبت چې مارسي د عیسویت نه د اسلام په لور راواړوله. همغه قاسم چې مارسی یې په ډول ډول غمونو او ازمیښتونو کی راګیر کړی وه ، نن د کلونو کلونو وروسته دهغې تر مخه ولاړ و . دهغې جدا شوی ملګری ، د چاسره یې چې دژوندانه د سختیو د یوځای تیرولو ژمنه کړی وه ، د قاسم مخ او سر په نقاب کې راپوښل شوی و خوبیا هم هغه مارسي وپیژانده. هغې دخپل غم او غمګساره خوشبویی محسوس کړه ، قاسم یې دسترګو درنګ نه وپیژانده ، هغې د همدی سترګو له پاره خپل ټول ژوند په داو کی ایښی و . دمارسي جسم وچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی و او د سکتی په حالت کی وه ، دهغی خوله خلاصه وه او شونډی یی پرانستی پاته شوی وی ، دمارسي ژبه ګنګه شوی وه اوسترګی یی په پرلپسی توګه په قاسم کی ورنښتی وی.

قاسم په کرار دهغی خونی ته ور ننوت.کمری ته د ورننوتلوسره سم یی دروازه د دننه څخه بنده کړه ، دی مقدسی حجری ته نن دلمړي ځل له پاره یو نارینه ور ننوتی و ، مارسی تر اوسه هم د سکتی په حال کی وه ، قاسم منتظر و چی مارسی به څه ووایی. لیکن مارسي .....مارسي د یوی تیږلوړه مجسمی په څیر بی حرکته اوساکته ولاړه وه. داوو کالو جدایی او د پرلپسی مصیبتونو دتیریدو نه وروسته مارسي دحالاتو سره یوځای کیدل زده کړی و. دخبرو څخه یی ځان لری ساته. خونن حالات بدل شوی و.کله چی قاسم دمارسی حالت وکوت نو دوه قدمه نور هم راوړاندی شو او دمارسي سره نژدی و درید ، لږ شیبه وروسته دهغه دواړه لاسونه دمارسي په اوږو ایښوول شوی و او مارسی یی خوزوله او ورته یی ویل:

« مارسي !....مارسي !.... په هوش کی راشه....مارسي ! زه قاسم یم ، ستا قاسم....قاسم بن هشام.....»

د قاسم غږ ډیر اغیزمن و. دهغه د اواز داوریدو سره سم دمارسي په وجود کی دژوندانه څپی را ولاړی شوی. یودم رابیداره شوه. او په چغو چغو یی وژړل. د اوښکو سیلاب یی دسترګو څخه را روان و. داهغه سیلاب و چی دکلونوکلونو مصیبتونو ورته بندونه اچولی و. خو نن یی د سترګو له لاری دبیرون راوتلو لاره پیدا کړی وه. مارسی د خپل قاسم د سینی سره یوځای شوی وه ، دژړا په واسطه یی ټول وجود نور په لړزه کی راغلی و ، نن مارسي غوښتل د سترګو له لاری دزړه ټول داغونه پریمنځی. خو دقاسم سره ددی خوشحالیوله پاره ډیر وخت نه و. هغه خو دمارسي د وړلو له پاره راغلی و.دخپله ځانه سره د وړلو له پاره. هغه د مارسی اوږی په خپلو ګوتو لږ څه زور کړی او ورته یی وویل:

« مارسی !...زه راغلی یم، زه ستا د بوتلو له پاره راغلی یم ، تا خو ډیرغمونه تیر کړی دی ، خو اوس ستا ټولی دعاګانی قبولی شوی دی.... راځه زما سره یوځای راځه ، زه به هیڅکله هم له تا څخه جدا نه شم.»

مارسي اوس هم د ژړا ډکه وه ، تر اوسه یی په ژبه یوه کلیمه هم نه وه ویلی. د مارسي په خوبصورته جسم کی دزلزلی په څیر کیفیت جاری و. په دی خاطر قاسم هوډ وکړ چی مارسی د سمدستی بوتلو په ځای پریږدی لږ څه په حال کی راشي. مارسی یی له لاسه ونیوله اوخپلی بستری ته یی راوړه.خو اوس دمارسي حال هم لږ څه راښه شوی و. په بستری باندی د کیناستو نه مخته یی دقاسم دواړه لاسونه په خپلو لاسو کی ونیول اوبیا قاسم ډیر حیران شو چی مارسي دهغه لاسونه یی په ډیره والهانه توګه ښکلول. هغی د قاسم ګوتی دخپلو لمدو ګوتو سره بیا بیا مښلی ، اوس نومارسي غوښتل خبری وکړی. خو الفاظ یی په ستونی کی نښتی و. قاسم د مارسي والهانه محبت او مینه محسوسوله. نوپه زړه کی ډیر پښیمانه شو ، ځکه چی هغه خو یو واده هم کړی و او یوه ډیره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکه ښایسته لور یې هم درلوده ... یا الهی ! دا څه حال دی ؟ مارسي خو هغه د زړه له کومې غوښته . خو هغه دخپل زوند ملګری بل څوک ګرځولی وه ، خو په دې کې قاسم څه قصور درلود . هغه ته خو اوه کاله مخته همدا خبر ورکړ شوی و چې مارسی شهیده شوی ده ، بیا قاسم د بوسنیا دشهزادګۍ سره وکتل ،ریښتیا خو داو چې قاسم اوس هم مارسی همغسې غوښتله.

قاسم د مارسی سره په بستره کیناست. مارسی اوس دلمړي ځل له پاره خبری پیل کړې « زه ډاډمنه وم چې ته به خامخا زما د بوتلو له پاره دلته راځې ،ما ستا دانتظار له پاره اوه کاله خو پریړده چې اوه پیړۍ هم انتظار کولی شو .. قاسم ! ..... نن ستا په کتلو باندی زه نه پوهیږم چې په ما څه چل کیږی.....زه نه پوهیږم...... ته خو څو میاشتی مخته دلته په ایا صوفیا کې وی او زمونږ ترمنځه لیدل کتل هم شوی و لیکن .... » دمارسی خبرو دهغی سره ملګرتیا نه کوله . هغی غوښتل هره خبره یوځل وکړی ، په ایا صوفیا کې سکوت و . یواځې دمارسي په کمره کې یو مشال روښانه و . دمارسي رخسار په اوښکو لوند و اودقاسم په شونډو باندی نرۍ شانته خندا و . مارسی ته یې وویل:

« مارسی ! اوس یې هیر کړه ....هغه وخت چې تیرشوی دی په هغې ژړا کول بې ګټې دی. زه راغلی یم ، اوراغلی یم چې تا له ځانه سره یوسم ،ماته معلومه ده چې په تا ډیر غمونه تیر شوی دی ، مونږ باید دډیر څه په اړه خبری وکړو . اویو دبل څخه ډیر څه واورو . خودا ټولی خبری دلته شونی نه دی ،شاګال زمونږ دښمن دی ، او زما پسی ګرځی. په دا خاطر دا به ډیره مناسبه وی چې مونږ د دې ځایه سمدلاسه ووځو .

خو مارسی د قاسم په خوشبیو کی مسته وه. هغه ته په خپلو غوږونو او سترګو باندی باور نه راته ، هغه دپخوانیو یادونو په هره لحظه کې غوټه کیده ، قاسم یې دخپله ځانه سره نژدی وکوت نو هرڅه یې هیر کړل ، هغه به بیا بیا احساساتی کیدله او د قاسم لاسونه به یې په خپلو لاسو کی نیول اوژړل به یې.

قاسمه ! اوس نو زه له تا نه شم جدا کیدی. ما اوه کاله په سولۍ ځوړند تیر کړی دی. د سکندربیګ دهوس او دهغه د لاس اوږدونی څخه می دلته دراهبی شکل اختیار کړی دی او اوه کاله می په دې بنده خونه کې دزندانۍ په څیر تیر کړی دی. دلته می په خونه کې په پټه لمونځ کاوه ، قاسمه ! زه مسلمانه وم ، او اوس هم مسلمانه یم...»

مارسی یوځل بیا په چغو چغو ژړا پیل کړه ، دمارسی زړه داحساساتو څخه ډک و ، دقاسم په اوږو یې سرکیښودی و او سلګۍ یې وهلې. معلومه نه ده چې په دې وختو کې څه څه وشول ، نړۍ بدله شوی وه ، سلطان مرادخانی ثانی وفات شوی، دقاسم مور و پلار اوس په نړۍ کې نه و . بوسنیایی شهزادګۍ دقاسم سره واده کړی و او مارسي د تیرو اوو کالو راهیسی دیوی عیسوي راهبی په بڼه ، په حقیقت کې شپه او ورځ په اسلامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباداتو کی مصروفه وه ، دمارسی له پاره دقاسم سره دا لیدنه دمعجزی څخه کمه نه وه. هغی همداسی ژړل او سلګۍ یی وهلی. اوښکی یی بهیدی او خبری یی کولی ، هغی یو ائی خپلی خبری کولی ، اوس نو قاسم هم ارام ناست و ، ټول ګوابښونه یی له یاده ویستلی و ، دمارسی ترڅنګ ناست و او د هغی خبری یی اوریدلی. دا لمړی ځل و چی مارسی دقاسم بدن مسحه کړ ، هغی نه غوښتل دا پاکیزه لمحی له لاسه ورکړی. هغی قاسم ته وویل:

« ابو جعفر زه په زخمی حالت کی د اورنه څخه البانیا ته راو ستلم. دالبانیه په شاهی محل کی سکندربیګ زمونږ انتظار کاوه ، لمړی خو سکندربیګ زما سره ډیره ښه رویه وکړه ،زما دزخمونو علاج یی وکړ اوما ته یی هر ډول اسانتیاوی را کړی ،خو زه پوهیدم چی سکندر بیګ دا هر څه زما د ترلاسه کولو له پاره کوی.هغه زه د کوچینوالی څخه خوښولم خو ما نه غوښتل دهغه منحوس شکل ووینم. زه ابوجعفر د سکندر بیګ له پاره را وتښتولم ، ما د ناروغتیا په ورځو کی را انګیرلی وه چی زما دروغتیا وروسته به سکندر بیګ ما خامخا خپلوی ، که څه هم هغه د زور او تزویر له لاری وی. خوما شپه او ورځ فکر کاوه چی څه ډول دسکندربیګ د لاسو څخه خپل عصمت اوعزت خوندي وساتم. بلاخره یوه ورځ زما په ذهن کی عجیب شانته فکر را پیدا شو ،ما ابوجعفر را وباله او ورته می وویل چی زه غواړم یوه راهبه واوسم. غواړم د عیسوی دین خادمه واوسم ، د ابوجعفر له پاره دا خبره ټکان ورکونکی وه. زما دا حربه ډیره بریالی ځکه وه چی یو پادشاه هم راهبه نه شي تر لاسه کولی. هماغه وچی ما دخپلی ابرو او ستا د امانت دخوندي ساتلو په خاطر د عیسوی راهبی ښه اختیار کړه. او ددی پرته ماته بله لار هم نه وه. ابوجعفر چی په حقیقت کی بطریق ډیمونان و زما ددی پریکړی څخه ډیر خوشحاله شو خو دسکندر بیګ له پاره زما پریکړه په هیڅ توګه دمنلو وړ نه وه .کله یی چی زما دراهبه کیدو خبر واورید نو ډیر قهرجن شو ، خوبطریق ډیمونان د ارتوډکس کلیسا ډیر ستر پادری و او زه په دی پوهیدم چی هغه به زما د خوندي کیدو په خاطر دسکندر بیګ سره ټکر ته هم تیار شی ، اوبیا همغسی وشول ،بطریق ډیمونان ګڼ شمیر پادریان له ځانه سره کړل او سکندر بیګ یی په خاموشه کولو مجبور کړ. بطریق ډیمونان زه دخپله ځانه سره دلته قسطنطنیی ته راوستم اوما دیوی راهبی په شکل دلته ژوند پیل کړ. دلته د هر راهب اوپادری سترګی په مالګیدی ، دا چی ما دهغوی دبدو سترګو او هوس څخه څنګه او څه ډول ځان خوندی وساته یوائی زما مالک پری ښه پوهیږی. که څه هم بطریق ډیمونان زه دلته راوستم خو دهغه نیت ماته پخپله خراب و .ما دبطریق ډیمونان دبدو سترګو څخه دخوند ي پاته کیدو په خاطر د بطریق اعظم لمن و نیوله. زوړ بطریق اعظم زما ډیر عزت اوتکریم کاوه ، ماته یی هیڅ ډول زیان و نه رساوه. په ایاصوفیا کی هر شخص زما د ښایست اوحسن اخستونکی وو. ما ستا دامانت د خوندی ساتلو په غرض ډیر څه کړی چی اندازه یی نه شی کیدی. ما په دی وختو کی د الله تعالی څخه یوازی یوه دعا غوښتله چی هغه دی تاله ماسره یوځای کړي ، نن ددومره اوږد وخت وروسته زما دعا قبوله شوی ده....قاسمه ! ما هیڅکله هم ځانته مه پریږده. زه ستا نه پرته ژوندی نه شم پاته کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمارسي دغم نه ډکی قصی په اوریدو سره قاسم دا هیر کړی و چی هغه یو مفرور قاتل دی.او په ایا صوفیا کی د شاګال په څیر تیز دشمن ورپسی نښتی دی ، یو ناڅاپه قاسم ته د ډیر زیات وخت دتیریدو احساس و شو . سمدلاسه یی مارسي ته وویل:

« مارسي ! اوس خو مونږ یو دبل سره یو ځای شوی یو . هیڅکله هم یو دبل څخه د نه جدا کیدو له پاره یوځای شوی یو .مونږ به ډیر خبری کوو . دا چی په دی وختو کی په مونږ څه تیر شوی اویا موڅه کړی دی ؟ خو اوس بایددی ځایه ووځو ،شپه د نیمایی څخه ډیره تیره شوی ده اومونږ ددښمن په کور کی ناست یو . ما شاهی داروغه وژلی او تری راتښتیدلی یم ،په ټول ښار کی زما لټون روان دی ، زه غواړم چی دشپی په تیارو کی ددی ځایه ووځم ،مونږ به ددی ځایه نیغ اورنه ته ورځو ، سلطانی لښکر دقسطنطنیی دسوبی له پاره راوتلی دی ،دا لښکر به مونږ ته په لاره کی مخی ته راشی. اوس باید مونږ ددی ځایه سمدلاسه ووځو .

اوس نو مارسي هم ځان پوره کنترول کی کړی و . دهغی د زړه براس دهغه داوښکو سره وتلی و . مارسي د حالاتو نزاکت ښه درک کړی و . سمدلاسه راپورته شوه ، دخپلی خونی څخه یی هیڅ شی را وانه خیست.یوازی دقران کریم هغه نسخه یی له ځانه سره راواخسته چی د تیرو اوو کالو راهیسی یی له ځانه سره درلوده. درهبانیت په ژوند کی مارسي تر ټولو زیاته فایده دا ترلاسه کړی وه چی قرانکریم یی ټکی په ټکی یاد کړی و ، اوس نو ددی ستر کتاب ټکی ټکی دهغی په ذهن کی موجود وو. هغه اوس قاریه وه. دوتلو څخه مخته مارسی دقاسم څخه وپوښتل:

قاسمه ! مونږ دکومی لوری څخه وځو .د نیغی لاری څخه خو مونږ ته وتل شونی نه دی ،مونږباید د عقبی زینو څخه ښکته شو او دباغ له لاری بیرون ولاړ شو . په دی لاره د تیښتی په وخت کی به مونږ د ایا صوفیا شاتنۍ دروازه پرانزو. اویا به ددیوال څخه ځان اچوو. خو دیوال ډیر پورته اولوړ دی.

قاسم دمارسي خبری په ډیر غور سره اوریدی . هغه پخپله غوښتل د عقبی لار څخه ولاړ شي ...خوکله چی هغه ایاصوفیا ته را ننوتی و نو هغه وخت د چرچ دروازی پرانستی وی، قاسم د شپی د لمړی برخی پوری په ایا صوفیا کی پټ ناست و او وخت یی تیراوه. خو اوس هغه ته ریښتیا هم د شاتنۍ دروازی اړتیا وه ، قاسم او مارسي خپل مخونه پټ کړل او دهلیز ته راغلل. په ډیر احتیاط سره روان وو ، قاسم په هر قدم کی خیال کاوه چی د شاګال سره به ټکر کوي ،دا د ایا صوفیا مانۍ وه ، دلته د قاسم له پاره په هر قدم کی مرګ منتظر و . او اوس خو دمارسي له پاره هم د بیرته ستنیدو لاره نه وه پاته. ځکه چی هغه د یوه مسلمان جاسوس سره دتیښتی په حال کی وه ، دواړه په ډیر احتیاط سره عقبی زینو ته ورسیدل ، قاسم به په هره زینه باندی داسی په احتیاط قدم ایښوده لکه مار یی چیچي . اوس نو قاسم خپله توره په لاس کی نیولی وه او اعصاب یی په ډیره سخته توګه ستومانه شوی و. په بریالیتوب سره د زینو څخه ښکته شول او باغ کی ور داخل شول ، دایا صوفیا تر څنګ یو څو سوه ګزه لوی باغ پروت و . په زمکه باندی شنه واښه لکه دفرش په څیر راشنه شوی و و.ګلی ونی په کتارونو کی ولاړی وی ، ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونو په منځ منځ کې يوه پټه لاره تللې وه ، قاسم اومارسي په همدې لاره باندې روان شول ، دوی په بيړه او چټکۍ سره مخته روان و چې قاسم يو ناڅاپه تم شو . ځکه دهغې مخې ته شاګال ولاړ و ....ګنجي بطريق.... دهغه غټ پټ وجود د يوه ديوال په څير د قاسم اومارسي په لاره کې خنډ ګرځيدلی و . قاسم سمدلاسه مارسي خپل شاته کړه اوپخپله يې توره راواخسته او په شاګال يې ورحمله کړه خو شاګال بې فکره و او مسکی مسکی کيده . دهغه دغه مسکا هم د مکر اوفريب نه ډکه وه . څنګه چې قاسم ورمخته شو نو د شاګال اوازيې دغوږونو سره ټکر وکړ .

« همدلته ودريږه . ته ددې ځايه دغه غداره حسينه له ځانه سره نه شې بوتللی .ددې ځای يوه يوه ذره به ستاسو تر مخ دديوال په څير خنډ جوړيږی ، خو که چيرې ته غواړې نو خپل ژوند دې خوندي کولی شې. ځکه چې ته بايد ماته يوائې دمقدسې نقشې په اړه معلومات راکړی.

اوس نو قاسم ته مقدسه نقشه په ياد راغله .ځکه شاګال تری ددويم ځل له پاره دمقدسې نقشې په اړه پوښتل . هغه به داسې کوم څيز و چې شاګال د قاسم له پاره د هغې دمعلوماتو د تر لاسه کولو وروسته دهغه د ژوند ښښنه کوله، د قاسم په زړه کې د مقدسې نقشې د پيدا کولو له پاره ډير تجسس را پيدا شو . په دې خاطر يې په شاګال دحملې کولو ترمخه يې غوښتل دهغه څخه په دې اړه نور معلومات هم تر لاسه کړي ، هغه د شاګال څخه وپوښتل:

« په مقدسې نقشې کې څه شی د ی؟ ...ايا ته ماته ويلی شې ؟ ځکه چې که له ماسره کومه نقشه وی هم نو زه دهغې په اړه دومره معلومات نه لرم.»

« ته په هر څه پوهيږې ، ته درواغ وايې ، مقدس نقشه هم تاسره ده . اوهمتا نورټاس دمقدسې نقشې د غلاکولو له پاره هڅولی و. مقدسه نقشه اوس په خپل ځای کې نشته .نو څرګنده ده چې هغه به له تاسره وي . نو که چيرې ته ماته هغه مقدسه نقشه راکړې نوزه به ستا ټولې ګناوې وبښم . »

دقاسم تجسس نور هم زيات شو . ځکه هر هغه څه چې شاګال ويل دقاسم له پاره نوي وو . قاسم به د سپه سالار نورټاس د غلولو هڅې حتما کړې وی خو قاسم دکومې مقدسې نقشې په اړه څه معلومات نه درلود. قاسم شاګال ته وويل: زما دلاری څخه لری شه. ستا نقشه له ماسره نه شته .که چيری تا زما دلاری دبنديدو هڅه وکړه نو زه به په خوشحالۍ سره تا له لاری لری کړم.

قاسم د دې خبری دکولوسره سم توره پورته کړه او مخکې ورغی ،خو پخوا تر دې چې هغه ورمخته شي دهغه د ښې ، چپ اود شا له لوری دری کوچنۍ ونې په حرکت کې راغلې ، قاسم اومارسی وويريدل ، دا چې د اکوچنۍ ونې ولې پخپله په حرکت کې راغلې ؟...هو !دا د ارنډ کوچنۍ کوچنۍ ونې وی خوپه حقيقت کې ددې ونو شاته د شاګال خپل کسان ناست و ، د شاګال کسانو خپلې توری را وويستې او په قاسم باندې يې يرغل راوست ، دا دری واړه سپاهيانو و چې د راهبانو لباس يې اغوستی و اوپه سرګنجيان وو . دوی دری واړه د توری د ګذار په فن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی هم پوره پوهیدل. قاسم دری واړه پخپله توره و درول او دهغوی سره په جنګ کی مصروف شو ،قاسم د څو میاشتو راهیسی دتوری وهلو د تمرین څخه بی برخه پاته شوی و په داسی حال کی چی دا دری واړه ډیر تورزن او پوه ځواکمن کسان وو. قاسم ددری واړو توری له ځانه لری ساتلی خو دهغوی دری واړو سره دمقابلی په وخت کی قاسم ته دلمړي ځل له پاره احساس وشو چی د توری وهلو دا مقابله به ونه ګټی. خوبیا هم قاسم خپل زړه ته تسلی ورکړه اودا فکر یی وکړ چی دا خو ډیر ستر شهادت دی.... په پوره بی پروایی سره یی جنګ پیل کړ. د ډیر اوږود کشمکش نه وروسته قاسم یو حجازی داو وچلوو. سمدلاسه په زمکه کیناست او دیوه سپاهی پښی یی ور وهلی. بله لمحه راپورته شو او ددوو نورو سره یی مقابله پیل کړه ، اوس نودهغه تر مخه دوه دښمنان وو،په دی یخه شپه کی د قاسم وجود دخولو څخه ډک و. په دی وخت کی قاسم داسی محسوس کړه چی شاګال اومارسي په خپلو ځایو کی نه شته. دمارسي نه موجودیت دقاسم قهر او غضب را وپاروو او دلیونی په څیر یی په دواړو توره وهونکو باندی ور حمله کړه اوپه ډیر لږ وخت کی یی ددواړو څټونه ورپری کړل. خومارسی تری بیا ورکه شوی وه.

کله چی قاسم د جنګ نه فارغه شو نو مارسي اوشاګال دواړه ورک وو. یقینا چی شاګال به مارسی له ځانه سره وړی وی ، قاسم په دی فکر کی شو چی دمارسی سره قرانکریم هم شته ، نو اوس خو به دمارسي د تیرو اوو کالو راز را ښکاره شی اوټولو ته به ډاګیزه شی چی دا راهبه نه بلکه مسلمانه جاسوسه وه. قاسم ډیر اندیښمن شو او فکر یی کاوه چی شاګال به دمارسي سره ښه سلوک ونه کړي ،شپه تر نیمایی زیاته تیره شوی وه، ټول مرغان اوخزندی په خپلو خپلو ځالو کی پټ شوی و خو د ایاصوفیا شاته قاسم د خپل تندی خولی وچولی. تر اوسه پوری په دی فکر کی و چی څه وکړی او څه و نه کړي... چی د ایا صوفیا د عمارت څخه د څو سپاهیانو در اتلو اواز یی تر غوږو شو ،اوس نو دقاسم له پاره دلته پاته کیدل حماقت و. قاسم یو ناڅاپه پریکړه وکړه او د یوه زمری په څیر یی منډه کړه او دایاصوفیا بیرونی دیوال ته یی ځان ورساوه. قاسم دلته هم صبر ونه کړ او د انځر د ونو څخه یوه منتخب کړه او پری وخوت. هغه دمارسي پرته دایا صوفیا څخه په تیښته کی و ، مارسی دهغه سره دیوځای کیدو وروسته یوځل بیا جدا شوی وه. خو اوس ددی ځایه دقاسم تیښته ډیره اړینه وه. لږه شیبه وروسته د ایا صوفیا د چرچ ساتونکو د چرچ کونج کونج و لټاوه خو اوس قاسم بن هشام دهغوی دلاسو څخه وتلی و.خو بله ورځ قاسم د یونانی عسکر په کالیو کی د «رومیل» دکور تر مخه ولاړ و. دلته یی غوښتل دبریټا سره ووینی. هغه د شاهی ډلی لباس په ځان کړی و. چي په اسانۍ سره نه پیژندل کیده. دقاسم په سر باندی یو ستر اوسپنیز خول و چی په غاړو یی اوسپنیز زنځیرونه را ځړول شوی و ، دقاسم ملا صلیب شکله توره را ځوړنده وه، راغی او د بریټا دکور دروازه یی وروهله. بریټا هم په کور کی موجوده وه ، د ټک ټک نه وروسته یی دروازه پرانسته اودپرنستو سره سم هکه پکه و دریده ، ځکه دهغه ورور اوس دڅومیاشتو بندی کیدو وروسته دهغی تر مخه ولاړ و. بریټا چی قاسم وکوت نو په احساساتی توګه یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ته !...ته دلته څنګه راغلی یی؟...ته خو په بندی خانه کی وی ؟»

دبریټا په مخ باندی دخوشحالۍ ، ویری او حیرانتیا ګډوډ احساسات اوختل را اوختل. کله یی چی قاسم دسپاهیانو د سپاهیانو په لباس کی وکوت نوپوه شوه چی قاسم خپل ځان بدل کړی دی ،قاسم هم ورته په خند کی وویل:

« بریټا خوری !...ایا خپل ورور ته دی د کور ته درانتوتلو نه وایی ؟»

معلومه نه ده چی د قاسم په لهجه کی څه راز پټ و چی بریټا سمدلاسه دروازه پرانسته او قاسم ته یی دکور دننه د راتلو وویل. په دی وخت کی دبریټا خاوند رومیل په کور کی نه موجود. قاسم لا د پخوا څخه د رومیل د نه موجودیت په اړه خپل ځان ډاډمن کړی و ، کله چی قاسم دننه راغی نوپخوا ددی چی خبره وکړی بریټا ورته په خبرو پیل وکړ.

« وروره ! ته باید دلته نه وی راغلی ، رومیل تاته سخت په قهر دی. که چیری هغه خبرشي چی ته دلته راغلی یی نو سمدلاسه به دی بندی کړی. »

قاسم د بریټا دخبرو په اوریدو سره مسکی شو او ورته یی وویل: « ماته معلومه ده ، په همدی خاطر خو ستا سره د کتلو له پراه په دی وخت کی راغلی یم چی رومیل په کور کی نشته. »

بریټا قاسم ته د مینی او محبت نه په ډکو سترګو کتل ،هغه قاسم ته ورور ویلی و. هغه وخت چی قاسم دهغوی دکوره ووت نو هغی ډیر زیات ژړلی و. خو کله یی چی نن قاسم یو ځل بیا په کور کی وکوت نو سترګی یی د ژړا ډکی شوی خو ډیر ژربی خپلی اوښکی پټی کړی او په خندا یی وویل:

« وروره ! زه پرون ستا دمارسي سره ناسته وم. هغه له تاسره ډیره مینه کوی ، ترهغی چی زه ورسره ناسته وم نو ته یی یادولی او دسترګو څخه یی داوښکو سیلاب راروان وو. ما هغه دهغی ګوتی نه وپیژندله چی یو ورځ تا ماته هم را کړی وه.، وروره ! مارسی دی ډیر زیات غواړی.»

قاسم د بریټا په خبرو باندی حیران پاته شو ، دا څه چل دی ؟ ایا بریټا بل څوک دمارسي په نامه پیژندلی ده؟ ځکه چی د مارسي ګوته خو د چرچ د خادمی سوینا په ګوته وه. هو ! په یقین سره چی بریټا به سونیا کتلی وی و د سستړ میری ګمان به یی پری کړی وی. قاسم د خبری اخر ته رسیدلی و. خو کله یی چی دسونیا په اړه واوریدل نو زړه یی بیا خفه شو. ځکه چی هغه په ناپوهۍ سره د سونیا زړه خپل ځان ته راښکودی وو. نن هغه د همدی مقصد له پاره راغلی و ترڅو دبریټا سره په دی اړه خبری وکړی ترڅو هغه د مارسي په پیداکیدو کی د هغه سره مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. خو دلته معامله څه بلمنګه وه ، بریټا د چرچ خادمه سونیا د سستر میري په نامه پیژندلی وه. په همدی وخت کی دقاسم په ذهن کی یو فکر راغی او بریټا ته یی وویل:

« بریټا خوری ! تا چی دکومی پیغلی سره کتلی دی ،هغه له ماسره هم مخ کړه. ځکه چی زه ایاصوفیا ته نشم تللی بلکه ته تللی شی. زه دلته دهمدی کار له پاره راغلی یم. زه غواړم خپله مارسي تر لاسه کړم ، تا له ما سره تر اوسه پوری دومره ښیګڼه کړی ده نو دا ښیګڼه راسره هم وکړه او دهمدی ګوتی لرونکی پیغلی سره می یو ځل بیا مخ کړه.

بریټا لا د پخوا څخه دخپل ویل شوی ورور او پخوانی محسن باندی ځان ځاراوه ، په دی خاطر یی سمدلاسه هوکړه وکړه خو دقاسم څخه یی وپوښتل:

« وروره ! ته به دهغی سره چیری ووینی ؟ په دی ښار کی خو هر ځای ستا له پاره خطرناک دی. ...» قاسم په بیړه د بریټا خبری غوڅی کړی او ورته یی وویل: « د هغی سره د کتلو ځای ما لا دپخوا څخه په نظر کی نیولی د ی.... ته هغی ته د پخوانیو بازنطینی کنډرو درک ورکړه او ورته ووایه چی دلمر دپریوتو څخه یو ساعت دمخه دی همغه کنډرو ته راشي زه به یی همتله انتظار کوم.»

که څه هم دا کنډری دښار په منځنۍ برخه کی پرتی وی ، خو هغه لوری ته هیڅوک نه ورته. قاسم په دی خاطر دپخوانیو بازینطینی کنډرو یادونه وکړه چی هغه به هلته د ټولو د نظرونو نه په پټه د سونیا سره ووینې. هغه په زړه کی دا هوډ کړی و چی هغه به سونیا ته هر څه وایي. او د دوی تر منځه د راپیدا شوی غلط فهمۍ په اړه به تری ښښنه غواړی. هغه دا فکر هم کړی و چی د مارسی په اړه به هم دسونیا سره خبره شریکوي. بریټا دخپل ویل شوی ورور قاسم سره ډیره مینه کوله. هغی ددی نه مخته هم دقاسم له پاره خبره کړی وه. دا ځل هم بریټا د قاسم ملاتړ اعلان کړ او سمدلاسه ایاصوفیا ته دتللو له پاره تیاره شوه.

د لمر د پریوتو دمخه د پخوانۍ بازنطینی په کنډرو کی ، د تیاره چتونو لاندی ، دخلکو د نظرونو څخه په پټه قاسم د چرچ دخادمی سونیا سره لیدنه کوله. دسونیا په ګوته د مارسي ګوته وه او په سترګو کی یی د زمردو په څیر د اوښکو سیلاب. هغی نه سلګی وهلی او نه یی ژړا معلومیده ، بس یوائی اوښکی یی دسترګو څخه را روانی وی. هغی دخپل محبوب نه ګیله او شکوه کوله ، ځکه چی هغه دهغی زړه مات کړی و. نن هغه دخپل محبوب تر مخه ناسته وه او اوښکی یی تویولی. قاسم د سونیا څخه دخپلو غلطیو په اړه بیا بیا ښښنه غوښتله. هغه سونیا ته د لمړۍ ورځی څخه تر دی وخته پوری دخپل ژوند ټول داستان ووایه. او په پوره تاکید سره یی ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«سونیا ! تاته یاد دی چی ما در ته ویلی و چی زه له تاسره روحانی محبت کولی شم. جسمانی محبت درسره نه شم کولی.تا ماته ډیره محبوبه یی او زما په زړه کی تا ته ډیر زیات ځای شته. زه به ستا نه پرته دقسطنطنیی څخه ولاړ نه شم....خو زه له تاسره واده نه شم کولی. ... که شونی وی نو ما به وبښی....»

سونیاته خو لا دپخوا څخه د ټولو خبرو په اړه معلومات تر لاسه شوی و. هغی دبریتیا څخه ټول حقیقت را سپړودی وو. څومره یی چی د لاسه کیدل ویی ژړل، خو نن ورته د خوشحالۍ وخت و چی دهغه محبوب په کتلوسره یی زړه یخ شوی و چی په دعاو کی یی غوښته. سونیا په خندا کی دقاسم خبرو ته ځواب ووایه.« زما د جسم او ځان مالکه !....زه له تانه هیڅ ګیله نه لرم. تقدیر زما په اړه دغه ټول هر څه لیکلی دی. ته خو اوس زما محسن یی. زما ژوند دی بدل کړی دی، اوس زه د چا وینځه نه یم. ستا مینه او دا ګوته زما له پاره د ژوندانه لویه تکیه ده. زه به ستا انتظار کوم. کله چی هم ته په ماپسی راشی نو ما به دخپل ځان له پاره منتظره ومومی.

دسونیا دخبرو څخه د قاسم زړه ټکان وخوړ. خو هغه نور څه کولای شول ؟ خپلی اوښکی یی بیرته تیری کړی. دسونیا او قاسم تر منځه دا لیدنه ډیره اوږده وه. کله چی سونیا د قاسم دخولی څخه د سستر میری د تښتولو خبره واوریده نو حیرانه پاته شوه. سمدلاسه یی وویل چی د سستر میری په اړه به د ولاړو ساتونکو څخه معلومات تر لاسه کړي، ډیوډ ته به ،چی ډیر وخت به د شاګال سره یوځای ګرزیده، خامخا په دی اړه څه معلومات وی.قاسم د ډیویډ په اړه لږ څه فکر وکړ اوبیا یی سونیا ته وویل:

«زه نن شپه یوځل بیا ایا صوفیا ته ورځم. نن به زه د ډیویډ سره دکتلو له پاره هملته ورځم. زه به د زوړبطریق دخونی پلټنه هم کوم....سونیا ته له ماسره په دی اړه څه مرسته کولی شی ؟»

دزاړه بطریق دخونی پلټنه، مګر دڅه له پاره ؟....

زه د یوی نقشی په لټون پسی یم.... د مقدسی نقشي لټون.....

« مقدسه نقشه....لیکن هغه خو دبطریق اعظم سره نه شته. هغه دیوه بل چا سره ده ،.... دنقشی په اړه زه تاته ویلی شم چی هغه د بطریق اعظم سره نه شته.»

د سونیا څخه د مقدسی نقشی په اړه خبره اوریدل د قاسم د هیلو په خلاف خبره وه. هغه حیران پاته شوی و اوسترګی یی دحیرانتیا څخه برندی راوتلی وی.« ایا تا ته د مقدسی نقشی په اړه معلومات شته. لیکن څنګه ؟ ددومره مهم څیز په اړه تا څه ډول معلومات تر لاسه کړی دی ؟

سونیا مسکۍ مسکۍ کیده، په مخ یی دغم او مصیبت نښی د ورایه ځلیدی. سونیا په ماته ژبه وویل: « مالکه !.... زه په ډیرو مهمو خبرو باندی پوهیږم. له ما څخه په زیاتو پټو خبرو باندی دلته بل څوک نه پوهیږي. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما د ټولو مهمو خلکو سره دهغوی په بسترو باندی شپې تیری کړی دی ....ستا سره د کتلو مخته به زما هره شپه دکوم بطریق یا حکومتی افسر سره تیریده. همداسی یوه شپه ما د خپل پلار په څیر دزوړ سپه سالار نورټاس په بستره هم تیره کړی ده ،همغی ماته د مقدسی نقشی په اړه هر څه ویلی دی. هغه ډیر شراب څښلی و او ماته یی د نشی په حال کی وویل چی څه ډول یی د بازنطینی سلطنت مقدسه نقشه د شهنشاه د دربار څخه راوړی ده. سپه سالار نورټاس د قسطنطین مخالف دی ، هغه دغه مقدسه نقشه غلا کړه او د ارتودکس کلیسا پخوانی زوړ روحانی مشر « مقدس بطلیموس» ته ورکړی وه. مقدس بطلیموس اوس د دنیاوی ژوند څخه ګوښه شوی دی. او د تیرو شلو کالو راهیسی د «برج غلاطه» په اتم منزل کی د تجرد ژوند تیروي. سپه سالار نورټاس مقدس بطلیموس د ارتوډکس چرچ ساتونکی او محافظ ګنی. اوقسطنطین دخپلی ډلی دښمن. همدا علت و چی هغه مقدسه نقشه د شاهی دربار څخه غلا کړه او هلته په برج غلاطه کی یی مقدس بطلیموس ته ور کړه. دا خبره په نړی کی یوائی سپه سالار نورټاس ، بطلیموس او ستا دی خادمی ته معولومه ده. خو ما په دی اړه هیڅ علاقه نه درلوده چی وپوښتم چی دا مقدس نقشه څه شی دی ؟

سونیا په ډیر تفصیل سره قاسم ته دمقدسی نقشی په اړه معلومات ورکړل. قاسم دحیرانتیانه جامد او ساکت ودرید. دهغه زړه دخوشحالۍ نه الوت. اوپه دی فکر کی و چی د چرچ معمولی خادمی سونیا دهغه له پاره څومره ستر او نادر معلومات وړاندی کړی دی. اوس نو هغه ته دشاګال خبره په یاد راغله. شاګال ورته ویلی وو چی مقدسه نقشه سپه سالار نورټاس غلا کړی ده. شاګال په شک کی و چی قاسم به دا نقشه د نورټاس څخه تر لاسه کړی وی. قاسم خپل ځان ډیر د ښه نصیب خاوند ګاڼه چی د شاګال په څیر د چالاکه انسان څخه یی هم مخته د مقدسی نقشی په اړه معلومات تر لاسه کړل. اوس یی نو اراده وکړه چی همدا نن شپه به د ډیویډ او مقدس بطلیموس دواړو سره وینی ، قاسم د لمر د پریوتو سره سم سونیا دهغه ځایه رخصت کړه اوپخپله هم دپخوانیو بازنطینی کنډرو څخه ووت اودقسطنطنیی په بازار کی پیدل روان شو. هغه لا تر اوسه پوری هم د یونانی سپاهی په کالیو کی ملبس و. اوپه ډیره بی پروایی سره روان و. غوښتل یی خپل ځان د راتلونکی مشن له پاره تیار کړی ، په همدی خاطر د قسطنطنیی د یوی پخوانۍ محلی په لور ولاړ ، په دی محله کی دهغه دوست صلاح الدین اوسیده. صلاح الدین د یوه عرب تاجر په لباس کی د « محمد اول» په زمانی کی په قسطنطنیه کی میشت شوی و، هغه په اصل کی دعثمانی سلطنت خیر غوښتونکی اودهمدی سلطنت جاسوس هم و. قاسم به هم وخت په وخت د شیخ صلاح الدین څخه کار اخست.

قاسم دشیخ صلاح الدین په میلمستون کی ناست و او دهغه د راتلو انتظار یی کاوه کله چی شیخ صلاح الدین راغی اوقاسم یی وکوت نو ډیر په خوشحالۍ سره یی دهغه استقبال وکړ ، هغه دقاسم د نوی مشن له پاره ټول وسایل برابر کړل اودا یی هم ورته وویل چی دهغه په نامه دسلطان محمد خان له اړخه یو پیغام راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«پیغام» قاسم تری په حیرانتیا سره وپوښتل.

« هو ! .... دا پیغام ماته ځو ورځې مخته را رسیدلی دی. خو ماستا درک پیدا نه شو کړی ..... دسلطان پیغام دادی چې کله هم درته فرصت پیدا شي دهغه په خدمت کی حاضر شه.»

«بس ، ایا همدومره خبره وه ؟»

هو !....یواځې همدا خبره وه ..... نور ته دلته ډیر مه تم کیږه. ځکه دښار پولیس په تاپسی ګرځی »

قاسم د شیخ صلاح الدین د کوره ووت او دخپل راتلونکی پلان دعملی کولو له پاره په نامعلومو لارو روان شو .....

******

د ایا صوفیا خادم په خپلی خونی کی ویده و او خراټې یې دلری لری ځخه اوریدل کیدی. قاسم دخپلی توری ځوکه دهغه په سینه ورکیښوده ، هغه سمدلاسه راپورته شو ، لا تراوسه پوری د شپی لمړني برخه وه چی قاسم د ډیویډ په سر باندی سپور شو ،کله چی ډیویډ قاسم وکوت نو غوښتل یی چغه ووهي خواواز یې په ستونی کی ونښت. ځکه دقاسم دتوری تیزه ځوکه دهغه په سینه باندی ایښی وه ،په دی وخت کی قاسم خپلی وینه تویونکی سترګی د ډیویډ په سترګو کی ور ونښلولی او ورته یی وویل:

«ښښه غواړم....ماته دسسټر میري په اړه ووایه. ریښتیا ووایه چی شاګال سسټر میري چیری پټه کړی ده ؟»

د ډیویډ سترګی د ضرورت نه زیاتی خلاصی شوی وی ، دمرګ ویره یی په سر سپره وه ، خوبیا یی هم دمارسي په اړه دځه ویلو ځخه ډډه کوله ....ډیویډ د شاګال خاص سړی واوپه دومره اسانۍ سره دقاسم لاسو ته نه شو راتلای. قاسم د ډیویډ په سینه باندی د خپلی توری ځوکه نوره هم ورزور کړه اوبیا یی تری وپوښتل: «ووایه !او که نه په داسی مرګ به دی ووژنم چی نه به مړکیږی اونه به ژوندی.»

ډیویډ د ویری ځخه لړزیده. رنګ یی الوتی و . قاسم لږه شیبه کی پریکړه وکړه اوبیا دهغه توره په هوا کی پورته شوه او بیرته د ر اخلاصیدو سره سم یی د ډیوید دښی اړخه غوږ پری کړ. د ډیوډ غوږ لاندی پریوت او د توری ځوکه بیرته خپل ځای یعنی د ډیویډ په سینی باندی و نښته. پخوا تر دی چی ډیویډ چغی ووهی د قاسم لاسونو دهغه خوله ور ټپه کړی وه، دقاسم په سر باندی وینه ختلی وه او دهغه فکر د ډیویډ په مرګ باندی نښتی و. اوس نوقاسم یو ځل بیا د وینه تویونکی زمري په څیر و غرید :

«ژر ووایه !شاګال سسټرمیری چیری وړی ده ؟اوکه نه ستا د بدن غړي به یو یو درځخه پری کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم دډیویډ د خولی څخه لاس لری کړ ،اوس نو د ډیویډ همت ځواب ورکاوه. خپل دواړه لاسونه یی یو ځای کړل او د قاسم نه یی د خپل ژوند غوښتنه کوله.

د خدای له پاره ماته څه مه وایه. زه به درته ووایم.....زه به تاته ټول حقیقت ووایم....چی بطریق شاګال سستړ میری چیری وړی ده....بطریق شاګال سستړ میری تورجهاز ته وړی ده. ددی جهاز ټول لرګی تور رنګه دي. دا د بطریق شاګال خپل جهاز دی. دبطریق شاګال جهاز به ډیر لری نه وی تللی. هغه به یا د «دردانیال» په اوبو کی وی او یا به د «مارمورا» په ساحل کی ولاړ وي. دبطریق شاګال سپاهیان ډیر خطرناکه دی، ما به ووژنی.... اوهو! ما خو تاته راز ووایه او خپل مرګ می پخپله واخست....»

ډیویډ دمرګ په اړه عجیبی عجیبی خبری کولی، قاسم د ډیویډ په خبره ډاډمن نه شو نو دمار په څیر ورته وپرشید او ورته یی وویل:

«ته درواغ وایی، دا د جهاز مهاز خبره هسی درواغ دی.»

«نه، د خداوند یسوع مسیح په نامه، زه رینښتیا وایم.... وای له ماسره به څه کیږی، زه خو له هره اړخه دمرګ سره مخ یم....»

ډیوید سخت په ویره کی و، قاسم فکر وکړ چی ولی ډیویډ د ژوند ددی تکلیف څخه نه ازادوي، همغه و چی قاسم خپله توره یوځل بیا پورته کړه او د ډیویډ سر یی د هغه د تن څخه جدا کړ. اوس نو قاسم ته ددی نه زیات ځنډیدل دعقل خبره نه وه. خپله توره یی په نیام کی کینښوده او د ډیویډ دخونی څخه راووت.نن هغه ایاصوفیا ته د چیتر په څیر ور ننوتی و. دډیویډ دکمری څخه د راوتلو وروسته هغه د دیوال ترڅنګ ځنګ روان و، خو دلته په رارسیدو سره یو ځل بیا و درید. سونیا دهغه مخی ته ولاړه وه. خونن قاسم ایاصوفیا ته د سونیا سره دکتلو له پاره نه وراغلی. هغه خو غوښتل ډیویډ ته سزا ورکړی، دهغه سره وخت ډیر کم و. هغه غوښتل چی یوه شپه د غلاطی دبرج کار هم فیصله کړی.دسوینا په کتلو سره هغه پښه نیولی شو او په تیزۍ سره یی ورته وویل:

«سونیا !...ما خو ډیویډ ددی دنیا څخه رخصت کړی دی ،خو ته په دی وخت کی دلته ولی راغلی یی. که چیری څوک دی زما سره ووینی نو بیا به ستا له پاره ژوند ډیر ستونزمن وګرځي.

خو په سونیا دقاسم خبرو هیڅ اغیز ونه کړ. هغه همغسی په خپل ځای ولاړه وه. قاسم مخ ته ورغی او دسونیا تر څنګ ودرید.دهغی سترګو ته یی وکتل او په ډیره نرمه لهجه یی ورته وویل:

سونیا ما له تاسره ژمنه کړی ده ،چی زه به راځم. ته د خپل خدای په دربار کی ماته دعا وکړه .چی ماته په خپل مقصد کی بریا راکړی، په ما باور وکړه. زه به خامخا راځم...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نن د سونیا په سترګو کی بله کومه خبره وه. داسی څرګندیده لکه د زمکی او اسمانونو خالق چی دنړۍ ټول حسرتونه او ناهیلۍ دهغی په سترګو کی را ټولی کړی وی. د سونیا په څیره باندی دغمونو انبار پروت وو. سترګی یی وچی شوی وی اوشونډی یی خاموشه. هغی تر ډیره پوری دقاسم په سترګو کی سترګی ور ننویستی وی ، معلومه نه شوه چی په هغوی کی یی څه کتل. اوبیا یو ناڅاپه دلاری څخه لری شوه او په ډیر متانت سره یی قاسم ته وویل:

« ورځه ، ولاړ شه ، ...په تا ناوخته کیږی.. زه به ستا انتظار کوم.. ته چی کله هم راځی نو زما دغه د حسرتونو ډکی سترګی به منتظری بیامومی... زه هم ورځم.....شاید .... پرما هم ناوخته کیږی....

معلومه نه ده چی د سونیا په لهجی کی کومه داسی خبره وه چی قاسم خپل زړه همدلته پریښود . خو دقاسم سره په حقیقت کی وخت ډیر کم و . هغه د سونیا د غمناکه حالت دکتلو له پاره ددی نه زیات نه شو تم کیدی. همغه و چی قاسم د سونیا په اوږه باندی نرم شانته لاس کیښود او دچیتر په څیر دهغه ځایه ووت.

اوس خو قاسم ته دمارسي په اړه معلومات تر لاسه شوی و،خو دا یی منلی وه چی اوس مارسي یو ځل بیا دهغه څخه لری وړل شوی ده. د شاګال تور جهاز به چیری وی ؟ په سمندر کی د یوه بحری جهاز لټون هم ستونزمن کار و. دبله اړخه قاسم ته دسلطان محمد خان پیغام هم را رسیدلی و . هغه د مارسي څخه ډیر خپل عظیم مقصد ته رسیدل محترم ګڼل. په دی اساس یی هوډ وکړ چی دمقدسی نقشی د ترلاسه کولو سمدلاسه وروسته به دسلطان محمد په دربار کی حاضری ورکوی .اوس نو قاسم ته دښاره دوتلو لاره د ګولډن هارن په لور د ښار ددیوال تر څنګ ، د ښار دستری دروازی څخه تیریده. دقاسم سره د شیخ صلاح الدین له اړخه تیار کړل شوی سامان او وسایل هم و ، هغه په اسپ سپور و او د یویونانی فوځی عسکر لباس یی په ځان و. قاسم ته معلومه وه چی دښار په دروازی کی به تری سخته پوښتنه ګرویزنه کیږی خو په ذهنی توګه دهر ډول حالاتو له پاره تیار و. هغه غوښتل څومره ژر چی شونی وی د سلطان محمد خان لوری ته ځان و رسوی. هغ باید د قسطنطنیی دښاره دشپی په تیاره کی وتلی وای. په همدی وخت کی هغه دښار لویی دروازی ته ورسید ، دروازه بنده وه ، ددروازی دننه یونانی فوځي ډلګیو خپلو ځانو ته اورونه بل کړی و او شاوخوا ته یی ناست و ، خپلی خبری یی کولی او ساعت یی تیراوه. ددی ستری ماڼی دفترونه هم بند وو ، یوازی دساتونکو دډلی قومندان هملته ددروازی تر څنګ دیوه میز تر شاناست و او په پرلپسی توګه یی شراب څښل ، کله چی قاسم دروازی ته ورنژدی شو نو دهغه د اسپ د سومونو په ټکار ټول سپاهیان متوجه شول ، دساتونکو د ډلی قومندان هم خپل شراب یوی خوا ته کیښوول او راپورته شو ، که څه هم د شپی په دی وخت کی دیو شاسوار عسکر دی لوری ته راتلل معمولی خبره وه خو بیا هم دساتونکی ډلی ټول پهره داران و دریدل ، د ساتونکو دډلی قومندان دقاسم دکتلو سره دهغه په لور ورغی او دقاسم دخبرو څخه مخته یی په خپله خبری پیل کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ستا دلباس څخه خو څرګندیږي چې ته د شاهي ساتونکي ډلې عسکر یې خو په دې وخت کې ستا دلته راتلل زمونږ له پاره د حیرانتیا سبب ګرزیدلی دی»

قاسم لا د پخوا څخه همدا ډول فکر کړی و چې هغه به خپل ځان د شاهي ساتونکي ډلې عسکر څرګندوي ، د هغه لباس او خول هم د شاهي ساتونکو د عسکرو په څیر وو . خو اوس د ساتونکو د ډلې د قومندان پوښتنې پخپله د قاسم کار اسانه کړ. قاسم ورته ځواب ورکړ.

« هو ! زه د شاهي ساتونکي ډلې عسکر یم . او د معظم شهنشاه یو مهم پیغام د برج غلاطه تر اتم منزل پورې ، بطریق بطلیموس ته ور رسول غواړم.

قاسم قصدا په خپلې لهجې کې لږ څه کرلیچ راپیدا کړ. ځکه چې د شاهي ډلې ساتونکي په همدې لهجې باندې خبرې کوي. د ساتونکو قومندا ن د قاسم د خبرو د اوریدو نه وروسته ګیچ شانته شو ، ځکه هغه ته حکم شوی و چې دلمر د پریوتو نه وروسته او یا د لمردر اختو نه مخکې هیڅوک د ښار د دروازې نه بیرون تلو اویارا ننوتلو ته پرې نه ږدي. که څه هم د اکس کوم لوی افسر هم وي. خو اوس د شاهي ساتونکي ډلې یو عام عسکر د دروازې د پرانستو خبره کوي. په دې خاطر یې لږ څه په تردد سره قاسم ته وویل:

« ګوره صاحبه ! مونږ د سهار د مخه هیچا ته دروازه نه شو پرانستلی. د سهاره پورې دوه دري ساعته پاته دي ، ته لږ څه دلته زمونږ سره ځنډ وکړه ، د لمر خاته سره سم به تاته دروازه پرانیزو .

قاسم هم د همداسې خبرې هیله درلوده ، سمدلاسه یې د جیب څخه یوه لفافه را وویستله چې په جعلي توګه یې لیکلې وه ، دا اجازت لیک و ، قاسم په دې ډول کارون کې ډیر ماهر وو . هغه د شیخ صلاح الدین سره یو ځای د خپل د غه سفر له پاره ټولې اړتیاوې تیاری کړې وې. ،همغه و چې هغه په شاهي مهر مهرشوی اجازت لیک د ساتونکو قومندان ته وښوده .سالار سخت وویرید . ځکه چې ستر ستر افسران هم کله کله همداسې اجازت لیکونه له ځانه سره لري.سالار سمدلاسه عسکرو ته د کړکۍ د پرانستلو حکم وکړ او پخپله یوې لورې ته ودرید. قاسم هغه شاهي اجازت لیک بیرته په جیب کې کیښود ،په خپل اس باندې ناست و ، سر یې لږ څه ټیټ کړ او د کړکۍ څخه بیرون راووت. اوس نو هغه د قسطنطنیې څخه بیرون راوتلی و او د برج غلاطه په لور ور روان و. ددې برج په لسم منزل کې ستر ستر مشالونه روښانه و. علت یې په سمندر کې په سلګونو میله لرې جهازونو ته لار ښوونه کول وو. برج غلاطه د قسطنطنیې ډیر پخواني برج و . دا برج په ۵۰۷ کال د رومي حکومت له اړخه د « رڼآ د برج» په نامه جوړ کړل شوی و . ددې برج په چاپیریال کې جوړو شوو کورونو ته یې د غلاطې کورنه ویل ، دا ځای قسطنطنیې ته د راتلونکو تجارانو ستر مرکز و. دې برج لس ستر ستر منزلونه درلودل . د غلاطه کلې خاموشه پراته و. قاسم برج ته د ورسیدو سره سم دخپله آسه راکیوت ، او خپل چاپیریال یې په ژوره توګه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو تیر کړ ، ددې برج لاندې منزل سره څنګ کې څو خیمې نصب شوې وې خو په دې خیمو کې چې هر څوک و و هغوی په خواږه خوب ویده وو. قاسم ته همغه وخت دقسطنطنیې په ساتونکې باندې حیرانتیا ښکاره شوه چې دهر خطر څخه بې خبره د شرابو په نشه کې مست ویده وو. کله چې قاسم د برج د لمړي منزل دروازې ته ورسید ، نو دروازه بنده وه. خو قاسم اندیښمن نه شو. دروازه یې و ټکوله ، خو دننه پهره دار هم ویده و. قاسم بیا بیا دروازه و ټکوله اوبیا لږه شیبه وروسته ددننه څخه یو څوک د دروازې لوری ته راغی.

په برج غلاطه باندې د ساتونکو شمیره دومره زیاته نه وه. ځکه دا د رڼا ورکولو ځای و. دلته هیڅ ډول وسله نه وه . دابرج د کشتیو اوبیړیو د لارښوونې له پاره جوړ شوی و ، په دې خاطر دلته د دښمن د راتلو هیله هم نه کیده. ددروازې دپرانستلو سره سم دپهره دار سترګې په قاسم ور ونښتې. هغه سمدلاسه خپل درنښت وکړ ، قاسم ورته په تحکمانه ښه وویل: «ایا ته ویده وې ، ایا تاسې همداسې خپلې دندې تر سره کوئ...؟»

چوکیدار ګونګې شانته شو . څیره یې تکه ژیړه شوه . او پښې یې په ریږدا شوې. هغه داسې وپوهیده چې د شاهي ډلې یو افسر به ورته د خپلې دندې په نه ترسره کولو سزا ورکړي ، هغه لاسونه یو ځای کړل او عذر یې وکړ.

«صاحبه !.... په حقیقت کې مې هسې سترګې ورغلې وې ، اوکه نه ددې نه مخته ویخ ناست وم..»

دقاسم سره وخت کم و . نو په نرمه لهجه یې ورته وویل:

«پخوا ویخ وې....ډیره ښه... نوبیا سهې ده. ته همدلته کینه ، دروازه بنده کړه اوترهغې چې زه بیرته نه یم راستون شوی هیڅ ته هم دروازه خلاصه نه کړې.»

دقاسم د کرچار څخه پهره دار ډیر خوشحاله شو اوسمدلاسه یې دهغه دحکم تعمیل وکړ. قاسم هم مخته ولاړ .اوس نو هغه دغه لس منزله مینار ته ور خوت. دهغه تر مخه یوه ستونزمنه او سخته دنده وه. د برج غلاطه دټولو زینو شمیره ۱۹۲ ته رسیده ، دا زینې لکه د مار په څیر تاوې راتاوې شوې وې ، قاسم اوس په دې زینو باندې پاس ورخوت.دشپې دریمه برخه پیل شوې وه ، دلږ څه ورختلو وروسته یې د درنو بوټانو ټک ټک لکه د مشینداری د ټکار په څیر تر غوږو کیده. قاسم نور پوره ستومانه شوی و . ساه یې تله راتله. خو هغه نه غوښتل چې تم شي، هغه د هیڅ شي پروانه کوله. هغه بلاخره د ۱۹۲ زینو د ختلو وروسته اتم منزل ته ور ورسید . هلته دکوټې تر مخه و درید . غوښتل یې همدلته د کمرې تر مخه لږ څه ساه سمه کړي خو کله یې چې اخرې زینه ووهله نو ویې کتل چې دکمرې مخې ته یو سپین ږیرې معمر شخص مشال په لاس دهغه انتظار کوي. قاسم ته دا حالت دهغه دهیلو پر خلاف معلومیده. دغه سپین ږیرې د قاسم ښه راغلاست وکړ اوپه ډیر حلیم اواز سره یې ورته وویل:

« رازه زویه !...دننه راشه... تا دا زینې په ډیره بیړه سر کړې.... دننه راشه او ساه دې سمه کړه. بیرون هوا یخه ده ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم د یخنی احساس ځکه نه کاوه چی هغه دومره زینی په دومره بیړه سر کړی وی چی ټول وجود یی دخولو څخه لوند شوی و . هغه ددی زاړه سړی خبره هم په حیرانتیا سره واوریده خو باور یی پری ونه کړ .ځکه چی هغه فکر کاوه چی دا به په کوم جال کی د راګیریدو چال وی. قاسم سمدلاسه خپلی توری ته لاس کړ . هغه همدا فکر کاوه چی د زاړه بطلیموس ژوند ته به د پای ټکی ږدی او مقدسه نقشه به تری را اخلی. خو دلته حالات بلکل مختلف وو. په اتم منزل کی پروت بطلیموس د قاسم څخه دکومی پوښتنی پرته هغه ته خپلی کوټی ته د راننوتلو بلنه ورکړی وه. حال دا چی قاسم ته دشپی په دی تیاره کی برج غلاطه ته ور ننوتل پخپله د پوښتنی وړ وو. کله چی زاړه بطلیموس وکتل چی قاسم خپله توره راباسی نو مسکی شو او ورته یی وویل:

« نه زویه ! نه ، ددی د راویستلو اړتیا نه شته....ما خو همستا انتظار کاوه ، یواځی نن نه بلکه د تیرو شلو کالو راهیسی می ستا انتظار کاوه. ما هره شپه همداسی مشال په لاس دروازه پرانستی ، ستا انتظار کاوه. ماته معلومه چی ته به راځی ، یوه ورځ به حتما راځی ...راځه اوس دننه راشه.

قاسم د حیرانتیا نه هک پک و درید . هغه ته داسی معلومه شوه چی بطلیموس پری کوم سحر کړی دی، دقاسم سترګی تیاره شوی. دیوال ته یی تکیه وکړه او و درید. بیا هملته کیناست. زوړ بطلیموس ډیر په ویره کی شو ، ژر یی مشال په دیوال کی نصب کړ او قاسم ته یی تکیه ورکړه. کله چی زاړه بطلیمو قاسم ددواړو اوږو څخه ونیو او پورته یی کړ نو د قاسم سترګی هم روښانه شوی ، سمدلاسه مستعد شو ، قاسم دبطلیموس په تکیه دهغه کوټی ته ورننوت. کوټی کی دننه د تاریک الدنیا بطلیموس یوه زړه بستره په یوه کونج کی ایښی وه .دکوټی په یوه بل کونج کی دلرګی یو زوړ صندوق ایښوول شوی و . هلته یی په یوه لوړ ځای رڼا ایښوول شوی وه چی تر څنګ یی مذهبی کتابونه خواره واره پراته وو. بطلیموس قاسم ته یو ځل بیا وویل:

« زویه ! ډیر ښه شول چی ته راغلی .اوس خو زه ډیر زیات کمزوری شوی یم ما ډیره اوږده موده ستا انتظار وکړ ، له ماسره ستا له پاره یو امانت دی. دا په ډیر امانت سره خپل امیر ته ورسوه ....دا دقسطنطنیی د زرګونو کلونو کونجیګانی دی. ماته یی اوس ساتل ستونزمن شوی و. شکر دی چی ته راغلی ، زه ډاډمن یم چی ستاسی سلطان به قسطنطنیه سوبه کړی ځکه چی ستاسی امیر بهتر امیر دی او ستاسی لښکر تر ټولو غوره او بهتر لښکر دی.

دبطللیموس داخری خبرو د اوریدولو سره دقاسم په سینه کی یو ډول څپی څپانده شوی. دا خو دمبارک حدیث الفاظ دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو چی: « تاسی به ضرور قسطنطنیه سوبه کوئ ، او ددی لشکر امیر به بهترین امیر وی اودا لښکر به بهترین لښکر وی.» ددی خبری داوریدو سره سم په قاسم باندی وجد شانته راغی. هغه ددی زاړه خبری په حیرانتیا سره اوریدلی. د نور په څیر د روښانه څیری دا شخص یقینا چی کوم رسیدلی انسان دی ، دقاسم له پاره دا هر څه د یقین وړ نه وو . داسی وو لکه څوک چی خوب وینی. غوښتل یی څه ووایی خو ژبه یی درنه وه. په دی وخت کی ورته زاړه بطلیموس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زویه فکر مه کوه ....دقسطنطنیی انجام په اسمانو کی لیکل شوی دی ، اوس به په دی ښار باندی خدای تعالی رحمتونه را وورويږ. ته خپل امانت له ځانه سره یوسه او په پوره ډاډ سره د خپل مالک لوری ته ورشه.»

قاسم په دی وخت کی دخبرو کولو جرئت وکړ اوویی ویل:

«مقدسه بزرګه ! ماته دا هرڅه د یقین وړ نه دی. زما زړه خو وایی چی ته د الله تعالی یو غوره شوی شخصیت یی . زه به خپل سلطان ته ستا د امانت په رسولو کی لږ څه ځنډ هم ونه کړم. خو زه دا خبره کول غواړم... »

هو ! زویه ! بی شکه.....ته خپله خبره وکړه.... ته څه ویل غواړي...؟

مقدسه بزرګه ! زه دلته د پخوانیو کونجیګانو پسی نه یم راغلی بلکه د مقدسی نقشی پسی راغلی یم.

د قاسم خبره لا نه وه خلاصه شوی چی هغه زاړه بزرګ ورته په خندا شو او ورته یی وویل:

مقدسه نقشه خو ماته را رسیدلی ده. هغه به هم تاته حواله کړم... خو ته ډیر ځنډ مه کوه سمدلاسه دبیرته ستنیدو له پاره ځان تیار کړه ، خو د تللو تر مخه دی زه د خپلو څو الفاظو لپاره ګواه جوړوم.

دقاسم له پاره ددی مقدس بزرګ هره خبره حیرانونکی وه .هغه ورته پوره غوږ کیښود او دمقدس بزرګ خبرو اوریدو ته چمتو شو . بطلیموس ورته وویل:

« ای زما پروردګاره !..... زه ګواهی ورکوم چی ستا نه پرته بل څوک بل څوک دعبادت وړ نه ګڼم ، او ګواهی ورکوم چی محمد صلی الله علیه وسلم ستا بنده او ستا استازی دی..»

دقاسم سترګی دحیرانتیا څخه پرانستی پاته شوی ځکه چی بطلیموس د توحید کلیمه ویلی وه. اوهمدا دغه دمسلمانیدو له پاره ثبوت و . مقدس بزرګ دتوحید د کلیمی د لوست نه وروسته په ژبه څه ویل. دهغه مخ د قبلی په لور وو. اوسترګی یی بندی شوی وی. ډیره شیبه تیره شوی وه. قاسم په خپل ځای ناست و اوهغه یی کوت. اوبیا پوره ساعت وروسته مقدس بطلیموس خپلی سترګی پرانستی او د قاسم په کتلو سره یی وخندل. قاسم غوښتل څه ووایی. خومقدس بطلیموس هغه ته په شونډو ګوته کیښوده او دخاموشه پاته کیدو حکم یی ورته وکړ. بیا پورته شو او د لرګی دصندوق لوری ته ورغی او دهغی څخه یو دروند سند را پورته کړ او قاسم ته یی ورکړ.

« دا دقسطنطنیی کونجیګانی دی ، د اوه نیم سوه کالو راهیسی داکونجیګانی دیوه حجازی عرب ځوان دراتلو انتظار کوی. دا په همدی صندوق کی ایښی وی ، دا کونجیګانی د روم هرقل دخپلی مړینی نه مخته دی صندوق کی ایښودی وی ، ټول ددی خبری څخه بی خبره وو. ان تر دی چی د قسطنطین شهنشاه هم په دی راز باندی ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیده. په دې کې د ښار د پخوانیو دیوالونو نه علاوه د شاهي محل د نوم ورکو تاخانو کونجیګانې هم پرتې دي. په دې ځایو کې د پخوانیو رومیانو سترې سترې خزانې پرتې دي چې اصلي مالکان یې تاسې او ستاسې لښکر دي.

قاسم په پوره خاموشۍ سره د دې زاړه بطلیموس خبرې اوریدلې. کله یې چې د روم د قیصر خبره واوریده نو ټکان یې وخوړ. دا د روم همغه پادشاه و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته پخپله مکتوب را استولی و. هرقل د ایران د شهنشاه کسری (خسرو پرویز) په مقابل کې د رسالت د دې مکتوب او دهغه د قاصد ډیر درنښت کړی و. په داسې حال کې چې خسرو پرویز دډیر خباثت نه کار اخستی و او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مکتوب یې په ډیره بې باکۍ سره څیرلی و. زاړه بطلیموس اوس د هر قل خبره کوله. قاسم په پوره وجد سره د هغه خبرې اوریدلې. مقدس بطلیموس د زمري په پوستکي باندې جوړه شوې مقدسه نقشه هم قاسم ته ور وسپارله. په دې نقشه کې د قسطنطنیې شاوخوا لارې ، کوڅې ، داوبو لارې او درکونه ټول په ډیره ښه توګه انځور شوي وو. په دې نقشه کې دهغو برجونو او دروازو په اړه هم معلومات درج وو چې په زرګونو کاله پخوا جوړ شوي وو.

د قسطنطین شهنشاه د دیوالو دمرمت کولو کار په پوره احتیاط سره تر سره کاوه. خو په هغې کې ډیر داسې ځایونه تر سترګو کیدل چې د خرابیدو اویا زړښت اثار هم په کې نه تر سترګو کیدل. او دا همغه ځایونه دي چې د بیرون څخه ددرنو تیږو او د دننه څخه دختیو اوخاورو څخه جوړ شوي وو. دوچې لورې ته ، په کوم ځای کې چې د «سینټ رومانس» دروازه ولاړه ده ، د ښار یو دیوال نه و بلکه یو په بل پسې درې دیوالونه په لړ لړ واټن کې جوړ کړل شوي وو. دننه هم دوه ستر ستر دیوالونه جوړ کړل شوي و ، په دوی کې ، په ۱۷۰ فټه فاصلې باندې یو مضبوط برج جوړ کړل شوی و. ددواړو دیوالونو تر منځه شپیته فټه واټن و. د بیرون له اړخه د دیوالونو تر منځه خندقونه کنل شوي و چې د هر خندق ژوروالی تر سلو فټو پورې رسیده. دداسې خندقونو څخه تیریدل د هیڅ فاتح له پاره شونې نه وو. دغه درېواړه دیوالونه نه سوه کاله مخته لمړي شهنشاه « دویم تیوډوسیس» جوړ کړې و. او تر اوسه پورې یې ددښمن د یوشت کلابندیو څخه قسطنطنیه خوندي ساتلې وه. د ټولې قسطنطنې څخه د سترو دیوالونو فاصله نژدې څوارلس میله جوړیده.

په دې مقدسه نقشه کې پخوانۍ بازنطینې ژبه استعمال شوې وه نو په دې خاطر زاړه بطلیموس قاسم ته دنقشې په اړه ټول معلومات ورکړل. قاسم دا نقشه دخپلې سینې سره وتړله. او دپاسه یې پرې فوځي لباس واغوست. دخزانو کونجیګانې یې هم د خپلې ملا سره کلکې وتړلې. اوس نو قاسم د تللو له پاره تیار و. زاړه بطلیموس هغه په ډیره مینه او شفقت سره رخصت کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم په بیړه د غلاطه دبرج څخه راکیوت ،کله چی لاندی منزل ته راغی نو ویی کتل چی سهار راښکاره شوی دی ،کله چی دقاسم اسپ قاسم وکوت نو به شړنهار بی پیل وکړ ، دا سهار و او مرغۍ رابیداری شوی وی اوس نو دقاسم منزل سلطانی لښکر واو دقاسم په لاره کی هیڅ خنډ خنډ نه حسابیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فاتح یلغار

بلاخره د **۱۴۵۳** کال د اپریل په شپږمه سلطان محمد خان د خپلو بهادرو فوځونو سره یو ځای د وچې له لاری د قسطنطنیې د دیوال سره را څرګند شو ، په دی وخت کی دښار ټولی دروازی بندی وی. او د ښار ګڼ شمیر خلک په دیوالونو راپورته شوی وو او دلری څخه یی دسلطانی لښکر د راتلو ننداره کوله.

قاسم د تیرو پنځلسو ورځو راهیسی دهمدی لښکر سره را روان و ،هغه اوس دخپل پخوانی دوست سپه سالار حسن اغا سره په فوځ کی ماموریت تر سره کاوه .د قاسم تر لاس لاندی پخوانیو فوځیانو دقاسم په بیرته راتلو باندی ډیره خوشحالي احساسوله. دا ځل د سلطانی لښکر هر عسکر د فتح یا شهادت شعار له ځانه سره درلود ، د اغا حسن په مخ کی د جهاد ولولی د ورایه څرګندیدلی.

کله چی قاسم سلطان ته ور ورسید نو سلطان د قاسم د استقبال له پاره دخپلی خیمی څخه بیرون راووت. او قاسم یی داسی په غیږ کی و نیولکه د مدو مدو دوستان چی د جدا کیدو وروسته یو بل په غیږ کی نیسی. قاسم سلطان ته خپل ټول فعالیتونه په تفصیل سره بیان کړل او بیا یی ورته دمقدس بطلیموس په اړه راپور ورکړ او مقدسه نقشه یی دهغو کنجیګانو سره یوځای دهغه تر مخ کیښوده چی مقدس بطلیموس ورته ورکړی وه. سلطان د خوشحالۍ نه یو ځل بیا راپورته شو اوقاسم یی په غیږ کی و نیو ، قاسم سلطان ته دنقشی ټول تفصیلات واورول او د ځوارلس میله ستر دیوال کمزوری ځایونه یی ورته په ښنبه کړل ، په هغه ورځ قاسم د سلطان سره پاته شو ان تر دی چی شپه پری هم تیره شوه او مؤذ ن د سهار اذان ووایه. بله ورځ قاسم ولاړ اودخپلی کورنۍ دغړو سره یوځای شو ، دهغه ښځه بی بی حمیرا درضا کارو ښځو مشري په غاړه درلوده ، قاسم دحمیرا ددی کار څخه ډیر زیات خوشحاله شو. دلښکر کوچنی او دنوي عمر رضاکاران هر یو عمر اوعلی هم دخپل جدا شوی پلار په لیدو ډیر خوشحاله وو اوسمدلاسه راغلل اود خپل پلار څخه را چاپیره شول. کله چی قاسم خپل وریرونه وکتل نو سمدلاسه ورته غزاله هم په یاد راغله ، دحمیرا څخه یی دهغی په اړه وپوښتل « حمیراجانی !....غزاله دی په «اورنه » کی چاته پریښی ده .؟» حمیرا ورته وخندل او په شرارتی توګه یی ورته وویل « ستا څه فکر دی چی زمونږ لور به هلته په « اورنه» کی دچاسره پاته شوی وی ؟»

دحمیرا پلټونکی لهجی قاسم په فکر کی واچوو . هغه حیران پاته و چی اخر هغه شپږ کلنه کوچنۍ نجلۍ به زمونږ پرځای د چا سره ډیره خوشحاله وی... زه به درته ووایم چی غزاله چیری ده ..؟ .... هغه د غم ځپلی ملکی اود معظم سلطان ددویمی ښځی ملکه سروین په ځانګړی پالنه کی ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم دسینی څخه یو اوږود اوسیلی راووت. اوورته دا یاد شول چی د مرحوم سلطان ځوانی ښځی ملکه سروین چی اوس خو د تتاج خاونده ملکه نه ده خو په سلطانی قصر کی میشت وه ،په ریښتیا هم یوه زړه سوانده او غمځپلی ښځه وه. ځکه چی په همغه ورځ چی سلطان محمد د تاج دپه سرولو وخت و ملکه سروین دخپل تي خوړونکی ماشوم زوی څخه بی برخی شوه ، دهغه زوی یوه ظالم سالار وژلی وو ... قاسم په دی ډیر زیات خوشحاله شو چی دهغی لور دملکی سروین تر روزنی لاندی ده .... هغه ډاډمن شو .قاسم ورغی اودخپل ورور طاهر سره یی وکتل ، بیا دواړو ورونو تر ډیره پوری په خپلو منځو کی د نظریاتوبدلون رابدلون وکړ ، د زاړه عباس لور مریم هم چی اوس د طاهر ښځه وه په رضاکارو ښځو کی شامله شوی وه، بیا قاسم ولاړ او د اهنګر «اربان» سره یی وکتل ، دا همغه شخص و چی په اورنه کی یی د ټولو تر مخه د قاسم سره اړیکی ټینګ ګړی وو. د تیرو پنځلسو ورځو راهیسی قاسم دلښکر سره یو ځای را روان و. اونن د ۱۴۵۳ کال د اپریل په شپږمه د سلطان دلښکر سره یو ځای قسطنطنیی ته مخامخ را ورسید.

د بله اړخه ، هغه وخت چی دامیرالبحر بلوط اغلن جنګی جهازونه ابنای فاسفورس ته ورسیدل نودهغوی د استقبال له پاره زوړ عباس دخپلو ملګرو او جهازونو سره یو ځای موجود وو. بلوط اغلن د راتلو سره سم د نارمن بحری جهازونه تر ډیره پوری شاته و تمبول. او په ټوله ابنایی فاسفورس باندی یی ولکه وکړه. اوس نو د ښار په شاتنی سمندری اوبو باندی هم سلطاني بحریی خپله ولکه پوره کړی وه. اروپایی جهازونو ابنای فاسفورس خالی کړ او د مارمورا د بحر په لور و تښتیدل. اوس نو درومیانو له پاره یوائی ددانیال دره پرانستی وه او هغه هم په هغه وخت کی چی دعثمانی بحری بیړۍ کشتۍ په اوبو کی لا په ګشت نه وی مصروف شوی. خو په ګولډن هارن کی ستر وسله وړونکی مسیحی جهازونه تر اوسه پوری موجود وو. د رومی بحریی جهازونو به ټوله ورځ د عثمانی بحریی د جهازونو سره سپک ټکرونه کول. هغوی به کله کله د مارمورا دبحر څخه ابنا ته داخلیدل او عثمانی بحریی ته به یی زیان رساوه او بیا به بیرته تښتیدل.

د ګولډن هارن افسرانو به هم وخت په وخت د عثمانی بحریی سره لاس پنجه اچوله. ددی نه داسی معلومیده چی دقسطنطنی په چاپیریال کی د بحریی ځواکونو تر منځ اصولی جنګ پیل شوی و. دقسطنطنیی په دریم اړخ کی چی ګولډن هارن پروت و لا تر اوسه پوری خاموشي وه.

سلطان خپله شاهی خیمه د ښار مخی ته ، بلکل دسینټ رومانس ددروازی مخامخ نصب کړه. سلطان لښکر ته د پړاو کولو حکم وکړ او دقسطنطنیی کلابندی یی پیل کړه. تر څنګ یی سپاهیانو ته د خیمو د نصبولو حکم وکړ اوپه خپله په خپل سپین اس سپور شو او د قسطنطنیی د دیوالونو د جاج اخستو له پاره یی اوږود چکر وواهه. دسلطان سره په دی دوره کی دهغه نوموړي سپه سالاران ښی او چپ لوری ته موجود وو. هغه د کلابندۍ مختلف حالات تر کتنی لاندی راوړل ، هغه خپل میړنی فوځیان په ځای ځای کی و ټاکل اوپخپله یی د دیوال دکمزورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو په لور دتوپونو دنصبولو حکم وکړ. همدا راز یې د بیل لرونکو سردار را وباله او هغه ته یې د سرنګونو او لارو د جوړولو حکم وکړ. بیل لرونکو د سلطان دحکم سره سم د انځیرو ونې را وغورځولې او او سرنګونو په جوړولو یې پیل وکړ. دوی یو ډول ساباط هم جوړول چې دهغه شاته به سپاهیان پټیدل اودښار مهمو ځایو ته به یې ځانونه رسول. دغو ساباطونو به سپاهیان د غشو او تیږو د ویشتلو څخه هم خوندي ساتل. سپاهیانو به د همدې په کومک سره د ښار په دیوالونو باندې غشي ویشتل.

سلطاني لښکر خیمې ووهلې ، شپږم اپریل و. دسهار څخه تر ماښامه پورې ټول عیسویان دښار په دیوالونو باندې سپاره و او دعثماني لښکر حالات یې کتل ، د ښار دننه قسطنطین دخپلو سرتیرو په جنګي تمرینو کې مصروف و ، د جینوا سپه سالار جان جستیماني او دقسطنطنیې سپه سالار ډیوک نوټارس د ښار د ستری دروازې څخه ووتل اود جنګ په تیاریو کې مصروف شول. اوبیا په همدې ورځ د ترکانو او رومیانو تر منځ داسمان سترګو دهلال اوصلیب د جنګ نظاره پیل کړه ،سلطان د پړاو په وخت کې دخپلې ورتیا ثبوت ورکړ اومحاصرینو په ډیره بیړه خپله دمحاصرې کړۍ راتنګه کړه یعنې دديوالونو څنګو ته یې ځانونه ور ورسول. منجنیقان او توپونه یې په مناسبو ځایو کې نصب کړل او د بارودو سره یو ځای یې دتیږو باران پیل کړ.

دقسطنطنیې په داخل کې د پنځم پوپ جان نکلسن نائب کارډینل اسیډرو هم موجود و. دکلابندۍ د پیل کیدو سره سم کارډینل اسیډرو او بطریق اعظم دعیسویانو دمذهبي جذبې د راپاریدو هڅې پیل کړې ، هغوی به خلکو ته د جنګ په لور دترغیب او د شهادت فضایل بیانول ، ټولو سترو سترو پادریانو او بشپانو به و عظونه او نصیحتونه کول. کارډینل اسیډرو په خپله دسپاهیانو لباس وا غوست او د ډیرو ښو عسکرو کمان یې په خپل لاس کې واخست. د ټولو عسکرو او سپه سالارنو څارنه د شهنشاه په لاسو کې وه. د اپریل په اومه د سینټ رومانس ددروازې شاته جان جستیماني دخپلې اوسپنیزې ډلې دسپرو سره یو ځای ددروازې څخه بیرون راووتلو ته تیار ولاړوو. د لمر د راختو په وخت کې د جنګ دپیلامې له پاره ناکراره عیسوي عسکر دسینټ رومانس دروازه پرانسته او د توپان په څیر تري بیرون راووتل. د راوتلو سره سم دهغوی روزل شوو عسکرو خپل ځانونه منظم کړ ل، او خپل صفونه یې جوړ کړل. دوی په مسلمانانو باندې دحملې کولو له پاره ناکراره و و. دعیسوي لښکرو د راوتلو سره سم د سینټ رومانس دروازه دهغوی تر شا بیرته وتړل شوه اوس نو هغوی د سلطان دلښکرو په مقابل کې په سپین میدان ولاړ وو. مسلمانانو هم خپل فوځ منظم کړ خو پخوا تر دې چې په یوه بل باندې ورپریوځي ،په فوځونو کې د یني چري د فوځ یو بهادر رامخته شو ، دمیدان منځته راغی ، اوعیسویانو ته یې دمبارزی بلنه ورکړه. دهغه دمقابلې له پاره یو عیسوي ځوان میدان ته راغی ، یو بل ته مخامخ شول ، مسلمان سپاهي عبدالله دخپل دښمن منتظر و. دراتلو سره سم یې خپل مخالف سره ټکر پیل کړ ، د اوسپنو ټکر پیل شو ، دواړو عسکرو خپلې خپلې نعرې وهلې ، د عسکرو نه علاوه په دیوالو باندې ناستو خلکو هم د جنګ دا نظاره د ورایه کتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو ځوانانو یو د بله سره تر ډیره پوری ټکر وکړ خو بلاخره عبدالله د ټکر د پای ته رسولو پریکړه وکړه ،خپلی حملی یی تیزی کړی او رومی عسکر ته یی دخپل ځان ځخه دفاع کول ستونزمن کړل په دی اساس هغه وتښتید . دهغه آس د خپل لښکر په لور په منډه ولاړ. دمبارزی دغه لړی تر ډیره پوری پاته نه شوه ، ځکه ددواړو خواو عسکرو خپلی خپلی نعری وهلی اویو دبل په خلاف په جنګ کی مصروف شول ، د ښار ددیوالونو څخه دخلکو شور وزوږ راپورته کیده ، عیسوی نجونو به دخپلو فوځونو د ګرمولو له پاره په هغوی اوازونه کول. په همدی وخت کی بهادر جسټیمانی پخپله راووت او د مسلمانانو د لښکر په قلب یی حمله وکړه ، هغه دینی چری بهادر فوځیان تتر بتر کړل او د عثمانی بیرغ په لور ور مخته شو. د جسټیمانی توره د برق په څیر ځلیده اودهغه یو یو ګذار د عثمانی عسکرو له پاره د هغه میړانه اوبهادری ښووله .سلطان په خپله په یوی غونډۍ ولاړ و او د جسټیمانی بهادری یی کتله. دسلطان په مخ باندی د جسټیمانی ددی بهادرۍ له پاره د تحسین اوخوښۍ نه ډک جذبات وو.

دقلب په کمزورتیا باندی دنظر پریوتو سره سم اغا حسن خپل خپاره فوځیان بیرته سره را ټول کړل تر څو د جسټیمانی په مقابل کی و دریږی. دواړه لښکری تر دوو ساعتو پوری یو دبل سره نښتی وی ، او بیا عیسوی فوځونه د پخوا څخه د جوړ کړل شوی پلان په مطابق شاته و تمبیدل. اودسترګو په رپ کی یی دجنګ میدان خالی کړ. دښار دروازی دخپلو سپاهیانو له پاره پرانستل شوی اوښاریانو دخپلو بهادرو فوځیانو په غاړو کی دګولو هارونه واچول. کله چی ټول عیسوي لښکر ښار ته ننوت نو د سینټ رومانس دروازه بیرته و تړل شوه اورومیان کلابند شول. دقسطنطین قیصر په خپله د دیوال په یوه برج باندی موجود وو. ددیوال نه مخته یو اوږود خندق کندل شوی و اوهغه یی د اوبو څخه ډک کړی و.

دسلطان محمدخان فوځونو د اربان په لاسو د جوړو شوو توپونو په واسطه د ښار په دیوالونو باندی دګولیو ویشتل پیل کړل ، داربان ستر توپ چی ددی جنګ دناوی حیثیت یی درلود د سینټ رومانس مخامخ نصب کړل شوی و .ددی توپ هره ګولۍ دیرش انچه قطر درلود. اربان پخپله ددی توپ دویشتلو دنده درلوده. دبله اړخه د سلطان پیاده فوځ د ساباطونو په کومک سره خپل ځانونه دیوالونو ته ور رسول. خو دخندق په موجودیت کی هغوی نه توانیدل دیوالونه ته ور ورسیږی. په دی وخت کی ددیوالونو د پاسه نصب شوی عیسوی توپونو په مسلمانانو باندی دنیا سور اور ګرځولی وه. سلطان محمد خان پخپله ټوله ورځ د فوځ قوماندانی کوله ،دسهار نه تر ماښامه پوری د اس په شا ناست و اویوی لوری بلی ته یی ځغلاوه.

دلمر د پریوتو سره سم ددواړو خواو څخه جنګ بند شو ، دټولی ورځ جنګ ستومانه کړی عسکر بیرته خپلو خپلو ځایوته راغلل. خو هغوی دخپلو ځانو څخه د وسلی د لری کولو پرته بسترو ته ځانونه ورسول. په دی ورځ چی مسلمانو سپاهیانو دښار دیوالو ته د ورسیدو څومره هلی ځلی کړی وی ټولی ناکامه وی. په همدی خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان محمد خان دمشاورت غونډه را وبلله ،اود خندق څخه د تیریدو مشوره یی تری واخسته. بله ورځ سهار وختی مسلمانانو خندق ځای ځای د ډبرو اوخاورو څخه ډک کړ ، دا دښار نه بیرون خندق و اودومره ژورتیا یی نه درلوده . تر غرمی پوری یی خندق په مختلفو ځانو کی وویشه او دتیریدو لاری یی راپیدا کړی ، په دی توګه عثمانی لښکر د ښار تر دیوالونو پوری ورسید. خو ددیوالو دپاسه یی زور نه رسیده . ځکه دپاسه به عیسویانو په غوړو کی مالوچ لمدول اوبیا به یی اور ورته کاوه او په مسلمانانو به یی راشیندل. دغی کار ترکانو ته ډیر زیان ور رساوه . په دی خاطر عثمانی فوځونه مجبور شول تر څو د دیوالونو څخه بیرته شاته شي. دا ورځ هم بی نیله اوبی مرامه تیره شوه.

بله ورځ هم په جوش او جذبی باندی ملبس عیسویانو مسلمانان هیڅ کار ته پری نه ښوول.

اوس نو سلطان یو بل پلان جوړ کړ. هغه د لرګیو مضبوطی تختی یوځای کړی او دهغوی څخه یی ستر ستر مینارونه جوړ کړل. ددی لوړوالی د ښار دديوالو په اندازه و ، د لرګیو ددی مینارونو په سرونو کی یی پاتخی ونښلولی او ورلاندی یی ورته عربی نصب کړی تر څو په اسانۍ سره حرکت وکولی شي. سلطان خپلو بهادرو سپاهیانو ته حکم وکړ چی دا مینارونه دیوالو ته نژدی یوسی اوهلته یی پاتخی د دیوالو سره یوځای کړي په دی توګه به دوی ته د خندق څخه یوپل جوړ کړل شي. ددی ټول کار مسؤلیت اغا حسن په خپله په غاړه واخست ، هغه خپل مینار ان تر دیوال پوری ورساوه او هلته یی د دیوال سره ونښلاوه خو کلابندو عیسوي عسکرو هم پوره وړتیا وښوده ، هغوی دغه مینارونه په سور کی وسځول او په دی توګه عثمانی لښکر د ډیر زیات ځانی او مالی تاوان نه وروسته بیرته شاته راغی. اوپه دی توګه ددی مینارون په واسطه د ښار د نیولو دا ترکیب ناکام شو.

نن د جنګ دپیلامی اوومه ورځ وه ، قاسم بن هشام د څو ورځو راهیسی په لښکر کی نه لیدل کیده. نن چی کله د ټولی ورځی دکاروایی دکتلو وروسته ستړی ستومانه سلطان خپلی خیمی ته بیرته راستون شونو قاسم بن هشام یی منتظر وموند. قاسم هم ډیر ستومانه معلومیده . داسی څرګندیده لکه دکوم ډیر مهم کار څخه چی راستون شوی وی...قاسم ستومانه سلطان ته یو خوشحالونکی خبر ورکړ او ورته یی وویل:

« درونده سلطانه ! زه ستا دحکم په مطابق د تیرو پنځو ورځو څخه په ښار کی وم ، ماته دخپلو سرچینو څخه دا خبر تر لاسه شوی دی چی د نن څخه دوه ورځی وروسته یعنی د اپریل په ۱۵ مه د جینوا نهه ستر جهازونه غله او بارود قسطنطنیی ته را وړي. دوی به د ابنای فاسفورس څخه دجنګ په واسطه را تیریږي او د ګولډن هارن بندګاه ته به ځانونه رسوي.

سلطان دخپل ماهر اوپوه ملګری ددی خبر په اوریدو سره دخوشحالیو نه په کالیو کی نه ځایده. هغه خپل امیر البحر ته سمدلاسه پیغام ولیږه چی هغوی دی هڅه وکړی چی هغه جهازونه سهي او سلامت ونیسي اوبیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلسم داپریل همغسی وشول چی قاسم یی اطلاع ورکړی وه ، د جینوا څلور جهازونه د غلی او بارودو نه ډک ابنایی فاسفورس ته راورسیدل. دا جهازونه د عثمانی جهازونو په نسبت ډیر غټ او ستر وو. امیر البحر اغلن بلوط هڅه وکړه دا جهازونه تم کړی خو د جینوا دجهازونو ملاحان د شهادت د جذبی نه ډک وو. هغوی د ترکی جهازونو کتار مات کړ او بیرون تری راووتل. او ګولډن هارن ته ور ننوتل اوښاریانو ته یی دا ارزښتناکه هدیه په بري سره ور ورسوله.

سلطان ته چی کله دامیرالبحر بلوط اغلن دناکامۍ خبر ورغی نو ډیر په غصه شو، دهمدی غصی په حال کی پورته شو اوپه خپل اس سپور شو اوپخپله د سمندر لوری ته ولاړ. په بری سره دجینوا د جهازونو تیریدل او ګولډن هارن ته ور رسیدل د ښاریانو په زړنو کی نوی روح راتازه کړی و. عوامو ته دا خبر هم ورسید چی تر اوسه پوری د جینوا پنځه نور جهازونه هم په مارمورا بحر کی موجود دی چی لږه شیبه وروسته به ابنای فاسفورس ته راننوځی. خلکو ددی جهازونو د لیدلو له پار ددیوالونو سرونو ته منډی کړی او ډیره ګڼه ګوڼه هلته سره راټول شول ترڅو د جهازونو دراتیریدو نظاره وکړي ، سلطان په خپل آس سپور و اوخپل امیر البحر ته یی سخت احکام ور لیږل. هغه ورته ولیکل چی دغه پاته پنځه جهازونه په هیڅ قمیت پری نږدی چی د ابنای فاسفورس څخه ور تیر شی.

په زرګونو سترګی د سمندر په لورمرکوزی وی ،خلکو وکتل چی کله چی دجینوا جهازونه سمندر ته را ننوتل نوعثمانی بحریی په ډیر زور وشور سره په هغوی حملی پیل کړی ، دهغوی اوږود قطار یی مات کړ اوهغه ټول په یوه ځای کی مخکی وروسته اویا یو دبل سره یوځای و دریدل. عثماني بحریی دڅلورو خواو څخه دا جهازونه کلابند کړل او اوسپنه او اور یی پری ور خوشي کړل. کله چی عثماني جهازونو په پوره توګه د جینوا جهازونه تر خپل کنترول لاندی راوستل نوبلوط اغلن خپل جهازونه د مسیحی جهازونو سره یو ځای کړل ، د مسلمانو مجاهدینو دا غوښتنه وه چی هغوی دی په دی جهازونو باندی سپاره شي اودهغوی ملاحان دی یا ووژني اویا دی یی و نیسی. خو د جینوا جهازونه دومره ستر او لوړ وو چی عثمانی سپاهیان دخپلو ټیټواو کمزورو جهازونو په واسطه هغوی ته ور ونه ختلای شول.

په پیل کی ، هغه وخت چی عثماني جهازونو عیسوی بیړۍ په خپلی کلابندۍ کی راوستی نو لیدونکو سترګو ته دا یقین تر لاسه شوی و چی دا ستر پنځه جهازونه به خامخا ونیول شي. خو بیا یو نا څاپه د ښار د دیوالو څخه هغه وخت شور و غوغا راپورته شوه چی کلابند شوو جهازونو د ترکانو محاصره ماته کړه اوپه ډیره بیړه د ګولډن هارن بندرګاه ته را ورسیدل. سلطان محمد خان دخپلی بحریی دا ناکامی په خپلو سترګو کتله. او ډیر غمګین و. کله چی عیسوی جهازونه د ولکی څخه ووتل نو سلطان زغم له لاسه ورکړ اوسمدلاسه یی خپل آس په اوبو کی ور کیوست. ټوله فضا د قسطنطنیی دخلکو خوشحالۍ ډکه کړی وه ، د جینوا د جهازونو دا فتح د اخلاقی اړخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلابند شوو خلکو باندی ډیر مثبت اغیز درلود. سلطان د ډیری غصی په حال کی خپل امیر البحر را وباله ، او د ډیری غصی څخه یی په هغه لاس پورته کړ. خو په دی کی دامیر البحر کومه ګناه نه وه. هغه خو دخپلو کوچنیو جهازونو په واسطه د عیسویانو غول پیکره جهازونه کلابند کړی وو. خو د مسلمانانو له پاره هغو جهازونه ته ورختل شونی نه و. خوبیا هم دسلطان دقهر په واسطه امیر البحر نور هم مستعد شو ، ددی نه وروسته هیڅ جهاز دا جرئت نه کاوه چی د ابنایی فاسفورس څخه تیر شي او دمارمورا په بحیره کی ور داخل شي. په دی جهازونو کی چی کوم کومک را غلی و هغه د قسطنطنیی له پاره اول او اخری کومک و. سلطان دکلابندۍ کار په ډیره ښه توګه تر سره کړ. بیا بیا یی حملی وکړی ، بیا بیا یی ناکامی په برخه شوه اوهر څه بی نتیجی پاته شول. د کلابند شوو حوصلی نوری هم لوړی شوی ، هغوی ته د سامانو نو له پلوه هیڅ تکلیف نه و ،هغوی دکلونو کلونو له پاره دکلابندۍ تابیا کړی وه. هغوی دا هیله درلوده چی د هنګری پادشاه « هونیاډی» به خپله ژمنه ماته کړی او د شمال له لوری به حمله وکړی اود قسطنطنیی کلابندی به پای ته ورسوی.

که په دی حالاتو کی دسلطان محمد خان په ځای بل هر څوک وی نو خامخا به یی دا کلابندي پای ته رسولی وی او په خپله لاره به تللی. خو سلطان په خپله اراده کی کلک او په خپل عزم کی راسخ و.دهغه په عزم او استقلال کی هیڅ کمښت نه و اودهغه ارادی د هری ناکامي وروسته نوری هم کلکیدی.

هغه وخت چی سلطان محمد خان د اورنه څخه سفر پیلاوه. نودخپل ځان سره یی د علماو ، فضلاو اوعابدانو یوه ډله هم راوړی وه ، هغه به دهمدی خلکو د خبرو څخه ګټمن کیده. درویش صفته سلطان مرادخان ثانی دخپل ژوند په اخري شپږو کلنو کی سلطان محمد خان د «ایدین » دعلماو محفل ته لیږلی و. دهمدی نیکو خلکو د صحبت څخه دهغه په عزم اواستقلال کی لوړوالی راپیدا شوی و. هغه به د محاصری په دوران کی هم ددی خلکوسره مشوری کولی ، دخپلی لمړنۍ بحری ماتی وروسته د کلابندۍ د لا زیاتی سختیدو له پاره یی یوه ورځ داسی تاریخی فکر په سر کی و ګرزید چی سلطان محمد خان یی د تل له پاره په «سلطان محمد خان فاتح» باندی بدل کړ.

سلطان محمد خان ته دا ډاګیزه شوی وه چی د ابنای فاسفورس دغی برخی کی ،چیری چی اوبه ډیری ژوری دی ، ترکی بیړه په مشکله توګه په عیسوي بیړۍ باندی بریالۍ کیدی شي. په دی خاطر یی پریکړه وکړه چی یو زیات شمیر کشتۍ او ګڼ شمیر بحری جهازونه چی د عیسوی جهازونو څخه کوچنی دی دبندرګاه پاسنۍ برخی ته منتقل کړي. په دی ځآی کی اوبه تنګی دی ، او یونانی ستر جهازونه هم دلته نه دی بریالی شوی ،دبندرګاه پورتنی برخه ګولډن هارن پوری رسیږی او ګولډن هارن ته هیڅ ډول زیان نه رسیږی. د کلابندۍ ټول زور د وچی په لور مصرفیږی. په ځانګړی توګه د سینټ رومانس د دروازی په لور دکلا د سوبی ټول سامان اووسایل را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولیږي. په دی خاطر دقسطنطنیی خلک دنور خوا و څخه بی فکر اوسي او په همدی یوی لوری خپل دفاعی ځواک مصرفوي.

سلطان فکر وکړ چی که چیری دګولډن هارن له لوری که په ښار باندی حمله وکړل شی نو درومی فوځونو توجه به سره وویشل شی اوپه دی توګه مونږ ته هم ددیوال ماتول اوښار ته ننوتل اسانه شي ،خو دسمندر له لوری حمله هغه وخت شونی ده چی په ګولډ ن هارن کی اوسپنیز زنځیر نه وای ، اوهلته جهازونه ور ننوتلی شوای. په همدی وخت کی سلطان دخپل ذهانت او استقلال څخه کار واخیست اویو نمونه ی هوډ یی وکړ. دسلطان دغه وړاندیز اغاحسن ، احمدکدک پاشاه ، اومحمودپاشا په څیر پوه او تجربه لرونکی سپه سالاران هم حیران پاته کړل. سلطان د یوه ناشونی کار د شونی کولو هڅی کولی.

سلطان وویل چی د ابنای فاسفورس په زورو اوبو کی خپل ټول جهازونه ګولډن هارن ته ور ننباسي. خو دوی ته به په اوبو کی د تللو په ځای د وچی د لاری تلل په کار وي ، ددی کار له پاره هغه یو ډیر عجیب اوغریب وړاندیز وکړ. دغه وړاندیز د نړی په تاریخ کی ساری نه لری. هغه پریکړه وکړه چی ګولډن هارن ته دجهازونو د ورسولو له پاره به لس میله واټن په وچی وهل کیږی. ددی له پاره د ابنای فاسفورس دغربی ساحل څخه جنګی جهازونو وچی ته راوړل کیږی اوبیا به دغه جهازونه د یوی سختی غرنۍ او تیږلوړه لاری نه دګولډن هارن شمالی غاړی ته رسول کیږی او هملته به په ګولډن هارن کی ځای په ځای کیږی. د وچی دا لاره نژدی لس میله واټن درلود. سلطان دروان کال د جمادي الاول څوارلسمه شپه چی په پوره توګه دسپوږمۍ په رڼا باندی روښانه وی و ټاکله. هغه حکم وکړ چی ان تر ګولډن هارن پوری د لرګیو تختی و غوړوی. دا د سلطان یو عجیب وړاندیز اودهغه محیرالعقوله تجربه وه. سلطان ددی کار د پای ته رسولو له پاره همدا یوه شپه ټاکلی وه ، دهغه دحکم سره سم په دغه لس میله واټن کی دلرګیو تختی و غوړول شوی ، ددی تختیو دپاسه یی غوړی واچول. د دغوړوالی په واسطه دا تختۍ پخپله یو سمندر وګرزید.

دښار ددیوالونو څخه ټوله ورځ سیل کونکو د سلطان عسکر کتل چی د لرګی تختۍ غوړوی او یو ځای کوی یی. خو هغوی حیران و چی اخر مسلمانان ددی څخه څه ډول کار اخستل غواړی؟ دشپی درا ختلو سره سم مسلمانو سپاهیانو خپلی ۸۰ جنګی کشتۍ اوجهازونه را ښکودل او د لرګیو په تختیو یی ور وخیژول ، کله چی ددی اتیاو جهازونو ټرین په تختیو باندی سپور کړل شو نو په زرګونو عسکرو هغوی ټیله کولی. په دی شپه دهوا څپو هم دمسلمانو عسکرو سره پوره مرسته کوله ، په دی اساس د جهازونو ملاحانو بادبانونه پرانستل. د جهازونو ددی ټرین د پر مخ بوتلو له پاره دانسانانو نه علاوه حیواناتو هم خپله ونده تر سره کوله. لاره اوږده او ډیره سخته وه ، دسپوږمۍ رڼا هری لوری ته خپلی وړانګی غوړولی وی ، په دی سپوږمیزه شپه کی هری لوری ته شور ماشور ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوشحالۍ ناری او فوځی سندری په دیوالو ناستو عیسوی عسکرو اوریدی. او په دی سوچ اوفکر کی حیران و چی اخر مسلمانانو دکوم کار له پاره ملاتړلی ده.

پخپله قسطنطین هم دیوال ته راغی او دمسلمانانو ددی کار نظاره یی وکړه ، هغه دعثمانی فوځ د باجو غږ اوریده. خو ددی نه زیات په نور څه نه پوهیده. خومسلمانانو خوشحالی کوله. ټوله شپه دغو اتیا جهازونو سفر وکړ او دقسطنطنیی عیسویان تر اخری وخته پوری هم هیڅ و نه پوهیدل ، بلاخره د سهار رڼا د دی ستر راز څخه پرده پورته کړه ،په دی وخت کی دسلطان لښکر اتیا جهازونه او درنه توپخانه په ګولډن هارن کی ځای په ځای شوی وه.

کله چی دقسطنطنیی خلکو د سلطان دلښکر اتیا وسلوال جهازونه اودرنه توپخانه په ګولډن هارن کی وکتله نو دښاریانو ساه ګانی و دریدی....دا څه شوی دی ؟...دوی خو یا ناشونی خبره شونی کړی ده.... دقسطنطنیی خلکو په خپلو سترګو باور نه کاوه ، هغوی دا هم وکتل چی عثمانی فوځونو د دیوال تر څنګ یو پل هم درولی دی اوخپل توپونه یی په مناسبو ځایو کی نصب کړی او ددیوال دی لوری ته یی د ګولیو د ورولو له پاره هم ځانونه تیار کړی دی. عیسویان ډیر وارخطا شوی و ، د قسطنطین څومره جهازونه چی په ګولډن هارن کی موجود و ، هغوی ټول د زنځیر تر څنګ په یوه لیکه کی ولاړ و ترڅو پردی جهازونه دننه را داخل نه شي.کله چی دقسطنطین جهازونو دعثمانی بحری بیړۍ جهازونه په ګولډن هارن کی وکتل نوپرهغوی دحملی کولو له پاره رامخته شول. خو سلطان محمد خان د بندرګاه دواړو غاړو ته خپله توپخانه نصب کړی وه. عثمانی توپخانی په عیسوی جهازونو باندی ګوله باری پیل کړه او هر جهاز به چی مخی ته راته نو هغه به یی دهمدی ګولیو په واسطه په اوبو کی غرقاوه. د اربان توپونو سخته ګوله باری کوله اوهر لوری یی ګولۍ ویشتلی. دا د جنګ هغه اساس نقطه وه چی توپونو په کی ډیر بنسټیز اوپریکنده رول و لوبوو. په دی توګه د سمندر له لوری دحملی په واسطه عیسویان محبور شول چی خپل فوځ ځواک سره وویشي. دګولډن هارن اوبه ډیری ژوری نه وی. په دی اساس عثمانی جهازونو په ډیره اسانۍ سره هغه استعمالولی. سلطان په ګولډن هارن باندی دیوه پل د جوړولو حکم وکړ اوپه دی توګه یی دښار شمالی دیوال هم د سختی کلابندۍ لاندی راوست ړ.

اوس نود **۱۴۵۳** کال د مئ دمیاشتی څلور ویشتمه ورځ وه. په همدی ورځ قسطنطین سلطان ته پیغام ولیږه: « ته چی پرما څومره خراج ټاکل غواړی زه یی ورکړی ته تیار یم. ما خپل باجګذار وګرزوه اوقسطنطنیه ماته پریږده»

خو اوس سلطان په دی ډاډمن شوی و چی هغه به ښار سوبه کوی. په دی خاطر یی قسطنطین ته ځواب ولیږه چی: « که چیری ته اطاعت قبلوی نوتاته به دیونان جنوبی برخه درکړل شي خو زه به په اسلامی دولت کی دقسطنطنیی د یوځای کیدو پرته بیرته ستون نه شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان په دی پوهیده چی ترهغی چی دقسطنطنی عیسوی سلطنت چی دعثمانی سلطنت تر منځ خنډ گرزیدلی دی ، په خپل ځای پاته وی نو په گوانښونو او خطرونو کی به کوم کمښت نه راځی. هغه دقسطنطین اودهغه څخه د پخوانیو قیصرانو د شرارت څخه پوره خبر و . او بیا خو اوس د قسطنطنیی په سوبه کی ډیر کم وخت پاته و. په دی خاطر د قیصر قاصد د سلطان دخیمی څخه نامراده اوناکام و گرزید. په دی وختو کی د وچی له لاری هم یو پر بل سختی حملی پیل شوی وی ، خود قسطنطنیی پر هغو دیوالونو چی د زرکالو راهیسی یی دهر ډول دښمن څخه دغه ښار خوندی ساتلی وه د عثمانی حملی کوم اثر نه ښکاریده. عثمانی توپونو د دیوالو په دواړو غاړو باندی په پرلپسی توگه گوله باری کوله ، بلاخره د اوو ورځو پرلپسی گوله باری نه وروسته دقسطنطنیی ددیوالونو په دری ځایو کی درزونو راپیدا شول.

هغه دیوالونه چی د پیړیو پیړیو راهیسی یی په پوره ځواک سره دهر دښمن مقابله کړی وه دعثماني توپونو په مقابل کی تم نه شول او په ځای ځای کی وشکیدل.... اوبیا داسی وخت هم راغی چی د سینټ رومانس ددروازی تر څنگ څلورواړه برجونه دتوپونو د ۳۰ انچه گولیو په مقابل کی تر ډیره و نه دریدل او په ځمکه راپریوتل. اوس نو سلطان محمد خان ته خپل اخری بری تر سترگو کیده ( گبن )

سلطان قسطنطین ته پیغام ولیږه چی که چیری هغه دغه ښار په امنناکه توگه ورته حواله کړی نو دښاریانو ژوند ته به هیڅ ډول زیان نه ور رسیږی. ددی ترڅنگ به د موریا حکومت هم ده ته ورحواله کړی. خو قسطنطین دا وړاندیز و نه مانه . هماغه و چی سلطان محمدخان په خپل لښکر کی اعلان وکړچی دمئ په ۲۹مه به اخری اوپریکنده حمله کیږی.ددی نه مخته په ۲۸ دمئ سلطان یو ځل بیا خپل فوځ کی اعلان وکړ چی سبا سهار به د هره اړخه په ښار حمله کیږی ، فوځ ته به دښار د تاج او تاخت له پاره اجازه ورکول کیږی. خو سرکاری املاکو ته به څوک زیان نه ور رسوي ، ددی نه علاوه هیڅ عثمانی سپاهی به ، امن غووښتونکو ، وسله غورزونکو ، زړو ، کوچنیانو ، ښځو او ....ته زیان نه ور رسوی. ددی خبر سره سم دمسلمانانو په لښکرو کی دخوشحالۍ څپی خپری شوی او دتکبیر غږونه پورته شول.

دبله اړخه په شاهی قصر کی قسطنطین خپل سپه سالاران ، دحکومت مسؤلین ، قومی مشران ، مذهبی مشران ټول راټول کړل اویوه غونډه یی جوړه کړه ،هغه ته ډاگیزه شوی وه چی سبا سهار مسلمانان یوه هر اړخیزه حمله کوی. په دی خاطر یی ښاریانو ته تر اخری ساعته پوری د جنگیدواو دفاع حکم وکړ. پخپله یی هم په ډکی مجمع کی په خداوند یسوع مسیح باندی سوگند یاد کړ چی دخپلی وینی د اخری قطری پوری به دترکانو په مقابل کی جنگیږی. دغونډی د پای ته رسیدو سره سم ټول سالاران راپورته شو او داخری معرکی له پاره یی ځانونه تیارول پیل کړل. قیصر ددی غونډی د پای ته رسیدو څخه سمدلاسه وروسته ایا صوفیا ته راغی اوپه خپل اخری عبادت کی مصروف شو . په ای صوفیا کی په هر پادری باندی ویره اوخوف سپور شوی و ،قیصر دعبادتځای څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارغیدو وروسته خپل ځای ته ولاړ، هلته یې دڅو لمحی ارام نه وروسته په آس پښه واړوله اودسینټ رومانس په لور راغی ، دلته دکلابند شوو لخوا سخته حمله شوی وه.

عثمانی فوځ هم ټوله شپه په ذکر و عبادت کی مصروف وو . پخپله سلطان محمد خان دسهار د لمانځه څخه د فاریغیدو وروسته د علماو اوروحانیونو غونډې ته ورغی اودخپلی اخری حملی دبریا له پاره یې تری دعاوغوښته. په دی غونډه کی دسلطان پیر « ایدنی رحمة الله » هم موجود وو. دغه پیر داخری حملی دبری له پاره ددعاکولو په نیت ځانته خیمه درولی وه ، دخیمی بیرون یې یو ساتونکی درولی و تر څو څوک یې مزاحم نه شي . په دی توګه د سلطان مرشد په خپله په دعاو کی مصروف وو. سلطان د لمر دراختو نه مخته د خپلو فوځونو لیکی سمی کړی ، اوهغوی ته یې یوپه زړه پوره تقریر وکړ.

« نن به مونږ د ماسپښین لمونځ په ایاصوفیا کی ادآ کوو .»

سلطان د خپلی وینا د ختمولو وروسته خپلو سالارانو ته دحملی کولو حکم وکړ. نن د **۱۴۵۳**کال د مئ د میاشتی **۲۹** مه ورځ وه ، عثمانی فوځونو د مختلفو اړخونو څخه حمله وکړه ، توپونو او منجنیقونو دښار په دیوالونو ګولۍ ورولی ، دیوالونه ځای په ځای سوری شوی وو . خودحملی ډیر زور دسینټ رومانس ددروازی په لور و . عثمانی فوځونو په ځای کی د خندقونو څخه تیر شول ، هغوی دخندقونو دپاسه پاتخی کیښودی ، کمندونه یې واچول اوپه دی توګه د لمر د راختوسره سم د وینو اواور دا پریکند جنګ پیل شو . دسینټ رومانس دیوالونه لا دپخوا څخه د ترکانو په توپونو سوری سوري شوی و. په دی اساس مسلمانو سپاهیانو ددیوالونو د همغه درزونو څخه ګټه پورته کړه اوښار ته دننوتلو هڅه یې وکړه . خو هر ځل به دهغوی هڅی دسختی مقابلی سره مخامخ کیدی . دعثمانی فوځونو بهادرو څو ځلی د لویدلو برجونو او ددیوالو د درزنو څخه دتیریدو هڅی کولی ، خوهلته دننه د جستېمانی اونورتاس فوځونو ، دقسطنطنیی عامو ښاریانو ، ان ښځو اوکوچینانو دخپلو ځانو څخه دفاع کوله ،هری لوری ته همدا حال و .... د سمندر او وچی دواړو څخه په یوه وخت کی سختی حملی روانی وی ،یو عجیب اوحیرانونکی قیامت و . یو اړخ هم د تسلیمۍ له پاره تیار نه و ، قسطنطین په خپله په اس ناست و او د سهاره تر غرمی یی دڅه خوړلو څښلو پرته منډې ترړی وهلی ، جان جستېمانی توری کارولو داسی مهارت ښوده چی سلطان محمد ورته په خپله ګوته په خوله و.اوبی اختیاره یی دا خواهش کاوه چی کاشکی دا شخص زما په فوځ کی وای.«عثمانی دولت» ... تر غرمی پوری دعثمانی دولت یوعسکر هم ښار ته ورداخل نه شو . عیسویانو دخپل مرکز د خوندی ساتلو له پاره حیرانونکی شجاعت تر سره کاوو. هر سپاهی به دخپل ځان په قیمت دفاع کوله . هر ځل به یی د ترکانو حملی درولی ، توری د تورو سره جنګیدی ، ترکی عسکر به د عیسوی عسکرو د وژلو اویا پخپله دشهیدکیدو ....وروسته ددیوال څخه راغورزیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوسلطان محمد خان د خپلو لمړنیو ناکامیو څخه ناهیلی شوی نه و . په پوره عزم سره را پورته شو او د ښار ددیوال څنګ ته ورغی ، دوه رکعته لمونځ یې په جمعه وکړ ، دزمکی هغه برخه چې سلطان اودهغه ملګرو په کی لمونځ ادا کړ دتل له پاره د« فاتح د لمانځه ځای» په نامه مشهوره شوه .(جهان دیده ) .... بلاخره سلطان د خپل نازولی فوځ ینی چری زرکسیزه ډله له ځانه سره کړه ، ددې ډلی په لمړی لیکه کی اغا حسن ، عبدالرحمن ، اوریاض بیګ په څیر تجربه لرونکی عسکر شامل و . تردی وخته پوری یونانی اورومی عسکر پوره ستومانه شوی وو . په هغوی کی د تازه حملو تاب نه وپاته. ددی تازه مهم د روانیدو نه مخته سلطان خپل پیرته یو قاصد ور ولیږه او ورڅخه یې وغوښتل چې ځانګړی دعا ورته وکړی. ځکه سلطان اندیښمن و چې که نن قسطنطنیه فتحه نه شی نوبیا به هیڅکله هم فتحه نه شي . ځکه چې نن حمله کونکو خپل ټول توان په کار اچولی و . کله چې دسلطان قاصد هلته ورغی نو ساتونکی هغه منه کړ خو عثمانی وزیر ساتونکی ته په قهر شو او ورته یې وویل چې هغه به پیر ته دسلطان پیغام هرومرو ور رسوی.

ددی خبری سره سم هغه خیمی ته ور ننوت ویی کتل چې پیر په سجده پروت دی او دعا کوی. دعثمانی وزیر په کتلوسره یې سر راپورته کړاو ورته یې په خندا کی وویل چې ورځه قسطنطنیه فتحه شوه ...(تاریخ اسلام ).

عثمانی وزیر ته د دی بزرګ په خبرو باندی باور را نه غی اوبیرته یې منډی کړی. خو د هغه بزرګ د خیمی څخه د وتلو وروسته یې وکتل چې د ښار په دیوالونو باندی داسلام بیرغ رپانده دی. په حقیقت کی هغه وخت چې سلطان خپل پیر ته دا قاصد ور لیږه نوهغه وخت ډیر نازکه وه. اوبیا په دی وخت کی ددیوال هغه برخه د سلطان تر مخه وه یوناځاپه را پریوته او د راپریوتو سره سم خندق ډک شو اوښار ته د ور ننوتلولاره پرانستل شوه . د بله اړخه بحري فوځ هم په همغه وخت کی په یوه ستر برج باندی ولکه وکړه اوسلطانی بیرغ یې پری نصب کړ . ددی بیرغ د پورته کیدو او د دیوال د راپرزیدو وروسته سلطان اودهغه ملګری چې په سر کی یې اغا حسن شامل و ښار ته ورننوتل. خو عیسویانو تراوسه پوری خپله ماتی نه منله. په همدی وخت کی قسطنطین ته یو ډیر ژور زخم دا راپیداشو چې دهغه دجنګ نازولی جستیمانی سخت زخمی شو او اوجنګ میدان یې پریښود . سلطان په همداسی وخت کی حمله کوله چې حستیمانی دخپلو ملګرو سره لاره پری ایښی وه. اوپه دی توګه یې ښار خپلو دښمنانو ته حواله کړی و. قسطنطین د جستیمانی دتم کولو له پاره ډیری هلی ځلی وکړی و خو هغه د مسلمانانو دتورو څخه ویریدلی و . هغه سمدلاسه د بندرګاه په لور ولاړ . دهغه د تللو سره سم په عیسویانو کی کمزورتیاوی راپیدا شوی ،په دی وخت کی قسطنطین په خپله قومنده په لاسو کی واخسته. خو دیني چری حمله ډیره سخته وه ، عیسویانو یې مقابله ونه شوه کړای.

دینی چری سردار اغاحسن په ډیره میړانه دخپلو ملګرو سره یو ځای په دیوال ور وخوت ....قسطنطین اودهغه ملګرو هڅه وکړه چې اغا حسن شاته و تمبوي. په دی وخت کی ددغو دری مسلمانانو دمقابلی له پاره سل کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیسویان راغلل ، خو اغا حسن د پایلونه بی پرواه د قسطنطین په فوځونو کی خپله توره وچلوله. په دی وخت کی داغا حسن وجود زخمی زخمی شو. بلاخره یی دزخمونواوزیاتی وینی له لاسه هملته دشهادت کلیمه ولوسته او ځان یی خالق ته وسپاره ...... په دی جنګ کی دینی چری د دیرشو عسکرو څخه اتلس شهیدان شول. خو دانور بریالی شول ځکه دهغوی شاته نور ترکی فوځونه ور ورسیدل ، اوس نو حمله کونکی دهره اړخه ښار ته ور ننوتی و. هری لوری ته دعیسوی فوځیانو جسدونه پراته وو. اوس دښار په ستر دیوال باندی سور هلالی بیرغ رپانده وو.

قسطنطین چی تر اوسه پوری په پوره زړه ورتیا سره جنګیده دخپلو ډیرو مخلصو ملګرو په دلاسه ورکولو سره یی هیلی له لاسه ورکړی اوپه لوړ اواز یی وویل چی:

« ایا کوم عیسوی شته چی ماپخپلو لاسو ووژنی...؟ ایا کوم عیسوی شته چی ماپخپلو لاسو ووژنی؟»

خو کله چی دروم اخری قیصرته کوم ځواب پیدا نه شو نو بیا یی د روم د قیصر لباس د ځانه لری کړ اودعثمانی فوځ په سیلاب کی ورګډ شو او دیو سپاهی په څیر په پوره میړانه و جنګید او ووژل شو.... په دی توګه دهغه دمرګ نه وروسته یولس سوه کلنه بازنطینی پادشاهی هم له منځه ولاړه ....ددی پادشاهی پیل دقسطنطین له خوا شوی و او اخریی هم قسطنطین و. اوددی نه وروسته ....دقیصرلقب یو تاریخی داستان پاته شو. دعالمیانو دسرور دا ارشاد پوره شو چی فرمایلی یی وو ....«اذا هلک قیصرا ، فلاقیصر بعده ...»

څو شیبی وروسته قسطنطنیه د فاتحینو دلښکرو څخه ډکه شوه ، دعیسویانود مدافعت جوش د منځه ولاړ او حالات ارام شول. عثمانی فوځونو خپلی توری په نیامو کی کیښودی ، سلطان محمد خان دخپلو ملګرو سره یوځای په خپل اس سپور د دیوال د لویدلی برخی څخه راتیر اوښار ته راننوت اوځان یی دایا صوفیا چرچ ته ورساوه. دلته هغه ستنی ته چی د ترکانو ماتی یی ورسره تړلی وه په زرګونو عیسویانو پناه اخستی وه ورغی.

کله چی دسلطان آس دی ستنی ته ورسید نو په زرګونو عیسویانو خپل سرونه راپورته کړل اوداسمان په لور یی کتل چی هغه اسمانی فرشته به توره په لاس راکیوزی او ترک سلطان به دخپلو ملګرو سره یوځای ددی ځایه باسی او دماتی سره به یی مخ کوي، خو سلطان محمد خان دهغی ستنی څخه ور تیر شو اود ایا صوفیا دروازی ته ورغی ، په دی وخت کی نه کومه فرشته د اسمانه راښکته شوه او نه درومیانو ماتی په فتحه بدله شوه. په کلیسا کی را ټول شوی خلک په اخری وختوکی دغیبی کومک منتظر وو. ان تر دی چی ددی کلیسا په اړه دغه توهماتی عقیده دسلطان په لاسو د تل له پاره په خاورو بدله شوه.

نن هغه سلطان محمد خان نه و ....بلکه « سلطان محمد خان فاتح» و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم بن هشام هم د سلطان سره یوځای د ایاصوفیا تر مخه د خپله اسه کوز شوی و ،هغه ددی نه مخته هم ځو ځلی دلته راغلی و. لا تراوسه سلطان همدلته دایاصوفیا په دروازی کی و چی قاسم په ډیره بی صبری، سره ایا صوفیا ته ور ننوت. د چرچ په هال کی دهغه پیژندونکی راهبانی او پادریان سره را ټول شوی و. ټول قاسم ته په حیرانتیا سره وکتل اودهغه په فاتحانه راننوتلو سره یی سرونه ټیټ کړل. خوقاسم غوښتل سوینا ته ځان ورسوی. هغه ته سوینا هیچری هم تر سترګو نه شوه. په منډه پاس منزل ته ولاړ. او په بیړه یی ځان دسونیا خونی ته ورساوه.

کله یی چی دسونیا دکوټی دروازه پرانستله نو بی اختیاره یی آه وویل ....څکه سونیا دخپلی کوټی په منځ کی پرته وه ، دهغی په ګیډه کی یو توره ننویستل شوی وه. د سونیا وینه په فرش باندی بیدله. سونیا په وینو کی لت پت وه خو خپلی سترګی یی د دروازی په لور نیولی وی ،،،

قاسم ورمنډه کړه او سونیا ته یی ځان ور ساوه. خو هغه مړه شوی وه. دهغی سترګی پرانستی وی اوهغه د وعدی په مطابق اوس هم دقاسم منتظریوی. قاسم دهغی په سترګو باندی لاس کیښود او په لوړ اواز یی انا لله و انا الیه راجعون وویل. قاسم دحالاتو څخه داسی وانګیرله چی سونیا په خپله خپل ځان نه دی وژلی بلکه هغه وژل شوی ده . دهغه ذهن د شاګال په لور ولاړ او فکر وکړ چی دا دهمدی مکروه انسان کار دی. دقاسم په سترګو کی دشاګال انځور راګرزیده اوسترګی یی د وینو نه ډکیدی.

سلطان محمد فاتح دخپلو ملګرو سره وعده کړی وه چی دماسپښین لمونځ به په ایا صوفیا کی کوی .په دی اساس سمدلاسه دایاصوفیا د هال څخه چوکی لری کړل شوی اوپه ایا صوفیا کی دسلطان محمد د الله اکبر اواز پورته شو. سلطان اودهغه ملګری د الله په دربار کی په سجده پریوتل. په دی وخت کی په ایا صوفیا کی د زرګونو عیسویانو او پادریانو د سترګو څخه اوښکی روانی شوی ، دلمانځه څخه د فاریغیدو وروسته سلطان خپلو جنګیالیو ته حکم وکړ چی ولاړ شي اود قسطنطین لاش ولټوي ،....قسطنطین هلته د سینټ رومانس په دروازه کی د جنګ په جریان کی وژل شوی و. هلته د ډیرو لاشونو تر منځه دقسطنطین لاش وموندل شو چی په جسم یی یوازی دوه زخمونه وو. دسلطان سپاهیانو دقسطنطین سر پری کړ او د سلطان مخی ته یی راوست اوپه دی توګه د قسطنطنیی فتحه مکمله شوه .... بله ورځ سلطان دقیصرانو شاهی محل ته ورغی ، ویی کتل چی په دی پراخه محل کی هیڅ نوع حرکت نه شته. کله چی سلطان دا ورانی ویجاړی وکتلی نو بی اختیاره یی دا شعر له ځانه سره زمزمه کړ.

پرده داری می کند برقصر کسری عنکبوت

چغد نوبت می زند برګنبد افراسیاب (عثمانی دولت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی جنک کی دمسلمانانو په لاسو ځلوېښت زره عیسویان وژل شوی و. او شپیته زره عیسوی عسکر په بند کی اچول شوی و. دقیصر دکورني هیڅوک هم و نه نیول شول ځکه هغوی ټول په تیښته بریالی شوی وو. ډیر یی ایټالیی او یو شمیر نورو اروپایی هیوادونو ته تښتیدلی وو. دقیصر یو لمسی څو ورځی وروسته مسلمان شو اوهملته په قسطنطنیه کی واوسید. بلاخره ددی کورنی نوم اونښه ورکه شوه.

د شاهی محل دکتلو وروسته سلطان هلته داس ځغلولو په ستر میدان کی خپل لښکر را ټول کړ اود شکرانی لمونځ یی ادا کړ. (هیپوډ روم) یواځی د اس ځغلولو میدان نه وی بلکه دلته به د نوو پادشاهانو دتاج د په سرکولو اعلان هم کیده. همدلته به فاتحو جنرالونو خپله جشنونه جوړول. همدلته به مجرمانو ته سزا ورکول کیده او منحرف عیسویان به په کی سوزول کیده. په تاریخ کی څو ځله دحکومت پر خلاف بغاوتونه دهمدی میدان څخه پیل شوی و. معلومه نه ده چی دامیدان به څو ځله دانسانانو په وینو خړوبه شوی وي،

په هیپوډ روم کی دری ستنی نصب شوی وی ، لمړی یی دمسیح نه مخته په څلورمه پیړۍ کی بله یی په پنځمه عیسوی پیړۍ کی اودریمه یی په لسمه عیسوي پیړۍ کی. داستنی ددری بازینطینی شهنشانو له اړخه د یادګار په توګه نصب کړل شوی وی ، سلطان محمد خان فاتح د تر ټولو کوچنۍ ستنی تر څنګ خپل دربار جوړ کړ. په دی ستنی باندی ددریو اژدهاو انځورونه کندل شوی و. کله چی سلطان دا انځورونه وکتل نو دخپله ځایه راپورته شو اودخپلو جنګي غشو په واسطه یی دهغی ازدهاو سرونه ور پری کړل.

په هیپوډ روم کی دسلطان دربار جاری و ، هغه نوی احکامات ورکول ، په دی میدان کی دسلطاني فوځونو اومسلمانانو نه علاوه په زرګونو عیسویان هم موجود وو. نن دقسطنطنیی خلک دخپل نوی پادشاه دکتلو له پاره راغونډ شوی وو. عثماني فوځ د پرون راهیسی په ښار کی امن وامان قایم کړی و ، سلطان اعلان کړی و چی دقسطنطنیی دښاریانو هرڅه په امان او محفوظ دی. همدا علت و چی نن د مفتوح قوم هر کس په ویره ویره تر دی ځایه راغلی و.

قاسم بن هشام دسلطان دربار ته لږ څه ځنډن راغلی و. هغه ټوله ورځ په بندرګاه کی ګرزیده. هغه ته د شاګال د پیدا کیدو له پاره یو تیز بحری جهاز او څوکسه عسکرو ته اړتیا وه. خو تر ماسپښینه پوری قاسم کومه پریکړه نه وه کړی ،په حقیقت کی هغه اوس دقسطنطنیی څخه وتلای هم نه شو. ځکه سلطان هر وخت هغه ته اړتیا درلوده. خواوس قاسم پتیبیلی وه چی د مارسی دپیدا کیدو له پاره به د سلطان سره نیغ په نیغه خبره کوي. اوبیا به په دی مشن باندی دسلطان د اجازی سره سم کار کوي.دقاسم کورنۍ هم همدلته په قسطنطنیه کی مقیم شوی و. دهغه خلک چی خپل کورونه یی پری ایښی و دهغوی په کورونو کی د مسلمانانو کورنۍ ځای په ځای شوی وی. حمیرا هم ورسره همتله یو ځای وه. خو قاسم غوښتل د مارسي لټون وکړی. قاسم د هیپوډروم میدان ته راغی...اونیغ د سلطنت د عمایدینو ټولی ته ور روان شو ، تر اوسه هغه څو قدمه اخستی و چی یو ناڅاپه ودرید. هغه ته یو پیژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی ځیره مخته راغله اوهغه مقرون وو . دا هغه یونانی سالار و چی قاسم ورسره د ماهی نیونکو په کلی کی لاس و ګریوان شوی و . ځکه همدی مقرون روزی تښتولی وه او بیا قاسم دروزي دپیدا کولو له پاره په یونانی عسکرو حمله کړی وه . مقرون په عام لباس کی و اودعامو کلیوالو خلکو په ځیر یی په سر تو ټه راتاوه کړی وه . هغه ته د مقرون په ځیری کی یو ډول تجسس پیدا شو ، داسی معلومیده چی هغه په چا د لټی پسی دی . مقرون دسلطانی غونډی څخه بی پرواه دقسطنطنیی په خلکو کی ګرزیده . هغه د یوه یوه شخص مخ ته کتل . دقاسم شپږم حس رابیداره شو په دی خاطر یی دسلطاني دربار په لور د تللو په ځای دمقرون په لور مخه کړه .

مقرون تر ډیره وخته پوری دچاپلټنه کوله .دحالاتو څخه یی داسی ډاګیزیده چی په بیړه کی دی خوکله یی چی خپل مطلوبه کس پیدا نه کړ نوبیا د غونډی څخه ووت .قاسم یی تر شا شو ، مقرون پیدل روان و اوقاسم په زړه کی دعا کوله چی همداسی پیدل ولاړ شي . ځکه که مقرون په اس باندی سپور شوی وی نوبیا قاسم هغه نه شو تعقیبولی . مقرون د ښار دکوڅو څخه ووت او دشرق په لور روان شو ، دی لوری ته دښار ابادی کمه وه . ځکه چی په دیوال کی کومه ستره دروازه نه وه . دادقسطنطنیی شاتنۍ برخه وه . مقرون د اوږدی فاصلی وروسته دشمال شرق په لوری کنډراتو ولاړ . دقاسم تجسس نور هم زیات شو . په دی پوه شو هرومرو کومه خبره شته ....او خبره هم د راز ده ... قاسم د مقرون او خپل ځان ترمنځ دومره واټن پریښود چی مقرون د تعقیب احساس ونه کړی.

بلاخره قاسم ته یو مات اووران ویجاړ عمارت تر سترګو شو ، دا دکوم پخوانی چرچ عمارت و . دعمارت په دروازی باندی صلیب نصب کړی شوی ، مقرون همدی کنډر شکله عمارت ته ور ننوت . قاسم چی وکتل مقرون هغه زوړ عمارت ته ور ننوځی نو لږ څه ګړندی شو ، ځکه هغه غوښتل وپوهیږی چی مقرون دلته د چا سره د کتلو اود څه مقصد له پاره ورغلی دی ، قاسم په ډیره منډه ځان د چرچ عمارت ته ورنژدی کړ.

دقسطنطنیی داسیمه د سترو ستر غونډیو د یوی لړی څخه جوړه شوی وه . اودا کنډر شکله چرچ په همدی غونډیو کی پروت و. قاسم نیغ چرچ ته د ورننوتلو په ځای د چرچ خواته وګرزید او دشا له لوری چرچ ته راغی .دچرچ شاته هم یوه دروازه وه . خو دا دروازه بنده وه ، قاسم دروازی ته ورنژدی شو او د دروازی د سوریو څخه یی ددننه ځای اندازه واخسته . هغه ته د وچو پاڼو او دغښو دجالو پرته نور څه تر سترګو نه شول.....هغه حیران شو چی مقرون چیری ولاړ. قاسم رامنډه کړه او د نیغی لاری څخه چرچ ته راغی .توره یی را وویسته اودهر ډول حالاتو له پاره یی ځان تیار کړ.

قاسم په ډیر احتیاط سره چرچ ته ورننوت . خودلته هیڅوک هم نه وو . دا ډیر کوچنی چرچ و ، قاسم هلته په وچو پاڼو باندی پښی اینښودی او ددیوال تر څنګ ولاړ خو دغه چرچ دیوی ستری غونډۍ سره نښتی و .....یعنی د چرچ دروازه د غونډۍ لوری ته پرانستل کیده . قاسم په احتیاط سره دروازه پرانسته او هلته یی دیوی حجری په کتلو حیرانتیا احساس کړه خو هغه حجره هم خالی پرته وه . هغه دمقرون پسی ګرزیده خو دمقرون درک نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوم. دا کوچنۍ حجره په حقیقت کی ددی غونډۍ د تراشلو څخه جوړه شوی وه. اودکوم پادری دعبادتځای له پاره استعمالیده. خو اوس دا خونه هم خالی وه . ددی ځای د خالی پیداکیدو سره دقاسم شپږم حس په حرکت راغی اودخطر احساس یی وکړ. ځکه قاسم په خپلو سترګو وکتل چی مقرون چرچ ته را ننوت. خو اوس هغه غائب شوی و.

په همدی وخت کی هغه فکر وکړ چی شونی ده چی ددی حجری دروازه بلی کومی لوری ته وتلی وی،په همدی خاطر یی دیوالونو ته په غور سره وکتل ، دحجری دفرش دپاسه په یوه کونج کی د وښو ډیری لګیدلی و، قاسم سمدلاسه مخته ورغی او هغه واښه او ګیاه یی دهغه ځایه لری کړه .....دلته ریښتیا هم یوه لاره پیدا شوه. ددی دپاسه د لرګیو یوه کلکه تښته ایښوول شوی وه. قاسم دغه تخته لری کړه ، ورلاندی یو سرنګ او خو دفرش نه سرنګ ته باید قاسم اته فته ټوپ وهلی وی. په سرنګ کی دومره تیاره وه چی قاسم که په کی ورکیوتی وی نو هر څه په کی شونی وو. ځکه هغه نه پوهیده چی مقرون به دسرنګ په کوم ځای کی پټ شوی وی. خو قاسم ددی خطر اخستو ته تیار و. نو هغه سرنګ ته دورټوپ کولو په ځای ځان په سرنګ کی را ځوړند کړ او لږه شیبه وروسته هغه په سرنګ کی وو .لمړۍ قاسم ته څه نه تر سترګوکیدل خو وروسته یی سترګی د تیاری سره عادي شوی اوخپلی مخی ته یی یو اوږود سرنګ کوت. داسرنګ دشرق په لور ته او نژدی نیم کوس اوږودوالی یی درلود. قاسم داسی و انګیرله چی داسرنګ به ددیوال شرقی برخی لاندی تیریږی ، ددی معنی داشوه چی دا سرنګ به قسطنطنیی څخه تیریږی او بیرون تر پاسفورس پوری په رسیږی، ځکه چی نژدی لږ مخته قاسم ته رڼا تر سترګو شوه. اوس قاسم په سرنګ کی هر څه کتل خو مقرون یی نه کوت. لږ څه وروسته قاسم بیړه وکړه او په منډه دسورنګ څخه ووت ، ځکه هغه نه غوښتل مقرون په کشتۍ کی کیني او ددی ځایه ووځی. هغه پریکړه کړی وه چی مقرون به نیسي او ډیرو شیانو په اړه به تری پوښتنی ګرویزنی کوي.

لږه شیبه وروسته قاسم د سورنګ نه بیرون ووت. دا د قسطنطنیی شاتنۍ برخه وه ، څنګه چی قاسم د سورنګ څخه راووت نو سمدلاسه یی سترګی په فاسفورس ابنا کی په یوی لنګر اچونکی جهاز ور ونښتی. د جهاز بادبانونه پرانستی و او دساحل څخه پنځوس ګزه لری ولاړ و. په دی جهاز باندی دهیچا بیرغ نه و. خو د جهاز د رنګ د کتلو سره دقاسم تندي وغوړید .ځکه د جهاز ټولی تښتی توری کړل شوی وی ، کیدی شی دشپی په تیارو کی د نه په نښه کیدو په خاطر داکار کړل شوی وي خو دقاسم په ذهن کی د ډیوډ الفاظ راوګرزیدل. ډیوډ ورته ویلی و چی د شاګال جهاز تک تور دی ، دقاسم ټول حسونه رابیداره شول. ځکه هغه چی دکوم جهاز پلټنه کول هغه پخپله دهغه مخی ته ولاړ و. په قاسم باندی قدرت مهربانه شوی و. مکروه شاګال مارسي همدی جهاز ته راوړی وه. خو په دی وخت کی قاسم د خپل شاوخوا غونډیو لوری ته متوجه شو اوس نو قاسم مقرون له یاده ویستلی و. اود شاګال په اړه یی فکر کاوه. د غونډیو له اړخه قاسم یو اواز واورید. بلکل همداسی اواز لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې کوم شي په اوبو کې غورځوي...قاسم یو دم ښی لوری ته منډه کړه ، توره یې راوویسته ، او په لاس کې یې ونیوله. په یوه منډه یې ځآن غونډۍ ته ورساوه.

قاسم د مقرون تر مخه ولاړ و....ددې غونډیو په منځ کې داوبو په غاړه دمقرون کشتۍ ولاړه وه. خوکله چې قاسم ور ورسید نو مقرون په کشتۍ کې سپور شوی و. په یقینی توګه چې مقرون به دشاګال د جهاز په لور ورته. مقرون لا تراوسه پوری قاسم نه و کتلی. ځکه قاسم دمقرون څخه په لوړه ولاړ و او دهغه ځایه یې دجهاز څارنه کوله. قاسم پریکړه کړې وه او د لږ څه ځنډ پرته یې په مقرون باندی ور ټوپ کړ.... دوی دواړه په کشتۍ کې ور پریوتل. دټوپ د وهلو په وخت کې دهغه توره د هغه په لاس کې وه. د راټوپ کولو سره سم دهغه توری د مقرون سر دوه ځایه کړ ی و . خو مقرون لا تراوسه ژوندی و ، قاسم یو ځل بیا خپله توره دهغه په وجود کې ورننویسته. مقرون چغې په ستونی کې وچې شوی ، هغه دمړینی نه مخته قاسم پیژندلی و ....مقرون له منځه ولاړ ، قاسم مقرون دکشتۍ نه لاندی په اوبو کې را پریوست ، او دپاسفورس اوبه یې پری تکی سری کړې.

اوس نو د قاسم کشتۍ د شاګال دجهاز په لور ور روانه وه. قاسم په زړه کې دا ویل چې که همدا جهاز دشاګال جهاز وي نودهغه مارسي به ورته همدلته تر لاسه شي. لمر ښه تیز و او قاسم په پوره بیړه خپله کشتۍ د شاګال د جهاز په لور ورځغلوله

اوبیا لږه شیبه همغه څه وشول چې قاسم ته ورپیښیدل. کوم چا د جهاز د عرشی نه قاسم کتلی و . دا دمقرون په خیر کوم عسکر و چې د قاسم کشتۍ یې د جهاز په لور په حرکت کې لیدله ، هغه په یوه منډه د جهاز د عرشی څخه راکیوت ، لږه شیبه وروسته قاسم وکتل چې ددې سپاهی سره یو ځای دقسطنطنی تر ټولو پراسراره انسان شاګال هم د جهاز عرشی ته را وخوت. قاسم ډیر خوشحاله شو ، او ډاډمن شو چې دا جهاز همغه دشاګال جهاز دی. خواوس دقاسم له پاره تر ټولو ستره خطره پیدا شوی وه. کله چې شاګال وکتل قاسم یې د جهاز په لوری ور روان دی نو هغه کله غوښتل چې قاسم دی دهغه جهاز ته ور وخیژی. خو قاسم هڅه کوله تر مارسي ته ځان ور ورسوی ، هغه دهر ډول خطری ګاللو ته ځان تیار کړی و . هغه لا د شاګال د جهاز نه کافی لری و چې شاګال دخپل جهاز لنګر پورته کړ او جهاز یې په اوبو کې خوشی کړ،شاګال دمقابلی کولو په ځای د تیښتی لاره اختیار کړی وه. که شاګال دخپل جهاز بادبانونه هم پرانستی وی نو دهغه د جهاز رفتار به د قاسم د کشتۍ دوه برابره شوی وی اوقاسم به هیڅکله هم نه وی توانیدلی د شاګال جهاز ته ور ورسیږی. خو قاسم هم خپله کشتۍ ګړندۍ کړه او دهغې رفتار یې دوه هومره زیات کړ او په ډیره چټکۍ سره یې هغې لوری ته ورځغلوله.

کله چې دقاسم دکشتۍ او هغې جهاز تر منځه واټن یوازی شل قدمه پاته شو نو دجهاز بادبانونه په یوه ټکان سره پرانستل شول.او جهاز په سمندر کې ور پریوت. دقاسم له پاره هغه وخت ډیره ستونزمنه شوه چې د جهاز څخه د قاسم په کشتۍ باندی د غشو باران پیل شو ، قاسم هڅه کوله ځان یوی لوری بلی لوری ته کړی ، په دی خاطر به

(c) ketabton.com: The Digital Library



غشي د کشتۍ په لرګيو کې ننښتل. خوپخوا تر دې چې قاسم ځان سنبال کړي دغشو بله حمله پرې راتله.د شاګال کسانو په پوره قوت سره خپل غشي ورول ، پخپله شاګال د جهاز په عرش باندې ولاړ واو ددې کار څارنه يې کوله، په دې وخت کې قاسم يوه عجيبه پريکړه وکړه، هغه يو ناځاپه د کشتۍ څخه ټوپ کړ او په اوبو کې يې ځان وغورځاوه. اوس نو شاګال اودهغه کسان ډير وارخطا شول ځکه قاسم په اوبو کې غوپه خوړلې وه او ځان يې غايب کړی و.

اوبيا چې کله هغه را ښکاره شو نوهغه دتور جهاز په يوې څنډې باندې د ورختلو هڅه کوله. قاسم خپله توره په خوله کې نيولې وه. او په دواړو لاسو يې د جهاز جنګلې نيولې وې. دلږ څه کوشش نه وروسته هغه په جهاز کې سپور شوی و، د شاګال کسان هم دهمدې هيلې سره دجهاز څلورو اړخونو ته ځغليدل. ځکه هغوی پوهيدل چې دهغوی دښمن به کوم اړخه څخه جهاز ته را خيژي. خو هغوی ته هغه وخت معلومه شوه چې قاسم توره په لاس دهغوی تر مخه ولاړ و. په دې وخت کې د شاګال دوو کسانو په قاسم حمله را اوړه خو د قاسم په څير تورزن ته ماتې ورکول څه اسانه کار نه و. ددوی څخه يو کس قاسم له منځه يوړ خو د بل سره دمقابلې په وخت کې د شاګال نور سپاهيان هم رامنځته شول ، خو قاسم زړه کوچنی نه کړ ، هغه په يوه وخت کې دشاګال د اوو کسو سپاهيانو سره جنګيده. قاسم په منځ کې ولاړ و او اوه کسه سپاهيان تر ی شاوخوا . هغه د طاهر ورور او د هشام زوی و. دعربو ډير تکړه ځوان او د توری وهلو ستر ماهر. د لږڅه وخت مقابلې وروسته اوو واړه سپاهيان ستومانه شول ، ځکه چې قاسم غوښتل هغوی په همدې ډول ستومانه کړي،په دې وخت کې قاسم دداسې يوه داو څخه کار واخست چې دشاګال دوه سپاهيان يوځای دخپلو تورو ښکار شول. په زمکه دهغوی دپريوتو سره سم قاسم د يوه بل کار هم وختم کړ.

دجهاز بادبانونه پرانستې و اوپه چټکۍ سره مخته روان و. په همدې وخت کې دقاسم په زړه کې يو فکر راپيدا شو ، د جنګ ځای يې پريښود او په يوه منډه يې ځان د جهاز هغې برخې ته ورسو چې هلته د جهاز اخری تختې لګيدلې وې. پاته پنځه کسه سپاهيانو هم دهغه پسې ور منډې کړې ،هغه د جهاز داخری کونج پوری منډه کړه ، په دې ځای کې د لرګيو کمزوری جنګلې لګيدلې وې ، دقاسم پسې راځغليدونکی پنځه واړو خپل ځانونه کنترول نه شو کړای او د لرګيو جنګلې يې ماتې کړې اوپه اوبو کې ور پريوتل. اخری دوه کسو سپاهيانو ماتې جنګلې نيولې وې او ځوړند شوی و. اوس نو قاسم ور مخته شو اودهغوی دواړو کاريې هملته ورختم کړ.

جهاز په پوره قوت سره د بحر مارمورا په لور ور روان و. قاسم ويريده چې هسې نه چې هغه دری کسه په سمندر کې لويدلې کسان بيرته جهاز ته را ونه خيژي خو هيڅ پروا يې ونه کړه او بيرته د جهاز دننې برخې ته ورغی. قاسم دخپل ټول جنګ په دوران کې شاګال هيڅ و نه کوت. دلته دری کابينه جوړ کړل شوی و. قاسم دخپلې تورې سره بيل بيل کابين وکوت. خو شاګال يې تر سترګو نه شو. قاسم سمدلاسه د دننې برخې څخه راووت او د جهاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرشی ته یی ځان ورساوه ، هغه وار خطا و تر څو ووینی چی شاګال خو چیری نه دی تښتیدلی. هغه په دی فکر کی و چی ایا شاګال به ځان پخپله سمندر ته ور غورځولی وی؟ ..

په دی وخت کی قاسم ته د جهاز د تاخانی په اړه فکر راپیدا شو ، سمدلاسه را ښکته شو او د تاخانی د زینی د پیدا کولو په هڅو کی شو. هلته لاندی هغه د لرګیو څخه جوړه شوی یوه پاتخه وکتله. اوس نو هغه د چیتاپه څیر سخت متوجه و. د لاندی کیوتو په وخت کی قاسم هڅه کوله چی دپښو اواز یی څوک وا نه وري ،خو کله چی لاندی منزل ته ور ښکته شو نو یو برچه یی مخته وویشتل شوه. سمدستي په خپل ځای کیناست. برچه د هغه شاته دیوال باندی ونښته.

دا برچه دهغه سخت دښمن شاګال ویشتلی وه. په همدی وخت کی د قاسم سترګی په شاګال باندی و نښتی. شاګال د جهاز په تاخانی کی موجود و. خو دقاسم نظر دشاګال تر څنګ دهغه شاته په مارسی باندی هم ولګیدی. قاسم شاګال هیر کړ او دمارسي په غم کی شو. دمارسی حال ډیر خراب و. لږ څه دمخه شاګال د مارسي رسۍ پرانستی وی ، هغه غوښتل مارسی له ځانه سره وتښتوی خو په همدی وخت کی پری قاسم را ورسید. شاګال د قاسم دکتلو سره سم په دیوال ځوړند د اوسپنی تبر راواخست. کله چی قاسم د شاګال په لاس کی تبر وکوت نو ورته په خندا شو ،ځکه دی لرګی پریکونکی تبر دقاسم دتوری مقابله نه شوه کولی. اوس نو کله چی قاسم د شاګال په لور دحملی کولو له پاره ورته نو شاګال به سمدلاسه دمارسی شاته ځان پټاوه،دهغی ستونی به یی خفه کاوه او قاسم ته به یی ویل:

« قاسم بن هشامه توره وغورزوه او که نه د محبوبی څټ به دی ورمات کړم.»

کله چی قاسم مارسی ته وکتل نو دهغی سترګی د ډیر درد نه بیرون راوتلی وی. دهغی ستونی ددومره فشار لاندی و چی اواز یی هم نه شو ویستلی. قاسم ددی منظر په کتلو سره سمدلاسه خپله توره وغورزوله. د توری د غورزولو سره سم شاګال مارسی پریښوده او لکه د وږي لیوه په څیر یی په قاسم باندی حمله وکړه ، قاسم د شاګال د ګذار څخه دخوندی پاته کیدو له پاره تیار ولاړ و ، شاګال خپل تبر په دواړو لاسو ونیو او د قاسم سر ته یی راخلاص کړ قاسم خپل سر ټیټ کړ اود شاګال تبر په پوره قوت سره د جهاز په لرګی ولګید او هملته ونښت. دجهاز دلاندی برخی یوه ستره ټوټه ماته شوه. خو شاګال ډیر ژر خپل تبر بیرته راوویست او په قاسم باندی دبل ګذار له پاره په دوو ثانیو کی ځان تیار کړ. د قاسم له پاره دشاګال ددویم ګذار څخه خوندي پاته کیدل ډیر ستونزمن وو ،خوبیا هم د قاسم قسمت دهغه سره یاری وکړه اودشاګال دویم ګذار هم خالی ولاړ. د جهاز د تختو دماتیدو په اساس جهاز کی اوبه را ننوتی او رو رو داوبو نه ډکیده. خو شاګال د قاسم په خیال کی پاګل شوی و. په پرلپسی توګه یی په قاسم باندی حملی کولی او قاسم به هر ځل خپل ځان څنګ ته کاوه. داوبو د زیاتوالی په اساس د قاسم پښه هلته وښویده. اوس نو د سمندر اوبه لکه دنلونو په څیر په جهاز کی را روانی وی اودجهاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرقیدو خطر وار په وار زیاتیده. داسی وخت راغی چی قاسم د شاګال د حملو نه شاته ورته. په دی وخت کی مارسي د شاګال د نظر څخه غایبه شوه. مارسی د موقع نه ګټه پورته کړه اوپه اوبو کی ولاړه او قاسم توره یی راواخسته. شاګال د مارسي ددی کار څخه پوره بی خبره و. اوس نو مارسی ته دشاګال د خبریدو پرته بله لاره نه وه. دبله اړخه وخت هم کم و. ځکه جهاز هر وخت ډوبیدی شو. په دی خاطر مارسي دشاګال په لور ور منډه کړه اوددی نه مخته چی شاګال په قاسم باندی اخری ګذار وکړی...ځکه چی قاسم په ډیر بد ځای کی را ګیر شوی و... کله چی شاګال خپل تبر پورته کړ ، نوبیرته یی تبر زمکی ته رانغی ، ځکه چی دمارسي توره د شاګال په ملا کی ور ننوتی وه.او دکوم حلال شوی غوایی په څیررمباړي کړی.

قاسم او مارسي په یوه منډه د تاخانی څخه راووتل او د جهاز سره یوی تړلی کشتۍ ته یی ځانونه راورسول. څنګه چی قاسم او مارسی دجهازه کشتۍ راپرانسته اوپه کی کیناستل په همغه وخت کی دجهاز ټوله برخه په اوبو کی ډوبه شو اوغرق شو. او قاسم اومارسي دواړه د شاګال د جهاز دغرقیدو نه وروسته دپاسفورس په اوبو کی بیرون راوتل.

دبله اړخه د هیوډ روم په غونډه کی سلطان د ټولو عیسویانو له پاره دامن وامان اعلان کړی و. هغوی چی په خپلو کورنو اوشتمنیو باندی پراته دی اوهغوی چی په خوشحالۍ سره یی اطاعت قبول کړی و ، هغوی ته اودهغوی اموالوته به هیڅ ډول زیان نه ور رسیږی. دعیسویانو دنورو کلیساو تر څنګ به ایاصوفیا په همغه شکل اوښه پاته وي. بطریق اعظم د سلطان مخی ته راوغوښتل شو او ورته وویل شول چی ته به همغسی بطریق اعظم اوسی.اوستا په مذهبی واکمنی کی به هیڅ ډول مداخله نه کیږي ،سلطان محمد فاتح په خپله د یونانی چرچ پالنه ومنله. اوبطریق اعظم ته یی همغسی واک ورکړ لکه عیسوی سلطنت چی ورکړی و.دکلیسا د اخراجاتو د پوره کولو له پاره یی ستر ستر جاګیرونه وروبښل ، بندی فوځیان چی دجنګ په وخت کی نیول شوی ، سلطان دخپل فوځ څخه په پیسو واخستل اوازاد یی کړل. اوهغوی یی د قسطنطنیی په یوه خاص ځای کی اباد کړل. ددی سوبی نه وروسته سلطان محمد فاتح و کتل چی د قسطنطنی ډیر کورونه وران ویجاړ پراته دي ، دهغوی د ابادیدو له پاره یی مسلمانانو ته د ورتلو بلنه ورکړه او دکوچنۍ اسیا څخه یی د پنځه زرو مسلمانانو کورونه هلته قسطنطنیی ته منتقل کړل. هغه خلک چی دقسطنطنیی څخه تښتیدلی و سلطان هغوی ته دبیرته راستنیدو بلنه ورکړه او هغوی یی دی ته تیار کړل تر څو بیرته خپلو پخوانیو کسبونو او کارونو ته راوګرځي او دښارپه ابادیدو کی برخه واخلی.

د پخوانیو قرنونو د رواجونو په اساس مفتوحین مال او ځان ټول دفاتحینو په ملکیت کی راته .اروپایی سلطنتونو دهمدی رواجونو په پوره کولو کی هیڅ وخت نه ضایع کاوه او په دی لاره کی یی دهیڅ ډول ظلم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیری څخه دریغ نه کاوه خو ددوی په مقابله کی هغه وخت چی ترکان قسطنطنیی ته ور داخل شول هلته یی امن وامان قایم کړاو د مروت داسی بیلګی یی پریښودی چی دوستان او دښمنان یی ټول ځانته حیران پاته کړل.

د فتح په لمړی ورځ سلطان اعلان وکړ چی هر هغه څوک چی سیدنا ایوب انصاري رضی الله تعالی عنه قبر پیدا کړی نو هغه ته به انعامات ورکړل شی. د فتحی په دریمه ورځ یو ډیر زوړ بزرګ دوو مسلمانو عسکرو ته د ابو ایوب انصاری مبارک قبر په ګوته کړ، خو بیا هغه زوړ شخص هیڅکله هم تر سترګو نه شو. سلطان محمد خان فاتح د ابو ایوب انصاری دمزار تر څنګ یو جومات جوړ کړ چی په تاریخ کی د «جامعه ابو ایوب» په نامه مشهور شوی دی. سلطان قسطنطنیه خپل دارالسلطنت وګرځاوه اود همدی ښاره یی نور پاته ممالک لکه یونان، سربیا، بوسنیا، موریا، طرابزون، سنیوپ، مجمع الجزایر، کریمیا، والیشیا، البانیا، هزریګونیا، وینس، روډس او اوټرانټو .... سوبه کړل. او په عثمانی سلطنت کی یی راګډ کړل.

قاسم دخپلی کورنۍ سره یو ځای هملته په قسطنطنیه کی میشت شو، او په قسطنطنیه کی یی کور د زوړ عباس تر سترګو لاندی شین او سمسور وګرزید. اوس د قاسم دوه ښځی وی، دقاسم ښځی حمیرا د قاسم لمړۍ ښځه دسر په سترګو و منله، مارسي دقاسم څخه ټول داستان اوریدلی و، اوس نو هغی دقاسم په کور کی خپل ځان اوخپل ژوند د خپل وخت دبهترینو او خوشحاله وختونو څخه شمیرل.

دقسطنطنیی دسوبی نه پنځلس ورځی وروسته یوه عجیبه پیښه رامنځته شوه، قاسم د شپی غذا دخپلی کورنۍ سره وخوړه اوبیا یی خپلی قصی پیل کړی. په دی وخت کی د کور په دروازه باندی ټک ټک وشو. دقاسم وریرونو علی اوعمر ددروازی په لور ورغلل. لږ څه وروسته دهغوی کمری ته یوه محجوبه ښځه را ننوته. زوړ عباس چی دغه په پرده کی ښځه وکتله نو خپلی کورنۍ ته یی وویلی: «ورشي او هغی ته ښه راغلاست ووایی. پوهیږئ چی دا څوک ده، دا هم زما لور ده، عباس دی پرده کونکی ښځی ته وویل «لوری نقاب دی لری کړه. داستا خپل کور دی.... ایا ته ځآنته راغلی یی، عبدالله دی له ځانه سره نه دی راوړی.، عبدالله څه شو؟ خو تاته زمونږ دکور پته چا درکړه؟

عباس په پوره جوش سره لګیا و، دکور ټول خلک حیران پاته وو. دعباس لور مریم، مارسی، حمیرا مخته راغلی او دخپلی میلمنی سره یی روغبړ وکړ او هغی ته یی دکیناستو له پاره وویل. هغه ښځی عباس ته وویل چی دهغه خاوند عبدالله هم دهغی سره یو ځای راغلی دی خو بیرون د بګۍ سره ولاړ دی.

عمر او علی دعبدالله پسی ور ووتل. قاسم چی ددی پرده کونکی ښځی اواز واورید نو ټکان یی وخوړ. ځکه هغه ته دا اواز پیژندونکی معلومیده. تر اوسه هغه په همدی فکر کی و چی هغه ښځی دخپل مخ څخه نقاب لری کړ. په همدی وخت کی د زاړه عباس غږ هم تر غوږو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دا زما لور «روزی »ده، دا یوه معصومه ماهی نیونکی وه ، تیر کال په همدی ورځو کی د جان جسټیمانی عسکرو په زور راپورته کړی وه، اتفاقا چی په هغه وخت کی مونږ هم هلته ور ورسیدو .... مونږ عیسوی ځواکونو ته درس ورکړ. اوبیا مو روزي له ځانه سره د « رومیلی کلا » ته یوړه. روزی هلته په رومیلی کلا کی دری ځلور میاشتی زمونږ خدمت کاوه ، ددی قصه ډیره دردناکه او د اوریدو لایقه ده.

دقاسم دماغ همداسی خوټیده. وجود یی په لړزان و. دا خو همغه روزي وه چی د ماهی نیونکو په کلی کی یی دقاسم له پاره هر ډول خطره په ځان اخستی وه. هغی هم دسونیا په څیر په قاسم باندی زړه بایلودی و.او دهغه په انتظار کی یی هر شپه دمینی اومحبت خوبونه کتل.

هو ! دا هماغه روزی ده ، د رومیلی په کلا کی کله چی زاړه عباس مختلفی قصی بیانولی په دی وخت کی د شهزادګۍ حمیرا نوم هم مخ ته راغلی و ، روزی هم دقاسم په اړه داخبری اوریدلی وی. او په دی پوه شوی وه چی دهغه محبوب چی د یوه رومي پادری په کالیو کی ددی سره یو ځای شوی و دحمیرا خاوند قاسم بن هشام دی. کله یی چی دا واوریدل چی قاسم بن هشام د بل چا شوی دی نوبیا روزی دهغه په اړه خوبونه کتل پریښودل او د زور عباس د لور په څیر یی په رومیلی کلا کی واړول. دری ځلور میاشتی وروسته بیا زوړ عباس خپل یو ډیر تکړه سپاهی عبدالله ته په نکاح کړه او دمسلمانیدو وروسته روزی خپل کور اباد کړ.

نن روزي د خپل خاوند سره یو ځای دعباس کتلو ته راغلی وه نو ناڅاپه یی قاسم مخی ته و درید. که څه هم روزی لږ څه وویریده خو قاسم په ډیره بده توګه ټکان خوړلی و. په څو لمحو کی د روزي سترګود قاسم څخه په زرګونو پوښتنی کړی وی چی د قاسم سره یی دیوه ځواب هم نه و.

کله چی حمیرا د عباس د خولی څخه د روزی قصه واوریده نوبه شرارتی توګه یی د خپل میړه په لور وکتل ،ځکه چی هغی دقاسم دخولی څخه د همدی ځوانی ماهی نیونکی داستان لا دپخوا څخه اوریدلی و. د قاسم څخه نور څه جوړ نه شول نو سر یی ټیټ کړ او دخپلی کمری څخه بیرون راووت.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پای څو ټکي

دسلطان محمد فاتح دوران په۱۴۸۱کال کی پای ته ورسید. د ۱۴۵۱نه تر ۱۴۸۱ پوری ،په دیرشو کالو کی سلطان محمد فاتح په قسطنطنیه باندی حکومت وکړ. د سلطان په وخت کی اسلامی حکومت د اروپا تر لری لری ځایو پوری و غځید.

دسلطان فاتح نه وروسته عثماني حکمران « سلیمان اعظم قانونی» (۱۵۵۰نه تر ۱۵۲۲ ) پوری ډیر شهرت وموند . مشهور امیر البحر ( خیرالدین باربروسا ) دهمدی سلطان په وخت کی مشهور شو ، دخادم الحرمین االشریفین لمړنی لقب  تر ټولو دمخه « بایزید» خپل کړی و . خوپه عثمانی حکمرانانو کی د خلافت منصب تر ټولو دمخه (لمړی سلیم عثمانی ) ته ورکړل شوی و .

اخری عباسی خلیفه « المتوکل» و چی په قاهره کی یی د سلاطین مملوک تر سیوری لاندی ظاهری شان وشوکت درلود خو په حقیقت کی دواکمنۍ څخه بی برخی وو ..... دخلافت پګړۍ (اول سلیم عثمانی ) ته په سر ایښوول شوی وه . دمقدسو مقاماتو کنجګانی ، د انحضرت صلی الله علیه وسلم مبارکه توره ، علم او څادر د خلافت دسند په توګه « سلیم» ته ورکړل شوی و . دهمدی وروسته د عثمانی خلفاؤ نومونه په خطبه کی اخستل کیدل.

عثماني سلطنت نژدی شپږ سوه کاله  دوام وکړ او د عثمانی خلافت اخری بدنصیبه خلیفه « سلطان عبدالحمید خان ثانی» و ، چی حکومت یی د لمړۍ عمومي جنګ پا پایلو کی له منځه ولاړ. دغه خلیفه په ۱۹۱۸ کال د نظربندۍ په دوران کی ساه ورکړه.

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استاد قريب الرحمن سعيد نورې پښتو ژباړې:

1. اسلامي سيات.(مولانا گوهر الرحمن«رح» ) (چاپ شوی)
2. اسلامي رياست.( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(د چاپ لاندې)
3. خلافت او ملوکيت..( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی)
4. پرده..( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی)
5. د حديثو د انکار نه د قران تر انکاره پورې. (مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(چاپ شوی)
6. دنبوت پائ.(مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(چاپ شوې )
7. دصلاح الدين يوبي رينښتني پيښې (د ايمان پلورونکو داستان ) ( التمش ) (چاپ شوې)
8. د رسول الله(ص) د انقلاب حکمت.(سيد اسعد گيلاني «رح» )(چاپ شوی)
9. يو شمير نورې کوچنۍ رسالې (په اردو او پښتوژبو ) چې نومونه يې زما په ليکنو کې کتلائ شئ.
10. د بايزيد يلدرم تاريخي په زړه پورې ناول. ( چاپ شوې )
11. دسلطان علاو الدين خلجيي په زړه پورې ناول.( چاپ شوې )
12. دشيرشاه سورې مشهور ناول( همدا اوس دچاپ لاندې دې )
13. لاسوندونه او وثيقې: د رسول الله ص له وخته تر راشدينو خلفاؤ پورې(ترچاپ لاندې دې)
14. په هيواد کې د سولې د پايښت په اړه زمونږ آند (چاپ شوی دی )
15. ( مونږ او توحيد ) د بشير احمد لودهي ليکنه ( د چاپ لاندې )
16. (دسلطان محمد خان فاتح ، دعثمانی سلطنت د ځوان سلطان ، په زړه پوری داستان ) د چاپ لاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



17.زيات شمير پښتو مضامين او دانګليسي او د اردو ژبو څخه ژباړل شوي او هم په انګليسي ژبه سياسي شنني ، مقالې او ليکنې چې په پښتو او نګليسي ژبو ورځپاڼو او يو شمير اونيزو او مياشتنيزو کې خپاره شوې دي.( په خواشينۍ سره چې ريکارډ يې له ژباړن سره نشته.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library